Rabbit

سوی (خرګوش)، سویه، دسویی ویښتان.

- Rabbit Fever

د سوی تبه ، په سوی ګانو کې د وبا ته ورته ناروغی ده چې (**Francisella Tularensis**) پذربعه منځ ته راځی چې ښائی د یو لړ حشراتو(**Horseflies** یا **Deer Flies**) پواسطه انسانانو ته لېږدول شی ،

- Rabbit Fibroma

دا د سوی فیبروما چې د (**Papilloma Virus**) پواسطه منځ ته راځی چې د (خړ توربخن ، اوږد ، نری ، ښکر ډوله جوړښت د پوستکی برخه کې) لیدل شی او ضایعات ښائی د(ګېډې ، غاړې ، اوږې او ورون) برخو کې رامنځ ته او د هغوی پذربعه پېژندل شی ، د (**Shope Papilloma** او**Shope Rabbit Fibroma**) په انډول .

- Rabbit Fibroma Virus

د سوی فیبروما ویروس .

- Rabbit Fish

د سوی کب چې په (**Chimæra Monstrosa**) شتون لری او ببلابېل ډولونه لرلای شی.

- Rabbit Follicle-Stimulating Hormone

د سوی فولیکول پاروونکي هورمون چې لنډه نښه یې (**Rfsh**) ده.

- Rabbit Food

د سوی خواړه ، سوی غذا.

- Rabbit Foot Spasm Band

دسوی د پښو سپزم باند.

- Rabbit Gallbladder Epithelial Cells

د سوی د تریخی اپیتلیال حجرې.

- Rabbit Gamma Globulin

د سوی د وینې د سیروم ګاما ګلوبولین .

- Rabbit Gastric Glands

دسوی د معدې غدې .

- Rabbit Gastric Mucosal Cells

دسوی د معدې مخاطی حجرې .

- Rabbit Haemorrhagic Disease

د سوی وینه بهوونکی ناروغی چې لېږدېدونکی او فوق العاده وژونکی بڼه لری د (**Caliciviridae**) ویروسونو کورنۍ له املې پېښېږی چې د {**Disseminated Intravascular Coagulation**) **Dic** } حالت منځ ته راوړی ، ورته نوم یې (**Rabbit Calicivirus Disease**) دئ .

- Rabbit Haemorrhagic Disease Viral Antigen

د سوی وینه بهوونکی ناروغی ویروسی انتی جن.

- Rabbit Intestinal Loop Test

د سوی د کولمو لوپ آزمایښت .

R.r

دا د انګریزی ژبې اته لسم (18) تورې دئ چې په طبی موخو کې د مخفف پتوګه استعمالېږی.

R

د (**Electrical Resistance Rate**) لپاره لنډه نښه ده چې د برېښنائی مقاومت اندازه څرګندوی .

R

د (**Right**) لپاره لنډه نښه ده چې د ښی لورې معنی لری.

R

د (**Rhythm**) لپاره لنډه نښه ده چې د ریتم – نظم معنی لری.

R

دتنفس – ساکښلو (**Respiration**) لپاره لنډه نښه ده.

R

د (**Organic Radicals**) لپاره لنډه نښه ده چې د عضوی راډیکال معنی لری.

R-

د مرکبونو د فضائي جوړښت څرګندوونکی چې د نا متناظر کاربنی اټومونو د لرونکو مرکبونو دقیق جوړښت په ګوته کوی ، د (**-S**) ضد .

R_x

درملنیزه نسخه ، درملنه .

$R_{A1} = R_{AW}$

د (**Airway Resistance**) لپاره لنډه نښه ده چې دتنفس لارې مقاومت معنی لری.

R

د (**Roentgen**) لپاره لنډه نښه ده چې د راډیولوژیک وړانګو کاشف نښه بلل شی.

R

د (**Recipe**) لپاره لنډه نښه ده چې د نسخې معنی لری.

r

د (**Ring Chromosome**) لپاره لنډه نښه ده چې د کړیز کروموزوم معنی لری.

R

د راډ (**Rad**) لپاره لنډه نښه ده.

Ra

د (**Radium**) لپاره لنډه نښه ده.

- Rabbit Pasteurellosis
هغه خالص ګاما ګلوبولین چې د معافیتی سوی او انسانی ترومبوسایتونودرلودونکی دئ دورید له لارې تطبیق کېږی چې په حاد ردشوی (**Acute Rejection**) ډول کلیوی ترانسپلانټیشن پېښو درملنه کې تري کار اخیستل شی ، د [**Antithymocyte Globulin (Rabbit)**] په انډول.

- Rabbit Plasma-Bovine Fibrinogen Agar
هغه د کرنې اګر (**Agar**) محیط چې سوی پلازما او غواګانو فیبرینوجن څخه جوړ شوېوی.

- Rabbit Pox
د سوی کڅوک یا کوڅک (**Pox**) ناروغی.

Rabid
لیونی سپی دارڼی، د (**Rabies**) اړوند صفت، له قاره لیونی، طغیانی، متعصب، سرټنبه.

- Rabid Encephalitis
هغه وژونکې ډول دماغی التهاب د لېونی سپی دارڼې له امله پېښ شوې وی .

Rabies
①دلېونی سپی دارڼه، هغه وژونکې ډول ویروسی دماغی التهاب د لېونی سپی دارڼې له امله له حیوان څخه انسان ته لېږدول کېږی او اړوند ناروغی پېښ کوی ،②د (**Hydrophobia**) په انډول له اوبو ډاریدنه.

- Rabies Disease
دلېونی سپی ناروغی چې پکې [عقلی اختلال، تنفسی ستونزې ، دبلعې (تېرولو) ستونزې ، اختلاجونه او شدید ډول له اوبو څخه وېره او ترهه لرلو] په څېر کلېنیکی نښې نښانې لیدل شی.

- Rabies Patient
دلېونی سپی دارڼې ناروغ .

- Rabies Vaccine
دلېونی سپی ناروغی لپاره جوړ شوې واکسین چې د دې ناروغی په وړاندې معافیت منځ ته راوړی .

- Rabies Virus
دلېونی سپی منځ ته راوړونکې ویروسی لامل .

Raccoon
دشمالی امریکی غوښه خوړونکی ژوی چه په ونو خیژی، ددغه حیوان پوستکی.

- Raccoon Eyes
هغه ډول د سترګو منظره چې پکې د سترګو چاپیریال ته شین-آبی رنګه توربخن صباغی بدلون منځ ته راځی دانښه د قحفی ترضیضاتو چې فوساکرانیوم قدامی برخه کسر ولری لپاره وصفی ده

Race
① توکم (نژاد)،کورنی، پښه، پرکه، نسل، اصل، نسبت، پښت ②لوبه کول، مسابقه، سیالی: داوبوتیز جریان. مسابقه کول : سیالی کول: تیزیدل، چټکېدل.

Racemase
هغه انزایم چې په داسې مرکبونو د یوه غېر متناظر کاربنی اټوم په چاپېر څرخنده بهیرونه کتلایز کوی چې یوازې یو غېر متناظر مرکز ولری.

Racemate
یوراسیمیک مرکب جوړښت.

Raceme
غنچه ، هغه ډنډر چه غنچی غنچی ګلان پرې پیل شوی وی.

Racemic
هغه مخلوط چې د ښی څرخیز او کېنې څرخیز ایزومیرونو له مساوی کچونو څخه جوړ شوېوی او له کاری پلوه غیر فعال شمېرل کېږی.

Racemization
داسې مالیکولونو ته چې د یوه فعال مرکب د نیمائی مالیکولونو لېږدول چې کاملاًبد جوړښت لری او په نتیجه کې په بشپړ ډول څرخندویه توان له لاسه ورکول .

Racemose
د هغې غدې اړوند چې د انګورو د یوې غنچې (ښکالی) په څېر وی.

Rachi -
دا یومختارې دئ او [نخاع ،ملاتیر د فقراتو ستنې ، **- Rachio** او همدارنګه دتوکم، دنسل، نژادی] معنی لری.

Rachialgia
د ملا برخې درد ، د (**Rachiodynia**) په انډول.

Rachianaesthesia
د نخاعی بېهوښی،نخاعی انستیزی او د (**Rachianesthesia**) هم تلفظ کېږی ، د (**Spinal Anaesthesia**) په انډول

Rachic
د (**Rachi**) اړوند صفت.

Rachicentesis
دملاتیر څخه (قطنی برخې کې) د دماغی –نخاعی مایع بذل یاراویستنه ، د (**Spinal Tub**) په انډول.

.

د (**Rickets**) په انډول.

Rachitogenic

د راشیتیزم ناروغۍ منځ ته راړونکې ، د راشیتیزم ناروغۍ پیښوونکې لامل.

Racial

د [توکم ، نژاد (**Race**)] اړوند صفت.

Rack

اخور ، شکنجه، پانه، ریګ چنې، هغه ځای چه په کی دنندارې او نمایش دپاره شیان اینبودل کیږی غانبوره، میله، عذابول، ربړول، شکنجه کول.

Rad[1]

د جذب شوې وړانګې ډوز دکچې ټاکنې واحد ، د جذب شوی آیونایز وړانګې د اندازې نیولو واحد چې د جاذبې مادې په هرګرام باندې د (**100 Erg**) له ټکر څخه زېرنده انرژی سره انډول دی. د(**Becquerel, Gray**) په انډول. [" (**Gray**) اوس مهال د (**Hundred Rads**) "معنی ورکوی] .

Rad[2]

د [ریښې ، جذر (**Radix**)] معنی لری .

Radectomy

د غاښ د ریښې غوڅول.

Radiad

د یوه راډیوس هډوکی په لوري .

Radial

①د لښچې په راډیوس (**Radius**) هډوکی پورې اړوند ، دلښچې د راډیال ارخ ، ②انشعاب ، شاوخواته د یوه مرکز څخه خپرېدل، وړانګن، وړانګین، وړانګیز، دوړانګی په شان.

- Radial Artery

راډیال شریان چې د (**Brachial Artery**)یوه څانګه ده او د مړوند او لاس پنجې لورې ته ځغلی.

- Radial Nerve

راډیال عصب چې د (**Brachial Plexus**)یوه څانګه ده چې د لاس یو اساسی حرکی عصب دئ چې د مټ پورته برخه او د لښچې بهرنۍ برخې تعصیب کوی.

- Radial Pulse

د راډیوس نبض چې د لښچې وحشی ته د مړوند نبړدې برخه کې د جس وړ وی .

- Radial Recurrent

د مټ په برخه کې هغه شریان چې (**Brachial Artery**) برسېره یو لوپ (**Loop**) منځته راوړی .

Rachides

د (**Rachis**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Rachidial

دملاتیر (**Rachides**) اړوند صفت

Rachidian

د ملاتیر(**Rachides**) اړوند صفت

Rachidigraph

د ملا تیر او ورمېړ د پولو د ټاکلو لپاره وسیله ده.

Rachilysis

د کش کولو او تخته کولو د دواړو طریقو په کارولو سره د ملاتیر د جانبی انحنا سمول.

Rachio-

دا یومختاړې دئ او [نخاع ،ملاتیر د فقراتو ستنې دتوکم، دنسل، نژادی] معنی لری ، **Spine** ، **-Rachi**.او همدارنګه.

Rachiodynia

د ملا برخې درد ، د (**Rachialgia**) په انډول.

Rachimeter

د ملاتیر د انحنا د کچې اندازې کولو وسیله .

Rachiotomies

د (**Rachiotomy**) ګڼه شمېره ده.

Rachiotomy

دا د جراحی عملیات ډول دئ چې پکې د ملا تیر د فقراتو (**Lamina Posterior**) برخه غوڅې او راویستل کېږی ، د (**Laminectomy**) په انډول.

Rachipagus

هغه غبرګونې زېرېدلی ماشومان چې د ملا تیر برخې څخه په یو بل پورې ننښتې بڼه ولری .

Rachis

د شا هډوکې ، ملاتیر هډوکی، د (**Backbone**) په انډول.

Rachises

د (**Rachis**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Rachischisis

د ملا تیز د هډوکیزې برخې کې په ولادی ډول د درز شته والې ، د (**Spina Bifida**) په انډول.

- Rachischisis Posterior

د (**Spina Bifida**) په انډول.

Rachitic

د راشیتیزم (**Rickets**) لپاره صفت دئ.

Rachitis

- Radial Reflex
راډیال عکسه چې د لېچې برخه کې د راډیوس تر څنګ کله چې یوه عضله کې تنبه یا ضربه وارده شی یو ټکان (**Jerk**) منځ ته راځي.

Radialis
د (**Radial**) په اندول.

Radiance
ځلا، بریښېدنه.

Radiancy
ځلېدنه ، پرکېدنه .

Radiant
ځلاند ، روښان، بریښند ، وړانګن، خوښ، ورین، امیندوار.

Radiantly
په ځلا ، په روښانه ډول، په ځلانده توګه.

Radiate
وړانګی اچول، پرکېدل، ځلیدل، برېښېدل (لکه د درد بریښیدل په انتانی سیمه کې) ، تاواچول، وړانګی وهل، پرکول، ځلول، بریښول.

Radiated
خپور شوې ، پرکېدلې ، ځلېدلې ، برېښېدلې.

Radiating
پرکېدنه ، خپرېدنه ، ځلېدنه ، د برېښېدنې حالت.

Radiatio
وړانګه ، یو شعاعی وړانګه ائیز جوړښت .

Radiation
خپرېدنه (انتشار) ، وړانګی اچونه او خپرونه ، پرکېدنه، بریښېدنه، ځلونه. د انرژی هغه څېې چې د یوه شی پوسیله ورکول شی لکه د [راډیواکتیف مواد او (**X-Rays**) وړانګې] په څېر .

- Acaustic Radiation
هغه فیبری ګېډی چې له منځنیو جینوکولیټ هستو څخه سرچینه اخلی بهر لوری ته ځی او د صدغی لوب په عرضانی تلفیف پای ته راسیږی.

- Radiation Beam
د وړانګو غورځوونکې بیم یا تیوب .

- Radiation Burn
د پوستکی هغه ډول سوځېدنه چې د وړانګو سره د ډېرې کچې یا ډېرې مودې له مخې مخامخ کېدو له امله پېښه شی.

- Radiation of Corpus Callosum
هغه عصبی فایبرونه چې له کارپوس کالوزوم څخه نیوپالیوم ټولو ټکو ته خپرېږی .

- Corpuscular Radiation's
د (پروتونونو ، نیټرونونو او وترونونو) په څېر د هستې په شاوخوا د اټومی ذراتو بهیر .

- Electrmagnetic Radiation
الکترومقناطیسی وړانګیز ډول بهیر.

- Radiation Enteritis
هغه ډول د کولم التهاب چې د (**X-Rays**) وړانګو ورکړو له امله منځ ته راځی.

- Ionizing Radiation
هغه الکترومقناطیسی یا کورپوسکولار وړانګه چې له موادو څخه د تېرېدو پر مهال په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د آیون جوړولو توان لری.

- Occipitothalamic Radiation
یوګېډی عصبی فایبرونه چې وحشی (**Geniculate**) جسم څخه سرچینه اخلی د داخلی کپسول له (**Retrolentiformis**) برخې څخه تېرېږی او د کالکرین د مېزایې په دواړه اړخونو کې د اوکسی پیټ لوب په داخلی سطحه کې پای ته راسېږی.

- Optic Radiation
بصری راډیشن ،د (**Occipitothalamic Radiation**) په اندول.

- Pyramidal Radiation
هرمی راډیشن ،هغه عصبی فایبرونه چې د ماغزو له قشر له هرمی ګېډیو څخه شاوخواته تېرېږی.

- Radiation Sickness
هغه ناروغی چې د وړانګو ورکړې –تطبیق (**Radioactive Substances**) وروسته منځ ته راغلې وی

- Tegmental Radiation
هغه عصبی فایبرونه چې د سرې هستې څخه شاوخواته تېرېږی.

- Thalamic Radiation
هغه عصبی فایبرونه چې د داخل الکپسولی له لارې تلاموسی –مُخی قشری تګ راتګ منځ ته راوړی او څلور کوچنی ډلګی لری.

- Radiation Therapy
د وړانګو پذربعه درملنه لکه په سرطانی پېښو کې .

- Radiation Treatment
د راډیو اکتیف او ایکس وړانګو پذربعه درملنه ، د (**Radiotherapy**) په اندول.

- Radiation Tube
هغه راډیولوژیک تیوب چې ورځخه وړانګې بهرته ووځی.

Radiator
ریډیټر(هغه آله چه دتودولو اوسړولو دپاره استعمالیږی).

Radical
1 .اساسی، بنیادی، آرادپکال ،زاد درادپکال ډلې غړی، داساسی اوبنیادی سمون غوښتونکی. 2 . جذری ، د یوې پېښې د ریښې یا لامل سره په تړاو کې، د اټومونو یوه ډله چې له بدلون پرته یوه کېمیاوی مرکب ته ورځي یا بهر ته درومی.

- Radical Gasterectomy
داجراحی عملیات دئ چې پکې په کامله یا بشپړه توګه د معدې برخې د غوڅولو او رویستلو کړنلاره تر سره کېږی .

- Radical Hysterectomy
داجراحی عملیات دئ چې پکې په کامله یا بشپړه توګه د رحم برخې د غوڅولو او رویستلو کړنلاره تر سره کېږی .

- Radical Mastectomy
داجراحی عملیات دئ چې پکې په کامله یا بشپړه توګه د د یوه یا دواړو تیبونو برخې او اړوند لمفاوی غدواتو او عضلاتو د غوڅولو او رویستلو کړنلاره تر سره کېږی .

- Radical Mastoidectomy
داجراحی عملیات دئ چې پکې په کامله یا بشپړه توګه د د کوپړی د صدغی هډوکی اړوند استطالې برخې د غوڅولو او رویستلو کړنلاره تر سره کېږی .

- Radical Nephrectomy
داجراحی عملیات دئ چې پکې په کامله یا بشپړه توګه د پښتورګې (بډوډې) نسج د غوڅولو او رویستلو کړنلاره تر سره کېږی .

- Radical Prostatectomy
داجراحی عملیات دئ چې پکې په کامله یا بشپړه توګه د پروستاټ غدې برخې د غوڅولو او رویستلو کړنلاره تر سره کېږی .

- Radical Treatment
جذری درملنه ، پدې کې د نارغیو لامل په بشپړ توګه له منځه وړل شی او بشپړ ښه والې منځ ته راځي.

Radicalism
جذری ډول ښه والې ، دبنیادی سمون غوښتنه.

Radically
په اساسی توګه، په بنیادی ډول.

Radicle
د یوه عصب یا رګ له ځانګو څخه هّره یوه کوچنۍ ریښه (جذر).

Radicotomy
د (**Rhizotomy**) په اندول.

Radicalalgia
د نخاعی اعصابو ریښو (جذرونو) درد .

Radicular
جذری ، وړانګیز ، شعاعی، د رګونو یا اعصابو په ډېرو کوچنیو ریښو پورې اړوند ، د (**Radicle**) اړوند صفت .

Radiculitis
رادیکولیټ ، د نخاعی اعصابو د ریښو التهاب.

Radiculoganglionitis
د نخاعی اعصابو د خلفی ریښو او په هغو پورې د اړونده عصبی غوټو التهاب.

Radiculomeningomyelitis
د (**Meningomyeloradiculitis**) په اندول.

Radiculomyelopathy
د (**Myeloradiculopathy**) په اندول.

Radiculoneuritis
رادیکولونیوریټ ،آیدیوپټیک حاد پولی نیوریټ .

Radiculoneuropathy
دعصبی جذرونو او نخاعی اعصابو د پورې د اړونده عصبی ناروغی .

Radiculopathy
دعصبی او نخاعی اعصابو جذرونو هر ډول اړونده ناروغی .

- Spondylotic Caudal Radiculopathy
د سپوندیلوز له امله په ولادی ډول تنګ نخاعی کانال کې د راګېر کېدو له کبله د لکی [زنب الفرس (**Cauda Equina**)] برخې د عصبی ناروغیو د رابرسېره کېدو لامل ګرځی .

Radii
د (**Radius**) ګڼه شمېره ،جمع وړانګی د (دایری ګڼه شمېره).

Radio
رادیو ، بی سیمه (رادیوتلګراف، رادیو تلیفون).

Radio-
دا یو مختاړې دئ او د اوړانګې خپرېدنې ، رادیواکتیف موادو ، د لېچې د رادیوس (**Radius**) هډوکی] اړوند معنی لری.

Radioactive
د (**Radioactivity**) اړوند صفت .د هغه هستې اړوند چې د وړانګو خپرېدنې پذرېعه نورو ته انرژی خپروی چې طبیعی رادیو اکتیف مواد (**Radium** او **Uranium**) بلل کېږی .

- Radioactive Iodine
رادیواکتیف آیوډین، دا رادیواکتیف کېمیاوی مواد دی چې پرې (**Thyrotoxicosis**) درملنه کېږی .

د (**Radiobiology**) اړوند کارپوه او متخصص ډاکټر.

Radiobiology

دا هغه علمی طبی څانګه ده چې پکې پر ژوندیو موجوداتو باندې د وړانګو (**Radiation**) اغېزې تر څېړنې لاندې نیول کېږی.

Radiocardiography

د زړه په یوه جوف کې د راډیواکتیف مادې د غلظت د مودې (زمانی) بدلونونو ګرافیکی ثبت دې ، دا ماده د ورید له لارې تزریق کېږی.

Radiocarpal

د راډیوس (**Radius**) او د لاس د مړوند په هډوکی پورې اړوند.

- Radiocarpal Joint

هغه بند چې د راډیوس هډوکی او د لاس د مړوند د [**Scaphoid** او یوه کارپ (**Carpal Bones**)]په هډوکی پورې اړوند وی ، د (**Wrist Joint**) په انډول.

Radiochemistry

د راډیواکتیف وړانګو په کېمیا پورې اړوند.

Radiocystis

د مثانې په نسج کې هغه التهابی ناروغی چې د وړانګو درملنې له کبله منځ ته راغلې وی.

Radiodensity

د (**X-Rays**) وړانګو کثافت اړوند ، د (**Radiopacity**) په انډول.

Radiodermatitis

د پوستکی هغه التهاب چې د ایکس یا راډیواکتیف آیونایزی وړانګو د بیولوژیکی اغېزو ښندنو سره د مخامخ کېدو له امله منځ ته راځی.

Radiodiagnosis

د (**X-Ray**) او راډیواکتیف آیونایزی وړانګو پذرېعه د ناروغیو پېژندنې او تشخیص څېړنې تر سره کول.

Radiodontics

د غاښونو راډیولوژیک کتنو تر سره کولود علمی څېړنو څانګه.

Radiodontist

د غاښونو راډیولوژیک کتنو تر سره کولود علمی څېړنو څانګې کارپوه او متخصص ډاکټر.

Radiogold

د سرو زرو (طلا) راډیـــواکـــتیف ایزوتـــوپونو څخـه

- Radioactive Isotope

دا راډیواکتیف کېمیاوی مواد دی چې پرې (یو دندې ، ناروغی او دننه غړی) تاکل، پېژندل او درملنه کېږی تر څو ښه درملنه وشی او لکه په (**Radiotherapy** او **Scanning**) کې ډېر کارول شی.

- Radioactive Substances

راډیواکتیف مواد (**Radium** او **Uranium**) دی.

Radioactivity

راډیواکټیویتی، دوړانګو په ډول انرژی خپرونه (انتشار) د راډیو اکتیف موادو په څېر وکړی، دیوه جسم هغه خاصیت چه خپلی پتی وړانګی دباندی خپری کړی.

- Artificial Radioactivity

مصنوعی راډیو اکټیویتی ، یو ډول راډیو اکټیویتی چې د چټکو حرکتونو لرونکو ذرو په مټه د عنصرونو له بمبارډ کولو څخه رامنځ ته کېږی.

- Induced Radioactivity

د (**Artificial Radioactivity**) په انډول.

Radioallergosorbent

له هر ډول الرژنو سره په مخامخ کېدو کې د (**IgE**) د څانګړی انټی باډی د اندازې کولو لپاره راډیو ایمیونو ایسې کړنلاره او طریقه ده.

Radioautograph

راډیواوتوګراف انځور. د (**Autoradiograph**) په انډول.

Radioautographic

د (**Autoradiograph**) اړوند صفت.

Radioautography

د (**Autoradiograph**) د راډیوګرافی تر سره کولو عملیه او کړنلاره بلل شی.

Radiobeam

هغه بیم چې ورځخه وړانګې خپرېږی، رادیویی نخښه یا علامه چه پیلوت لازښودنه کوی، درنا لیکه، شغله، پلوشه.

Radiobicipital

د راډیوس په هډوکی او مټ په دوه سرې عضلې پورې اړوند.

Radiobiologic

د (**Radiobiology**) اړوند صفت.

Radiobiological

د (**Radiobiology**) اړوند صفت.

Radiobiologist

ټاکل شی او د یوه عدد په مرسته ځانګړې کېږی وروسته بیا دا عدد د کامپیوټر په واک کې ورکول کېږی او یو آید یال انځور ورځخه چمتو کېږی.

- **Double Contrast Radiography**

مضاعف کانټرست راډیوګرافی. د دوه کثیفه مادو په کارونې سره د یو سیستم لکه د هضمی جهاز د مخاط راډیوګرفی.

- **Electron Radiography**

د راډیوګرافی یوه لاړه ده چې پکې وروستنی برېښنائی انځورونه د یوې رنې پلاستیکی پانې په د یوه لوړ اتومی شمېرې ګاز ځخه د ایکس وړانګو د فوټونونو د تېرېدو له امله چمتو کېږی د انځور بیا د تور اوسپین هغه په بڼه ښکاری.

- **Episode Radiography**

هغه د وړانګو درملنې (**Radiotherapy**) په لړ کې د لکه د سرطانونو پېښو کې د (**Alpha** او **Beta** زراتو) راډیو ایزوټوپ موادو ورکړې وروسته یا لوړې کچې انرژی درلودونکی بیم پر مهال د اپیزوډ اړوند راډیوګرافی اخیستنه ده.

- **Radiography & Fluoroscopy**

راډیوګرافی او فلورسکوپی ځانګې.

- **Radiography Image Quality Consultant**

د راډیوګرافی د انځور د کېفیت اړوند سلاکار او مشاور.

- **Intraoral Radiography**

د غاښونو د ریښو الویولونو د ناروغیو پېژندنې په موخه د دیوه کوچنی فلیم اینبودنې پواسطه د خولې دننه راډیوګرافی.

- **Mucosal Relief Radiography**

د دوه کثیفه مادو په کارونې سره د هضمی جهاز د مخاط راډیوګرفی ده چې د مخاطی غشأ د هوسایني او آزادېدنې اړوند راډیوګرافی چې کله چې د باریوم راډیوګرافی واخیستل شی لکه د (**Barium Enema**) په څېر مواد له کولون څخه تخلیه کېږی بیا وروسته تر هغه هوا کولون یا کولمو ته تېرېږی او راډیوګرافی اخیستل کېږی هغه بایوم چې د مخاطی غشأ پورې ننښتی وی ددې څرګندوی دئ چې کوچنی ابنارملیتي ګاني لری.

- **Neutron Radiography**

نیوترونی راډیوګرافی ، هغه ډول کړنه ده چې پکې نري بیم (**Narrow Beam**) د نیوترون چې له هستوی ریاکټور (**Nuclear Reactor**) څخه جوړ وی د انساجو دننه تېرېږی چې دا د هډوکیز نسج پېژندنه کې رول لری.

- **Scout Radiography**

د سروی (**Survey Radiograph, Straight**) اړوند راډیوګراف بلل شی.

- **Serial Radiography**

هغه مسلسل یا پرلپسې راډیوګرافی لړی چې د یوې سیمې څخه د څرګندو زمانی واټن یا د اختیاری مودې ورسته اخیستل کېږی.

(**Au^{199} , Au^{198}, Au^{195}**) یو چې د سرطانی ناروغیو ضد درملو یا په سکن کې د انځور اخیستنې په چارو د پېژندنې عامل پتوګه پکارېږی.

Radiogram

راډیو ګرام، دمجهو لووړانګو په واسطه عکس اخیستنه، د اکسریز عکس. هغه خبریا پیغام چه دراډیو ټیلګرافی په وسیله استول کیږی، بی سیمه مخابره، د راډیو ګراف (**Radiograph**) په اندول.

Radiograph

راډیو ګراف،داکسریز(**X-Rays**) یا ګاما وړانګو (**Gamma Rays**) پواسطه راډیو ګرافی عکس یا انځور.

Radiographer

هغه څوک چې خاص د راډیوګرافی اړوند روزل شوې وی او راډیوګرافیک عکس اخلی.

- **Diagnostic Radiographer**

تشخیصیه راډیوګرافی ګرافي (**X-Ray Photographs** یا **Radiographs**) اخیستونکې کس.

- **Therapeutic Radiographer**

هغه څوک چې د راډیوتراپی (**X-Rays** یا **Radioactive Isotopes**) اړوند روزل شوی وی.

Radiographic

د راډیو ګرافی (**Radiography**) اړوند صفت.

Radiographical

د راډیو ګرافی (**Radiography**) اړوند صفت.

Radiography

د بدن د دننه غړو د (کتنې ،پېژندنې او ناروغیو تشخیص) په موخه د (**X-Ray**) وړانګو په مرسته فوټوګراف او انځور اخیستنې کړنلاره.

- **Body-section Radiography**

دا یو ځانګړې پلان په پلان راډیوګرافی تخنیک دئ چې پکې د مشرح تصویرونو لړی، ترسره کېږی او د نسجونو اړوند معلومات راټولېږی ورته نورنومونه (**Tomography**) او (**Laminagraphy**) هم لری.

- **Contrast Radiography**

د ښکارهکېدونکو موادو زرق وروسته د یوه غړی د کثافت معلومولو یا د لومنونو دننه د امتلاء نقیصې (**Intraluminal Filling Defects**) پېژندنې په موخه ترسره کېږی.

- **Digital Radiography**

د راډیو ګرافی یوه طریقه ده چې پکې د (**X-Rays**) دجذب شوې وړانګو کچه د یوه پېژندونکی ماشین (**Detector**) له لارې

ایزوټوپونه چې په یوه سایکلوترونی یا هستوی ریاکټور کې د نورو راډیو ایزوټوپونو یا په ثابته ایزوټوپ باندې د وړانګو پربټولو له لارې منځ ته راځی د طب راډیوتراپی اړوند ارزښت لری .

- Radioisotopes of Iodine

آیوډینی ایزوټوپونه ، هغه ډول ایزوټوپ چې د تایروئید غدې د فعالیت او دندې ټاکنې او څېړنې په موخه تر ې کار اخیستل شی.

Radioligand

په راډیو ایزوټوپسره په نښه شوې ماده لکه یو انټی جن.

Radiologist

هغه ډاکټر چې په راډیولوژی څانګه کې ماهر او متخصص وی.

Radiology

د طبابت هغه علمی څانګه چې د[ټوموروونو ته د وړانګو ورکولو د ناروغیو پېژندنې اړوند ، درملنې او وړانګو ناوړه اغېزو (**X-Rays**او **Radioactive Tracers**)] اړوند څېړنې پرې تر سره کېږی .

Radiolucent

هغه کتلې چې په راډیولوژی کې ښکاره کېدونکی خیال نه ورکوی، هغه چې ورځخه د ایکس وړانګې تېری شی، وړانګې نه جذوونکې کتلې چې په راډیولوژیک فیلم کې تور خیال څرګندوی .

Radiometer

هغه وسیله چې د هغې پذرېعه د راډیولوژیک وړانګو کچه ټاکله شی یا تثبیت کېږی.

Radiomimetic

دهغه درملو یا کېمیاوی موادو اړوند چې د وړانګو ته ورته اومشابه اغېزی لری لکه د [**Nitrogen Mustard Group**) ډله چې په (**Chemotherapy**) کې پکاروړله شی].

Radionuclide

هغه عنصر چې وړانګې (**Radiation**) خپروی .

- Radionuclide Scan

1- هغه ډول راډیونوکلیټایدی تقطیعی څېړنه چې په څانګړې توګه د دماغ (ماغزو) چې پکې راډیونوکلیوټایډونه په یو مرکب کې کېښودل شی چې په یو ه ټاکلې سیمه د بدن کې راټولېږی او تراکم کوی. **2**- راډیونوکلیوټایدی دقیق ډول کتنه او بررسي کول.

Radio-opaque

هغه کتلې چې په راډیولوژی کې ښکاره کېدونکی وی

- Spot-film Radiography

هغه راډیوګرافی چې په موضعی ډول سره د فلوروسکوپي پرمهال د اړوند برخې څخه راډیوګراف انځور اخیستل شی.

- Stress Radiography

فشار ی راډیوګرافی ، چې پدې ډول کې د یو لړ جوړښتونو لپاسه د فشار راوړنې وروسته راډیوګرافی اخیستل شی دا ډېر مهال د [**Atlantoaxial Instability, Wobbler Syndrome** او **Lumbosacral Instability**] حالتونو کې اخیستل کېږی.

Radiohumeral

د راډیوس (زند) او عضد هډوکو اړوند ، زندی – عضدی .

Radioimmunity

د راډیولوژیک وړانګو په وړاندې د حساسیت کمښت.

Radioimmunoassay

راډیو ایمیون ایسې ، د ارزوونې یوه ډېره حساسه او ځانګړې کړنلاره ده چې د انټی جن –انټی باډی په غبرګونونو او تعاملونو کې د په نښه شویو او نا نښه شویو موادو تر منځ په پرتله ائیز ډول د نا نښه شویو موادو د غلظت ټاکلو په موخه تر سره کېږی پدې طریقه کې له یوې انټی باډی یا ځانګړو انټی باډی ګروپونو په ضد د یوې مادې څخه ګټه پورته کېږی.

Radioimmunodiffusion

په راډیو ایزوټوپی موادو سره نښه شوو انټی باډی ګانو یا انټی جنونو په کارونې سره ایمیونو لوژیک خپرېدنه.

Radioimmunoimaging

د (**Immunoscrintigraphy**) په اندول.

Radioimmunoscrintigraphy

د (**Immunoscintigraphy**) په اندول.

Radioimmunosorbent

په یوه ساده سېروم کې د (**Ige**) د اندازې ټاکنې لپاره یوه د راډیو ایمیونوایسې طریقه ده .

Radioiodine

د آیوډین له راډیوګرافیک ایزوټوپونو څخه د هر یو چې د تایروئیدی ناروغۍ د پېژندنې او درملنې لپاره پکارېږی.

Radioisotope

راډیو ایزوټوپ، یو راډیو اکټیف ایزوټوپ لکه هغه اټومونه چې د (الفا، بېتا،ګاما) وړانګې خپروی . راډیو

اصطلاح بلل شی چې د (**Radioactive Nitrogen**) لغت معمولاً پکار وړل شی.

Radioprotectant

د آیونایز وړانګو په وړاندې د ساتنې او تحفظ منځ ته راوړونکی وسیلې ته ویل شی.

Radioprotection

د وړانګو د ناوړه او ضرری اغېزو په وړاندې خوندی کېدنه / تحفظ.

Radioprotective

هغه چې د وړانګو د ناوړه او ضرری اغېزو په وړاندې خوندی کېدنه / تحفظ منځ ته راوړی.

- Radioprotective Agents

د وړانګو د اضرارو څخه دخوندي کوونکی مواد / اجنټونه.

- Radioprotective Drugs

د وړانګو د اضرارو څخه خوندی کوونکی درمل.

Radiopticon

د (**Projector**) په انډول.

Radioreceptor

د ایکس وړانګو تر اغېزې لاندې راتکونکې آخذه چې پارېدنه مومی یا وړانګې اخلی او غبرګون ځرګندوی.

- Radioreceptor Assay

راډیو رسپټور ایسې.

Radioresistance

د وړانګو د اغېزو په وړاندې د حجرو او نسجونو مقاومت څرګندول.

Radioresistant

د وړانګو د اغېزو په وړاندې مقاومت لرونکی نسج.

Radioresponsive

هغه نسجونه /حجرې چې د وړانګو په وړاندې غبرګون ښیی او ځواب ورکوی چې ښائی (مفیداو کته ور ، مضر) وی.

Radioresponsiveness

د (**Radioresponsive**) د کېفیت اړوند.

Radioscopy

راډیوسکوپی ، هغه راډیولوژیکه انځور (**X-Ray Photograph**) کتنه چې د فلوروسکوپ د (**Fluorescent Screen**) پرمخ ترسره کېږی.

Radiosensible

د وړانګو اغېزو په وړاندې حساس.

، هغه چې ورځخه د ایکس وړانګې نه تېرېږی او هغه راغبرګوی ، وړانګې جذبوونکې کتلې چې په راډیولوژیک فیلم کې سپین خیال څرګندوی.

- Radio-opaque Dye

په راډیوګرافی کې هغه رنګ چې ښکاره او څرګند کړل شی لکه د پښتورګو ښکاره کېدونکې یوروګرافین رنګ.

- Radio-opaque Substances

راډیواوپک مواد لکه د [یوروګرافین رنګ ، فلزی اجنبی کتلې ، د بېوډو ډبرې او نورو] په څېر.

Radiopaque

د (**Radio-Opaque**) په انډول.

Radiopharmaceutic

هغه راډیو ایزوتوپ چې په طبی تشخیص یا درملنه کې پکار وړل شی.

Radiopharmaceutical

د (**Radiopharmaceutic**) لپاره اړوند صفت.

- Radiopharmaceutical Agents

د راډیوفارمسوټیک اړوند مواد/اجنټونه.

Radio Pill

د وړانګو لېږدوونکی ګولی. هغه چې د یوه ناروغ پواسطه خوړل کېږی او د بدن دننه هضمی جهاز اړوند معلومات څرګندوی.

Radiophoto

هغه راډیو فوټو (عکس) چې د راډیوئی وړانګو لېږد وروسته اخیستل شی.

Radiophotograph

هغه راډیو فوټو (عکس) چې د راډیوئی وړانګو لېږد وروسته اخیستل شی هر انځور د رسېدلو الکټرونیک سیالو /څېو څرګندویه وی.

Radiophotography

د (**Radiophotograph**) د اخیستنې کړنلاره بلل شی.

Radiophylaxis

ترټولو لږه کچې یا ډوز وړانګو اغېزې چې پخوا ترهغه لږه کچه ډوز وړانګې تطبیق شوې وی.

Radiophysics

د وړانګو د فزیک پېژندنې –څېړنو لړوند علمی څانګه چې دې برخې په (**1920's** او **1930's**) لسیزو کې خپله بڼه غوره کړه.

Radiopotassium

د (**Radionuclide Of Potassium**) لپاره غېر وصفی

لړه انرژی لری او لړه پیمانه (Gels) کې اړیکه تولیدوی پکار وړله شی ، د (Radioactive Sulphur) په انډول.

Radiosurgery

یو ډول جراحی کړنلاره چې په هغه کې د حراحی وسایلو له کارونې پرته آیونایز کوونکې وړانګې په مرسته نسجی تخریب تر سره کېږی.

- Sterotactic Radiosurgery

یو ډول سټریوټاکټیک جراحی چې په هغه کې د آیونایز کوونکو وړانګې په مرسته ضایعات رامنځ ته کېږی.

- Sterotaxic Radiosurgery

د (Sterotactic Radiosurgery) په انډول.

Radiotherapist

هغه ډاکټر چې په (Radiotherapy) کې متخصص او کارپوه وی.

Radiotherapy

د(ایکسریز ، ګاما ریز، راډیو اکټیویټی آیونایز کوونکو وړانګو د انرژی او دنورو لارو) په ذریعه د ناروغیو درملنه او علاج.

- Radiotherapy Equipment

د راډیوتراپی اړوند وسائل.

Radiothermal

د راډیو تودوخې اړوند ، هغه وړانګو اړوند چې د تودوخې تولید سره مل وی.

- Radiothermal Generator

د راډیوترمال وړانګو تولیدوونکو اړوند جنریټور.

Radiothermy

راډیوترمی ،د ناروغیو درملنه د الکترومګنیټیک وړانګو تولیدوونکی تودوخی په مرسته.

Radiothorium

د (Thorium Isotope Thorium-228) لپاره ډېر پخوانې نوم دئ چې د (Otto Hahn) پواسطه کشف شویدی دا راډیو اکټیف مواد دی چې د (Actinium-228)څنځیر درلودونکې دئ او (1.91 Years) عمر لری

Radiothyroidectomy

د تایرایډ غدې تخریب یا له منځه وړل د (Radioactive Iodine) وړانګو په مرسته.

Radiothyroxin

هغه د تایروکسین ماده چې د [Radioisotope Of Iodine (^{131}I Or ^{125}I)] لری په خپل مالیکول کې دننه یوځای اومتحد شوېوی په تجربوی ډول میتابلیزم کې پکار

Radiosensibility

دبدن د انساجو او غړو د وړانګو اغېزو په وړاندې حساسیت لرل.

Radiosensitive

دا د کانسری حجرو چې د وړانګو په وړاندې حساس وی اړوند ده کوم چې د راډیوتراپی درملنې په لړ کې پکار وړله شی.

Radiosensitivity

د وړانګو اغېزو په وړاندې دبدن د انساجو او حجرو حساسیت لرلو ته ویل شی.

Radiosensitization

د تو دوخی درملنې تر سره کولو طریقه پداسې حال کې چې د راډیوتراپی سره سم د موخې وړ د حجراتو د راډیوحساسیت زیاتوالې رامنځ کولو لپاره تر سره کېږی.

Radiosensitizer

هغه کېموتراپیوټیک مواد چې د راډیو تراپی اغېزې زیاتوی

Radiosodium

هر هغه د سوډیم راډیو اکټیف ایزوتوپ چې ډېر ثابت د (Positron-Emitting 22Na) وی او د (Half-Life Of 2.6 Years) ولری چې د هستوی طبابت او [Positron Emission Tomography (PET)] کې پکار وړل شی.

Radiostereoscopy

دا کټ مټ هغه طریقه ده چې د تشخیصیه راډیولوژی چې پکې جوړه ډول (Roentgenograms) د (Stereoroentgenography) پواسطه تولید ېږی او منظره یې (Three Dimensions) ده .

Radiostrontium

دا د (Radionuclide Of Strontium) لپاره غېر وصفی اصطلاح ده چې پکې د یوه جلا لغت لپاره د نظر وړ واحد په پرتله زیاته پیماته لېوالتیا شتون لری او د (Radioactive Strontium) اصطلاح د (Radiostrontium) په پرتله ډېره اندازه پکار وړله شی.

Radiosulfur

هر هغه راډیواکټیف ایزوتوپ د سلفرچې (35 S) یې د نیوکلیک اسیدونو څخه د نورو په نسبت ترجیح ورکول شی چې د (32 P) دی اړوند [Half-Life (88 Days)] لری

وړل شی ورته نومونه یې (**Labeled Thyroxine** او **Radiolabeled Thyroxine**) دي.

Radiotoxaemia

هغه مسمومیت یا ټوکسیمیا چې د وړانګو انرژی پذیرعه پیښیږی ، د (**Radiotoxemia**) په انډول .

Radiotoxemia

د (**Radiotoxaemia**) په انډول .

Radiotoxic

هغه داډیواکټیف مواد چې په ژوندیو حجرو باندې مسموم کوونکې اغیزې ولری لکه راډیوم پر هډوکو.

Radiotoxicity

د (**Radiotoxic**) اړوند مسمومیت اغیزې درلودنه .

Radiotracer

د (**Radioactive Tracer**) په انډول.

Radiotransparent

د (**Radiolucent**) په انډول .

Radiotropic

د وړانګو څخه اغیزمن کېدل .

Radioulnar

د راډیوس او اولنا هډوکو اړوند ، زندی –کعبری .

Radish

مولی، تُرب ، سره کوچني مُلی .

Radium

راډیوم، هغه فلزی عنصر چه د اټومی شمیره یې (**88**) ده او (**1622**) کالونو انډول نیمائی عمر لری او د (الفا ،بیتا، ګاما راډیو اکټیف) وړانګی خپروی او له تخریب څخه وروسته په راډون اوړی کېمیاوی ننبنه یې (**Ra**) ده .

- Radium Therapy

د راډیو پذیرعه درملنه .

Radius

① د لاس د لېچې وحشی لنډ هډوکې چې څنګل او مړوند د بندونو تر منځ پروت دئ ،② وړانګه (دایری)، شعاع هغه لیکه چې د دایرې د مرکز او دهغې د محیط په هره یوه ټکی ولګېږی.

- Radius Bone

د راډیوس هډوکې، د لاس د لېچې وحشی لنډ هډوکې چې څنګل او مړوند د بندونو تر منځ پروت دئ.

- Radius of Curvature

د راډیو س انحنأ یا کوږوالي. شعاعی انحنا /کوږوالي .

- Radius Curvus Syndrome

د راډیوس د کروس سندروم .

- Radius Cutter

د راډیوس غوڅوونکی آله .

- Radius of Damage

د راډیوس تخریب یا له منځه تګ .

- Radius Diffusion

د راډیوس ډیفیوژن عملیه .

- Radius Fixus

د (**Hormion**) څخه هر (**Inion**) پورې مستقیم خط .

- Radius Gauge

د راډیوس اندازه او کچه .

- Radius Nerve

د راډیوس عصب.

Radices

د (**Radix**) ګڼه شمېره ده .

Radix

جذر ،ریښه ،د (**Root**) په انډول.

- Radix Point

جذری ټکي ، په ریاضیاتو پکار وړل شی چې د (**Integral Part Of A Number**) د (**Fractional Part**) ببلوی .

- Radix Posterior Nervi Spinalis

د نخاعی اعصابو خلفی جذر .

- Radix Priority-Search Tree

د جذری ډول لومړیتوونو څېړنو اړوند ونه .

- Radix Pulmonis

د سږو اړوند جذر ، ټول هغه جوړښتونه چې د سږو د صُرې (**Hilum**) له لارې ننوځی یا ورڅخه راوځی .

- Radix Sensoria Ganglii Ciliaris

د حدبی ګانګلیونی اړوند حسی جذر، هغه حسی رشتې چې د سترګو ګاټو څخه تېرېږی او حدبی ګانګلیون ته ورځی بیا هجروی اجسامود ترایجمینال ګانګلیون څخه تېرېږی او انفی حدبی عصب جوړوی.

- Radix Sensoria Ganglii Pterygopalatini

د پټریګوپلاټیینی ګانګلیونی اړوند حسي جذر . چې ګانګلیونی څانګې دی دوه لنډ حسی څانګې د مګزیلار عصب په (**Pterygopalatine Fossa**) کې دی هغه عصبی رشتې چې د (**Pterygopalatine Ganglion**) تېرېږی پرته له سایښپس څخه دی

- Radix Sensoria Ganglii Sublingualis

د تحت اللسانی ګانګلیونی اړوند حسي جذر . هغه څانګې چې د ژبې د حسی رشتې منځ ته راوړی او تحت اللسانی

ګانګلیون کې جوړوی چې د کاروټید ضفیرې څانګېزې برخې دی چې د حدبی ګانګلیون پرته لدې چې له ساینپس جوړ کړی تېرېږی او دستر ګو ګاتو ته رسیږی.

- Radix Sympathica Ganglii Otici

د غوږ د ګانګلیونونو سیمپاټیک جذر.دا د (**Middle Meningeal Artery**) اړوند د (**Periarterial Plexus**) څخه سرچینه اخلی او د (**Superior Cervical Sympathetic Ganglion**) څخه د (**Postsynaptic Sympathetic Fibers**) راوړی چې له ګانګلیون څخه پرته له ساینپس جوړولو تېرېږی او د پاروټید غدې د وینې رګونو سره سم ځغلی.

- Radix Sympathica Ganglii Pterygopalatini

د پیټرګو-پلاټینی ګانګلیونونو سیمپاټیک جذر، د (**Greater Petrosal Nerve**) سیمپاټیکه برخه چې د (**Internal Carotid Plexus**) څخه سرچینه اخلی او د (**Pterygoid Canal**) د ننوتلو برخه کې د عصب سره توصل کوی.

- Radix Sympathica Ganglii Sublingualis

د تحت اللسانی ګانګلیونونو سیمپاټیک جذر،دا د وجهی عصب د (**Periarterial Plexus**) څخه منشه اخلی او د (**Postsynaptic Sympathetic Fibers**) برخې د (**Superior Cervical Sympathetic Ganglion**) سره وصلوی او رسوی او پرته له ساینپس جوړونې څخه د تحت اللسانی غدواتو د وینې رګونو سره سم ځغلی او هلته وېشل کېږی.

- Radix Sympathica Ganglii Submandibularis

د تحت الفکی ګانګلیونونو سیمپاټیک جذر، د تحت الفکی ګانګلیون یوه څانګه چې (**Postsynaptic Sympathetic Fibers**) برخه له (**Internal Carotid Plexus**) څخه جوړوی چې پراخه اندازه د وجهی شریان (**Periarterial Plexus**) حامل ده ،د (**Ramus Sympathicus Ganglion Submandibulare**) او **Sympathetic Branch To Submandibular Ganglion**) په انډول.

Radix Unguis

د پنجال (پښود ګوتو نوکانو) یا نوک جذر چې نوک ورڅخه راوځی.

- Radix Ventralis Nervi Spinalis

د نخاعی حرکی اعصابو بطنی جذر ، د (**Motor Root Of Spinal Nerve** ، **Radix Motoria Nervi Spinalis** ، **Ventral Root Of Spinal Nerve** ، **Radix Anterior Nervi Spinalis**) په انډول .

- Radix Vestibularis

د د هلېزی اړوند جذر، د اتم قحفی زوج دهلیزی جذر چې پکې ټول حسی الیاف راټولېږی چې له (**Vestibular Labyrinth**) ګانګلیون جوړوی چې د ګانګلیون څخه تېرېږی پرته له ساینپس څخه دی او د خولې فرش کې وېشلې شی.

- Radix Sensoria Ganglii Submandibularis

د تحت الفکی ګانګلیونونو اړوند حسي جذر . هغه حرکی حسی څانګې د تحت الفکی ګانګلیون کې واقع وی او د (**Submandibular Ganglion**) څانګې او (**Lingual Nerve**) سره نښلوی .

- Radix Sensoria Nervi Spinalis

د نخاعی اعصابو اړوند حسي جذر .د نخاعی اعصابو حسی جذر چې د ګانګلیون ظهری جذر جوړوی او عصبی حجروی جسمونه لری چې په پایله (بعیده برخه) کې جذر لری.

- Radix Sensoria Nervi Trigemini

د ترایجیمینال اعصابو اړوند حسي جذر چې د پنځم قحفی زوجی عصب جذر دي چې د (**Semilunar Ganglion**) لورې څخه د حدبې (**Pons**) اوبیا د (**Middle Cerebellar Peduncle**) یا (**Brachium Pontis**) لورې غځېدنه کوی او سمدستی د کوچنی حرکی جذر جنب ته ورځی .

- Radix Spinalis Nervi Accessorii

د اضافی نخاعی اعصابو اړوند نخاعی جذر . دا له پورتنی (**Upper Five Or Six**) رقبی نخاعی سګمنټ څخه منشه اخلې او د جنبی سطحو برخو څنې راوځی او د فورامین مګنوم (**Foramen Magnum**) لورې ته تر څو چې (**Cranial Root**) سره یوځای شی.د (**Spinal Part Of Accessory Nerve**) په انډول.

- Radix Superior Ansae Cervicalis

د غاړې یا لومړی او دوهم رقبی اعصابو څخه راپورته د هایپوګلوسیال عصب سره یوځای کېږی بیا په څانګو وېشل شی تر څو د ښکته جذر د رقبی انزأ ګانو (**Ansae Cervicalis**) سره یوځای شی هغه چې د (**Infrahyoid Muscles**) تعصیب کړی . ورته نومونه یې (**Superior Limb Of Ansa Cervicalis, Descendens Hypoglossi, Descending Branch Of Hypoglossal Nerve**) دي.

- Radix Superior Nervi Vestibulocochlearis

د د غوږ د دهلیزی –کوکلیائي اعصابو علوی جذر، د قحفی اتم زوج (**Viii Nerve**) د حسی الیافو یوه ټولګه چې له (**Vestibular Labyrinth**) څخه راپورته کېږی خپلې حجروی جسمونه لری چې دهلېزی ګانګلیون جوړوی اود بیلانس منځ ته راوړلو کې دنده تر سره کوی دا رشتې د دماغی ساقې د دهلیزی هستو او سریبلوم دنښه ختمېږی.

- Radix Sympathica Ganglii Ciliaris

د حدبی ګانګلیونونو سیمپاټیک جذر.دا یو ډول بعدالګانګلیونی رشتې دی چې حجروی جسمونه په علوی رقبی

نیسی او په ځاروید کې وژونکې خطرناکه سیر لری خو ځینې وختونه انسانانو ته هم لېږدول شی چې (کولمې ډ پوستکې ، سږی) نیسی ،د (**Anthrax**) په انډول .

Raillietia

دا د کونی (**Mites**) یا دغنې دکورنۍ کوچنۍ حشره چې طفیلي ژوند لري او (سپږی) ورته ده د یو (**Genus**) دئ چې د (**Gamasidae**) کورنۍ سره تړاو لری.

- Raillietia Auris

دا د غواګانو د غوږونو شاوخوا منځ ته راځی.

- Raillietia Australis

دا د [د ومبات **Wombats** (یو ډول تی لرونکی استرالیایي ایږو زمه ژوی).] حیوان د غوږونو شاوخوا لیدل کېږی.

- Raillietia Caprae

دا ډول د وزو (**Goats**) د غوږونو شاوخوا منځ ته راځی.

- Raillietia Hopkinsi

دا ډول د غرنیو وزو (**Antelopes**) د غوږونو شاوخوا منځ ته راځی.

Raillietiella

دا د (**Pentastomid**) د کورنۍ اړوند یو ډول داخلی پرازیت دئ چې په [مار خوږونکو (**Ophidians** ، **Lacertilians**) او الوتونکو (**Birds**)] کې موندل شی .

Raillietina

دا د (**Cyclophyllidean**) فیتوی چینجیو (**Genus**) یو ډول دئ چې د (**Davaineidae**) پورې تړلې دئ چې ډېر غږمعمول بڼه لری.

- Raillietina Cesticillus

دا په کورنیو فیل مرغانو کې معمول پرازیت دئ.

- Raillietina Echinobothrida

دا ډول پرازیت د[چرګانو او خړ تمی چرګ، پیل مرغ، شونډکیز چرګ] په کوچنیو کولمو الوتونکو کې منځ ته راځی .

- Raillietina Georgiensis

دا په کورنیو [پیل مرغ، شونډکیز چرګ]الوتونکو کې منځ ته راځی.

- Raillietina Magninumida

دا په [چرګانو ،قاز ، پیل مرغ، شونډکیز چرګ] په کوچنیو الوتونکو کې منځ ته راځی .

- Raillietina Ransomi

دا په کورنیو [پیل مرغ، شونډکیز چرګ]الوتونکو کې منځ ته راځی .

- Raillietina Tetragona

دا په کورنیو [پیل مرغ، شونډکیز چرګ]الوتونکو په وروستنیو کوچنیو کولمو کې منځ ته راځی .

ځخه سرچینه اخلی خپل حجروی اجسام لری چې د دهلېزی ګانګلیون اړوند دی او د بیلانس (توله) په منځ ته راوړلو کې دنده تر سره کوی دا رشتې د دماغی ساقې د دهلیزی هستو او سریبیلوم دننه ختمېږی.د (**Vestibulocochlear Nerve**) په انډول.

Radixes

د (**Radix**) ګڼه شمېره ده .

Radixin

هغه پروټین چې د [**ERM (Ezrin, Radixin, And Moesin**] پورې اړوند وی او د (**Band 4.1 Superfamily Of Membrane Proteins**) پورې تړاو لری او د حجروی غشأ (**Cell Membrane**) او تر هغه لاندې (**Cytoskeleton**) تر منځ د اړیکې منځ ته راوړلو کې دنده تر سره کوی او همدارنګه د (**Microvilli**) جوړونې کې هم او د حجرو او خارج الحجروی ماتریکس (**Extracellular Matrix**) اړیکې او نښتنې کې رول لری .

Radizepam

د (**Diazepam**) په انډول یو ډول د ترانکولایزر درملو ځخه دی چې د روحی او جسمی آرامتیا منځ ته راوړلو او اختلاج ضد په موخه ورکول شی.

Radon

رادیو اکتیف ګاز عنصر چې له رادیومی تخریب ځخه وروسته منځ ته راځی چې د کپسول پواسطه پوښل شی ورته رادون ویل شی د (**86**) اټومی شمېره لری چې دانې یې د بدن دننه د سرطانونو درملنه کې پکار وړل شی کېمیاوی نښه یې (**Rn**) ده.

Rage

① لېونتوب (مهجور) ، جنون ، له حد ځخه ډېر قهراو غضب② د شهوت سره شدید میل ، له ځانه بېخوده کېدنه.

- Sham Rage

عصبانیت ته ورته حالت چې په ډکورتیکی کې حیواناتو او ځینو مرضی حالاتو کې انسانو کې لیدل شی.

Ragocyte

دا یو (**Polymorphonuclear Phagocyte**) هستوی فاګوسیت دئ چې په روماتوئید آرتریټ کې لیدل شی سایتوپلازم یې د [(**Igg**) انکلوژینونه ، روماتوئید فکټورنه، کمپلمنټ او فیبرین] لری .

Ragpicker Disease

خوراړه ، جذام ، هغه ناروغی ده چې د یو ډول (**Bacillus Anthracis**) باسیل پذریعه منځ ته راځي لومړې ځاروی

- Raillietina Williamsi

دا په کورنیو [پیل مرغ، شونډکیز چرګ]الوتونکو کې منځ ته راځی .

Raillietiniasis

دا هغه انتان دئ چې په موږکانو او بیزوګانو کې موندل شی خو انسانانو ته هم لېږدول کېږی چې دفیتوی چینجیو د (**Raillietina**) له جینوس څخه دئ .

Railroad

د اورګاډی پټلۍ ته ورته سیستم یا جوړښت،د[ریل یا د اورګاډی لار، داوسپنې پټلۍ داورګاډو په لار وړل او راوړل] . داورګاډی له لارې سفرکول.

- Railroad Disease

د ریل روډ ناروغی.

- Railroad Sickness

د ریل روډ ناروغی.

Raise

پورته کول، هسکول، جګول ،پرمخ بیول، ژوندی کول، تیارول، روزل، برابرول،سرشته کول،ایشول، آبادول، جوړول، ودانول، راټولول، مړول، څرګندول،اعتراف کول، ډېرول،زیاتول، پرسېدل، رسېدل (داوړو)، پای ته رسول، سرته رسول، تمامول، بشپړول.

Raiser

پورته کوونکی، روزونکی، بشپړوونکی، ودانوونکی.

Raisin

ممیز، کشمش، وڅکی،اوچوش.

Rale

رال، دا یو ډول غبر نورمال لوړ پیچ تنفسی غږ دئ چې د سږو په اوربدنه (اصغأ) کې د هوائی لارو (قصباتو یا قصیباتو د تنګوالی یا افرازاتو شتون) حالت کې د تثبیت وړ وی چې په ځینې تنفسی ناروغیو کې شتون لری ، (**Crepitation**) په انډول.

- Amphoric Rale

هغه (زیږ ، موزیکال او پرلپسې) غږ چې د سږو د برانشونو سره په اړوند جوف کې د مایع شتون له کبله منځ ته راځي.

- Clicking Rale

هغه لنډی غږ چې د شهیق پرمهال د سږو دکوچنیو برانشونو جوف د افرازاتو (مایع شتون) څخه د هوا تېرېدو له کبله منځ ته راځي.

- Cracking Rale

د (**Subcrepitant Rale**)په انډول.

- Crepitant Rale

کرپیټېشن ، هغه ډول غږ چې د سږو په برانشونو کې هسې لکه (په دوه ګوتو کې د ویښتانو د موښلو په څېر ظریف او وچ آوازمنځ ته راځی) اوړېدل شی چې دا غږ د شهیق په پای کې د اصغأ وړ دی.

- Dry Rale

وچ رال ، چغېدونکې غږ یا چیغو ته ورته موزیکال غږ چې په سالندی (استمأ برانشیال) او برانشیټ ناروغیو کې اوربدل شی.

- Moist Rale

نمجن رال ، هغه غږ چې په برونشی ټیوبونو او هوائی لارو کې د مایع شتون له کبله اورېدل شی.

- Sibilant Rale

یو لوړ غږ چې په هوائی لارو کې د پندېو او ټینګو افرازاتو د شته والی له کبله منځ ته راځي او په سالندی (استمأ برانشیال) او برانشیټ ناروغیو کې اورېدل شی.

- Subcrepitant Rale

نمجن او نرې رال ، هغه غږ چې په کوچنیو برونشیولونو او هوائی لارو نلکو کې د مایع شتون له کبله اورېدل شی.

Rally

①د یوې دورې ناروغی سودلاسه ریکوری څخه وروسته ، ②برابرول، پکار اچول راټولول، راغونډېدل، پکارلویدل، غورکول ددوهم ځل دپاره کتل. ټوکی، مسخری کول، ریشخندوهل، په ټوکوخپه کول.

Ram

مټ ، لاستې ، پسه، مړ، ګډ هغه ماکوډوله جنګی بیړۍ یاماشین چه په هغی باندی دغلیم بیړۍ تنه یانورماشیونه وهل اوسوری کیږی.

Ramal

د راموس (**Ramus**) اړوند صفت.

Rami

د (**Ramus**) لپاره ګڼه شمېره ده .

- Rami Articularis

د محیطی مختلط هر عصب (موصله یا مرسله) څانګې چې یوه بند او د هغه ګاونډیو جوړښتونو ته عصب ورکوی .

- Rami Autonomicans

د خود کاره عصبی سیستم د پاراسمپاټیکو یا سمپاټیکو اعصابو له څانګو څخه .

- Rami Cummunicans

هغه عصبی څانګې چې د دوه اعصابو یا دوه شریانونو تر منځ اړیکه جوړوی .

- Rami Cutanei

د هر محیطی مختلط عصب (موصله یا مرسله) څانګې چې د

پوستکی یوه برخه تعصیب کوی .

Ramification

تصنیف ، په څو برخو وېشل ، طبقه بندی.

Ramify

څانګې څانګې کول،څانګه ائیز کېدنه ، په بیلابېلو لورو باندې برخی برخی کول، په مختلفو څانګو باندې لېږدېدل لکه د(عصب ،وریدونویا شریانونو څانګی کیدل) .

Ramipril

دا د انجیوتنسین اړونکی (بدلوونکی) انزایم نهی کوونکی درمل دی چې د وینې فشار لوړ والی په درملنه کې پکارولے شی.

Ramisection

په سمپاتیک عصبی سیستم کې د اړیکې (ارتباطی) یوې یا څو څانګو غوڅولو جراحی عملیات.

Ramitis

د یوه مټ (راموس) التهاب .

Ramose

څانګه ائیز کېدل ، څوښاخیز ، برخې برخې کېدل.

Rampant

ژرخپریدونکی لکه (دلېږدېدونکې او ساری ناروغی) بی کنټرولـه وده کوونکی.

Ramstedt's Operation

د جرمنی جراح پواسطه تر سره شوې جراحی عملیات چې د معدې د پیلور برخې د حلقوی عضلاتو غوڅول او سره جلا کولو کړنلاره ده چې د لومړی ځل لپاره د نومورې (**Wilhelm Conrad Ramstedt**) پذرېعه په کال (**1912**)کې تر سره شوه او نومورې په (**1867–1963**) کالونو کې اوسېده د (**Pylorotomy**) په انډول .

Ramulus

یو کوچنې ښاخ ، یوه کوچنۍ څانګه.

Ramus ...

1 .د یوه (عصب ، ورید ، شریان) اړوند کوچنۍ څانګه یا ښاخ ته ویل شی ، **2 .**دواړه لورو ماندیبولا هډوکی ته صعودی څانګې ، ګڼه شمېره یې (**Rami**) ده.

Rancid

بدخونده بدبویه، وروست.

R & D

د (**Research And Development**) لپاره کنډه نښه ده.

Randomised

ناټاکلی، ګډوډه او بی هدفه، هغه چې پرته له مخکې ټاکلې پلان څخه د څو شیانو یا نمونو تر منځ د نمونې لپاره وټاکل شی د (**Randomized**) په څېر هم لیکل شی.

Range

①محدوده ، په یوه ډول شیانو کې (لړۍ کېدل، قطارېدل،لیکه کېدل، دقطار برابرېدل ، لړۍ منځ ته راوړل ، صف ترې ، لیکه کېدنه ، سرشته سمول) ،د یوه بدلېدونکی مقدار یا متحولونو د یوې لړۍ د اعظمی او اصغری پولو تر منځ توپیر ، ② حدود ، پولې ، بریدونه ، هغه جغرافیائی سیمه چې هلته د ژوو یو ځانګړې ډول موندل کېږی.

- Range of Drugs

د ناروغیو لړۍ چې د درملنې او مخنیوی یا وقایې پرمهال د دوی قطارول په پام کې نیول شی.

- Range of Medicine

د درملو کچې ټاکنې میتود دئ .

- Range of Motion

حرکتی محدوده چې د درجې له مخې اندازه کېږی او دیوه بند یا مفصل د کړېدو او سمېدو (سیخېدو) کچه ښکاره کوی .

Ranine

دژبې لاندینې برخې سطحه ، تر ژبې لاندې د وریدپورې اړوند ، چنګښه .

Ranitidine

د هیستامین د (**H_2**) رسپټور بلاک کوونکې یا انتاګونیست دئ. د (**H_2**) رسپتور د نهی کوونکی درمل د اسیدونو د افراز کمښت منځ ته راوړی د معدې او اثناعشر د (**Peptic Ulcers** او **Gastritis**) درملنه کې پکار وړله شی

- Ranitidine Hydrochloride

د هیستامین د (**H_2**) رسپټور بلاک کوونکې هایدروکلورایډ مالګیزه بڼه ماده ده چې د معدې –مرۍ د (رفلوکس ، التهاباتو ، قرحاتو) درملنه کې پکار وړله شی.

Rank

ژر وده کوونکی خسا ، بوین ستوخ،تریو، مردار. لیکه، قطار ، صف، ترتیب، سرشته،ډله، برخه، درتبه، میصب. صف کول، ډله کول، رونډکول، ترتیبول، درجه بندی کول، ویشل.

Ranula

تر ژبې لاندینی یو ګردی تومور دا سیستې ډوله تومور هغه مهال منځ ته راځي کله چې د لاړو اړوند قنات بند

ناروغی.

- Rare Disorder

نادره اختلال یا تشوش.

- Rare Problem

نادره ستونزه.

Rarefaction

د یوې مادې د غلظت یا کلکوالی د کمښت حالت.

Rarefy

1 .هغه څه چې ورته د غلظت له پلوه کمښت وروبخښل شی، **2 .**د لږ کثافت منځ ته راوړلو پروسه. کمرنګه کول.

Rarely

نادراً ، په نادر او کمیابه ډول سره.

Rash

د پوستکی پرمخ لندمهالې دانې، سره مخه، سور رنګه جلدی اندفاعات.

- Butterfly Rash

د پوزې اوغومبرو برخې کې د جلدی اندفاعاتو (دانو) چې پتنګ ته ورته بڼه رامنځ ته کوی او د لوپوس اریتیماتوزیس او سیبوریک درماتیت په څېر ناروغیو کې لیدل شی.

- Diaper Rash

د رونې او پمپرس ترلو اړوند په سیمو کې د تشومتیازو د یوریا /امونیا سره د حساسیت له کبله درماتیت حالت.

- Drug Rash

د یولږ درملو سره د حساسیت له کبله درماتیت حالت ، د (**Drug Eruption**) په انډول.

- Heat Rash

د (**Miliaria Rubra**) په انډول.

- Nappy Rash

د رونې او پمپرس ترلو اړوند په سیمو کې د تشومتیازو د یوریا /امونیا سره د حساسیت له کبله درماتیت حالت ، د (**Diaper Rash**) په انډول.

- Skin Rash

جلدی حساسیتی اندفاعات / دانې.

Raspatory

جراحیکی سوهان ، د جراحی سوهان.

RAST

د (**Radioallergosorbent Test**) لپاره لنډه نښه ده.

Ratbite Disease

هغه ناروغی چې د دوه ډوله [(**Spirillum Minor**) یا د (**Streptobacillus Moniliformis**)] باکتریاګانو پذرېعه منځ ته راځی او انسانانو ته د موږکانو پواسطه لېږدېدنه مومی.

یا وترل شی.

- Pancreatic Ranula

د پانکریاص په مجرأ کې یو احتباسی سیسټ.

Ranular

د (**Ranula**) اړوند صفت.

Ranvier

د (**Node Of Ranvier**) عقداتو اړوند.

Rape

په زور سره جنسی تېرې ، په زورنیونه، لاس وراچونه تیښتونه. په زورنیول، لاس وراچول، په زور زناکول، تښتول.

Raphe

پوله ، د یوه متناظر هډ د دوه نیمائی ګانو اتصالی لیکه یا کرښه.

- Perineal Raphe

د عجان (پرینیوم برخې) لیکه.

Rapid

چټک، چابک ، چالاک ، ګړندی، ببړندی ، د (**Fast**) په انډول.

- Rapid-acting

چټک عمل ، د هغه درملو اړوند چې له تطبیق وروسته په چټکی سره اغېز څرګندوی.

- Rapid Eye Movement Sleep

د سترګو ډېر چټک حرکتی بیدېدنه . لنډه نښه یې د (**REM Sleep**) ده.

Rapidity

چټکی، چابکی ، تیزی.

Rapidly

په چټکی، په چابکی، په بیړه.

Rapport

د روغې جوړې او توافق اړیکه لکه د ناروغ او ډاکټر تر منځ اړیکه.

Rare

نادر ، کمیاب ، د کمیت له پلوه ډېره اندک اندازه لکه ناروغی چې په ډېره لږه کچه لیدل شی.

- Rare Case

نارده پېښه.

- Rare Complication

نادره ډول اختلاط.

- Rare Disease

Ratbite Fever

دا هغه تبه ده چې د (**Ratbite Disease**) اخته ناروغیو په لړ کې پېښېږي .

Rate

1 .د وخت په یوه واحد کې د یوه فزیکی کمیت مقدار ،

2 .د وخت په یوه واحد کې د یوې پېښې –ناروغۍ د پېښېدو کچې ټاکنه، لکه په یوه زمانی واحد کې هغه اندازه تناسب چې د یوه شی او نورو شیانو سره پرتله کړل شی.لکه د زړه د ضربانونو (ټکانونو) کچې اندازه (**59 Per Minute**) په یوه دقیقه کې ټاکل شی .

- Basal Metabolic Rate

قاعدوی میټابولیک اندازه .د بدن د حجرو پواسطه د کاربډونکې اوکسیجن کچه (اندازه) یا د ناشتا او آرامتیا – استراحت پرمهال د یوه کس پواسطه د تولید شوې تودوخې (حرارتی) انرژۍ مجموعه (ټولګه) بلل شی.

- Birth Rate

د زېږون کچه ، په یوه کال کې د زېږون لکه د شمېر د ټول نفوس له مخې د (پریماچورتولد کچه) د ښځو د نفوس له مخې د (خالص تولد کچه) یا د ټولنې د بلاربو ښځو د نفوس له مخې (د واقعی تولد پېښې کچه) بلل شی.

- Case Fatality Rate

د یوې ناروغۍ د تشخیص شوو پېښو په شمېر باندې د هغې ناروغۍ څخه د زېرنده مړینو د شمېر پرتله .

- Death Rate

په یوه کال کې د یوې ټولنې د خطر سره د مخامخ کسانو په منځ کې د مړینو شمېر.

- Dose Rate

د هر درملیز عامل کچې چې په یوه ځانګړې وخت کې سپارښتنه (توصیه) کېږي.

- Erythrocyte Sedementation Rate

په وریدی ښه مخلوط شوې د وینې نمونه کې د سرو کریواتو د رسوب چټکتیا چې د وخت په یوه واحد کې د رسوب شویو سروکریواتو د ستون د پورتنۍ سطحې په اندازې لګولو سره ټاکله کېږي چې لنډه ننېسه یې (**ESR**) ده.

- Fetality Rate

د (**Case Fetality**) په انډول.

- Fetal Death Rate

په یوه کال کې د ټولو مړو جنینونو او ژوندیو زوکړو په شمېر باندې

په هماغه کال کې د مړو جنینونو د شمېر نسبت.

- Five Years Survival Rate

پنځه کاله عمر د حیاتیت کچه ، هغه کسانو شمېر چې د ناروغۍ د تشخیص او درملنې وروسته هغه عوارض لرې او ژوندی پاتې شی.

- Glomerular Filtration Rate

د پښتورګو د ګلومیرولونو د فلټر کېدنې کچه چې په یوه دقیقه کې د وینې اندازه چې له نفرونونو تېرېږی هغه تصفیه کېدنه په ګوته کوی لنډه ننېسه یې (**Gfr**) ده.

- Growth Rate

د ودې او نمو کچه ،هغه معیار چې د وخت په یوه واحد کې د یوه موجود د اندازې د زیادښت کچه څرګندوی .

- Heart Rate

د زړه د ټکانونو کچه ، د وخت په یوه دقیقه کې د زړه د انقباضونو کچه .

- Incidence Rate

و پېښېدنې کچه ، د وقوعاتو شمېر ، د یوې ځانګړې مهالیزې دورې په بهیر کې له خطر سره په مخامخ نفوس باندې په یوه ټولنه کې د یوې ناروغۍ د نویو پېښو د شمېر کچه .

- Morbidity Rate

د نفوسو په یوه واحد کې د یوې ځانګړې مهالیزې دورې په بهیر کې د یوې ناروغۍ د د اخته کېدنې او خپرېدنې پېښو د شمېر کچه .

- Mortality Rate

د (**Death Rate**) په انډول .

- Pulse Rate

د وخت په یوه واحد کې د یوه محیطی شریان د ضربان شمېر او کچه.

- Respiration Rate

د تنفس شمېر ، د وخت په یوه دقیقه کې د صدری قفس د حرکتونو شمېر چې د سا اخیستلو (شهیق) او سا ایستلو (ذفیر) ټول حرکتونه پرلپسې نیسی .

- Sedimentation Rate

د رسوب چټکتیا ، هغه چټکتیا چې په هغه کې د یوه محلول په یوه څرګند حجم کې یو رسوب رامنځ ته کېږی په ځانګړی ډول هغه په هغه صورت کې تر سنټرفیوژ لاندې راځی.

- Temperature Rate

د بدن د تودوخې درجې کچه چې نورماله اندازه یې (**37°c**) ده.

- Ventilation Rate

د تنفس اخیستلو کچه /اندازه چې دا مصنوعی تنفس په ورکړه کې په نظر کې نیول شی.

Ratio

نسب ، هغه معیار چې د یوې مادې کمیت د بلې په پرتله سنجوی او اټکل یې کوی ، د دوه کمی مقدارونو تر منځ اړیکو یو پر بل باندې د هغو د ویشلو څخه رامنځ ته کېږی.

نری، ډنګر، ترنځ، لغړ.

- Rawhide

اومه څرمن چه له هغی څخه تسمي یامتروکه (غمچینه) جوړیږی.

- Raw Materials

اومه یا خام مواد چې ورڅخه نور ډول ماده منځ ته راوړل شی لکه ددرملو جوړولو اړوند اساسی مواد .

- Raw Wound

هغه پوستکي یا جرحه چې د آزادې هوا لپاره وازه پرېښودل شوې وي او ګندل شوې نه وی .

Ray

وړانګه ، شعاع ، شغله، پلوشه، ذره، هغه لیکه چې له یوه منځنی ټکی څخه بهر کېږی ، هغه واټن چې تشعشعی انرژی د (رڼا ، نور یا تودوخه) یې په یوه ځانګړی لوري وهلای شی. ډیره کوچنۍ او رونړه رڼا ورکوونکي ذره ئی برخه.

Ray's

د (**Ray**) لپاره ګڼه شمېره ده .

- Alfa Ray's (α-Ray)

الفأ وړانګې ، د هیلیوم چټک سرعت لرونکی هستې چې له راډیو اکټیف موادو څخه بهر کېږی خو د بېتا د وړانګو په پرتله د الفا هغې د ننوتلو توان لږ دئ.

- Beta Ray's (β-Ray)

بېتا وړانګې ، هغه الکترونونه چې له راډیو اکټیف موادو څخه رابهر کېږی او د نورو چټکتیاوو شاوخوا (**0.98**) چټکتیا لری ، ددې وړانګې د نفوذ توان له الفأ څخه زیات خو له ګاما څخه ټیټ لږ دی .

- Gamma Ray's (8-Ray)

ګاما وړانګې ، د لنډې څپې لرونکې الکترومقناطیسی وړانګې چې د هستوی غبرګونونو او تعاملونو په لړ کې آزادېږی چې له انرژی پلوه بډایه ، د برېښنائی چارج او کتلې نه درلودونکي فوتونونه پکې شامل دی چې د نور په چټکتیا سره حرکت کوی ددې وړانګې نفوذ توان ډېر زیات دئ .

- Grenz Ray's

یو ډول وړانګې چې د څپې (موج) اوږدوالي ئې (**20 Nanometer**) دئ چې د (**X**) او بنفش څخه د اخوا (**Ultraviolet**) وړانګو تر منځ ځای لری.

- Roentgen Ray's

د (**X-Ray's**) په انډول.

- X-Ray's

د لنډې څپې لرونکې الکترومقناطیسی اهتزازونو یا له هغه سره انډول کوانټومونو چې د الکټرونونو په چټک حرکت سره رامنځ ته کېږی لومړی ځل د (**Roentgen**) لخوا کشف شوې او

- Albumin-globulin Ratio (A-G Ratio)

د پښتورګو په مختلفې ناروغیو کې(د وینې سېروم ، پلازما ، یا په متیازو کې د ګلوبولین باندې د البومین) نسبت بلل شی.

- Cardiothoracic Ratio

د صدری قفس په اخلی قطر باندې د زړه د عرضانی قطر نسبت.

- Lecithin-Sphingomyelin Ratio (LS Ratio)

په امنیوټیک مایع کې په سفینګومیالین باندې دلیسیټین د غلظت نسبت چې د جنین د سږی نسج د ودې کچه او د نوزاد د وخت له مخه زېږون په صورت کې د تنفسی زجرت د سنډروم (**Rds**) د پېښېدو خطر ښیي.

- Sex Ratio

د یوې ټولنې د ښځینه کسانو په شمېر د هماغه ټولنې د نارینه کسانو نسبت ، چې په معمول ډول هر (**100**) ښځو په وړاندې د نارینه وو کچه ټاکله شی.

- Ventilation – Perfusion Ratio

په ریوی شعریوی رګونو کې د وینې بهیر باندې په ریوی اسناخو کې د اوکسیجن نسبت.

Rationalization

انطباق با اصول عقلانی ، عقلانی کردن ، توجیه، دا یو غبر شعوری دفاعی مېکانیزم دئ چې په لړ کې یې نه زغمل کېدونکې لېوالتیاوی او چلندونه د شخص له خوا منطقی او سم ګڼل کېږی.

Rattle

دا په ستونی کې د هغه خشن (زیږ) غږ منځ ته راتګ دئ چې د تنفسی انسداد کې اوربدل شی خصوصاً د مرګ په ګړی کې تر غوږ کېږی.

Rauwolfia

د تودو سیمو یو ډول ونې چې شاوخوا (100) ډولونه لری او د ببلابېلو ډول الکلوئیدونو لکه د(رزرپین) د تراسه کولو په موخه کار اخیستل شی چې ورڅخه په طبی اهدافو کې ګټه اخیستله شی.

- Rauwolfia Serpentine

هغه راولفیا بوټی څخه یو ډول دئ چې د (رزرپین) تراسه کولو په موخه کار اخیستل شی چې ورڅخه په طبی اهدافو لکه د خوب راوستلو او فرط فشار درملنه کې تر ډګه اخیستله شی.

Raw

1 .خام ، اومه مواد ، هغه چې پاخه نه وی ، **2** .حساس ، **3** . هغه پوستکي چې ګرېدلې یا قسماً لېرې شوې وی.

- Rawboned

د (Royal College Of Physicians) لپاره لنډه نښه ده .

RCPsych

د (Royal College Of Psychiatrists) لپاره لنډه نښه ده.

RCS

د (Royal College Of Surgeons) لپاره لنډه نښه ده .

RCT

د (Randomised Controlled Trial) لپاره لنډه نښه ده .

Re

د (Renium) د کېمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه ده .

Re-

هغه مختاړی چه د(بیا ، دوباره، بیرته) معنی ورکوی.

Reabsorb

بیا جذب ، بېرته د موادو جذب .

Reabsorption

د بیا جذب بهیر لکه په کلیوی فلټرېشن پروسه کې د (ګلوکوز ، پروټینونو، الکترولایټونو ، اوبو او نورو موادو) په څېر بیا جذب مومی .

- Tubular Reabsorption

ټیوبولي بیا جذب ، د پښتورګو څخه د موادو د بیا جذب پروسه او بهیر .

Reach

رسېدل، رسول، غځول، اوږدول، ویشتل، نیول، لاس ورورړل، پوښتل، تماس نیول، خپرول، رسیدنه، وس، توان.

React

ترتاثیر لاندی راتلل، غبرګون (عکس العمل)، بیرته راګرځیدل، ځوابیدل، مدافعه کول، متقابله حمله کول،تعامل کول.

Reactant

غبرګون ښودونکې ، عکس العملی. هغه ماده چې یوه کېمیاوی تعامل ته ننوځی .

Reaction

① غبرګون ، د تجریک (پاربدنې) په وړاندې ځواب ،عکس العمل،اغیزه، مدافعه، حمله ، مقابله، ② تعامل ، (دتعامل کیمیاوی تغیر) بیرته راګرځیدنه، ارتجاع ، ③ هغه ذهنی یا هیجانی حالت چې په یوه ځانګړې موقعیت کې وی .

- Acrisomal Reaction

هغه جوړښتیز بدلونونه چې هګۍ ته د سپرم د نښلدې کېدو په طب او طبی درملنه کې د خاص ارزښت لرونکې وړانګه بلل شی.

Raynaud's Disease

د (Raynaud's Phenomenon) په انډول.

Raynaud's Phenomenon

دا هغه ډول حالت دئ چې پکې ببلابېل ممکن علتونه شتون لری چې ددې لامل ګرځی چې وینه د پښو او لاسونو ګوتو ته محدودیت مومی او کله چې د سړښت سره مخامخ کېږی ګوتې ژر ګانګرین کوی . دا پېښه لومړې ځل د فرانسوی ډاکټر (Maurice Raynaud) پذرېعه په کال (1862) کې شرحه شو ددې ناروغۍ ورته نوم (Dead Man's Fingers, Vasospasm) هم دئ

Rayon

مصنوعی ورېښم.

Raze

له منځه وړل، بربادول، دمځکی سره برابرول،ځپل، ورانول، ړنګول، ټوټه کول، میده میده کول.

Razor

پاکی، د ږیری لپاره چاړه.

Rb

روبیدیم (Rubidium) یو کېمیاوی پوست -نرم او فلزی عنصر دئ کېمیاوی لنډه نښه یې (Rb) ده ، اټومي وزن یې (47.85)، اټومي شمېره یې(37) ، مخصوصه وزن (522.1) ، د ذوب تکې (39°c) ، جوش تکې یې (689°c) دئ .

RBBB

د (Right Bundle Branch Block) لپاره لنډه نښه ده .

RBC

د (Red Blood Cell) لپاره لنډه نښه ده .

RBE

د (Relative Biological Effectiveness) لپاره لنډه نښه ده .

RCGP

د (Royal College Of General Practitioners) لپاره لنډه نښه ده .

RCN

د (Royal College Of Nursing) لپاره لنډه نښه ده .

RCOG

Royal College Of Obstetricians And Gynaecologists

RCP

محراقی او موضعی غبرګون چې په یوه ځانګړې برخه کې پیښیږی .

- Forgien Body Reaction

د اجنبی اجسامو غبرګون ، یو ډول ګرانولوماتوز التهابی غبرګون چې په نسجونو کې د بهرنیو موادو د شتون له امله منځ ته راځي او د بهرنیو جسمونو د جیانټ حجرو په جوړښت سره پیژندل شی.

- Gross Stress Reaction

د (**Post-Traumatic Stress Disorder**) په انډول . د لیدنې وړ ترضیضی فشار له امله غبرګون.

- Hemiopic Pupillary Reaction

هیمیوپیک حدقوی غبرګون ، د سترګو په ځینو پیښو کې هیمی انوپیا او د شبکیې نورانی تحریک د عنبیې د انقباض لامل ګرځی.

- Herxhemier's Reaction

د (**Jerish-Herxheimer's Reaction**) په انډول.

- id Reaction

په حساسو کسانو کې ثانوی د پوستکی دانې چې د لومړنی محراق ځخه د حساسیت زېړوونکو محصولاتو د انتقال له امله منځ ته راځی.

- Immune Reaction

معافیتی غبرګون ، د انتی جن او انتی باډی ترمنځ د یوځای کېدنې له امله پیښ شوی غبرګون .

- Jerish-Herxheimer's Reaction

یو چټک او لنډ مهالې غبرګون چې د سفلیس د اولیه او ثانوی (دوهم) پړاوونو په انتی بیوټیکونو درملنه کې منځ ته راځي او د (تبې ، لړزې ، سردرد ، عضلاتی درد او د جلدی اندفاعاتو) پذرېعه پیژندل کېږی .

- Jones-Mote Reaction

دا د تأخیری حساسیت د زیادښت په بڼه یو کم زوري جلدی غبرګون دئ چې د پروټینی انتی جن د بدلون وروسته منځ ته راځي .

- Lenthening Reaction

د اکسټنسور عضلاتو رفلکس ډوله پورته کېدل په داسې حال کې چې یو هډ د کړېدو (فلکشن یا قبض) کې وی هغه کې بسط حالت پیښیږی .

- Leukemic Reaction

لوکېمیائی غبرګون ، چې پدې حالت کې د محیطی وینی د سپینوکریواتو حد دومره زیاتوالې مومی چې د سرطان پیښه څرګندوی او حجري یې د موفولوژی له پلوه نه توپیر کېږی .

- Leukemoid Reaction

لوکېمیا ته ورته غبرګون ، د (**Leukemic Reaction**) په انډول .

- Neufeld's Reaction

د پنوموکوکونو د کپسولونو پرسېدل چې تر مایکروسکوب پرمهال منځ ته راځي او د اکروموزومی انزایمونو د آزادولو له لارې هګۍ ته د سپرمونو ننوتل آسانه کوی.

- Alarm Reaction

هغه فزیولوژیک اغېزې چې د [سټرس ،ډار، عصبانیت] په ځېر حالتونو په ځواب کې د (سمپاتیکی عصبی سیستم د تخلیې او د فوق الکلیوی غدې د مرکزی برخو د هومونونو د آزادېدو) له امله منځ ته راځی.

- Allergic Reaction

الرجیک غبرګون ، یو موضعی یا عمومی غبرګون چې د یوې انتیې جنی مادې په وړاندې د یوه حیوان د بدن د غبرګون د رابرسېره کېدو له کبله منځ ته راځی .

- Antigen- antibody Reaction

انتیې جن - انتیې باډی غبرګون ، له خپلې هومولوګ انتیې باډی سره د یوه انتیې جن راستنېدونکی تړاو .

- Anexity Reaction

اضطرابی غبرګون چې د (**Neurosis**) په ناروغانو کې لیدل شی.

- Arias –Stella Reaction

د ځلانځي (رحم) د انډومتریوم اپې تیلیومی حجرو او هستو هایپرټروفی چې د ببځایه بلاربښت سره مل وی.

- Conversion Reaction

اړوونکې غبرګون ، تبدیل ، له یوه حالت نه با حالت ته ګرزوونکې غبرګون ، تغیر راوستونکې غبرګون ، په څټ کوونکې غبرګون ، تصرفی غبرګون چې په یولړ روانی اختلالونو (**Disorder**) او نورو ناروغیو کې لیدل شی د [اختلال (**Disorder**)] برخه کې یې وګوری.

- Cross Reaction

تېر غبرګون ، د یوې انتیې باډی او داسې انتیې جن ترمنځ تعامل چې له جوړښتیز پلوه یوه بل انتیې جن چې د انتیې باډی د جوړېدو لامل ګرځېدلې وي ډېر نېږدې وی .

- Defense Reaction

دفاعی غبرګون ، دا د معافیت سیستم غبرګون دئ.

- Reaction of Degeneration

د استحالې اړوند غبرګون ، د برېښنائی تحریک په وړاندې د هغه عضلاتو غبرګون چې په عصبی استحالې کې منځ ته راځی ، دا عضلات عضلاتی فاډیکو تحریکونو او عصبی فاډیکو او ګالوانیکو پارېدنو ته ځواب نه ورکوی.

- Disociative Reaction

ددیسوسیتیف غبرګون چې روانی اختلالونو یو ډول دئ چې پکې ناروغ له ریښتیا او حقیقت ځخه تېښته کوی او دا په غېر ارادی یا ناروغه بڼه شتون لری او د ورځنیو دندو اړوند ستونزې لری . د (**Disociative Disorder**) په انډول.

- Focal Reaction

منځ ته راځي د پوستکی په اذیمائی پرسوب او سور رنګه کېدو سره د پېژندنې وړ ګرځی .

Reactionary

مرتجع، ارتجاعی،عکس العملی ،غبرګونیز.

- Reactionary Haemorrhage

غبرګونیز ډول وینه بهېدنه، عکس العملی خونریزی .

Reactionformation

یو ډول لاشعوری دفاعی مېکانیزم دئ چې هغ وضعیت او حالت پکې برېښی چې د داخلی او ریښتینیو لېوالتیاوو سره ټکر لری.

Reactivate

دغبرګون پېښوونکې عامل ، بیا فعاله کوونکې لامل .

Reactivated

بیا فعاله شوې عامل.

- Reactivated Factor

هغه فکتور یا عامل چې بیا فعاله شوې وی.

Reactive

بیا فعاله ، هغه چې په غبرګونونو کې برخه اخلی او بیا فعاله شوې وی.

- Reactive Arthritis

د یوه لامل د غبرګون له امله منځ ته راغلې آرتریت یا د بندونو التهاب

- Reactive Hyperaemia

هغه د رګونو د هایپرهیمی او احتقانی حالت چې وروسته له فشار او بندښت لېرې کولو څخه پېښېږی .

Read

لوستل، ویل، پوهیدل، زده کول، حل کول، پیشګویی کول، کتل، چاپول، ښیل.

Readable

دلوستلو وړ، د ویلووړ.

- Readable Medical Article

د لوستنې ارزښت لرونکی طبی مطلب یا سرلیک .

Reader

لوستونکی، ښوونکی، دلوست کتاب.

Reading

لوستنه ، ویینه، زده کړه کول ، پوهېدنه، مطالعه، موعظه، خطابه،تفسیر، لوستل کیدونکی، د لیکل شویو نښو او تورو پېژندل اودرک کول ، دلوستلو بهیر.

Readjust

دوباره جوړول، بیا ترمیمول، تعدیلول،دوباره عیارکول، له سره تنظیمول.

لاندې د لیدلو وړ وی او په یوه مختلط او ځانګړی معافیتی سېروم کې د لیدل کېدای شی او له کپسولی پولیسکرایډونو سره د انتی باډی ګانو د پیوستون نبودنه کوی.

- Pirquet Reaction

د پوستکی د ګرولو پواسطه د توبرکولین د دوه کوچنیو ځاځکو تر تلقیح (**24-48h**) ساعته وروسته د سور رنګه ځنډو لرونکې پاپولونو پېدا ېښت چې د مخکینی انتان ښکارندویه وی.

- Polymerize Chin Reaction (PCR)

پولیمرایز ځنځیر غبرګون ، یو چټک ډول لابراتواري مېتود دئ د (**Dna**) او (**Rna**) د ځانګړو لړیو د زیاتوونې په موخه تر سره کېږی پدې طریقه کې د دې مالیکولونو د لنډو لړیو د تجزیې شونتیا منځ ته راځي .

- Percipitin Reaction

پرسیپتین غبرګون ، د انتی جن او انتی باډی ترمنځ د غبرګون له کبله د یوې غیر منحل رسوب جوړېدل .

- Redox Reaction

د یوې بلې مادې له ارجاع کېدو سره یو ځای د یوې مادې د اوکسیدیشن کېدو تعامل او غبرګون .

- Schultz-Charlton Reaction

د هغه سیمې په شاو خوا کې د سکارلټ تبې د دانو له منځه تلل چې د همدې تبې د توکسین (زهرو) ضد ماده پکې تزریق شوې وی .

- Serum Reaction

د سیروم اړوند غبرګون .

- Startle Reaction

د غېر ارادی خوځښت او اوتوماټیکو غبرګونونو په ګډون د ګڼ شمېر روانی -فزیولوژیکی پېښې چې د لوړ غږ په څېر د یوه ناڅاپی او غېر مترقبه تحریک په وړاندې د یوه شخص د عکس العمل له کبله منځ ته راځی .

- Stress Reaction

فشاری غبرګون ، هر ډول غبرګون چې د فیزیکی یا روانی فشارونو په وړاندې منځ ته راشی لکه د (**Alarm Reaction** او **Post-Traumatic Stress Disorder**) په څېر.

- Well-felix Reaction

په ټایفوس اخته ناروغانو کې د وینې سېروم پواسطه د پروتیوس د ډلې باسیلی اګلوټینېشن .

- Wericke's Reaction

د (**Hemiopic Pupillary Reaction**) په انډول.

- Wheal and Erythema Reaction

د (**Wheal and Flare Reaction**) په انډول.

- Wheal and Flare Reaction

د انتی جنی موادو په تجویز سره د جلدی صدماتو په وړاندې یو جلدی حساسیتی غبرګون چې د هیستامین د تولید له امله

په رښتیانی ډول، دواقعیت له مخې.

Reamer

ریمر، هغه برمه چې د غاښونو طب کې د غاښونو د کانالونواو دسوری دلویولو اوشکل ورکولولپاره په کاریږي، برمه کول، سوری کول.

Reappear

بیا راښکاره کېدونکی ، بیا ظاهرېدونکې ،لوګری، د لو کولو (لور، اره) اله ، دپریکولو ماشین.

Reappearance

بیاځرګندیدنه، بیا راښکاره کېدنه ، عود.

Rear

د (Rear End) او (Buttock) په انډول چې د کوناټی ، ماتحت ، تر لاندې برخې معنی لری.

Rearrange

بیاترتیبول، بیاسرشته کول، له سره اوبدل، بیاسمول، ښکلل.

Reascend

له سره پورته کول، بیال جګول، بیاهسکول، لوړول، پورته کیدل، جګیدل، بیا صعود.

Reason

علت ، دلیل ، سبب ، د یوه ناروغی د رامنځته کېدو لامل ته ویل شی . برهان ، وجه، واسطه ، بحث کول، دلیل راوړل، په منطق برابرغږیدل.

- Reason Cough

د ټوخی لپاره لامل .

- Reason of Disease

د ناروغیو اړوند لامل .

- Reason of Fever

د تبې رامنځ ته کېدو لامل .

- Reason of Pain

د درد اړوند لامل .

Reasonable

په عقل برابر، په دلیل برابر، عقل سره سم، معقول، په ځای،وړ، مناسب، ارزان.

Reasonably

په مناسبه توګه، په معقول ډول، په منطقی توګه.

Reasoning

دلیل، توجیه، بحث، مباحثه، استدلال.

Reassume

اتکلول، فرضول، ګومان کول، اختیارول، بیا منل.

Readjustment

بیاله سره جوړونه، بیا برابرونه/ عیارول .

- Lip Reading

د ویونکو د شونډو د حرکتونو په کتلو سره د خبرو درک کول .

- Speech Reading

د (Lip Reading) په انډول.

Re denominate

بیا ټاکل، بیا نومول، (نامزاد کول)، بیا معرفی کول.

Reagent

ریجنټ ، معرفی کوونکی، څرګندوونکی ښودونکی، معرف (هغه کیمیاوی ماده چه دهغی عکس العملونه څرګندوی) هغه ماده چه دهغی په وسیله دنوروکیمیاوی موادو سپیښلتوب او څرنګوالی اندازه او آزمویل کیږی،هغه کیمیاوی ماده چه دهغی په واسطه فلمونه روښانه او لو ئیږی.

Regain

هغه انتی باډی چې د یوه الرژن په وړاندې غبرګون ښیی.

Regainic

د (Regain) اړوند صفت.

Real

رښتینی، حقیقی، واقعی، اصلی، سوچه غیر منقول جایداد ، شته والی.

- Real-time Imaging

د التراساوند معلومات چې د انخورونو لږی چې پکې د نښې (Object) بدلون په پام کې نیول شی.

Realism

ریالیسم،دفلسفې له مخې هغه عقیده چه وایی موجودات له ذهن نه دباندی واقعی وجود لری، (ادبیات) هغه ادبی مکتب چه پیښی په واقعی ډول څرګندوی ،واقعیت پالنه.

Realist

ریالیست، حقیقت څرګندوونکی.

Realistic

حقیقی، واقعی، رښتیا ، په ځای ، ریښتونې .

Realistically

په حقیقی ډول، په رښتیانی توګه.

Reality

رښتیاتوب، سوچه توپ واقعیت.

Really

Reassurance
ډاډ، اطمینان، قناعت، تسلی، بیا بیمه.

Reassure
بیاډاډورکول، اطمینان ورکول لکه د ډاکتر له خوا ناروغ ته د بیا ښه کېدنې ډاډ ورکول ، باورورکول ډاډورکول، (بیا)تسلی ورکول، بیمه کول، آرامول.

Reaven's Syndrome
دا یو کلینیکی سنډروم دئ چې پکې [(Type 2 Diabetes) چې پکې د انسولین په وړاندې مقاومت ښائی یو مهم فکټور وی ، بطنی څربوالې (چاغښت) ، دوینې لوړ فشار ، (Dyslipidaemia)] شتون لری لومړې ځل د امریکائی طب عالم (Gerald Reaven) پذرېعه په کال (1988) شرحه شو.

Reawaken
ویښول، بیدارول،پاڅولوجګول، بیا پورته کول.

Rebate
ټیټونه/ ټیټول، بیرته ورکړه، کمونه / کمول ، تخفیف، لړونه/ لړول ، تنزیل/ تنزیل ورکول ، کسر. کمزوری کول، کټ کول.

Rebirth
لومړی یادوهمه زېږېدنه، درنسانس منځ ته راتلنه، بیا ښکاره کیدنه، په ژوندانه کی نوی نهضت.

Rebore
د (Endarterectomy) په انډول.

Reborn
بیاپیداشوی، بیا منځ ته راغلی، نوشوی، نوی زیږیدلی.

Rebound
بیرته راګرځیدل، بیاراتلل، خپل ځای ته بیرته راګرځیدنه.

- Rebound Tenderness
دا هغه ډول کلینیکی ننبه ده چې د ګېډې په جس کولو طریقه کې د لاس راپورته کولوو ورسته د ګېډې د درد زیاتوالی احساس دئ چې د پریتونیت حالاتو کې مثبت وی .

Rebuff
مخه نیونه، په شاوهنه، نه پر یښودنه، ردول،په شاوهل،منعکول.

Rebuild
له سره جوړول، بیاودانول، دوباره روغول. بیا جوړول ، د یوه نسج له تخریب وروسته بیا له سره ترمیم او جوړول.

Rebut
ردول، منعکس کول، په ساوهل، ملامتول، درواغجن کول، ځوابول.

Rebuttal
در،دفع، په شاوهنه(په شا تنبول)،ځوابونه.

Recalcitrant
کست ناک، ضد ناک، لجناک، کوږ، بی لاری. هغه چې در درملنې په وړاندې ځواب نه ورکوی.

- Recalcitrant Condition
د درملنې په وړاندې د ځواب نه ورکولو حالت .

Recall
بیا رابلل، بیا غوښتل ،بیا یادول، بیا په یادول په یادراوړل ،لغوکول، بیرته اخیستل، منسوخ کول، له منځه وړل، باطلول.

Recanalisation
بیا کانال جوړونه ،د یوه(ټیوب ، کانال ، قنات ، رګ) د بند حالت څخه د لومن د خلاصولو او بیا سره یو ځای کولو جراحی عملیات ، د (Recanalization) په انډول.

Recapture
بیانیول، بیرته لاس ته راوستل. بیانیونه.

Recast
له سره قالبول، په اورتوپیدی ناروغانو کې بیا پلاستر کول ، روغول، طرح کول، بیا ودانول.

Receive
اخیستل لکه یوه ناروغ ته د څو پینټ وینې تېرول ، نیول، منل، رسول، موندل، پذیرائي کول، تلقی کول، منظورول، پوهېدل، استقبالول، پیداکول، رسېدل، دنتو تواجازه ورکول، روغبړکول.

Receiver
اخیستونکی، نیوونکی، منونکی، پوهېدونکی، پیداکوونکی، دتیلیفون غوږی (ګوشکه)، داملاګو مدیر.

Recent
نوی، تازه، راوروسته، نېږدی.

- Recent Advances
تازه پرمختګونه .

- Recent Information
تازه معلومات .

Recently
په نژدی وخت کی، په راوروسته زمانه کی.

Receptaculum

یو رګ یا یوه محفظه ، د ټیوب هغه برخه چې توسعه یې موندلې وی او یوه کڅوړه یې رامنځ ته کړې وی.

- Receptaculum Chyli

د (**Cisterna Chyli**) په اندول.

Reception

میلمه پالنه، پذیرایی، استقبال، میلمستیا، مننه، موندنه،رسېدنه.

Receptive

موندونکی، منونکی، اخیستونکی، رسوونکی، پراخ نظره، درک کوونکی.

Receptivity

اخیستنه، لیاقت، اغیزه، د منلو وړتیا لرل.

Receptor

آخذه ، اخیستونکې سرچینه ، منونکې حجره ، د یوې حجرې د سطحې پرمخ یا دننه مالیکول چې د ځانګړو مالیکولونو پېژندنه په غاړه لری او له هغه سره یوځای کېږی تر څو په حجره کې ځانګړې اغیزه منځ ته راوړی

- Adrenergic Receptor

د اپینفرین او نار اپینفرین رسپتور لکه هغه آخذې چې د هغه اغیزمنو هډونو (غړو) پرمخ شته والې لری ،چې د سمپاتیک عصبی سیستم د ادرینرجیک بعدالعقدوی رشتو پواسطه تعصیب کېږی د ډلبندی له مخې الفا-ادرینرجیک رسپتورونه د اپي نفرین له لارې تحریک مومی او د پروپرانولول په څېر لاملونو پواسطه بلاک کېږی ،د بېتا (**β1**) -ادرینرجیک رسپتورونو او د بېتا (**β2**) -ادرینرجیک رسپتورونو باندې وېشل کېږی.

- Alpha -Adrenergic Receptor

الفا-ادرینرجیک رسپتورونه هغه رسپتورونه دی چې د اپي نفرین له لارې تحریک مومی او د پروپرانولول په څېر لاملونو پواسطه بلاک /نهی کېږی.

- Beta$_1$- Adrenergic Receptor

د بېتا (**β1**) ادرینرجیک رسپتورونه چې (د زړه د تحریک او لایپولایزیس لامل ګرځی).

- Beta$_2$- Adrenergic Receptor

د بېتا (**β2**) ادرینرجیک رسپتورونه چې (دوینې رګونو او هوائی لارو د آزاد ېدو لامل ګرځی)

- Receptor Cell

منونکې حجره، د عصبی حجرې پایلې برخه چې حسی بدلونونه لکه د چاپېریال اړوند (سړښت ، تودوخه ، ضربه) په وړاندې سیاله مرکزی اعصابو ته لېږی او غبرګونیز مسؤلیت په غاړه لری.

- Cholinergic Receptor

کولینرجیک رسپټور ،د حجرې د سطحې آخذوی مالیکولونه چې د عصبی کېمیاوی منځګړی مادې اسیتایل کولین سره یوځای کېږی او په حجرو ددې هورمون د اغېزو ښندنې لامل ګرځی.

- Complement Receptor

د کمپلمنت د سیستم د اجزاوو لپاره د حجرې سطحې آخذې.

- Cutaneus Receptor

جلدی رسپټورونه ، هغه څو ډوله حسی غړو څخه هریو د پوستکی د درم یا اپي درم په طبقو کې موندل کېږی چې معمولاً د (مېخانیکی ، تودوخی ، درد) آخذې پکې شاملېږی.

- Cytoplasimic Receptor

د حجرې سایتوپلازمیک رسپټور.

- H$_1$ Receptor 's

د سړو و پوستکی او نورو برخو کې د (**H$_1$**) آخذې لکه چې به سړو کې برانشونو تنګوالې پېښوی.

- H$_2$ Receptor 's

دهضمی جهاز معدې او نورو برخو کې د (**H$_2$**) آخذې لکه چې په معده کې اسید ډېر افراز تنبه کوی او دمعدې درد پېښوی.

- Joint Receptor 's

مفصلی رسپټورونه ، په مفصلی بند کې هره مېخانیکی آخذه چې په ژورو فشارونو (ستېرس) په ګډون نورو حالاتو کې د تحریکونو په وړاندې ځواب ځرګندوی.

- Muscarinic Receptor's

هغه کولینرژیک رسپټورونه چې د موسکارینی الکلوئید پواسطه تحریک او د اټروپین مادې پذېرېدو نهی /بلاک مومی دا ډول رسپټورونه په [اتوماتیک اغېزمنو حجرو، مرکزی عصبی سیستم کې په (تلاموس اود ماغزو په قشر)] کې موندل کېږی.

- Muscle Receptor's

عضلی رسپټور، یوه مېخانیکی آخذه چې په یوه عضله یا وتر (ټېنډون) کې موندل کېږی.

- Nicotinic Receptor's

هغه کولینرژیک رسپټورونه چې لومړی د نیکوټین الکلوئید پواسطه تحریک او دهغو په زیات مقدار او همدا رنګه د ټوبوکرارین مادې پذېرېدو نهی /بلاک مومی دا ډول رسپټورونه په [اتوماتیک عصبی سیستم ، د غوټو د حجرو ، د مختلطو عضلاتی حجرو او د نخاعی رسی د عصبی سیستم حجرو پر مخ کې] کې موندل کېږی.

- Nonadapting Receptor

ناموافقه رسپټورونه ، د درد د آخذې په څېر یو ډول مېخانیکی آخذه چې د تحریکونو په ځواب کې د پرلپسې تخلیې په بڼه کار

- **Infandibuliform Recess**

د (**Pharyngeal Recess**) په اندول.

- **Laryngopharyngeal Recess**

د (**Piriform Recess**) په اندول.

- **Pharyngeal Recess**

د انفی –بلعومی برخې په جدار کې یوه پلنه او فیتوی ډوله فضأ چې د سامعوی ټیوب د بلعومی سوری په خلفی او قحفی سیمه کې ځای لری.

- **Piriform Recess**

د بلعوم په حنجروی جدار کې یو ناشپتی (ناک) ډوله جوف.

- **Pleural Recess**

پلورائی جوف ، هغه فضأ چې د پلورائی پردې مختلفی برخې سره نښلی او دا سیمې هیڅکله د ریوی نسج پواسطه په بشپړ ډول نه ډکیږی.

- **Recess of Rosenmuller**

د (**Pharyngeal Recess**) په اندول.

- **Sphenoethmoidal Recess**

د پوزې د جوف شاتنی او تر ټولو پورتنی برخه چې د پوزې کونکا پر سر ځای لری او سفینوائیدال سینوس ورپرانیستل کیږی.

- **Subpopliteal Recess**

د پوپلیتیال عضلې د ساینویال ټینډون د پوښ یوه فیته چې د ګونډې د بند څخه بهر ځای لری او تر پوپلیتیال فضأ پورې غځیږی.

- **Superior Recess of Tympanic Membrane**

د (**Prussak's Pouch**) په اندول.

- **Utricular Recess**

د (**Utricle**) په اندول.

Recession

پریښودنه، ترک کول، شاته اچول،په څټ کیدنه، ګوښه کیدنه، راګرځیدنه، لاس اخیستنه.

Recessive

① په جنیټیک کې له هغه حالت پرته چې دواړه جوړې کروموزومونه مغلوب صفت ولری د صفاتو په ښکاره کولو نه توانیږی ، مخفی، هغه ډول حالت چې پکې جن (**Gene**) چې د بل جن پواسطه تر اغیزې لاندې وی او نشی کړلای چې تبارز وکړی. ناڅرګنده ځانګړنه په یوه غړی کې چې د (**Dominant Allele**) تر اغیزې لاندې راغلې وی،② مغلوب الیل ، مغلوب کیدو او عدول کولو ته لیوالتیا. دبیرته پاتی کیدوپه حالکی، دلو ییدنی په حال کی، دپه څټ کیدنی په حال کی، وروسته کیدونکی.

کوی او د وخت په اوږدو کې عادت یا توافق نه کوی.

- **Olfactory Receptor's**

شامی رسپټورونه ،د پوزې د اپتلیوم یوه کیمیاوی آخذه چې د تحریکونو په وراندې حساسه ده او د شامې (بوئیولو) حس رامنځ ته کوی.

- **Opiate Receptor's**

اپینی رسپټورونه، د اوپیو ئیدونو د څو رسپټورنو څخه هر یو چې د اغیزمنې مادې د نوعیت او فزیولوژیک اغیزو له مخې لږ تر لږه اوه ډولونه لری.

- **Opioid Receptor's**

د (**Opiate Receptor's**) په اندول.

- **Pain Receptor's**

د دردونو د احساس رسپټورونه .د (**Neciceptor**) په اندول.

- **Rapidly Adapting Receptor's**

چټک توافقی رسپټورونه، یو ډول میخانیکی آخذې چې د تحریکاتو ته په چټکی سره ځواب ورکوی خو په ښیره عادت کیږی او د تحریکونو د شتون سره سره ځواب نشی ورکولای.

- **Sensory Receptor**

حسی رسپټور ، هغه رسپټورونه چې دبدن په ښلابښلو غړو نسجونو کې د حسیت مسؤول وی.

- **Slowly Adapting Receptor**

په کراره توافقی رسپټورونه، یو ډول میخانیکی آخذې چې د تحریکاتو ته په کراری او څوکه ډول سره ځواب ورکوی او تر هغه مهاله چې تحریک دوام ومومی ځواب ورکول یې دوام مومی.

- **Stretch Receptor's**

نښغوونکې رسپټورونه ، په یوه عضله یا وتر(ټینډون) کې حسی غړی چې د هغو له کشکیدو سره حساس دی.

- **Tactile Receptor's**

د لامسی د حس لپاره یوه حسی آخذه ده.

- **Thermal Receptor's**

د تودوخی آخذې ، د (**Thermoreceptor's**) په اندول.

Recess

①یوه غړی تش منځې کوچنی فضأ یا ژوره ،②تفریح، هواخواری، ساعتیری او چکر، رخصتی، دریدنه (توقف)، خلوت، ګوښه، کونج، تاق، محراب، تاق جوړول، په خلوت کی اوسیدل، سیال او تفریح کول، دریدل ،توقف کول.

- **Epitympanic Recess**

د غوږ د صماخی جوف پورتنی برخه چې د صماخی پردې پر سر ځای لری او د څټکی او رکابی هډوکو یوه برخه پکې ځای لری.

- Recessive Genes
مخفی جینونه ، پټ جینونه ، ناڅرګنده جینونه.

Recessus
د (**Recess**) په انډول.

Recidivation
د (**Recidivism**) په انډول.

Recidivism
① په ځانګړې ډول د تباهکاری، یا اعتیاد اونورو(بازګشت ، بیا ورته مخه کول ، رجعت ،بیا پیل) ، د یوې ناروغۍ. د نښو نښانو راستنېدل او بیا راګرځېدنه. ② د یوه جنایت یا ګناه تکرار ،

Recipe
①اخیستل ، وړل ، ور کول ، ② نسخه (دپخولولازښود)، لازښود ، د درملیزو نسخوپه پیل کې چې معمولاً د (**Rx**) له نښې څخه کار اخیستل شی چې همدا معنی لری، ، د څو درملو له مخلوط څخه د جوړ شوی یوه محصول فورمول .

Recipient
اخیستونکی، نیوونکی، تسلیمیدونکی، هغه کس چې یوه شئ تر لاسه کوی لکه د وینې تزریق (**Transfusion**) یا د غړو د پیوند(**Transplant**) په څېر ګامونه .

- Universal Recipient
هغه کس چې کولای شی د وینې ټول ګروپونه پرته لدې د ورکړل شوې وینې حجرې تحثر وکړی تر لاسه کولای شی.

Reciprocal
متقابل، معکوس، دوه اړخیزه، په ګډه.

Reciprocate
مخ اوشاته تلل، ښکته پورته کیدل، په مخ او په څټ کیدل، عکس العمل ښودل، مبادله کول.

Reciprocation
مخ او شاته کیدنه، عکس العمل ښودنه.

Reckless
بی باکه، بی پروا ، بی سنجشه، بی مخه، بیړنی، بی څټه.

Recklessness
بی باکی. بی پروایی.

Reclamation
بیا غوښتنه، بیاراګرځونه، بیاجوړونه، مستردونه.

Recline
استراحت کول،ځملاستل، کړول، کنول، کړېدل، کتېدل.

Recognation
①پیژندنه، له انتیې جن سره د حجرې د ایمیونولوجیک اجزاوو ګډېدو ، د حجرې په سطحه باندې د ځانګړو آخذو سره د انتی جنی ځانګړنو اخته کېدو او پیوستون او په پای کې د ځواب پېښېدنه . ②مننه، په رسمیت پیژندنه.

Recognise
پیژندل، په رسمیت پیژندل، په ځای راوستل یاراوړل، اقرارکول، اعتراف کول، دویناحق ورکول.

Recognizable
دپیژندنی وړ.

Recognizance
التزام لیک، ضمانت پاڼه، تعهد لیک.

Recognize
د (**Recognise**) په انډول .

Recoil
په څټ کېدل، ترشاکېدل، په شادانګل، پشاتلل، په شاغورځیدل. په څټ کېدنه، په شاکېدنه، په شادانګنه، په شاغورځېدنه،د شاپه لوري ستنېدنه.

Recollect
راپه زړه کېدل، په یادراوړل، یادېدل، په یادول، راغونډول، بیا راټولول، بیاراټولېدل، راغونډېدل.

Recombinant
هغه حجره یا نوې شخص چې د جنیټیکی بیا رغاونه په لړ کې منځ ته راځی ، د(جنیټیک یا زاد پېژندنې) له مخې بیا سره یوځای شوې ، بیا ترکیب شوې ، بیا پیوستون موندلې .

- Recombinant DNA
د (**Dna**) عصاره یا خلاصه چې د دوه یا له ډېروالیکولونو زېرمو سره یوځای کېدو څخه منځ ته راځي چې د یوه ژوندی ارګانیزم جوړېدنه کې رول لری .

Recombination
بیا پیوستون رکول ، بیا رغاونه ، د څو برخو بیا جوړونه ، د څو شیانو یو د بل سره بیایوځای کولو پروسه ، بیا ترکیب او پیوستون منځ ته راوړل . په جنیټیک کې(نوې جوړونه ، دهومولوګ کروموزومونو پر سر د یو لړ بهیرونو د

Reconstruct
د بدن د ویجاړو شویو انساجو (بیاودانول ، بیاروغول ، ترمیم کول) بلل شی.

Reconstruction
د بدن د ویجاړو شویو برخو د انساجو (بیرته سمونه، بیاجوړونه، بیاروغونه) پروسې ته ویل شی.

Reconstructive
بیا جوړوونکې ، بیا رغوونکی ، بیا ترمیمی ، بیرته سمونکې پروسه یا کړنلاره .

- Reconstructive Surgery
بیا جوړوونکې جراحی هغه برخه ده چې د بدن د تخریب شوی انساجو په پلاستیک بڼه د بیا سمون او رغونې سره کار لری ، د (**Plastic Surgery**) په انډول.

Record
په دایمی یا اوږدمهالی ډول د معلوماتو ثبتول لکه د(فلم ، لیکنه ، ویډیو ، اوډیو ، څېړنو ،کتابونو) په څېر ، کښل، خوندی کول، بیانول،کښنه، ثبت، سوانح، ډیرښه، خورابنه، ترټرلوښه، ټیکلی (ریکاټ).

- Medical Records
طبی ریکارډونه ، د طبی معلوماتو ثبت او ریکارډ ځانګه هلته چې د نارغانو اړوند ګڼ شمېر معلومات خوندی ساتل کېږی لکه (دوسیې، څېړنې ، نتیجې) په څېر .

- Problem Oriented Record (POR)
له نارغ څخه د مراقبتی درملنیزو ګامونو ثبت یوه طریقه چې په هغه کې روغتیائی ځانګړو ستونزو او روغتیائی مراقبتونو یوه همغږې پلان ته چې د څرګندو ستونزو سره ورته او مطابقت ولری پام کېږی.

Recorder
ثبتونکی، دثبتولو مسؤول (آله ، وسیله ، کس ، مأمور) ته ویل شی، قاضی.

Recount
د نارغانو د حال (ویل، بیانول، نکل کول) بلل شی ، بیاشمیرل.

Recover
1 .له نارغی څخه د روغتیا او روغوالی بیالاس ته راوړل، روغیدل (شفامومندل) ،ژغورل (ژغورنه)، د د لاسه تللی یوڅه بیااخیستل او ترلاسه کول ،بېرته راګرځول، ستنول (ستنونه) ، **2**. بیاپوښول. بیاپټول، پوښ ورکول.

Recovered
له نارغی راستون شوې ، روغتیا موندلې ، پوښلې .

Reconstruct
د بدن د ویجاړو شویو انساجو (بیاودانول ، بیاروغول ، ترمیم کول) بلل شی.

Reconstruction
د بدن د ویجاړو شویو برخو د انساجو (بیرته سمونه، بیاجوړونه، بیاروغونه) پروسې ته ویل شی.

Reconstructive
بیا جوړوونکې ، بیا رغوونکی ، بیا ترمیمی ، بیرته سمونکې پروسه یا کړنلاره .

- Reconstructive Surgery
بیا جوړوونکې جراحی هغه برخه ده چې د بدن د تخریب شوی انساجو په پلاستیک بڼه د بیا سمون او رغونې سره کار لری ، د (**Plastic Surgery**) په انډول.

Record
په دایمی یا اوږدمهالی ډول د معلوماتو ثبتول لکه د(فلم ، لیکنه ، ویډیو ، اوډیو ، څېړنو ،کتابونو) په څېر ، کښل، خوندی کول، بیانول،کښنه، ثبت، سوانح، ډیرښه، خورابنه، ترټرلوښه، ټیکلی (ریکاټ).

- Medical Records
طبی ریکارډونه ، د طبی معلوماتو ثبت او ریکارډ ځانګه هلته چې د نارغانو اړوند ګڼ شمېر معلومات خوندی ساتل کېږی لکه (دوسیې، څېړنې ، نتیجې) په څېر .

- Problem Oriented Record (POR)
له نارغ څخه د مراقبتی درملنیزو ګامونو ثبت یوه طریقه چې په هغه کې روغتیائی ځانګړو ستونزو او روغتیائی مراقبتونو یوه همغږې پلان ته چې د څرګندو ستونزو سره ورته او مطابقت ولری پام کېږی.

Recorder
ثبتونکی، دثبتولو مسؤول (آله ، وسیله ، کس ، مأمور) ته ویل شی، قاضی.

Recount
د نارغانو د حال (ویل، بیانول، نکل کول) بلل شی ، بیاشمیرل.

Recover
1 .له نارغی څخه د روغتیا او روغوالی بیالاس ته راوړل، روغیدل (شفامومندل) ،ژغورل (ژغورنه)، د د لاسه تللی یوڅه بیااخیستل او ترلاسه کول ،بېرته راګرځول، ستنول (ستنونه) ، **2**. بیاپوښول. بیاپټول، پوښ ورکول.

Recovered
له نارغی راستون شوې ، روغتیا موندلې ، پوښلې .

پرمخ بیولو له لارې د یوه نوی ترکیب منځ ته راوړلو پروسه) بلل شی .

Recommend
سپارښت کول، ستایل، ورپېژندل، مشوره کول، سپارل ، توصیه کول .

Recommendation
ستاینه، سپارښتنه ، ورپېژندنه ، مشوره.

Recommended
ستاینه شوې ، سپارښتنه شوې ، ورپېژندل شوې ، مشوره شوې.

- Recommended Medication
یوه نارغ ته درملو سپارښت شوې بڼه یا درملنه .

- Recommended Therapy
یوه نارغ ته سپارښت شوې بڼه درملنه یا درملو اندازې او مودې ټاکنه .

Recompensation
بدل، عوض (تعویض) ، تاوان جیره ، جبرانی حالت ، د نارغی هغه حالت چې د ضایع شوې مادې بدل/ عوض وشی لکه د نس ناستی حالت کې د مایعاتو او الکترولایټونو جبران شوی بڼه .

Recompense
ورګرځول (عوض ورکول)، بدله ورکول، تاوان ورکول، تلافی کول.

Recompression
بیا فشار منځ ته راوړل ، د فشار د شدید ډول رالوېدنې سره مرمخامخ کېدنې وروسته د محیطی فشار نورمال حال ته بیرته ستنېدنه .

Reconcile
پخلاکول، پریکون ، فیصله کول.

Reconciliation
پخلاثوب، روغه.

Recondite
ګران (مشکل ، ستونزمن)، پیچلی، مجرد، پټ (مرموز)، ژور.

Recondition
بیرته رغول،ترمیم کول، بیرته سمول.

Reconsider
بیاکتل، بیاانظرکول، له سره پر یوه (موضوع ، نارغی ، درملنې) سوچ کول.

- Recovered from Blindness
د ړوندوالی حالت څخه بیا د بینائی لاس ته راوړلې.
- Recovered from concussion
د دماغی کانکشن حالت څخه بیا رغول شوی او ښه والې موندلې ښه.
- Recovered from Unconciousness
له بېهوښی حالت څخه د شعوری حالت ته بیا راګرځېدلې.

Recovery
ریکوری، ښه کېدنه ، له ټپی یا ژوبلې حالت څخه د روغتیا حالت ته بیا راګرځېدلې ښې پروسه ، بیارغون.
- Complete Recovery
په بشپړ ډول ریکوری موندلې حالت.
- Recovery Room (RR)
هغه روغتون کې هغه طبی خونه چې هلته د ناروغانو مراقبت تر سره کېږی او روغتیا حالت بیا راګرځی دا خونه معمولاً په جراحی –انستیزی برخه شتون لری.
- Partial Recovery
نابشپړ (ناکامله) ریکوری حالت.
- Recovery Position
هغه وضعیت چې ناروغ پکې مخ ښکته لوړې ته وی او یو زنګون (ګونډه) او مټه قدام (مخې ته) او مخ یوې لورې ته اړول شوې دا وضعیت معمولاً هغه ناروغانو ته ورکول شی چې په ترضیضی پېښو (**Accident Victims**) سپارښت او پکار وړل کېږی یا هغه ناروغان چې امبولانس راتګ ته انتظار حال کې وی چې د کانګو او بلع کولو مخنیوی کوی.
- Splendid Recover
روښانه ریکوری ، ډېر ښه ،عالی او کامله ښه ریکوری.

Recreant
بې زړه، ډارن، ویرېدونکی، تسلیمېدونکی، بې وفا.

Recreate
بیاپیداکول، بیاخلقول.

Recreation
①بیاپیدایښت ، تخلیق. ② ساعت تیری، تفریح، لوبه.

Recreational
د (**Recreation**) اړوند صفت.
- Recreational Drug
هغه ډول درمل چې بیا جوړ او ورته ښه ډول سمون ورکړل شوی وی تر څو په ښه ډول تحمل شی.

Recreative
①بیا پیداکوونکی ، بیا خلق کوونکی ،② تفریحی، دساعت تیری، خوشالوونکی، هوساکوونکی. د (**Recreate**) اړوند صفت.

Recrement
①لاړې یا بل هر ډول افراز چې بېرته وینې ته جذب شی. ② اضافه ، تفاله ، زوائد ، زائد مواد.

Recrementitious
د (**Recrement**) اړوند صفت.

Recross
بیاتېرول

Recrudescence
د یوې لنډمهالې روغتیائی دورې وروسته د یوې ناروغی د نښو بیا راګرځېدل ، عودت کول ، عود ، بابېړې کول.

Recrudescent
عود کول ، بابېړې ، د (**Recrudescence**) اړوند صفت.

Recruit
ګومارل ، جلبول، جلبېدل، استخدامول، دپیسو اویا مرستی لاس ته راوړل، یوې طبی ډلې (ګروپ) ته نوی کسانو جلب–جذب لکه د (نوی نرس ، روغتیائی کارکوونکی ، ډاکټر ، متخصص او نور نوی غړي) په څېر .

Recruitment
ګمارنه ، استخدام کولو پروسه ، پر کار باندې اچونې پروسه.

Rect-
دا یو مختاړي دئ چې د (سم ، سمې کولمې ، ریکټوم د کولمو د پایلې برخې ، **-Recto**) اړوند معنی لری.

Recta
د (**Rectum**) لپاره ګڼه شمېره.

Rectal
د[ریکټوم (لویی کولمی لاندنی برخی) ، (**Rectum**)] ته منسوب او اړوند صفت دئ.
- Rectal Fissure
د ریکټوم [تخریب ، فیسور ،درز، د مخاطی غشأ پرې شوې برخه] چې د سمې کولمې په جدار کې پېښېږی.
- Rectal Fistula
د ریکټوم [تخریبی سورې لاره ، فیستول ،سوړه ، د مخاطی غشأ ځیرې شوې برخه تر پوستکې پورې د یو ترکټ له لارې اړیکه لری] چې د سمې کولمې په جدار کې پېښېږی.
- Rectal Hemorrhage
له ریکټوم برخې څخه د وینې بهېدنه.
- Rectal Hemorrhoid
د ریکټوم کولمې بواسیر تنې ، ریکټومی هیموروئید.

- **Rectal Pain**

د ریکټوم کولمې درد .

- **Rectal Polyp**

د ریکټوم اړوند پولیپ چې د مخاطی غشأ نوې وده بلل شی.

- **Rectal Prolapse**

د کونې (مقعد) برخې څخه د ریکټوم د مخاطی غشأ بهرته ښکته راوتنه بلل شی.

- **Rectal Temperature**

د ریکټوم برخې د تودوخې (حرارت) ټاکنه چې د ترمامیتر کېښودنې پذرېعه ټاکله شی او د نور برخو څخه دا برخه یوه درجه د سانتي ګرېډ لوړه څرګندوی.

- **Rectal Thermometer**

مقعدی (ریکټومی) ترمامیتر وسیله چې پرې د هماغه برخې تودوخې درجه ټاکله شی.

- **Rectal Triangle**

د ریکټوم برخې مثلث، د (**Anal Triangle**) په انډول.

Rectalgia

د ریکټوم برخې درد چې د پروکټیټ په ناروغۍ کې شون لری ، د (**Proctalgia**) په انډول .

Rectally

ریکټومی ، مقعدی ، د ریکټوم له لارې تطبیق کېدنه ، لکه د (ریکټوم له لارې د تودوخې ټاکنه) .

Rectangle

مستطیل ،اوږد څلور غوږې (څلورکنجه) هندسی شکل / جوړښت .

Rectectomy

د ریکټوم (**Rectum**) د غوڅولو جراحی عملیات کړنلاره.

Recti

د (**Rectus**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Rectification

سمون، تصحیح ، د سمولو اړوند پروسه /عملیه .

Rectify

سمول، صحیح کول، ټیک کول، علاج کول.

Rectitis

د ریکټوم کولمې التهاب ، د (**Proctitis**) په انډول.

Recto-

دا یو مختاړې دئ او د [مقعد ، ریکټوم(**Rectum**)] اړوند معنی لری.

Rectoabdomenal

①د ریکټوس عضلې او ګېډې جدار اړوند ،② د مقعدی - ریکټوم او ګېډې اړوند .

Rectocele

هغه حالت چې پکې د رحم پرولاپس له امله د مهبل داخل ته د مقعدی کانال د یوې برخې فتقی ډوله راوتلتیا شتون لری.د (**Proctocele**) په انډول.

Rectocolits

د ریکټوم او کولون التهاب ، د (**Coloproctitis**) په انډول.

Rectocutaneus

د ریکټوم (مقعد) او پوستکی اړوند .

Rectolabial

د مقعد (ریکټوم) او د مهبل په لویو شونډو پورې اړوند.

Rectopexy

هغه جراحی عملیاتی کړنلاره چې پکې د ریکټوم تثبیت د پرولاپس مخنیوی په موخه تر سره کېږی ، د (**Proctopexy**) په انډول.

Rectoplasty

د (**Proctoplasty**) په انډول.

Rector

دیوی سیمی ملا ،دپوهنتون رئیس.

Rectorship

دعیسوی ملایادپوهنتون درئیس موقف یاځای.

Rectoscope

هغه تشخیصی کتونکی وسیله چې پرې ریکټوم دننه حالت کتل شی. د (**Proctoscope**) په انډول.

Rectoscopy

هغه کتونکې عملیې پروسه چې د تشخیصی کتونکی وسیله پذرېعه د ریکټوم دننه حالت کتل کېږی ، د (**Proctoscopy**) په انډول.

Rectosegmoid

د ریکټوم (**Rectum**) او سګموئید کولون (**Sigmoid Colon**)تر منځ د اتصال تکې بلل شی ، ریکټومی – سیګموئیدی .

Rectosegmoidal

د (**Rectosegmoid**) اړوند صفت .

- **Rectosegmoidal Inflamation**

د ریکټوسیګموئید برخې التهاب .

- **Rectosegmoidal Junction**
د ریکټوسیګموئید برخې د اتصال ټکې اړوند .

Rectosegmoidectomy
د ریکټوسیګموئید برخې د غوڅولو او راویستلو جراحی عملیاتي پروسیجر /کړنلاره .

Rectostomy
د ریکټوم برخې فوحه (خوله) جوړولو جراحی کړنلاره ، د (**Proctostomy**) په انډول.

Rectouretral
د ریکټوم او احلیل برخې اړوند

- **Rectouretral Examination**
د ریکټوم او احلیل برخې طبی کتنه اوآزموینی تر سره کول.

- **Rectouretral Fistula**
د ریکټوم او احلیل برخې فیستولا منځ ته راتګ .

- **Rectouterin Injuries**
د ریکټوم او احلیل برخې ټپي کېدنه (جروحاتو) منځ ته راتګ.

Rectovaginal
د ریکټوم (**Rectum**) او مهبل (**Vagina**) برخې اړوند .

- **Rectovaginal Examination**
د ریکټوم او مهبل برخې کتنه تر سره کول .

- **Rectovaginal Fistula**
د ریکټوم او مهبل برخې فیستولا.

Rectovesical
د ریکټوم (**Rectum**) او تشو متیازو کڅوړې (مثانې **Bladder**) برخې اړوند.

- **Rectovesical Fistula**
د ریکټوم او تشو متیازو کڅوړې تر منځ فیستولا.

Rectum
ریکټوم ، د غټو کولمو هغه نېغه او مستقیمه برخه چې د سیګوموئید کولون په پای کې پیل کوی او کونې (مقعد) پورې دوام لری. د هغه مختارو لپاره بشپړ نوم چې پکې د (**Procto-**، **Proct-**) راځی .

Rectus
نیغه ، سمه ، د هغه عضلې اړوند چې نېغه او مستقیمه بڼه لری لکه د سترګو یا د ګېډې د جدار اړوند عضله ، ګڼه شمېره یې (**Recti**) ده .

- **Rectus Abdominis**
د ګېډې د جدار قدام برخه کې مستقیمه عضله .

- **Rectus Femoris**
هغه قابضه عضلې چې د ورون په قدام کې واقع دی او د (**Quadriceps Femoris**) څلورو څخه یوه برخه په انسی کې جوړوی .

Recumbent
پروت، کوږ،تکیه،غزیدلی، د (**Lying Down**) په انډول.

Recuperate
د ناروغی څخه پورته کیدل او روغیدل، جوړیدل .

Recuperation
روغیدنه، جوړیدنه، د روغتیا او توان راستنېدنې پروسه .

Recuperative
د روغتیا موندنې ، د صحتمندی اړوند صفت .

Recur
په یادېدل،په زړه کېدل، بیاپیښېدل، بیرته راګر ځېدل.

Recurrence
د بیاپیښېدنې عمل ، ستنېدنې کړنه .

Recurrent
1. بیاپېښېدونکی، راستنېدونکی ، عودتی ، عود کوونکې ، **2 .** د هغه وریدِ یا شریان او عصب اړوند چې یوه کړۍ یا لوپ (**Loop**) جوړ کړی . د (**Recurrence**) اړوند صفت .

- **Recurrent Abortion**
بیا منځ ته راتلونکې زیان (سقط) .

- **Recurrent Diseases**
بیا منځ ته راتلونکې ناروغی لکه د ملاریا ناروغی .

- **Recurrent Infections**
بیا پېښېدونکی انتانات لکه ملاریا پرازیت .

- **Recurrent Fever**
بیا پېښېدونکې تبه لکه د ملاریا تبه .

- **Recurrent Pain**
بیا منځ ته راتلونکې درد لکه د پښتورګو قلنجی دردونه چې د ډېرو له کبله پېښېږی.

Recurvation
د شا په لوړې کوږوالې یا انحنأ. بیا کړېدنه .

Red
①سور ، سور رنګ ، هغه اصلی رنګونه څخه یو چې د لیدوړ رڼا په طیف کې تر ټولو اوږده څپه لری ، ② داساسی اوبنیادی تحول غوښتونکی، کمونیست، انقلابی سوسیالیست،انقلابی انارشست.

- **Red Blood Cell**
د وینې سره حجره (کُرېوه) چې د هیموګلوبین درلودونکې وی او د اکسیجن او کاربن ډای اکساید په تبادله کې غوره رول لری لنډه نښه یې (**RBC**) ده، د (**Erythrocyte**) په انډول .

- Redbreast
د تیبیونو سوروالی چې په التهابونو کې منځ ته راځی ، د سرې سینې لرونکې بلبله ، سره سینه .

- Congo Red
یو توربخن یا قهوه ئی سور پوډر چیپه امایلوئیدوزیس کې د د تشخیصی رنګ په توګه پکار وړله شی.

- Red Corpuscle
د (**Red Blood Cell**) په اندول .

- Red Crescent
سره میاشت ، هغه مرستندویه اداره چې په اسلامی نړۍ کې د بې وزله ځپلو کسانو لپاره طبی مرسته برابروی .

- Red Cross
سره صلیب ټولنه چې په نړۍ واله توګه د مصدومینو او ټپیانو او بې وزله ځپلو کسانو لپاره طبی مرسته برابروی .

- Red–green Colourblindness
د (**Deuteranopia**) په اندول.

- Red-hot
پوره سور او تود ، لېوال،ایشېدلی، دقهر یادشوقه څخه ډیر پارېدلی ، ډیرنوی .

- Red Marrow
د هډوکو د ماغزو سرې وینې حجراتو جوړوونکې برخه .

- Phenol Red
د (**Phenolsulfonphthalein**) په اندول.

- Scarlet Red
د یو ډول (**Scarlet**) سور رنګ لرونکې برخه چې د ځینې وختونه د حجرو د تکثر توان لری ، دا ماده د ټپونو د رغوونې او تحریک په چاره کې کارولە شی.

- Vital Red
هغه رنګ چې په پلازما کې د رنګ د غلظت د ټاکنې له په موخه د وینې بهیر ته تزریق کېږی .

Redden
سورکول، سورکیدل، د ډېر (شرم، خوښی، قهر) څخه سوراوښتل.

Redeemable
چاره کیدونکی، علاج کیدونکی، تلافی کیدونکی،

Redeemer
شفاعت کوونکی، ژغورونکی لامل .

Redia
د ځینو ترماتودا پرازیتونو د ژوندون د سیکل یوه لاروائی مرحله چې د حلزون په بدن کې لیدله کېږی او د ښځینه رډیاګانو یا د سرکاریاګانو په پېدا ېښت پای ته رسېږی .

Reincarnation
بیا ژوندی کیدنه، تناسخ.

Reindeer
ګاوزه، قطبی ګاوزه.

- Reindeer Stone
د بډوډو هغه ډول ډبره چې و ګاوزې ښکر ته ورته والې لری او ورته (**Staghorn Stone**) هم ویل کېږی.

Reinforce
تقویه کول، ټینګول، ملاتړ ورکول، مرسته کول.

Redintegration
بیا توأمیت ، بیا سره یو کېدنه ، د یوې رنځورې یا له لاسه وتلې برخې ترمیم یا بیا رغونه ، روانی پېښه چې پکې د یوې پاروونکې ټولګې یوازې یوه برخه بشپړ غبرګون رامنځ ته کوی.

Rediscover
بیاموندل، بیا را برسیره کېدل .

Rediscovery
بیاموندنه، بیا را برسیره کول .

Redivac
دا هغه طبی عالم دئ چې د اړوند طبی درن (**Drain**) یې لومړې ځل رامنځ ته کړېدئ .

- Redivac Drain
هغه ډول ټیوب سوداګریز نوم چې د هغه پذ ربعه د یوه ټپ دننه مایع مواد دننه یوه بوتل ته درینا ژ کېږی او پکې راټولېږی چې دا د ګېډې عملیاتونو کې پکار وړله شی ورته نوم یې (**Redivac Drainage Tube**) دئ

- Redivac Drainage Tube
د (**Redivac Drain**) په اندول.

Redness
سوربخن ، سوروالې ، هغه برخه د بدن چې سره اوښتې وی چې هلته د وینې بهیر زیاتوالې د(انتان یا تودوخې) شتون له امله منځ ته راځي .

Redolent
خوږ وړمه، خوشبویه، تند بوی لکه د[کب (ماهی)] په څېر .

Redouble
غبرګول، غبرګېدل، زیاتول، زیاتېدل .

Redoubtable
سام جن، ډاروونکی، بیروونکی ، وېروونکې.

Redound
بهېدل، راتوئېدل، منتج کېدل، حاصلېدل، مرسته

کول.

Redox

د تحمض او ارجاع یو ځائی (هم مهاله) بهیر .

Redress

سموول، چاره کول، اصلاح کول، بیاتعدیل کول. سمونه، چاره کول، اصلاح کول.

Redskin

سورپوستی ، د سره پوستکی درلودونکې نسل لکه دشمالی امریکی (هندیانو) په څېر .

Reduce

سمون،کمښت / کمول، لږول،تنزیلول، سپکېدل، کښته کول ، د یوې کچې ټیټول .

Reduced

ارجاع شوې ، ببرته خپل حال ته ګرځېدلې .

- Reduced Dislocation

د بندونو هغه خلع (اوښتنه) چې ارجاع شوې وی.

- Reduced Dosage

د درملو هغه اندازه (دوز) چې ارجاع شوې وی.

- Reduced Fracture

د هډوکو هغه کسرووونه (ماتېدنه) چې ارجاع شوې وی.

- Reduced Hernia

د فتقونو هغه ډول چې ارجاع شوې وی.

- Reduced Size

د انساجو اومنوادو هغه بڼه چې ارجاع شوې وی.

- Reduced Temperature

د تودوخې (حرارت) هغه بڼه چې ارجاع شوې وی.

Reducible

د ارجاع وړتیا لرونکې ، ببرته خپل حال ته ګرځېدونکې.

- Reducible Hernia

هغه فتق چې بیا د ارجاع وړتیا لری او پرته له عملیاتېدنې خپل پرته له اختلاطه بڼې ته ورګرځی.

Reducer

کموونکی عامل .

Reductant

کموونکی عامل ، د اکسیډېشن - ارجاع په یوه تعامل کې د الکټرون ورکوونکې،ارجاعی .

Reductase

د ارجاع منځ ته راوړونکې انزایم،هغه انزایم چې د ځینو اوکسایډو ریډکټیز ونو په نومونو کې په ځانګړې ډول هغه چې د یوه مېتابولایټ د ارجاع تعاملونه کتلایز کوی پکار وړله شی.

- S - Alpha (α)Reductase

الفا-ریډکټېز هغه انزایم چې په ډیهایدرو - تستوسټېرون باندې د تستوسټېرون نه راستنېدونکې اووښتنه کتلایز کوی او فقدان یې په نارینه کاذب هرمافروایډیزم رامنځ ته کوی.

Reduction

سون ، د یوه ماتوالی سمونه ، ارجاع کېدنه لکه د یوې مادې سره د هایدروجن یو ځای کېدل یا په عمومی ډول د الکترون تر لاسه کول ، کموونه، لږونه ، د لږونې عملیې پروسه چې پکې یو حالت خپل لومړنې بڼې ته ورګرځول کېږی.

- Closed Reduction

تړلې ارجاع ، د پوستکی د پرې کولو او وازولو عملیات څخه پرته د یوه مات هډوکی سموونه.

- Reduction Division

ارجاعی ویشنه ، د (**Meiosis**) په اندول.

- Open Reduction

پرانیستې ارجاع ، لکه ① په اورتوپېدی –تراوماتولوژی اړوند ځانګې جراحی د ماتوالی د ځای تر وازولو وروسته د هغه ماتې برخې هډوکو ببرته سموونه .② په عمومی جراحی کې د یوې فتقیه برخې د وازولو وروسته د محتوی ارجاع کولو مېتود دئ.

Redundancy

زیاتونه، ډیرونه، فضولی، چټی، اضافی ، اصل ځای ډکېدنې څخه د یوې مادې زیاتېدنه او لبرېز کېدنه .

Redundant

ډیر زیات ترحده ډیر.

Reduplication

د سرچپه (اووښتې) راغبرګېدنې چاره او پروسه . بیا مضاعف کېدنه ، بیا راغبرګېدنه / راګرځېدنه .

Reecho

انعکاس کول، تزانګه کول. انعکاس، ازانګه.

Reed

دروی (نی ، دورمه) شپېلی، ژبی، (دساز آله / وسیله) نل، بوتی.

Reedy

نل وزمه، شپیلی وزمه، دنلو ډک.

Reek

لوګي، خوړوسکه، بدبوئی، بړاس (بخار).

Reel

خرڅول، تاوېدل، چورلول، د څرخ د کړې چورلېدل ، د سکاټلینډی نڅایو ډول دئ هغه ورته څرخېدنه بلل شی.

Re-emerge

بیا راګرځېدنه ، بیا ظاهرېدنه ، بیارانېکاره کېدنه لکه د یوې ناروغی د اعراضو-علایمو بیا راڅرګندېدنه.

Re-emergence

د بیا راڅرګندېدنې عملیه .

Re-enforce

ټینګول، تقویه کول، مضبوطول.

Re-enforcement

ټینګونه، ټینګتیا ، امدادی کښکر.

Re-enter

بیا ننویستل، بیاننوتل ، بیا دننه کېدنه.

Re-entery

بیا تداخل، بیا ننوتنه ، بیا شاملېدنه.

Re-establish

بیاجوړول، بیا بنسټ اینبودل،بیاتأسیس کول.

Re-establishment

بیاجوړونه، بیادرونه.

- Re-establishment Surgical Methods

د بیاجوړونې مېتود کړنلاره لکه به جراحی کې د یوې نیمګړی ودی سمون له لارې د بیا جوړونې او رغونې کړنلاره.

Refer

رجوع کول، حواله کول، لیږل، ورګرځول، ورلیږل، نسبت ورکول، اړیکه (ارتباط) ورکول .

- Refered Patients

لېږل شوي ناروغان ، هغه ناروغان چې د بل ځای څخه روغتونو ته لېږدول شی او رسمی لېکلې پانه ورسره ورکول شی.

Referral

لېږونکي ، لېږدېدونکي ، اړیکې لرونکي .

- Referral Hospital

د ناروغانو لېږولو لپاره اړوند روغتون .

- Referral Mechanism

د لېږلو لپاره مېکانیزم .

- Referral Method

د لېږنې مېتود / کړندود.

- Referral and Program Analysis Branch

د لېږنې او پروګرام تحلیلی څانګه .

- Rferral to Treatment

د درملنې لپاره لېږدېدنه .

- Referral to Treatment Target

د درملنې په موخه لېږدېدنه .

Refered

لېږدول شوي ، لېږلې ، اړوند.

- Referred Care

اړوند څارنه او درملنه.

- Referred Itch

اړوند لېږېدلې خارښت . هغه خارښت چې په اصلی سرچینه یې په بله برخه د بدن کې وی.

- Referred Pain

اړوند لېږېدلې درد. هغه درد چې په اصلی سرچینه یې په بله برخه د بدن کې وی. د (**Synalgia**) په انډول.

- Referred Sensation

اړوند لېږېدلې احساس . هغه احساس /حسیت چې په اصلی سرچینه یې په بله برخه د بدن کې وی.

Referential

اړوند شواهد ، هغه چې د متفرافقیه محتوی سره مل وی ، د (**Pertinent Testimony** او **Relevant Evidence**) په انډول.

Reference

ماخذ ، مرجع، نسبت رابطه، رجعت، خواله لیږنه، ورګرځونه، د (**Assignment**) په انډول.

- Reference of Medical Text Books

د طبی کتابونو اړوند (ماخذ ، مرجع ، نسبت رابطه، رجعت) بلل شی

Refill

بیاډکول، د (**Replete**) په انډول.

- Refill a Prescription

د نسخې بیا لیکنه او ډکونه .

Refilled

بیا ډک شوې ، د (**Replete**) په انډول.

Refilling

بیا ډوکول ، دبیا ډکولو کړنه تر سره کول .

- Capilary Refilling Sign

داهغه کلینیکی ننبنه ده چې پکې د کپیلری برخې لپاره د فشار راوړلو څخه وروسته په سیمه کې رګونه تشېدنه

Reflective
انعکاس کوونکی، خپرونکی.

- Reflective Practice
غبرګونیز پرکتیس چې د مهارتونو د اصلاح لپاره تر سره کېږی.

Reflector
منعکس کوونکی سطح یا آله.

Reflex
غبرګون ،عکسه،انعکاس ، یو رفلکس رامنځ ته کوونکې خوځښت یا کار ، د ځانګړو اوتوماتیکو غبرګونونو یوه ټولګه چې د عصبی سیستم پذربعه یې منځګړتوب کېږی،د روانی ستونزو اړوند غیرارادی تصویر ی عکس العمل.

- Abdominal Reflex
بطنی عکسې ، د ګېډې د پوستکی د پاروونې له کبله د ګېډې د عضلاتو انقباضونه منځ ته راتګ دئ.

- Accommodation Reflex
تطابقی عکسې ، هغه مطابقتی بدلونونه چې هغه مهال منځ ته راځي چې سترګه ځان له نېږدې لیدنې سره عادت کوی ، د کسی (حدقې) انقباض ، دسترګو سره نېږدې کېدل او د سترګو د عدسیې پنډوالې زیادښت .

- Achilles Tendon Reflex
د (**Triceps Suraer**) په اندول.

- Acoustic Reflex
د لوړ غږ په وړاندې درکابی عضلې انقباض.

- Reflex Action
غبرګونیز عمل ، دا یو فزیولوژیک غبرګون چې پکې عقل / شعور دخیل نه وی لکه (د زنګون ټکان، پرنجېدنه چې د ځانګړې تنبه په وړاندې نا ببره پېښېږی) په څېر .

- Anal Reflex
د کونې (مقعدی) عکسه ، د کونې د سیمې د پوستکی د تحریک له امله د مقعدی وال (معصرې) انقباض.

- Ankle Reflex
د (**Triceps Suraer**) په اندول.

- Reflex Arc
قوسی (لیندی) عکسه ، دا په داساسی ډول سیستمیک غبرګونیز عمل دئ چې هلته چې د رسپټورونه د موتور عصب سره نښلي او راتاویدنه یې د عضلې اغېزمنې برخې پورې غځېدلې وی.

- Auditory Reflex
هر ډول غبرګون چې دسامعی عصب تحریک له کبله منځ ته راشی لکه د لوړ غږ سره سم د دواړو سترګو بنفسهی بندېدل.

Reflective
مومی او کله چې فشار لرې کول شی نو دغه برخه له وینې په چټک ډول ډکېږی .د کپیلر بیا ډکون نښه/علامه .

Refine
چاڼول، نینول، تصفیه کول، پاکول، سوتره کول، نبه کول، پرمخ بیول، مکمل کول.

Refined
سپیڅلی، سوچه، پاک، مهذب، چاڼ شوی

Refinement
پاکوالی، سوتره ګی، د (ذوق، احساساتو، سلوک) نبه والی ، سوچه توب، سپیڅلتوب، تهذیب، تصفیه، اصلاحی بدلون.

Refiner
چنوونکی، تصفیه کوونکی.

Refit
بیاجوړول، بیاځایول، بیاټینګول، بیاسمبالول.

Reflect
د (غږ، رڼا، حرارت اونور) بیاخپرول، انعکاس کول، نبکاره کول، خپریدل، منعکس کول، نبکاره کېدل، فکر کول.

Reflectance
بیا غبرګېدنه ،د ټولو هغه وړانګو (نور، شعاع) اندازې بیا منعکس والې چې پر یوه سطحه باندې لګېږی .

Reflected
بیا غبرګ شوې ، بیا منعکس شوې .

- Reflected Shock Wave
منعکسی ډول د څپو شاک .

- Reflected Vision
منعکسی رویت ، غبرګونیز لیدنه.

Reflectent
منعکس کېدونکې ، غبرګونیز.

Reflectible
د غبرګېدنې وړتیا لرونکې ، د انعکاس وړ .

Reflection
انعکاس ، غبرګېدنه ، خپرونه،تصویر ، فکر. دیوې دورې په اوږدو کې د یوه بهیر راتاوېدل ، هغه انځور چې د انعکاس له لارې غبرګېدنه پېښه شوېوی. په فزیک کې د (نوری وړانګو ، غږ او تودوخې) بېرته راګرځېدنه هغه مهال چې په یوه غبرنورماله سطحه ولګېږی.

- Bulbospongiosus Reflex
د تناسلی آلې په څټ کې د ګوزار (ترضیض) په وړاندې د بولبوسپونجیوسوس عضلې انقباض.

- Caritid Sinus Reflex
د کریکوئید غضروف په شاو خوا کې په کاروټید شریان باندې د فشار راوستلو وروسته د زړه د ټکانونو د شمېر کمښت منځ ته راتګ دئ.

- Chaddock's Reflex
د هرمی لارو یا حزماتو په ناروغیو (ضایعاتو) کې د پوندې په بهرنۍ لاندینۍ برخه کې تحریک د پښې د لویې ګوتې د بسط لامل ګرځی .

- Chain Reflex
د عکساتو یوه ډله چې هریوه یې د بل د پېدایښت لپاره د پاروونکی پتوګه په پام کې نیول کېږی او پدې توګه بشپړ فعالیت ښکاره کوی.

- Ciliary Reflex
د تطابق په بهیر کې د حدقې (کسی) حرکتونه.

- Ciliospinal Reflex
د غاړې د څنډۍ د پوستکی درناک تحریک له کبله د هماغه لورې د کسی آزادېدل .

- Closed Loop Reflex
د کششی عکسې په څېر یو ډول غبرګون چې په هغه کې پېښ شوی غبرګون له خوا د فیډبک د مېکانیزم له لارې وارده پارېدنه (تحریک) کمښت مومی.

- Conditioned Reflex
د (**Conditioned Response**) په انډول.

- Conjunctival Reflex
ملتحی عکسه ، د سترګو د ملتحې تر لمس وروسته د لېمو تړل کېدل

- Corneal Reflex
قرنیی عکسه، د قرنیې تر تحریک وروسته د لېمو تړل کېدل .

- Cough Reflex
د ټوخی عکسه ، د هغه پېښو لړۍ چې په سږو کې د هوائي لارو د پوښوونکی مخاط د حساسیت له کبله د بصل النخاع په منځګړتوب د واګوس عصب له لارې منځ ته راځي او د ټوخی لامل په دې ډول هوائي لارې د بهرنیو جسمونو له شتون څخه پاکوی.

- Cremasteric Reflex
د ورانه د داخلی او قدامی سیمو د پوستکی تحریک چې د هماغه لوری د پوستکی د انقباض لامل ګرځی .

- Deep Reflex
د (**Tendon Reflex**) په انډول.

- Babanski's Reflex
د پښې د تلی برخې د پاروونې (تنبه) له کبله د پښې د غټې ګوتې پورته خواته کږېدلو نښه ده .

- Babkin Reflex
د شیدوخوړونکو ماشومانو د لاسونو په ورغوی باندې د فشار راوستل د ماشوم د خولې د پرانیستلو لامل ګرځی.

- Baroreceptor Reflex
د ابهری لیندۍ (قوس) او کاروټیډ سینوس د فشاری آخذو د تحریک په وړاندې غبرګون چې د (زړه د ټکان، د زړه عضلې د انقباضی توان زیاتېدنې ، د وینې درګونو د قطر کنټرول) له لارې د وینې فشار د تنظیم لامل ګرځي.

- Bezold Reflex
د وینې د فشار ضد الکلوئیدونو او ورته موادو په واسطه د زړه د کېمیاوی آخذو د پارېدنې له امله د د وینې د فشار راټیټېدنه او غبرګونیزه براډی کارډیا منځ ته راتګ.

- Bezold –Jarich Reflex
د (**Bezold Reflex**) په انډول.

- Biceps Reflex
د مټ د ډوه سرې عضلې په وتر باندې د ګوزار تر راتلو وروسته د هغې انقباض .

- Belch Reflex
ټېغ ،ارګې،هغه هوائی لوړ غږ چې له معدې څخه لورې ته راځي ، د (**Burp Reflex, Burping Reflex, Eructation Reflex, Belching Reflex**) په انډول.

- Blink Reflex
هغه ډول عکسه چې پکې سترګې په چټک ډول خلاصې اوتړل کېږی . د (**Blinking Reflex**، **Eye Blink Reflex**، **Nictation Reflex**، **Nictitation Reflex** ، **Winking Reflex**، **Wink Reflex**) په انډول.

- Blush Reflex
دمخ ناڅاپی ډول سوروالې ، چې د (شرم ،غضب او نورو حالاتو) کې منځ ته راځي.د (**Flush Reflex**) په انډول.

- Brain's Reflex
په پلتریز وضعیت کې د هیمي پلېجیا اخته کوږ شوې مټ بسط (اکسټنشن) بنه .

- Brain's Stem Reflex's
هغه رفلکسونه چې دماغزو دساقې پرسطحه کې کنټرولېږی لکه د (کسی ، بلعوم، ټوخی او د تنفس کنټرول) عکسې ، ددې عکساتو له منځه تلل د مغزی مرګ نښه ګڼل شی .

- Breaking Wind Reflex
تېز ، پسکۍ ، هغه حالت چې پکې د معدی –معائي سیستم ګازونه د کونې (مقعد) له لارې تېرېږی. د (**Fart Reflex , Farting Reflex , Flatus Reflex , Wind Reflex**) په انډول.

- Grasp Reflex
د لاس د ورغوی یا پښې د تلی د پاربدو له امله د لاسونو یا د پښو د ګوتو قبض منځ ته راتګ په شیدې خوړونکو ماشومانو کې نورمال بلل کېږی.

- Gulping Reflex
هغه سپزموډیک عکسه چې د ستونی چې د یوشی تېرولو (بلعې) پر مهال منځ ته راځي . د (**Gulp Reflex**) په انډول.

- Hiccough Reflex
د هېټکی عکسه ، دا عکسه د حجاب حاجز سپزم له کبله په چې اپیګوټېس چټکه بڼه ټرپل او یو غږ ورسره منځ ته راځی چې پکې د حجاب حاجزی عصب پاربدنې له کبله پېښېږی، د (**Hiccup Reflex** او **Singultus Reflex**) په انډول.

- Hoffmann's Reflex
د (**Hoffmann's Sign/ Digital Reflex**) علامې په انډول.

- Horripilation Reflex
هغه ډول عکسه چې پکې د سر ویښتان نېغ ودرېږی ، د (**Goosebump Reflex** ، **Gooseflesh Reflex** او **Pilomotor Reflex**) په انډول.

- Hypogastric Reflex
د ورانه د داخلی سطحې د پوستکی تر لمس وروسته د ګېډې د لاندینی برخو د عضلاتو انقباض.

- Inborn Reflex
د (**Innate Reflex**، **Instinctive Reflex** ، **Physiological Reaction Reflex Action** او **Reflex Response**، **Unconditioned Reflex**) په انډول.

- Innate Reflex
د (**Inborn Reflex**، **Instinctive Reflex**، **Physiological Reaction Reflex Action**، **Reflex Response** او **Unconditioned Reflex**) په انډول.

- Instinctive Reflex
د (**Innate Reflex**، **Inborn Reflex**، **Physiological Reaction Reflex Action**، **Reflex Response** او **Unconditioned Reflex**) په انډول.

- Jaw Reflex
پر زنه باندې ښکته لورې ته د د ترضیضاتو له امله د خولې بندېدل دا غبرګون په روغو کسانو کې نادراً لیدل شی خو په کورتیکو سپاینال آفتونو کې ارزښت لری.

- Jaw Jerk Reflex
د (**Jaw Reflex**) په انډول.

- Knee Jerk Reflex
د (**Patellar Reflex**) په انډول.

- Digital Reflex
د (**Hoffmann's Sign / Reflex**) په انډول.

- Disgorgement Reflex
د زړه بدوالی او کانګو منځ ته راتګ عکسه چې ورته نومونه یې (**Vomiting Reflex**، **Regurgitation Reflex**، **Emesis Reflex** ، **Puking Reflex** ، **Vomit Reflex**) دی چې پکې د معدی محتوی د خولې ځخه بهر ته راوزی .

- Defecation Reflex
د غولو کولو (تغوط) عکسه چې د غاښطی موادو شتون په وړاندې په رکتوم کې غبرګون منځ ته راځی ، د (**Rectal Reflex**) په انډول.

- Diving Reflex
هغه غبرګون چې په اوبو کې د غوټه کېدو پرمهال د اوکسیجن د ساتنې لپاره د بدن د مېتابولیزم او قلبی وعائی سیستم د انطباق لامل ګرځی .

- Elbow Reflex
د (**Triceps Reflex**) په انډول.

- Electrical Shock Reflex
د برېښنائی شاک عکسه ،هغه ډول عکسه چې د برېښنائي بهیر تېرېدنې له کبله په بدن کې پېښېږی ، د (**Shock Reflex**، **Electric Shock Reflex**) په انډول.

- Emesis Reflex
د زړه بدوالی او کانګې عکسه ، د (**Disgorgement Reflex** او **Puking Reflex**) په انډول.

- Embrace Reflex
د (**Moro's Reflex**) په انډول.

- Gag Reflex
د (**Pharyngeal Reflex**) په انډول.

- Gastrocolic Reflex
تشې معدې ته د خوړو تر وررسېدو وروسته د کولمو د پرستالتیک حرکتونو زیاتوالې منځ ته راتګ دئ.

- Gastroileal Reflex
تشې معدې ته د خوړو تر وررسېدو وروسته د ایلیوسکال دسام (معصرې) پرانیستل کېدنه او د ایلیوم د حرکتونو زیاتوالې منځ ته راتګ دئ.

- Goose Bump Reflex
د قاز عکسه ، هغه ډول غبرګون چې لکه وېښتان ودرېدنه (نېغېدنه) پکې منځ ته راځي دا هغه مهال پېښېږی چې کله پوستکې د (سړښت ، هېجان ، فشار ، تخرېش) سره مخامخ شی. د (**Goose Skin**، **Goose Pimple Reflex**، **Horripilation** ، **Gooseflesh Reflex**، **Pilomotor Reflex**) په انډول.

- Light Reflex
نورانی مخلوط ، په سترګه باندې د رڼا د لګېدو وروسته د کسی (تور) انقباض پېښېږی ، هغه نورانی ټکې چې د رټینو سکوپ د هینداري پذرېعه د استول شوې رڼا د راستنېدو څخه د شبکې پرمخ منځ ته راځی. د (**Pupillary Reflex, Miosis, Myosis**) په انډول.

- Magnus and De kleijn Neck Reflex
یوې لورې ته د د سر تاوولو په حالت کې په هغه لورې کې زنه هماغه خواته تاوه شوېوی د ټونیسیتی د زیادښت سره مل په دواړه هډونو یا په یوه هډ په یوه برخه کې همغږې بسط منځ ته راتلګ .

- Mandel-Bekhterev Reflex
د پښې د ظهری سطحې د قرعې پرمهال پورته خوا ته د پښې د دوهمې څخه تر پنځمې ګوتې پورې فلکشن (قبض).

- Micturation Reflex
د متیازو عکسه ، د هغه غبرګونونو څخه هر یو چې د متیازو د آسانه اطراح او د متیازو د اختیاری اطراح کنترول لپاره اړین دی.

- Miosis Reflex
مایوزېس عکسه ، په سترګه باندې د رڼا د لګېدو وروسته د کسی (تور) انقباض پېښېږی ، د (**Pupillary Reflex, Light Reflex, Myosis**) په انډول.

- Moro's Reflex
د ورانه او زنګنونو (ګونډو) د مفصلونو عکسه ، د لاسونو د ګوتو ترل کېدل او پرانیستل کېدل او بهر او داخل لورې ته د متو حرکتونه چې په نوزادانو کې د ناڅاپی تحریک له امله پېښېږی.

- Mydriasis Reflex
مېډریازېس عکسه ، په سترګه باندې د لړې رڼا د لګېدو وروسته د کسی (تور) انبساط او توسع پېښېږی ، د (**Pupillary Reflex, Light Reflex, Myosis**) په انډول.

- Myotatic Reflex
د (**Stretch Reflex**) په انډول .

- Myotactic Reflex
د نېغېدو عکسه ، هغه ډول چې پکې عضلی تقلص هغه مهال منځ ته راځی چې ټېنډون یې کش کړل شی ، د (**Stretch Reflex**) په انډول.

- Neck Reflex
د غاړې برخې د عضلاتو او بندونو د وضعیتی آخذو د تحریک په وړاندې ځواب /غبرګون چې د هډونو او تنې د قرار نیونې د ډول غبرګونیز وضعیت بدلون چې د بدن او سر تر منځ یو دایمې تناسب ساتنې په موخه تر سره کېږی.

- Neck Righting Reflex
په هغه حالت کې د تنې تاوېدنې ته ویل شی د ستونی ستاغ پراته شیدې خوړونکو ماشوم سر تاوول کېږی دا رفلکس د عضلاتو په کلکوالی اخته شوی ماشومانو کې کمزورې دئ یا هم هیڅ نه لیدل کېږی.

- Nociceptive Reflex
هغه عکسه چې د دردناکه تحریکونو له امله منځ ته راځي.

- Oculocardiac Reflex
د سترګو د ګاټو تر فشار راوړولو وروسته د زړه د ضربانونو د شمېر کمښت چې دا کمښت په یوه دقیقه کې (**5-13 /Min**) ځله نارمل ګڼل شی.

- Open-loop Reflex
یو ډول عکسه ده چې په هغه کې تحریک دداسې فعالیت لامل ګرځي چې له کنټرول څخه وتلې وی او د فیډ بک مېکانیزم له لارې هم نه شی نهی کېدلای .

- Oppenheim's Reflex
د ټېښیا هډوکی په داخلی سطحه ترمخ ښکته فشار وروسته د د پښې د غټې ګوتې مخ پورته کړېدل ، دا غبرګون د مرکزی عصبی سیستم د هرمی حزماتو په ناروغیو کې لیدل کېږی.

- Orbicularis Oculi Reflex
د ګلاښلا یاد سترګو د څنډو په شاوخوا کې د سترګې د حدقې پورتنې څنډې په بهرنی طبقه باندې د قرعی له کبله د اروښکولار اوکولی عضلاتوطبیعی انقباض او په نتیجه کې د سترګې بند ېدل پېښېږی.

- Orbicularis Pupllary Reflex
د سترګو د هغه لېمو ترل کېدو او پټېدو وروسته د کسی یو اړخیز انقباض او بیا اتساع چې په زور سره پرانیستې پاتې شوې وی.

- Oscitance Reflex
د (**Yawning Reflex** او **Yawn Reflex**) په انډول .

- Oscitancy Reflex
د (**Yawning Reflex** او **Yawn Reflex**) په انډول .

- Plantar Reflex
د پښو د ګوتو قبض حالت کله چې د پښود تلی برخه کې د پوندې څخه تر ګوتو پورې په بهرنې برخه کې پارېدنه (تنبه) تر سره شی چې د(**2 Years**) کالو عمر څخه پورته ماشومانو مثبت وی خو د (**2 Years**) کالو څخه ټیټ عمر کې همدغه کړنه د ګوتو بسط منځ ته راوړی چې د (**Babinski Reflex**) په نامه یاد ېږی .

- Palatal Reflex
د تالو د تحریک چې د تېرولو یا بلعې د عمل لامل ګرځی.

- Palatine Reflex
د (**Palatal Reflex**) په انډول .

سره عکسه ، هغه سور رنګه نور چې د رټینوسکوپی پر مهال د شبکیې پر مخ لیدل کېږی .

- Regurgitation Reflex

هغه ډول عکسه چې پکې د خولې لورې ته د معدې څخه خوړل شوی مواد راګرځېدنه کوی، د (**Vomiting Reflex** او **Vomit Reflex**) په انډول.

- Response Reflex

د (**Reaction Reflex**) په انډول.

- Righting Reflex

پداسې شرایطو کې په مناسب وضعیت کې د ځان نیولو توان چې دغه وضعیت په ناروغی اخته شوې وی.

- Rossolimo's Reflex

د هرمی حزمې په ضابعاتو کې ښکته لورې ته د پښې تله ګوازار کول چې د ګوتو د قبض لامل ګرځی .

- Scratch Reflex

د ګرېدنې عکسه ، یو ډول نخاعی عکسه چې په هغه کې د پوستکی (ګرول ، تخنول او نور تحریکونه) لامل ګرځی چې د بدن تر ټولو نېږدې هډ اخته شوی سیمه په چټکی سره وګرول شی.

- Shake Reflex

د لړزې عکسه ، د (**Shiver Reflex**) په انډول.

- Shiver Reflex

هغه ډول عکسه چې ټکانونه اولړزې حالت د (سړښت ، وېرې او هېجان) په څېر پېښو کې مخ ته راځي، د (**Shiver Reflex , Tremble Reflex**) په انډول .

- Sneeze Reflex

د پرنجېدو عکسه ، د (**Sneezing Reflex** او **Sternutation Reflex**) په انډول.

- Sneezing Reflex

د پرنجېدو عکسه ،د پرنجېدنې د اعراضو شتون په غېر ارادی ډول سره مخ ته راتګ چې پکې له پوزې څخه هوا بهر ته راووځی ، د (**Sneeze Reflex** او **Sternutation Reflex**) په انډول.

- Spinal Reflex

نخاعی عکسه ، هر هغه ډول عکسه چې په نخاعی طناب کې د یوه مرکز پواسطه کنټرول کړل شی.

- Start Reflex

د (**Jump Reflex** او **Startle Reflex**) په انډول.

- Startle Reflex

هغه ډول عکسه چې پکې په ناڅاپی غېر ارادی حرکتونه مخ ته راځي لکه ناڅاپه ودرېدل او راپاڅېدل ، د (**Jump Reflex , Start Reflex**) په انډول.

- Startic Reflex

د (**Moro's Reflex**) په انډول.

- Papillary Reflex to Light

د سترګو د حدقې (**Pupil**) غبرګون چې سایز او اندازه یې د نور وړانګو اړوند ګنډل شی .

- Patellar Reflex

د زنګون د سترګې د لېګامنټ په سر د ضربې (ګوزار) له کبله د وړون د څلور سرې عضلې انقباض مخ ته راتګ ګنډل شی.

- Prestaltic Reflex

پریستالتیک عکسه ، هغه مهال چې د کولمو یوه برخه اتساع کوی بله برخه یې منقبضه کېږی او بعیده برخه یې سستوالې (شل) مومی .

- Pharyngeal Reflex

بلعومی عکسه ، دا نورماله عکسه ده د بلعوم د څټ د پستې برخې د لمس دتحریک وروسته د بلعوم د تنګوالی عضلې انقباض کوی ، د (**Gag Reflex**) په انډول.

- Pilomotor Reflex

د قاز (**Goose**) پوستکی ته دانسان د پوستکی ورته کېدل (چې په جس/ لمس کولو سره ځرګند ېږی).

- Placing Reflex

د پښې فلکشن (قبض) او بیا اکستېنشن (بسط) پداسې حال کې چې نوې زېرېدلې شېدې خوړونکې ماشوم نېغ نیول شوې وی او د پښې ظهری برخه یې د مېز تر څنډې کښته خواته کش شوې وی داغبرګون تر شپږمې (**6 Weeks**) اونۍ پورې نورمال بلل شی.

- Proprioceptive Reflex

هغه عکسه چې د یوه (**Proprioceptor**) تر تحریک / پارېدنې وروسته منځ ته راځی .

- Puking Reflex

د زړه بدوالی او کانګې عکسه ، د (**Disgorgement Reflex** او **Emesis Reflex**) په انډول.

- Pupilary Reflex

پر شبکیه باندې د رڼا تر لګېدو وروسته د کسی انقباض ، هغه هغه عکسه چې عنبیه پکې ونډه واخلی او د کسی د اندازې بدلون او تغېر لامل ګرځی.

- Quadriceps Reflex

د (**Patellar Reflex**) په انډول.

- Quadrupedal Extensor Reflex

د (**Brain's Reflex**) په انډول.

- Reaction Reflex

غبرګونېزه عکسه ، هغه ډول د بدن ځواب چې د یوه پارېدنې او تنبه وروسته غبرګون منځ ته راځی لکه د درملو په وړاندې غبرګون .

- Red Reflex

ته د پښې قبض ، غوره داده چې ناروغ په یوه ځوکې کښېنول شی تر څو پښې یې ځوړندې وی .

- Unconditioned Reflex

د (**Innate Reflex, Instinctive Reflex, Physiological Reaction, Reflex Action** او **Reflex Response**) په اندول.

- Vestibular Reflex

د سر د قرار نېونې د ډول تر بدلون وروسته د بدن او سترګو د وضعیت ساتنې لپاره د عکساتو ټولکه .

- Vestibulo-ocular Reflex

د تعادلی سیستم تحریک په غبرګون کې د سترګو د انحراف یا نیستګموس حالت منځ ته راتګ دئ.

- Vomiting Reflex

د زړه بدوالی او کانکې عکسه ، د (**Regurgitation Reflex** او **Vomit Reflex**) په اندول.

- Withrawal Reflex

د درد په وړاندې یو ډول غبرګون چې په لړ کې یې د بدن یوه برخه د درد ناک تحریک څخه ډېرته په ډېره سره شاته کش کېږی .

- Yawn Reflex

د ارږمي (خوب راتلو) عکسه ، هغه ډول عکسه چې په غېر ارادی ډول سره یوه ژوره سا اخیستله او خوله ډېره خلاصېږی چې د سترپا او ملالت سره مل وی د (**Oscitance Reflex**, **Yawning Reflex** او **Oscitancy Reflex**) په اندول.

- Yawning Reflex

د (**Oscitancy Reflex**) په اندول.

Reflexion

انعکاس ، خپرونه، د فکر غبرګون.

- Arterial Reflexion

د شریانی رګونو اړوند راغبرګ شوې برخې.

- Colonic Reflexion

د کولون برخې اړوند غبرګ شوې برخې چې په فلګسورونوکې وی .

- Rays Reflexion

د وړانګو اړوند غبرګ شوې برخې.

Reflexive

انعکاسی ، غبرګونیز ،د ګرامر له مخې لازمی، هغه فعل چه په فاعل تمامیږی.

Reflexogenic

د غبرګونیزو چارو پېښوونکې یا زیاتوونکې لامل اړوند.

- Stepping Reflex

د قدم وهلو عکسه ، په داسې کې د یوه شېدې خوړونکی ماشوم د مخ په لور بل اخیستلو حرکت چې په ولاړ بڼه ساتل شوی وی او پښې یې په یوه همواره سطحه کېښودل شوې وی .

- Sternutation Reflex

د (**Sneeze Reflex , Sneezing Reflex**) په اندول.

- Stretch Reflex

د نېغېدنې/لکېدنې عکسه ، هغه ډول عکسه ده چې پکې د تېنډون د کشولو پواسطه د عضلې سمبدنه یا نېغېدنه منځ ته راځي چې د لکېدنې وضعیت ساتنې لپاره مهم بلل شی، د (**Myotactic Reflex**) په اندول.

- Sucking Reflex

د رودلو عکسه ، د تی لرونکو د نوې زېږېدلو ماشومانو یو ډول سلوک دئ چې پکې د (تی لټون -موندنه ، د تی د ځوکی نیول په خوله کې ، تی رودنه او د شیدو تېرولو) عملیې شتون لری. یا کله چې د شیدې خوړونکی ماشوم د شونډو یا خولې شاوخوا پوستکې لمس کړل شی د شونډورودونکی حرکتونه لیدل شی.

- Superficial Reflex

هر ډول راګرځېدونکې عکسه چې د (پوستکی ، قرنیې ، مخاط دردناکه لمسی تکریکونو) له کبله منځ ته راځي لکه د (قرنیې عکسه ، بلعومی عکسه ، کریماستېریک عکسه او نور.) په څېر.

- Swallowing Reflex

د بلعې عکسه ، د (**Palatal Reflex**) په اندول .

- Tendon Reflex

هغه عکسه چې د یوې عضلې یا وتر په سر د ناڅاپی ګوزار څخه منځ ته راشی چې پکې چټک کشېدنه او عضلی انقباض بڼه څرګندونې پېښېږی .

- Tonic Neck Reflex

د مټ او پّه ځینې وختونو کې د پښې د بسط په لوړې کې سر ورتاو شوېوی دا غبرګون په نوې زېږېدلو ماشومانو کې نورمال وی.

- Tremble Reflex

د (**Shake Reflex** او **Shiver Reflex**) په اندول.

- Triceps Reflex

د مټ د دریې سرې عضلې عکسه چې په وتر باندې ګوزار له امله د همدې عضلې انقباض او د مټ خفیف بسط منځ ته راوړی .

- Triceps Surea Reflex

د اشیل په تېنډون باندې تر ګوزار وروسته د پښې د پُنډی د دریې سرې عضلې د ناڅاپی انقباض له کبله ښکته لوړې

Reflexogenous
د (Reflexogenic) په انډول.

Reflexograph
د یوې عکسې د ثبت لپاره وسیله.

Reflexologist
هغه کس چې په (Reflexology) کې متخصص وی.

Reflexology
هغه علم چې د مساژ پذربعه د فشار درملنه کوی او هغه کموی د ورغوی یا د پښو د تلې موښلو پذربعه دعصب تنبه منځ ته راوړی او د وینې زیاتوالې په سیمه کې منځ ته راوړی.

Reflexometer
د میوټاټیک انقباض د پښنولو لپاره د اړین توان د اندازه کولو لپاره وسیله .

Reflux
ریفلوکس ، بیاپه څټ راګرځېدونکې بهیر ، په څټ راتلونکې د مایعاتو بهیر چې غېر نورمالە بلل شی دا هلته په پام کې وی چې دسامونه عادی دنده نه تر سره کوی او ددې بهیر مخنیوی نشی کولای.

- Reflux Disease
ریفلوکسی ناروغی .

- Reflux Disease Questionnaire
د ریفلوکس ناروغیو اړوند پوښتنلیک .

- Reflux Episode
د هضمی جهاز هغه ازماښتی اپی زوډ چې مری ریفلوکس لپاره آزموینه ده ،هغه پارامیتر چې د (Gastroesophageal Reflux) ناروغی څرګندونکې وی . (Ph Of 4.0 For ≥ 5 Secs <) پکې ټاکل شی او معدې مری

- Esophageal Reflux
د مری ریفلوکس چې د معدې څخه مواد د مری لورې ته غبرګېدنه / راګرځېدنه کوی .

- Gastroesophageal Reflux
د (Esophageal Reflux) په انډول.

- Reflux Gastro-Oesophagien
د (Gastroesophageal Reflux Disease) په انډول.

- Reflux in Infants & Children
هغه ریفلوکس چې د نوې زېږدلو ماشومانو او کمکیانو کې شتون لری.

- Reflux Laryngitis
حنجری ریفلوکس یا د حنجری او تحت البلعومی (Hypopharynx) برخه کې د سوځېدنې احساس د (Nocturnal Gastric Reflux) له کبله منځ ته راځي دا معمولاً په هغه لویانو کې چې په اړخ ، کوږ ، تکیه غځېدلې –پروت وضعیت (Recumbent Position) څملی منځ ته راځي .

- Hepatojugular Reflux
په ینه باندې د زور راوستلو وروسته د وداجی (جیګولار) وریدون اتساع چې ددې نبضې شتون د دښی زړه د عدم کفائی تائید کوی

- Intrarenal Reflux
د پښتورګو د پارانشیم نسج دننه ته د متیازو راګرځېدنه.

- Reflux Nephropathy
هغه غېر نورماله پېښه ناروغی چې په پښتورګو کې د رفلوکس له امله منځ ته راغلې وی.

- Reflux Oesophagitis
هغه ډول د مری التهاب چې مری ته د معدې اسیدی موادو راګرځېدنې له امله منځ ته راځي.

- Reflux Otitis Media
هغه د غوږ دننه برخې التهاب (Otitis Media) چې د (Nasopharyngeal) د افرازاتو تېرېدنې له کبله په (Eustachian Tube) کې منځ ته راځی.

- Reflux Pneumonitis
هغه کېمیاوی التهاب چې د سږو په نسج کې د معدې افرازاتو راټولېدنې او اسپایرېشن له کبله منځ ته راځی. ورته نوم یې (Aspiration Pneumonia دئ.

- Reflux Producing Bladder Volume
د رفلوکس منځ ته راوړونکې د مثانې حجم .

- Reflux Ratio
د مایع هغه اندازه چې د هغه له مخې رفلوکس ټاکل شی.

- Reflux Valve
د رفلوکس اړوند دسام (والف) چې د مایع د فشار له کبله تړل شی چې د بیا راګرځېدنې څخه مخنیوی کوی.

- Vesicoureteral Reflux
له مثانې (متیازوکځوړې) څخه د حالبونو ته د متیازو په څټ راګرځېدنه .

- Vesicoureteric Reflux
د (Vesicoureteral Reflux) په انډول.

Refluxed
د ریفلوکس په ناروغی اخته .

Refluxes
د ریفلوکس په ناروغی اخته .

Refluxing
د ریفلوکس د حالت پېښېدنه .

Refocillate
بیا تازه کېدنه ،تکرار ، بیا پېښېدنه.

Refocus
بیا پام کول ،بیا پاملرنه ، بیا توجه کول ، بیا متمرکز کېدنه .

Refocusing
بیا پام کولو پروسه ،بیا پاملرنه ، بیا توجه کولو حالت ، بیا متمرکز کېدنه .

Refocussing
د (**Refocusing**) په اندول.

Refold
بیا کت کول ، بیا کتول، د (**To Fold Again**) په اندول.

Reform
سمول، جوړول، اصلاح کول، مرتب کول، تشکیلول، سمون، اصلاح. بیاجوړول، بیابنه ورکول.

Reformation
سمون، اصلاح، بیاجوړونه، بیااصلاح کول، بیانوی کول، بیابنسټ ایښودل.

Reformatory
بیا جوړوونکې لامل، اصلاحی، د سمون ځای (دارالتادیب).

Refract
د رڼا (نور) ماتول ، د رڼا (نور) منکسرکول. د انحراف یا ماتېدلو لامل ګرځېدل ، د نور د انکسار په ناجوړتیاوو دلالت کول . په سترګو کې د انکسار محیط (**Cornea**،**Aqueous Humour** ، **Vitreous Humour** او **Lens**) بلل شی.

Refraction
1- د انکسار چاره یا بهیر لکه د (روښنائي ،غږ ، تودوخې ، وړانګو) ، په ځانګړې توګه په سترګو کې د رڼا انکساری ناروغیو ټاکنه او د عدسیې په مرسته یې سمونه ، **2**- کسر ، منکسرول ، شکست ، ماتېدنه لکه د (سترګو د نور منکسر کولو قدرت).

- Cycloplegic Refraction
سیکلوپلېجیک انکسار .

- Double Refraction
د نور یو ډول انکسار چې هلته نوري وړانګې په دوه ډلګیو ویشلې کېږی او په پایله کې دوه انځورونه رامنځ ته کېږی.

- Dynamic Refraction
په سترګو کې نارمل تطابق چې د هر ډول هڅې او هاند پرته په پرلپسې ډول پېښېږی.

- Molecular Refraction
مالیکولی انکسار .

- Ocular Refraction
بصری انکسار .

- Refraction of Waves
څپه ائیز (د څپو اړوند) انکسار چې په برېښنائی قطبی کېدنه کې د اندازې ټاکنه کې پکار وړل شی چې د (**Molecular Refraction** ، لکه د موادو د(ظرفیت ، کثافت ، تودوخې)) اړوند تري کار اخیستل شی.

Refractionist
د هغه کارپوه کس چې د سترګې د انکساری توان د ټاکنې او د نور د انکسار د ناروغیو په سمولو کې مهارت او تخصص لری.

Refractive
د (**Refraction**) لپاره اړوند صفت .

- Ocular Refractive Disorders
د بصری انکسار اختلالونه .

Refractometer
په سترګې کې د انکساری توان د ټاکنې اندازه کولو لپاره وسیله ، یا د ښلاښلو موادو د انکساری ضریب ټاکنې لپاره وسیله. د (**Optometer**) په اندول.

Refractory
مقاوم ، سرزوری، غاړه غړونکی، سرسخت، لجوج ، خپل سری ، په آسانه سره نه درملنه کېدونکې او نه رغېدونکې .

- Refractory Disease
انکساری ناروغتیاوې .

- Refractory Disorders
انکساری اړوند اختلالونه.

- Refractory Period
هغه لنډ مهاله موده چې پکې د زړه بطینونه باید تقلص وکړی خو دا بیا تقلص منځ ته نه راځي .

Refrangible
انکساری کېدل ، انکسار ته وړ کېدل ، د انکسار ته ورګرځېدل.

Refresh
بیاتازه کول، تازه کیدل، تقویه کول، تقویه کیدل،

نوی زیږیدنه، نوی ژوند پروسه لکه د یوه له منځه تللی نسج په ځپر د یوه جوړښت نورمال بیا جوړونه ، اصلاح سمون، دسره روحانی ژوند موندنه.

Regenerative

بیا منځ ته راوړونکې ، روح پالونکی.

- Regenerative Medicine

د طب یوه ځانګړه ده چې پکې د (نسجونو ترمیم ، غړو د پیوند او تعویض کولو) اړوند ځپړنې او چارې تر سره کېږی.

Regime

رژیم، نظام ، د د رملو او خوړو دود ، دخوراک ترتیب، پرهیز، دژوند لاره، دحکومت داداری ډول.

Regimen

رژیم، نظام، ددرملنې هغه ډول چې پکې منظم اوثابت ډول دوره د (درملو ، دخوړو دود) ناروغانو ته ورکول شی ، ، ترتیب، پرهیز، دژوند لاره.

Regio

د (**Region**) په انډول.

Region

سیمه، علاقه، ناحیه منطقه، دوجود برخه چې د یو څه یا ځانګړی جوړښت په چاپېریال کې واقع وی او څرګند بریدونه ولری .

- Anal Region

د مقعد (کونې) چاپېریال اړوند سیمه .

- Facial Region's

د مخ ښېلابېلې سیمې لکه (غمی سیمه ، تر سترګولاندې سیمه ، د زنې سیمه ، د پوزې سیمه او نورې برخې) په ځپر.

- Homogenously Staining Region's (HSR)

باندې نه درلودونکې اوږدې سیمې چې د جینونو په پراختیا کې لیدل کېږی دا سیمې د یو لړ تومورونو /پرسوبونو څرګندونه کوی چې ښه انذار نلری .

- Inguinal Region

د سپوغزې (مغبنی) برخې سیمه.

- Pectoral Region

د تخرګ لاندې سیمې ، د ترقوی هډوکی لاندې سیمې او د تی د سیمو په ګډون صدری قفس د مخکینی سطحې سیمې .

- Perineal Region

عجانی سیمه ، د مقعدی او بولی تناسلی سیمو په ګډون د حوصلې بهرنی پوښوونکې سیمې .

- Plantar Region

د پښو د تلی سیمه .

سوکه کول، ارام کول. د نسجی ترمیم د پاروني په موخه د اپیتلیائي ټپ بربنډېدل .

Refreshment

دخوراک او څښاک په واسطه دستړیالری کول.

Refrigerate

د یو شي سړول او (کنګل) کول لکه د سپروم سړول .

Refrigeration

د یو شي سړولو او (کنګل) کولو پروسه ، هغه چې پکې د ناروغیو د درملنې په موخه د تودوخی د ټیټو درجو (سړوخی) څخه کار اخیستل شی لکه دبدن یوې برخې ببهوښه کولو په موخه سړښت.

Refrigerator

یخچال ، سړوبی ، یخوونکی. هغه ماشین چې هلته د سړولو په موخه شیان یا نسجونه کښنودل شی.

- Lab Samples Keepind Refrigerator

هغه یخوونکی ماشین چې هلته د سړولو په موخه شیان یا نسجونه کښنودل شی.

Refusal

ردونه، نه مننه، انکارکونه.

- Refusal Disease

هغه ډول روانی اختلالی ناروغتیاوې چې پکې د ردونې او نه مننې اړوند اختلالونه شتون لری.

- Tissues Refusal Disorders

هغه ډول اوتو ایمیون اړوند اختلالی ناروغتیاوې چې پکې د ټرانسپلانټ شوې یا ګرافټ شوې برخې نسج نه منل شی او ترمیم منځ ته نه راځی.

Refuse

ردول، نه منل، انکارکول. زیاتی مواد ، بیکاره شیان، چټلی.

Refusion

بیا یوځای کېدنه ، د وینې د بهیر د لنډمهالې ودرونې وروسته د وینې ستنېدنه .

Regain

بیا ترلاسه کول، بیاموندل،بیا رسیدل، بیا اعاده کېدل،بیا حصول.

Regenerate

نوی پیداشوی، نوی جوړشوی، د سره روحانی ژوند موندلی. سمول، اصلاح کول ، بیا تولیدول.

Regeneration

- Precordial Region
د زړه د قدامی سطحې یوه برخه چې زړه او د معدې څوکه پوښي.

- Scrotal Region
د خوټلنګ سیمه ، د صفن اړوند سیمه .

Regional
سیمه ائیز ، موضعی ، یوې ځانګړې سیمې اړوند ، د (Region) اړوند صفت .

- Regional Anasthesia
سیمه ائیزه بېحسی ، موضعی بېهوشی .

- Regional Anatomy
د یوې سیمې اناټومی .

- Regional Anaesthesia
موضعې د یوې سیمې بېهوښي .

- Regional Medical Council
د یوې سیمې طبی شورا / کمېټه .

- Regional Enteritis
د کولمو دیوې برخې – سیمې التهاب ، د (Crohn's Disease) په انډول.

- Regional ileitis
د نری کولمو دیوې برخې –سیمې التهاب ، د (Crohn's Disease) په انډول.

- Regional Health Authority
دروغتیائي اړوند چارو اداری صلاحی واحد او پلاوی چې ملی روغیائي چارو پلان جوړولو او روغتیائي سیمې اړوند مسؤلیت لری د لنډه (RHA) ننبه لری.

- Regional Metamorphism
موضعی یا سیمه ائیز د بڼې اوښتنه او مېتامورفیزم.

Register
هغه رسمی کتاب چه نومونه پیښی اوشیان او مسلکی کسان لکه (نرسان ، ډاکټران ، متخصصین) پکښی نوم لیکل او ثبت کیږی، دریځه، کړکی، ثبت کونکی آله، رجسټری کول، احسا سات ښکاره کول لیکل کول، لیکل کیدل، ثبتیدل، درج کیدل.

Registered
ثبت شوې ، لیکل شوې ، رسمی راجیسټر شوې .

- Registered Midwife
راجسټر شوې قابله چې د پرکټیس حق ورکول شی.

- Registered Nurse
راجسټر شوې نرس چې د پرکټیس حق ورکول شی لنډه ننبه یې (RN) ده ، د (Registered General Nurse او Registered Theatre Nurse) په انډول.

- Registered General Nurse
راجسټر شوې عمومی نرس چې د پرکټیس حق ورکول شی د (RGN) لنډه ننبه لری ، د(Registered General Nurse او Registered Theatre Nurse) په انډول.

- Registered Theatre Nurse
راجسټر شوې عمومی نرس چې د پرکټیس حق ورکول شی لنډه ننبه یې (RTN) ده ، د (Registered General Nurse او Registered Nurse) په انډول.

- Registered Disabled
ثبت شوی ناتوانه او معیوب کس .

- Registered General Nurse
ثبت شوی عمومی نرس.

- Registered Nurse
ثبت شوې نرس/روغتیا پال.

- Mensturation Regulation
د حیض تنظیم ، د حیض قواعد .

- Temprature Regulation
د تودوخې مقررات /قواعد .

Registrant
هغه نرس چې د حقوقو او معاش تر لاسه کولو لپاره یې نوم د د سندونو په کتاب کې ثبت شوې.

Registrar
هغه د مهارت او ظرفیت لرونکې ډاکټر یا جراح چې نورو ځوانو ډاکټرانو څارنه پرغاړه لری ، د تعلیمو سوابقو ثبتونکی کس .

- Registrar of Births, Marriages and Deaths
د (زېږېدنو ، وادونو او مړینو) اړوند ثبت کوونکې کس په یوه ځانګړې سیمه کې .

Registration[1]
د غابنونو طب کې د ژامنو او د هغه د شاوخوا جوړښتونو داسې انځور جوړونه چې د اصل سره سمه وی یا داچې په راتلونکې کې د پام وړ ژامنې مطابق وی دا انځور د مصنوعی غاِبنونو د جوړونې لپاره کارول کېږی.

Registration [2]
.نوم لیکنه، ثبتونه، درجونه.لکه په عمومی طبی شورا /کمېټه کی یو ډاکټر پرته له راجیسټر کېدنې خپله دنده نه شی تر سره کولای .

- Medical Registration
طبی ثبت کېدنه ، د طبی تسهیلاتو د ثبت کتابونو کې نوم لیکنه

- **Medical Council Registration**
په طبی شورا پّه کتابونو کې ثبت نوم لیکنه .

Regress
بیرته تګ، تر شاه تلنه (قهقرایی حرکت)، ایسته وتنه ، خپل لومړنی حالت ته بیرته ورګرځېدنه.

Regression
1 .خپل لومړنی حالت ته بیرته ورستنېدنه ، د یوې ناروغۍ د نښونښانو کمېدل / لړېدل ، **2 .**پرلپسې تکثر ته لېوالتیا لرل .

Regressive
د (**Regression**) اړوند صفت .

Regroton
د کلورتالیدون او ریزرپین د ثابتو مرکبونو لپاره سوداګریز نوم دئ.

Regular
سم، منظم ،یورنګ ، یوشان ، په حساب برابر، په قاعده برابر، وړ مناسب، عادی، په یوه معیاری او عین وخت کې بیا او بیا پېښېدونکې .

- **Regular Visits**
منظم ویزیټ ، سمه او پر وخت سره بیا او بیا لیدنه .

Regularity
سمون ،نظم ، برابر تیا.

Regularly
په منظم ډول، په سمه توګه، په خپل وخت ، لکه یو ناروغ چې په خپل ټاکلی وخت سره د ډاکټر سره په کراتو سره لیدنه کوی.

Regulate
برابر ول، سمول، اداره کول، کنټرولول، منظمول، تعدیلول.

Regulation
قاعده، مقررات، کړنلاره ، د یوې کړنې سرته رسولو لپاره موازین او اصول .

Regulator
سموونکی، برابرونکی.

Regurgitate
نوستل (قی کول) کانګی کول، خوا ګرځیدل،بیرته خولی ته راتلل.

Regurgitation
بیا په شا لورې بهیر موندنه ، نوستل (قی کول) ، د کانګی کولو پروسه ، خوا ګرځیدلو حالت ،بیرته خولی ته راتللو حالت . د زړه د یوه رنځور دسام څخه د وینې معکوس بهیر

- **Aortic Regurgitation**
د زړه د ابهر دسام د نیمه هلالی وال د رنځور دسام (عدم کفائي) له امله د کینې بطین ته د ابهر له لورې د وینې معکوس بهیر د (**AR**) لنډه نښه لری.

- **Mitral Regurgitation**
د زړه د مایترال دسام د رنځور دسام (عدم کفائي) له امله د کینې بطین څخه کېنې دهلېز ته د وینې معکوس بهیر د (**MR**) لنډه نښه لری.

- **Pulmonic Regurgitation**
د زړه د ریوی دسام د نیمه هلالی وال د رنځور دسام (عدم کفائي) له امله د ښی بطین ته د ریوی شریان له لورې د وینې معکوس بهیر د (**PR**) لنډه نښه لری.

- **Tricuspid Regurgitation**
د زړه د تراکسپیډ دسام د رنځور دسام (عدم کفائي) له امله د ښی دهلېز ته د ښی بطین له لورې د وینې معکوس بهیر د (**TR**) لنډه نښه لری.

- **Valvular Regurgitation**
د ناروغۍ یا صدمې وروسته نورمال کار یا شکل ته بېرته ګرځېدنه ، په ټولو پېښو کې په مناسبه وظیفوی کچه کې د ناروغو کسانو ساتل یا هغه خپل حالت ته ستنول .

Rehabilitate
بیا رغونه ، بیا احیأ کول ، بیرته په خپل حال کول بیا په ځای کول، خپل ځای ته ستنول، بیا ودانول.

Rehabilitation
بیرته خپل حال ته راوستنې پروسه ،بیا په ځای کول خپل ځای ته ستنونه، بیا ودانونه ، بیا رغاونه.

Reheat
بیاره ګرمول، بیاتودول.

Rehydrate
بیا خړوب کول ، د بدن د مایعاتو د ضایعاتو بیا اعاده کول.

Rehydration
د (**Dehydration**) په صورت کې نورمالې کچې ته د بدن د مایعاتو یا اوبو ستنول.

- **Rehydration Fluids**
د ریهایدرېشن اړوند محلولونه لکه (رنګر ، فزېولوژیک) او نور.

- **Rehydration Solution**
د ریهایدرېشن اړوند محلول.

- Rehydration Station
د ریهایدریشن اړوند ځای /موقعیت.

Reincarnation
بیا ژوندی کېدنه، تناسخ.

Reindeer
ګاوزه، قطبی ګاوزه.

Reinfect
هغه ځوک چې بیا له سره منتن /مکروبی کېږی.

Reinfection
د هماغه ډول میکروب پذیرعه چې یو ځوک منتن شوې وی له یوې مودې شه والی وروسته بیا منتن کېدنه ده.

Reinforce
تقویه کول، ټینګول، ملاتړ ورکول، مرسته کول.

Reinforcement
تقویه، ټینګونه، ملاتړ، مرسته، هوسا عسکر.

Reiter's Disease
د (**Reiter's Syndrome**) په اندول.

Reiter's Syndrome
هغه ناروغی چې دجنسی له لارې لېږد مومی او نارینه اخته کوی چې د (آرتریټ ، یوریټریټ ، کانجکټیوایټ) په یوه موده کې پېښېږی ، دا لومړې ځل دجرمنی باکتریولوژی عالم (**Hans Conrad Reiter**) پذرېعه په (**1916**) کال کې شرحه شوېده.

Reject
ردول، نه منل، رټل، استه غورځول، خواګرځیدل، قی کول.

Rejection
ردونه، نه مننه، رټنه ، د رټنې /ردولو پروسه.

- Tissue Rejection
د انساجو رد کولو پروسه لکه په ترانسپلانټ جراحی کې.

Rejoin
بیا یوځای کیدل، ددعوی ځواب ویل قانونی ځواب ویل.

Rejuvenation
بیا ځوانول، بیا ځلمی کول، بیا ښیرازی کیدنه.

Relaprotomy
ریلاپراټومی ، هغه بڼه لاپراټومی چې پکې د ناروغ ګېده د دوهم ځل لپاره وازېدنه مومی.

Relapse
د ناروغی بابېږې کول ، بیا کېوتل، بیرته پخوانی حالت ته ګرځېدل، بیا اخته کېدل، بیا ککړېدل ، بیا ښوئېدل.

Relapsed
بیا راګرځېدلې ، بیا منځ ته راغلې.

- Relapsed Into a Coma
بیاد کوما ناروغه حالت ته تللې.

Relapsing
راګرځېدنه ، بیاراتګ.

- Relapsing Disease
بیا راتلونکې ناروغی.

- Relapsing Fever
بیا منځ ته راغلې تبه ، هغه ناروغی چې د باکتریاوو له املې وی او ځېنې و ختونه تبه لری.

- Relapsing Pancreatitis
بیا منځته راغلې (عودتی) پانکریاټیټ.

Relate
سره ترړل، مربوطول، ترړل کیدل ، اړیکه ورکول ، ویل ، بیانول، روایت کول، نکل کول، سره ښلول.

-related
دا یو مختاړې دئ او دا اړوند (ترلی) ویل شوی، بیان شوی، مربوط] معنی لری.

- Drugrelated Diseases
د درملو پورې ترلې اړوند منځ ته راتلونکې ناروغی.

Relation
نکل، روایت، خپل : خپلوی،اړیکی ارتباط تناسب، نسبت، چاری، روابط، مناسباط، تعلقات.

- Object Relation
یو عاطفی تړاو چې د دوه کسانو تر منځ منځ ته راځي لکه د عاشق او معشوق یا ډاکټر او ناروغ ترمنځ تړاو.

Relationship
اړیکه ، ارتباط ، رابطه ، وابستګي ، پیوند ، خپلوی ، خېښی ، تړاو لرل ،مناسبات، تعلقات.

- Close Relationship
نېږدې اړیکه.

Relative
خپلوی، خیښی ، خپلوان لرل،نسبت لرل.

- Relative Density
اړوند کثافت ، هغه اندازه چې پکې د یوه ډله موادو نسبت

ماشومانو کې یا هم د ریوی اسناخو د توسع عدم کفایه دزېږون پرمهال بلل شی.

- Relaxation Behavior

استرخائي چلند چې د روانی اختلالاتو سره سم شتون لری.

- Relaxation Therapy

هغه طبی درملنه چې د هوسایني /استرخأ لامل وګرځی او فشار ته کمښت وروبخښی .

Relaxative

هغه طبی درمل چې د(هوسایني ،استرخأ او فشار د کمښت) لامل وګرځی، د (**Laxative**) په اندول.

Relaxin

هغه هورمون (یوه پروټین ته ورته ماده)چې د د ژیړ جسم / پلاسنټا پذرېعه افرازېږی او د رحم عنق ته استرخأ ورکوی او د بلارېښت په پایله کې په آخری مرحله کې د زېږون دمخه خوله کاملاً خلاصوی .

- Relaxin -3 Receptor 1

د (رېلکسین -**3** رسېپتور – **1**) ډول بلل شی .

- Relaxin- 3 Receptor 2

د (رېلکسین -**3** رسېپتور – **2**) ډول بلل شی .

- Relaxin-Like Factor

د رېلکسین ته ورته عامل / فکټور .

Relaxing

هوسا کېدنه ، ارامتیا منځ ته راتګ ، استرخأ موندل.

- Relaxing Factor

استرخائی فکټور چې د یوې برخې د عضلی الیافو استرخأ منځ ته راوړی .

- Relaxing Imagery Psychology

تخیلی استرخائي (پسایکولوژی/روانی) اړوند ناروغی.

- Relaxing Incision

استرخائی شقونه ، هغه ځېرنې چې د لاندېنی نسجونو د استرخأ په موخه په بدن کې تر سره کېږی .

Release

آزادول یا ایله کول پرېښولو پروسه ، خوشې کول، هوساکول، محوه کول، خپرول،ځرګندول، حق ورپرېښول.

- Release Agent

آزادوونکي لامل یا فکټور ، د (**Releasing Factor**)په اندول.

- Release Point

آزادوونکي ټکي .

شتون ځرګندېږی

- Relative Risk

اړوند خطره ، د اپېدیمیولوژی له مخې هغه خلک چې د خاص ناروغی خطر سره مخامخ وی د هغه اندازه چې پکې د ناروغیو انکشاف / وده په ټولنه کې اټکل کېږی او داهغه اړیکې کچه ښیي چې (هغه خلک چې د همدې خطر سره نه مخامخ کېږی) لپاره ځرګندېږی لکه د زېږه مایوکارډ احتشا خطر اړېکه په هغه کسانو کې د خولې له لارې د بلارېښت ضد درمل خوری - او هغه کسان چې دا درمل نه خوری د (**RR**) لنډه نښه لری د (**1.6 Times**) په اندازه ده .

Relatively

په نسبتی توګه ،دمقایسې په ډول ، په پرتله ائیزه بڼه.

Relax

سیاله کول ، دمه کول، هوسا کول، ستومانی ایستل، آرام کول ، آرامه کېدل، هوسا کیدل، دمه کېدل ، استرخأ موندنه.

Relaxed

آرامه شوې ، هوسا شوې ، استرخأ موندلې .

- Relaxed Muscle

استرخائي عضله .

- Relaxed Patient

هوسا ناروغه کس .

Relaxant

استرخأ بخښونکي ، هوسا کوونکي، **هغه** (مواد ، لامل یا درمل) چې آرامه کېدنه منځ ته راوړی.

- Relaxant Agent

استرخأ بخښونکی ماده .

- Relaxant Drugs

استرخأ بخښونکی درمل .

- Relaxant Factors

استرخأ بخښونکی لاملونه.

- Relaxant Medicine

استرخأ بخښونکی درمل .

- Muscule Relaxant

عضلی استرخأ بخښونکی لاملونه یا درمل .

Relaxation

هوسائی، ستړ یانیونه، دمه نیونه،استراحت ،شخی له منځه وړل ،کراره کېدنه .

- Relaxation Atelectasis

استرخائی اتلکتازی چې پکې د سږو یوه برخه کولاپس توسعی بڼه شتون لری خانګـــړی ډول په نوې زېږېدلو

غابنی د نسجی رویې (پوښ) بیا جوړونه .

Relish

خوند ، مزه، څکه، خوندور ، مزه ناک ، اچار. خوند اخیستل، په خوندخوړل،په مزه خوړل.

Reload

بیابارول، بیاډک کول.

Reluctance

بی میلی، مخالفت،مقاومت.

Reluctant

بی میله، بی‌میلی، مخالفت، مقاومت.

Reluctantly

په بی میلی سره .

Rem

هغه واحد چې د وړانګو د اندازې ټاکنې لپاره پکار وړل شی او د (**X-Rays** او **Gamma-Rays**) په څېر ورته اغېزې پر بدن باندې پرېباسی.

REM

د (**Rapid Eye Movement**) لپاره لنډه ننبه ده .

REM

د (**REM Sleep**) لپاره لنډه ننبه ده .

- REM Sleep

د خوب هغه مرحله چې د شپې څوځله پېښېږی چې د (خوب لیدنې ، د سترګو چټک خوځښت ، د نبض اندازې او دماغی فعالیت زیاتېدنې) سره مل وی چې ورته نوم یې (**Rapid Eye Movement Sleep**) دئ .

Remain

پاتې کېدل.

Remainder

پاتی شونکی، باقی، پاتی شونی،حاصل تفریق.

Remand

بېرته لیږل، بېر ته ګرځول، بېرته ستنول، په څټ کول.

Remedial

دعلاج علاج کوونکی: اصلاحی، سموونکی. د (درملنې ، معالجې ، تداوی و مراقبت، **Cure**) ته ورته عمل کول ، د (**Remedy**) اړوند صفت .

Remedy

درمل، دارو،علاج،چاره،دارو. معالجه ، تداوی او څارنه کول، چاره کول، علاج کول،درمل کول،

- Rapid Release

چټک ډول آزادېدنه .

- Slow Release

په کراره آزادېدنه .

Releasing

آزادېدنه ، افرازونه ، خوشې کول.

- Releasing Factor

آزادوونکې عامل / لامل چې د هایپوتلاموس پذرېعه تولیدېږی او د هورمونونو افرازېدنه هڅوی او پاروی.

- Releasing Hormone

آزادوونکې هورمون چې د هایپوتلاموس پذرېعه تولیدېږی او د ځانګړو هورمونونو افرازېدنه هڅوی او پاروی ، د (**Hypothalamic Hormone**) په انډول.

- Releasing Mechanism

د آزادېدنې میکانیزم او طرزالعمل .

- Releasing Stimulus

آزادوونکې (تنبه / پارېدنه) پېښوونکې سیاله.

Relief

کمښت راوستونکې پروسه چې پکې یو څه ښه والې او آسانتیا مومی د (**Relieve**) په انډول .

- Relief of Angina

د صدری خناق کمښت /لرېدنه.

- Rapid Relief

چټکه آسانتیا / کمښت راتلنه.

- Relief of Spasms

د سپزم یا تشنج کمښت .

- Relief of Stress

د فشار کمښت .

Relieve

کمښت راوستونکې پروسه چې پکې یو څه ښه والې او آسانتیامومی لکه د درملو پذرېعه لرېوالې پېښول.

- Relieve of Burden

دتحمل او زغم کمول .

- Relieve of Complication

د اختلاطونو لرېول .

- Relieve the Pain

د درد کمښت منځ ته راوړل .

- Relieve Pressure

د فشارونو لرې کول .

Reline

په اوریو باندې د مصنوعی غابنونو د ښې اینبودنې لپاره په یوې نوې بنسټېزه مادې سره د مصنوعی

Remittent

بیا راګرځېدونکې ، منتاوب ،د ناروغی د نښې اواعراضو د کمېدو دورې لری . لکه د راجعه تبې .

- Remittent Fever

راجعې تبه ، بیا راګرځېدونکې متناوبه تبه چې هره ورځ یا په ټاکلې وختکې بیا منځ ته راځی لکه د محرقې تبه و ملاریا تبه او نور .

Remnant

پاتې شونې ، متباقی مواد او شیان .

Remodel

بیا جوړول، ترمیمول.

Remodling

د یوه جوړښت یا ساختمان ته نوې نظم ورکول ، بیا جوړولو پروسه ، د ترمیم کولو عملیه تر سره کول .

- Bone Remodling

د هډوکو بیا جوړېدنه، د هډوکو د نسج جذب او دنوی هډوکی په خپل سر رسوب کول ، په نورمال هډوکی کې دا دوه بهیرونه په ډینامیک تعادل کې واقع دي.

Remotivation

بیا هڅونه ، په روانی طب کې هغه درملیزې لارې چارې چې بلل شی چې په هغه کې د روانی ناروغیو په روغتون کې د محیطی اړیکو او لېوالتیاوو د مهارتونو د پېښوونې د تحریک لپاره ګامونه اخلی.

Removable

دخوځیدو/ لرې کولو وړ، بیځایه کیدونکی.

Removal

بیځایه کیدنه، برطرفی، ایستنه. د یو څه راویستل او لرې کولو کړنه لکه د (**Appendicectomy**) عملیه تر سره کول ، د (**Remove**) اړوند صفت .

- Removal Surgery

د یو څه راویستل او لرې کولو جراحی عملیات.

Remove

خوځول له یوه ځایه بل ځای ته کول، بی ځایه کول، موقوف کول، وژل، ستېه ایستل، مونډ ایستل، بیخ کښل، دیوه ځای بل ځای ته کېدل، تلل، لری کیدل.

Remover

خوځېدونکی، ایسته کوونکی.

Ren-

دا یو مختاړې دئ او د (پښتورګو ، بډوډو ، کلیوی او **Reno-**) معنی لری.

سمول،اصلاح،کول. درملنه ،هر هغه شئ چې د ناروغی د نښه والی یا آرامښت لامل وګرځی ، د (**Cure**) په اندول.

Remember

په زړه کول، یادول، په یادساتل،په زړه لرل، ورپه زړه کول ورپه یادول، سلام رسول. په یاد راوړل ، په خاطر کې راتلل، په حافظه کې راګرځېدل .

Remembrance

یاد، یادونه، په زړه کیدنه، حافظه، خاطره، په یادوونکی، په زړه کوونکی، نښه ، یادګار، سلام.

Remind

ورپه یادول، ورپه زړه کول، راپه یادېدل، راپه زړه کېدل.

Reminder

یادونه،ورپه یاد کول ، په خاطر وروستل ، تذکار.

Remineralization

بیا منرالی کېدنه ،هډوکی ته د کلسیمی مالګو په ځېر د معدې عنصرونو بېرته ستنول .

Reminisce

دتیروپېښوبادونه او یادیدل، په زړه کېدل.

Reminiscence

یادونه ،خاطره ، دتېرو پېښو په زړه کول، د تېرو یاد.

Remiss

بی پروا ، په پامه، بی باکه

Remission

نښېګړه ، تسکین ، ښېنه، معافی، کمونه، تخفیف ،د یوې ناروغی د نښو د کمښت یا له منځه تګ ، هغه دوره چې په هغې کې د ناروغی د نښو او اعراضو کمښت منځ ته راځي .

Remissness

بی پر وا ، په، بی احتیاطی، بی باکی.

re. mist

په نسخه لیکنه کې د (**Repetatur Mistura**) لپاره لنډه نښه ده چې د هماغه ډول ترکیب او ګډ جوړښت بیا تکرار معنی ورکوی .

Remittance

وربښنه، کمونه، سپکونه.

Renaissance
نوی والی، بیاژوند ، رنسانس، دیورپ په تاریخ کی دځوارلسمی پیړی نه ترشپاړ سمی پیړی پوری دیونان دزاړه هنر او ادب او تورو علومواوفنونو دبیار اژوندی کولو نهضت.

Renal
کلیوی ، دپښتور ګی اړوند ، پښتور ګیز، دبډوډی پوري تړلې ، د بډوګی، د(**Kidney**) په اندول.

- Renal Artery
د پښتورګو اړوند شریان (سور رګي) چې د ګېډې ابهر څخه سر چینه اخلی .

- Renal Calculus
د پښتورګو اړوند ډبرې (تیږې) چې په پښتورګو کې د منرالونو اونورموادو راټولېدنې له امله منځ ته راځي.

- Renal Capsule
د پښتورګو اړوند فیبروزی پوښ /کپسول ، د (**Fibrous Capsule**) په اندول

- Renal Clearance
د پښتورګو اړوند کلیرانس .

- Renal Colic
د پښتورګو اړوند کولیکی (قلنج) چې پکې شدید بڼه درد شتون لری .

- Renal Corpuscle
د پښتورګو اړوند د نفرون یوه برخه چې پښتورګو په قشر کې واقع ده او ورته (**Malpighian Body**) هم وائي .

- Renal Cortex
د پښتورګو اړوند قشر چې د پښتورګو د نسج بهرنی برخه جوړوی او د کپسول سره تړلې ده

- Renal Dialysis
د پښتورګو اړوند ډیالایزیس مېتود چې د وینې تصفیې (چاڼېدنې) لپاره د یوریا او کریاتینین کمښت په موخه تر سره کېږی تر څو د پښتورګو عدم کفایه درملنه شی.

- Renal Hypertension
د پښتورګو اړوند فرط فشار ناروغی چې د پښتورګو د ناروغیو له امله منځ ته راځي.

- Renal Medulla
د پښتورګو اړوند مېډولا چې د پښتورګو دننه واقع ده او د ګلومېرولونو درلودونکې برخه نده .

- Renal Pelvis
د پښتورګو اړوند حوښه چې پکې متیازې راټولېږی او بیا حالبونو ته استول شی. ورته نوم یې (**Pelvis of the Kidney**) دئ .

- Renal Rickets
د پښتورګو اړوند عدم کفائی له کبله منځ ته راغلې د (**Rickets**) ناروغی چې پکې پښتورګی ښه ډول دنده نشی تر سره کولای .

- Renal Sinus
د پښتورګو اړوند سینوس چې حویضې او نور تیوبونه سره ځای په ځای شوې وی.

- Renal Transplant
د پښتورګو اړوند ترانسپلانټ کړنلاره چې پکې یو روغ بډوډې د ناروغه بډوډی پرځای کېښودل او ځای پرځای کېږی .د (**Kidney Transplant**) په اندول.

- Renal Tubule
د پښتورګو اړوند تیوبولونه چې د نفرون یوه برخه جوړوی او ورته (**Uriniferous Tubule**) هم ویل شی.

Rend
شلول، څیری کول، بڑه کول چول، بیلول

Render
په ځای کول، ورول، تسلیمول وړاندې کول، پیشنهاد کول، اداکول اجرا کول ،ژباړل، ترجمه کول، مینځ ته راوړل. نینول، چاڼل،ویلی کول، را ایستل، کښل.

Rendition
په ځای کونه، تسلیمونه اجرا کونه، ترجمه.

Renew
نوی کول ، بیا پیل کول، له سره نیول، بدلول، په نسخه لیکنه کې د پخوانیو درملو سپارښتنې بیا تازه کول.

Renewal
نوی توب، تازه والی.

Reni-
دا یو مختاړې دئ او د(پښتورګی ، بډوډی او **Kidneys**) معنی لری.

Reniform
پښتورګی یا بډوډی ته ورته .

Renin
رینین ، هغه پروټیولایټیک انزایم چې د پښتورګی د جوکستاګلومیرولار حجرو پذرېعه افرازېږی او دانجیوتنسین **I**- باندې د انجیوتنسین اوښتون بهیر د کتلایز له کبله د وینې د فشار په کنترول کې مهم دئ چې سوډیم ضایع کېدنې څخه مخنیوی کوی چې پر وینې فشار هم اغېز پرېباسی .

- Renin Angiotensin -1 Enzym
رینین انجیوټنسین ۱- انزایم چې په فرط فشار او مایع او سوډیم احتباس کې د بډوډو له لارې اغیزې کوی.

Reninism
هغه وضعیت چې پکې د رینین د تولید په زیادښت د

- Primary Reninism
د وینې د فشار د زیادښت د (هایپوکلیمیا ، هایپوالدوسټرونیزم او د پلازما د رینین د فعالیت لوړ والی) څخه جوړ سندروم چې د جوکستاګلومیرولاز حجرو د تکثر له کبله منځ ته راځی.

Renipelvic
د پښتورګو حویضې اړوند.

Reniportal
د باب وریدی سیستم او پښتورګو پورې اړوند.

Rennin
هغه انزایم چې د شېدې خوړونکو ماشومانو په معده کې (د پیپسین تر جوړېدو دمخه) شتون لری دا محصول دد شیدو پروټینونو د جذب لپاره چمتو شویدی.

Reno-
دا یومختاړې دئ او د (پښتورګو ، بډوډو یا **Kidneys**) معنی لری.

Renogastric
د پښتورګو او معدې اړوند صفت.

Renogram
1 .د راډیواکټیف مادې تزریق وروسته د پښتورګو څخه لاسته راغلې راډیوګرافیک انځور، **2 .**د پښتورګو راډیوګراف.

Renographic
د (**Renography**) اړوند صفت.

Renography
د پښتورګو هغه آزموینه چې د راډیواکټیف مادې تزریق وروسته د پښتورګو څخه لاسته راغلې وی او پکې (**Gamma Camera**) پکار وړله شوېوی. د پښتورګو راډیوګرافی.

Renointestinal
د پښتورګو او کولمو اړوند صفت.

Renopathy
د د پښتورګو هر ډول ناروغی اړوند ، د (**Nephropathy**) په انډول

Renoprival
د پښتورګود کار د نشتوالی له کبله منځ ته راغلې یا دهغې اړوند.

Renoprotection
هر هغه څیز یا فعالیت چې په پښتورګو باندې ناوړه اغیزې راکمې کړلای شی لکه اتحمضی فشار (**Oxidative Stress**) د کلیوی رګونو لپاسه).

Renopulmonary
د پښتورګو او سږې اړوند صفت ، کلیوی -ریوی.

Renormalisation
بیا نورمال حالت ته راوستل.

Renotrophic
د پښتورګو پر ودې یا تغذی باندې اغیزمن.

Renotrophin
د پښتورګو پر ودې یا تغذی باندې اغیزمنتیا لرونکې لامل ، د (**Renotropin**) په انډول.

Renotropic
د (**Renotropin**) په انډول.

Renotropin
د (**Renotrophin**) په انډول.

Renovascular
د پښتورګو د وینې رګونو اړوند یا په هغوی اغیز ښندونکې ، کلیوی -وعائی.

- Renovascular Hypertension
د پښتورګو د وینې رګونو اړوند فرط فشار.

- Renovascular System
د پښتورګو د وینې رګونو اړوند سیستم.

Renovate
جوړول، ترمیمول، بیا نوی کول.

Renovation
جوړونه، ودانونه، ترمیمونه.

Renovator
جوړوونکی، ودانوونکی، ترمیموونکی، بیا نوی کوونکی.

Renpenning
په شلمه پیړۍ (**20th -Century**) کې د کانادائي طبی عالم نوم دئ

- Renpenning Syndrome
دا هغه سندروم دئ چې د [(**X-Linked Mental Retardation**) چې د لندې ونې او (**Microcephaly**) سره وی خو (**Fragile X Chromosome**) نلری]او په نارینه وو کې منځ ته راځی .

Renshaw Birdsey
په شلمه پیړۍ(**20th Century**) کې دا یو امریکائی (**Neurophysiologist**) عالم دئ .

- Renshaw Cell
د نخاعی نیورونونو په منځ کې یو ډول حجرې دئ چې د تکراری ډول چټکو حرکی نیورونونو د ګوزارونو څخه د (**Feedback Circuit**) له لارې مخنیوی کوی .

- Renshaw Cells
د (**Inhibitory Interneurons**) په انډول.

Renule
د پښتورګو هغه برخه چې د کلیوی شریان په یوه څانګې اروا کېږی او معمولاً درې یا څلور مرکزی هرمونه (**Medullary Pyramids**) او په هغوی پورې اړوند قشری سیمې پکې ګډون لری.

Reopen
بیا خلاصول، وړیاکول، بیا بیرته کول، بیا شروع کول، بیا خلاصېدل، بیا بیرته کېدل، بیا پرانیستل کېدل، بیا شروع کېدل.

Reoperation
د جراحی هغه عملیات چې دویم ځل لپاره بیا له سره په هماغه تشخیص تر سره کېږی لکه د پروستټ او هګۍ ځالې سرطانونو بیا عملیات کول .

- Reoperation Coronary Artery Bypass Grafting
د اکلیلی شریان د پیوند بیا عملیات .

Reorganisation
بیا سنبالونه، بیا روغونه، بیا تنظیم کول ،بیا سمون ورکول ،هغه کړنه چې پکې یو نوې جوړښت منځ ته راځي ، د (**Reorganization**) په انډول.

Reorganize
بیا جوړول، بیا تشکیلول، بیا سنبالول، بیا منظم کول، بیا سنبالېدل، بیا منظم کېدل.

Reoviridae
د (**Rna**) لرنکو ویروسونو یوه کورنۍ چې د (**Rna**) دوه رشتوی خطی جینوم لری پدې کورنۍ کې [**Orbivirus, Orthoreovirus,Rotavirus,** او **Coltivirus**] شاملېږی.

- Reoviridae Infections
د (**Reoviridae**) اړوند ټول انتانات / مېکروبونه.

Reovirus [1]
د (**Reoviridae**) کورنۍ اړونده یوه ډله چې په انسانانو کې ناروغی نه پېښوی خو په نورو تی لرونکو کې ناروغی منځ ته راوړی.

Reovirus [2]
د (**Reoviridae**) کورنۍ اړونده هر ه یوه ډله چې د تنفسی سیستم ، کولمو ناروغی پېښوی .

Reoxidation
بیا تحمض عملیه تر سره کېدنه .

Reoxygenation
په راډیولوژی کې هغه پېښه چې په هغې کې هایپوکسیک توموری حجرې (چې د وړانګې د تشعشع په وړاندې مقاومې دی) د وینې شعریوی رګونو ته د نېږدې کېدو له لارې زیات اوکسیجن تر لاسه کوی (په پایله کې د وړانګو په مقابل کې حساسیت پیدا کوی) او له وړانګو سره د پخوانی مخامخ کېدنې له کبله منځ ته راځی.

Rep
د (**Repetatur** یا **Repeat**) لپاره لنډه ننبه ده او د تکرار او بیاځلی معنی لری.

Repair
ترمیم ، تلل، ستنېدل، ترمیمول، رغول. کوشیر، روغونه.د یوه تخریب شوی څیز بیا رغونه ، د جراحی عملیات او نویو حجرو ودې په واسطه یوه نورمال حالت ته د یوه رنځور نسج یا جوړښت فزیکی یا مېخانیکی ستنونه .

- Hernia Repair
د چُرې (فتق) ترمیم او بیا جوړونه.

Repairer
ترمیم کوونکی، روغوونکی، سموونکی.

Reparation
ترمیم، جبران، تلافی، تاوان، بدله.

Repass
بیا تیرېدل، راستنېدل، راګرځېدل.

Repast
خوراک اوڅښاک ، تغذیه .

Repeat
تکرار ، بیا ویل، تکرارول ، بیا له سره ترسره کول.

- Repeat Action
تکراری عمل / کړنه .
- Repeat Operation
تکراری عملیات کول .
- Repeat Prescription
تکراری نسخه او سپارښتنه ورکول .
- Repeat Test
تکراری آزمایښت .

Repel
پوری وهل، په څټ کول، ترشا کول، دفع کول، رودل، بیرته ورکول لکه د درملو پواسطه د حشراتو له منځه وړل ، نه منل، خوابدي کول، خپه کول، مقاومت کول.

Repellent
پوري وهونکی، په څټ کوونکی، په شاتښتوونکی.

Repercussion
د یوه پرسوب یا جلدی ضایعې خوځونه او ښویونه ، د (**Ballottment**) په انډول .

Repetition
تکرار، پرله پسې توب، بیابیا کول، ګردان.

Repetitious
خواتورووونکی، تکرار.

Repetitive
تکراری ، بیاځلی .
- Repetitive Strain Injury
د حرکتونو او فعالیت له کبله د تکراری دردونو منځ ته راتګ لنډه نښه یې (**RSI**) ده .
- Repetitive Stress Injury
د (**Repetitive Strain Injury**) په انډول.

Replace
بیرته په ځای کول، په ځای اینبودل، عوض کول، نیمګړتیا پوره کول، سنبالول، تبدیلول.

Replacement
په ځای کول، بدلون، تبدیلی لکه د یوه غړی بدلون.
- Replacement Surgery
هغه جراحی عملیات چې پکې د یوه غړی تبدیلی تر سره کېږی.
- Replacement Transfusion
هغه ډول د وینې ترانسفیوژن چې پکې وینې ته بدلون ورکول شی لکه د وینې سرطان یا ایریتروبلاستوزیس په درملنه کې .

Replant
بیا اینبودل ، هغه عملیه چې پکې یو برخه بیا اینبودل شی لکه د غاښونو اینبودل ، بیا نیالګی اینبودل، بیا شین کول.

Replantation
هغه جراحی عملیه چې پکې د بدن یو برخه چې غوڅه یا قطع شوېوی بیا اینبودل شی او ترمیمېږی لکه د غاښونو اینبودل ،د (**Reimplantation**) په انډول.

Replenish
بیا ډکول، پوره کول، بشپړول.

Replenishment
بیا ډکونه، بشپړتیا .

Replete
موړ، ټنډ ، ډک.

Repletion
مړښت، ډکوالی.

Replica
(انځور یا نقش) ورته، مینوټ، کټ مټ، ورته داصل په څیر.

Replicase
هغه پولیمرایزی انزایم چې د (**Rna**) د یوې ټوټې څخه د (**Rna**) یو بشپړ مالیکول جوړوی ، هغه انزایم چې د هستوی اسیدونو د وېش او تکثر لامل ګرځی .

Replicate
تضاعف ،د ورته (مشابه) جوړښت کاپی منځ ته راتګ.

Replication
مضاعف کېدنه ، د یوې غبرګې هغې جوړول ، د ویشنې هغه ډول پروسه چې پکې (**DNA**) خپل ځانتّه ورته کاپی جوړوی .

Repolarisation
بیا قطبی کېدنه، د اعصابو یاد عضلی حجرې غشأ تر ډیپولرایزیشن وروسته د استراحت پوتانسیال ته د حجرې د غشأ د پوتانسیال ستنېدل د (**Repolarization**) په انډول.

Repolarization
د (**Repolarisation**) په انډول.

Report
خبرول، ویل، راپورورکول، د ناروغیو اطلاع ورکول او خبر ورکول، حاضرېدل. راپور، خبر، آوازه، شهرت، غږ لکه «دتوپک».

- **Report Card**
د راپور جوړولو کارت .
- **Case Report**
د راپور وړ پېښه .
- **Case Series Report**
د پېښو د لړۍ راپور .
- **Medical Report**
طبی راپور .
- **Research Report**
څېړنیز (تحقیقی) راپور .

Reportable
د راپور وړتیا درلودونکې پېښه .
- **Reportable Diseases**
هغه ناروغی چې د راپور وړ وی او نوې یا زیاته پیمانه د هغه پېښې شتون ولری تر څو د مخنیوی لپاره یې اقدام وشی.

Reporter
خبریال خبرورکوونکی، خبر رسوونکی، مخبر.

Repose
پریو چا باندې باوردرلودل ، هیله ورځخه لرل، تکیه کول. سیاله کول، دمه کول، هوسا کېدل، غځېدل.

Repositio
د (**Reposition**) په اندول.

Reposition
بیا ځای په ځای کېدنه ، بیا پر ځای موقعیت نیول لکه د لاس د ورغوی او ګوتو حرکت راګرځېدنه د خلاف حالت څخه خپل حالت ته .

Repositioning
بیا ځای په ځای کېدنه.
- **Repositioning Jaw**
د ژامنې خپل حالت ته راګرځېدنه و پرځای کېدنه.

Repositol
هغه طبی فورمول چې د زرقیاتو مناسبه ذخیره د وعائی سیستم درملو لپاره په اوږده موده کې جوړوی لکه د (**Repositol Diethylstilbestrol**) په څېر .

- **Repositol Diethylstilbestrol**
د ریپوزیتول ډای ایتایل ستیلبیسټرول درمل.

Repositor
د جراحی وسیله چې پرې پرولاپس شوې غړې خپل اصلی موقعیت ته ټیله کېږی.

Repository
ساتن ځای، ګودام، تحویلخانه.
- **Repository for the Laboratory**
د لابراتور د وسایلو ساتنځای یا ګودام .
- **Repository Medication**
د طبی درملو ساتنځای /ګودام .

Repossess
بیالاسته کول، بیا خپلول، بیا دځان کول.

Represent
ښودل (تمثیلول) ښکاره کول، څرګندول: نمایندګی کول، غړی توب کول، مثال کېدل.

Representation
نمایندګی، تصویر، تمثیل، ننبه، نشان، علامه، (حق) وکالت کول، غوښتنه،پر وتپستې.

Repress
بندول، درول، مخه نیول، د بندولو په موخه فشار وربانديې راوستل لکه د ناغوښتی یا دردناکه په څېر احساس ، ربړول، ځپل، لاندې کول.

Repression
د نهی یا مخنیوی / پېزوانی کولو بهیر په روانپوهنه کې دا یو لاشعوری دفاعی مېکانیزم دئ چې پکې نه منل کېدونکی روحی تحریکونو ، فشار د مخنیوی (لېږی ساتل) منځ ته راوستل دئ چې پکې لکه د ناغوښتی یا دردناکه په څېر احساس بندول پېښېږی.
- **Enzyme Repression**
په یوه مسیر پوري د اړونده انزایمونو په جوړښت باندې د هماغه مسیر د وروستنی محصول پواسطه کاری تداخل .
- **Gene Repression**
د یوه اوپرون د جنینی ژباړې د بهیر نهي(پېزوان) کېدنه .

Repressive
بندوونکی،ودروونکی، ځپونکی ، د (**Repression**) اړوند صفت.

Repressor
په جنیټیک پوهنه کې هغه ماده چې د یوه تنظیموونکی جین پواسطه جوړېږی او د اوپراتور جین پواسطه د اوپرون پواسطه د پروټینونو د جوړښت مخنیوی کوی.

Reprieve
ټالول، ټال ، ځنډول (لکه دسزا او مجازاتو)، ځنډونه.

Reproach
رټنه،ملامتونه، ګرمونه ، غندنه ، سپکونه.

Reproduce
1 . بیاتولیدول، بیازېرول،بیاپیداکول، بیاتولیدېدل لکه د مایکروارګانیزمونو اړوند د نوې حجرو تولیدېدل، بیا زیږېدل، بیا پیداکېدل ،بیا تکثرېدل ، **2 .**بیاچاپول، کاپی کول، تقبدول. **3 .** په هماغه ډول د آزمایښتونو بیا تر سره کول.

Reproduction
تکثر، بیاز یږونه، بیا پیداکیدنه. د ارګانیزمونو بدلونو له لارې اړوند د نوې حجرو اونسل تولیدېدل، د یوه ورته وضعیت رامنځ ته کول ، د (**Replication**) په انډول .

- Asexual Reproduction
غېر زوجی تکثر ،غېر جنسی تکثر ، د حجروی تضاعف له لارې نوې وده منځ ته راتګ .

- Cytologic Reproduction
حجروی تکثر ، د یوې لومړنی زېږوونکی حجرې څخه د یوه نوی کس منځ ته راتګ .

- Sexual Reproduction
زوجی تکثر ، جنسی تکثر ، د ښځینه او نارینه جنسی حجرو د پیوستون له لارې تکثر .

- Somatic Reproduction
د حجرو څخه ډکې یوې ټوټې د درز موندلو (چاودنو) یا جوانې وهلو له لارې د یوه نوی نسل منځ ته راتګ .

Reproductive
بیازیږو ونکی، بیاتولیدوونکی، بیاپیداکوونکی ، د (**Reproduction**) اړوند صفت.

- Reproductive Apparatus
تولیدی دستګاه لکه په انسانانو کې د تناسلی غړو جهاز .

- Reproductive Behaviour
بیا تولیدی چلند او سلوک .

- Reproductive Bio Medicine
د تولید بیومډیکال طبی څانګه .

- Reproductive Biologist
هغه څوک چې د (**Reproductive Biology**) اړوند تخصص لری.

- Reproductive Biology
تکثری بیولوژی ، هغه علمی څانګه چې د تکثر اړوند لارې چارې او څېړنې کوی .

- Reproductive Cell
تکثری حجرې لکه (اوم او سپرم) حجرې.

- Reproductive Memory
تکثری خاطره / حافظه او نظریه لرل .

- Reproductive Organs
تکثری غړی ، هغه غړی چې د تولید او تکثر لپاره ضروری وی او هلته و هګی او سپرم القاح پېښېږی .

- Reproductive Structure
تکثری جوړښتونه لکه تناسلی غړی .

- Reproductive System
تکثری سیستم ، د بدن هغه جهاز (غړی ، قناتونه) چې هلته پکې په نارینه کې سپرم (**Spermatozoa**) او ښځو کې هګی (**Ovum**) جوړېږی او ساتل او د جنین د ودې پروسه تکمیلېږی .

- Reproductive Tract
هغه لاره (قناتونه) چې پکې (**Spermatozoa**) یا (**Ovum**) له یوه ځایه بل ځای ته لېږدول کېږی لکه (نفیرونه او سپرماټیک قناتونه).

Reptilase
هغه ډول زهر چې د روسی افعی مارانو له زهرو څخه پلاس راځی او دوینې د تحثر د وخت په ټاکنه ورڅخه ګټه اخیستله کېږی .

Repugnant
ناوړه بیخونده ،خواوهونکی، مخالف، منافی.

Repulse
پوری وهل، په څټ کول رټل، شاته تمبول: نه منل.

Repulsion
د بیلولو بهیر ، هغه ډول قوه چې د دوه برخو بېلولو کې اغیز ښندی ،په جنیټیک کې په میوټېشن شوې دوه ګونی الیلی ګروپ کې په دوه متضادو کروموزونو باندې واقع کېدنه ، پوری وهنه، رټنه، شاته تمبونه .

Repulsive
د بیلولو بهیر اړوند صفت ، تیری کوونکی، حمله

Research
علمی څېړنه چې پکې د پوې پوښتنې او نوی موضوع (لکه ناروغی) اړوند ځواب او معلومات ترلاسه کېږی ، پلټنه، علمی تحقیق ، علمی پوښتنې ګروپجنې .

- Research Center
څېړنیز مرکز ، هغه مرکز چې هلته څېړنې تر سره کېږی.

- Research Department
د څېړنو څانګه یا ډیپارټمنټ .

- Research Laboratory
لابراتواری څېړنې .

- Research Project
د څېړنو پروژه .

- Medical Research
طبی څېړنې .

- Medical Research Unit
د طبی څېړنو اړوند واحد (ټولګی) .

- Research Staff
د څېړنو کارکوونکی .

- Research Student
د څېړنو لپاره زده کوونکی ډله .

- Research Teams
د څېړنو ډلګی (ټیم) .

- Research Workers
د څېړنو لپاره کارکوونکی /مامورین .

- Research &Development (R & D)
د څېړنو او ودې برخه هلته چې درمل یا دوا جوړوونکې کمپنی نوی درمل جوړوی او تر آزمایښت لاندې راوړی .

Resect
غوڅول ، قطع کول ، لېرې کول ، راویستل ، ببلول ، د یوه هډ د یوې برخې یا بشپړې برخې غوڅولو جراحی.

Resectable
د غوڅولو وړ، د قطع کولو وړ برخه .

- Resectable Cancer
د غوڅولو وړ سرطانی برخه .

Resectability
د غوڅولو وړتیا لرونکې .

Resection
غوڅولو پروسه ، قطع کولو پروسه، لېرې کولو پروسه ، راویستل ، ببلولو کړنلاره ، د یوه هډ د یوې برخې یا بشپړې برخې غوڅولو جراحی.

کوونکی، کرکجن، شانه تمبوونکی، پوری وهونکی.

Require
یو څه ته اړتیا لرل ، غوښتل، مجبورول، په کار لرل، اصرارکول.

Required
ضروری اټکل شوې ، اړین ، پکار شوې .

- Required Effect
اړینه یا ضروری اغېزه لکه د درملو متوقعه اغېزه.

- Required Qualification
اړینه / ضروری کیفیت .

Requirement
اړتیا ، هغه څه چې ضرورت ورته محسوس شی، شرط .

- Requirements Capability
د اړتیاوو ظرفیت / وړتیا .

- Requirements Management System
د اړتیاوو مدیریتی سیستم .

- New Requirement
نوې اړتیاوې /غوښتنې .

- Drugs Requirement
د درملو اړتیاوی .

Requisite
ضروری، ضرور، اساسی. ضرور، لازم.

Requisition
غوښتنه، درخواستی، ضروریات، اړتیاوی، غوښتل، کارول، په کاراچول.

Requite
بدله ورکول، عوض ورکول، بدله، ونج، عوض.

RES
د (**Reticuloendothelial System**) لپاره لنډه نښه ده.

Rescission
له مینځه ویستنه، فسخ، پرېښودنه.

Rescinnamine
هغه ډول الکالوئید چې د (**Rauwolfia**) څخه پلاس راځی او دوینې د لوړ فشار درملنه پرې کېږې او سېډاټیف درمل هم ګڼل شی.

Rescue
ژغورل، خلاصول، نجات ورکول، ژغورنه، خلاصونه، نجات

- **Resection and End-to-End Anastomosis**
غوڅول او خوله په خوله بیا تفمم او ترمیم کولوکړنلاره .
- **Resection Arthroplasty**
د غوڅولو او آرتروپلاستی جراحی عملیات .
- **Resection of Aneurysm of the Abdominal Aorta**
د ګېډې د ابهر د انیوریزم د غوڅولو جراحی عملیات .
- **Resection of Local Relapsed Tumor**
د عود (بابېړی) کړی موضعی ټومور غوڅولو جراحی عملیات.
- **Resection of Residual Retroperitoneal Tumor Mass**
د خلف پریتوانی د توموری کتلې د پاتې شونو د غوڅولو جراحی عملیات تر سره کول.
- **Resection Plus Elective Supraomohyoid Neck Dissection**
د غوڅولو سره مل د غاړې د (**Supraomohyoid**) برخې انتخابی تسلیخ عملیات کړنلاره .
- **Resection of the Mass**
د یوې کتلې د غوڅولو جراحی عملیات .
- **Root Resection**
جذری غوڅول ، چې هلته د هغه برخې کوم نسج نه پاتې کېږی او له بېخه ویستل شی لکه د اپنډکس غوڅول.
- **Resection of the Prostate**
د پروستاټ غدې د غوڅولو جراحی عملیات ، د (**Transurethral Prostatectomy**) په انډول.
- **Resection of Testes**
د مرغېړیو د غوڅولو او راکښلو جراحی عملیات .
- **Transurethral Prostatic Resection**
د احلیل له لارې د پروستاټ د غوڅولو جراحی عملیاتی کړنلاره تر سره کول .
- **Wedge Resection**
دیوه نسج د مثلثی ډوله برخې لېرې کول او غوڅولو کړنلاره.

Resectional
د (**Resection**) اړوند صفت .

Resectionist
هغه ډاکټر چې د (**Resection**) اړوند جراحی متخصص وی.

Resectoscope
هغه جراحی وسیله چې وربانديې د احلیل له لارې کتلات غوڅول کېږی .

Resectoscopy
د (**Resectoscope**) پواسطه د جراحی کړنلارې تر سره کولو پروسه.

Resemble
ورته والی، مشابهت لرل، نېږدی والی لرل.

Reserpine
ریزرپین ، هغه ډول الکالوئید چې د (**Rauwolfia**) څخه پلاس راځی او دوینې د لوړ فشار درملنه پرې کېږي او سېډاټیف اغېزې هم لری.

Reserve
زېرمه کول ، سپمول، ساتل، پاسره کول خوندی کول، ځانته ساتل، نیول، پټ ساتل ، ذخیره، پاسره، ځان سانته، ځان ژغورنه.هغه څه چې د عادی استعمال څخه زیات وی او کېدای شی په ببړنیو حالاتوکې تړې کار واخیستل شی.
- **Alkali Reserve**
د وینې د بفرونو د مزدوجو قلوي برخو یو لړ مقدارونه چې تر ټولو مهم یې بای کاربونېټ شمېرل شی.
- **Alkaline Reserve**
د (**Alkali Reserve**) په انډول .
- **Cardaic Reserve**
په اړینو شرایطو کې د کار د ترسره کولو لپاره د زړه د بالقوه توان چې پدې صورت کې تر بنستیزو شرایطو څخه د فعالیت کچه لوړوی .

Reserved
زېرمه شوې ، لړ ویونکی، شرمیندوکی، احتیاطی.

Reservoir
1 .زېرمتون ، مخزن ، داوبوذخیره ، **2** .د ماشین هغه برخه چې په کې داوبو ډب (ډنډ) رامنځ ته کېږی، **3** . په یوه غړی کې هغه جوف / نسجی ډله چې هلته مایع یا نورڅه ذخیره کېږی، هغه ارګانیزم چې پکې پرازیتونه ژوند کوی او له هغه ځایه بل ته لېږدول شی. د (**Cistern**) په انډول .
- **Cotinentileal Reservoir**
د ګېډې دننه یوه سوری، سوری کڅوړه چې غایطه موادو ارادی دفع کول شونی کوی د کڅوړې د ډکېدوپه صورت کې د یوه کتېتر له لارې تخلیه کېږی.
- **ileioanal Reservoir**
د ګېډې دننه د غایطه موادو راټولېدنې لپاره یوه کڅوړه (زېرمتون) چې د ایلیوم د څوکړیو تر ګنډلو او د یوې

- Residual Urine
پاتې شونې متیازې ، هغه اندازه متیازې چې تر متیازو کولو وروسته په مثانه کې پاتې کېږی لکه د پروستاټ په ضخامه کې پاتې شونې متیازې .

- Residual Volume
پاتې شونې حجم ، د (**Residual Air**) په انډول.

Residuary
پاتې، میراثی ، په ارث رسېدلې .

Residue
پاتې ، باقی، پاتې شونی، بقایأوی ، کنوبی.

Residuum
زیاتیګی ، پاتې شونې ، باقیمانده، ضمنی تولېد ، په ترڅ کی پیدا شوی.

Resin
ژاوله، کنډ، کنډوری ، بې شکله جامد یا نیمه شکله موادو یوه ډله چې له کنډو څخه پلاس راځی نرم او سلېښناک وی .

- Acrylic Resin
د اکریلیک اسیدیا مېتاکریلیک اسید د پولیمېریزیشن محصول چې د طبی یا غابنونو طبی پروتئېز ونو په جوړښت کې پکارېږی .

- Anion Exchange Resin
د (**Ion Exchange Resin**) کې وګورئ.د انیون اړوونکی ریزینونه.

- Cation Exchange Resin
د (**Ion Exchange Resin**) کې وګورئ.د کټیون اړوونکی ریزینونه .

- Cholestramine Resin
یو پیاوړې قلوی انیونی ریزین چې کلورایډی بڼه یې په کولموکې د صفراوی اسیدونو د چیلاټه کولو لپاره او په نتیجه کې د هغوی بیا جذب مخنیوی لپاره پکارېږی .

- Ion Exchange Resin
د ساده عضوی مرکبونو یوغېر منحل او لوړ مالیکولی وزن لرونکی پولی مېر چې کولای شی هغه آیونونه چې له خان سره یې لېږدوی په هغه آیونونو واړوی چې په خپل شاو خواکې یې لری . دا ډول ریزین په دوه بڼو ویشل شویدی (①د انیون یا کټیون اړوونکی ریزینونه او② کاربوکسیلیک ، سلفونیک او نور ریزینونه).

- Podophylium Resin
د پوډوفیلیومونو د ریزینونو یو ګډ جوړښت چې د سوځوونکی عامل په توګه کارول شی او د جلدی پاپیلوماګانو درملنه کې پکارېږی.

معائی مجرأ له لارې یې مقعد برخې سره د تړلو وروسته منځ ته راځی او د دې کار څخه هدف په السراتیف کولیټ کې د غابطه موادو ارادی دفع کول شونی کول دی.

- Pacquet's Reservoir
د (**Cisterna Chyli**) په انډول .

- Parasite Reservoir
پرازیتی مخزن / زېرمه تون.

- Reservoir Volume
د زېرمې حجم / ظرفیت .

Reset
بیاکښېنول، بیاایښودل (لکه په ګوته کی غمی)،بیا ځای په ځای کېدل، له سره ټولول،بیاایښودنه، بیاکښېنونه.

Reside
اوسېدل، استوګنه لرل، میشتېدل.

Residence
استوګنځی، مېنه، کور، ځای

Residency
د ډاکټرانو د اختصاصی زده کړو (روزنې) د تخصص دورې هغه موده چې په روغتون کې یې تېروی او په پای کې یې متخصص ګڼل کېږی.

Resident
1 . د عمومی طب څخه فارغ ډاکټر چې د (**Residency**) دوره په روغتون کې تېروی او تخصص اخلی ، **2 .** استوګن (مقیم)، ځایی، میشت، اوسېدونکی.

- Resident Doctor
د عمومی طب څخه فارغ ډاکټر چې د (**Residency**) دوره په روغتون کې تېروی او تخصص اخلی.

Residential
1 . په روغتون کې استوګنه ، **2 .** داستوګنې ځای، داوسېدو لپاره ځای .

- Residential Care
د ناروغانو ځارنه په روغتون یا په کورکې خو دا ځارنه په سراپا (**Outpatients**) په څېر نه وی .

Residual
پاتی شونی، باقی، پرېښونی، پانی.

- Residual Air
په سږو کې هغه پاتې شونې هوا چې تر ذفېر وروسته هلته پاتې کېږی ، د (**Residual Volume**) په انډول.

Resinous
ژاولن، سرینښناک.

Resist
ټینګارکول، مقاومت کول،مقابله کول، مخ نیوی کول.د باکتریاوو مقاومت د انتی بیوټیکو تطبیق په وړاندې چې ورباندې مکروب ضد درمل اغیز نه کوی.

Resistance
متضاد یا مخالف ځواک ، ټینګار، مقاومت، د ضرر او ناروغیو په وړاندې مخنیوی کول. د محیطی ضرر رسوونکو عواملو څخه د ځان ژغورنې په چاره کې د طبیعی ارګانیزم طبیعی او نورمال میکانیزم .

- Airway Resistance
د هوا د بهیر په وړاندې د تراخیوبرانکیال قصبی ځانګو برخو مقاومت چې لنډه نښه یې (**Rₐw** او **Rₐ**) ده .

- Antibiotics Resistance
د انتی بیوټیکونو په وړاندې مقاومت.

- Drug Resistance
د درملو په وړاندې مقاومت .

- Electrical Resistance
د یوه مدار د دوه ټکو ترمنځ د برېښنائی بهیر په وړاندې مقاومت.

- Heat Resistance
د تودوخې (حرارت) په وړاندې مقاومت .

- Vascular Resistance
په یوه وعائی بستر کې د وینې د بهیر په وړاندې مقاومت.

Resistant
ټینګ، کلک، مقاوم ، مخه نیوونکی.

- Resistant Strain
د باکتریاوو هغه لړی چې د محیطی ضرر رسوونکو عواملو (درملو) څخه د ځان ژغورنې پروسه پرمخ بیایی.

Resistless
سست، کمزوری ، بی مقاومته.

Resolute
کلک، مصمم، ټینګ هوډی، نه تسلیمېدونکی.

Resolution
①د یوه رنځور (ناروغه) حالت له منځه تګ ، ②د سره نښې دوه ټکو پېژندل ، په مایکروسکوپیکو څېړنو کې هغه تر ټولو نښې واټن چې پکې دوه ډېر نښې ټکی په ببل ببل ډول نومول کېږی . ③ پریکړه، فیصله، حل، هوډ، اراده، تصمیم، کلکوالی، ټینګار، سخت تکل.

Resolvable
حل کېدونکی تجزیه کېدونکی.

Resolve
له منځه تلل او پناه کېدنه ، بیلول، تجزیه کول، تحلیلول، ویلیکول، ځبل، حل کول.

Resolved
له منځه تللې ، ورک شوې ، د ټینګی ارادی ځښتن، هوډمن.

Resolvent
د روغېدو لامل ګرځېدل یا د رنځورې ودې د بهیر له منځه وړل ، هغه عامل چې د (روغتیا یا التهابی پرسوب) د ښه کېدو لامل ګرځي .

Resonance
وضاحت ، په یوه جوف کې د غږیزو اهتزازونو د لېږد له لارې د غږ د پیاوړی کېدل په ځانګړې توګه هغه غږ چې په هموډې ډول د قرعې په جاره کې منځ ته راځي ، د رزونانس کمښت (**Dullness**) او زیاتوالې یې (**Flatness**) په نوم یادېږی . د (**Mesomerism**) په اندول.

- Amphoric Resonance
په یوه تش بوتل کې د پوکی کولو په څېر غږ.

- Hyper Resonance
فرط وضاحت غږ .

- Magnetic Resonance Imanging
د مقناطیسی غږ تصویر ، د راډیولوژیک یوه کتنه ده چې د تشخیص لپاره پکارېږی لنډه نښه یې (**MRI**) ده.

- Nuclear Magnetic Resonance
د یوه محلول په شاو خوا کې د ثابت راډیوفریکونسی میدان لرونکی خارجی مقناطیسی میدان رامنځ ته کېږی تر څو له لارې یې د عضوی مرکبونو جوړښت وتاکل شی دا طریقه د (**Mri**) په انځور اخیستنه کې پکارېږی.

- Skodiac Resonance
د صدری قفس په پورتنی برخه کې د ریزونانس زیادښت او په لاندینی برخه کې یې د (**Flatness**) شته والې چې د قرعې په مهال پېژندل کېږی.

- Tympanitic Resonance
هغه ځانګړې غږ چې د پرسېدلی او باد په سر اخیستې ګډی له قرعې څخه رامنځ ته کېږی.

- Abdominal Respiration
بطنی تنفس . د سا اخیستلو او ویستلو په لړ کې د ګډې د پورته او ښکته کېدنې پروسه ده چې د حجاب حاجز دندې له کبله پېښېږی.

- Abnormal Respiration
غېر نورمال تنفس .

- Acidotic Respiration
د اسیدوزیس ناروغی اړوند تنفس .

- Aerobic Respiration
هوازی تنفس ، په افرازی محصولاتو باندې د ځانګړو موادو اکسیداتیف اوښتون چې آزاده شوې انرژی د غذائی موادو د جذب په بهیر کې پکارېږی .

- Anaerobic Respiration
غېر هوازی تنفس ، یو ډول تنفس چې په هغه کې د کېمیاوی تعاملاتو له لارې انرژی آزادېږی او آزاد اوکسیجن پکې کمه دنده نلری.

- Apneic Respiration
د وقفې (اپنې) درلودونکې ډول تنفس.

- Artificial Respiration
مصنوعی تنفس ، د یوې دستګاه (ماشین) پذرېعه یا خوله په خوله له لارې ناروغانو ته تنفس ورکول دی .

- Biot's Respiration
د ځوثانیو ځنډ سره مل لنډ او چټک تنفس .

- Cheyne-Stokes Respiration
د تنفس د ژورو دوره ئی زیاتېدو او کمېدو او په منظم ډول د اپنې (وقفې) سره مل تنفس شتون .

- Cogwheel Respiration
د ټوپ اچوني (خبز) ډوله شکل سره د شهیق تر سره کولو سره یوځای تنفس شته والې دئ.

- Electropherinic Respiration
د فرینیک عصب د تنبه (برېښنائي تحریک) له کبله د تنفس تحریک .

- External Respiration
بهرنې تنفس ، د سږو او وینې ترمنځ د ګازونو تبادله .

- Rapid Respiration
چټک تنفس، هغه تنفس چې سریع او سطحی وی ، د (**Biot's Respiration**) په انډول.

- Internal Respiration
دننه (داخلی) تنفس، د بدن د انساجو د حجرو او وینې ترمنځ د ګازونو تبادله .

- Irrigular Respiration
غېر منظم تنفس ، چې پکې د تنفس د ژورو دوره ئی زیاتېدو او کمېدو او په منظم ډول د اپنې (وقفې) سره مل تنفس منځ ته راځي.

- Vesicular Resonance
د سږو نورمال ریزونانس .

- Vocal Resonance
د عادی خبرو کولو غږ چې د صدری قفس له لارې اوربدل کېږی.

Resonant
کرنګېدونکی،اهتزازی،انګازه لرونکی غږ ریږدوونکی.

Resonator
د غږونو د پیاوړی کولو وسیله ، آوازورکوزنکی، انګازه پیداکوونکی، ژغ زنګوونکی.

Resorb
بیا جذب ، نوې جذب.

Resorcinol
باکتری وژونکی ، چنیاسه وژونکی ،کراتولایتیک د خارښت او درماتیت په درملنه کې موضعی ډول پکارېږی.

Resorption
بیا جذب کېدنه ، له سره د نوې جذب کېدو پروسه . د یوې مادې ویلې کېدنه او بیا جذب کېدنه .

Resound
له غږ هډکېدل، انګازش کول، منعکس کېدل، لړزېدل، رپېدل، ریږدیدل، مراجعه،ژرنګېدل، ،کرنګېدنه ،شرنګېدنه ، هځه، بیابیا خیال ته راتلل.

Resource
زېرمه ، سر چینه، منبع، ذخیره، څوری، پاسره، توښه، تد بیر، چاره.

- Human Resourse
بشری زېرمې ، بشری منابع .

- Infection Resourse
د انتاناتو زېرمې .

- Disease Resource
د ناروغیو زېرمې .

Respirable
د تنفس لپاره وړ .

Respiration
سااخیستنه ، سا کښنه ، تنفس، د تنفس د شهېق او ذفېر پروسې چې پکې په سږو کې د اوکسیجن او کاربن ډای اکساید تبادله کېږی، د (**Breathing**) په انډول.

د تنفس د ماهیت د ارزونې لپاره ماشین .

Respite

ټالونه ، څنډ ، ډیل، وقفه ، سیاله ، تفریح.

Respond

ځوابول، ځوابورکول، عکس العمل ښکاره کول.

Respons

ځواب، غبرګون، عکس العل.

- **Acute Phase Respons**

د غبرګون حاد مرحله ، چې د فزیو لوژیکو بهیرونو هغه ډله چې د (انتاناتو ، صدمې ، آفت ، التهابی پښو یا ځینو خبیثو حالتونو) تر پیل کېدو وروسته منځ ته راځی چې د حاد فاز د (پروټینو زیادښت ، د رګونو د نفوذیه قدرت خاصیت د زیاتېدلو او د مرضی او مېټابولیک بدلونونو) څخه عبارت دی.

- **Anamnestic Respons**

د (**Secondary Immune Respons**) په اندول.

- **Autoimmune Respons**

د خپل ځان د انتی په وړاندې معافیتی ځواب /غبرګون.

- **Coditioned Respons**

هغه غبرګون چې د یوه شرطیه تحریک له کبله پېښېږی.

- **Galvanic Skin Respons**

د سمپاټیک اعصابو د ډیسچارجسره مل د پوستکی په برېښنائی مقاومت کې بدلون .

- **Immune Respons**

معافیتی غبرګون ، د انتی جن تحریکونو په وړاندې معافیتی ځواب /غبرګون.

- **Pirmary Immune Respons**

هغه معافیتی ځواب /غبرګون چې له انتی جن تر لومړی ځل مخامخ کېدنې وروسته منځ راځي او تر څو ورځو څنډ وروسته په وینه کې د ځانګړی انتی باډی ګانو له پیدا ینښت سره مل وی.

- **Secondary Immune Respons**

هغه معافیتی ځواب /غبرګون چې د انتی جن سره تر دوهم ځل یا نوروځلونو مخامخ کېدنې وروسته منځ ته راځی او د اولیه ځواب په پرتله لږ څنډ وروسته پېښېږی .

- **Triple Respons of (Lewis)**

د آبی-سور رنګه کېدو په بڼه د پوستکی غبرګون .

- **Unconditioned Respons**

غېر شرطی غبرګون ، یو نارزول شوی غبرګون لکه هغه غبرګون چې په نورماله بڼه منځ ته راځي.

Responsibility

ځواب، ګرمتیا ، مسئولیت، ذمه واری، ټټروهنه په غاړه اخیستنه ، باور،باوری توب.

- **Kussmal's Respiration**

هغه ډول تنفس چې پکې د هوا اخیستنې ته ډېره لېوالتیا شتون لری ، د (**Air Hunger**) په اندول.

- **Kussmaul –Kien Respiration**

د (**Kussmal's Respiration**) په اندول.

- **Normal Respiration**

نورمال ډول تنفس چې پکې د شهیق او ذفیر اندازه عادی ډول وی او په غټانو د (**14-18/Min**) شمېرل کېږی .

- **Paradoxical Respiration**

یو ډول تنفس چې په لږ کې یې یو سړې یا د یوه سړی یوه برخه د ذفیز په مهال د هوا ځخه ډکېږی.

- **Respiration Rate**

د تنفس شمېر او اندازه چې نورماله اندازه یې [په غټانو د (**14-18/Min**) شمېرل کېږی] ټاکل شوېده .

- **Regular Respiration**

منظم تنفس ، د (**Normal Respiration**) په اندول .

- **Respiration Regularity**

د تنفس د نظم اوترتیب منظموالې .

- **Tissue Respiration**

د (**Internal Respiration**) په اندول.

- **Type of Respiration**

د تنفس ډول.

Respirator

هغه وسیله چې شهیقی (راتلونکې) هوا ورته تصفیه کوی ، د مصنوعی تنفس لپاره وسیله او په مېخانیکی تنفس کې مرستندویه ماشین.د (**Ventilator**) په اندول.

- **Cuirass Respirator**

د مصنوعی تنفس ماشین چې د سینې پنجرې پر سر کېښول کېږی خو په داسې ډول چې ټوله تنه احاطه کوی .

- **Drinker Respirator**

دې حالت ته په عامه ژبه (اوسپنیز سړې) ویل کېږی د اد مصنوعی تنفس یو ډول ماشین دئ چې یوه اوسپنیزه یا فلزی محفظه لری چې د ناروغ بدن پکې اېښودل کېږی خو یوازې سر یې بهر ته ورځخه راوتلې وی اوپدې ماشین کې تنفس د مثبت او منفی فشار تولید له لارې منځ ته راځي .

Respiratory

تنفسی، ساپوری ترلی.

Respire

ساکښل، سااخیستل، ساکښل،سااخیستل. ساشړل، تنفس کول.

Respirometer

Responsible
ځواب ورکوونکی، ځواب ورکړونی، مسئول، ګرم، ذمه دارباوری، دباورور.

Responsive
ځوابورکوونکی، عکس العمل ښکاره کوونکی: حساس،ژر پوهیدونکی.

Rest
①تر فعالیت وروسته (دمه ، استراحت او آرامه) کېدنه ،② د رشیمی نسج یوه ټوټه چې په بالغ ارګانیزم کې پاتې شوې وی ، یوه الحاقیه برخه چې د مصنوعی غاښونو د یوې جوړې د ځای نیونې د ډول د ژغورلو لپاره جوړېږی ③، ملاتړ، حمایه ، سیاله . استوګن ځای، آرام ځای، پر میخی، پریشانی، باقی، پاتی، نور.

- Adrenal Rest
اضافی ادرینال غدې نسج .

- Rest Angina
هغه ډول صدری خناق چې د استراحت پرمهال منځ ته راځی

- Rest Area
د هوسایني سیمه / ساحه .

- Rest Cure
د شدیدو عصبی تشوشاتو درملنه لکه (**Neurasthenia**) چې دناروغ د (تجریدولو ،استراحت . مساژ ، برښنائی شاکونواو سیستماتیک تغذیې) پواسطه ئې درملنه کېږی .

- Rest Energy
پاتې انرژی ، د استراحت مهال انرژی .

- Incisal Rest
د مصنوعی غاښونو یوه الحاقیه برخه چې د مصنوعی غاښونو د یوې جوړې پورې اړونده فلزی ټوټه چې د غاښونو او خولې د وضعیت ساتنې او د ځای نیونې د ډول د ژغورلو سره مرسته کوی.

- Lingual Rest
د (**Incisal Rest**) په انډول.

- Rest Mass
د بدن فزیکی کتله چې اندازه یې د کتونکی پواسطه اتکل کېږی چې د (**Rest Mass**) یې اصلی برخه جوړوی او ورته (**Invariant Mass**) هم ویل شی.

- Occlusal Rest
د (**Incisal Rest**) په انډول.

- Rest Period
د استراحت / آرامتیا موده /دوره .

- Rest & Relaxation
استراحت او استرخأ .

- Rest & Service Area
د هوسایني خذمتونو سیمه .

- Suprarenal Rest
د (**Adrenal Rest**) په انډول.

- Walthard's Cell Rest's
والترډز حجرو پاتې شونې ، د (**Islet**) په برخه لغت کې یې وګورئ .

Restenoses
د (**Restenosis**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Restenosis
بیا ځلی تنګوالې ، بیا ځلی تضیق ، هغه مهال چې د لومړی ځل ضایعه د جراحی په مرسته سمون ومومی اوبیا دا تضیق هماغلته پیښ شی.

Restiform
د پړی یا طناب په څېر بڼه لرل.

Restitution
نړی ته د جنین تر راتګ وروسته د جنین د بدن په اوږدو کې د هغه د سر بنفسهی ځای نیوونه .

Restful
هوساکوونکی، آرام ورکونکی.

Restive
سرکښ، ناآرام ،عصبی.

Restless
لالهاند ، تلولی، ترور،ناآرام، سرګردان، ناقرار.

- Restless Leg Syndrome
د پښو هغه ډول درد لرونکې ناارامی کله پښې فعالیت ونلری او دمه وی.

Restlessness
ناارامی، په ناکر اری ، په ترورتیاسره ، نارامتیا، لالهانده توب او ترورتیا.

Restore
بیا خپل حال ته ګرځول.

Restoration
بیرته وروستنې یا خپل حالت ته بیول یا اړول ،لکه د (سالپینګوستومی کړنته تر سره کول د نفیرونو د ټیوب د نلکو بیا هغه خپل لومړنی حال ته راګرځول) ، بیرته جوړول ، بیاتولیدول .

Restorative
راستوونکی، را ګرځوونکی (اصلی حالت ته)، په صد

Resultant

نتیجه، پای، روستی.

Resume

بیالاس ته کول، له سره نیول بیا پیل کول، بیا جاري کول، بیا شروع کول.

Resumption

له سره نیونه، بیا لاس ته کونه، بیا پیل کونه، بیا جاري کونه، بیا شروع کونه.

Resurrect

بیا ژوندی کول، پورته کول، پاڅول.

Resuscitate

بیا رغول ،بیا احیأ کول ، بیاله سره ژوندی کول لکه (هغه څوک چې داسې برېښي چې مړ دئ یا زړه او سږی یې کار نه کوی هغه ته تنفس ورکول ، بیاپکی د سا پوکل او هغه له مرګه راګرځول) ،په سد کول.

Resuscitation

بیاژوی‌ندی کول (طب) خوله په خوله ، تنفس، بیاساورپکی پوکنه ، بیاپه سد راوستنه . لکه(هغه څوک چې داسې برېښی چې زړه او سږی یې کار نه کوی هغه ته تنفس ورکول ، بیاپکی د سا پوکل ، دزړه مساژ ورکول او هغه له مرګه راګرځول).

- Cardiopulmonary Resuscitation

د مصنوعی تنفس او دزړه مساژ ورکول له لارې د زړه بیا رغول او سږی ته تنفس ورکول ، بیاپکی د سا پوکل، او هغه له مرګه راګرځول.

Resuscitator

بیا رغوونکې ماشین ، هغه وسیله چې ورباندې د تنفسی وقفه بیا احیا کوول تر سره کړل شی.

Retain

ساتل، ټینګ ساتل، خوندی کول، پاتې کېدنه او بیانه ورکول، راټولېدنه ، دمخه پیسی ورکول لکه د مدافع وکیل ته.د(**Retention**) په انډول

Retainer

ساتونکی، خوندی کوونکی ناظر، څارو، چوپړی، بیانه ، دمخه پیسی ورکول لکه (مدافع وکیل) ته.

Retake

بیا خوراک او څښاک ، بیااخیستل ، بیانیول، بیاعکس اخیستنه .

Retard

روسته پاتې والې ، ځنډ ، تأخر ، مخه نیول، وروکول ، کوونکی، رغوونکی، جوړوونکی.

Restore

ستنول، په څټ کول، ګرځول بیا په کار اچول: په ځای کول: رغول جوړول، تر میمول، نوی کول.

Restorer

راستوونکی، را ګرځوونکی، ګټونکی، ګټندوی: خوندی کوونکی، په ځای کوونکی.

Restrain

ځان ساتل، مخه نیول، ډډه کول، نیول، واګی نیول.

Restraint

مخنیونی، ډډه، واګی نیونه، ځان ساتنه.

Restrict

محدودول، ایسارول، منع کول،بندیز لګول.

- Restrict Activity

د فعالیتونو محدودیت منځ ته راوړل.

- Restrict Intake

د خوراک او څښاک محدودیت منځ ته راوړل لکه په ناروغانو د الکهولو او سګرټو محدودیت منځ ته راوړل .

Restricted

محدود شوې ، پرهېز کړل شوې ، بندیز لګول شوې.

Restriction

بندیز ، مخنیوی، ایسار تیا ، ناغه.

- Restriction of Activity

د فعالیتونو محدودیت منځ ته راوړل.

- Restriction of Intake

د خوراک او څښاک محدودیت منځ ته راوړل لکه په ناروغانو د الکهولو او سګرټو محدودیت منځ ته راوړل .

- Fluid Restriction

د مایعاتو محدودیت .

- Salt Restriction

د مالګې محدودیت .

Restrictive

بندیز لګوونکې،مخه نیوونکې لامل،ایسارونکې عامل ، د (**Restriction**) اړوند صفت.

Result

نتیجه‌ورکول، پای‌ته‌رسول، ختمول، نتیجه، پای، ختم، انجام، آخر.

- Result of Operation

د عملیات پایله یا نتیجه .

- Result of Test

د لابراتواری کتنو (معایناتو) پایله یا نتیجه.

ستنول غړنده کول، پځول.

- Retard Effect

تأخیری اغیز لکه د بېهوښۍ درملو د اغیزو ځنډېدل او وروسته والې

Retardate

ځنډېدل ، مخه نیول ، تأخر ، په ذهنی شاته پاتې کېدنې اخته کس ، ذهنی پځوالې .

Retardation

ځنډېدلې وده یا نمو کول ، مخه نیول، په وروکونه ، سستونه ، پځوالی.

- Growth Retardation

په ځنډسره وده یا نمو کول.

- Intrauterine Retardation

د رحم دننه د جنین د ودې روسته والې ،د نوې زېږېدلو ماشومانو لپاره د تولدی عمر مهال د وزن د لس پرسنټایل (سلنه) ځخه د زېږون په وخت کم وزن لرل .

- Mental Retardation

د ذهنی شاته پاتې والې .په یوه ذهنی ناروغی کې چې د منځنی ذهنی فعالیت ځخه د لږ فعالیت په مرسته په تطابقی چلندونه کې ناجوړتیا سره یوځای پېژندل کېږی ، د ذهنی شاته پاتې کېدنه [د هوښ د ضریب (**Iq**) له مخې په ضعیفو (**70-50**) ،منځنیو (**50-35**) ، شدیدو (**35-20**) او ژورو (له **20**ځخه کم)] ډولونو وېشل کېږی.

Retch

دکانګې او استفراغ کولو پر مهال عُق (عُقې)کول. عُقېدل ، د کانګو ځخه دمخه هغه غږ چې د عُق (اُوق) په ځېر منځ ته راځي .

Retching

عُقېدل ، د کانګو ځخه دمخه هغه غږ چې د عُق (اُوق) په ځېروی منځ ته راوړل بلل شی .

Rete

جال ، شبکه ، په بدن کې د رګونو (وریدونو، شریانونو یا عصبی) تاروراتاو شویو ځانګو تر منځ پېچلې رامنځ ته شوې شبکه بلل شی ګڼه شمېره یې (**Retia**) او صفت یې (**Reticular**) دئ .

- Rete Arteriosum

په شریانچو اوشعریوی رګونو د اوښتون ځخه د مخه د شریانونو پیوندی جال .

- Arthicular Rete

په یوه مفصل کې دننه یا چاپیر د وینې شعریوی رګونو د او شریانونو پیوندی جال .

- Malpighian Rete

د مالپیګېن طبقې شبکه /جال .

- Rete Mirabile

د یوه وعائی شبکه چې په کوچنیو رګونو له انشعاب وروسته بېرته سره یو کېږی او نوې منفرد رګ جوړوی ، د داخلی او خارجی کاروټید شریانونو ترمنځ د مغزی شریانونو تر منځ د مغزی شریان تفمم چې په داخلی کاروټید شریان کې د اوږد مهالې وعائی ترومبوز له کبله رامنځ ته کېږی.

- Rete Ovarii

په نارینه وو کې د (**Rete Testis**) په انډول وعائی شبکه چې په مؤنث جنس کې شتون لری خو په بالغینو کې له منځه ځی .

- Rete Subpapillare

د پوستکی د رټیکولار پاپیلاری طبقو په منځ کې شریانی جال.

- Rete Testis

د منی لېږدوونکو تیوبونو یو جال چې په خصیو کې جوړېږی او سپرم بریخ ته لېږدوی .

- Rete Venosum

د کوچنیو وریدونو یوه اناستوموزی شبکه .

Retention

بندښت ، ساتنه او محافظه ،په یوه وضعیت کې د ساتلو او خوندی کول بهیر ، نیونه ، د متیازو راټولېدنه په مثانه کې ، د متیازو احتباس .

- Retention Cyst

هغه سیسټ چې له یو قنات (**Duct**) ځخه جوړ وی او غده یې بنده کړې وی.

- Retention of Urine

په مثانه کې د متیازو راټولېدنه ، د احلیل د بندښت (انسداد) له کبله د متیازو احتباس چې یو ځوک نشی کولای متیازی وکړی دا به په احلیل ډېرو او غټ شوی پروستات کې ولیدل شی .

Retentive

ساتندوی، خوندی کوونکی، نیوونکی، دحافظی قوه.

Retia

د (**Rete**) لپاره ګڼه شمېره .

Reticence

غلیتوب، چپتیا.

Reticent

غلی، چوپ، پټ خولی،لږویونکی،کم ویونکی.

Reticula

د (**Reticulum**) لپاره ګڼه ګڼه شمېره .

Reticular

د یوې شبکې /جال ته ورته ، شبکوی ، د (**Reticulum**) اړوند

د رټیکولو انډوتیلیال سیستم نسج بلل شی.

Reticulohistocytoma

په ظاهر ښه ښیښه ئي رنګ الوتې تیوزینوفیلیک سایتو پلازم لرونکو ځانګو څو هستوی جیانټ حجرو او هیستوسایټونو ګرانوماتوزی کتله ده.

Reticulohistocytosis

د ګڼ شمېر رټیکولو هیستوسایټوماګانو جوړېدل او پېښېدل.

- Multicentric Reticulohistocytosis

څو مرکزی رټیکولو سایټوماګانو ، دا یو ډول عمومی ناروغی ده چې د لاس د بندونو [په التهاب) ، (په پوستکی ،هډوکی او مخاطی –مفصلی غشأوو) کې د غوټې ته ورته رټیکولو سایټوماګانو] پېښېدل دی چې حشوی غړی هم اخته کولای شی او شائې د مړینې لامل وګرځی.

Reticulopenia

د (**Reticulocytopeia**) په انډول .

Reticulopodium

یوه رشتوی کاذبه پښه لکه د آمېب پرازیت.

Reticulosis

د رټیکولو انډوتیلیال حجرو څخه د زېږنده حجرو په شمېر کې غېر نورمال زیادښت چې معمولاً خبیث ټومور منځ ته راوړي.

- Familial Histiocytic Reticulosis

د [وینې لړې ، ګرانولوسایټونو، ترمبوسایټونو، د دمویه حجرو د فاګوسایتوز ، هیستو سایټونو) پراخ تکثر او د (ینې ، توری او لمفاوی غدو) د لوئېدو] په ګډون یو وژونکې ارثی اختلال .

- Histiocytic Medullary Reticulosis

د (**Familial Histiocytic Reticulosis**) په انډول .

- Malignant Reticulosis

خبیث رټیکولوریس ،د آنجیو سنټریک ایمیونو پرولیراتیف آفت (ضاېعې) یو ډول د پڑې د منځنۍ کرښې او مخ جوړښتونه اخته کوی.

- Polymorphic Reticulosis

د (**Malignant Reticulosis**) په انډول.

Reticulum

یوه کوچنی شبکه لکه د(حجرو دننه پرتوپلازمیک شبکه) ، رټیکولاز نسج ، د وابنه خوړونکو څارویو دوهمه ګېډه (معده).

- Reticulum Cell

د ریټیکولوم د سیستم یوه حجره.

صفت.

- Reticular Fibres

د منضم نسج هغه رشتې چې یو جوړښت لکه (رګونه ، او غړی) تینګوی او هغه کلکوی .

- Reticular Tissue

شبکوی نسج ، د (**Reticular Fibres**) په انډول .

Reticulated

شبکوی ، جالیز ، د (**Reticular**) په انډول .

Reticulation

د یوې شبکې جوړېدل ، د یوه جال منځ ته راتګ .

Reticulin

دا یو ډول سکلرو پروټین دئ چې د منضم نسج / رټیکولاز له رشتو (فایبرونو) څخه په لاس راځی.

Reticulocyte

یوه ځوانه سره کرېوه چې په حیاتی رنګونو سره په رنګولو کې یوه بازوفیلیک شبکه پکې لیدله شی دې حجرې کاملاً وده نه وی کړې.

Reticulocytopeia

په وینه کې د (**Reticulocyte**) حجرو د شمېر کمښت .

Reticulocytosis

په وینه کې د (**Reticulocyte**) حجرو د شمېر غېرمعمول ډول زیادښت .

Reticuloendothelial

د رټیکولو انډوتیلیال سیستم پورې اړوند .

- Reticuloendothelial Cell

د رټیکولو انډوتیلیال سیستم د د لړې اړوند یوه فاګوسایټ حجره ده.

- Reticuloendothelial System

د رټیکولو انډوتیلیال سیستم چې پکې (**Phagocytic Cells**) حجرې په (**Bone Marrow, Lymph Nodes, Liver**او **Spleen**) کې شتون لری چې باکتریاوی تخریبوی او انتی بادې منځ ته راوړی لنډه نښه یې (**RES**) ده .

Reticuloendotheliosis

هغه حالت چې پکې حجرې د رټیکولو انډوتیلیال سیستم دننه غټېږی او مُخ عظم پرسوب کوی او هډوکی تخریبوی، د رټیکولو انډوتیلیال سیستم هایپرپلازیا حالت .

- Leukemic Reticuloendotheliosis

د (**Hairy Cell Leukemia**) په انډول.

Reticuloendothelium

د انساجو اړیکه چې یو جوړښت ته کلک والې وربخښی چې په مړوند او پښې بند د قابضه تینډون لپاسه موندل شی ، هغه جوړښت چې په خپل ځای کې یو ارګان یا نسج خوندی کوی ، هغه وسیله د جراحی پرمهال د نسجونو د ویستلو لپاره تري ګټه اخیستله کېږی.

- Retinaculum Flexorum Manus

یوه فایبری پټی چې د لاس مړوند جوړوی او له منځ څخه یې د لاس او ګوتو د قابضه عضلاتو وتر ونه تېرېږی .

- Retinaculum Musculorum Peroneorum Inferius

یو فایبری بانډ چې د پرونیال عضلاتو وتر د بهرنی کلکانوس پر مخ ساتی .

- Retinaculum Musculorum Peroneorum Superius

یو فایبری بانډ پټی چې د بهرنی پوندې کلکانوس لاندې د پرونیال عضلاتو وتر ساتی .

- Retinaculum Tendinum

د کریز لېګامنټ په څېر یو ساتندوی وتری جوړښت .

Retinae

د شبکیې (**Retina**) لپاره ګڼه شمېره.

Retinal

د شبکیې (**Retina**) اړوند صفت .

- Retinal Artery

د شبکیې اړوند شریانی رګ چې د بصری عصب سره سم ځغلی

- Retinal Astigmatism

د شبکیې استیګماټیزم ، دا یو ډول انکساری خطا ده چې پکې تمرکز او یوه ټکی ته موضعی کولو تثبیت بدولونونه شتون لری .

- Retinal Atrophy

د شبکیې ضمور ، د ضایعې هغه حالت چې پکې د سترګو شبکیه کوچنیوالې او ضمور کوی .

- Retinal Blood Vessels

د سترګو د شبکیې د وینې رګونه .

- Retinal Break

د سترګو د شبکیې برخې تخریب کېدنه .

- Retinal Cancer

د سترګو د شبکیې برخې سرطان ناروغی .

- Retinal Capillary Basement Membrane

د سترګو د شبکیې برخې د کېپلرونو قاعدوی غشأ .

- Retinal Degeneration

د سترګو د شبکیې برخې تخریب کېدنه / ویجاړتیا .

- Retinal Densitometry

هغه تخنیک چې پکې د رویت پګمنټونه (رټینائی کثافت)

- Reticulum Cell Leukemia

هغه سرطانی خبیثه د لوکېمیا ناروغی چې په وینه کې د رټیکولوم حجرو زیادښت له کبله پیښېږی .

- Reticulum Cell Sarcoma

د رټیکولوم حجراتو څخه جوړ شوې سارکوما ټومور .

- Reticulum Cell Neoplasm Type -B

د (**Type-B**) ډول حجرو دریټیکولوم حجراتو څخه جوړ نیوپلازم ټومور.

- Endoplasmic Reticulum

د حجرې د اندوپلازمیک رټیکولومی شبکه ، یو ډېر کوچنی ارګانیل چې په ټولو حیوانی او نباتی حجرو کې شتون لری چې دوه ډوله (د زیږې سطحې حبیبی یا دانه لرونکی رټیکولوم او د ښویې سطحې حبیبی یا دانه لرونکی رټیکولوم) باندې ویشل شوېدی،

- Réticulum Endoplasmique Lisse

د اندوپلازمیک لیس رټیکولوم .

- Sarcoplasmic Reticulum

سارکوپلازمی شبکه . د مخططو عضلاتوپه سارکوما کې یو ډول دانه لرونکی رټیکولوم چې هر میوفیبریل په شاوخوا د ښویو سطحو لرونکی ټیوبونو څخه جوړېږی.

- Reticulum System

شبکی سیستم ، د رټیکولواندوتیلیال سیستم.

- Stellate Reticulum

ستوری ډوله شبکه .و دوې په حال کې د یوه غابنی د مینا صافه او منځنی برخه .

- Reticulum Trabeculare Sclerae

د شبکوی توبکولونو درلودونکې صلبیه (سکلېرا) .

Retiform

شبکې یا جال ته ورته بڼه جوړښت ، د (**Reticular**) په انډول

Retin -

دا یو مختاړې دئ او دسترګې د (شبکیې ، **-Retino**) معنی ورکوی.

Retina

دسترګو شبکیه (رټینا) ، د سترګې د ګاټی تر ټولو دننه طبقه چې د باصری تحریکونو د تر لاسه کولو او لېږد او د وړانګو په وړاندې حساسه طبقه (**Cones** او **Rods** حجرې) بلل شی چې وړانګې په سیاله (**Impulses**) باندې اړوی.

- Detached Retina

هغه حالت چې پکې شبکیه په قسمی ډول سره له مشیمې (**Choroid**) څخه جلا پاتې وی.

Retinaculum

دا روانی –فزیولوژیکه اندازه (**Psychophysiological Quantity**) ده چې د لیدنې احساس د روښنائي ځلا اندازه پرې ټاکله شی او د (**Trolands**) پذربعه اندازه کېږی.

- Retinal Image

هغه حقیقی تصویر او انځور چې په شبکیه کې جوړېږی .

- Retinal Migraine

دسترګو د شبکیې د ناروغیو اړوند د نیمسری ناروغی .

- Retinal Molecule

دسترګو د شبکیې مالیکولونه.

- Retinal Mosaic

هغه نمونه چې د (**Retinal Visual Cells**) حجراتو د توزیع او د هغوی د (**Interspaces**) پذربعه منځ ته راځی.

- Retinal Nerve Fiber Layer

د شبکیې د اعصابو فایبرونو طبقه .

- Retinal Nuclear Layer

د شبکیې د د هستې طبقه

- Retinal Optic Nerve Junction

د شبکیې سره د بصری عصب د یوځای کېدنې مفصل .

- Retinal Pigment

دسترګو د شبکیې صباغ ، د (**Rhodopsin**) په اندول.

- Retinal Pigment Epithelial Defect

دسترګو د شبکیې د صباغ اپیتلیومی نقیصه .

- Retinal Pigment Epithelial Dystrophy

دسترګو د شبکیې د صباغ اپیتلیومی ډیستروفی .

- Retinal Protein

دسترګو د شبکیې اړوند پروټین چې د رډوپسین (**Rhodopsin**) لپاسه د روښنائي لګېدنې وروسته منځ ته راځي.

- Retinal Purple

دسترګو د شبکیې (**Retinal Rods Of Vertebrates**) ستنیز لړی، سور روښنایز صباغ (**Red Photopigment**) چې په (**Retinene**) باندې د روښنائی په شتون کې اوښتنه او جلاتوب مومی .

- Retinal Raphe

هغه افقی ښلوونکي کرښه چې د مکولاصدغی برخې لوری ته یې چې د (**Arcuate Nerve Fibres**) رشتې له (**Upper And Lower Retina**) څخه ښلوی .

- Retinal Reductase

د شبکیې د الکهول ډیهایدروجنیز [**Alcohol Dehydrogenase (Nad(P)+)**] انزایم په اندول .

- Retinal Rod

دا د لیدنې رسپټور حجري دی چې د لړې روښنائی په وړاندې حساسې دی.

.

څېړل کېږی چې د رنا د کوچنیو فرکشنونو اندازې لرونکې وی چې د مخه او وروسته تر دې چې د روښنائې سره مخامخ شی د هغه منعکسه صباغی اپیتلیوم ټاکل شی .

- Retinal Detachment

هغه حالت چې پکې شبکیه په قسمی ډول سره له مشیمې (**Choroid**) څخه جلا پاتې وی یا د سترګې هغه ښې اختلال دئ چې پکې په وصفی ښه د شبکیې حسی طبقه د هغه د تیښګوونکې طبقې څخه جلا کېږی.

- Retinal Dialysis

د شبکیې ډیالایز ، دا هغه حالت دئ چې پکې شبکیه څېرېدنه مومی اومعمولاً د ترضیضاتو له کبله وی خو بنائي په بنفسهی ډول هم پېښ شی ، د (**Retinal Disinsertion**) په اندول.

- Retinal Diseases

د رټینا /شبکیې هر راز ناروغی.

- Retinal Disinsertion

د (**Retinal Dialysis**) په اندول.

- Retinal Disparity

دسترګو د شبکیې تمایز، شبکیې بشپړ نابرابره لید ، په (**Stereoscopic Vision**) کې د شبکې لیدنې کامل تفاوت/ توپیر ، یو له بله شبکیې جدایي .

- Retinal Dysplasia

د سترګو د شبکې غېر معمول ښکایه توب او ناروغه ډیسپلاستیک حالت .

- Retinal Embolism

د سترګو د شبکیې آمبولي ناروغی چې د یوې برخې احتشأ او رونداوالی لامل ګرځی.

- Retinal Fissure

د سترګو د شبکیې فیسور یا درز لرونکی ناروغی .

- Retinal Ganglion Cell

دسترګو د شبکیې د ګانګلیون اړوند حجره .

- Retinal Glioma

دسترګو د شبکیې ګلیوما ټومور .

- Retinal Haemangioma

دسترګو د شبکیې اړوند هیمانجیوما ټومور .

- Retinal Hemorrhage

دسترګو د شبکیې وینه بهېدنه /خونرېزی .

- Retinal Hypothalamic Pathway

دسترګو د شبکیې اړوند هایپوتلامیک لاره ، په ماغزو کې د شبکیې او هایپوتلاموس ترمنځ فزیکی او انرژیټیک ټرون او اړیکه بلله شی چې د (دندې تنظیم ، مېتابولیزم او تهیجی غبرګونونو) کې رول لری .

- Retinal Hypoxia

دسترګو د شبکیې هایپوکسیا ناروغی .

- Retinal illuminance

Retinectomy
د جراحی عملیات پواسطه د سترګو د شبکیې یا د هغې د یوې برخې غوڅولو جراحی کړنلاره ده .

Retinene
هریو د دوه ژیړ او سور شبکیې صباغ چې د ویټامین ای الکهول (**Vitamin A Alcohols**) د تحمض څخه منځ ته راځی ، د (**Retinaldehyde** او **Retinal²**) په اندول.

Retinex
هغه نظریه (تئیوری) چې د رګونو ، روښنائی احساس او ثبات شرحه کوی .دا داسې څرګندوی چې د هر شی تصویر (انځور) د سترګو د شبکیې او قشر برخه کې د انعکاس په نتیجه کې منځ ته راځي.

Retinitis
رټینیټ ، د سترګې د شبکیې (**Retina**) برخې التهاب .

- **Retinitis Circinata**
د (**Circinate Retinopathy**) په اندول.

- **Retinitis Circinate**
د (**Retinitis Circinata**) په اندول.

- **Exudattive Retinitis**
د (**Coats' Disease**) په اندول.

- **Retinitis Pigmentosa**
د شبکیې صباغی التهاب ، دا یو ډول ارثی التهابی ناروغی ده چې په شبکیه کې منځ ته راځي او د ړوندوالی لامل ګرځی پکې د شبکیې (ضمور ، رګونو نازکېدنه ، د رنګه موادو د پرې کېدو او د لید د ډګر د کوچنی کېدو) په مرسته پیژندل کېږی .

- **Retinitis Proliferans**
هغه حالت چې په عادی ډول د سترګو دننه د وینې بهېدنې له کبلّه پیښېږی د (نوی رګونو د جوړېدو ، د فیبروزی نسج رامنځ ته کېدو چې د زجاجیه په لور غځېږی پداسې حال کې چې د شبکیې له سطحې څخه سرچینه اخلی) پیژندل کېږی .

- **Retinitis Proliferating**
د (**Retinitis Proliferans**) په اندول.

- **Retinitis Punctata Albescens**
دا یو ډول ارثی تخریبی ناروغی ده چې په شبکیه کې منځ ته راځی چې د (شپې ړوندوالی ،صباغونو بدلون په شبکیه کې او په پایله کې د رویت له منځه تګ او ړوندوالی) په څېر ننبې څرګندوی.

- **Retinitis Sclopetaria**
دا د سترګو د شبکیې هغه ناروغی ده چې د شدید ډول کانتوژنی (**Severe Contusion**) ترضیض له کبله پیښېږی.

- **Retinitis Suppurative**
تقیحی رټینیټ ، د سترګو د شبکیې تقیحی انتانی التهاب.

- **Retinal Scanning**
د سترګو د شبکیې اړوند کتنې تر سره کول چې د ناروغیو تثبیت په موخه تر سره کېږی .

- **Retinal Specialist**
د سترګو د شبکیې متخصص او ماهر ډاکټر .

- **Retinal Tear**
د سترګو د شبکیې څیرېدنه چې معمولاً د ترضیضاتو له کبله منځ ته راځی.

- **Retinal Telangectasias**
په شبکیې ښه د یوې ډلې کېپلرونو مزمن ډول اتساع چې د پوستکی برخه کې راوتلې سره توربخنه جلدی رټه (لکه) منځ ته راوړی .

- **Retinal Vascular Perfusion Pressure**
شبکی وعائي پرفیوژنی فشار.

- **Retinal Vasculopathy with Cerebral Leukodystrophy**
دسترګو د شبکیې مایکرو-واسکولار انډوتیلوپتي ډوله وعائي ناروغی ده چې د منځنی عمر کسان اخته کوی او د [(**Telangiectasias, Microaneurysms**) او د شبکیې د کېپلرونو بندښت چې په مکولا کې پیل کېږی او د دماغ مایکرواحتشأ ګانې په سپین نسج (**Microinfarcts Of Cerebral White Matter**) کې پیښوی)] او معمولاً مدغم ډوله کاذب ټومور (**Pseudotumour**) منځ ته راوړی .

- **Retinal Vein Occlusion**
د د سترګو د شبکیې وریدونو بندښت .

- **Retinal Vitamin**
د رټینا شبکیې ویټامین .

Retinal²
د (**Retinaldehyde**) په اندول.

Retinaldehyde
د ایتهریو د دوه ژیړ او سور شبکیې صباغ چې د ویټامین ای الکهول (**Vitamin A Alcohols**) د تحمض څخه منځ ته راځی ، د (**Retinene** او **Retinal²**) په اندول.

- **Retinaldehyde Dehydrogenase**
رټینالدیهاید ډیهایدروجنېز انزایم، دا یو اوکسیدوریډکتیز کتلایز کوونکې انزایم دئ چې (**Retinaldehyde** او **Nad⁺**) او (**Retinoic Acid** او**Nadh**) یو پل په باندې د اړولو کې رول لری او همدا ډول په وده کې اغېز پرې باسی .

- **Retinaldehyde Isomerase**
د (**Retinal Isomerase**) په اندول•

- **Retinaldehyde Reductase**
د [(**Alcohol Dehydrogenase** (**Nad(P)⁺**] په اندول .

- Retinitis Syphilitica

دا د سترګو د شبکیې هغه رتینیت ناروغی ده چې د سیفلیس کروئیدیټ په ځانګړې توګه د (**Congenital Syphilis**) ترضیض له کبله پیښیږی ، د (**Syphilitic Retinitis**) په انډول.

Retino -

دا یو مختاړې دئ او دسترګې د (شبکیې ، **-Retin**) معنی ورکوی.

Retinoblastoma

رتینوبلاستیوما ، دا شبکیې نادر خبیث بڼه ولادی ټومور دئ چې نوې زېږېدلی ماشومان اخته کوی او د رتینوبلاستې حجرو څخه منځ ته راځی.

Retinocerebral

هغه حالت چې دسترګو شبکیه اود ماغزو سریبیلوم دواړه برخې یې اخته کړېوی .

- Retinocerebral Angiomatosis

هغه انجیوما تومورې ناروغی چې دسترګو شبکیه اود ماغزو سریبیلوم دواړه برخې یې اخته کړېوی.

Retinochoroiditis

د سترګې د شبکې او مشیمې ګډ ډول التهاب.

- Retinochoroiditis Juxtapapillaris

پاپیلا ته نېږدې د فوندوس په سرکوچنی التهابی سیمه چې په روغو ځوانانو کې لیدل شی.

Retinodialysis

دا په ولادی یا ترضیضی ډول د سترګو د محیطی حسی شبکیې برخې جلاکېدنه د (**Retinal Pigment Epithelium**) څخه په

(**Ora Serrata**) کې ده چې د (**Retinal Detachment**) لامل ګرځي .

Retinoic Acid

رتینوئیک اسید ، د (**Retinol**) تحمضی مشتق (**Oxidized Derivative**) دئ داسې فکر کېږی چې ویټامین (**Vitamin. A**) دئ چې د هډوکو په وده او اپیتلیال نسجی جوړښتونو په نورمال ساتنه کې رول لری په فارمکولوژې کې ورته (**Isotretinoin**) هم وائي.

- Retinoic Acid Embryopathy

د پرینټولوژی له پلوه دا یو کانسر زېږوونکي مغلق مرکب دئ چې د (**Retinoic Acid**) پذرېعه تولیدېږی او د ویټامین (**Vitamin A**) انالوګ بلل شی د ګڼ شمېر ناروغیو [**Microtia, Aortic Arch,**او **Anotia, Cleft Palate, Cardiac–Conotruncal Neural Crest, Craniofacial, Thymic Defects, Hyperostoses, Optic Nerve Abnormalities, CNS**او **Retinal Malformations, Premature Closure Of The Epiphyseal Plates**] انومالیو لامل ګرځي او په تصادفی ډول د زیاتې پیمانې ویټامین (**Vitamin A**) خوراک له امله پیښیږی.

- Retinoic Acid Receptor

دا یو ډول هستوی رسپتور د رتینوئیک اسیډ لپاره دئ .

- Retinoic Acid Syndrome

دا د ټولو [**All-Trans Retinoic Acid (ATRA, Tretinoin)** درملنې] اړوند وژونکي اختلاط دئ چې د (**Acute Promyelocytic Leukemia**) ناروغانو کې لیدل شی او د (**Fever, Dyspnoea, Weight Gain, Pulmonary Infiltrates**او **Pleural** یا **Pericardial Effusions** او **Leukocytosis ±**) په څېر ننبو نښانو پذرېعه پېژندل شی.

- Retinoic Acid Vitamin

رتینوئیک اسیډ ویټامین .

Retinoid

شبکیې ته ورته ، ریټینول ته ورته او مشابه جوړښت ، هر یو ډول رټینول مشتق .

- Retinoid and Fatty Acid Binding Glycoprotein

هغه ګلایکو پروټین چې د ریټینوئید او شحمی اسیدونو سره اړیکه / باندجوړوی.

- Retinoid Receptor

د ریټینوئید رسپټور.

Retinol

هغه ډول ویټامین دئ یو (**20**) کاربنی اړین الکهول چې ببلابیل ایزومېرونه لری چې په (ښه ، سابه ، هګۍ ، کبانو د ځیګر غوړو) کې شتون لری او لیدلو لپاره اړین ماده ده ، د (**Vitamin. A**) په انډول.

- Retinol Activity Equivalents

د ویټامین (**Vitamin. A**) د فعالیت د اندازې تاکونکي وسیله چې په بدن ظرفیت پواسطه چې (**Provitamin Carotenoids**) لرونکی توکی د [**Carotenoids To Convert Provitamin** لرونکی لږ تر لږه یو غېر معاوضوی حلقه (**Unsubstituted Ionone Ring**) په (**Retinaldehyde**) اړوی چې **1 Microgram RAE = 1 Mg Retinol = 12 Mg β-Carotene = 24 Mg Other Vitamin A Precursor Carotenoids**] اوښتنه کوی له مخې تاکل شی.

- Retinol Dehydrogenase

هغه کتلایزی انزایم چې یو پر بل باندې (**Retinaldehyde** او **Retinol**) اوښتنه منځ ته راوړی .

- Retinol Equivalent

درټینول (معادل، برابر، ورته کټ مټ، یو ډول) جوړښت.

- Retinol-binding Protein

هغه پلازمائی پروټین چې د رټینول سره باند جوړوی او هغه لېږدوی.

- Retinol Vitamin

درټینول ویټامین .

د (**Chorioretinal Adhesions**) جوړولو پذرېعه صورت نیسی .

Retinophora

رټینوفورا ،د دوه یا څلور یوځای شویو حجرو څخه یوه هغه ډله چې د (**Ocelli**) یا (**Ommatidia**) محوری برخه دغېر فقاریه وو سترګې یې نیولې وی او د نهائی عصبی فیبریلونو لرونکې وی

Retinopiesis

د اوبو یا ګازاتو پواسطه د (**Detached Retina**) د بیا پرځای کولو کړنلاره ده.

Retinoschisis

د عصبی فایبرونو په طبقه کې د شبکیې ېبلېدنه .

Retinoscope

هغه طبی د کتنې وسیله چې د شبکیې لپاره پکارېږی او د ګڼ شمېر عدسیو لرونکې وی او د سترګو انکسار لېدنه او کچه ټاکی .

Retinoscopy

د (**Retinoscope**) پذرېعه د سترګو د انکساری خطا ګانو د تثبیت لپاره یو مېتود بلل شی.

Retinosis

په شبکیه کې هر ډول استحالوی او غېر التهابی حالت ناروغتیاوو شتون .

Retinotopic

د باصری عصبی حزماتو په جوړښتونو او د ماغزوپه باصری شیمو پورې اړوند .

Retire

شاته کېدل، په څټ کېدل،ځان کښل، لاس اخیستل بستر ته تلل، ملاستې ته تلل،کښل، تقاعدورکول چې اکثر خلک په (**65**) کلنۍ کې په کورکښېنی ،په کورکښېنول، په لوبه کی دمه ورکول .

Retirement

1 .شاته کېدنه ،له ځایه کښېنه ، لاس اخیستنه ، **2** . تقاعد کېدو عمل چې (**65**) کالـه بلل کېږی.

Retothelium

د (**Reticuloendothelium**) په انډول .

Retrace

بیرته خپل اصلی حالت ته ګرځیدل، بیاپرورتلل، بیا تازه کول، بیاپرتیر یدل،پل پسی اخیستل.

Retinomalacia

د سترګو د سبکیې طبقې نرمښت او پوستوالې.

Retinopapillitis

د سترګو د شبکیې او حُلېمې برخې التهاب.

Retinopathy

د سترګې د شبکیې (**Retina**) هر ډول ناروغی چې وی.

- Circinate Retinopathy

هغه وضعیت چې په هغه کې سپین ټکی په کړیز ډول د ماکولا برخه نیسی او د فویا په سیمه د بشپړ پروندوالی لامل ګرځی .

- Diabetic Retinopathy

د شکرې رټینوپتي ، دخوږ ډیابت سره مل رټینو پتی په زمینوی ډول یې د(مایکروانیوریزمونو، د شبکیې دننه د نقطوی وینه بهېدو ، زېږ رنګه داغونو ، واکسی ، پنبې ډوله اګزوډاټ او ماکولاډیما)

- Exodative Retinopathy

د اګزوډات سره مل د شبکیې ناروغی . د (**Coat's Disease**) په انډول.

- Hypertensive Retinopathy

د فرط فشار (هایپرټنشن) له کبله د سترګو د شبکیې ناروغی .یو ډول د شبکیې ناروغی چې په اولیه یا خبیث ډول د وینې لوړ فشار سره مل پېښېږی.

- Retinopathy of Prematurity

د بې مودې زېږون (پریماچوریټی) له کبله د سترګو د شبکیې ناروغی . هغه بې مودې زوکړې ماشوم کې یوه دوه اړخیزه رټینوپتي چې د اوکسیجن په خورا زیاته پیمانه تر درملنې لاندې نیولې شوې وی لیدله کېږی چې د (ګونو په خورا زیاته آزادېدنه ، تاوراتاوکېدنه او پرسېدنه ، د شبکیې ېبلېدنه او د سترګې عدسیې په څټ برخه کې د فایبری نسج رامنځته کېدو) پواسطه پېژندله شی.

- Proliferative Retinopathy

د سترګو د شبکیې ناروغی ارتشاحی بڼه . د ډیابتی رټینوپتي ارتشاحی ډول رټینوپتي.

- Renal Retinopathy

د بډوډو(پښتورګو) ناروغیو له کبله د سترګو د شبکیې ناروغی . دا ډول د کلیوی ناروغیو د وینې فشار لوړ والی سره مل وی او د وینې فشار رټینوپتی په ورته ننبې لری.

- Stellate Retinopathy

هغه ډول رټینوپتي چې د د بډوډو ناروغیو د وینې فشار لوړ والی یا اټروسکلروټیک ناخوالو سره مل وی خو د وینې فشار رټینوپتی په ورته ننبې لری.

Retinopexy

دسترګو د شبکیې تثبیت ، هغه جراحی عملیات چې پکې د (**Retinal Detachment**) شوې شبکیې اصلاح د څېرلې برخې

لړونه ، کمونه ، سپما.

Retro -

دا یومختاړي دئ چې د (شاته ، بېرته ، خلف ته ، روسته ، تېرو شویو ،ګرځېدلي ، پخوانیو) معنی ورکوی.

Retroaction

په مخالف لوري کې کار کول ، غبرګون ، مخالفت.

Retrobulbar

د سترګې ګاټې شاته یا څټ ته، دبصل النخاع څټ.

- Retrobulbar Neuritis

هغه ډول عصبی التهاب (نیوریټ) چې د بصری عصب د سترګې ګاټې شاتنی برخه اخته شی او د شیانو د لېدنې مغشوشیت پیښوی ، د (**Optic Neuritis**) په نامه ډول.

Retrocervical

د رحم د عنق یا سرویکس څټ یا خلف ته واقع.

Retrocession

په څټ تلل ، د څټ لوري ته ځای په ځای کېدل.

Retrocochlear

د کوکلیا یا حلزون څټ /شاته ، دا نومونه د اتم عصبی زوج او (**Cerebellopontine**) زاویې ته چې د حلزون تر شا ځای لری ورکول کېږی.

Retrocolic

د ورمېږ یا غاړې په شاتنۍ برخه (څټ) پورې اړوند.

Retrocollis

د ورمېږ سپازمودیک کوږوالي چې سرپکې د شا په لوري کش کېږی.

Retrocursive

د څټ په لوري په حرکت سره نومبدل او تراو لری.

Retrodeviation

خلف ته کوږېدنه ، شاته انحراف ، د (**Retroposition**، **Retroflexion**، **Retroversion**) په نامه ډول.

Retrodisplacement

خلف لوري ته ښځایه کېدنه ، شاته یا څټ ته ښځایه توب او خوځون.

Retroflexion

خلف ته قبض موندنه ، د یوه غړی داسې کږېدل چې پکې د هغه مخ د خلف لوري ته واقع وی.

- Retroflexion of the Uterus

د رحم خلفی قبض شوې بڼه چې له خپل ځایه بې ځایه حالت لری.

Retract

کش کول ، شاته کشول ، بېرته ننوتل، لاس اخیستل، بېر ته اخیستل، اوښتل لکه (له خبری اووعدې څخه).

Retractile

کش کړل شوې ، په شاتګ ته چمتو شوې ، شاته راپورته کش شوې.

- Retractile Testes

د مرغېږیو (خصیو) پورته یا شا لوري ته کش شوې بڼه.

Retraction

اوښتنه ، ګرځیدنه ، لوېدنه ، غوځېدنه ، په څټ د کارلو یا بیولو چاره ، په شا لوري / ښېرته ورګرځېدنه.

- Clot Retraction

د رګونو له دائرې څخه د وینې د پرنې (لختې ، علقې) ویستلو کړنه.

- Retraction of Colostomy

د کولمو د کولوستومی ښېرته شاته د ګېډې دننه ته ورغورځېدنه.

- Retraction Ring

هغه حلقه (کړۍ) او ننوتې چې د رحم ګرچارپېر پرته ده او د رحم پورته او ښکته برخې سره ښېلوی هغه چې بند زیږون کې د ماشوم حرکت څخه مخې لوري ته د متوقعه سرویکس کانال ته مخنیوی کوی او ورته (**Bandl's Ring**) هم وائی.

Retractor

کشوونکې وسیله ، د جراحی عملیاتو په لړ کې هغه وسیله چې شاته او څنګونو ته د څیرلو څنډو کشولو لپاره پکار وړله شی.هغه عضله چې د کشکېدولامل ګرځی.

Retreat

په شاکیدنه ،ځان کښنه ګوښه کیدنه،کښینا ، ستنه ، ماتې، دعقلی ناروغوداستراحت ځای ،ارام ځای، ګوښه ځای.

Retrieval

په روانپوهنه کې له هغه زېرمې څخه چې محافظوی معلوماتو د لاس ته راوړلو بهیر چې هلته زېرمه شوی وي.

Retrieve

موندل اور اوړل لکه د (ښکار)، بیا پیداکول، موندل، ساتل، خوندی کول، رغول، ژغورل، رغیدل.

Retrench

لړول، کمول،لنډول پرېکول، لړېدل،لنډېدل، حذفول.

Retrenchment

Retrogasserian
د ترایجمینال عصبی ګانګلیون په حسی خلفی ریښې پورې اړوند.

Retrognathia
د لاندینی یا ښکتنی ژامنې د هډوکی د بشپړ نشتوالی حالت.

Retrognathic
د (**Retrognathia**) اړوند صفت.

Retrograde
ستنېدل ، د حرکت د لورې چپه ګرځېدل،د (کتابولیک) په اندول ، شاته تګ، تیتیدل ،خرابیدل، ورانېدل، تیټېد ونکی، په څټ کېدونکی، لویدونکی،ښکته کیدونکی ،بیرته د خرابېدنې لورې ته تلل.

- **Retrograde Pyelography**

هغه راډیوګرافیک (**X-Ray**) انځوریځه کتنه ده چې یو کنټرټر بډوډو ته تېرېږی او هلته یورګرافین ماده زرق کېږي بیا انځور اخیستل شی.

Retrogression
ډیجنریشن ، ستنېدنه ، مخ په ځوړی تګ لورې ، په څټ ګرزېدنه،لوېدنه ، خپل لومړنی حالت ته اوښتنه .

Retrolabyrinthine
د لابرینټ خلف /شاته واقع .

Retrolental
د سترګې د عدسیې شاته برخه .

- **Retrolental Fibroplasia**

د فیبروټیک نسج انکشاف حالت چې د عدسیې خلف برخې کې منځ ته راځی او د رېوندوالی لامل ګرځی دا په هغه ښمودې زېږېدلو ماشومانو کې منځ ته راځی چې سمدلاسه د په زیاته پیمانه اوکسیجن درملنه شی .

Retromorphosis
پرشا تګی ، راستنېدویه مېتامورفوزیس .

Retro-ocular
د سترګو د ګاټې شاته .خلف البصری.

Retroperitoneal
خلف الپریتوانی ، د ګېډې د پریتوانی طبقې شاته .

- **Retroperitoneal Abseas**

خلف الپریوتوانی دانې (خراجونه) .

- **Retroperitoneal Hematoma**

خلف الپریتوانی برخه کې و ویني راټولېدنه /هیماټوما.

- **Retroperitoneal Mass**

خلف الپریتوانی کتله ، هغه ډول غوښنې او نورې کتلې چې د پریتوانی طبقې شاته منځ ته راځی.

- **Retroperitoneal Incission**

د خلف الپریتوان طبقې باندې د ځیرنې تر سره کول.

- **Retroperitoneal Space**

هغه واټن یا مسافه چې د خلفی پریتوانی طبقې او د ګېډې حلفی جدار تر منځ پرته ده چې پکې (ډوډۍ ، ادرینال غدې ، اثناعشر ، حالبونه او پانکریاس) ځای لری.

Retroperitoneum
د پریتوان طبقې خلف /شا ته، د پریتوان تر څټ برخه.

Retroperitonitis
د خلف پریتوان برخې التهاب .

Retropharyngeal
د بلعوم (**Pharynx**) خلف / شاته برخه کې واقع.

- **Retropharyngeal Abceas**

د بلعوم د خلف برخې دانې / خراجونه ، د (**Quincy**) په اندول.

Retropharyngitis
خلف البلعومی برخې د نسج التهاب .

Retroplasia
اوښتې (سرچپه) مېتاپلازیا ، په خپل اولیه ډول باندې د یوې حجرې ډیجنریشن .

Retroposed
د څټ یا شا په لورې ځای په ځای کېدنه .

Retroposition
د خلف او څټ یا شا په لورې ځای په ځای کېدل .

Retropubic
د عانې د اتفاق شاته ، خلف العانی .

- **Retropubic Prostatectomy**

د خلف العانی جراحی غوڅې او عملیات له لارې د پروستاټ د غدې غوڅولو کړنلاره .

Retropulsion
بهر کول، لکه د لنګون پر مهال د جنین د سر بهر کول ، د څټ په لورې تګ کولو لپاره لېوالتیا لکه څه ډول چې په (**Tabes Dorsalis**) کې لیدل کېږی . یو ډول غېرنورمال تګ کول چې په هغه کې بدن د څټ په لورې کوږ شوېوی.

Retrosegmoidal
د سګموئید کولون او سینوس خلف اړوند.

Retrospect
په تیروپېښو اوحالاتو نظراچول، په تیرو واقعو تبصره ، شاته نظر کول .

Retrospection
دتیروکارو بیاکتنه، بیا تبصره کونه ، بیا نظرانداز .

Retrospective
تیرونه کتونکی، د تیروپېښو راپه زړه کوونکی.

Retrouterin
د رحم خلف ته ، د رحم څټ او شاته .

Retroversion
په بشپړ ډول د یوه غړی (ارګان) شاته لورې ته کړېدنه .

- Retroversion of the Uterus
د رحم شاته (څټ) لورې ته کړېدنه .

Retroverted
شاته لورې ته کوږ شوې غړې.

- Retroverted Uterus
د شاته (څټ) لورې ته درحم کړه بڼه نیونه .

Retrovirus
هغه ډول ویروس چې جنیتیک یې د (**RNA**) موادو لرونکی دی چې ورځخه (**DNA**) ترکیبیږی او (**AIDS Virus**) ویروس او ګڼ شمېر نور سرطان پیښوونکی ویروسونه لدې ډلې څخه بلل شی .

Return
ګرځیدل،راګرځېدل ،راستنیدل،ځوابول، بیرته استول، بیالیږنه یاراوړنه،له سره اداکونه، بیا اداکول، راګرځیدنه، بیالیږنه، د لمبر (وار) بیا راتګ .

Reunion
بیایو ځای کېدنه ، بیا غونډېدنه ، د یوه هډ یا یوه جوړښت بیا یوځای کېدنه لکه د مات هډوکی د ماتو څوکو یو تر بله سره بیا یوځای کېدل او رغېدنه ، بیا توحید . ډله ، ټولنه ، غونډه.

Reunite
بیایو ځای کول، وحدت ، بیا یوځای کېدل.

Rev
دماشین ګر ځېدل، چټک کول ګړندی کول،چابک کېدل،ګړندی کېدل لکه (د هر ډول طبی ماشین یادموټر).

Revascularisation
1 .د وینې د بهیر بېرته سمونه او خوندی کوونه لکه د یوه هډ (طرف) د ټپې کېدو وروسته، **2** .د وینې د رګونو د پیوند څخه وروسته یوې برخې ته د وینې بېرته رسونه لکه د بای پاس تر سرته رسولو وروسته د (**Revascularization**) په څېر هم لیکل شی .

Revamp
له سره نوی بڼه ورکول، بیاروغول، زاړه نوی کول.

Reveal
ښکاره کول ، بربنډ کول ، راڅرګندول ، ښودل ، په ډاګه ویل .په کلینیکی کتنه کې د لاس جس کولو پواسطه د یوې غېر نورمال ټنبې یا کتلې موندل .

Revealed
ښکاره شوې ، بربنډ شوې ، څرګند شوې .

- Revealed a Growth
د رابرسېره شوې یا څرګند شوې ودې تثبیت لکه په کلینیکی کتنه کې د لاس جس کولو پواسطه په تیبونو کې د یوې غېر نورمال کتلې موندل.

Revelation
څرګندونه،اوڅارنه ، ښودنه ، په ډاګ وینه ، الهام.

Reverberate
په څټ ګر ځول، انګازه خپرېدل، منعکس کېدل.

Reverberation
ازانګه ، انعکاس ،په څت ګرځېدنه، د یوه لومړنی تحریک وروسته د عصبی ښه فعالیت شته والې چې په یوه مدار کې د عصبی رینبو په اوږدو کې د تحریکاتو په لېږد پورې تړاو لری او د مثبت فیډ بک (ځواب) بهیر لامل ګرځی .

Reversal
بدلون ، او ښتنه ،بیا ګرځېدنه ، هغه کړنلاره (طرزالعمل ، **Procedure**) چې د یوڅه بېرته ګرځېدنی بدلون لامل شی .

- Reversal of Sterilisation
د تعقیمولود کړنې بیا ګرځېدنه.

Reverse
① څټ،بل مخ،استر. اوښتی، نسکور،چپه، په څت لوېدنه،تیتېدنه. ② په شا تلنه، په شاتګ ،په څټ کېدنه، شا. نسکورول، په شانیول، په بل مخ کول ،③ بیا ګرځېدنه ، بیا غبرګېدل ،بیا ستنېدل.

- Reverse Isolation
ساتندویه (وقایوی) جلاکېدنه ، د (**Isolation Protective**) په اندول ، سرچپه تجرید کول .

- Reverse Transcriptase
سرچپه ترانسکریپټېز انزایم ، هغه انزایم چې یوه د (**Dna**) یا اولیه (**Rna**) ته یا د جوړېدنې په حال کې د (**Dna**) ځنځیر ته د ډای اوکسی رایبوز نوکلیوتاید ونو د ګام په ګام زیاتېدل کتلایز کوی او په (**Retrovirous**) کې شتون لری .

Reversion
د خپل لومړنی حالت ورستنېدنه ، په جنیټیک کې د یوه میټوټانټ فینوټایپ میوټېشن پداسې حال کې چې لومړنې کار او دنده یې خوندی وساتل شی. د ځای نیونې حق، دپلازنیکه په ځای کښینا ستل.

Reversionary
ګرځیدونکی. اوښتونکی، ستنیدونکی.

Revert
بیرته اوښتل، بیرته ګرزیدل، ستنیدل، بیرته اړول، بیرته ګرزول، ستنوول.

Review
بیاآزمویل، بیاکتل، بیا څیړل، کتنه کول، تبصره کول، نقد کول.

Reviewer
تکرار لوستونکې ، بیا ارزوونکې ،نیوکه (انتقاد) کوونکی، مبصر، څارو.

Revise
کره کتنه کول، بیا کتل، سمول.

Revision
بیا کتنه، سمونه. د یوه جراحی عملیات کتنه هغه مهال چې سرته رسول شوېوی .

- Revision of Radical Mastoidectomy
دتیبونو په جذری ډول غوڅولو کتنه تر سره کول .

Revisit
بیالیدل، بیاکتل، بیا ملاقات کول لکه د (ناروغانو بیا کتنه).

Revival
ژوند ببنښه، نوی کول، نوی والی، بیاخپرونه، بیاچاپونه، مذهبی تحریک، مذهبی بیداری.

Revive
اخیستل، بیاقوت اخیستل، ژوندی کېدل، د یو چا بیاژوندی کول او هغه شعور ی حالت ته راګرځول، قوت ورکول، فعالول، مترورکول، په زړه کیدل، په یادیدل.

Revivify
بیاژوندی کول، له سره سبک ورکول.

Revocation
منسوخونه ، ردونه ، لېری والی، ایسته کونه ، ورردونه

Revoke
منسوخول، لری کول، لغوکول، ردول، له منځه ایستل.

Revolve
څرخېدل، ګرزیدل ، چورلیدل، تاویدل ، غورکول، فکر کول، سوچ کول ، څرخول، ګرول، چاپیره تاوول.

Revolvolus
بیا څرخېدل، بیا ګرزیدل ، بیا چورلیدل، بیا تاویدل لکه د کولمو بیا تاوېدل .

Revulsion
د یوې برخې څخه بلې برخې ته د وینې ویستل ، داحساساتو ناڅاپی او ښتنه یا بدلون (تغیر).

Reye's Syndrome
هغه ډول سندروم دې چې پکې په ماشومانو کې د ماغزو ناروغی منځ ته راځی چې ښائی د ویروسی انتاناتو له کبله وی او یا هم د آسپرین (**Aspirin**) خوراک سره تړاو ولری.

Rf
دا د یوه ځلا لرونکی کېمیاوی عنصر راترفوردیم (**Rutherfordium**) لپاره لنډه ننبنه چې د اټومي وزن یې (**261**) او اټومی شمېره یې (**104**) ده .

RFA
د (**Right Frontoanterior**) لپاره لنډه ننبنه ده چې جنین ښي جبهی- قدامی وضعیت په زېږون کې څرګندوی.

RFP
د (**Right Frontoposterior**) لپاره لنډه ننبنه ده چې د جنین ښي جبهی – خلفی وضعیت په زېږون کې څرګندوی.

RFT
د (**Right Frontotransvers**) لپاره لنډه ننبنه ده چې د جنین ښي جبهی – مستعرض وضعیت په زېږون کې څرګندوی.

RGN
د (**Registered General Nurse**) لپاره لنډه ننبنه ده چې د راجستر شوی عمومی نرس معنی لری.

Rh
په کېمیا کې د [رودیم ، ردیم (**Rhodium**)] عنصر لپاره ده چې ډېر کلک سپین –اېره ډوله رنګ لرونکی فلزی عنصر دئ اټومی وزن یې (**102/ 905**) ، اټومی شمېره یې (**45**) او مخصوصه وزن یې (**12/ 4**) ده د غلیان

Rhabdomyolysis

د متیازو له لارې د مایوګلوبین د اطراح کېدو سره مل په مخططو عضلاتی فایبرونو کې درزونه جوړېدل .

Rhabdomyoma

د مخططو عضلاتو ځخه زېږنده سلیم ټومور دئ چې ددې ټومور د زړه (قلبی) ډول همارتومی هغه ډول وی چې تر ډېره کچه د ټوبروس سکلېروزیس سره یوځای وی .

Rhabdomyosarcoma

ربډومایوسارکوما ، دمخطط عضلاتی نسج (**Striated Muscle Tissue**) یو شدید خبیث تومور دئ چې اولیه مېزانشیمی حجرو ځخه سرچینه اخلی او اکثراً په ماشومانو کې منځ ته راځی.

- Alveolar Rhabdomyosarcoma

یو ډول رابډومایوسارکوما چې فایبری تېغو ترمنځ و وېش پرمهال کوچنی ګردی حجرې پکې ونډه لری او په ځوانانو یا کوچنیانو کې پېښېږی .

- Emberyonal Rhabdomyosarcoma

یو ډول رابډومایوسارکوماچې د میکسوئیډی زمینې لرونکی حجرې لری او په ماشومانو/ کوچنیانو کې پېښېږی .

- Pleomorphic Rhabdomyosarcoma

یو ډول رابډومایوسارکوما چې د بې شکله زیات رنګ لرونکو لویو حجرو په شته والی سره د پېژندلو وړ ګرځي او دلویانو په اسکلېټی عصلاتو کې لیدل کېږی.

Rhabdosarcoma

د (**Rhabdomyosarcoma**) په انډول.

Rhabdosphincter

دهغه معصره چې له مخطط عضلاتی فایبرونو ځخه جوړه شوېوی.

Rhabdoviridae

د (**Rna**) لرونکو ویروسونو یوه کورنۍ چې یو رشتوی (**Rna**) جینوم لری او (**Vesiculorius**) او (**Lyssavirus**) پکې ونډه لری او د لېونی سپی (**Rabies**) ناروغۍ پېښوی.

Rhabdovirus

د (**Rhabdoviridae**) د کورنۍ د ویروسونو ځخه هریو چې وی.

Rhachi -

دا یو مختاړې دئ او د املا ، نتۍ ، (**Spine**)] معنی ورکوی.

Rhachio -

دا یو مختاړې دئ او د املا ، نتۍ ، (**Spine**)] معنی ورکوی.

جوشېدو ټکې یې (**1966 °c**) او د ویلې کېدنې ټکې یې (**3727 °c**) دئ .

Rh

د (**Rhesus**) لپاره لنډه ننبنه ده.

RHA

یو هورمون یا بل لامل چې د افرازېدنې د پارېدنې د پېښې سبب شی.

Secretomotor

افراز ی محرک . د ترشح پاروونکې لکه عصب .

- Secretomotor Nerve

د ترشح پاروونکې عصب.

Secretomotoric

د (**Secretomotor**) اړوند صفت .

Secreto-motory

هغه عصب یا بل لامل چې د افرازاتو تولېد او پارېدنې لامل شی ، محرک الترشح.

Secretoneurin

د (**Chromogranins Family**) غړې چې واحد ډول اسیدی افرازی پروتینونه په عنصری نیوروراندوکرین سیستم کې ګڼل شی.

Secretor

افرازی ، ترشح کوونکې ،هغه څوک چې د موادو ترشح چې د وینې د (**Abo Blood Group**) ګروپ په مخاطی مایع لکه لاړو او منی کې څرګند کړی.

- Secretor Factor

افرازی فکټور .

- Secretor Gene

افرازی جین .

Secretory

افرازی ، تولیدوونکې ، ترشحی .

- Secretory Canaliculus

افرازی کانالیکولی.

- Secretory Capillary

افرازی کپیلری .

- Secretory Carcinoma

د افرازی نسجونو اړوند کارسینوما ټومور.

- Secretory Cells

افراز ی حجرې لکه د معدې جداری حجرې.

- Secretory Chain

د (**Secretory Component**) په اندول.

- Secretory Component

هغه ګلایکو پروټین چې [**Immunoglobulin A (Iga)**] سره نښتې بڼه لری داد (**Iga**) افراز لپاره اړین او ضروری د مخاطی واټنونو (**Mucosal Spaces**) بلل شی.

- Secretory Component Deficiency

د افرازی کمپوننټ کمښت او فقدان حالت.

- Secretory Cyst

افرازی سیستې.

- Secretory Diarrhea

افرازی نس ناستې .

- Secretory Duct

افرازی قنات .

- Secretory Endpieces

په افراز اغېز ښندونکی .د انکشافی غدې هغه ړنده پایلې برخه چې د پّه وظیفوی برخه د یوه غړی اوږی دا د یوې پخې افرازی پایلې برخه وی چې د یوې غدې اړوند اډینومیر چې ښائی مخاطی یا مصلی وی او دا کېداسی شی (تیوبولار ، سنخی ، اسینی یا تیوبولو –الویولر)په بڼه هم وی .

- Secretory Gland

افرازی غدې چې داخلی او خارجی افرازات .

- Secretory Granule

افرازی حبیبات ، د حجراتو دننه ترشحی ګرانول چې د افرازی پروتینونو څخه جوړ دی چې بیا وروسته له اوښتنې په ګلجی جهاز (**Golgi Apparatus**)کې خای په خای کېږی .

- Secretory IgA

د ایمیونوګلوبولین ټولګی څخه دی چې د ځینو جسمونو ترشحاتو (لړو ، تنفسی افرازاتو ، شیدو ، ورګه یا کولستروم) کې موندل شی چې د موضعی معافیت مسؤل دی ، د (**Immunoglobulin**) په اندول.

- Secretory Immune System

افرازی معافیتی سیستم .

- Secretory Immunoglobulin

د (**Secretory Iga**) په اندول.

- Secretory Nerve

افرازی عصب ، هغه عصبی برخه چې د افرازاتو د پارېدنې لامل ګرځی.

- Secretory Otitis Media

افرازی د متوسط غوږ التهاب ، د (**Glue Ear**) په اندول.

- Secretory Phase

د افراز پړاو (مرحله).

Sect -

دا یومختاړې دئ او د (پرې کولو، غوڅولو، تسلیخ **Dissect** ، برخې **Section**، سکټور **Sector**) ورکوی.

Sectile

د پرې کولو /قطع کولو وړتیا درلودونکې .

Sectio-

دا یو مختاړې دئ د په اناټومی کې د (تحت الوېش ، سګمنټ ، برخې) معنی لری .

- Sectio Aurea

د (**Golden Section**) پّه انډول.

- Sectio Caesarea

د رحم لپاسه د د څېرلو او وازولو جراحی عملیات تر سره کولو کړنلاره.

Section

د یوه جوړښت منځنۍ برخه ،په انساجو کې د د پرېکون (قطع کولو ، د مقطع ګانو) په څېر.

- Middle Section of the Aorta

د ابهر منځنۍ برخه .

Sectional

مقطعی ، د (**Section**) اړوند صفت. فرقه یې، ډلیز، برخې برخې، ونډې ونډې، دګوند ، سیمه ییز

- Sectional Center

مقطعی مرکز .

- Sectional Density

مقطعی کثافت .

- Sectional Denture

دا د غاښ طب کې غاښونو د تثبیت یا راویستل کېدونکی پروستیزیس چې یو یا ډېر یې ذخېره زېرمه کېږی، د (**Partial Denture، Bridgework**) په انډول.

- Sectional Impression

مقطعی نښه ، هغه نښه / خاپه چې د دوه یا ډېرو برخو څخه منځ ته راغلې وی

- Sectional Radiography

د (**X-Rays**) یو تخنیک دئ چې د یوه جسم یا کتلې څخه د په څو مقطعو کې اخیستل کېږی د (**Tomography**) په انډول.

Sectionalisation

په څو دانو مقطعو باندې اړول ، په برخو باندې ویشل .

Sectionalise

په برخو باندې د ویشلو کړنه .

Sectionalism

په برخو باندې د ویشلو عمل ترسره کولو حالت ، ګوند پالنه، فرقه پرستي، درزا چونه ، تعصب.

Sectionality

په برخو باندې د ویشلو ځانګړنو شتون .

Sectionalization

په څو دانو مقطعو باندې اړول ، په برخو باندې ویشل .

Sectionalize

په برخو باندې د ویشلو کړنه .

Sector

شعاع ،برخه ، څانګه ، کته ګوری ، مټ ، طبقه ، تحت التقسیم، قطاع د (دایرې دمحیط هغه برخه چې ددوو شعاعو تر منځ واقع وي) ، جبه، دجګړې ډګر .

Sectoral

د (**Sector**) اړوند صفت .

Sectorial

سکتوری ، د سکتور سره په تړاو کې .

Sectral

دا د خولې له لارې بېتا بلاکر درمل دی چئ د (**Hypertension Acebutolol ,Beta Blocker, Beta-Adrenergic Blocker, Beta-Adrenergic Blocking Agent**) پّه درملنه کې پکار وړل شی.

Secuestrotomy

د سکویستر (**Secuestrum**) د وازولو جراحی کړنلاره ده.

Secund

په بوټانی کې د ټولې برخې /جوړښتونه هسې منظم کېدل د محور یوه لورې ته واقع کېدل دی.

Second-

دا یو مختاړې دئ چې د [ثانوی **Second** ، دوهم ځله بلاربتیا **Secundigravida** او (**Secundina, Secundine**)] معنی لری .

Secundigravida

هغه ښځه چې د دوهم ځل لپاره بلاربه شوې وی ، د (**Gravida- li**) په انډول.

Secundina

د پلاسنټا جنینی غشأ چې له ماشوم زېږېدنې وروسته بهر ته غورځول کېږی ، له زېږون وروسته، د (**Afterbirth**) په انډول.

Secundine

په بوتانی کې د نبات د زړی (تخمې) احاطه کوونکی

چې پر عصبی سیستم باندې اغېز ښندی او فشار ته لږېدنه وربخښی .

- Sedative Bath

تسکینی ګرمابه / حمام .

- Sedative Drugs

تسکینی درمل او دارو

- Sedative-hypnotic

تسکینی – خوب.

- Sedative Medicine

تسکینی طب / طبابت او درملنه .

- Sedative Methods

تسکینی مېتود /کړندود.

- Sedative Music

تسکینی موسیقی .

- Sedative Treatment

تسکینی درملنه .

Sedentary

ځاي پرځای ناست، د یوه غېر فعال روږدي (عادت) په بڼه کښېناستل ، میشت، استوګن ، ځایی وضعیت.

- Sedentary Animal

ځاي پرځای میشت حیوان لکه پروتوزوا.

- Sedentary Death Syndrome

هغه مړینه چې د بې نهایته غېرفعال والی او ضعیف تغذی له کبله منځ ته راځی.

- Sedentary Occupation

ځائي کار او دنده .

Seder

د (**Judaism**) په اندول.

- Seder Syncope

وازو واګل کولاپس چې د (**Horseradish—Active Ingredient** او **Isothiocyanate**) پذرېعه پېښېږی په لمانځونکو غوندې کې کارول شی .

Sedge

ډیله، لوخه، درګه.

Sediment

کنوبی، داوبو یا بادپواسطه رسوبي موادو ناسته (ترسب کول)، خړه ناسته ماده، تل ته کښیناستونکی مواد.

Sedimental

ترسبی ، کښېناستلې ، د (**Sedimen**) اړوند صفت .

Sedimentary

د ترسب اړوند ، د ترسب پورې تړلې ،رسوبي، تل ته شوی، کښیناستلی .

برخو د دوه وو څخه یوه .

Secundipara

هغه ښځه چې د دوهم ځل زېږونه یې کړېوی ، د (**Parous Ii**) په اندول.

Secure

ساتلی محیط، خوندي، بې وېرې، بې ډاره، ډاډه، مطمئن، بې غمه، یقیني، متیقن ساتل، تضمینو، پییل، لاسته کول، بودول،اخیستل.

SED

د ایریتِما د پېدایښت لپاره جلدی ډوز.

Sedate

د یو لږ درملو پواسطه د یو چا په (کراره کول ، هوسا کول) چې دهغه پر دماغی سیستم باندې اغېزه کوی ، تسکین، چپ، آرام، غلی، دروند ، سنجیده، چُرتي.

Sedated

آرامه شوې ، هوسا شوې ، تسکین شوې .

Sedating

تسکین ورکول ، د آرامولو عمل .

Sedately

په چپتیا ، په آرامتیا ، په درنښت، په سنجیدګی.

Sedation

د هیجان / پارېدنې اوتحریک مننې کمښت هغه چا کې چې تسکینی درمل یې خوړلی وی.په چپتیا ، آرامتیا ، تسکین کېدنه ، سوکه کېدنه .

- Sedation Analgesia

هغه حالت چې پکې لږه اندازه انحطاط د شعور او تسکین منځ ته راغلې وی ، بې درده کېدنه او تسکین ، د (**Conscious Sedation**) په اندول.

- Conscious Sedation

شعوری تسکین ، یو ډول بېهوښی چې ناروغ پکې هوښیار دئ او ډار او اظطراب نه لری .

- Sedation Management

هغه ډول سمون او منجمنټ چې د تسکین لپاره منځ ته راځی .

- Sedation Points

د تسکین اړوند ټکی .

Sedatival

د (**Lorazepam**) اړوند سوداګریز نوم دئ.

Sedative

سوکه کوونکی، هوسا کوونکی، آرامونکی، درد اواظطراب آرامونکی او خوب راوړونکی درمل (مسکن)

- **Sedimentary Cataract**
ترسبی کترکټ ، دا ډول د ایتالوی اناټومیست (**Morgagni, Giovanni Battista**) پذ ربعه چې په (**1682–1771**) کلونو کې اوسېده لومړی ځل شرحه شوه .
- **Sedimentary Cycle**
د (**Cycle Of Sedimentation**) په اندول.
- **Sedimentary Deposits**
ترسبی زېرمه کېدنه . دا ډول زېرمه کېدنه او ترسب په نسجونو کې د کېمیاوی موادو د راټولېدنې له امله منځ ته راځي.
- **Sedimentary Injection**
ترسبی زرقیات ، هغه مواد چې د زرق وروسته ترسب کوی.
- **Sedimentary Petrography**
د ترسب د اندازه کولو پروسه.

Sedimentation
ترسب ، دترسبی زېرمه کېدنې پروسه چې د مایع په تله کې راټولېږی او کښېناسته کوی .
- **Sedimentation Analysis**
د رسوباتو تحلیل او تجزیه .
- **Sedimentation Radius**
د ترسبی قطر یوه نیمځ برخه .
- **Sedimentation Rate**
د ترسب چټکتیا ، د رسوب سرعت ، هغه چټکتیا چې پکې په یو محلول کې د هغه جامد او ذرې تل ته رسوبونه کوی لکه په سنترفیوژ کولو کې .
- **Sedimentation Test**
د ترسب د چټکتیا آزمایښت .

Sedimentography
د ترسب د اندازه کولو پروسه ، د (**Sedimentary Petrography**) په اندول .

See
لیدل، کتل، آزمویل، ځیرکېدل، سلاکول، پام کول، بدرګه کول، ملګرتیا کول. لیدنه کول، ملا قات کول، پوهېدل، څارل، اشاره کول، په زړه لرل.

Seed
نظر لرل، پوهېدل، رسیدل. زړی، زنې، تخم، دانه، نسل، پنبت، اولاده، پنبه، سر چینه، اصل، بنسټ، آر، خټه کرل، تخم شیندل، دانه نیول، تخم نیول، نیالول، کښېنول، زړی اېستل، تخم اېستل.

Seedless
بې تخمه، بې زړی، بې دانې، شنډ.

Seep
څڅېدل، بهېدل.

Seepage
څڅېدنه، بهېدنه، څڅوبی.

Seethe
خوټول، ایشول، جوشول، ګبنې اخیستل، خوټېدل، ایشېدل.

Segment
برخه، وندې، ټوټه، قطعه (په هندسه کې)، کړۍ، بند. سګمنټ ، د ټول یوه برخه ، د یوه غړی اناټومیکه برخه چې د ورته نسجی ځانګړنو درلودونکې وی .
- **Anterior Segment**
قدامی سګمنټ ، مخې ته سګمنټ .
- **Apicale Segment**
دکین او ښی سږو د ذروی برخې سګمنټ .
- **Bronchopulmonale Segment**
د سږو د برانش برخې سګمنټ .
- **Hepatic Segment's**
د کبد (ینې) سګمنټونه چې د تریخی لارو ، شریانونو او وریدونو پر بنسټ د لوبونو کوچنی برخې جوړوی.
- **Spinal Segment**
د نخاع اړوند سګمنټ .
- **Segment's of the Spinal Cord**
د نخاع اړوند سګمنټونه ، دا د نخاع برخې په(رقبی، صدری ، قطنی او عجزی- عصعصی) سګمنټونو ویشلې شوې دی.
- **S T Segment**
د (**Qrs**) کمپلکس هغه واټن چې د (**T**) څپې د پیل او د بطینی ډیپولرایزېشن د پای تر منځ ځای لری .
- **Uterine Segment**
دهغه برخو څخه هره یوه چې د لنګون په لومړیو مرحلو کې وربانديې رحم تمایز کېږی لکه پورتنی انقباض مننونکې برخه (رحمی جسم) چې د لنګون په پرمختګ سره پنډ پږی او لاندینی نا انقباضی برخه چې آزاده او نازکه کېږی.

Segmental
له سګمنټ څخه جوړ ، د (**Segment**) اړوند صفت .
- **Segmental Ablation**
د جراحی عملیات چې پکې د یوه نوک یوه برخه را ایستله کېږی لکه په (**Ingrowing Toenail**) نوک درملنه کې.
- **Segmental Alveolar Osteotomy**
سګمنټی سنخی اوستیوټومی .دا یو د فمی لارې جراحی عملیاتی پروسیجر دئ چې پکې د الویولونو هډوکی لرونکی غاښونو ترمنځ غوځېدنه او ذروه ئی برخه پرې کېږی تر څو غاښونو او الویولونو بیا پرځای کېدنه تر سره شی چې په ژامنو کې دهډوکی یو سګمنټ غوځېدنه تر سره کېږی.

(**Pronephric Duct**) په انډول.

- Segmental Dysfunction

په سګمنټي ډول بې دندې کېدنه چې دا د فقراتو په (**Subluxation**) کې پېښېږي چې دا د ملاتیر په مانوپولېشن کې منځ ته راځي.

- Segmental Fracture

د هډوکو سګمنټي ماتېدنه /کسر ، پدې حالت کې به د هډوکی فرګمنټونه (ټوټې) له اصلی جسم څخه جلا پاتې وی او ښآئي د پوستکی لورې ته ښکاره شوی وی.

- Segmental Gangrene

سګمنټي ګانګرین ، دا ډول نسجي مړینه د (وینې بندښت ، ناروغی او ټپونو یا زخمی کېدو) له امله منځ ته راځي.

- Segmental Glomerulonephritis

سګمنټي ګلومیرولونفریټ چې یوازې د پښتورګو د ګلومیرولونو برخه کې د ګلومیرولونو التهاب پېښېږي ، د (**Local Glomerulonephritis**) په انډول.

- Segmental Hyalinising Vasculitis

هیالینی سګمنټي واسکولیټ ، دا یو ډول ترومبوجنیک واسکولوپتي ده چې د فیبرین ترومبوز له کبله په ډېر عمر لرونکو ښځو کې منځ ته راځي چې اکثراً پېښې نیسي لکه په وصفی ډول د (**Telangiectatic Purpuric Papules** او **Plaques**) چې ښائی قرحې او اټروفیک ندبې هم ورسره مل وی ناروغان ښائي د (**Livedo Reticularis, Scleroderma, Systemic Lupus Erythematosus** او **Cryoglobulinaemia**) په څېر ناروغیو څخه وګورېږی د (**Livedoid Vasculopathy**) په انډول.

- Segmental Innervation

سګمنټي تعصیب ، په بدن کې دسګمنټي ډول سره د یوې سیمې عصبی رګونه ځغلېدنه چې هلته حرکی او حسی دنده تر سره شی.

- Segmental Mandibulectomy

په سګمنټي ډول سره د ښکتنی ژامې د یوې برخې د غوڅولو جراحی عملیات تر سره کولو کړنلاره.

- Segmental Mastectomy

په سګمنټي ډول سره د تیښونو د یوې برخې د غوڅولو جراحی عملیات تر سره کولو کړنلاره چې ځینې وختونه د پوستکی او لمفاوی غدواتو سره مل وی ، د (**Radical Mastectomy**) په انډول.

- Segmental Neuritis

په سګمنټي ډول سره د عصبی ریښې په اوږدو کې دالتهاب منځ ته راتګ بلل شی.

- Segmental Neuropathy

هغه نیوروپتی چې په سګمنټي ډول سره رامنځ ته شوې وی چې دا د (**Diabetes, Arsenic Poisoning, Lead Poisoning, Diphtheria,** او **Leprosy**) په حالاتو کې پېښېږي.

- Segmental Analgesia

موضعي ډول بې درده کېدنه ،سګمنټي ډول دد رد له منځه تګ چې پکې شعور له منځه نه وی تللې.

- Segmental Anesthesia

موضعی او سګمنټي ډول بېهوښه کېدنه.

- Segmental Aplasia

سګمنټي اپلازیا ، دا یو ډول نیمګړې وده ده چې پکې ټول یا یوه برخه د نسج /غړی شتون ونلری.

- Segmental Arch

سګمنټي لیندی (قوس) .د یوې دائرې نیمائی منحنی سګمنټي برخه چې یوه هلال ته ورته وی.

- Segmental Arteries

سګمنټي شریانونه ،لکه د کلیوی شریان هغه برخه چې د یوه سګمنټ برخه اروا کوی لکه (**Arteriae Segmenti Inferioris Renalis**) په څېر.

- Segmental Atelectasis

سګمنټي اتلکتازی ، پدې حالت کې د سږی یوه برخه د قصباتو بندښت له امله په (کولاپس ، پرته له هوا) برخه اوږی او دا په حاد یا مزمن ډول پېښېږی چې ځینې وختونه ټول ریوی نسج نیولای شی.

- Segmental Axonopathy

د اکسون اړوند سګمنټي ناروغی، پدې حالت کې د عصبی ریښې د اکسون برخې وظیفوی اختلال منځ ته راځي چې ناروغی له محیط څخه مرکز لورې ته وردرومی.

- Segmental Bronchi

د برانش د لومړی برخې څخه سرچینه نیوونکی ثانوی او درېیمه د یوه سګمنټ برخه بلله شی.

- Segmental Demyelinating Polyneuropathy

په سګمنټي بڼه د پولینیوروپتی د میالین برخې له منځه تګ حالت

ته ویل شی چې د محیطی اعصابو میالین اکثراً په فامیلی ډول اخته کېږی لکه د (**Charcot-Marie-Tooth Disease Type- 1**) یا کسبی ډول د (**Guillain-Barré Syndrome**) په څېر حالاتو کې منځ ته راځي.

- Segmental Dilatation

په سګمنټي ډول د اتساع منځ ته راتګ پېښه چې په یوه (**Aperture** یا **Canal**) په طبی یا جراحی درملنه کې پېښېږی.

- Segmental Dorsolumbar Epidural Block

د نخاعي اپی ډورال خلفی– قطنی برخې بلاک.

- Segmental Duct

سګمنټي قنات یا لاره چې په ایمبریونیک ابتدائی قنات (**Primitive Duct**)په اطراځی غړو کې چې بیا وروسته (**Wolffian Duct**) او حالبونه (**Ureter**) جوړوی ، د

سګمنټي حجره ، هر ه هغه حجره چې د القاح شوې هګۍ د (**Cleavage**) په نتیجه کې د ایمبریونیک ودې په لومړیو کې رامنځ ته کېږي ، د (**Blastomere**) په انډول.

- Segmentation Fault

هغه روانی حالت چې پکې ناروغ نشی کولای خپله حافظه یوې لوړې ته راټوله کړي او د خطا لورې ته یې واړوی.

- Segmentation Gene

سګمنټي جین ، د یوه (جوړښت، برخې یا ارګانیزم) د جوړېدنې حالت چې د انکشاف په مرحله کې یې انساج د پیژندنې وړ وی.

- Segmentation Method

د سګمنټي کېدنې مېتود .

- Segmentation Nucleus

د سګمنټي کېدنې هسته چې ،**هغه** جسم چې د نارینه او ښځینه (**Pronucleus**) یوځای کېدنې (**Fusion**) او هګۍ بلاربښت څخه رامنځ ته کېږي .

- Segmentation of the Ovum

د ایمبریو هغه پروسه چې د عالی نباتاتو او حیواناتو کې د (**Germ Cell**) څخه وده کوی او په دوه نورو ورته هګیو ویشل شی لکه د (**Blastomeres**) چې بیا همدا په دوه نورو برخو ویشله شی او د حجرو یوه کتله (**Morula** یا **Mulberry Mass**) رامنځ ته کوی .

- Unequal Segmentation

نا انډوله یا غېر مساوی سګمنټي کېدنه .

Segmentectomy

د یوې غدې یا غړی د یوه سګمنټ برخې د راویستلو جراحی عملیات کړنلاره تر سره کول.

Segmented

سګمنټي ، په سګمنټ باندې وېشلې .

- Segmented Cell

سګمنټي شوی حجره ، هغه حجره چې هسته ئي د فیلامنټونو پواسطه په لوبونو ویشل شوېوی.

- Segmented Hyalinizing Vasculitis

هیالینی شوې د رګونو التهاب ، چې دا یو مزمن ډول عود (بابېړې) کوونکې حالت دئ چې د پښو په ښکتنی برخه کې رامنځ ته کېږي چې د پوستکی نوډولی پورپوریک آفتونه چې په قرحې او ندبې باندې اوړی رامنځ ته کېږي ، د (**Livedo Vasculitis**) انډول.

- Segmented Leukocyte

سګمنټي شوې لوکوسایټ ،هر هغه پوخ او رسېدلې پولیمورف نوکلیر لوکوسایټ لکه (**Neutrophilic Leukocyte**) په څېر.

- Segmented Neutrophil

سګمنټي نیوټروفیل،هغه نیوټروفیل حجره چې هسته ئي د فیلامنټونو پواسطه په لوبونو ویشل شوېوی.

- Segmental Organs

①د اناټومي له مخې په فقاریه حیواناتو کې د ایمبریونیک اطراحی غړی د لومړنیو سګمنټي ټیوبونو او قناتونو درلودونکی وی. ②د زولوژی له مخې هغه تیوبولی اطراحی غړی چې په جوړه توګه واقع کېږي او د څو سګمنټونو درلودونکی دی دا د کلیوی غړو په توګه پکار ړې اود سپرم (**Sperm Ducts**)او هګۍ قنات (**Oviducts**) منځ ته راوړی.

- Segmental Reflex

هغه رفلکس (عکسه) چې د یوه سګمنټ په ډول د نخاع د خلفی جذر څخه رارسېدونکی سیالې اخلی او لېږدوونکی سیالې او محصول د نخاع د بطنی جذر له هماغه برخې سګمنټ بهر وځی .

- Segmental Resection

په سګمنټي ډول د یوې برخې نسج غوڅولو جراحی عملیات .

- Segmental Sphincter

د یوه (غړی، ټیوب ، کانال) په سګمنټي بڼه د معصرې شتون .

- Segmental Tubes

سګمنټي ټیوبونه ، هغه لومړنی (ابتدائي) نلکې یا ټیوبونه چې د سګمنټي قناتونو خولې ته ورخلاصېږي چې خپلې یې بولی ټیوبونه د ځوانی پرمهال منځ ته راوړی .

- Segmental Tubule

سګمنټي تیوبولونه .

- Segmental Vitiligo

په سګمنټي بڼه د خضری (وټلیګو **Vitiligo** ، پېس) حالت شتون .

- Segmental Zone

سګمنټي زون ، سګمنټي سیمه ، په یوه ځوانه ایمبریو کې هغه پېړه او ضخیمه ظهری برخه د (**Undifferentiated Paraxial Mesoderm**) چې په (**Metamerically**) ډول وېشله شی او (**Mesodermal Somites**) رامنځ ته کوی ، د (**Segmental Plate**) په انډول.

Segmentalisation

په سګمنټونو د وېشنی حالت .

Segmentation

په ورته برخو وېشل کېدنه ، د سګمنټي کېدنې حالت ، لکه په کولمو په پریستالتیزم عمل کې د موادو تېرېدنه او خوځېدنه د مخ په وړاندې ډول سره تر څو د هضم او جذب پروسه بشپړه شی، د (**Cleavage**) په انډول.

- Segmentation Cavity

سګمنټي جوف ، هغه له مایع ډکه شوې مجوفه برخه چې مخ په ودې ایمبریو په بلاستولا (**Blastula**) کې شتون لری ، د (**Cleavage Cavity** او **Blastocoel**) په انډول.

- Segmentation Cell

- **Segmented Worm**
هغه چینجې چې سلینډری جسم لری چې دننه او بهرته سګمنټی بڼه لری.

Segments
سګمنټونه ، برخې، وندې، ټوټې، دهندسې په علم کې قطعې ، کړۍ ګانې : بندونه ، بندکی .

- **Segments of Spinal Cord**
د ملا تیر د نخاع اړوند برخې /سګمنټونه .

- **Segments of Spinal Cord C1-Co**
د ملاتیر د نخاع د (**C1-Co**) ترمنځ سګمنټ برخه .

- **Segments of Spleen**
د توری (طحال) سګمنټونه.

Segmentum
برخه، وندې، ټوټه، قطعه (هندسه)،کړۍ، بند، د (**Segment**) په انډول .

- **Segmentum Anterius**
قدامی سګمنټ ، مخې ته سګمنټ .

- **Segmentum Anterius Bulbi Oculi**
د سترګو د بلبوس قدامی سګمنټ .

- **Segmentum Apicale**
دکین او ښی سږو د ذروی برخې سګمنټ .

- **Segmentum Bronchopulmonale**
د سږو د برانش برخې سګمنټ .

- **Segmentum Cardiacum**
د زړه سګمنټ .

- **Segmentum Hepatis Anterius Laterale Dextrum**
د کبد (ینې) قدامی جنبی کین سګمنټ .

- **Segmentum Hepatis Anterius Laterale Sinistrum**
د کبد (ینې) قدامی جنبی ښی سګمنټ .

- **Segmentum Hepatis Anterius Mediale (Dextrum)**
د کبد (ینې) قدامی متوسط کین سګمنټ .

- **Segmentum Hepatis Mediale Sinistrum**
د کبد (ینې) قدامی جنبی ښی سګمنټ .

- **Segmentum Hepatis Posterius**
د کبد (ینې) خلفی برخې سګمنټ .

Segregate
تجرید کول ، بیلول،جلاکول،ګوبنې کول، یوازې کول، تبعیض کول.

Segregation
1 . د (بیلولو،جلاکولو،ګوبنې کولو) حالت ، بېلتون، توپیر، تبعیض. **2** . د میوزیس په وښنه کې دیوه ارګانیزم دجوړه کروموزومونو د حجراتو جوړېدنې په حالت کې په بیلابېلو جنسونو ویشلو مرحله کې دهر یوه جینونو د الیلونو بېلولو کړنلاره .

Segregator
په جلا ډول هر پښتورګی څخه د متیازو د ترلاسه کولو لپاره وسیله.

Seizure
اختلاج ، شخی، شارن، صرعه، چمبرک کېدنه ، نا څاپی برید یا حمله یا د ناروغی بابېړې ،نیونه ، راتلنه لکه د (ناروغی). د میرګیو (صرعو) منفرده حمله چې اغلباً د صرعې یا میرګیو د نوعیت له مخې پېژندله شی ، د (**Convulsion** او **Epileptic Fit**) په انډول.

- **Absence Seizure**
کوچنی د اختلاج (شارن) حمله چې په فکر او فعالیت کې د یوې تېرېدونکی وقفې په مرسته پېژندله شی او د (**3-Cps**) متناظرو او نوک تېزه څپو سره یوځای کېږی.

- **Adversive Seizure**
یو ډول موضعی حرکی صرعه (پېران نیولې) حالت چې په هغو کې یو لوری ته سترګو ، سر یا بدن ثابت او پیاوړې څرخېدنه شتون لری.

- **Atonic Seizure**
یو ډول (**Absence**) مېرګی چې د عضلاتی ټون په یو ناڅاپي له منځه تللو سره پېژندله شی.

- **Automatic Seizure**
یو ډول مرکب نسبی مېرګی (**Complex –Partial Seizure**) چې په اوتوماتیزمی (خودکاره) حالت سره په ځانګړی توګه په ولاړه یا نیمه قصدی فعالیتونو د تر سره کولو په بهیر کې پېژندله شی.

- **Colonic Seizure**
هغه ډول مېرګی چې په هغوکې د ټونیکی مرحلې پرته پراخ کلونیک انقباض شتون لری.

- **Complex Partial Seizure**
یو ډول نسبی مېرګی چې د صدغی لوب د ناروغی سره تړاو لری او د اوټوماټیزم او هوښ د ناروغیو د بېلابېلو درجو په مرسته پېژندله شی چې وروسته له ناروغ څخه هېرېږی.

- **Seizure Control**
د مېرګی (صرعې) کنټرول او تر قابو لاندې راتګ چې د نرسنګ د محصولاتو پذېرېعه تر سره کېدای شی او د اختلاجونو لېږدنه منځ ته راځی.

- **Seizure Disorder**
د اختلاجونو (تشنجونو، مېرګیو) اختلالونه ، د (**Epilepsy**)

①خوښونه، ټاکنه، انتخاب غوره کول، ② په بیالوجي کې دتکامل دقانون له مخې د ژوندیو د ښوخونو او ژوندی پاتې کېدنې(بقاء) پروسه ، ③ د هغه ځواکونو چار چې په یوه ټولنه کې د بیلابېلو جینوټایپونو د نسبی تکثر کچه ټاکی .

- Directional Selection

یو ډول غوراوی چې په هغه کې کسان تر ډېر پام لاندې راځی چې د یوه طیف په پای کې ځای ولری.

- Disruptive Selection

یو ډول غوراوی چې په هغه کې د یوه طیف په پای کې پراته کسان د طیف د منځ مېشتو کسانو څخه په زیاته پیمانه تر پام لاندې راځی .

- Diversifying Selection

د (**Disruptive Selection**) په اندول.

- Natural Selection

د هغه کسانو یا نسلونو لپاره په پېښونه کې د ژوند شونتیا چې له طبیعی شرایطو سره د همغږی لپاره زیات امکانات لری.

- Sexual Selection

یو ډول غوراوی چې په هغه کې ځانګړی او ټاکل شوې خصوصیات د یوه جنس د مذکرو یا مؤنثو انواعو د جذب لامل ګرځی نو پردې بنسټ د دې ځانګړنو د لرونکو لپاره د ژوند کولو د چانس د لوړ والی لامل ګرځی.

- Stabilizing Selection

یو ډول غوراوی چې په هغه کې د طیف د خواوو کېد شته فینو ټایپونو په پرتله بین البینی هغه تر زیات پام لاندې راځی .

Selective

ټاکنه ، له یوې ډلې څخه د استازو ټاکل ، انتخابي، دغوره اوښه انتخاب خاوند. د (**Selection**) اړوند صفت.

- Selective Abortion

انتخابی زیان / سقط . هغه ډول سقط چې د درملنو په موخه او داختلاطونو مخنیوی لپاره په روغتون کې تر سره شی.

- Selective Absorption

انتخاب جذب ، دا د الکترمګنیټیک وړانګو په ځینو طولی څپو (فریکونسی ګانو) کې د نورو په پرتله پراخه اندازه جذب دئ.

- Selective Abstraction

انتخابی (انتزاع ، ، تجرید، تصفیه ، جلا کول)، انتخابی د حواس الوتنه ، انتخابی پریشان خیالي.

- Selective Acidizing

انتخابی اسیدی کول چې په ځانګړی ځای زون نسج کې اسیدی مواد ترزیق کېږی .

- Selective Amnesia

هغه امنیزیا چې د ځینو پېښو اړوند چې یو څوک نشی کولای په اندول.

- Febril Seizure

د تبې اړوند اختلاج ، چې د بدن د تودوخی درجې لوړ والی حالت کې په ماشومانو معمول ده ، د (**Convulsion**) په اندول.

- Generalized Tonic –clonic Seizure

د مېرګیو لوئې حملې چې د هوش د له منځه تللو او پراخو ټونیک تشنجونو (**Convulsion**) په مرسته د کلونیک اختلاجونو څخه وروسته پېښېږی .

- Seizure Management

د اختلاج (مېرګیو ، تشنجونو ، شارنونو) منجمنټ او سمبالښت ته ویل شی.

- Seizure Medicine

هغه طبی درملنې یا دارو درمل چې د اختلاجونو (مېرګیو ، تشنجونو ، شارنونو) منجمنټ او سمبالښت کې پکاروړله شی.

- Partial Seizure

قسمی اختلاج ، هغه ډول اختلاج چې د د ماغزو د قشر د یوې پېژندل شوې سیمې له رنځ څخه سرچینه اخلی .

- Seizure Precautions

د اختلاج اړوند احتیاطی اقدامونه .

- Reflex Seizure

د رفلکسی (عکسوی) مېرګیو هر یو برید بلل شی.

- Sensory Seizure

①ساده او جزئی مېرګی چې په پاراسینتېزی یا نورو اندېښنو سره مل وی ، ②د حسی محرکونو غبرګونونو په وړاندې رفلکسی مېرګی پېښېدنه .

- Simple Partial Seizure

یو ډول ساده او جزئی موضعی مېرګی چې د هوښ له کمښت پرته وی یا ورپسې د صرعې نور ډولونه راشی چې د (**Aura**) یادېږی .

- Seizure Threshold

هغه اندازه تریشولډ چې د اختلاج لامل شی .

- Tonic Seizure

له کلونیکو انقباضونو پرته د ټونیکو انقباضونو لرونکی مېرګی .

Seldane

د (**Terfinadine**) لپاره سوداګریز نوم دئ.

Seldom

ډیر لږ، یو نیم وار، کوم وار، کله کله، ندرتا.

Select

غوره کېدنه ، انتخابیدنه، خوښونه ، په غور سره خوښوونه.

Selection

په انتخابی ډول د غاړې (عنق) تسلیخ عملیه تر سره کول.

- Selective Neuronal Necrosis

په انتخابی ډول د عصبی (نیورونال) حجرو نکروزیس چې د(ایسکیمیا ، هایپوکسیا او کسرونو) پیښو کې منځ ته راځی.

- Selective Oestrogen Receptor Modulator (SERM)

هغه ډول درمل چې په ځانګړو ایستروجن رسپټورونو باندې اغیز کوی تر څو د هډوکو ضایع کېدنې مخنیوی کوی پرته له لدې چې ایستروجنی رسپټورونو باندې د اغیزوکړی لکه (**Raloxifene Hydrochloride**) او (**Tamoxifen**) غیر ستروئیدی ضد التهاب درملو په څیر چې د ایستروجن انتاګونیست په څیر عمل کوی .

- Selective Operation

انتخابی عملیات ، هغه عملیات چې په بېرنی توګه نه تر سره کېږی او د کره کتنې او ډله ائیز تصمیم له مخې په جراحی سرویسونو کې تر سره کېږی.

- Selective Permeability

انتخابی ډول قابلیت نفوذیه ، هغه ډول غشأ چې یو لږ موادو ته په آسانه ډول د تېرېدو زمینه برابروی.

- Selective Photothermolysis

انتخاب فوټوترومبوزیس ،دا یو ډول لایزر جراحی میتود دئ چې یو لږ جلدی ناروغی پرې درملنه کېږی لکه(**Port-Wine Nevi And Tattoos–Lesions**) درملنه ، د (**Laser Surgery**) په انډول.

- Selective Poisoning

انتخابی مسمومیت ، د (**Selective Inhibition**) په انډول.

- Selective Process

انتخابی پروسه .

- Selective Serotonin Re-uptake Inhibitor

انتخابی سیروټونین بیا راوچتولو نهی کوونکی، هغه درمل چې په انتخابی ډول د سیروتونین موادو راټولو دنده په عصبی سیستم کې په غاړه لری او د انحطاط په درملنه کې پکار وړله شی لکه د (**Fluoxetine**) په څیر .

- Selective Stain

انتخابی رنګول ، انتخابی ډول رنګ ورکول چې په لابراتواری کتنو کې په پام کې لرل شی.

- Selective T-cell Defect

انتخابی ډول د (**T-Cell**) نقیصه .

- Selective Termination of Pregnancy

په انتخابی ډول د بلاربښت پایله ورکول.

Selectivity

انتخابی بڼه ، د انتخاب وړتیا لرل، په فارمکالوژی کې د هغه ډوز په وړاندې د انتخابی وړ اغیزو لرونکی ډوز چې په خاطر راوړی چې د هیپنوزیس دوري څخه وروسته یا د هیپنوټیک موادو تطبیق وروسته پېښه کې څه پلاس نشی راوړلای ، د (**Posthypnotic Amnesia**) په انډول.

- Selective Amputation

انتخابی غوڅول (قطع کول) لکه چې په اضافی ګوته کې تر کېږی.

- Selective Angiography

هغه ډول انجیوګرافی چې پکې د راډیواوپک موادو زرق څخه وروسته د وینې رګونه ښکاره کېږی .

- Selective Arteriography

هغه ډول راډیوګرافی انځور اخیستل چې پکې د راډیواوپک مواد و زرق څخه وروسته د وینې رګونه ښکاره کېږی .

- Selective Attention

انتخابی پاملرنه، په روانپوهنه کې هغه پروسه چې پکې یو څوک وکولای شی په انتخابی ډول یو پیام رواخیستل شی.

- Selective Fracturing

انتخابی ماتېدنه (کسر) ، هغه پروسیجر چې پکې د هډوکی اوږدېدنې یا سمون لپاره ګڼ شمېر ماتېدنې تر سره کېږی او اوهډوکی ته سمون ورکول شی.

- Selective Fusion

انتخابی فیوژن (نښتنه).

- Selective Group

انتخابی ډله ، ټاکلې ډلګی .

- Selective Identification Feature

انتخابی څرګندوونکې منظره .

- Selective Information

انتخابی معلومات ،د (**Communication Theory**) په انډول.

- Selective Inhibition

انتخابی نهي ، انتخابی په شا تنبول ، د (**Selective Poisoning**) په انډول.

- Selective Lipectomy

هغه ډول جراحی عملیات چې پکې شحمی نسجی کتله یا تومور راویستله شی.

- Selective Memory

انتخابی حافظه .

- Selective Mobilization

انتخابی ډول خوځول ، انتخابی تحرکیت .

- Selective Mutism

انتخابی ګُنګی توب ، دا یو ډول فزیکی / روانی ستونزه ده چې پکې ناروغ نه غواړی خبرې وکړی یا خبرې نشی کولای.

- Selective Myocardial Cell Necrosis

په انتخابی ډول د زړه د مایوکارډحجرو نکروزیس چې د(ایسکیمیا ، هایپوکسیا) پیښو کې منځ ته راځی..

- Selective Neck Dissection

- Self-command
په ځان واک، په خپل نفس حاکم، خپلواکي.

- Self-complacency
پرځان مینتوب، له ځانه خوښي .

- Self-complacent
په روانپوهنه کې د ناروغانو (پرځان مین ، ځان ته خوشاله، ځانته غره) حالت بلل شی.

- Self-conceit
په ځان غره توب. په روانپوهنه کې د ناروغانو (ځانته غره توب) حالت بلل شی.

- Self-confidence
په ځان ویسا ، په ځان باور ، په ځان ډاډه توب .

- Self-confident
په ځان ډاډه، په ځان متکی، په ځان باوري.

- Self-conscious
په روانپوهنه کې په ځان (پوه / هوښیار ، آګاه ، خبر،متوجه) حالت بلل شی.

- Self-consciousness
په روانپوهنه کې (ځان کتنه، په ځان شعور، ځان ته پام کېدنه، په ځان خبرتیا ، ځان پیژندنه) حالت بلل شی.

- Self-contained
له ځانه پوره، نااړه مستغني، بې تمې او توقع.

- Self-contradiction
په روانپوهنه کې (دوه ژب توب، تناقض وینه، دوینا دتضاد) حالت بلل شی.

- Self-control
په ځان واک ، ضبط نفس، په ځان اختیار/ کنټرول ، تینګه اراده.

- Self -defence
ځان ساتنه، له ځانه دفاع.

- Self-denial
نفس وژنه، په ځان حرامونه لکه (نفسي لذت).

- Self-denying
د خپلو هوسونو او خواهشاتو وژونکی.

- Self-destruction
په روانپوهنه کې (ځان وژنه، ځان بربادونه، پخپله ویجاړېدنه) بلل شی.د پتولوژی/ بیالوژی له مخې هغه (حجري / انساج ، باکټریاوی/ پرازیتونه) چې ځان پخپله ویجاړوی.

- Self-evident
پخپله ښکاره، څرګند ، بدیهي، جوت، معلومداره.

- Self-examination
پخپله د ځان د بدن د غړو کتنه تر څو پکې ننښې او ناروغی وموندل شی.

- Self-expression
ځان ښکاره کونه، دجذباتو ښکارونه، دخپل شخصیت اظهار

مقدار چې ناوړه اغېزې ښندی .

Selegiline
د پارکینسون ضد درمل چې د هایدروکلورایدی مالګې پتوګه له لېوډوپا او کاربی ډوپا سره په ترکیبی ډول کارېږی.

Selenium
سلینیم ،دا یو غیر فلزی عنصر اړه ډوله (Sulfur) او کېمیاوی ننبنه یې (Se) ده ، اټومي وزن (78.96)، اتومي شمېره ئی (34) ، مخصوصه کثافت (4.79)، ذوب ټکې (221°C) او د جوش ټکې (685°C) دئ .

- Selenium Sulfide
د یو ډول د پخو (Dandruffe) ضد ماده ده چې په موضعی ډول د سر د پوستکی په مخ کارېږی او همدا راز چنیاسه ضد او کراتولایتیک اغېزې لری.

Self-
دا یو مختاړي دئ او د (خپل ځان، پخپله، ذات، نفس، شخص، پرځان مینتوب، خپل چاریتوب، دځان منته، خود خواهي. ځان، په خپل سر) معنی ورکوی .

- Self-abuse
د (Selfharm) په اندول.ځانته ضرر پېښول.

- Self-actualisation
ځان واقعي کول او ځان ته تحقق ورکول، د خپلې نظرئې ته عمل جامه وراغوستل. ځان (ذکاوت ، توان ، بریالی. ودي او پیاوړتیا) ته زیاتوالي بخښل.

- Self-actualization
د (Self-Actualisation) په اندول.

- Self -admitted
هغه ناروغ ته ویل شی چې پخپله یې بستر کېدنې لپاره روغتون ته مراجعه کړېوی او ډاکټرانو نه وی استولی .

- Self- antigen
خپل انتی جن .

- Self-assurance
پرځان باور ، په ځان ویسا.

- Self -care
پخپله د ځان ځارنه ، دځان ساتنه او مراقبت .

- Self -catheterisation
هغه پروسیجر چې پکې پخپله ځانته د کتېتر تېرول کېږی .

- Self -catheterization
د (Self -Catheterisation) په اندول.

- Self-centered
په ځان کې ډوب، پرځان مین ، له نورماله حده ځخه ځانته ډېره پاملرنه او په ځان کې بوختیا.

په ځان ویسا ، په ځان ډاډه توب، پرځان اعتماد.

- Self-reproach

د خپل ځان غندنه، خپل ځان پر کول، ځان ملامتونه.

- Self-respect

د ځان ډپر احترام او د ځان عزت کول ، غیرت، عزت نفس، پت.

- Self-respecting

غیرتي، عزتمند ، حیثیت لرونکی، د عزت نفس ځښتن.

- Self-restraint

په ځان کنټرول، پر هیز ، د ځان مخه (جلو)نیونه.

- Self-retaining Catheter

د کتېټر پرېښول تر هغه مهاله چې ناروغ زړه یې وغواړي او هغه یې پخپله راوکاږي.

- Self-righteous

ځان ریښتونی ګڼونکی، ځان په حقه ګڼونکی.

- Self-satisfaction

له ځانه راضي توب، له ځانه خوښ.

- Self-sufficiency

په ځان بسیاتوب، له خپله ځانه پوره والی.

- Self-sufficing

په ځان بسیا ، له خپله ځانه پوره.

- Self-supporting

په خپلو پښو ولاړ، په خپل مټ ګټندوی.

- Self-sustaining

خپل بار پرخپلو اوږو وړونکی، پرخپلو پښو ولاړ.

- Self-Tolerance

ځانی تحمل / زغمل ، د خپلو انټی جنونو په وړاندې ایمیونولوژیک اغېز.

- Self-will

خپله اراده، ټینګه اراده.

- Self-wounding

د (**Self-Harm**) په انډول.

Selfish

خپل چارې، ځان منونی، خود غرضه.

Selfishly

دخود غرضي په توګه.

Sella

یو زین ته ورته ننوتلې برخه.

- Sella Turcica

ترکی زین ،.هغه تشه برخه چې د وتدی (**Sphenoid Bone**) هډوکی پرسطحه باندې شته والې لری او هلته نخامیه غده (**Pituitary Gland**) پرته ده ، د (**Pituitary Fossa**) په انډول.

Sellar

زینی ، زین لرونکې بڼه . د (**Sella**) په انډول.

لکه (په ښکلو هنرونو کې).

- Self-esteem

یوازې د خپل ځان منله، په ځان مینتوب.

- Self-governing

دځان حکومت، دخپلواکی حکومت داری اړوند.

- Self-governing Hospital

پخپله رامنځ ته شوی روغتون چې تر حکومتی ولکې لاندې نه وی او خومختاره وی ، د (**Hospital Trust**) په انډول.

- Self-harm

ځان ته ضرر رسول ، خپل ځان ټپي کول ، د (**Self-Abuse, Self-Injury, Self-Mutilation, Self-Wounding**) په انډول.

- Self-help

خپل کار پخپله کونه، پخپلو پښو دریدنه، پخپله خپله چاره کونه.

- Self -image

د ځان تصویر جوړول چې پکې د ځان په اړه د (جذابیت ، ذکاوت ، ارزښت اندازې ، ګټو -سودمندی) اړوند انځور جوړېږی.

- Self-importance

ځان ته پخپله اهمیت ورکونه ،ځان ته غره توب، ځان غټ بلنه.

- Self-important

په ځان غره ، ځان غټ ګټونکی.

- Self-mutilation

دعضوی قطع ، تحریف، د (**Selfharm**،**Self-Injury**) په انډول.

- Self-injury

د (**Selfharm**،**Self-Mutilation**) په انډول.

- Self-knowledge

په ځان خبر تیا ، ځان پېژندنه، په ځان پوهېدنه.

- Self-limitated

پخپله محدودېدونکې، د خپلو ځانګړنو له مخې محدودېږی نه د بهرنیو اغېزو په بنسټ ، هغه حالت چې ناروغی په خپل سیر کې پخپل سر ډول (ودرېږی ،روغېږی او له منځه ځې) او محدودېږی.

- Self-love

دځان سره مینه ،خپل خیر غوښتنه•

- Self-made

پخپله جوړشوی، پخپله رسیدلی.

- Self-pity

پرځان زړه سوی.

- Self-possessed

پرځان حاکم، پرځان واکمن، پر ځان زورور، ارام، سوړ مزاجی.

- Self-preservation

ځان ساتنه، ځان ژغورنه، ځان بچونه.

- Self-reliance

Selvage

ژی، مورګه ، څنډه ، کناره لکه (دټوکر ، هډوکو) .

Selvedge

ژی، مورګه ، څنډه ، کناره لکه (دټوکر ، هډوکو).

Selves

د (**Self**)ګڼه شمېره (جمع).

Semblance

ظاهری ورته والی، یو شانته والی ظاهری بڼه، شکل، څېره.

Semeiography

یو د نښو نښانو اړوند توصیف.

Semeiology

د ناروغیو د نښو نښانو اړوند د پوښتنو ګروپېرنو اړوند علمی څېړنیزه تاریچه اخیستلو پوهه او علم ، د ناروغی د نښو نښانو (اعراضو -علایمو) توصیف .د (**Symptomatology**) په انډول.

Semeiotic [1]

د ناروغیو د نښو نښانو پورې اړوند.

Semeiotic[2]

د ناروغیو د نښو نښانو اړوند څېړنه ، پتوګونومونیک.

Semester

سمستر، شپږ میاشتنی، نیم کال (تعلیمي)، په ځینو امریکایي او ارو پایي ښوونځیو او پوهنځیو کې تعلیمي نیم کال.

Semelincident

هغه ناروغی چې یوازې د یوځل لپاره یو څوک نیسی لکه یوه انتانی ناروغی وروسته وروباندې معافیتی سیستم بریالی کېږی.

Semen

منی ، هغه مایع چې د انزال کېدنې پرمهال د نارینه له تناسلی آلې څخه بهر کېږی او د تناسلی غدو افراز او سپرما توزوئیونه (**Spermatozoa**) پکې شتون لری.

Semenal

د (**Semen**) اړوند صفت .

- Seminal Fluid

هغه مایع چې د منی یوه برخه ده او په (بریخ ، منوی کڅوړه) کې جوړېږی.

- Seminal Vesicle

منوی کڅوړه ، هغه کڅوړه چې پکې منی او منوی مایع راټولېږی او منوی قنات په پایله کې پرته ده .

Semenalis

د منی(**Semen**) اړوند صفت .

- Vesica Semenalis

دمنوی کڅوړې پورې اړوند ،د هغه کڅوړې اړوند چې پکې منی او منوی مایع راټولېږی او منوی قنات په پایله کې پرته ده.

Semi

نیم(**Half**)، نیمایي ته نږدې، چک، بخن ، وزمه لکه (تور چک، توربخن ، تور وزمه).

Semicanal

نیمائی کانال ، نیم کانال .

Semicircle

نیمه دایره ، د یوې کړې نیمائی برخه .

Semicircular

نیم دائیره یې ،نیم دائرې ته ورته ، د (**Half A Circle**) اړوند .

- Semicircular Canal

نیم دائیره ئي کانال ، د دننه غوږ د دري ټیوبونو څخه هر یو چې د مایع پواسطه قسم ډول ډکې دی او د بیلانس ساتنې کې رول لری.

- Semicircular Duct

نیم دائیره ئي قنات، د (**Semicircular Canal**) په انډول .

Semicircularis

د نیم دایره یې(**Semicircular**) اړوند صفت.

Semicoma

نیمه کوما ، د نیمه کوما حالت چې ناروغ کېدای شی پکې وپاړېږی او تحریک شی.

Semicomatose

د (**Semicoma**) اړوند صفت .

Semiconscious

نیم پرسد ، نیم په خود ، نیم بېهوښه .

Semidominance

نیمګړې غالب .

Semiflexion

نیمه قبض، هغه حالت چې د نبغ او کاږه ترمنځ د یوه هډ وضعیت ، هغه کار چې داوضعیت رامنځ ته کوی.

Semi-liquid

نیمه مایع ، نیمه جامد .

Semilunar

نیمه کړېز، هلالی ، نیمه سپوږمي ته ورته، هلال ته ورته.

Semi-solid
نمیه جامد ، نیمه مایع. نیم دائیره ئي کانال ، د دننه غوږ د دري ټیوبونو څخه هر یو چې د مایع پواسطه قسم ډول ډکې دی او د بیلانس ساتنې کې رول لري.

- Semicircular Duct
نیم دائیره ئي قنات، د (**Semicircular Canal**) په انډول.

Semicircularis
د نیم دایره یې(**Semicircular**) اړوند صفت.

Semicoma
نیمه کوما ، د نیمه کوما حالت چې ناروغ کېدای شی پکې وپارېږی او تحریک شی.

Semicomatose
د (**Semicoma**) اړوند صفت .

Semiconscious
نیم پرسد ، نیم په خود ، نیم بېهوښه .

Semidominance
نیمګړې غالب .

Semiflexion
نیمه قبض، هغه حالت چې د نبغ او کاړه ترمنځ د یوه هډ وضعیت ، هغه کار چې داوضعیت رامنځ ته کوی.

Semi-liquid
نیمه مایع ، نیمه جامد .

Semilunar
نیمه کړېز، هلالی ، نیمه سپوږمي ته ورته، هلال ته ورته.

- Semilunar Cartilage
هلالی غضروف ، د (**Meniscus**) په انډول.

- Semilunar Valve
هلالی دسام ، دزړه د دواړو والفونو څخه هر یو (**Pulmonary Valve** او **Aortic Valve**) چې له بطینونو څخه وینه د زړه بهر ته شړی .

Seminiferous
د منی (**Semen**) لېږدوونکې یا تولیدوونکې .

- Seminiferous Tubule
هغه ټیوبولونه چې په مرغېږیو جوړ شوی د منی (**Semen**) مایع لېږدوونکې دی .

Seminoma
دا د مرغېږیو (خصیو) خبیث تومور دئ چې د جنینی ناتفریق شوی ګونادی اولیه پریکارسور حجرو څخه سرچینه اخلی .

- Classical Seminoma
کلاسیکه سیمینوما ، دا د مرغېږیو (خصیو) پراخ ډول رامنځ ته کېدونکې خبیث تومور دئ چې د جنینی ناتفریق شوی څووجهی ګردیو حجرو د طنابونو او پاڼو څخه جوړېږی او د ګونادی اولیه پریکارسور حجرو څخه سرچینه اخلی .

- Overian Seminoma
د (**Dysgerminoma**) په انډول.

- Spermatocytic Seminoma
دا تومور د لږ خباثت لرونکی سیمینوما دئ چې د رشتوی کروماتین لروونکو سپرماتوګونیا ډوله حجرو په مټه د پېژندنې وړ ګرځی .

Seminomata
د (**Seminoma**) ګڼه شمېره ده .

Seminomas
د (**Seminoma**) ګڼه شمېره ده .

Seminuria
په متیازو کې د منی اطراح .

Semipermeable
نیمه قابل د نفوذ ، د یو لږ موادو /ذراتو تېرېدو ته د اجازې ورکولو وړتیا لرل .

- Semipermeable Membrane
نیمه قابل د نفوذ غشأ .

Semiprone
نیمه پرمخ ، د هغه وضعیت اړوند چې یو څوک پرمخ پروت وی او زنګنونه او متې یې مخې ته وی او مخ یې یوه اړخ ته اړولې وی.

- Classical Seminoma
کلاسیکه سیمینوما ، دا د مرغېړیو (خصیو) پراخ ډول رامنځ ته کېدونکې خبیث تومور دئ چې د جنینی ناتفریق شوی څووجهی ګردیو حجرو د طنابونو او پانو څخه جوړېږی او د ګونادی اولیه پریکارسور حجرو څخه سرچینه اخلی .

- Overian Seminoma
د (**Dysgerminoma**) په انډول.

- Spermatocytic Seminoma
دا تومور د لږ خباثت لرونکی سیمینوما دئ چې د رشتوی کروماتین لروونکو سپرماتوګونیا ډوله حجرو په متە د پېژندنې وړ ګرځی .

Seminomata
د (**Seminoma**) ګڼه شمېره ده .

Seminomas
د (**Seminoma**) ګڼه شمېره ده .

Seminuria
په متیازو کې د منی اطراح .

Semipermeable
نیمه قابل د نفوذ ، د یو لږ موادو /ذراتو تېرېدو ته د اجازې ورکولو وړتیا لرل .

- Semipermeable Membrane
نیمه قابل د نفوذ غشأ .

Semiprone
نیمه پرمخ ، د هغه وضعیت اړوند چې یو څوک پرمخ پروت وی او زنګنونه او متې یې مخې ته وی او مخ یې یوه اړخ ته اړولې وی.

Semi-solid
نمیه جامد ، نیمه مایع.

- Semi-solid Mass
نیمه جامده کتله .

SEN
د (**State Enrolled Nurse**) لپاره لنډه ننبه ده .

Send
لېږل، استول توغول، ویشتل لکه (دغشی)، چلول، شړل، خپرول یا تیتول (لکه رادیو یې څپې).

Sender
لېږونکې غړې ، استوونکې کس .

Senescence
د عمر زیاتېدنې اړوند پروسه، پیری ، زړښت .

Senescent
دزړښت په حال کې ، مخ په زړښت / پیری ، سالخورده کېدنه ، د عمر د آخری مرحلې په لوړې.

Sengstaken Tube
د بلون سره مل ټیوب چې د خولې له لارې مری ته تېرېږی تر څو وینه بهېدنه ودرېږی دا لومړې ځل د (**Robert William Sengstaken**) امریکائی جراح پواسطه په کال (**1923**) کې جوړه او شرحه شوه .

Senile
بوډا ، زوړ،سپین ږیرې ،شیخ فاني، جسما اوعقلاً له کاره لویدلی ، د زړښت اړوند.

- Senile Cataract
د زړښت اړوند ساد (**Cataract**) ناروغی .

- Senile Dementia
د عقل زوال / له منځه تګ چې په زاړه عمر کې پېښېږی .

- Senile Plaque
په بیضوی ډول سره د ببتا امایلوئیدونو ذخیره کېدنه د دماغ په سیمه کې بلل شی چې په (**Alzheimer's Disease**) کې پېښېږی.

Senilis
د (**Arcus Senilis**) په انډول .

- Arcus Senilis
د (زړښت ، بوډا توب، زوړوالی) اړوند .

Senility
د عقلی / دماغی فعالیت له منځه تګ چې د (بوډا توب، زوړوالی) په وروستی وخت کې رامنځ ته کېږی .

Senior
مشر ، مخکې، وړاندې، د تجربې پلوه د اوچتوالې خاوند ، لوړ، دښوونځي یا پوهنځي وروستی کال ته مربو، په مرتبه کې پورته، اوچت، دښوونځی یا پوهنځي دو روستي کال شاګرد.

- Senior Anaesthetist
مشر انستیزیست کس .

- Senior Consultant
مشر سلاکار او مشوره ورکوونکې کس.

- Senior Doctors
مشر ډاکټر .

- Senior Members
مشر غړې ، مشر استازی .

- Senior Person
مشر کس ،هغه څوک چې په نورو کې مشر وی .

- Senior Staffs
مشر کارکوونکی کسان .

- **Senior Students**

مشر زده کوونکی کسان.

- **Senior Trainers**

مشر روزونکی کسان.

Sensation

احساس، حس ، حسیت، هغه اغیزه چې حسی مرکزونو ته د لېږدېدونکو اعصابو پواسطه د عصبی بهیرونو د هدایت له امله منځ ته راځي، هیجان، پارېدنه ،جذبات.

- **Sensation and Perception Psychology**

حسیت او روانی ادراک .

- **Sensation Disorders**

د حسیت اړوند اختلالونه / تشوشات.

- **Sensation Disturbance**

د حسیت اړوند اختلالونه / تشوشات او ځورېدنې .

- **Sensation Level**

د فزیولوژی له مخې له قدمې ځخه په پورته سطحه (**Level Above Threshold**) کې ګڼل شی.

- **Referred Sensation**

هغه احساس چې د تحریک له برخې او ځای ځخه پرته په بل ځای کې تولید ېږی.

- **Reflex Sensation**

د (**Referred Sensation**) په اندول.

- **Subjective Sensation**

هغه احساس چې په خپله په موجود کې شتون لری او د بهرنی تحریک ځخه سرچینه نه اخلی .

- **Sensation Time**

د حسیت موده ، هغه ډېر لږه پیمانه وخت /موده چې پکې یو تصویر باید درک او احساس کړل شی.

- **Sensation Unit**

دسامعې له مخې هغه وسیله چې د غږ د احساس د لوړېدنې لپاره پکار وړله شی او د غږ اندازه یې **[20 Log10(P / P0)]** ده چې اوس مهال پکار نه وړله شی. (**P**) د غږ د فشار سویه او (**P0**) هغه فشار د غږ دې چې په غوږ کې احساسېږی .

Sensational

پاروونکی، حسي، هنګامه ائیز.د (**Sensation**) اړوند صفت .

Sensationalise

د احساسېدو وړتیا بخښنه .

Sensationalism

د احساس کېدنې د مېتود ځخه په (لیکوالی ، ژورنالیزم او سیاست) کې کار اخیستل.د فلسفی له مخې حسیت یوازې د علمیت سرچینه بلل شی.

Sensationalist

هغه څوک چې د احساس /حسیت اړوند متخصص وی.

Sensationalistic

د (**Sensationalist**) اړوند صفت.

Sensationalizes

د (**Sensationalise**) په اندول.

Sensationalizing

د (**Sensationalise**) منځ ته راوړلو مرحله .

Sensationally

په حسی بڼه ، حسیتی .

Sense

①حس، احساس، تمیز،عقل، شعور،قضاوت، معنا، مفهوم، د حسیت پنځګونی حواس لکه (لیدنه ، اورېدنه ، خوند ، بوی او تماس)، نظریه،② حس کول، حساس کول، درک کول.③هر هغه فزیکی بهیر چې په متې یې محرکونه ترلاسه کېږی او ماغزو ته د ځېرنې او شاربنې لپاره د سیالې (ایمپالس) پتوګه هدایت کېږی .

- **Sense Antenna**

د حس اړوند آنتن لکه په خزندو کې آنتنونه .

- **Sense Body**

حسی جسم ، حسی بدنه ، د بدن د درک او پېژندنې حس . د (**Somatignosis**) په اندول.

- **Sense Bud**

حسی تېغې / جوانې چې ځینې حیوانات ئې د حسیت لیاره پکاروړی.

- **Sense Capsule**

حسی کپسول یا راچاړېره شوې محدوده شوې سیمه .

- **Sense Color**

هغه استعداد چې په متې یې رنګونه درک او سره توپیر کېږی.

- **Sense Data**

د حسیت اړوند معلومات

- **Sense Datum**

هغه معلومات چې منفرده بڼه لری اود حسیت اړوند کارولې شی .

- **Sense Epithelium**

حسی اپیتلیوم ، د بدن د انساجو هغه اپیتلیال چې د حسیت اړوند پکار وړله شی.

- **Sense Experience**

د حسیتونو اړوند تجربه .

- **Sense Impression**

د حسیت اړوند خاطره / اغیزه / ښنه / اثر.

شپږم حس ، د (**Somatignosis**) په انډول.

- Somatic Sense's

د ځانګړو حسونو څخه پرته حسونه چې د (لامسې ، فشار، درد او تودوخې ، کینیستیزیا ، عضلاتی - حشوی ، کله ناکله د تعادل) حس پکې ونډه اخلی .

- Space Sense

هغه حس چې په متې یې په فضأ د شیانو نسبی ترڅ او وضعیت موندل کېږی.

- Special Sense

ځانګړی حسونه ، د (لیدلو ،خوند ، بوی ، تعادل) حسونه .

- Stereognostic Sense 's

هغه حس چې له لاړې یې شکل او قوام موندل کېږی .

- Sense Strand

د (**Sense Mrna**) او (**Coding Strand**) په انډول.

- Sense System

حسی سیستم .

- Temprature Sense

د تودوخې پېژندنې حس، هغه حس چې په متې یې د تودوخی آخذو په مرسته د تودوخی د درجو توپیر پېژندل شی.

- Vistibular Sense

د غوږونو ویستیبولی حس ، د تعادل حس .

- Vibration Sense

اهتزازی حس ، د ارتعاش حس ، دلرزې حس .

- Viceral Sense

حشوی حس ، د هغه حسونو څخ خبرتیا چې له حشوی غړو څخه سرچینه اخلی او دننه (داخلی) رسپټورونه تحریک کوی پدې حسونو کې د (درد ،فشار ، د ارګانونو ډکوالی او حرکت) شاملېږی .

Senseless

بې حسه، بې شعوره، بې سده، بې معنا.

Sensibility

حساسیت،ځیرکتیا ، چټک ذهنی، نازک ذهنی.

Sensible

هوښیار، معقول، ځیرک، باخبره، باشعوره، په عقل برابر.

- Sensible Atmosphere

د احساس وړ اتموسفیر .

- Sensible Heat

د احساس وړ تودوخه .

- Sensible Heat Factor

د احساس وړ د تودوخې فکټور.

- Sensible-heat Flow

د احساس وړ د تودوخې بهیر .

- Sensible Pain

د احساس وړ درد .

- Sense Joint

د بندونو او مفصلونو حسیت /حس ،حسی بندونه .

- Kinesthetic Sense

عضلاتی حس ، د(**Kinesthesia**) په انډول.

- Light Sense

د رڼا حس ، هغه حس چې په متې یې د رڼا کچه معلومېږی.

- Sense Modality

د حسیت اړوند ځانګړنو او خصوصیتونو اړوند موډل.

- Motion Sense

حرکی حس، د سر او بدن په متې له حرکتونو څخه خبرتیا .

- Movement Sense

د (**Motion Sense**) په انډول.

- Sense mRNA

د حجروی مالیکولی بیولوجی له مخې د (**Deoxyribonucleic Acid Molecule**) مضاعفو رشتو څخه جوړه رشته چې د (**Ribonucleic Acid**) جوړېدنې لپاره اړینه برخه ده ، د (**Sense Strand**) په انډول.

- Muscle Sense

عضلاتی حس ، حسی اغېزی لکه له عضلاتو څخه راتلونکی خوځښت یا فشار ، د(**Kinesthesia**) په انډول .

- Muscular Sense

عضلاتی حس ، د(**Kinesthesia**) په انډول.

- Sense of Balance

د بیلانس ساتنې حس ، انډولیز حسیت .

- Sense of Direction

د هدایت او لارښوونې اړوند حس .

- Sense Organ

د غړو (ارګانونو/ هډونو) اړوند حس.

- Sense Organule

د ارګانیولو اړوند حسیت.

- Pain Sense

د محرکونو په متې د رامنځ ته شوی درد د احساس توان.

- Position Sense

په فضأ کې د بدن د وضعیت څخه خبرتیا ، د تعادل د حس او(**Kinesthesia**) دواړو ګډ ترکیب .

- Posture Sense

د (**Position Sense**) په انډول.

- Sense Perception

د درک حس ، د محرکونو په متې د رامنځ ته شوی د درک د احساس توان.

- Pressure Sense

هغه احساس چې د بدن پرسطحه باندې د فشار پوسیله موندل کېږی.

- Sixth Sense

- Sensible Temperature
د احساس وړ د تودوخې درجه .

Sensibility
د احساس کولو توان .

- Deep Sensibility
د (درد ، فشار او حرکت) په څېر محرکونو په وړاندې حساسیت چې تر پوستکی لاندې رسپتورونه فعالوی .

- Epicritic Sensibility
ظریفو محرکونو ته جلدی حساسیت ، دا حالت د تودوخی او خفیف لمس تر منځ د توپیر اجازه ورکوی.

- Proprioceptive Sensibility
ژور یا عمیق حسیت .

- Protopanic Sensibility
په ټیټو درجو کې د تودوخی د او هغه د رد په وړاندې حساسیت چې برخه ائیز ډول سره سیمه ائیز ګرځېدلې وی .

- Splanchnesthetic Sensibility
حشوی حس ، د بدن د احشاوو اړوند حسیت.

Sensible
د احساس وړتیا ، د احساس کولو توان ، د احساسونو د درک توان

Sensibly
په څرګند ډول سره ، په ځیرکتیا سره، دعقل له مخې.

Sensitive
حساس، حسي. هر شئ چې تحریک کېدلای شی یا محرک ته ځواب /غبرګون ورکولای شی ، معمولاً هر هغه شئ چې د محرک په وړاندې حساس وی یا هغه ته چټک ځواب ورکوی.

- Sensitive Altimeter
متناوب حسی وسیله لکه د وینې د فشار ټاکنې لپاره هوائی متغیر عقربه لرونکې وسیله چې د (**Adjustable Barometric Scale**) پذرېعه کار کوی .

- Sensitive Data
حساسه بڼه لرونکی معلومات ، هغه معلومات چې ډېر حساس او دقیق وی .

- Sensitive Female Chord Progression
د ښځینه کورډ (رسی) ودې اړوند حساسیت .

- Sensitive Joint Vetch
د حساسیت لرونکې بڼې بندکې ځانګې او پاڼې .

- Sensitive Lamina
①حساسیتی پاڼه ،② په زولوجی هغه پاڼې ته ورته جوړښت چې نری طبقې لرونکې حساسیتی وعائی نسج اړوند وی . ③ د نرې طبقې لرونکې هډوکې ، غشأ او نور نسجونه .

- Sensitive Paper
نری پاڼه چې فوټوګراف مقصدونو لپاره پکار وړله شی او د رڼا په وړاند حساسه بڼه لری.

- Sensitive Plant
حساسیت لرونکی نبات .

- Sensitive Skin Cleansing Gel
هغه ډول جلدی جیلی پاکوونکی مواد .

- Sensitive Special Operations
د حساسیت اړوند ګڼ شمېر ځانګړی عملیاتونه .

- Sensitive Time
د حساسیت اړوند موده / وخت.

- Sensitive Volume
د حساسیت اړوند حجم / ظرفیت .

Sensitively
په حساسه بڼې سره ، هغه وړتیا چې د حساسیت درک وکړلای شی.

Sensitiveness
حساسیت، نازکتیا.

Sensitivity
حساسیت ، حساس والې ،حساسیت لرلو حالت ، د یوې مادې هغه تر ټولو کم اندازه غلظت چې د سپړنې او څېړنې د میتودونو له لارې په باوری ډول یې کچه ټاکله کېدای شی.

- Sensitivity Analysis
د حساسیت تحلیل کېدنه.

- Sensitivity Function
د حساسیت اړوند دندې / وظیفی .

- Sensitivity Group
حساسیت لرونکې ډله .

- Sensitivity Group Therapy
د حساسیت لرونکې ډلې درملنه .

- Sensitivity Information
د حساسیت اړوند معلومات .

- Sensitivity Level
د حساسیت اړوند تصنیفی درجې .

- Sensitivity Substences
د حساسیت منځ ته راوړونکې مواد .

- Sensitivity Training
د حساسیت اړوند روزنه / ټرېننګ تر سره کول .

Sensitization
①حساسیت منځ ته راوړنه ، حساسیت پېښونه . ②د یوه اولیه معافیتی غبرګون د القأ کولو لپاره د یوه انټي جن

- **Sensitizing Dose**

په تجربوی ډول سره د انتی جن (الرژن) هغه اندازه یا ډوز چې وکړای شی انافیلاکسیس رامنځ ته کړی ، د (**Anaphylactogen**) په انډول.

- **Sensitizing Dye**

په تجربوی ډول سره د رنګونو هغه [انتی جن (الرژن)] هغه اندازه یا ډوز چې وکړای شی انافیلاکسیس رامنځ ته کړی لکه د التراویولټ رنګ ، د (**Anaphylactogen**) په انډول.

- **Sensitizing Injection**

د انتی جن (الرژن) زرق هغه اندازه یا ډوز چې وکړای شی یو څوک حساس کړی او دهغې سره بیا دمخامخ کېدو وروسته د ارزیک غبرګون (انافیلاکسیس) رامنځ ته کړی .

- **Sensitizing Operation Sequence**

د حساسیت پیښوونکو عملیو اړوند لړیو تر سره کول تسلسل منّځ ته راوړل .

Sensitogen

د (**Allogen**)په انډول.

Sensitometer

1 .هغه وسیله چې د هغې په واسطه د فوټوګرافی فلم حساسیت د وړانګو په وړاندې ټاکل کېږی . **2** .هغه وسیله چې د هغې په واسطه د سترګو حساسیت کچې اندازه د وړانګو په وړاندې ټاکل کېږی .

Sensitometry

هغه کتنه چې د (**Sensitometer**) پذرېعه تر سره کېږی .

Sensitory.

د (**Sensory**) په انډول.

Sensival

د (**Nortryptyline**) لپاره سوداګریز نوم چې د تراسیکلیک د انحطاط ضد درمل بلل شی.

Sensive

حسیت لرل ، حسی ، د (**Sensitive**) په انډول .

Sensomobile

د یوې پارېدنې یا تنبه (**Stimulus**) په وړاندې غبرګون ښودنه.

Sensomobility

د (**Sensomobile**) حالت شته والې .

Sensomotor

حسی تحریک ، حسی – حرکی فعالیت (**Sensory And Motor Activity**) دواړو پورې اړوند .

- **Sensorimotor Nerve Centers**

سپارښتنه او تجویز کول . ③د یوه الرژن په وړاندې ځای نیول چې د حساسیت زیادښت لامل ګرځی .

- **Optical Sensitization**

بصری حساسیت .

Sensitize

①حساس کول ، ②حساسه بڼه منځ ته راتګ ، حساس کېدنه ،③ د یوه (الرژن ، انتی جن ،ځانګړې مادې) په وړاندې ځای نیول چې د حساسیت زیادښت لامل ګرځی.

Sensitized

حساسه شوې ، حساسیت موندلې .

- **Sensitized Antigen**

حساس شوې انتې جن .

- **Sensitized Canine Saphenous Vein**

د سپیانو د سفینوس ورید حساسه بڼه .

- **Sensitized Cell**

حساسه بڼه لرونکې حجرې لکه (لمفوسایټونه ، نیوټروفیلونه ، باکتریاوی) چې د ځانګړی انتې باډی ګانو سره یو ځای کېږی او د کمپلکس و منځ ته راوړلو وړتیا لری .

- **Sensitized Culture**

حساس شوې کلچر میتود ، دارګانیزمونو ژوندی بڼې کلچر چې وربانديې انتې سیروم ورزیاتېږی او دا په لابراتواری تستونو کې پکارېږی.

- **Sensitized Erythrocyte Platelet Serology Assay**

حساس شوې اریتروسایټ پلاټیلیټ سیرولوژي ایسي .

- **Sensitized Sheep Red Blood Cells**

د مېږو اړوندسرو کریواتو حجرو حساسه شوې بڼه .

- **Sensitized Stainless Steel**

حساسه شوې پرته له رنګه اوسپنه .

- **Sensitized Tracheal Smooth Muscle**

حساس شوې شزنی ملسا عضلات .

- **Sensitized Vaccine**

حساسه شوی واکسین .

Sensitizer

حساسیت منځ ته راوړونکی ، د حساسیت اړوند فکټور.

Sensitizing

حساسیت منځ ته راوړونه ، د حساسیت پیښوني اړوند پروسه

- **Sensitizing Antibody**

هغه انتی باډی ګانې چې د حساسیت له کبله منځ ته راځی .

- Sensorimotor Ataxia

هغه ډول اټاکسی ناروغی چې دحسی تحریک پذربعه د نخاعی رسی ناروغیو له کبله رامنځ ته کېږی او د (حرکتونو ضعیفوالی ، د پښو د ګوتویو پر بل اوښتنه ، د هډونو د بسط ناکامله بڼه ، د پښو د نوکانو لګېدنه ، لرزانه /ارتعاشی رفتار ، په آسانه ډول غورځېدنه ، په ستونزې سره راولاړېدنه) رامنځ ته کېږی .

- Sensorimotor Examination

دا هغه فزیکی کتنه ده چې پکې حسی او حرکی دندې ازمایینت تر سره کېږی چې د[سپک / سطحی ډول تماس، د ستنې چوخېدنه ، سکونډلو پارېدنه ، پڅه –تېزه ضربه ، اهتزازی تحریکونو ، مونوفیلامنټونو ، عضلی قوتونو، ژورو عکسو (**Babinski**)] په څېر آزمویني پکې تر سره کېږی

- Sensorimotor Nerve Centers

حسی حرکی عصبی مرکز .

- Sensorimotor Pathways

حسی تحریکی تګلارې.

- Sensorimotor Phase

حسی تحریکی پړاو یا مرحله، د (**Piagetian Psychology**) له مخې په ماشومتوب کې د ودې دورې مرحله چې له زېږون څخه تر دوه(**0-2 Years**) کلنی پورې عمر موده په برکې نیسی .

- Sensorimotor Plegia

حسی حرکی ګوزنې (فلج) .

- Sensorimotor Polyneuropathy

د حسی –تحریکی اړوند پولی نیوروپتی ناروغی چې د محیطی اعصابو اړوند ده چې پکې حسیت له منځه ځی.

- Sensorimotor Region

د حسی –تحریکی اړوند سیمه چې د دماغ په قشر کې پرته ده.

- Sensorimotor Theory

سپین زر(نقره) هغه کېمیاوی عنصر دئ چې اټومي شمېره يې (74) ، اټومی وزن يې (107. 868) مخصوصه وزن يې (43.10) ، د جوش ټکې يې (2163°c) او ذوب تکې يې (9619°c) دئ او کېمیاوی نښه يې (Ag) ده، سپین، کاچوغې اوپنجې، زري، زرین (رنګ). دزرو، زري، دسپینو، سپین زروزمه، په سپینو زرو پوښ (جړاو)کول، سپینول.

- Silver Nitrate

دا هغه کېمیاوی جوړښت دئ چې په (Ophthalmia Neonatarum) کې د موضعی انتان ضد په توګه پکارړې.

- Silver Nitrate Toughened

د (سیلورنایتریت ، هایدروکلوریک اسید ، سوډیم کلورایډ یا پوټاسیوم نایتریت)ترکیب چې په اوبو کې د ننویستلو وروسته د سوځوونکو په توګه په موضعی ډول پکارړې.

- Silver Protien

هغه سپین زر چې له پروټین سره یوځای کېدو له کبله کولوئیدی خاصیت مومی چې خفیف صورت کې د یوه موضعی انتان ضد پّه توګه او د ترکیب پیاوړی بڼه کې د یوه فعال مېکروب وژونکی په توګه چې موضعی قابض او تحریکی اغېز لری پکارړې.

- Silver Sulfadiazine

دا یو ډول د سپینزرو لرونکې مشتق دئ چې د ګرام منفی او مثبتو باکتری ګانو د درملنې په موخه (موضعی انتانی ضد) کریمونه په بڼه جوړ دی چې د سوځېدلو ناروغانو درملنه کې پراخه پیمانه کارړې

Silvery

زرین ، سپین زرین ،د سپین زرو څخه جوړ مرکب .

Silvester Method

دا هغه ډول مېتود دئ چې پکې مصنوعی تنفس ورکول شی داکس دشا په تخته پرېباسل شی چې لومړی د مرستندویه کس په ذریعه د هغه لاسونه د سینې لپاسه راوستل شی او بیا د سر لورې ته حرکت ورکول کېږی .د (Holger-Nielsen Method) په اندول.

Simethicone

یوه د باد او نفخ ضد ماده ده چې د ډای مېتایل پولی سلیکان او د سلیکا له جیل څخه جوړه شوېده .

Simian

بیزو ، بیزو وزمه، دبیزو غوندې .

Similar

ورته، په څېر، یوشان.

Similarity

ورته والی.

Similarly

همداسې، په یوښان ، په دې ډول.

Simile

تشبیه (ورته والی).

Similitude

ورته والی، مشابهت: بڼه.

Simmer

وروایشېدل،مړمړایشېدل،شنګېدل (دایشېدوغې)، له قاره خوټېدل،څښهاریکول.

Simmonds' Disease

دا په نښځو کې د زېږون څخه وروسته مهال وینه بهېدنې هغه حالت دئ چې پکې د نخامیه غدې فعالیت فقدان شتون لری او د (نسجی ضایعې ، روښانه هډوکو ، د وخت څخه دمخه زېږنت) پېښېږی دا لومړې ځل د جرمنی عالم (Morris Simmonds) پذریعه په (1914) کال کې شرحه شو .

Simple

1 .ساده، آسان، بسیط،منظم -معمول ،هغه چې ډېر کړکېچن نه وی ، **2** . مازې، تش اصطلاحاً سوچه (لکه سوچ دروا)، سم، سیخ، نیغ، طبیعي، بې تصنعه، شډل، ناپوه، ببړا، شوده. ساده ژوندی (سړی) ببړا ، شوده یو ډول طبي بوټی.

- Simple Epithelium

ساده اپیتلیوم چې د یوې طبقې حجرو څخه رامنځ ته شوې وی.

- Simple Fracture

ساده کسر ، هغه ډول د هډوکو ماتېدنه چې پکې د نهایتونو بې ځایه کېدنه شتون نلری . د (Closed Fracture) په اندول .

- Simple Tachycardia
د (Sinus Tachycardia) په انډول.

Simpleness
ساده توب ، ساده لوحی .

Simplex
د (Herpes Simplex) په انډول.

- Herpes Simplex
د هرپس سیمپلکس ویروس چې په انسانانو کې ناروغی پیښوی ، د تبې خال (تبخال) منځ ته راوړونکې ویروس .

- Simplexvirous
د (Herpes Simplex) په انډول.

Simplicity
ساده توب، اسانتیا ،څرګندوالې، وضاحت، طبیعی توب، بې تکلیفي، جهالت، ببړاتوب.

Simplification
آسانونه، ساده کول ، په څرګنده او آسانه بڼه جوړول .

Simplify
ساده کول، اسانول، رونول، څرګندول.

Simply
په ساده ډول، مازې تش، یواځې، په بشپړډول.

Sims' Position
هغه وضعیت (حالت) د بدن چې پکې یو څوک په کینې اړخ پریوزی چې د هغه کینې مټ هم شاته وی او د هغه ښې زنګون او ورون د قبض حالت لری دا وضعیت معمولاً د مقعدی او مهبل سیمه د کتنې لپاره برابروی او ساده ډول کتل کېدلای شی.

Simul
په هماغه وخت کې .

Simulate
په غېرواقعي توګه ښوول (ښکاره کول)، تظاهر کول، په ځان پوري ترل (اړیکه ورکول) ، پیښې (تقلید) کول، لکه په لېونتوب ځان ټګ اچول (ټګی برګی).

Simulation
تظاهر، ورته والی، پیښې ، تقلید.

Simulator
یو تحریکوونکې شئ لکه د هغه حالت پاروونکې ماشین چې شخص په ریښتینې ژوند کې ورسره مخامخ کېږی .

Simulium
د چیچونکو غوماشو یو جنس چې ځینې ډولونه یې کوربه توب کوی .

Simultaneous
یوځای، په یوه وخت (همزمان)، جوخت، غبرګ.

Simultaneously
یوځای، په یوه وخت.

Simultanagnosis
د لید د حس بشپړتوب نشتوالې پدې توګه چې یو څوک په یوه وخت کې د یوې صحنې له یوې برخې څخه زیات څه نشی لیدلای یا نشی کولای د یوه بشپړ شی پتوګه مختلف (بېلابېل) اجزأ وویني.

Simvastatin
د وینې د غوړو (وازدې) ضد ماده ده چې د وینې د کولسټرول لوړې کچې درملنه کې پکار وړله شی ، د (Atorvastatin) په انډول.

Since
راهیسې لکه (له پروسږ کال راهیسې د ناروغی شتون) ، له یوې مودې (وخت) څخه ، پخوا، دمخه، له یوې مودې راپه دېخوا ، له هغې مودې رهیسې. له هغه وخته څخه.

Sincipital
د (Sinciput) اړوند صفت .

Sinciput
د سر د کوپرې یوه برخه چې پکې ټنډه (مخکینۍ برخه) او پورتنۍ برخه ونډه واخلی ، ټنډه .

Sinequan
د ډګزپین هایدروکلورایډ لپاره سوداګریز نوم دئ .

Sinew
پله ، د یوې عضلې ټینډون ، زور ، عصبي قوت ،دپلو زور ، د (Tendon) په انډول.

- Weeping Sinew
د یوه سیست ډوله کتله چې تر ډېره د لاس په څټ کې لیدله کېږی او ساینویال مایع لری .

Sinewy
پلېور ، غښتلی، مزې.

Sing
بدلی ویل، سندرې بللې، شنګېدل، سونګېدل، زنېدل لکه (دمچی آواز) ،نعت ویل، په شعر یابدلوکې ستایل ، لوبول، په سندرو بوللې،په جوش سره ویل لکهد (بدلو اویا

Sinister

① کیڼ ، په کیڼ لوري کې پروت غړې .
② بدمرغه، شوم، ناوړ، بد ، ټګ.

Sinistr-

دا یو مختاړې دئ او د (کیڼ او کیڼ اړخ) معنی لری .

Sinistra

کیڼ، کیڼ لوري ته .

Sinistrad

کیڼ لوري ته واقع .

Sinistral

په کیڼ لوري پوري اړوند ، کیڼ لاسې کس.

Sinistrality

د غبرګو غړو لکه د (سترګو ، غوږونو، لاسونو ، پښو) څخه په ترجیحی ډول د کیڼ غړی څخه ګټه اخیستنه .

Sinistraural

په کیڼ غوږ سره د غږونو ښه اورېدنه .

Sinistro-

دا یو مختاړې دئ او د (کیڼ او کیڼ اړخ) معنی لری .

Sinistrocerebral

د ماغزو په کیڼه نیمه کره کې پروت یا په هغې پورې اړوند.

Sinistrocular

د کیڼې سترګې غالبوالې .

Sinistrogyration

کیڼ لوري ته څرخېدل .

Sinistromaual

کیڼ لاسې کس .

Sinistropedal

کیڼ پښې ، هغه څوک چې کیڼه پښه ډېره کاروی .

Sinistrotorsion

کیڼ لوري ته څرخېدل لکه په سترګه کې .

Sink

ډوبېدل، ورو ورو کښته کېدل (غرقېدل)،کښېناستل، لوېدل لکه (لمر یا داوبوسطح)، ویجاړېدل، ورانېدل، کښته کښېوتل، نتوتل لکه (سترګې): مخ په ځوړکېدل، کښېناستل لکه (په مغزوکې)، تېټېدل، غور ځېدل لکه (دنرخ). له زوره لوېدل، له برمه لوېدل. پانګه ایښودل.

Sino-

دا یو مختاړې دئ او د (سینوس، **Sinus**) معنی لری .

په ترانو سره) ، په بدلو یوه حالت ته خوب اویا پر مستی راوستل.

Singe

الییل، الوی کول (بهرنی برخه)، نوځول لکه (په اور چې پسه الوی کړی) ،کړول.

Singer

سندر غاړې، بدلزن ، هغه څوک چې سندرې بولې .

- Singer's Nodule

د سندروغاړو او په زور سره وینا کوونکو کې د حنجرې دننه برخه کې د سپین پولیپ/ نوډول رامنځ ته کېدنه .

Single

یوازې، ځانکړې، لوند، جره لکه (یوه جره ناروغی پېښېدنه چې ورسره بله ناروغی مله نه وی یا جره سړې) ، یکې یو، دوه په دوه لکه (پهلوانان چې دوه په دوه مقابله سره کوي)، یو په یو، یوه زړې کس (هغه چې بل څوک ورسره نه وی)، یو کسیز لکه د (کټې). ببلول، غوره کول.

- Single Parent Family

د یوه والدینو څخه رامنځ ته شوې اړوند کورنی.

- Single Photon Emission Computed Tomography

دا هغه ډول د کمپیوټر ټوموګرافی څېړنه ده چې پکې د دماغی وینی بهیر څېړل شی لکه د (**Alzheimer's Disease**) په ناروغی کې .

Singleness

جره توب، یوازې توب، ځانکړې توب.

Singly

په یوازې سر، دوه په دوه.

Singular

1-یو، مفرد ، بې ساری، بې جوړې او بینظیره،
2-یوه زړې لکه (د جره ډول ناروغی. شتون چې اختلاط یې نه وی ورکړې). **3**- عجیبه ، عجیباوغریب،غیرعادی،حیرانوونکې ،نامتعارف.

- Singular Number

مفرده صیغه ، مفرد شمېره.

Singularity

بې ساری توب، خصوصیت.

Singularly

په عجیبه توګه، په بې ساری توګه، په خاص ډول.

Singultus

هټکی کول ، د (**Hiccup**) په انډول.

Sinoatrial

په وریدی سینوس او زړه دهلیز (اُذین) پورې اړوند.

- Sinoatrial Node

د ساینو اټریال غدې اړوند چې دا د زړه عقده (**Superior Vena Cava**) او (**Right Atrium**) په اتصالی برخه کې پرته ده او د زړه نبضان تنظیموی ، (**Sa Node** او **Sinus Node**) په انډول.

Sinobronchitis

د برانشیټ د پرلپسې دورو سره مل د پوزې په ګاونډیتوب سینوسونو کې د مزمن سینوزېټ شتون.

Sonogram

د (**X-ray**) پذرېعه د سینوسونو د راډیوګرافی اخیستنه.

Sinography

د (**X-ray**) پذرېعه د سینوسونو د راډیوګرافی اخیستنې کړنلاره تر سره کول بلل شی.

Sinopulmonary

د پوزې په ګاونډیتوب سینوسونو او سږو پورې اړوند.

Sinuous

کوږوږې، پېچ پېچ (پېچلې بڼه لرل)، تاو راتاو، کوږ.

Sinu -

دا یو مختاړې دئ او د (سینوس او**Sino**) معنی لری.

Sinuatrial

د (**Sinoatrial**) په انډول.

Sinus

①سینوس،خلاء، سورې[په تېره دکوپړې هلته چې دسر اوسږ مو (سپږمو) سره یوځای کیږې] ، یوه ننوتلتیا برخه ، جوف ، کانال ، جېب ،②په هډوکی یا ورید کې د وینې دنډ پدنې لپاره آزاده شوې کانال یا طبیعی رامنځ ته شوې تشه سیمه ،③ یو غېر نورمال کانال یا فیستول چې د زویو (چرک) د وتلو لامل ګرځی.

- Air Sinus

هوائی سینوس ، په یوه هډوکی کې د هوا ډکه فضأ.

- Anal Sinus

مقعدی سینوس ، په لاندینی نهایت کې کځوړه ډوله دهانه لرونکې باریکې (نری) مېزابې چې ریکټال ستونونه سره ښلوی.

- Aortic Sinus

ابهری سینوس .د ابهری جدار (دېوال) او دابهری والف د نیمه هلالی پرو تر منځ یوه پراخه سیمه فضأ . ددې سینوسونو له دوو ځخه اکلیلی شریانونه سرچینه اخلی.

- Carotid Sinus

ثباتی سینوس ، د داخلی کاروټیډ په لاندینی نهایت یوه اتساع چې په خپل جدار کې د وینې فشار د تغیر (بدلون) په وړاندې حساس فشاری رسپټورونه لری.

- Cavernous Sinus

کهفی سینوس ، د ډیورامټیر له دوه سینوسونو څخه هر یو چې نامنظمه بڼه لری ، د سفینوئید هډوکی په دواړه اړخونو کې ځای لری او په منځنی کرښه کې سره اړیکه (لاره) لری پدې سینوسونو کې د داخلی کاروټید شریان او قحفی شپږم عصب زوج ځای لری.

- Cervical Sinus

د جنینی قوسونو په ښیخ کې لنډ مهالې ننوتلتیا چې پرلپسې برانشیال لیندی (قوسونه) په ځان کې رانغاړی.

- Circular Sinus

یو وریدی کانال چې د هایپوفېز په چاپېرکې ځای لری او د دواړو اړخونو د کهفی سینوسونو او بین الکهفی جیبونونوڅخه جوړېږی.

- Coccygeal Sinus

یو سینوس یا فیستول چې د عصعصی هډوکی څوکی ته سم نږدې ځای لری.

- Coronary Sinus

د زړه د اکلیلی ورید وروستنی برخه چې د کیڼ بطین او اذین ترمنځ په اکلیلی مېزابه کې ځای لری او د ښی اذین دننه تشېږی.

- Cortical Sinus

قشری جېب ، د یوې لمفاوی غدې کورټکس کې لمفاوی سینوسونه چې د شوی سینوسونو څخه سرچینه اخلی او تر مېدولاری سینوسونو پورې ځغلېږی.

- Dermal Sinus

ډرمال جېب ، یوه ولادی سینوسی مجرأ چې د بدن له سطحې څخه پیل او د دوه ګاونډیو قطنی فقراتو له جسم څخه تېرېږی او نخاعی کانال ته لاره مومی.

- Dural Sinus's

ډیورائی جېب ، لوی وریدی کانالونه چې د ډیورامټیر د طبقو ترمنځ یو اړیکیز سیستم رامنځ ته کوی چې د (ماغزو وریدونو ، د سر دکوپړی د هډوکو ځینې وریدونه او د سحایاوو پردې) له رقبی وریدونو سره نښلوی.

- Ethmoidal Sinus

غربالی جېب ، د پوزې د ګاونډ کې هغه ایتموئید هوائی جوفونه چې پکې ګډون لری او د انفی مناخرو سره تړاو لری.

- Frontal Sinus

جبهی جېب، د پوزې د ګاونډیو دوه جیبونو څخه یو چې د ټنډې په هډوکی کې ځای لری او د پوزې هماغه لورې سوری سره ئې هر یو تړاو لری ، د ټنډې سینوس.

- Intercovernous Sinus
د ډیورامټیټر دوه سینوسونه چې د کهفی سینوس څخه سرچینه اخلی او عرضی سینوس ته تخلیه او تشبړی.

- Lacteal Sinus's
د شیدو جبیونه، د شیدو د مجرأ ګانو آزادوالي مخکې لدې چې د تی په څوکه کې پرانیستل شی.

- Lactiferous Sinus's
د (Lacteal Sinus's) په انډول.

- Lymphatic Sinus's
لمفاوی جبیونه ،د لمفاوی نسجونو دننه تاوراتاو نامنظمې فضأ ګانې چې له منځ څخه یې لمف تبرېړی تر څو مرسله لمفاوی رګونو ته ورسېړی.

- Marginal Sinus's
د څنډې جبیونه ، کاسه ډوله لمفاوی سینوسونه چې کپسول د کورټیکال پارانشیم څخه ببلوی او د لارې یې کورټیکال سینوسونو لمف ته لاره پیدا کوی.

- Maxilary Sinus's
مګزیلار جبیونه، د پارانزال سینوسونو څخه هر یو چې د مګزیلار هډوکی په جسم کې دواړه خواوو کې ځای ولری او د هماغه لارې د پوزې مناخرو ته پرانیستل کېږی ، د پورتنی ژامنې جبب.

- Medullary Sinus's
د لمفاوی عقدې په مېډولا کې لمفاوی سینوسونه چې د عقدې لمفاوی نسج په یو شمېر میدولاری طنابونو ویشی.

- Sinus Nerve
هغه سینوسی عصبی ځانګه چې د (Glossopharyngeal Nerve) عصب څخه سرچینه اخلی .

- Sinus Node
د (Sinoatrial Node) په انډول.

- Occipital Sinus
د ډیورامټیټر یو یو سینوس چې د مخچې د منځنی کرښې په اوږدو کې پورته لورې ته ځغلی .

- Oral Sinus
فمی جبب ، د (Stomodium) په انډول.

- Paranasal Sinus
د پوزې ترځنګ جبیونه ، په مخاط پوښل شوی هوایی جوفونه چې د سر د کوپرې په هډوکو کې ځای لری او د پوزې له جوف سره اړیکه لری چې (صدغی ، جبهی ، مګزیلار ، وتدی) سینوسونه پکې ورګډېږی.

- Petrosal Sinus Inferior
د ډیورامټیټر یو سینوس چې له کهفی سینوس څخه سرچینه اخلی اوجیګولار (وداجی) ورید ته تشبړی.

- Petrosal Sinus Superior
د ډیورامټیټر یو سینوس چې له کهفی سینوس څخه سرچینه اخلی او عرضی سینوس ته تخلیه او تشبړی.

- Pilonidal Sinus
یو خیرې (زوې ، چرک) پیښوونکې سینوس چې دننه یې ویښته ځای لری او په عمده ډول په عصعصی سیمه کې شتون لری .

- Sinus Pocularis
پروستاتیی او ترایکولی جبب .

- Parostatic Sinus
پروستاتیی جبب ، د احلیل د جدار او سیمینال راوتلتیا ترمنځ بهرنی خلفی ژوره برخه .

- Sinus of Pulmonary Trunk
د ریوی تنې او د ریوی تنې د والف (دسام) د نیمه هلالی پرو ترمنځ یوه کوچنی اتساع .

- Renal Sinus
د پښتورګی په پارانشیم کې یو جوف چې د کلیوی (حویضې ، کالیسونو ، رګونو ، اعصابو او وازدې) په مټه نیوله او اشغال شوې وی.

- Sagital Sinus Inferior
یو کوچنی وریدی سینوس چې د ډیورامټیټر کې ځای لری او د مستقیم سینوس داخل ته پرانیستل کېږی .

- Sagital Sinus Superior
د ډیورامټیټر یو وریدی سینوس چې د سینوسونو په الحاق (Confluence) برخه کې پای ته رسېږی .

- Segmoid Sinus
د ډیورامټیټر یو سینوس چې په دواړه اړخونو کې ځای لری چې د عرضی سینوس پایله شمېرله کېږی ، سینوس په هر لوړې کې د هماغه طرف داخلی جیګولار ور ید ته تشبړی .

- Sphenoidal Sinus
د پوزې د ګاونډ له جوړهسینوسونو څخه یو چې سفینوئید هډوکی جسم کې ځای لری.

- Sphenoparietal Sinus
د ډیورامټیټر له دوه سینوسونو څخه یو چې د کهفی سینوس په قدامی برخه کې تخلیه کېږی .

- Sinus of Spleen
د توری / طحال په نسج پارانشیم کې یو متوسع وریدی سینوس.

- Straigth Sinus
د ډیورامټیټر یو سینوس چې دلوی مغزی مغزی وریدد او لاندینی سجیتال سینوس د پیوستون په ځای کې منځ ته راځی او معمولاً د سینوسونو د سره نښلېدو په ځای کې پای ته رسېږی .

- Sinus Tachycardia
د (Sinoatrial Node) د تنبه له کبله د زړه چټک ټکانونه /ضربانونه ، د (Simple Tachycardia) په انډول.

- Tarsal Sinus
د پوندې (کلکانوس) او تالوس هډوکو ترمنځ سینوس.
- Tentorial Sinus
د (**Straigth Sinus**) په اندول
- Terminal Sinus
هغه ور ید چې په بلاستوم کې د وعائی سیمې په چاپېر ځای لری.
- Transvers Sinus
مستعرض جېب ، د ډیورامټټر د دوه لویو سینوسونه څخه یو ، د ابهر او ریوی تنې په څټ او د اذینونو په مخ کې یوه لاره.
- Tympanic Sinus
صماخی جېب ، د صماخی جوف په خلفی برخه کې پروت یو ژور جوف دئ.
- Urogenital Sinus
یوه اوږده کځوړه چې د جنینی اولیه ژوندون پرمهال د کلواک د وېشل کېدو له کبله منځ ته راځی او په مېرمنو کې (ویستیبول ، احلیل او مهبل) او په نارینه وو کې د احلیل یوه برخه رامنځ ته کوی.
- Uterin Sinus
د بلاربښت په بهیر کې د رحم په جدارونو کې وریدی کانالونه.
- Sinus of Venae Cavae
د بنی اذین یوه برخه چې د پورتنی او لاندینی اجوف وریدونه ورته پرانیستل کېږی.
- Sinus of Venous
①د جنین د زړه په منځ کې وریدی ګډه ژوره چې د لومړنی ابتدائی اذین له خلفی جدار سره نښتې ده ،② هماغه اد اجوف ورید سینوس دئ.
- Venous Sinus
①د جنین د زړه په منځ کې جوف چې بیا وروسته یوه برخه یې په اکلیلی جیب او پاتې برخه ئې په بنی اذین کې جذب کېږی، ②د وریدی وینې بهیر او دوران لپاره یو لوی کانال یا ورید. ③د (**Sinus Of Venous**) په اندول.
- Venous Sinus's of Dura matter
د وریدی وینې کانالونه چې د مغزی ډیورامټټر د طبقو څخه تر منځ یو اړیکیز سیستم پېښوی او وینه ماغزو څخه ترلاسه کوی او د سر دپوستکی وریدونو او یا د سر دکوپرې د ښخ وریدنو ته توئېږی.
- Venous Sinus of Sclera
یو کرپز او څانګه شوې رګ چې د داخلی صلبیې په مېزابه کې ځای لری او د زلالیې په بهرنی لاره کې یو اصلی غړی دئ.

Sinusitis
د جېبونو یا سینوسونو د مخاطی غشأ التهاب خصوصاً په (**Maxillary Sinuses**) کې.

Sinusoid
①یوه سینوس /جېب ته ورته.② د وینې یو ډول وروستی مجرأ چې په نامنظم ډول سره د لوی رګ څخه تر انشعاب وروسته جوړېږی او د ر ټیکول اندوتېلیال نسج پواسطه فرش شوې وی او په (ینه ، زړه ، توری ، پانکراس ، فوق الکلیوی غده . پاروټیډ او کاروټیډ غده او هیمولمفاوی غدو) کې لیدل کېږی.

Sinusoidal
①په یو سینوسوئید کې پروت یا د یوه سینوسوئید په سیمه کې د وینې په بهیر کې اغېز ښندونکي . ②په یوه سینوسی څپې پورې اړوند یا هغې ته ورته.

Sinusotomy
د یوه سینوس (جېب) وازولو او څیرلو عملیات.

Sip
لږ لږ چښل، کوچنی غړپ کول کوچنی غوړپ کول، لږ لږ څکل غړپ، غوړپ، څکه.
- Orally Sip
د خولې له لارې د مایعاتو غړپ غړپ څښل.

Siphon
سیفون، یو نان (نعل) شکله نل چې دهغه په واسطه مایعات له یوه لوښې څخه بل ته توئېږې،یو کوږ شوې ټیوب چې دوه برخې یې مختلف اوږد والې لری چې د اټوموسفیر یک فشار په کاروونې سره له لوړې سطحې څخه ټیټې سطحې ته د مایعاتو د لېږدولو کې تر ګټې لاندې نیول کېږی.

Siphonage
د سیفون وسیلې څخه ګټه اخیستل د بېلګې په توګه د معدې په وینځلو یا د مثانې په تخلیه کې.

Sippy Diet
دا یو القلی رژیم د شیدو او وچ بیسکویټونو څخه جوړ دئ چې د معدې په قرحاتو (زخمونو) درملنه کې په کار وړله شی او لومړې ځل د امریکا د شیکاګو اوسېدونکی طبیب (**Bertram Welton Sippy**)پنامه چې په (**1866–1924**) کلونو کې اوسېده وکارول شو.

Sire
پلار، (دځلور بولو) پلار، نر (نارینه)، عالیجناب ، پلارکېدل، پلار ولی کول.

Siren
دخطر زنګ. زړه وړونکی ښځه، غولوونکې ښځه.

Sirenomellus

د پښو نه لرونکې او د نښلېدنې پنډیو لرونکی جنین.

Sirloin

دغوایه دورانه غوښه، بوټی.

Sirup

شربت، خوږوبی.

-sis

دا یو روستاړې دئ او د وضعیت او شرایطو معنی لری.

SISI

د (Short Increment Sensitivity Index) لپاره لنډه نښه ده.

Sister

1.خور ، هغه انجلی چې د یوه پلار او مور څخه زېږېدلې وی.**2**.د نرسانو مخه وره او تنظیموونکی نرسه .

- Sister in Charge

د نرسانو مخه وره او تنظیموونکی نرسه ،په روغتونونو کې دنرسانو مشره.

- Sisterhood

خورولی، خورتوب.

- Sister-in-Law

ښینه(خوښینه، ښکینه)، ندرور(ایندرور)، ورېندار.

- Sisterly

دخور توب، دخور ګلوی.

Sit

1 .کښېناستل، جلوس کول، غونډه کول، جرګه کول، ډلی کښېناستل، کرار کښېناستل،**2** .جوړراتلل، کښېناستل لکه (جامه)،کښېنول، په ځای اېښودل.

Sit-

دا یو مختاړې دئ او د (خوراک و خوړلو او تغذیې)معنی لری.

Site

ځای، محل، مځکه لکه (دودانی یا فابریکې) ،موقعیت ، سیمه.

- Allosteric Site

د یوه سره انزایم په سر هغه ځای چې زیات کوچنی آیونونه لری کوم چې د سویسترا د پیوستون ځای نه دی خو هغه مهال چې راستنېدونکی ډول کوم اغېزمن مالیکول ورسره ونښلی په انزایم کې د فضأیی بڼود بدلون لامل ګرځی چې هغه بیا د کتلایټیک ځانګړنو /خواصو د بدلون سبب ګرځی.

- Antigen –binding Site

د انتیې باډی د مالیکول هغه برخه چې انتیې جن ورسره نښلی.

- Antigen–combiningSite

د (Antigen –Binding Site) په انډول.

- Binding Site

په انزایمونو او نورو پروټینونو کې په هغه ځانګړو او امینواسیدونو د پاسه د ځانګړو ډلو فضأیی بڼې چې له ځانګړو مرکبونو سره نښلی.

- Site of the Infection

د انتاناتو /مکروبونو اړوند سیمه .

- Operator Site

په اوپرون کې د جوړښتیزو جینونو په ګاونډ کې یوه سیمه چې مهاری مالیکولونه ورسره نښلېدلې دی او په دې توګه په ګاونډی اوپرون کې د جینونو څخه د نسخه اخیستنې د نهی (پېزوان) کېدو لامل ګرځی .

- Restriction Site

د (Dna) په یوه ټوټه کې یوه بنسټیزه ځنځیر چې د محدودوونکې (Endonuclease Enzyme) انزایم پوسیله پېژندل کېږی.

Sited

ځای نیولې ، موقعیت ترلاسه کړې ، سیمه ائیز شوی .

Siting

1- محلی کېدنه ،ځائی کېدنه ،مکان نیول . **2**- قرار نیول ، محل اختیارول .

Sito-

دا یو مختاړې دئ او د (خوراک و خوړلو او تغذیې)معنی لری.

Sitology

د خوړلو او تغذیې اړوند پوهه او علم.

Sitomania

له حد څخه وتلې زیاته پیمانه لوږه، د خوراکی موادو یا خوړو سره ناروغه بڼه لېوالتیا ، دوره ئی ناروغه ډول لوږه.

Sitosterol

د نباتی سرچینې لرونکو استېرولونو او ېېتا سایټوستېرول محصول چې د هایپرکولسترولیمیا ضد درمل دی.

Sitosterolemia

په وینه کې د نباتی سرچینې لرونکو استېرولونو او ېېتا سایټوستېرول محصول له حد څخه زیات مقدار سره شته والی دئ چې د هایپرکولسترولیمیا ضد درمل دی.

Sitotherapy
د غذائی رژیم پواسطه د درملنې یو مېتود دئ .

Sitotropism
د غذائی عنصر شتون ته د ژوندیو حجرو ځواب .

Sitting
د کښېناستې حالت .

- Sitting Position
د کښېناستې وضعیت .

- Sitting up in Bed
په بستر باندې د ناستې وضعیت نیول.

Situate
پروت،واقع،ځای‌ورکول،ځایول،ایښودل.

Situated
ځای په ځای شوې ، موقعیت نیولې .

Situation
حالت، وضع، موقف، ځای، موقعیت، کار، رتبه، شغل، نوکري.

Sit up
هغه ډول کښېناستل چې ملا یې سمه او نېغه وی .

Situs
په د بدن کې د یوه غړی په معمول ځای کې موقعیت نیول ، ځای ، ځایګاه .

- Situs Inversus
دایو ولادی انومالوس حالت دئ چې پکې په د بدن کې د یوه غړی په غېر معمول ځای کې موقعیت نیول دی چې هغه کې غړې ببخایه مقابل لورې کې پروت وی لکه د زړه په شی لوری د صدر کې موقعیت نیول ، د (**Situs Inversus Viscerum**) په انډول.

- Situs InversusViscerum
د (**Situs Inversus**) په انډول.

- Situs Transversus
مستعرض وضعیت نیول ، د (**Situs Inversus Viscerum**) په انډول.

Sitz Bath
هغه کوچنی ډول ګرمابه (حمام) چې پکې یوازې یو څوک کولای شی کښېنی او په هغه کې په ملاسته غځېدلای نشی.

SI Units
دا یو واحد دئ چې بین المللی توګه د اندازې او کچې نیولو لپاره لکه (وزن ، چټکتیا ، روښنائی) په څېر فزیکی حالاتو ټاکنې کې پکار وړله شی د (**System International Unit**) لپاره لنډه نښه ده

Sizable
لږ زیات، نسبتاً ډېر.

Size
اندازه، میچ، کچه (کچ) ، جسامت، جوسه، د یو شی د کوچنیوالی اولویوالی کچې پوهېدل . اندازه کول، په میچ وېشل، دجسامت په لحاظ ویشل. آړ (اهار)، بات.

- Size of Abdomen
د ګېډې د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Arm
د متې د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Breast
د تیيونو (سینو) د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Chest
د ټټر (صدر ، سینې) د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Circumfrence
د محیط (چارپېر) د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Fontanill
د کوپړې شیردان (فونټانیل) د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Head Circumfrence
د کوپړې (سر) دمحیط د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Heart
د زړه د سرحداتو د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Mass
د یوې کتلې د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Neck
د غاړې (عنق) د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Neoborn Child
د نوی زېږېدلی ماشوم د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Thiegh
د وړون د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

- Size of Trunk
د بدن د تنې د کوچنیوالی اولویوالی کچه .

Sizzle
جزجز کول ، ځغول او وریتول لکه (دوازګې یا د وازدې) په څېر.

Sjögren's syndrome
دا هغه سنډروم دئ چې پکې مزمن ډول اوتوایمیون ناروغی شتون لری او پکې [د اوښکو اولاړو غدې د لمفوسایټ او پلازما سل) پدربعه ارتشاح مومی او خوله او سترګې وچوالې مومی] او ددې نښو له مخې پېژندل شی .

Skate
① یوډول سمندري کب چې پلن او هوارجسم او اوږده نرۍ لکۍ لري. ② سِکی وهل ،سکیټ (لفزي ښوئیدونکی دړه چې په بوټانو پوري ترڼ کیږي او په کنګل ښویږي).

Skatole
د (Scatole) په انډول.

Skeletal
اسکلیټ (Skeleton) اړوند صفت ، شکاک،شکي،شکمن.

- Skeletal Abnormality
عضلی - اسکلیټی سیستم اړوند غېرنورمالتیاوو سؤ شکله بڼه.

- Skeletal Anomalities
د (Skeletal Abnormality) په انډول.

- Skeletal Disease
عضلی - اسکلیټی سیستم اړوند ناروغي.

- Muscle Skeletal Paralysis
عضلی - اسکلیټی سیستم اړوند ګوزڼ / فلج.

- Muscle Skeletal System
دهډونود ټولو هډوکو او عضلاتو ترمنځ د جوړښت او بڼې سیستم اړوند ، عضلی - اسکلیټی سیستم اړوند.

- Skeletal Muscle
هغه اسکلیټی عضله چې د هډوکو سره په تماس کې وی او د هډونو د هډوکو حرکت تأمینوی.

Skeletalgia
دبدن د عضلی - اسکلیټی برخې درد.

Skeletization
له حد څخه زیات ډنګرتوب ، له اسکلیټ څخه د نرمو نسجونو بېلول.

Skeletogenous
د اسکلتی جوړښتونو او نسجونو تولیدوونکی.

Skeleton
دهډونو او د ټولو هډوکو او عضلاتو ترمنځ جوړښت او بڼه ، اسکلیټ، اساس / تهداب ،استخوانبندی،خاکه، چوکاټ.

- Skeleton Anatomy
د بدن د عضلی - اسکلیټی برخې اناټومیکه څېړنه او مطالعه.

- Appendicular Skeleton
اضافی اسکلیټی برخه ، د هډونو او پورتني او ښکتني کمربند هډوکی.

- Axial Skeleton
محوری اسکلیټ، د بند محوری هډوکی لکه د(سر کوپړی،پُښتی او قص) هډوکی .

- Skeleton Disease
د بدن د عضلی - اسکلیټی برخې ناروغی.

- Skeleton Histopathology
د بدن د عضلی - اسکلیټی برخې هیستوپتالوژیکه څېړنو علم.

- Skeleton System
د بدن د عضلی - اسکلیټی سیستم.

Skene's Glands
د ښځینه احلیل دننه یوه کوچنۍ مخاطی غده چې لومړي ځل دا غده په (1880) کې دسکاتلندی زېږېدلی امریکائي نسائی عالم (Alexander Johnston Chalmers Skene) پذرېعه چې په (1900–1838) کالونو کې اوسېده شرحه شو.

Skenitis
د (Skene's Glands) د غدې التهاب.

Skeptical
شاک، شکمن.

Skia-
دا یو مختاړي دئ او دا سیوری (Shadow)]معنی لری.

Skiagram
دا هغه اصطلاح ده چې پخوا وختونه د (X-Ray Photograph) لپاره پکارېده.

Skier's Thumb
دا د لاس د ورغوی برخې صدمه او جرحه ده کله چې په مستقیمه توګه یو څوک په هغه حالت و غورځېږی چې پکې د لېګامنټ نېغېدنه او څېرېدنه د اساسی بند برخه کې رامنځ ته کېږی.

Skill
تکړه توب، مهارت، استاذی، وړتوب (لیاقت) ، د یوه ستونزمن کار د تر سره کولو توان او وړتیا چې په کسبی ډول یا روزنې سره ترلاسه کېږی.

- Skill Mix
د ښلابېلو مهارتونو خاوند غړي چې د یوې ډلې یا ځانګړې دندې لپاره اړتیا ورته لیدل شی.

Skilled
تکړه،ماهر ، د مهارت درلودونکی.

- Skilled Plastic Surgeon
ماهره تکړه پلاستیک جراحی ډاکټر.

Skillful

ماهر، تکړه، هنرمند ، د مهارت خاوند کس .

Skin

پوستکی،پوست،پوټکی،څرمن. سپینوول یا دپوستکی‌ایستل ، د هغه لغتونو په انډول چې پیل یې په (**Cut-, Derm-, Derma-, Dermato-, Dermo-**) وی.

- Skin Allergy

د پوستکی حساسیت کلینیکی نښو رابرسېره کېدو مرحله.

- Alligator Skin

د ایکتیوزسوروډرما ناروغی په انډول.

- Skin Disease

د پوستکی ګڼ شمېر ناروغی .

- Elastic Skin

ایلاستیکی پوستکې ، د اهلرز-ډانلوس سنډروم کې لیدل شی.

- Farmers' Skin

د بزګرانوپوستکې چې په اکتینیک الاستوز ناروغی کې لیدل شی.

- Skin Fold

د پوستکی کوت (چین ،فولد) برخه . دپوستکی او تر پوستکی لاندې وازدې طبقه چې په لاس سره پورته رانیول شی او لاندې عضلې یې په هډوکی باندې ځای نیسی .

- Skin Graft

د پوستکی په پلاستیک جراحی کې د یوې برخې څخه بلې برخې ته لېږدول او هلته د پیوندولو لپاره کارول شی.

- Lax Skin

سست پوستکې ، کوټیس لاکسا ناروغی په انډول .

- Skin Lesion

د پوستکی هر راز ناروغی .

- Loose Skin

سست پوستکې ، کوټیس لاکسا ناروغی په انډول .

- Marble Skin

کوټیس مارموراتا ناروغی په انډول .

- SkinOperation

د پوستکی عملیاتونه تر سره کول .

- Skin Polyps

د پوستکی پولیپونو ناروغی .

- Sailor's Skin

د اکتینیک الاستور ناروغی .

- Skin Test

د پوستکی ازمایښت چې پکې یو لږ مواد تزرېق کېږی او د هغه غبرګون څېړل شی.

Skinny

ډنګر،دېر نرې او نازک .

Skip

په ټوپونو تېرېدل، سر سري تېرېدل، پرېښودل، ټوپ وهل، خینجکي وهل، ترینجکی وهل، دانګل،د (ټوپ، خیز) اچول

Skull

د سر کوپرۍ ، جمجمه ، د قحف هډوکی ، دا هغه اسکلېټی برخه ده چې د جمجمې او مخ هډوکو څخه جوړېږی چې ټول ټال (**14**) هډوکی دی او ورته (**Cranium**) هم وائی . ککرۍ، کوټې، سر، دسر کاسه، کرکجن، منفور.

- SkullBones

د قحف (کوپرۍ) هډوکی.

- Skull Fracture

د قحفی هډوکو کسر ، د سر د کوپرۍ هډوکو ماتېدنه .

- SkullSutures

د سر د کوپرۍ هډوکو ترمنځ د یوځای کېدنې برخو درزونه .

Slackness

سستي، ناغېړی، غړندتوب، ورووالی.

Slag

خیرې، خیره، ځک، تفاله.

Slantwise

رېوند، په رېوند توګه.

Slash

①د چاړه پذرېعه د یوې څېرنې/ جرحې منځ ته راتګ . غوڅول، څېرل، چاک کول، چوول. ② ګوزار، وار په تیره شی)، پرهار،③دجامو چاک چې لاندې کالې تر نېکاري.

Slat

نری میله چې پردې پرې څړول کیږي.

Slaughter

حلاله، حلالونه، وژنه، کوتنه، قتل وقتال، ژوبله، ستنه. حلالول، وژل

Slave

① ملهم، اومه لیتی، ②ملهم اینبول،ملهم کول، په زړه ملهم اینبول ،③ کرارول دغلامی، د مرییتوب،مریي، غلام،مرییتوب کول.

Slaver

①لیاړجن، ناړو، لیږو،② له خولې لاړې بهېدل، ناړې

- Sleepwalker

د (**Somnambulist**) په اندول.

- Sleep Walking

د (**Somnambulist**) په اندول.

- Slow-wave Sleep

دا هغه مهال دئ چې پکې سترګې ټینګ ډول سره ترلې وی نبض منظم وی او خوب وړې کس ژور تنفس کوی.

Sleeper

خوب وړی، ویدیدونکی ، خوب وړونکې ، ویده /بیده، اړم یا دړه چې بل شی لکه (داورګاډی پټلی) پرې تکیه کیږي.

Sleepily

په خوبجنتوب، په پرکالی.

Sleepiness

خوبجن توب، خوبیولتوب، خوب وړنه .

Sleeping

خوب کول ، ویده کېدل ، خوب وړنه .

- Sleeping Bed

د بېده کېدنې کټ ، هغه بستر چې ناروغان پرې باندی خوب کوی .

- Sleeping Car

هغه موټر ،بس یا اورګاډی چې دخوب ځای لري.

- Sleeping Pill

د خوب راوستلو ټابلېټونه چې د بارپیټوراټونو مشتقات پکې شتون لری چې خوب راوړونکې اغېزې لری.

- Sleeping Sickness

د خوب راوستونکی ناروغی چې دا یوه آفریقائی ناروغی ده او د (**Tsetse Fly**) پذربعه لېږدوله شی چې د (سردرد ، کسالت ، اوږد مهاله خوب) سره مل وی که درملنه نشی وژونکې ده او ورته د (**African Trypanosomiasis**) نوم هم ورکړل شوېدئ.

- Sleeping Tablet

د خوب راوستلو ټابلېټونه چې د بارپیټوراټونو مشتقات پکې شتون لری چې خوب راوړونکې اغېزې لری ، د (**Sleeping Pill**) په اندول.

- Sleeping Time

د خوب اړوند موده ، د خوب لپاره ټاکلې وخت .

Sleepless

بې خوبه کېدنه ، شوګیرکول ، نارامتیا.

Sleeplessness

د بېخوبې حالت،د شوګیري حالت،د (**Insomnia**) په اندول.

بهېدل.

Slayer

وژونکی، قاتل، ستوونکی.

SLE

د (**Systemic Lupus Erythematosus**) لپاره لنډه نښه.

Sleek

① ښوی کول، ځلاندول، ②ښوی (چالاک غوندې)، ③رون، تیار، مزی لکه (د آس) په څېر، پوست، نرم، مییین.

Sleep

خوب: ،آرام، اصطلاحاً د بدن او فکر دواړو د استراحت مرحله چې په لړ کې یې اراده او هوښ د بشپړ یا برخېزه ځنډ او توقف سره مخامخ وی او بدنی فعالیتونو په برخېزه توګه ودرېدلی وی، ویدو یا بیده حالت ، مرګونې ویدیدل چې پکې شعور نه مختل کېږی، خوب وړل ، بیده کېدنه ، خوب کول لکه د شپې له خوا په بستر کې استراحت کول.

- Sleep Apnoea

دا هغه حالت دئ چې پکې شدید ډول خُراری (خرېدل**Snoring**) او اوږد مهالې تنفسی وقفه چې د د ماغی هایپوکسیا او ورځنی مهال خوبجن او ګنګسیت حالت رامنځ ته کوی.

- NREM Sleep

د سترګو د چټک حرکت ځخه پرته خوب ، د خوب لیدو پرته د خوب ژوره دوره چې په لړ کې یې مغزی څېې پخې او د لوړ ولټاژ ځښتنې وی اوټونومیک فعالیتونه لکه د[زړه درزا(ټکانونه) او د وینې فشار ټیټ او منظم] وی .

- Sleep Off

د خوب وړلو یا یوې خفیفې ناروغی ځخه بیا رغېدو (ریکوری) موندنې حالت بلل شی.

- REM Sleep

د (**Rapid Eye Movement Sleep**) لپاره لنډه نښه ده ، د خوب یوه دوره چې په لړ کې یې مغزی څېې چټکې او د ولټاژ ټیټوالی ځښتن وی اوټونومیک فعالیتونه لکه د[زړه درزا(ټکانونه) ، فشار لوړوالې او تنفس نا منظم وی .دا ډول د (خوب لیدلو، عضلاتی چټکوالی او غېر ارادی حرکتونو ، د سترګو چټکو حرکتونو)]سره مل وی دا ډول خوب په هره شپه کې (**3-4**) ځله د (**80-120 Min**) دقیقو په منځ کې تکرارېږی چې هره دوره یې د پنځه دقیقو ځخه نیولې تر یوه ساعته پورې غځېږی.

- Sleep Terror Disorder

هغه ډول خوب چې یو څوک پکې منظم ډول سره ویښ وی او تروریستي فعالیت (ترهګری ، وحشت) اقدام او یا اختلال پرمهال خوبجنه بڼه لری خو په سهار موده کې هېڅ هم په یاد نلری .

Sleepwalking

د شپې لخوا په خوب کې ګرځېدنه ، د (Somnambulism) په انډول.

Sleepy

خوبجن حالت واقعی احساس ، خوب نیول، خوبجن حالت شته والې ، خوبیولی، پرکاله،خوب ته تللې حالت.

- **Sleepy Sickness**

د خوب ناروغی ، د (Lethargic Encephalitis) په انډول.

Slender

نری، جګ نری، ترنځ،سپک، بې سیکه، کمزوري، لږ، کم.

Slept

د (Sleep) ماضي اودریم حالت (ویده شوې).

Slice

①تره، ترازه ، قاش قاش ، درې لکه (ډوډۍ یاختکي)، تر ازې کول د دماغی نسج ترازې کول د مایکروسکوپیک –پتالوژیک کتنې په موخه ، څیرول، وندې، وندې کول .

② یوډول چاکو چې مثلث ډوله څوکه ولري اوپاخه کبان پرې وباسي. ③ دګلف په لوبه کې داسې وارچې ګین دلوبغاړي ښي لاس ته ورولي.(په ګلف کې) وار کول.

- **Slice of Brain Tissue**

د دماغی نسج نری ټوټه په ټوټه ټوټه ډول ترازې کول د پتالوژیک– مایکروسکوپیک کتنې په موخه.

Slick

① ښوی کول، خوینده، ښوی، ښویه سطحه لکه (داوبو چې تیل وربانديې توی شي).② رند ، چالاک، هوښیار ، ځیرک.

Slide

یوه نری یا نازکه ښیښه ئې طبقه چې د مایکروسکوپیک څېړنې لپاره پکار وړله شی او شیان پرېکښودل شی. ښویېدل، کښېدل، ښوی تیریدل، غلی تیریدل. ښویول ښویېدنه، ښویندی، ښویېندځای، سلایډ، یوه لوحه چې عکس تري په پردې لویږي، د مایکروسکوپیک کتنې لپاره دښیښې ټوټه.

Sliding

د یوې برخې ښوئېدنه په بله برخه باندې .

- **Sliding Hernia**

سلاید شوې فتق . هغه ډول فتق چې پکې یو بل غړې رابنویه او ځای پر ځای شوې وی .

- **Sliding Traction**

هغه ډول کشش (ترکشن) چې د فخذ هډوکی کسر ځای په ځای کولو لپاره وزن په لښګی کې اچول شی.

Slight

①د لږ شدت خاوند ، هغه چې ډېر شدید یا جدی نه وی،نری، نازک، لږ، کم، سپک، کم ارزښته.② سپکول، سپکاوی کول، ارزښت نه ورکول، بې اعتنایي کول. سپکاوی، بې اعتنایي.

- **Slight Accident**

خفیفه پېښه ، د لږ شدت خاوند حادثه .

- **Slight Fever**

خفیفه تبه ، د لږ شدت خاونده تبه.

Slightly

لږ په لږ اندازه ، پّه سپکه اندازې سره .

Slim

①ډنګر (لاغر)،نری، وچ کلک ،هغه چې جګ ندئ، ترنځ، لږ، ناکافي. ②چکړې،ختیینه لاره چې تګ پکې ګران وی ، ختیه.③ ناړې، لېږ، لاړې (هغه ښوی اوسرښناک مواد چې له ځینو حشروتوییږی).

Slimming

د هغه مخصوصې رژیم یا هغه خواړو خوراک چې د لږ کچې کالوری لری او د یو کس له څربه کېدنې څخه مخنیوې کوی.

Slimy

سرښناک، چکړن ، نښتونکې ختیه.

Sling

① مچنوغزه، مچلوغه، مچوغنه ځوړندی ، ② درې څنډې بنداژ ترڅ چې د غاړې په برخه کې ګردې اچول شوې وی چې د متې د تثبیت او نه خوځېدنې په موخه ترڅ کېږی ، غړوندی (چې ژوبل یا مات لاس پکې نیول کیږي) اړتاوول .③پټی،وندنې یا ندنی لکه (دتوپک) ځولی، ارتول لکه (مچنوغزه) الوزول.

- **Mandibular Sling**

د لاندې ژامنې د ځوړند ساتنې لپاره یوه ټولګه چې د داخلی پټرګوئید او ماصغه عضلې څخه جوړه او په د لاندینی او کښتنی ژامنې ترمنځ مفصل له چارې سره مرسته کوی .

- **Subureteheral Sling**

یو ژغورنده او ساتندویه چې په جراحی ډول د عضلاتو یا

Slope
مخپه ځورکېدل، مخځور مایله کېدل،ډډه لکه (دغره ډډه)
اړخي.

Sloppy
چکړن، خټین، خیرن، کګړ، ناولی، چټل.

Slops
اوبلن، نری لکه (ښوروا)، بې خونده، خچني، ناپاکي، ناولی اوبه، جوټه اوبه.

Slot
درز، درغ،سوری، سوړه، غار.

Slouch
کړوپ، ځورندی اوږې. کړوپ تلل، کړوپېدل، ځنګېدل (په تګ کې).

Slough
①د بدن د ژوندیو برخو څخه د ببلوونې په بهیر کې نکروټیک نسج، مړه انساج ، تفلس ، ② پوستکې غورځول لکه (دمار پوستکې اچول).③جبه، ژوره ختې، بې زړه توب. اچول، غورځول.

- Slough Tissue
هغه مړه انساج چې د یوه ټپ یا پرهر لپاسه پراته وی.

Sloughing
د انساجو مړه شوې چې د یوه ټپ یا پرهر لپاسه راټولېږی پراته وی.

- Slough Tissue
هغه مړه انساج چې د یوه ټپ یا پرهر لپاسه پراته وی.

- Sloughing Ulcer
هغه پخوانی اصطلاح ده چې پخوا به د پرمختلونکی حالت قرحې لپاره پکارېده .د (**Phagedenic Ulcer**) په اندول.

Slow
پخ لکه (په ذهن کې پخوالي): ورو، سوکه، وروسته، بیرته پاته لکه (د ساعت بېرته پاتې کېدل)، مړ ژوانديز، سست.

- Slow-acting Insulin
د په کراره اغېزو منځ ته راوړونکې انسولین.

- Slow Component of Nystagmus
په (**Vestibulo-Ocular Reflex**) کې د سترګواساسی حرکت کولوحول.

- Slow Death Factor
د (**Algal Poisoning**) په اندول.

- Slow Diastolic Depolarization
دا په کراره سره ډیاستولیک ډیپولرایزېشن دئ چې د په کراره سره د غشأ پولرایزېشن له منځه تګ دئ چې د سینوسی لېګامنټونو یا مصنوعی موادو څخه جوړېږی او مشانه د لاندینیو اجزاوو څخه پورته ساتی او د فشاری بولی بې واکی په درملنه کې پکارېږی.

Slip
ښوئیدل، ځان ایستل، ښوی وتل، پتالوژی له مخې د فقراتو د ډیسک ببځاېه کېدنه د هغه له نورمال ځای څخه ، د (**Dislocate**) پّه اندول په زولوژی کې هغه حېوان چې بې مودې زېږونه وکړی .②د طب له مخې روانی وړتیا او توان ،هېرېدل، له یاده وتل، شوی وتل (لکه د ماهی یاکب له لاسه)، تېروتل، لوېدل.③ تخته،پل (چې له بېړی څخه ساحل ته راځي) تېښته، ناڅاپي پېښه، سهوه، غلطي لکه (دخولې).

- Slip Knot
وول ،پړی یا رسی ته وول ورکول ، داسې غوټه چې په رسی یابل شی باندې ښوییږي، زندی، غوټه.

- Slipshod
بېباک، بې پروا، کرغیړن، چټل، هغه بوټو نه چې جګې پوندې نه لري.

- Vetebral Disc Slip
د (**Slippeddisc**) په اندول.

Slipped
ښویه شوې ، یو پربل لغزېدل /ښوئېدل.

- Slipped Disc
د (**Displaced Intervertebral Disc**، **Prolapsed Intervertebral Disc**) په اندول.

Slippery
ښوینده، ښوی، چالباز، چمباز، تېز او چالاک.

Slit
په یوه لیکه سره ځیرل (چاک کول). ځیره، نری اوږد چاک.

- Slit Lamp
هغه وسیله چې نرې بیم (**Narrow Beam**) لری او د ځانګړی مایکروسکوپ سره وصل وی او د سترګو کتنې په موخه پکار وړله شی.

Slither
ښخیدل، ښوئیدل ، بهیدل لکه (دچینجي).

Sliver
توتني، تراشه ، توږل شوې توټې.

Slobber
ناړې بهیدل، لاړې بهیدل، په ناړولندول، دمینې څرګندول.

- Slow-releaseBolus

دا هغه فورمولبندی بلله شی چې پکې درمل داسې تنظیمېږی چې په ډېره پیمانه او دوامداره بڼه اخیستل شی او او په کراره سره حل کېږی او په همدې ډول د (**3یا4**) ورځو په لړ کې خوړل کېږی .

- Slow-release Vitamin Tablet

هغه ډول ویټامین لرونکی ګولی / ټابلټونه چې په کراره سره حل کېږی او اوږد مهالی او ډېرې ثابتې اغېزې لری.

- Slow-reacting Substance

د ډېر په کراره سره غبرګون منځ ته راوړونکی مواد لنډه نښّه یې (**SRS**) ده.

- Slow Stroking

دا یو ډول درملنیز مساژ تخنیک دئ چې پکې په کراه سره حرکتونه متداوم ډول د فقراتو لپاسه تر سره کېږی چې پدې لړ کې د غوړوونکو محلولونو څخه کار اخیستل شی او ورته (**Effleurage**) هم ویل شی.

- Slow Suicide

په کراره او آرامه سره ځان وژنه ، دا یو ډول روانی ستونزه ده چې ناروغ په کراره سره د اوږدې مودې په لړ کې ځان سره ناوړه سلوک تر سره کوی لکه (مضر حرکتونه یا یولړ درمل مصرف کوی) تر څو چې ووژل شی.

- Slow-twitch

په کراره ژوول ، دا دهغه سکلېټی –عضلی ضعیفتیا له کبله دئ چې پکې متقلصه عضلی رشتې د لړ شدت فعالیت خاوندې وی.

- Slow Vestibular Stimulation

د رودلو تغذیې درملنې یو تخنیک دئ چې د ناتوانه ماشومانو درملنه پرې کېږی چې پکې (**Parasympathetic Loading**) تنبه او هڅول کېږی .

- Slow-virus Disease

دا یو ډول پخوانی اصطلاح ده چې د (**Spongiform Encephalopathies**) لپاره پکار وړله کېده چې پکې (**Kuru of Humans** او **Scrapie of Sheep**) هم ورګډ پرې او د (**Prion Protein Disease**) پنامه هم مشهوره دی ، دا ناروغی د مېاشتو څخه تر کالونو پورې اوږد مهال نیسی او مرکزی عصبی سیستم اخته کوی.

- Slow Virus Infections

د اوږد مهالې مودې اړوند معندو ویروسی ناروغیو لړی، ده چې اوږد مهالې تلقیحی مودې (**Incubation Period**) لری په کراره سره وده کوی او شدت مومی اساساً د (**Lentiviruses** او **Subacute Spongiform Encephalopathies**) سره تړاو لری او اوس مهال د (**Prion Protein Disease**) پورې اړوند ګڼله کېږی .

حجروې (**Action Potentials**) او (**Atrioventricular Nodes**) په منځ کې پېښېږی.

- Slow Fever

هغه تبه د اوږدې مودې لپاره شتون لری لکه په بروسیلوزیس ناروغی کې.

- Slow Infection

هغه انتان چې اوږد مهالې (**Incubationperiod**) لری او د (**Slowvirus** یا د **Prion**) له کبله رامنځ ته کېږی.

- Slow-milking Cows

هغه ډول غواګانې چې د شیدو ورکړې لپاره شپږ (**6 -4 Minutes**) دقیقې څخه ډېرې مودې ته اړ کېږی چې دا د تېیونو د ډېر کوچنیو او تنګو معصرو اوسوریو په شته والی دلا لت کوی

- Slow Motion

په ډېره کراره بڼه سره حرکت تخنیک دئ چې د معمول څخه پکې حرکت په کراره توګه وی لکه (د ویډیوئي فلمونو په کراره حرکت بڼه).

- Slow Muscles

په کراره سره د عضلی حرکت اړوند لکه د[(**Type I, Slow Twitch**) او (**Typeii,Fasttwitch**)] په څېر .

- Slow Neutron

په فزیک کې هغه نیوټرون چې د (**100Electronvolts**) څخه ټیټه (**Kineticenergy**) ولری .

- Slow Oxidative

په کراره بڼه د تحمض (اوکسیډېشن) فعالیت تر سره کول .

- Slow Pain

دا هغه ډول ناخوښه د درد احساس دئ چې د ګڼ شمېر ساینپټیک سیمو[(**Slow-Conducting**) او (**Non-Myelinatednervefibers**)] لارو څخه تېرېږی او بیا وروسته له هغه دماغ ته رسېږی او محسوسېږی.

- Slow Pathway

په کراره تګ لاره ، په کارډیولوژی کې غېرنورمال کانډکشن تګ لاره ده چې په زړه کې کومه د پوهې وړ دندې نه تر سره کوی او د (**Atrioventricularnodalreentranttachycardia– AV Block،AVNRT**) د منځ ته راتلو د لړ خطر سره مخامخ کېدنه پېښوی .

- Slow Pulse

سوکه سوکه او په کراره سره نبض چې د ضربانونو اندازه یې د (**60 Beats/Min**) څخه ټیټه وی او په زاړه کسانو او (**Beta-Blockers**) درملو خوړونکو کې لیدل شی.د (**Bradycardia**) په اندول.

- Slow Release

په کراره سره آزادېدونکی .

- Slow- wave Factor
د کراره څپو درلودونکی فکټور اړوند .

- Slow-wave Sleep
هغه د خوب کولو موده چې پکې ویده کس ژور خوب کې وی او خپلې سترګې نه ښوروی پدې موده کې نخامیه غده (**Pituitary Gland**) خپل (**Hormone Somatotrophin**) هورمون ترشح کوی.

Slowly
په کراره سره و سوکه سوکه ډول . ورو ، په کراری.

Slowness
سوکه توب، پڅوالی، ورو والی.

Sluder
دا د (**Greenfield**) پنامه یو امریکائی د حنجرې او ستونی متخصص (**Laryngologist**) ډاکټر دئ چې په (**1865-1928**) کالونو کې اوسېده او ګڼ شمېر مبتودونه او طبی نظریې یې څرګندونې یې کړېدی .

- Sluder Disease
د (**Sluder Syndrome**) په اندول.

- Sluder Guillotine Tonsillectomy
د (**Sluder Guillotine**) د ټانسلونو د جراحی عملیات مبتود دې چې پکې د ستونی د لوزې عملیات او لېری کول تر سره کېږی .

- Sluder Headache
د (**Sluder Syndrome**) په اندول.

- Sluder's Neuralgia
د (**Sluder Syndrome**) په اندول.

- Sluder Sphenopalatine Neuralgia
د سُفینوپلاټین برخې نیورالجی . د (**Sluder Syndrome**) په اندول.

- Sluder Syndrome
داد سردرد او عصبی دردونو یوه بڼه ده چې پکې یو ډول مبهم او ناڅرګنده د (پوزې ، تنډې ، سترګو کاسې) درد چې دپنځم عصبی زوج دمګزیلاری څانګې تعصیب برخې کې شتون لری چې د مخ ډېروبرخو او اوږې لورې ته غځېږی او هغه مهال زیاتوای مومې د (**Sphenopal Atineganglion**) برخې دتنبه او پارېدنې – تخریشی بڼه رامنځ ته شی او سردرد تر سر لیک لاندې لوستل شی.

Sludge
په یوه مایع کې جامده یا نیمه جامده معلق مخلوط چې کېدای شی سرېښناک یا پرته له سرېښېدنې بڼه ولری.
[زرنه، خټه، چکړ، زرنه، رانځړه].

- SLUDGE Syndrome
هغه عرضی بڼه سنډروم چې د څانګړو مرځېږیو(**Mushrooms**) خوراک څخه (**15–60mins**) وروسته رامنځ ته کېږی او د (خولې،لاړو زیاتوالې ، اوښکو توئېدنې زیاتېدنې ، تبول او غاښلې موادو زیاتېدنې ، معدې التهاب ، زړه بدوالی ، او موسکارین فعالیت زیاتېدنې له امله د حدقې منقبض کېدنه ، براډی کارډیا) سره مل وی.

- Sludged Blood
هغه وینه چې پکې سرې کریوې د یوی کتلې په څېر ننښتنه ولری دا هلته پېښېږی چې د وینې بهیر هلته لږ وی لکه په کپیلری برخه کې .

Sludging
د یوه محلول څخه د جامدو ذراتو کتلې جوړښت راویستل.

- Sludging of Blood
د رګونو دننه اګلوټینېشن ،هغه وینه چې پکې سرې کریوې د یوی کتلې په څېر ننښتنه ولری دا هلته پېښېږی چې د وینې بهیر هلته لږ وی .

Slug
دا یو ډول خپرېدونکې ناروغی ده چې د باغونو اړوند طاعون دئ او دردسر پېښوونکې ده چې د (**Metaldehyde Poisoning**) پورې اړوند بلله شی او په څارویو کې معمول ده او ښائي د (**Syngamus Trachea**) د (**Harbor Encysted Larvae**) خوړلو له کبله پېښه شی.

Sluggish
لټ، ټنبل ، سست، ورو ، غړند ، بې ودې، پرځای ولاړ.

- Sluggish Cognitive Tempo
یو ډول تشریحی اصطلاح ده چې مغلوب ډول (**Adhd-Pi**) ډله کې شمېرل شی او د (تفریطی فعالیت ، **Extroverted** بهر لیدنه،تحمیلګر-سرباری او مزاحم ډول ، ټنبل ، د ورځې خوا خوب لیدنې) احساس شتون لری.

- Sluggish Metabolism
1 .د تایروئید غدې هورمونو کمښت یا لږ اندازې تولید او دندې تر سره کولو اړوند ، **2 .**د (**Hypothyroidism**) په اندول .

Sluggishness
لټیې،ټنبلی کول ، سستي، غړندوالی.

Slumber
ویدېدل، پرېشانی وړل، خوب، پرېښاني.

Slumberous
د [خوبولی (هغچې خوب ورځې) خوبیولی، خوبجن (خوبزن)، خوب راوړونکی،آرامه کوونکی] اړوند ، کرار، غلی.

Sm
دا د سامریم(**Samarium**) پنامه کېمیاوی فلزی

Smash

ټوټې ټوټې کېدل، په زور لګېدل، ټکر خوړل، بربادول، تس تس کول، چټول، ماتونه، بربادونه، تړک لکه (دټکر غږ)، یو ډول الکولي مشروب، بریالی.

Smear

د مایکروسکوپیک کتنو او څېړنو لپاره د نسجې ټوټې (وینې ، مخاط ، خیری ، هډوکی ، او نورو برخو) د نمونې چمتو کول چې پر سلایډ باندې د نظر وړ مادې د خپرولو له لارې چمتو کېږی ، داغ، غوړول، ککړول، خیرنول.

- Pap Test Smear

د (Papanicolaous Test) په انډول .

- Smear Test

آزمایښتی نمونه ، د (Papanicolaous Test) په انډول .

Smegma

سمېګما ، هغه غوړین سپین بڼه د بد بوی لرونکی ماده چې د قضیب د ګلانس پر شاوخوا کې تر پریپیوس (Foreskin) لاندې راټولېږی.

Smegmatic

د (Smegma) اړوند صفت .

Smell

بویول، ترسږ موکول،د پوزې له لارې بویېدلو حسیت ، تر سږ مو کېدل بوی، دشامې حس چې د پوزې جوف کې یې احساس منځ ته راځی او د شامې عصب(Olfactory Nerves) له لارې سیالې دماغ ته رسېږی ، د (Aroma, Odor, Scent)په انډول.

- Smell a rat slang

هسې انګېرل یا حدس کول چې یوڅه غلط پېښېږی.

- Smell Blood

د بل چا په مصرف (لګښت) د ښه بوی احساس یو ښه فرصت دئ. د (Smell the Roses) په انډول.

- Smell Brain

دماغی بوی حسیت، هغه ډول اصطلاح ده چې لږ فقراتو سیستم لرونکو کې د خپل ژوند پاېښت لپاره د بوی حس له لارې کار اخلی.

- Smell Disorder

د نیورولوژی له مخې د بوی د حس اختلال دئ چې (Olfactory System تخریب ،د پوزې بلاک ، بلاربښت، دماغی ترضیض ، ټومورونو ، مزمن رینیټ) له کبله ښائی په موقت یا تل پاتې وی ډول سره شتون ولری.

- Smell Out

دبوی له لارې تر لاسه کول لکه کله چې یو هډوکې ښخ کړل شی عنصرلپاره لنډه نښه ده په خاورو کې نادر ډول موندل شی کېمیاوی اټومي وزن یې (150.36) ،اټومی شمېرهیې(62)،مخصوصه کثافت یې [7.520(25°C)] ،دجوش ټکې یې(1,794°C) او د ذوب ټکې یې (1,072°C) دئ (Valence 2, 3) ولانسه دئ .

Small

ووړ، کوچنی، کمکي، لږ، کم، بڅری، خاشه، نرۍ لکه (د غږ نرۍ والې) ، هغه چې غټ (لوی) نه وی.

- Small Children

کوچنې ماشوم چې د (1او 10) کلونو ترمنځ عمر ولری .

- Small Cyst

کوچنۍ سیسټ .

- Small For Dates

هغه ماشوم چې د مودې له پلوه بشپړ نه وی او وزېږول شی.

- SmallIntestine

کوچنۍ کولمې (اثناعشر ، جیجینوم ، ایلیوم) برخه په کولمو کې .

- Small of the Back

د تنې د شا منځنۍ برخه چې د اوږې کتف څخه ښکته واقع وی .

- Smallpox

کوی، ننکۍ (چیچک)، دانې.دا یوه انتانی شدیده بڼه ناروغی ده چې لېږدېدونکې بڼه لری چې د (جلدی سرې مخې ، جلدی اندفاع ګانو چې کوچنی بڼه ندبې او کتلې پرېږدی) اوس مهال د واکسینونو د تطبیق له کبله پېښې کمښت لری ورته (Variola) هم ویل کېږی.

- Small Red Spots

ګڼ شمېر کوچنۍ رټې (خاپې، لکې) بلل شی چې د بدن په یوه برخه کې راڅرګندېږی.

- SmallStomach

کوچنۍ معده ، هغه معده چې د عملیات وروسته یې اندازه کوچنۍ شوې وی او له کبله یې لږ خواړه کول شی.

Smallish

وړوکی‌غوندې،کوچنی‌شانته.

Smallness

وړوکوالی، کوچنیوالی.

Smart

سوځېدل لکه (دمچۍ دچیچلو په اثر)،سوی کول، څړیکې وهل، څانګې وهل ، ځیرکی.

Smartly

په ځیرکۍ سره .

Smartness

ځیرکتیا ، هوښیاري.

(Pericallosal Pial Plexus) څانګې د (Pericallosal Sulcus) لورې ته وسعت مومی او بیا د هغه څخه پورته لورې ته منحنی (Distinct Upward Lycurved Vascular Blush) د کپیلری فیز په آنجیو ګرافی کې ترسیم کېږی.

- Smile Surgery

دا هغه جراحی عملیات دئ چې پکې د مخ ګوزنې (وجهی فلج) یوې لورې لوښدنې مخنیوی کېږې او د تقلصی عضلاتو تخریب او پښنې کوونکو عضلاتو سستوالی (شل توب) اصلاح کېږی

- Smile Training

دا یو د زده کړو اړوند پروګرام دئ چې پکې د ډاکټرانو او طب زده کوونکو لپاره موډیولونه جوړېږی او د شونډو او تالو درزونو جراحی عملیاتی زده کړه ورکوله شی.

Smirch

داغ لګول، خیرنول، لړل، ککړول داغ، خیره، ککړونه.

Smirk

بېباکه موسکېدل، بېځایه خندل. دبېړا توب خندا، دبې عقلی موسکا.

Smith

① دا د (Hamilton Othanel) پنامه امریکائی مایکروبیالوژیست وؤ چې د جنیټیک او انزایمونو اړوند ئې ګڼ شمېر طبی څرګندونې کړیدی نوموړې (1931) زېږېدلې او په (Nobel Prize) کال کې یې د (Restriction Enzymes) کشف لپاره د نوبل جائزه (1978) ترلاسه کړېده، ② څوک چې دفلز اتو څخه شیان جوړوي یا فلزي شیان ترمیموي، سټېک (څټک) وهونکی، پښ.

- Smith-Baker Microscope

دا یو ډول (Interference Microscope) دئ چې (Polarizedlight) لری او په لابراتورونو کې استعمال لری او ګڼ شمېر کتنې پرې تر سره کېږی.

- Smith-Baskerville Medium

د (Smith-Baskerville) اړوند زرعیه محیط چې د کلچر لپاره کارول شی.

- Smith-Boyce Operation

دا هغه دول عملیاتی پروسیجر او کړنه ده چې پکې د کلیوی پارانشیم لپاسه خلفی – جنبی شق (Posterolateral Renal Parenchyma Incision) تر سره کېږی او د پښتورګی هغه ډېره چې څانګې لرونکی او د کلیسونو اړوند وی راویستله کېږی. د (Anatrophic Nephrotomy) په انډول

- Smith's Fracture

د لاس د مړوند بند څخه پورته برخه کې د (Radius) هډوکی کسر دئ چې پکې ښکته فرګمنټ قدام ته بې خایه کېږی.

د بوی له لارې سپې هغه بیا پیدا کوی.

- Smell Receptors

د بویولو اړوند رسپټورونه چې د بوی احساس پښنولو کې اصلی رول لری ، د (Olfaction) په انډول.

- Smellthe Roses

د خوند په مهال په کاره سره وخت تېرول.

- Senses of Smell

د بوی احساس ، شامی حسیت.

- Smell the Smoke

د دود بوی احساس چې د اورلګېدنې او سګرټ دود ولو پرمهال تر پوزې کېږی.

- Smell Test

د بویولو آزمایښت چې دا یو (Metaphorical Test) دئ چې معمولاً د قانونی او څارنوالی په پښنوڅېرنو کې تر سره کېږی.

Smellable

د بوی وړ تیا لرونکې ، د بوی وړ .

Smeller

هغه څوک چې د بویولو عمل تر سره کوی ، بوییوونکې کس.

Smelling

د بوی لرل ، بوی ناک حالت ، د بوی منځ ته راتګ .

- Smelling Liquid

دبوی لرونکې مایع ، اوبلنه بوی ناکه عطری مایع.

- Smelling Salts

د امونیا کریستالونه مالګې بڼه چې د ډېر قوی بوی لرونکې دئ.

- Sweet-smelling Roses

د خوږ بوی لرونکې ګلاب ګل /عطر .

Smelly

بوین، بوی ناک ، هغه چې بد بوی ولری.

Smelliness

بوی لرل ، بوین والې ، بوی ناک والې .

Smile

موسکا، مسېدنه، خندا، مسکېدل، مسېدل، خندېدل، خندول، مسکول، مسول ، یوه خوله خندا.

- Smile Lines

د مخ په برخه کې د خندا په لړ کې د خطونو /کرښو منځ ته راتګ

- Smile Reconstruction

د (Smile Surgery) په انډول.

- Smile Sign

د خندا علامه ، د راډیولوژی له مخې د خندېدو نښه چې دا پښنه په دماغی انجیوګرافی کې موندل شوېده چې پکې د

او د (**Alpha-Hydroxybutyric Acid**) پکې زیاتوالې مومی چې د (**Oasthouseodour**) لامل ګرځی ، د (**Methionine Malabsorption Syndrome**) په اندول .

- Smith-Strang Syndrome

د (**Methionine Malabsorption Syndrome**) په اندول .

Smithereens

ټوټې، مېده میده (ورکوټې ورکوټې) ،کوچنۍ شوې ټوټې ،ماتې شوې قطعې،خُرد اوخمیر.

SMO

د (**Safe Motherhood Officer**) لپاره لنډه نښه ده .

SMO

د (**Second Medical Opinion**) لپاره لنډه نښه ده .

SMO

د (**Senior Medical Officer**) لپاره لنډه نښه ده .

SMO

د (**Site Management Organisation**) لپاره لنډه نښه ده .

SMO

د (**Surveillance Medical Officer**) لپاره لنډه نښه ده .

SMO

د (**Supramalleolar Orthotic**) لپاره لنډه نښه ده .

Smock

ګونځی ، ګونځی کول. ګنډې، کباړې (چپنه) چونې چونې کول.

Smog

د چاپیریال اتموسفیر ککړتیا چې د تودې او نمجنی مرطوبې هوا چې د دود سره مل وی له کبله رامنځ ته کېدل دی.

Smoke

لوګی کول، دود. لوګی کول، دود کول: څکول لکه (دسګرټ)،ساتل لکه (دغونبو، کبانو اونور).

- Smoke Inhalation

د دود د انشاق کولو حالت چې د سوځېدنې له کبله د تنفس پذرېعه (ګاز ، تپ ، دود ذرات) سرې ته وردننه کېږی او دا حالت رامنځ ته کېږی.

- Smoke Inhalation Injury

د (**Smoke Inhalation**) اړوند جروحاتو ناروغی .

- Smoke Injury

د دود د انشاق کولو حالت چې د سوځېدنې له کبله د تنفس پذرېعه (ګاز ، تپ ، دود ذرات) سرې ته وردننه کېږی چې پکې د سرې او تنفسی سیستم (ریوی اذیما ، اسفیکسیا) حالت پیښېږی او مرګ د تنفسی خپګان (اختناق) له کبله منځ ته راځی.

د (**Reverse Colles' Fracture**) په اندول .

- Smith-Hodge Pessary

د (**Smith-Hodge**) اړوند دبلاربښت مخنوې کوونکی پساری وسیله ده

- Smith Incision

دا هغه ډول څیرل (**Incision**) دئ چې پکې معمولاً د جذری (**Radical Mastectomy**) څخه وروسته د پوستکی راټولول او ترمیم ساده کېږی.

- Smith-Indian Operation

دا د سترګو د ساد (ګل **Cataract**) د کپسول دننه لېږی کولو عملیاتی کړنلاره او تخنیک دئ ده د (**Smithoperation**) په اندول

- Smith-Lemli-Opitz Syndrome

دا یو ډول سنډروم (مجموعة الاعراض) دئ چې لومړې ځل د (**David W. Smith**) پنوم امریکائی ماشومانو متخصص طبیب په چې په (**1926-1981**) کالونو کې اوسېده بیا وروسته تر هغه (**John Marius Opitz**) په (**1935**) کال کې شرحه کړ ، دا یو ارثی سنډورم دئ او په (**Autosomal-Recessive Trait**) ډول له والدینو لېږدول شی چې پکې ګڼ شمېر ولادی انومالی ګانې لکه د (**Microcephaly, Mental Retardation, Hypotonia, Incomplete Development Of Male Genitalia, Short Nose With Anteverted Nostrils, And Syndactyly Of Second And Third Toes**) شتون لری.

- Smith's Method

د (**Smith's Operation**) په اندول

- Smith's Operation

دا د سترګو د ساد (ګل **Cataract**) د کپسول دننه لېږی کولو عملیاتی کړنلاره او تخنیک دئ ده د (**Smith-Indianoperation**) په اندول.

- Smith-Petersen Nail

هغه فلزی مېخ چې د فخذی مات هډوکی د غاړی برخې تثبیت پرې تر سره کېږی او دا لومړې ځل د ناروې هېواد کې زېږېدلی د اورتوپیدی جراحی عالم (**Marius Nygaard Smith-Petersen**) پذرېعه چې (**1886–1953**) کالونو کې اوسېده په کال (**1931**)کې شرحه او استعمال کړ.

- Smith-Riley Syndrome

هغه سنډروم چې پکې(**Multiple Hemangiomas, Macrocephaly** او **Blurred Optic Discs**) شتون لری او آنجیوما ګانې یې د زېږون څخه وروسته رابرسېره کېږی او غټوالې مومی .

- Smith-Strang Disease

دا یو (**Autosomalrecessive**) حالت دئ چې د (**Convulsions and Mental ،Hyperpnoea ،Albinism Retardation after Methionine loading**) اوصافو لرونکې دئ

- Smoke-free Workplace
هغه چاپېریال چې پکې دود اولوګی (سګرټ ، چلم ، پایپ او نور) اړوند څیزونه ونه کارول شی .

Smokeable
د دود کولو او څکلو وړتیا لرونکی مواد .

Smokeless
بې لوګیه، پرته له دوده څخه .

Smoker
څکوونکی ، لوګې کوونکې کس.

- Smoker's Cough
د سګرټ څکوونکو اړوند د ټوخی ناروغی چې (وچ ډول استماتیک ټوخي) شتون لری او په ډېر اوږده مهال او ډېرې پیمانې سګرټ /چلم څکوونکو کې منځ ته راځی.

- Smoker Data
هغه تعداد شمېر معلومات چې د (By 75% ↑) ډېر شمېر خلک چې د (20 Yrs) څخه ډېر عمر یې سګرټ /چلم څښلی وی.

- Smoker 's Palate
دستونی غوړ او ستونې اړوند حالت چې د سګرټ/چلم څښلو له کبله یې (د تالو برخه التهابی کېږی ،د لعابیه غدواتو اذیما ،هایپرکراتوز ، د تماکو په وړاندې غبرګون) شتون لری .

- Smoker 's Patch
دا یو غېر نورماله حالت دئ چې پکې دخولې او فرج برخو د مخاطی غشأ کې سپینې لکې او خاپې رامنځ ته کېږی ، د (Leukoplakia) په انډول.

- Smoker 's Tongue
د سګرټیانو ژبه ، د (Leukoplakia) په انډول.

Smoky
لوګن، دودکوونکی، لوغړن ، لوګې لرونکې .

Smooth
ښویه ، هغه سطحه چې ورباندې (غېرمنظموالې ،زیږوالې ، راوتلې استطالې) شتون ونلری ، هموار، پوست، نرم، بې تکلیفه، آسان، خوندور ، روان لکه (عبارت).

- Smooth Brain
دا د نیورولوژی له پلوه د دماغ غېر نورماله حالت دئ چې د نورو سندرومونو (Miller-Diekersyndrome,Norman-Robertssyndrome) څخه جلا یا ورسره یوځای رامنځ ته شی او د [(Absence–Agyria یا Incompletedevelopment–Pachygyria of Cerebralgyri، Clinicalmicrocephaly اختلاج، Profoundmentalretardation،Seizures ژور عقلی تأخر او Growthretardation د ودې تأخر ، د رودلو ستونزې Feedingdifficulties ، د حرکی فعالیت خرابوالې ،Impairedmotoractivity] ځانګړنو لرونکې دئ .د (Lissencephaly) په انډول.

- Smooth Breathing
په ډورامتر باندې هغه برخه چې د فقری کانال او ډیورامتر ترمنځ پرته وی .

- Episcleral Space
د بولبر فسیا او د سترګو د ګاټی ترمنځ د صلبیې پورته فضأ.

- Haversian Space
د هاورسن مسافه ، د هاورس کانال .

- Iliocostal Space
د دوولسمې پښتی او د ایلیوم د تېغې تر منځ مسافه .

- Intercostal Space
د دوه ګاونډیو پښتیو تر منځ فضأ .

- Interglobular Space
هغه نامنضمی فضأ ګانو چې د غابنو د ریښې دننه او د عاج په بهرنی سطحه کې واقع دی.

- Interpleural Space
د دوه پلورائی طبقو تر منځ فضأ، منصف یا مډیاستینوم په اندول.

- Interstitial Space
بین الخلالی فضأ .

- Retroperitoneal Space
خلف البریتوانی فضاً ،د ګډې د خلفی جدار او صفاق تر منځ فضاً.

- Retropharyngeal Space
خلف البلعومی فضاً ، د ستونی د بلعوم په څټ کې فضاً چې اریولی نسج لری.

- Retropubic Space
د عانی تر شا (خلف) فضاً .

- Retzius Space
خلف العانی سیمه ، پرې لمف فضاً.

- Subarachnoid Space
د سختې شامې او عنکبوتیه تر منځ فضاً ، تر عنکبوتیه لاندې سیمه.

- Subdural Space
د ډورامټر اوعنکبوتیې لاندې فضاً.

- Subgingival Space
د تر وریو لاندې فضاً .

- Subgingival Cervice Space
د (**Subgingival Space**) په اندول.

- Subpherinic Space
تر حجاب حاجز لاندې او د ډیافراګم د ګاونډیو غړو ترمنځ فضاً.

- Subumblical Space
تر نامه غوټی لاندې دریې غوړې فضاً.

- Thenar Space
د منځنی مېتاکارپ هډوکو او د (**Flexor Policis Longus**) عضلی د ټینډون تر منځ فضاً.

- Third Space
درېیمه فضاً .

- Zonular Space
د سیلیاری زنول د فایبرونو ترمنځ له لمف څخه ډکه فضاً.

Spansule
هغه درمل چې د کپسول په بڼه جوړشوېدی او په کراره بڼه په معده کې آزادېږی.

Spare
اضافه ، زیاته برخه ، هغه چې په ببړنی حالت کې پکارېږی.

- Spare Beds
اضافی کټونه په روغتون کې .

- Spare Part
اضافی برخې ، اضافی ټوټې او پرزې .

- Spare Part Surgery
هغه ډول جراحی چې پکې اضافی پرزې پکاروړلې شی لکه د هډوکو او بندونو تعویض کوونکې پرزې.

- Spare Set
اضافی سیت .

- Spare Time
اضافی وخت .

Spared
اضافه پاتې شوې .

Sparganosis
د پلنو چینجیانو په لاروائی بڼې (**Sparganum**) انتان سره منتن کېدنه چې تحت الجلدی نسجونه نیسی او فیبروز او التهاب رامنځ ته کوی.

Sparganum
د پلنو چینجیانو [(**Gana**) د (**Spiromotra**) او (**Diphillobothrium**)] جنسونو لاروائی مرحله چې د (**Sparganosis**) ناروغی پېښوی .

Sparing
اضافی کول ، اضافه ساتنه ، زیاته پاتې کول.

Spasm
شخی ، تشنج ، یو ناڅاپی شدید او غېر ارادی عضلاتی تقلص ، د یوه بهیر لرونکې مجرا او کانال یا خولې ناڅاپه او لنډ مهالې تنګېدنه .د (**Cramp**) په اندول

- Bronchial Spasm
د سږو د قصباتو سپزم او تنګوالې چې د عضلی جدار د تقلصونو له امله په استمابرانشیال کې منځ ته راځی .

- Carpopedal Spasm
د لاس یا د پښې د غټوګوتو سپزم چې په تېتانی کې لیدل شی.

- Clonic Spasm
هغه سپازم چې د کلونیک انقباضاتو له امله منځ ته راځی.

- Facial Spasm
د مخ د هغه برخه عضلاتو سپزم چې د مخ دوجهی عصب پواسطه تعصیب کېږی چې د مخ ټول یا یو اړخ په برکې نیسی.

- Habit Spasm
عادتی سپزم ، عادتی تشنج .

- Infantile Spasm
د شدیدو مایوکلونوسونو سره یوځای سنډروم چې تر یوه کال کم عمر ماشومانو کې رابرسېره کېږی او د مغزی ټولیزو وېجارېدنو سره یو ځای وی.

- Intention Spasm
د ارادی حرکتونو د تر سره کولو پرمهال عضلاتی سپزم .

- Muscular Spasm
عضلی سپزم .

- Myopathic Spasm
هغه سپزم چې د عضلاتو ناروغیو سره لیدل کېږی .

- Noding Spasm
د سرننبه لرونکی حرکتونه چې په کوچنیو ماشومانو کې له نیستاګموس سره یو ځای وی.

- Painful Spasms
دردناکه سپزمونه چې د التهاباتو پرمهال سپزم سره مل وی.

- Saltatory Spasm
د پښې د پنډې کلونیک سپزم چې د ودرېدلو په مهال غورځنګیز او فنری حرکتونه رامنځ ته کوی.

- Sphincteric Spasm
د معصراتو اړوند سپزم .

- Stomac Spasm
د معدې اړوند سپزم .

- Synic Spasm
د زېړون اړوند سپزم ، د (**Risus Sarcodinicus**) په انډول .

- Titanic Spasm
تېتانوس (**Tetanus**) ناروغی.

- Tonic Spasm
ټونیک سپزم .

- Toxic Spasm
مسمومیتی سپزم ، د مسمومیت پرمهال د زهرو توکسین موادو له کبله منځ ته راغلې سپزم .

- Uretric Spasm
د حالب اړوند درد اوسپزم شتون .

- Vascular Spasm
د رګونو اړوند سپزم .

Spasmo-
دا یو مختاړې دئ او د (تشنج ، سپزم ، شخی) معنی لری .

Spasmodic
سپزموډیک ، د سپزم طبیعت چې د شخی پر مهال منځ ته راتګ کوی ، وخت په وخت منځ ته راتلونکی سپزمونه.

- Spasmodic Pain
د سپزم له کبله دردونه .

Spasmolysis
د سپزم پای ته رسېدل، د سپزم له منځه تګ .

Spasmolytic
د سپزم له منځ وړونکی ، هغه درمل چې د عضلاتو تشنج او شخی رفع کړلای شی لکه هایوسین درمل.

Spasmophore
سپزم منځ ته راوړولو ته لېوالتیا ، سپزم پېښوونکی .

Spasmus
سپزم تشنج ، شخی .

- Spasmus Nutans
د سر له حرکتونو سره یو ځای سپزم لکه د سترګو چټک حرکتونه .

Spastic
د (**Spasm**) اړوند صفت ، د عضلاتو د سمدلاسه تقلصونو اړوند .

- Spastic Colon
سپزم لرونکی کولون کولمې ، د (**Mucous Colitis**) په انډول.

- Spastic Diplegia
د ولادی بڼه لرونکې دماغی فلج (**Cerebral Palsy**) ډول دئ چې د پښو د لینګیو برخه اخته کوی ، د (**Little's Disease**) په انډول.

- Spastic Gait
سپزم لرونکی رفتار او تګ کول چې پکې لینګی شخ او سپستیکه ډول حرکت تر سره کوی .

- Spastic Pain
سپزم لرونکی بڼه درد .

- SpasticParalysis
د (**Cerebral Palsy**) په انډول.

- Spastic Paraplegia
د پښو د اندام د یوه اړخ فلج چې له (**Stroke**) وروسته پېښېږی.

Spasticity
شختوب ، د سپزم اړوند طبیعت او ځانګړتیاوی چې پکې اندامونه د منفعله (**Passive Movement**) حرکت په وړاندې مقاومت څرګندوی .د (**Rigidity**) په انډول.

Spatium
فضأ، خلاء ، تش منځې او لوی-پراخ ځای .

Spatula
کوولی ، یوه پلنه ،اواره او انعطاف لرونکې او د لږ ضخامت څښتنه آله چې په یوه صیقلی سطحه باندې د یوې مادې د اوارولو لپاره پکار وړله شی .

Spatulate
د پخ او مسطح نهایت څښتن .د یوه طولی څیرې والی د رامنځ ته کولو له لارې په یوه تیوب ډوله جوړښت کې یو لوی سورې رامنځ ته کول .

Spavin
په عمومی ډول یو اګزوستوز چې د آس د پښې د ښنګری دننه د ټیبوټارسل بندونو په لاندینی برخه کې اغلباً مېتاتارسونه اخته کوی.

Spay
د هګۍ ځالو (تخمدان) ویستل .

SPCA
د (Serum Prothrombin Converion Accelerator) لپاره لنډه نښه ده او د سېروم پروترومبین د اړونې چټکوونکې (Viii-Factorیوتحثری فکټور دی) معنی لری .

Speak
خبرې کول چې د ګڼ شمېر لغتونو د یوځای کېدنې څخه لاس ته راځی.

- Speak up
په لوړ غږ سره خبرې کول.

Speaking
وینا کول ، خبرې اترې کول .

Special
ځانګړی ، اختصاصی ، مخصوص .

- Special Antibody
ځانګړې انټي باډی ګانې .

- Special Antigen
ځانګړې انټي جنونه .

- Special Branch
ځانګړې څانګه .

- Special Care
ځانګړې څارنه.

- Special Care Baby Unit
په روغتون کې د ماشومانو د څارنې ځانګړې څانګه .

- Special Diet
ځانګړې خوراکی رژیم .

- Special Drugs
ځانګړې درمل .

- Special Health Authority
د روغتیائی خدموتونو تر سره کولو لپاره په برطانیه کې ځانګړې پلاوی .

- Special Hospital
ځانګړې روغتون لکه د روانی -عقلی ناروغانو لپاره .

- Special Room
ځانګړې خونه لکه په روغتون کې د جدی څارنې خونه.

- Special School
ځانګړې مدرسه لکه د بې وزلو او ناتوانه معیوبو ماشومانو لپاره مدرسه .

Specialisation
اختصاصی کول ، د طب یوه په یوه ځانګړې برخه چې د یوه ځانګړی څانګې لپاره په درملنه بوخت وی د (Specialization) په انډول .

Specialise
په یوه خاص او ځانګړې موضوع او فعالیت ته پاملرنه کول ، د (Specialize) په انډول.

Specialised
اختصاصی شوې، د (Specialized) په انډول. .

Specialised Hospital
اختصاصی روغتون لکه د سترګو روغتون.

- Specialised Skills
ځانګړې مهارت لکه په طب کې جراحی .

Specialise In
د ځانګړو ناروغانو یا یوه ځانګړی ناروغی څېړنه او درملنه ، د (Specialize In) په انډول.

- Specialise in Children
د ماشومانو ځانګړې برخه .

- Specialise in Haematology
د وینې هیماتولوژی اړوند ځانګړې څانګه .

Specialism
د (Speciality) په انډول.

Specialist
متخصص ،د یوې ځانګړې برخې کارپوه ماهر ډاکټر .

- Anaesthesia Specialist
د بېهوښۍ متخصص ډاکټر .

- Cardiology Specialist
د زړه د ناروغیو متخصص ډاکټر .

- Dermatology Specialist
د پوستکی د ناروغیو متخصص ډاکټر .

- ENT Specialist
د غوږ ،پوزې اوستونی د ناروغیو متخصص ډاکټر .

- Gastroentrilogy Specialist
د هضمی د ناروغیو متخصص ډاکټر .

- Gyne-Obstetric Specialist
د نسائی -ولادی ناروغیو متخصص.

- Heart Specialist
د زړه او رګونو ناروغیو متخصص.

- Laboratory Specialist
د لابراتواری څېړنو متخصص.

- Medical Specialist
د طبی چارو کارپوه او متخصص.

- NeurosurgerySpecialist
د عصبی جراحی ناروغیو متخصص.

- Nursing Specialist
د روغتیا پالنې او نرسنګ اړوندچارو متخصص.

- Orthopedic Specialist
د هډوکو د ناروغیو متخصص

(**Microorganism**) ، ځانګړې ،خاص ډول ، مشخص، روښانه،واضح،دقیق**2**- ویژه، خاص، اختصاصي ، مختص، **3**- په بل پورې تړلې او وابسته **4**- په طب کې د ځانګړې درمل چې د خصوصی ناروغیو لپاره پکار وړل کېږی .

- Specific Absorption

ځانګړې جذب .

- Specific Causes

ځانګړې لامل دناروغیو لپاره ، واضیح علت اوسبب .

- Specific Character

ځانګړې اوصاف اوکرکتر .

- Specific Disease

ځانګړې ناروغی .

- Specific Drugs

ځانګړی درمل .

- Specific Duty

ځانګړې دنده او وظیفه .

- Specific Gravity

مخصوصه وزن ، ځانګړې دروند والې،د (**Relative Density**) په انډول.

- Specific Humidity

ځانګړې لوندوالې او رطوبت .

- SpecificImpulse

ځانګړې نبضان یا سیاله ، ټکان،سائقه.

- Specific Micro-organism

ځانګړې مېکروب / انتان.

- Specific Resistance

ځانګړې مقاومت .

- Specific Search

ځانګړې څېړنه او تحقیق .

- Specific Signs

ځانګړې نښه لکه د ناروغیولپاره ځانګړې نښه .

- Specific Therapy

ځانګړې درملنه .

- Specific Treatment

ځانګړې درملنه .

- Specific Urethritis

ځانګړې یوریتریټ چې د سوزاک (**Gonorrhoea**) له امله پېښېږی.

Specificity

ځانګړتیا، د ځانګړیتوب کېفیت او وضعیت ،په یو آزما ښت کې منفی ځواب /غبرګون چې پرته له ناروغی څخه حالت وی دا د (**Sensitivity**) سره په څېړنو کې پرتله کېږی.

- Ophthalmology Specialist

د سترګو اړوند ناروغیو متخصص.

- Specialist Registrar

په روغتون کې د ځوانو ډاکټرانو څخه هغه چې د تخصص اړوند زده کړې کوی او مشر ډاکټر وی.

- Pathology Specialist

د پتالوژېک څېړنو اړوند متخصص.

- Pediatric Specialist

د ماشومانو د داخله ناروغیو متخصص.

- Surgery Specialist

د جراحی اړوند ناروغیو متخصص.

Speciality

1-اختصاصی ، مشخص شوې فعالیت. د (**Specialism**) او (**Specialty**) په انډول. **2**- ویژګي ، په یو چا پورې ځانګړې خاصیت یا صفت تخصص **3**- تخصصي رشته /ځانګه ، تخصصي کار.

Specialty

د (**Specialism**) او (**Speciality**) په انډول.

Speciation

د تکامل او ودې بیولوژیکې پروسې له لارې په نباتاتو او حیواناتو کې د نویو ډولونو او (**Species**) رامنځ ته کول او جوړول بلل شی.

Speciational

د (**Speciation**) اړوند صفت .

Specie

د ورته اوصافو لرونکې.

Species

نوع، یوه ډله ژوندی ځیزونه (ژوی) چې د ورته اوصافو لرونکې وی چې [دوه رګهشوی (**Hybridize**)،پیوندکېدو] پذرېعه رامنځ ته شویوی .

- Type Species

اصلی ډول یا نوع چې له مخې یې جنس توصیف کېږی .

Speciesism

په محېطی ساینس /علم کې هسې یوه عقیده چې د حیواناتو ټول نوعې او ډلې ښکته بڼه لری نو د انسانانو د ښېګڼې او فایدې لپاره منځ ته راغلی دی .

Speciesspecific

یوه خاص ډول ځانګړنه .

Specific

1- په یوه ډول پورې ځانګړې لکه د نری رنځ

یوه قاب کې یوه جوړه عدسیې چې له لیدنې ستونزې حل سره د مرستې لپاره پکار وړل کېږي .

- Spectacle Sign

دا هغه علامه (نښه) ده چې ګرد محاط ډول (**Osteosclerotic Rim**) سره په وتدی (**Sphenoids**) هډوکی او سر هډوکو کې منظره جوړوی او د (**Idiopathic Hypercalcemia**) له کبله پیښېږي .

Spectinomycin

د سټرپتومایسیس سپکټاټیلیس څخه پلاس راځی انتي بیټیک درمل دی هایدروکلورایدی مالګه بڼه لری او د سوزاک په درملنه کې پکار وړی .

Spectra

د (**Spectrum**) ګڼه شمېره ده .

- Different Spectra

بېلابېل (مختلف) ډول طیفونه .

Spectral

د (**Spectra**) اړوند صفت .د یوه طیف پذرېعه تر سره شوې.

Spectrin

دسروکریواتو د حجروی غشأ په سایتوپلازمی سطحه کې له ګلایکو فورین سره ننبلېدلې پروټین چې د سرو کریواتو ټاکنې له مخې ارزښت لرونکی دی.

Spectrography

د (**Spectrum**) لپاره (**Photographic Film**) فلم مسلسل ثبت کړنه بلل شی.

Spectrometry

په یوه طیف (منشور) کې د کرښو د فریکانس او د څپو د اوږدوالو ټاکل بلل شی.

Spectrophotometer

د یوه طیف پذرېعه د نور دحس د اندازې کولو لپاره ماشین ، د تېرېدونکې روښنائی (رنا) د مقدار ټاکنې له لارې په محلول کې د رنګونکی مادې د مقدار ټاکنې لپاره ماشین .

Spectroscope

د طیفونو د(شننې ، څېړنې او پیښونې) لپاره ماشین .هغه وسیله چې د طیف (**Spectrum**) تحلیل لپاره پکار وړی .

Spectrum

طیف ، منشور ، د الکترومقناطیسی څپو د څپو[د سره (**Red**) څخه تر بنفش (**Violet**) پورې] د اوږدوالی څخه انځورشوی نری پتی چې د انکسار یا انعکاس څخه منځ ته راځي.

- High Specificity

لوړخصوصیت یا ځانګړتیا دامعنی لری چې پکې د غلط مثبتوالی اهمیت لږ دئ .

Specimen

یوه اخیستل کېدونکې بېلګه یا نمونه ، د آزمایښت تر سره کولو لپاره یوه کوچنۍ نمونه .

- Specimen Blood

دوینې نمونه د لابراتواری آزمایښت لپاره .

- Specimen Bottle

د نمونې لپاره بوتل .

- Specimen Collection

د نمونو ټولګه . هلته ګڼ شمېر نمونې راټولې شوېوی.

- Specimen Management

د نمونې په لاړې کولو چارو سمبالتیا او مدیریت.

- Specimen Page

د نمونې پاڼه .

- Specimen Pus

د زوي یا خیری نمونه د لابراتواری آزمایښت لپاره .

- Specimen Radiograph

د نمونې راډیوګرافی اخیستنې پروسې ثبت .

- Tissues Specimen

د انساجو نمونه د پتالوژیک آزمایښت لپاره .

- Urine Specimen

د تشو متیازو نمونه د لابراتواری آزمایښت لپاره .

Specious

1- معمولا همراه او ملګری خو ناباوری، محتمل کېدونکې .**2**- معمولاد باور او اعتماد نشتوالی سره ، ظاهراً امین او درست،ظاهراً منصف او ریښتونې ، **3**- موجه نما ، ځان بڼه او د باور وړ څرګندوونکې ، د (**Unsound** ، **Spurious**، **Sophistic** ،**Invalid** ، **Illogical** ، **False** ،**Fallacious**) په انډول .

SPECT

د (**Single Photon Emission Computed Tomography**)لپاره لنډه نښه ده .

- SPECT scan

هغه رادیولوژیکه توموګرافیکه کتنه چې پکې د انساجو مېتابولیک او فزیولوژیک دندې د (**Computer Synthesis of Photons**) پذرېعه د(**Radionuclides Administered**) تطبیق له مخې څېړلې شی لکه دماغی دندې .

Spectacles

د سترګو لپاره جوړه عینکې (**Eyeglasses**) یا هغوی ته ورته بڼه لرونکی چې هماغه دنده تر سره کړلای شی. په

- Absorptin Spectrum
هغه طیف چې د داسې نور څخه جوړېږی چې له مختلفو ګازی محیطونو تېرېږی او هر ګاز په خپل طیف پورې اړونده وړانګې ځښېنلې او جذب کړې وی .

- Broad Spectrum
پراخه بڼه لرونکی طیف ، د مایکروارګانیزمونو په یوه لویه ډله اغېزمنه چې تر ډېره انتی بیوټیکونو پورې تړاو لری ، وسیع الساحه طیف .

- Electromagnetic Spectrum
د فضائی وړانګو یا برېښنائی ځپو د الکترومقناطیسی انرژی طیف چې پدې وړانګو کې د (ګاما ، ایکس ، له بنفش اخوا ، د لید وړ رڼا ، تر سره رنګ لاندې څپې او رادیوئي څپې) څپې شاملېږی .

- Fortification Spectrum
یو حالت چې د نیم سری له درد څخه د مخه منځ ته راځی چې د سترګو د برېښېدلو یا دلید کمښت په یوه سیمه کې د زیګزاک رنګه کرښو په بڼه شتون لری.

- Visible Spectrum
د الکترومقناطیسی ځپو اوږدوالو د طیف یوه برخه چې حسی اندامونه تحریکولای شی او د نور په بڼه لیدل کېږی .

Spectrums
د (**Spectrum**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Specula
د (**Speculum**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Specular
د سپیکولوم (**Speculum**) اړوند تر سره کولو سره تړلې حالت .

Speculum
دا یوه جراحی وسیله ده چې د بدن د یوه سوری (آزادولو ، وازولو ، لیدلو او د یوه جوف د پرانیستلو) لپاره پکار وړله شی.

- Anal Speculum
د مقعدی کانال کتنې لپاره سپیکولوم .

- Nasal Speculum
د پوزې کانال کتنې لپاره سپیکولوم .

- Vaginal Speculum
د مهبلی کانال کتنې لپاره سپیکولوم .

Speculums
د (**Speculum**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Speech
وینا ، د غږ د تولید سره د افکارو او باورونو بیانول ، خبرې اترې ، څرګند غږېدل .

- Speech Block
د روانی فشارونو له کبله د خبرو او وینا مؤقته بڼه ناتوانی .

- Esophageal Speech
هغه غږ چې د کریکو فارینجیال معصرې د انقباض په وړاندې د مری دننه دهوائی ستون د ودرېدا له کبله منځ ته راځی او دتر لارینجیکټومی وروسته تري کار اخیستل کېږی .

- Explosive Speech
د (**Logospasm**) په اندول.

- SpeechImpediment
د روانو او چټکو خبرو اترو او وینا کولو اړوند ناتوانی ده چې د خولې فزیکی جوړښت او نورو اختلال له کبله منځ ته راځی .

- Mirror Speech
د خبرواترو یو ډول ناجوړتیا چې پکې یو لږ سېلابونه سرچپه کېږی.

- Pressured Speech
ډېرې خبرې کول ، ډېرې زیاتې کړتې کول ، د (**Logorrhea**) په اندول.

- Scanning Speech
یو ډول خبرې اترې چې په هغو کې د یوې کلیمې سېلابونه د اوږدو دمو (وقفو) په واسطه سره بېلېږی .

- Staccato Speech
یو ډول خبرې اترې چې په کې سېلابونه کاملاً بېل بېل ویل کېږی.

- Telegraphic Speech
یو ډول خبرې اترې یو ډول چې شخص په کې یوازې ټاکل شوې کلمات کاروی او د جملې له نورو کومکی برخو لکه (قید ، صفت او داسې نور) څخه ګټه نه اخیستل کېږی او بې ګرامره خبرې کوی.

- SpeechTherapist
هغه څوک چې د خبرو کولو اړوند د درملنې تخصص او مهارت ولری.

- SpeechTherapy
د خبرو اترو اختلالونو درملنه چې د ببلاببلو ستونزو له کبله رامنځ ته شوېوی .

Spell
لنډه موده ، لنډ مهال .

- Apneic Spell
د تنفس د پروسې د لنډې مودې لپاره ودرېدنه چې پکې ناروغ شین اوږې خو ببرته خپل حال ته ورګرځی دا په نوی زوکړو ماشومانو کې لیدل شی.

Sperm
نطفه ، سپرم ، د منی هغه برخه حجرې د زاېګوټ رامنځ ته کولو توان لری ، د نارینه وو جنسی تخمه /حجره چې

Spermatocele
د اپي ډیډیم یا بیضوی جال چې سپرماتوزوئیدونه لري هغه سیستې چې په خوټلنګ (Scrotum) کې منځ ته راځي.

Spermatocelectomy
د سپرماتوسل د راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

Spermatocidal
سپرم وژونکی ، د نطفې له منځه وړونکې ماده .

Spermatocyst
د (Vesica Semenalis) او (Spermatocele) په انډول.

Spermatocystectomy
د (Vesica Semenalis) او یا (Spermatocele) د راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

Spermatocystitis
د (Vesica Semenalis) التهاب .

Spermatocystotomy
د (Vesica Semenalis) د راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

Spermatocyte
هغه اولیه حجره چې دسپرماتوجنېزس په بهیر کې له سپرماتو ګونیا څخه په لاس راځي . د (Spermatozoon) د ودې او انکشاف مقدمه مرحله .

- Primary Spermatocyte
هغه اولیه حجره چې د سپرماتو ګونیا ودې څخه په لاس راځي.

- Secondary Spermatocyte
هغه حجره چې د لومړنۍ سپرماتوسیت د میوزیس وېش له لاړې منځ ته راځي او سپرماتیدی سرچینه لري.

Spermatocytogenesis
د سپرماتوزوئید د جوړېدنې لومړنۍ مرحله چې په هغه کې سپرماتو ګونیا په سپرماتوسیټ اوبیا په سپرماتید اوړي .

Spermatogenesis
د سپرماتوزوئید د جوړېدنې (سپرماتوجنېزس) بهیر سپرماتو سایتوجنیزیس او سپرمیوجنېزس په کې شاملېږي . د مرغېږیو د (Spermatozoa) د انکشاف او ودې او جوړېدنې حالت.

Spermatogenic
د (Spermatogenesis) اړوند صفت . د منی د سپرماتوزوئیدونو تولید کوونکی .

د مرغېږیو پذرېعه تولېدېږی ، د (Spermatozoon) په انډول.

- Active Sperm
فعال سپرم .

- Sperm Analysis
د منی تحلیل او تجزیه د لابراتواری کتنې په لړ کې .

- Sperm Bank
د سپرم ساتنې لپاره بانک / زېرمه تون او ځای چې دا سپرمونه بیا د مصنوعی القاح لپاره پکار وړل کېږی.

- Dead Sperm
مړه سپرمونه.

- Slugish Sperm
هغه سپرم چې (لټ، سست، کمزوری، غړند ، بې ودې، پرځای ولاړ) وی .

- Sperm Count
د منی کتنې په لړ کې د سپرم د ګڼلو کړنه تر سره کول.

- Sperm Donor
سپرم ورکوونکی کسان او د هغه په مقابل کې فیس /ېبعه اخلی او بیا ورسته هغه نه زېږوونکې ښځې ته تېرېږی تر څو حامله شی .

Spermat-
دا یو مختاړې دئ او د(سپرم، **-Spermato**) معنی لری .

Spermatic
د سپرم (Sperm) ، نطفې اړوند صفت.

- Spermatic Artery
هغه شریان چې وینه مرغېږو او خوټلنګ ته رسوی د (Testicular Artery) په انډول ، خصیوی شریان .

- Spermatic Canaliculi
د سپرماتیک اړوند کانالیکولونه .

- Spermatic Cord
هغه رسۍ چې د مرغېږو څخه ګېډې لورې ته غځېدلې دئ او (منوی قنات **Vas Deferens**،وینې رګونه **Blood Vessels** ،اعصاب**Nerves** او **Lymphatics**) درلودونکې دئ .

Spermatid
هغه جنسی حجره چې د درز له لارې د ثانوی سپرماتوتوسیټ څخه منځ ته راځی او په سپرماتوزوئید (**Spermatozoon**) اوړی.

Spermato-
دا یو مختاړې دئ او د(سپرم، نارینه تکثری سیستم او-**Spermat**) معنی لری .

Spermatoblast
د (**Spermatid**) په انډول.

Spermatogonia
د (**Spermatogonium**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Spermatogonium
هغه حجره چې (**Spermatocyte**) منځ ته راوړی . د نارینه زېرېندویه ناتوپیر شوې حجره چې د سیمینال تیوب څخه سرچینه اخلی او په دوه سپرماتوسیتونو اوړی .

Spermatoid
سپرماتوئید ته ورته /مشابه .

Spermatolysis
د سپرماتوزوئیدونوتخریب اوتحلیل .

Spermatolytic
د (**Spermatolysis**) اړوند صفت .

Spermatopathia
د منی غېر نورمال حالت . ناروغه بڼه منی /سپرم .

Spermatorrhea
د جنسی خوند (احتلام) څخه پرته د منی غېر عادی بڼه ډېره پیمانه راوتنه او اطراح کېدنه.

Spermatorrhoea
د (**Spermatorrhea**) په انډول.

Spermatoschesis
د منی د افراز ځپل او سرټکول.

Spermatozoa
د (**Spermatozoon**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Spermatozoal
د (**Spermatozoa**) اړوند صفت .

Spermatozoicide
د (**Spermatozoa**) وژونکی او له منځه وړونکې ماده .

Spermatozoon
سپرم ، دنارینه جنسی بالغه زېرېندویه حجره چې د جنسی تکثر په بهیر کې هګۍ (تخمه) القاح کوی او د نارینه جنیتیکی اطلاعات پکې خوندی دی چې په هر احتلام کې شاوخوا په ملیونونه سپرمونه شتون ولری .

Spermaturia
په تشو متیازو کې ډېره پیمانه د سپرم اطراح د (**Semenuria**) په انډول.

Spermi-
دا یو مختاړی دئ او د (سپرم **Sperm** یا منی **Semen**)معنی لری .

Spermicidal
دسپرم (**Spermatozoa**) وژونکی او له منځه وړونکې مادې اړوند.

- Spermicidal Jelly
هغه جیلی ته ورته جړېنت چې د (**Contraceptive**) په توګه کارول شی.

Spermicide
د (**Spermatozoa**) وژونکی او له منځه وړونکې ماده .

Spermiduct
منوی قنات ، دیفران ډکټ چې انزالی بهېر پکې درومی.

Spermio-
دا یو مختاړی دئ او د (سپرم **Spermi** یا منی **Semen**)معنی لری .

Spermiogenesis
د سپرماتوزوئید د جوړېدنې مرحله چې په هغه کې سپرماتو ګونیا په سپرماتوسیټ اوبیا په سپرماتید (**Spermatid**) په (**Spermatozoon**) باندې اوړی .

Spermo-
دا یو مختاړی دئ او د (سپرم **Spermi** یا منی **Semen**)معنی لری .

Spermolith
د سپرماتیک قنات مجرا یا کڅوړې کې د ډبرې /تیږې شتون.

Spermoneuralgia
د سپرماتیک طناب /رسۍ اړوند عصبی دردونه.

Spermophlebectasia
د سپرماتیک وریدونو واریسی او اتساعی حالت .

spgr
د (**Specific Gravity**) لپاره لنډه نښه ده .

Sphacelate
ګانګرینی کېدل .

Sphacelation
د ګانګرینی نسج جوړېدل ، نسجی مرګ .

Sphacelism
په نکروز یا ګانګرین اخته کېدنه ، د نسجونو مړینه .

Sphacelodrma
د پوستکی ګانګرینی کېدل .

Sphacelus
د مړو انساجو څخه جوړه شوې کتله ، ګانګرینی کتله .

Sphacelous

د (Sphacelus) اړوند صفت .

Sphenion

د جداری (پاریتال) هډوکی تر سفینوئید لاندې ټکې .

Spheno-

دا یو مختاړې دئ او (Sphenoid Bone) معنی لری .

Sphenoid

وتدی ، د سفینوئید هډوکې اړوند چې د کوپړې د هډوکو څخه ګڼل شی ، هغه چې وزر ته ورته جوړښت لری ، د (Sphenoid Bone) په انډول .

- Sphenoid Bone

وتدی هډوکی ، دا دوه هډوکی دی او د کوپړې د سترګو کاسې برخې اړخونو ته پراته دی او د مخ هډوکو کې هم برخه اخلی .

- SphenoidSinus

وتدی سینوسونه ، د کوپړې هغه سینوسونه چې د پوزې سوریو ترېدنې تر شا موقعیت لری .

Sphenoidal

د (Sphenoid Bone) اړوند صفت .

Sphenopalatine

د وتدی او پلاټین هډوکو اړوند .

- Sphenopalatine Ganglion

د وتدی او پلاټین هډوکو اړوند غده ، د (Pterygopalatine Ganglion) په انډول .

Spher-

دایو مختاړې دئ او د ګردی /کروی معنی ورکوی.

Sphere

د (غونډوسکی ،غونډاری ، پنډوس ، کُرې ، توپ) په شان ورته جوړښت ته ویل شی .

- Segmentation Sphere

د(مورولا ، بلاستومېر) په انډول .

Sphero-

دایو مختاړې دئ او د ګردی /کروی معنی ورکوی.

Spherocyte

یوه (کوچنۍ ، ګرد مرد او کاملاً هیموګلوبین لرونکې) حجره چې د سروکریواتو مرکزی بې رنګی لری او د ارثی سفېروسایټوز ځانګړنه بلل شی خو په هیمولایټیک کمخونی کې هم لیدله کېږی.هغه سره کرېوه چې د معمول بنې څخه توپیر لری ګردی، –بېضوی شکل لری .

Spherocytic

د (Spherocyte) اړوند صفت .

Spherocytosis

هغه ناروغی چې پکې یو څوک د وینې بهیر کې (Spherocytes) حجرې لری او د (Anaemia, Enlarged Spleen او Gallstones) نښې نښانې منځ ته راوړی. د (Acholuric Jaundice) په انډول.

- Heridatory Spherocytosis

ارثی سفېروسایټوزیس . دا یو ارثی لېږدېدونکې ډول ولادی هیمولایټیک ناروغی ده چې د سفیروسایټوزیس د سرو کریواتو د غېر نارمل چاودنې له کبله ژېړې او طحالی ضخامه منځ ته راوړی.

Spheroid

یو کروی شکله جسم .

Spheroidal

1-کرې ته ورته ، (هغه جسم چېګرد دئ خو کاملاً ګرد ندئ) ،شبه کروی **2**- دکرې سره په تړاو کې ،شبهکروی.

Sphincter

معصره ، یو کړیز عضلی جوړښت چې په ارادی یا غېر ارادی ډول د تقلص له کبله د یوه نارمل بهېدنې د خولې د تړل کېدو لامل ګرځی . د (Sphincter Muscle) په انډول.

- Anatomical Sphincter

اناټومیکه معصره ، د (Sphincter Muscle) په انډول .

- Anal Sphincter

د مقعد د معصرې عضلی جوړښت .

د (Musculus Sphincter Ani یا Sphincter Ani) په انډول .

- Sphincter Ampullae

د معصرې اړوند آمپولاګانې .

- Sphincter Angularis

د معدې د زاړیه لرونکې لیندې (Angular Notch) برخې د کړیزو عضلاتو طبقو څخه پېړه سیمه جوړه شوې چې د (Pyloricantrum) د ضخامت ښودونکی دی چې پدې برخه کې د معدې پریستالټیک حرکتونه نه تر ستر ګو کېږی .د (Antral Sphincter ، Midgastric Transverse Sphincter ،Sphincter ، Sphincter Intermedius, Sphincter of Antrum ،Antri Angular Sphincter ،Sphincter of Gastric Antrum) په انډول.

- Antral Sphincter

د (Sphincter Antri ،Midgastric Transverse Sphincter ، Sphincter of ، Sphincter of Antrum ،Sphincter Intermedius Angular Sphincter ،Gastric Antrum) په انډول.

- Sphincter Antri

د (Sphincter Angularis) په انډول .

- Bladder Sphincter

د مثانې اړوند معصره، د مثانې عضلی معصره چې د پېړو

لرونکی سیمه چې د بلع کولو اړوند دنده کې ونډه اخلی .

- Precapillary Sphincter

د کپیلاری رګونو د بنویه عضلاتو رشتې (تارونه) چې د ارتریول د ببلبدنې په ځای کې د حقیقی شعریه رګونو ګرد چاپیره ځای لری او د رګونو په تړلو او آزادېدلو پروسه کنترولوی.

- Musculus Sphincter Pupillae

د سترګو اړوند کړیز یا حلقوی ډول د بنویه عضلاتو رشتو څخهرامنځ ته شوې برخه چې آیریس (**Iris**) یې احاطه کړېدئ ، د (**Pupillary Sphincter**) په انډول .

- Sphincter Pupillae

د (**Musculus Sphincter Pupillae**) په انډول.

- Musculus Sphincter Pylori

د معدې د بواب (پیلور) برخې معصره چې معده له اثناعشر څخه سره ببلوی ، د (**Pyloricsphincter**او**Pyloric Valve**) په انډول.

- Pyloric Sphincter

د معدې د پیلور برخې معصره چې معده له اثناعشر څخه ببلوی .

- Sphincter Spasm

د معصرې سپزم یا شخی .

- Musculus Sphincter Urethrae

د احلیل معصره هغه برخه ده چې د (**Striatedsphinctermuscle**) رامنځ ته شوی او د احلیل د تقلص لامل ګرځی ، د (**Urethral Sphincter**) په انډول.

- Physiological Sphincter

فزیولوژیکه (عادی) ډول معصره .

- Sphincter Muscle

د معصرې عضلات ،هغه حلقوی عضلات چې دیوې خولې وازه برخه احاطه کوی او د خولې په ارادی یا غیر ارادی ډول راټولېدنه کې دنده تر سره کوی .

- Sphincter Pupillae Muscle

د سترګو په آیریس (**Iris**) کې ګوتمی ته ورته عضلې رینې چې حدقه (**Pupil**) متقلص کوی .

- Urethral Sphincter

د (**Musculus Sphincter Urethrae**) په انډول .

- Musculus Sphincter Vesicae

د (**Bladder Sphincter**) په انډول .

Sphincteral

د معصرې (**Sphincter**) اړوند صفت.

- Sphincteral Achalasia

د مرې د معصرې اړوند اکلازیا ناروغی چې پکې د کارډیا معصرې برخې تشنج /سپزم منځ ته راځی .

عضلی طبقې څخه رامنځ ته شوې دی چې د احلیل په پیل برخه خوله کې موقعیت لری د (**Musculus Sphincter Vesicae**) په انډول.

- Cardiac Sphincter

هغه عضلاتی معصره چې معدې ته د مرې دننوتلو د ځای په شاوخواکې ځای لری .

- Cardioesophageal Sphincter

د (**Cardiac Sphincter**) په انډول.

- Musculus Sphincter Ductus Choledochi

د بنویه (**Smooth Muscle**) عضلاتو څخه رامنځ ته شوې د ګډ صفراوی قنات معصره .

- Sphincter Choledochus

د (**Musculus Sphincter Ductus Choledochi**) په انډول.

- Sphincter Muscle of Common Bile Duct

د (**Musculus Sphincter Ductus Choledochi**) په انډول.

- Musculus Sphincter Ductus Pancreatici

د بنویه (**Smooth Muscle**) عضلاتو څخه رامنځ ته شوې د اساسی پانکریاټیک قنات معصره .

- Sphincter of Gastric Antrum

د (**Antral Sphincter, Midgastric Transverse Sphincter, Sphincter Antri, Sphincter Intermedius, Sphincter Of Antrum, Angularsphincter**) په انډول.

- Gastroesophageal Sphincter

د مرې وروستنۍ څو سانتی مترہ نرۍ برخه پرته چې د معدې د محتویاتو د بیا راستنېدو مخه نیسی .

- Sphincter Intermedius

د (**Sphincter ،Midgastric Transverse Sphincter ،Antral Sphincter ، Sphincter of Gastric Antrum ، Sphincter of Antrum ،Antri Angularsphincter**) په انډول.

- Midgastric Transverse Sphincter

د (**Antral Sphincter, Sphincter Antri, Sphincter Intermedius, Sphincter of Antrum, Sphincter of Gastric Antrum,Angularsphincter**) په انډول.

- O'Beirne's Sphincter

له ریکټوم سره د سیګموئید کولون د پیوستون ځای یوه کړیزه پنډه عضلاتی پټی معصروی برخه ده .

- Oddi Sphincter

د عضلاتی مېزو هغه پوښ چې د اثنی عشر له دېوال څخه د تېرېدو پرمهال د صفراوی او پانکریاتیت بهېدنې ګرد چاپیره نیسی.

- Sphincter Pancreaticus

د پانکریاس معصره .

- Pharyngoesophageal Sphincter

د بلعوم او مرۍ تر منځ د پیوستون په سیمه کې د لوړ مقویت

Sphincteralgia
د معصرې د عضلې دنته درد.

Sphincterectomies
د (Sphincterectomy) لپاره ګڼه شمېره ده .

Sphincterectomy
1.هغه جراحی عملیات چې پکې معصره ایستل کېږی، **2.**هغه جراحی پروسیجر چې پکې د سترګو د آیریس (Iris) یوه څنډه راایستل کېږی .

Sphincteric
معصروی ، د معصرې(Sphincter) اړوند صفت .

- Sphincteric Dilatation
د معصرې آزادول /اتساع ورکول.

- Sphincteric Insuficiency
د معصرې عدم کفایه ، هغه معصره چې خپل کار یې پرېښې وی .

- Sphincteric Laceration
د معصرې څیرېدنه/ شلېدنه .

- Sphincteric Operation
د معصرې لپاسه د جراحی عملیات ترسره کول .

- Sphincteric Spasm
د معصرې سپزم یا شخی حالت .

- Sphincteric Stenosis
د یوې معصرې تنګوالې ، د معصرې تضیق.

Sphincterismus
د معصرې سپزم یا شخی حالت .

Sphincteritis
د معصرې التهابی حالت .

Sphincteroid
د معصرې ته ورته /شبه حالت .

Sphincterolysis
د معصرې تخریب او ویجاړولو جراحی عملیات کړنلاره، په جراحی سره د په قدامی پیوستون کې د عنبیې اوقرنیې یو له بله سره ېښلولو جراحی کړنلاره.

Sphincteroplasties
د (Sphincteroplasty) ګڼه شمېره ده .

Sphincteroplasty
د یوې معصرې ترمیمي او جراحی جوړونې او رغوونې کړنلاره.

Sphincteroscope
هغه وسیله چې ورباندې معصره ازمویله کېږی.

Sphincteroscopy
د (Sphincteroscope) وسیلې پذرېعه د معصرې آزمویلو عملیه ترسره کول .

Sphincterotome
هغه وسیله چې ورباندې معصره څیرل یا وازول کېږی .

Sphincterotomy
د (Sphincterotome) وسیلې پذرېعه د معصرې وازولو یا څیرلو عملیه ترسره کول .

Sphinctozoa
د هغه اسفنجی فوسیلونه چې د (Calcarea) ټولګی پورې ترلی دی او اسکلیټ یې کتلوی بڼه (Calcium Carbonate) لری .

Sphinganine
هغه د سفینګوزین ډای هایدروکسی مشتق چې په روږدیز ډول په سفینګولیپیډونو کې شتون لری .

Sphingolipid
هر هغه شحم (غوړ) لکه (Sphingomyelin) چې د (Sphingosine) لرونکی دی یا د هغه مشتقات لری چې د لایپولایزیس تولید او محصول بلل کېږی.

Sphingolipidosis
دا یو ډول ارثی لېږدېدونکی مېتابولیک اختلال دئ چې پکې په زیاته پیمانه (Glycolipids او Phospholipids) ببلابېلو انساجو کې راټولېږی .

Sphingolipodystrophy
د سفینګولیپیډونو د مېتابولیزم له ناجوړتیاوو څخه زېږنده هره ناروغی چې وی.

Sphingomeelin
د سفینګولیپیډونو له ډلې څخه هریو چې رأسی ګروپ یې فوسفوریلېټډ کولینوی ،د وازدې په غشأ ګانو او عصبی نسجونو کې شتون لری .

Sphingomyelin
یو فاسفو لیپیډ دئ چې پکې (Choline، Sphingosine، Phosphoricacid, او یو Fattyacid) په ګډ ډول سره شتون لری .

Sphingosine
یو امینوالکهول چې اوږد ځنځیر او دوه ګونې وازګین پیوند لری او په سفینګولیپیډونو کې شتون لری.

Sphyg
داغیر معمول د (Sphygmomanometer) په اندول دې .

Sphygmic

د شرېانی نبض اړوند صفت .

Sphygmo-

دا یو مختاړې دئ او د [نبض(**Pulse**)]اړوند معنی لری.

Sphygmocardiograph

دا یوه وسیله ده چې د زړه ضربان (**Heartbeats**) او نبض اندازه (**Pulse Rate**) ثبت کوی.

Sphygmograph

د د زړه ضربان (**Heartbeats**) او نبض اندازه (**Pulse Rate**) ثبت وسیلې پذرېعه ثبت شوې ګراف /انځور.

Sphygmomanometer

دا یوه وسیله ده چې د وینې شریانی فشار اندازه ثبت او ښکاره کوی .

Spica

هغه ډول بنداژ تړل چې د هغه بڼه د انګریزی (**8**) په څېر ورته حالت خپل کاندی .

- Hip Spica Cast

هغه ډول پلستر /بنداژ تړل چې پکې د حوصلې بندونه او ورنونو برخه تثبیت کېږی .

Spicae

د (**Spica**) ګڼه شمېره ده .

Spicas

د (**Spica**) ګڼه شمېره ده .

Spicule

د هډوکو تړلو لپاره کوچنۍ سپلنټ (**Splinter**) ټوټه .

Spina

د ملا تیر د فقراتو شاتنۍ نتو یا تېره ښکرته ورته هډوکیز جوړښت ، د ملاتیر د (**Vertebral Column**) په انډول.

- Spina Angularis

هغه خلفی او ښکته لورې ته استطاله ئی جوړښت چې د سفینوئید لوی وزر څخه په دواړه خواوو کې واقع دئ. د (، **Alar Spine**، **Angular Spine**، **Processus Spinosus** ، **Sphenoidal Spine, Spina Angularis**، **Spinous Process of Sphenoid**، **Spine of Sphenoid Bone**) په انډول .

- Spina Bifida

ملاتیر د فقراتو ستنې درز اوچاک حالت چې ورڅخه نخاعی رسۍ بهرته راوتنه کوی چې ورته (**Rachischisis**) هم ویل شی.

- Spina Bifida Aperta

دا ډول سپینابایفیدا د [**Meningeal Cyst (Meningocele)**] سره مل وی یا هغه سیسټ چې د سحایا او [**Meninges and Spinal Cord(Meningomyelocele)**] یا [**Spinal Cord (Myelocele)**] ولری د (**Spina Bifida Manifesta**) په انډول .

- Spina Bifida Cystica

دا ډول سپینابایفیدا د [**Meningeal Cyst(Meningocele)**] سره مل وی یا هغه سیسټ چې د سحایا او [**Meninges and Spinal Cord(Meningomyelocele)**] یا [**Spinalcord(Myelocele)**] ولری د (**Spina Bifida Aperta**,**Spina Bifida Manifesta**) په انډول.

- Spina Bifida Manifista

د (**Spina Bifida Aperta**، **Spina Bifida Cystica**) په انډول .

- Spina Bifida Oculta

پدې ډول کې یوازی عظمی یا هډوکیز درز شتون لری خو پرته له نخاعی اوسحایاوو راوتنې څخه پېښېږی .د (**Spina Bifida Cystica**، **Spinabifida Aperta**) په انډول .

- SpinaBifidaVentralis

پدې صورت کې فقراتو د ستنې دبطنی مخې سطحې د تړلو عدم کفایه رامنځ ته کېږی چې د نورو بطنی احشاوو او صدری احشاوو انومالی هم ښائی ورسره وی.

- Spina Dorsalis

ظهری نخاع ، د ملاتیر شاتنۍ برخه .

- Spina Frontalis

د سر د تندی برخې نتو شتون ته ویل شی .

- Spina Iliaca Anterior

د حوصلې هډوکی د ایلیاک هډوکی قدامی نتو .

- Spina Iliaca Inferior

د حوصلې هډوکی د ایلیاک هډوکی سفلی نتو .

- Spina Iliaca Posterior Inferior

د حوصلې هډوکی د ایلیاک هډوکی خلفی سفلی نتو .

- Spina Iliaca Posterior Superior

د حوصلې هډوکی د ایلیاک هډوکی خلفی علوی نتو .

- Spina Iliaca Superior

د حوصلې هډوکی د ایلیاک هډوکی علوی نتو .

- Spina Ischiadica

د ایسکیوم برخې نتو .

- Spina Meatus

د نتوګانو اړوند سورې او میأتوس.

- Spina Peronealis

هغه راوتلېبرخه په پوندې (**Calcaneus**) کې چې د (**Peroneuslongusandbrevis**) ټینډونونو ترمنځ پرته ده ، د (**Trochlea Fibularis Calcanei**، **Peroneal Trochlea of Calcaneus**، **Trochlea Peronealis**، **Peroneal Pulley** ، **Trochlear Process**) په انډول .

- Spina Pubis

د یوه هډوکی لپاسه هغه کوچنې نوډول یا راوتلې جوړښت چې خصوصاً چې د ټینډون سره په تماس وی . ورته (**Tuberculum**)

- Spinal Accessory Nucleus
نخاعی اضافی تعصیبی هستې .

- Spinal Adjustment
د نخاع عیارول ، دا ډول اصطلاح د (**Chiropractic**) درملنې په برخه کې پکاروړله شی.

- Spinal Anaesthesia
نخاعی بېهوښی ، دا یو ډول موضعی بېهوښی چې درمل د دماغی –نخاعی مایع دننه ورننویستل کېږی.

- Spinal Anaesthetic
نخاعی بېهوښی (**Spinal Anaesthesia**) اړوند صفت.

- Spinal Analgesia
دنخاعی لارې د دردونو له منځه وړل .

- Spinal Aperture
دنخاعی /ملاتیر د فقراتو د جسم او قوسونو پذربعه رامنځ ته شوې غټه او لویه وازه برخه (سوړه، خوله، دهنه) .

- Spinal Apoplexy
د نخاعی رسی (طناب) د ناڅاپه احتشأ له کبله د عصبی ننبو ننبانو رامنځ ته کېدنه .

- Spinal Arachnoid Mater
د نخاع د عنکبوتیه نسج (**Arachnoid Mater**) برخه چې نخاعی اعصاب یې احاطه کړېوی د (**Arachnoid of Spinal Cord** ، **Arachnoidea Mater Spinalis** ، **Arachnoidea Spinalis** ، **Spinal Part of Arachnoid**) په انډول .

- Spinal Artery
نخاعی شریانونه ، نخاعی سور رګی.

- Spinal Ataxia
د نخاعی ناروغیو اړوند اټاکسی پېښې .

- Spinal Atrophy
د نخاعی نسج د کمښت (ضمور او وچېدنې) ناروغی .

- Spinal Balancing
د نخاع د انډول منځ ته راوړلو اړوند حالت .

- Spinal Bifida
د ملاتیر درز ، د ملاتیر چاکوالې .

- Spinal Block
هغه عصبی بلاک او انالجزیا چې د نخاع دننه د بېهوښه کوونکو درملو تېرولو له کبله رامنځ ته کېږی .

- Spinal Branches
د نخاع رسی (طناب) اړوند څانګې چې د بدن بېلابېلې برخی تعصیب کوی .

- Spinal Canal
د ملاتیر کانال ، د ملاتیر هغه تشه چینل یا نلکې ته ورته جوړښت چې د فقراتو منځ کې شتون لری او ورڅخه نخاعی عصبی طناب تېرېدنه مومی . د (**Vertebral Canal**) په انډول.

هم ویل شی.

- Spina Scapulae
د کتف هډوکی د درې کنجه ځنډې راوتلې برخه چې په ظهری مخ کې واقع ده او د (**Trapezius** او **Deltoidmuscles**) عضلات وراندې ارتکاز مومی او (**Supraspinous** او **Infraspinousfossae**) سره بیلوی او (**Acromion**) پې جنبی توسعه موندلې برخه ده .

- Spine of Sphenoid Bone
د وتدی هډوکی نتو یا راوتلې برخه.

- Spina Trochlearis
هغه وده موندلې برخه چې د (**Trochlear Fovea**) ځنډې ځخه رامنځ ته شوې ده او د سترګو د ګاتو د (**Superior Oblique Muscle**) عضلې ورباندې ارتکاز مومی .

- Spina Tympanica Major
د [**Tympanicnotch(Ofrivinus)**] قدامی لویه مورګه یا ځنډه ده .

- Spina Tympanica Minor
د [**Tympanicnotch(Ofrivinus)**] قدامی کوچنۍ مورګه یا ځنډه ده .

- Spina Ventosa
د (**Columna Vertebral**) په انډول .

Spinaceous
دا یو ډول نبات بوټې (**Spinach**) اړوند صفت دئ او د سابه پتوګه خوړل شی.

Spinach
دا یو ډول نبات بوټې (**Spinach**) او د سابه پتوګه کرل او خوړل شی ، د (**Espinaca**) په انډول.

- Spinach Stools
سپانیچ غول کول، شنه رنګ لرونکی غایطه مواد (**Dark Greenish Porridgelike Stools**) چې د (**Chopped Spinach**) خوراک له امله پېښېږی .

Spinal
د (**Spine**) پورې تړلې . د ملاتیر (**Spine**) اړوند صفت .

- Spinal Abscess
نخاعی دانې (خراجونه) . پدې حالت کې انتان (مېکروب) ښائي د وینې له لارې نخاع او ملاتیر فقری جسم ته وروړسېږی چې د (تبې ، درد ، پاراپلېجی به د قطنی برخې او کوادری پلېجی به د رقبی برخې) په دانو کې منځ ته راشی .

- Spinal and Bulbar Muscular Atrophy
د نخاع او بصلی برخې عضلاتو ضمور (اټروفی).

- Spinal Accessory Nerve
د نخاع اضافی عصبی ریښې . د قحفی عصبی یوولسم زوج څانګې چې د غاړې او اوږې برخې تعصیب کوی.

هغه لړ یا ډېر عصبی رشتې چې په سپین نسج (**White Matter**) د نخاعی طناب کې پرتې دی.

- Spinal CordTraumaticInjury

د نخاعی طناب ترضیضی جروحات لکه (خلع ، کسرونه ، وینه بهېدنه) چې حاد ډول عصبی ناروغتیا رامنځ ته کوی.

- Spinal Cord Tumors

د نخاعی طناب اړوند تومورونه/نیوپلازمونه.

- Spinal Curvature

د ملاتیر اړوند غېر معمول انحناوې.

- Spinal Decompression

د ملاتېر د فشار څخه د خلاصون کړنه تر سره کول.

- Spinal Dura Mater

نخاعی ډیورائی نسج.

- Spinal Dysraphia

دا هغه عمومی اصطلاح ده چې د ملاتیر د شاتنی برخې قوسونو د نه یځای کېدنې حالت بیانوی

- Spinal Dysraphism

د (**Spinal Dysraphia**) په انډول.

- Spinal Epidural Space

دنخاعی اپی ډورال مسافه یا تشه.

- Spinal Fasciculi

د (**Spinal Tract**) اړوند دري ډوله ویشل شوی کوچنی څانګې.

- Spinal Fibrocartilaginous Emboli

د نخاع لیفی غضروفی آمبولې.

- Spinal Fluid

نخاعی مایع.

- Spinal Foramen

د ملاتیر اړوند مرکزی تش کانال چې نخاعی طناب ورڅخه تېرېږی.

- Spinal Fusion

هغه جراحی عملیات چې پکې د دوه فقراتو برخې سره نېږدې کړلې شی چې پکې د نېږدې فقراتو جراحی (**Ankylosis**) رامنځ ته کېږی تر څو خوخښت محدود کړل شی .د (**Spondylosyndesis**) په انډول.

- Spinal Ganglion

نخاعی طناب اړوند غوټې چې د (**Cone-Shaped Mass**) حجروی کتلې دی او خلفی برخه کې پرتې دی او د نخاعی طناب اساسی خلفی جذرونه جوړوی.

- Spinal Headache

هغه د سر دردونه چې د نخاعی طناب پورې تړلې وګڼل شی.

- Spinal Hemiplegia

هغه نیمائی فلج (**Hemiplegia**) چې د نخاعی طناب پورې اړوند وی.

- Spinal Cavernous Malformation

د ملا د کورنوس (کهفی) سؤ تشکلات.

- Spinal Cavity

نخاعی جوف ، د (**Vertebral Canal**) په انډول.

- Spinal Column

د ملاتیر چې د فقراتو څخه رامنځ ته شوې دئ ، د (**Spine**) په انډول.

- Spinal Concussion

نخاعی کانکشن حالت چې پکې هیموډینامیک حالت په لنډ مهالی توګه بدلون مومی او ېېرته ژر خپل فزیولوژیک حالت ته اوړی.

- Congenital Spinal Stenosis

د ملاتیر چې د فقراتو د کانال دننه تنګ شوې (متضیق) حالت رامنځ ته کېدنه چې د زېږون پرمهال تثبیت کېږی.

- Spinal Cord

نخاعی طناب،نخاعی عصبی رسی چې نورېرخو ته جذرونه ورکوی

- Spinal Cord Abscess

نخاعی طناب برخې دانې /خراجونه.

- Spinal Cord Atrophy

نخاعی طناب ضمور او وچېدنه چې په سؤتغذیه او زېږنت کې منځ ته راځی.

- Spinal Cord Degeneration

نخاعی طناب تخریب او له منځه تګ ، نخاعی طناب استحالوی حالت ، د (**Myelomalacia**) په انډول.

- Spinal Cord Hemorrhage

نخاعی طناب وینه بهېدنه ، نخاعی طناب خونرېزی ، د (**Hematomyelia**) په انډول.

- Spinal Cord Compression

پر نخاعی طناب باندې د فشار منځ ته راتګ چې د (**Spinal Fracture, Vertebral Dislocation, Tumor, Hemorrhage** او **Edema**چې د **Contusion** سره مل وی) له کبله معمولاً پېښېږی او (پاراپلیجي ، کوادری پلیجی او تتراپلیجی) د لامل د شدت سره تراو لری ،د (**Herniated Disk** او **Spondylolisthesis**) په انډول.

- Spinal Cord Hypoplasia

د نخاعی طناب د ودې کمښت چې معمولاً سګمنتی ده خصوصاً په قطنی برخه کې پېښېږی.

- Spinal Cord Local Ischemia

د نخاعی طناب ته د شریانی وینې رسېدنې کمښت حالت چې د آمبولې او ترضیضاتو له کبله پېښېږی.

- Spinal Cord Infarction

د نخاعی طناب احتشأ.

- Spinal Cord Tracts

ټولې هغه عصبی ریښې (رشتې) چې په نخاعی کانال طناب کې دننه صعودی (حسی) یا نزولی (حرکی) بڼه شتون لری او د دوی لپاره د حسی او حرکی سیالو تګ لاره (**Pathways**) منځ ته راوړی او د نخاعی طناب په سپین نسج (**White Matter**) کې شتون لری چې (یوویشت **Twenty-One**) بیلابیل (**Tracts**) په[ظهری ، بطنی او جنبی (**Dorsal, Ventral, And Lateral Funiculi**)] سپین نسج برخه کې پراته دی. صعودی ترکټ سیالې د نخاع څخه دماغ ته لېږدوی څلور لوی یې (**Spinothalamic, Ventral Spinothalamic, Fasciculi Gracilis** او **Cuneatus,** او **Spinocerebellar**) نومېږی چې څلور نزولی یې (**Lateral Corticospinal, Ventral Corticospinal, Lateral Reticulospinal,** او **Medial Reticulospinal**) نومېږی چې د (**Touch, Pressure, Proprioception, Temperature** او **Pain**) حسی سیالې د نخاع له لارې لېږدوی او د عکسې (**Reflex**) او ارادی حرکی فعالیتونه د حرکی اعصابو تنبه (**Motor Nerve Stimulation**) او (**Brainstem**) ته نخاعی حرکی اعصابو له لارې دماغ ته تنظیموی.

- Spinal Tractotomy

نخاعی ترکټوتومی.

- Spinal Trauma

نخاعی ترضیض /نخاعی ټپي کېدنه.

- Spinal Tuberculosis

نخاعی نري رنځ ، نخاعی توبرکلوز ، نخاعی سل ناروغی.

- Spinal Tumor

نخاعی ټومور ، نخاعی نیوپلازم.

- Spinal Unit

نخاعی واحد چې یوه دنده تر سره کړی.

- Spinal Vasculature Steal Syndrome

هغه کلېنیکی مغلق سندروم چې پکې (**AV Malformation**) د نخاعی فشار رامنځ ته کوی او د [**'Offending'artery**] ټرلو لامل شی.

- Spinal Veins

نخاعی وریدونه.

- Spinal Walking

نخاعی ناروغیو اړوند لاره تګ چې غیر همغږی لاره تګ بڼه رامنځ ته کېږی. د (**Reflex Walking**) په انډول.

- Spinal X-ray Studies

د ملاتیر اړوند راډیوګرافی څېړنه او کتنه.

Spinalgia

د نخاع اړوند دردونه.

Spinalis

د نخاع اړوند صفت.

- Musculus Spinalis

د ملاتیر اړوند عضلات چې د

- Spinal Injection

نخاعی زرق ، هغه زرقی درمل چې د نخاعی کانال دننه ترزیق کېږی.

- Spinal Meningitis

د نخاعی سحایاوو د غشأ التهابی ناروغی په ماشومانو کې ډېر معمول ناروغی بلل شی.

- Spinal Muscular Atrophy

د ملاتیر اړوند عضلاتو ارثي لېږدېدونکی ضموری عصبی ناروغی چې په (**Swedish Lapland Dogs**) سپیانو کې معمول ده

- Spinal Myelitis

د نخاعی طناب د اعصابو التهاب ، د (**Myelitis**) په انډول.

- Spinal Myelopathy

د نخاعی طناب د اعصابو هر ډول التهاب اوغیر التهابی ناروغی ، د (**Myelopathy**) په انډول.

- Spinal Nerve

د نخاعی طناب د اعصابو اړوند (**31 Pairs**) جوړو څانګو څخه هر یوه څانګه چې تنې او هډونو ته ورننوزی.

- Spinal Puncture

د (**Spinal Tap**) او **Lumbar Puncture**) په انډول.

- Spinal Reflex

نخاعی عصبی عکسه چې د نورو پرتنیو برخو (**Brain** یا **Spinal Cord**) ګډون پورې اړوند نه وی.

- Spinal Root

نخاعی عصبی جذر ، د نخاعی عصبی اضافی جذرونو څخه هر یوه چې د (**Ventrolateral Part**) د اړوند (**First Five Segments**) سګمنټونو څخه سرچینه اخلی.

- Spinal Segment

نخاعی سګمنټ چې د یوې سیمې اړوند دندې تر سره کوی.

- Spinal Shock

نخاعی شاک ، پدې کې د ترضیضاتو له امله بنکتنی اندامونه خپل وعائی مقاومت له لاسه ورکوی او هایپوالیمیا رامنځ ته کوی.

- Spinal Stenosis

نخاعی تضیق چې د نخاع لپاسه د فشار (**Spinal Cord Compression**) لامل ګرځی.

- Spinal Stroke

نخاعی سټروک چې د (**Spinal Shock**) پېښه رامنځ ته کوی

- Focal Symmetrical Spinal Poliomalacia

موضعی نخاعی متناظر پولیوملاسیا.

- Spinal Tap

نخاعی بذل ، د (**Spinal Puncture**) او **Lumbar Puncture**) په انډول.

- Spinal Tract

د سترګو په قرنیه کې توربخن سور رنګه دوکی ډوله مکدریت پیښېدل بلل شی .

- Mitotic Spindle

د حجروی مایتوتیک وېشنې پرمهال دوکی ډوله جوړښت .

- Muscle Spindle

عضلی دوک (ماهیچه ئی دوک) ،یو ډول انتهائی هډ چې د اسکلېټی عضلاتی رشتو په منځ کې په موازی توګه ځای لری او د کششی رفلکس د محرکونو لپاره د مېخانیکی آخذې په څېر پکار ېږی.

- Nuclear Spindle

هستوی دوک .

- Tendone Spindle

ګلجی وتری ارګان.

- Urine Spindle's

د متیازو ډکی حالبی دوکی شکله ټوټې چې د اشتداری حرکتونو په بهیر کې د حالت نیمګړې بندښت له امله منځ ته راځی .

- Spindle-shaped

ماکو (دوک) ډوله حجرو ته ورته کتله یا تومور .

Spindly

ماکو ډوله ، دوکی ډوله جوړښت .

- Spindly Leg Syndrome

ماکو (دوک) ډوله پښو سندروم .

Spine

د ملاتېر ، د فقراتو هډوکو (**Vertebrae**) هغه لړۍ چې ېو د بل سره ېوځای کېږی او د ملاتېر برخه جوړوی او د بدن د تنې مرکزی برخه رامنځ ته کوی د فقراتو د منځ تش کانال کې نخاعی طناب(**Spinalcanal**) پروت دئ، ورته نومونه یې (**Backbone**، **Spinal Column**، **Vertebral Column**) دي.

- Alar Spine

د وتدی (سفینوئید) هډوکی اغزې .

- Angular Spine

د (**Alar Spine**) په انډول.

- Spine Arthroplasty Device

د ملاتېر د مفصلونو جراحی کړنلاری لپاره وسیله .

- Bamboo Spine

د ملا تیر شخوالې چې د (**Ankilosing Spondilitis**) ناروغی. له کبله منځ ته راځي چې د راډیولوېیکه علامه (ننبه) بلله شی.

- Cleft Spine

د ملا تیر ولاډی درز انومالی ، د (**Spine Bifid**) په انډول.

- Spine-echo

د نخاعی اړوند کتنو سره په تړاو (**Magnetic Resonance Pulse**

Spinalis Capitis، **Spinalis Servicis** او **Spinalis Thoracis Muscles**) څخه مرکب دی .د (**Spinal Muscle**) په انډول.

- Spinalis Capitis Muscle

د ملاتیر اړوند عضلاتو څخه یوه چې د (**Spinalis Servicis**) تداوم دئ او تر اوکسیپیت هډوکی غځیږی .

- Spinalis Cervicis Muscle

د ملاتیر اړوند عضلاتو څخه یوه چې پر شپږم او اوم رقبی نتو له اصله مبداء اخلی او پر (**Spinous Processes of Axis** او **Third Cervical Vertebra**) باندې ارتکاز مومی او دنده یې د غاړې بسط دئ . د (**Spinal Muscle of Neck** او **Musculus Spinalis Cervicis**) په انډول.

- Spinalis Thoracis Muscle

د ملاتیر اړوند عضلاتو څخه یوه چې د (**Spinous Processes of Upper Lumbar** او **Two Lower Thoracic Vertebrae**) اړوند مبدأ اخیستونکې عضله ده او پر (**Spinous Processes** یا په دوه متوسط **Middle** او پورتنی صدری فقراتو **Upper Thoracic Vertebrae**) باندې ارتکاز مومی او د ملاتیر برخې ته بسط ورکوی

Spinate

اغزی لرونکې ، اغزی ته ورته ، نتوئی لکه د فقرې نتو.

Spindle

دوک، ماکو ډوله اناټومېک جوړښت د حجروی وېشنې پر مهال ، یو اوږد نرې جوړښت ، هغه جوړښت چې د حجروی وېشنې پر مهال هغه چې د کروموزومونه یې د سنترومېرونو (**Centromeres**) سره نښتې بڼه لری .

- Spindle Apparatus

ماکو (دوک) ډوله دستګاه ، ماکو (دوک) ډوله جهاز.

- Spindle Cataract

ماکو (دوک) ډوله ساد (کټرکټ).

- Spindle Cell

ماکو (دوک) ډوله حجره .

- Spindle Cell Haemangioma

د ماکو (دوک) ډوله حجرو څخه را منځ ته شوې هېمانجېوما.

- Spindle Cell Lipoma

ماکو (دوک) ډوله حجرو شحمی تومور (لاېپوما) .

- Spindle Cell Nevus

ماکو (دوک) ډوله حجرو څخه جوړه شوې خدائی خال .

- Spindle Cell Sarcoma

ماکو (دوک) ډوله حجروڅخه جوړ سارکوما تومور .

- SpindleCell Carcinoma

ماکو (دوک) ډوله حجروڅخه جوړ کارسېنوما تومور .

- SpindleCell Tumors

ماکو (دوک) ډوله حجروڅخه جوړ تومور .

- Krukenbenrg's Spindle

د قصبی (**Tibia**) هډوکی په قدامی تېره ژی باندې یوه زیږه سیمه .

- Trochlear Spine

د ټنډې د هډوکی د اربیتال سطحې په قدامی داخلی برخه کې یوه هډوکیزه اغزی ډوله جوړښت چې د عضلی د (**Trochlea**) د ننښتې ځای (ارتکاز) دئ.

Spinhaler

دا هغه سوداګرېزه بڼه لرونکی وسیله ده چې پکې د تنفسی ستونزو لپرې کولو په موخه د انشاقی ډول درملو ډوز ټاکنې لپاره پکار وړله شی.

Spinipital

د نخاع په لورې خوځېدونکې یا خوځوونکې .

Spinnbarkeit

د مخاط څخه را منځ ته شوې هوه نری رشته (تارېزه رېښکی) چې په رحم عنق کې رامنځ ته کېږی او د هګۍ اچولو (**Ovulation**) موده راڅرګندوی او پدې موده کې دا د ښوې بڼیښې (**Glass Slide**) لپاسه تثبیت کېږي.

Spino-

دا یو مختاړي دئ چې د (ملاتیر **Spine** او نخاعی طناب **Spinal Cord**) اړوند معنی بشپړوی.

Spinobulbar

د نخاع او بصل النخاع اړوند صفت دئ. نخاغی –بصل النخاعی .

Spinocerebellar

د نخاع او مخیخ اړوند صفت ، نخاعی –مخیخی .

- Spinocerebellar Tract

د عصبی رشتې یوه لاړه (مجراء) چې نخاعی طناب کې واقع ده او سبالې (**Impulses**) د ماغزو سرېیلوم (**Cerebellum**) برخې ته لېږدوی .

Spinous

د ملا تیر (نخاع ، شوک ، نتو ګانو) اړوند صفت .

- Spinous Process

د هډوکو او ملاتیر د فقراتو هډوکیزه راوتلې او جوته برخه چې د ښوه نتو ته ورته والې ولری . نتوئی استطاله .

- Spinous Process of Sphenoid

د وتدی (سفېنوئید) هډوکی اړوند نتوئی استطاله.

Spir-

دا یو مختاړي دئ او د تاوراتاو (فنر ، فنری**Spiral**) په څېر جوړښت او د (تنفس **Respiration**) معنی بشپړوی.

چې پکې د مستعرض پلان (**Transverse Plane**) له مخې راډیوګرافی انځور اخېستل شی.

- Ischial Spine

یوه هډوکیزه راوتلتیا چې د ایسکیوم هډوکو د وروستنی ژی څخه څټ او دننه برخې ته غځېدلې ده.

- Mental Spine

د منځنی کرښې لاندینی نهایت ته نېږدې د لاندینی ژامې په دننه سطحه باندې هره کوچنی راوتلتیا .

- Nasal Spine

د مګزیلار د هډوکی د انفی تېغې په مخکینی پایلې نهایت کې پورتنی منځنی تېره راوتلتیا .

- Nasal Spine Posterior

یوه تېره او شاته رېښده هډوکیزه اغزې چې د تالوئی هډوکی د افقی برخې خلفی –داخلی زاوئې جوړوی .

- Neural Spine

عصبی نتۀ، د یوې فقرې اغزی ډوله راوتلتیا .

- Platin Spine's

هغه بهرنی راوتلې ژی چې د پلاټین (کلک تالو) په ماګزیلار برخه کې د لاندینې سطحې پر مخ ځای لری او د تالو مېزانې یو له بله سره ښلوی.

- PokerSpine

د روماتوئید سپاندیلیټ له کبله د فقراتو کلکېدنه او نه خوځښت .

- Spine of Pubis

د بدن د عانی برخې ملاتیر .

- Rigid Spine

د (**Poker Spine**) په انډول.

- Spine of Scapula

د اوږې د هډوکو اړوند ښکریز جوته برخه هډوکې . یوه مثلثی ډوله پاڼه چې له یوه نهایت څخه د اوږې د هډوکی له څټ سره نښلی .

- Ciatic Spine

د ایسکېوم هډوکو نتو ګانې . د (**Ischial Spine**) په انډول.

- Spine of Sphenoid Bone

د وتدی (**Sphenoid**) هډوکی اړوند ښکریز جوته برخه هډوکې .

- Spine Sign

دا هغه کلېنیکی نښه (علامه) ده چې پکې د ملاتیر د قبض کولو (**Flexion**) پر مهال مقاومت شتون لری او مننجېت (**Meningitis**) په ناروغبو کې لېدله شی.

- Spineboard Stretcher

هغه تخته چې د ترضېضاتو پر مهال د ملا تیر د سمون او نېغولو او تثبیت لپاره کارول شی.

- Spine of Tibia

Spiral
فنری ، فنر ته ورته جوړښت .

- Spiral Bandage
فنری بنداژ ، د بنداژ هغه ډول تړل چې د پورته برخې په لوړې غځېدلې او تړل شوې وی .

- Cruschmann's Spiral's
مارپیچی مخاطی فیبریلونه چې ځینې وختونه د سالنډی (استماً) د ناروغانو په خراشکي کې موندل شی.

- Spiral Ganglion
فنری ډوله ګانګلیون. هغه عصبی ګانګلیون (**Ganglion**) چې په اتم عصبی زوج کې پروت دئ او د (**Organ Of Corti**) غړی برخه ته ور ځغلی او هغه تعصبب کوی.

- Spiral Organ
فنری غړی . د (**Organ Of Corti**) په انډول.

Spireme
یوه طنابی پرلپسې یا ځای په ځای پرېکېدونکې بڼه چې د پروفاز په بهیر کې له کروموزومی مادې څخه منځ ته راځی .

Spirilla
د (**Spirillum**) د کلمې ګڼّه شمېره ده .

Spirillicidal
د (**Spirillum**) د کورنۍ اړوند مېکروبونو وژونکې ماده .

Spirillosis
د (**Spirillum**) د کورنۍ اړوند مېکروبونو څخه رامنځ ته شوې ناروغه حالت بلل شی .

Spirillum[1]
د (**Spirillum**) د کورنۍ اړوند هغه ډول باکتریا چې د موږک چېچلو او خولې لګولو تبه (**Rat-Bite Fever**) رامنځ ته کوی .

Spirillum[2]
د (**Spirillum Minus**) د کورنۍ اړوند باکټری ګانو د یوه جنس په ګډون د ګرام منفی باکتری ګانو یو جنس چې د (هندی خوګانو ، موږکانو، بیزوګانو او مېږو) لپاره ناروغی پېښولای شی.

Spirit
خوټېدل، داری. داری وهل ، یو ډول الکهول چې خالصه بڼه لری او په هوائی چلند او طبی کارونه کې تړې کار اخیستل شی.

Spirited
ژوندی، تکړه،ویښ، ببدار ، چّست او چالاک .

Spiritless
بی روحه، مړ ژوندی ، مړاوی ، بې شیمې کس ، غړند .

Spiritualism
هغه عقیده چه وایی دمړو روح له ژوندو سره خبری کوی، دروح د اصا لت عقیده.

Spiritualistic
روحانی، دروحانیت اړوند صفت .

Spirituality
معنویت ، روحانیت،

Spirituous
الکهولی، ډیر الکهول لرونکی.

Spiro-
دا یو مختاړې دئ او د (فنر ، فنری **Spiral** ، مارپیچ، حلزونې، حلقوی، تنفس **Respiration**) معنی بشپړوی .

Spirochaeta
د باکتری یو فنری ډول جنس چې چې په تازه او مالګینو سمندری اوبو کې په ځانګړی ډول هغه مهال چې هایدروجن سلفایدونه شتون ولری موندل کېږی .

Spirochaetal
د (**Spirochaete**) اړوند صفت .

Spirochaetaemia
په وېنه کې د سپایروکېټونو (**Spirochaetes**) شتون حالت بلل شی ، د (**Spirochetemia**) په انډول.

Spirochaete
هغه باکتریا چې فنر ته ورته (**Spiral Shape**) جوړښت لری او په اناسنانو کې ناروغی رامنځ ته کوی لکه د (**Syphilis**) ناروغی، د (**Spirochete**) په انډول .

Spirochete
د (**Spirochaete**) په انډول.

Spirochetemia
د (**Spirochaetaemia**) په انډول.

Spirochaeticide
د (**Spirochaete**) وژونکی درمل یا کیمیاوی لاملونه او ماده بلل شی.

Spirochaeticidal
د (**Spirochaete**) وژونکی درمل یا کیمیاوی لاملونو او مادې اړوند صفت بلل شی.

Spirochaetolysis
د تحلیل او تجزیې له لارې د (**Spirochates**) ویجاړېدنه.

Spirochaetolytic
د (**Spirochaetolysis**) اړوند صفت دئ.

Spirochaetosis
په (**Spirochates**) باندې اخته کېدنه او منتن والی ناروغی.

- **Fowl Spirochaetosis**
د چرګانو اړوند یوه انتانی ناروغی ده.

Spirogram
د طب په څانګه کې هغه ډول ثبت او انځور جوړولو کړنلاره چې پکې یو څوک هسې تنفس کوی چې فنری ډوله ګراف د (**Spirograph**) پذربعه ترسیم او ثبت کړی.

Spirograph
هغه وسیله چې د ژور او چټک تنفس اړوند ګراف ثبت کوی.

Spirography
د (**Spirograph**) پذربعه د تنفس عمل ثبتولو لړۍ انځوریز بڼه رامنځ شوېوی.

Spiroid
تاوراتاو او مارپیچ ډوله ورته جوړښت.

Spirolactone
یو ډول مدرر درمل دی چې د مرکبونو هغه ډله ده د(سوډیم ، پوټاسیوم) په کلیوی لېږد باندې د سوډیم ساتونکو ستېروئیدونو له اغېز سره د مقابلې او مخالفت توان لری.

Spirometer
هغه ماشین یا وسیله چې د تنفس شوې هوا او ېږته ایستل شوی هوا اندازه ثبت او څرګندوی ، سپایرومتر.

Spirometeric
د (**Spirometer**) اړوند صفت دئ.

Spirometry
د (**Spirometer**) پذ ېعه د سږو د (**Vital Capacity**) اندازه کولو کړنلاره او مېتود.

Spironolactone
هغه ډول ستېروئیدی ماده چې مدرر (متهازې راوستونکې) اغېزې لری او د (**C24h32o4s**) فورمول لری چې د الډوستېرون نهی کوونکې مستحضر دئ د اذېما او وېنې فرط فشار درملنه کې پکار وړله شی.

Spisated
ټینګ یا غلیظ شوې جوړښت.

Spit
هغه اندازه لاړې چې له خولې څخه بهر ته راووځی ، توکړه ، د لاړو راوتنه.

Spite
کینه، رخه ، لج،غرض،بدخواهي ، بغض ، کدورت.

Spitting
دلاړو توکړې حال ت چې تېر ېا ماضی یې (**Spat**) دئ.

Spittle
لاړې، توکانې ، ناړې.

Spitz-Holter Valve
دا هغه ډول دسام(**Valveone-Way System**) دئ چې یو اړخیزه درېناژ کوی په جراحی کې کارول شی لکه د (**Hydrocephalus**) په ناروغی کې د شنټ دننه کارېدونکې سېستم چې له ماغزو څخه اضافی مایع درېناژ کوی.

Splanchnectopia
د یوه یا څو احشاوو بې ځایه توب.

Splanchnesthesia
حشوی بې حس توب حالت.

Splanchnesthetic
د (**Splanchnesthesia**) اړوند صفت دئ.

Splanchnic
حشوی ، د احشاوو(**Viscera**) اړوند.

- **Splanchnic Nerve**
حشوی عصب ، هغه عصبی رشته چې یو دننه غړی ته عصب لېږدوی.

Splanchnicectomy
د وینې لوړ فشار یا نه درملېدونکی دردونو د درملنې لپاره د یوه یا څو حشوی اعصابو غوڅولو جراحی کړنلاره.

Splanchnicotomy
د حشوی اعصابو د یوې برخې غوڅولو جراحی کړنلاره.

Splanchno-
دا یو مختاړې دئ او د (احشاوو، حشوی اعصابو) اړوند معنی بشپړوی.

Splanchnocele
د یوه حشوی غړی فتق (چُره توب).

Splanchnocoele
د جنینی دورې د سیلوم (**Coeleume**) هغه برخه چې حشوی جوفونه ورڅخه رامنځ ته کېږی.

Splanchnodiastasis
د یوه یا څو احشاوؤ د ځای بدلون غیر نورمال حالت.

Splanchnography
د بدن د احشاوؤ اړوند توصیفی اناټومیکه انځور ویستنې کړنه تر سره کول د اړوند ماشین پذریعه .

Splanchnology
د طب علم هغه څانګه چې د بدن د دننه غړو (دګډې غړو، صدری غړو) په څېر برخو طبی څېړنې تر سره کوی .

Splanchnomegaly
د احشاوؤ (لوئېدنه ، غټېدنه ، ضخامه) حالت . د (**Vesceromegaly**) په اندول.

Splanchnopathy
د احشاوؤ هر ډول ناروغتیا ، حشوی هر راز ناروغی حالت.

Splanchnopleure
هغه طبقه چې د احشائی مېزودرم او انتودرم څخه جوړه شوېده او د هضمی کانال منضمی نسج او عضلات ورڅخه جوړېږی.

Splanchnosclerosis
د احشاوؤ کلکېدل او سختېدل .

Splanchnoskleton
د احشاوو پورې اړوند اسکلېټی جوړښتونه .

Splanchnoanatomy
حشوی اناټومی .

Splanchnotomy
د احشاوؤ د وازولو او څیرلو جراحی کړنلاره.

Splanchnotribe
د کولمو د بهیدنې د بندولړو په موخه د هغو د تخته کولو لپاره ماشین .

Splash
شیندل، پاشل، الوزول لکه (اوبه یاخټې). شړپهار ، شړپېدل، شړپهارکول.

Splay
کوږوالي او تاوه بڼه ، کړول، خپرول، غزول، ریبنده کول، ریوندہ کول.ریونده، خپور، غوړیدلی، ویړ، غزیدلی (لکه پښه) ، خلع کول لکه د هډوکو بې ځایه کول .

- Splay-foot
پلنه پښه ، هغه پښه چې بهر ته تاوه شوېوی.

- Splay-kneed
کجل، کجی، کوږ زنګونی ، هغه ناروغ چې کوږ په لاره تګ کوی .

- Splay-legged
پښې ارتې ، هغه ناروغ کس چې خپلې پښې ارتې ږدی، شوړ، شوار.

Spleen
توري (طحال)،د بدن د دفاعی او وېنې لمفاوی سېستم پورې تړلې فعال اناټومیک جوړښت چې معمولاً (د لمفوساېتونو جوړولو ُانتی باډي ګانو جوړېدنه ، د وېنې د سرو کرېواتو تخریب ،اجنبی جسمونو تخریب) په څېر دندې تر سره کوی .

- Accesory Spleen
اضافی توري ، د توری یوه کوچنی برخه چې د اصلی توری څخه رابېله شوې ورڅخه ګوښې یا نښتی بڼه لیدله شی.

- Deffuse Waxy Spleen
د توری امایلوئیدی استحاله چې په ځانګړی توګه یې وریدی سینوسونه او نور رتیکولو اندوتېلیال غړی نیولی وی او د توری موم ته ورته قوام بڼه رامنځ ته کوی .

- Floatting Spleen
د توری څخه رابېله شوې او غیر نورماله برخه چې د خوځېدو وړتیا لری او محترکه وی .لامبوزن او شناوره طحال .

- Movabale Spleen
متحرک ډول توري یا لامبوزن او شناوره طحال .

- Sago Spleen
په توری کې د امایلوئیدی ارتشاح چې مالپیګینی جسمونه پکې د شګو د دانو په څېر لیدل کېږی .

- Wandering Spleen
لامبوزن او شناوره طحال .

- Waxy Spleen
هغه توری چې د امایلوئیدی استحالې تراغبزې لاندې راغلې وی.

Splen
توري ، طحال ، تیلی ،د (**Spleen**) په اندول .

Splenalgia
د توری درد لرلو حالت .

Splenectomies
د طحال (**Splenectomy**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Splenectomy
د توری (طحل**Spleen**) د غوڅولو جراحی عملیات کړنلاره ده.

Splenectopia
د توري ېبځایه توب ، لامبوزن توري .

خلفی برخې رسېږی او ورمېږ او سرته تاوېدنه وربخښی ګڼه شمېره يې (**Splenii**) ده .

Splenization

په توری ډوله نسج باندې لکه د (سږو د نسج اوښتل چې دا چاره د پام وړ نسج د تراکم له کبله رامنځ ته کېږی.

Spleno-

دا يو مختاړې دئ او د (توری ، طحال **Spleen**) معنی بشپړوی .

Splenocele

طحالی فتق ، د توری چُره .

Splenocolic

د توری او کولون اړوند . طحالی –کولونی.

Splenocyte

د طحالی نسج ځانګړې مونوسایت حجرې .

Splenographic

د طحال انځور اخیستنې اړوند .

- Splenographic Image

طحالی انځور د رادیولوژیک کتنو (سی تی سکن ، راډیوګرافی ، انجیوګرافی ، التراسونوګرافی او نورو) پذرېعه .

- Splenographic Picture

د (**Splenographic Image**) په انډول.

Splenography

د طحالی رادیولوژیک انځور تر سره کول .

Splenohepatomegaly

د توری او ځیګر غټوالې ، طحالی –کبدی ضخامه .

Splenoid

توری ته ورته جوړښت.

Splenolysin

يو ډول لایزین ترکیب چې طحالی نسج تخریب کوی .

Splenolysis

د يو ډول لایزین ترکیب پذرېعه طحالی نسج تخریب کولو عملیه تر سره کول ، د طحالی نسج تخریب .

Splenoma

يو طحالی تومور .

Splenomalcia

د توری غېر نورمال نرمښت .

Splenomedulary

د توری او هډوکو د ماغزو اړوند .

.

Splenectopy

د (**Splenectopia**) په انډول او اړوند صفت دئ.

Splendid

ځلاند ، بریښند ، پرتمین (مجلل، شکو همند)، روښ، دندارې وړ ، لوی، لوړ ، فوق العاده، ډیرښه برمیالی، برمي.

Splenetic

دتوري (دطحال،**Spleen**) اړوند صفت دئ ، د (کینه کښ، کینه ناک، بدغوني، توغمه ناک) اړوند صفت .

Splenic

دتوري، تورینې ، دتوري (دطحال،**Spleen**) اړوند صفت دئ.

- Splenic Anaemia

د توری اړوند وېنه لږې چې د (وینې ارثی سفېروساېتوزېس ، هېمولاېزېس ، کبدی سېروزېس (**Cirrhosis**) اونورو) لامللونو له امله رامنځ ته کېږی او پکې (**Portal Hypertension, An Enlarged Spleen And Haemorrhages**) په ځېر ننښې لیدل شی ، د (**Banti's Syndrome**) په انډول.

- Splenic Artery

طحالی شرېان (سور رګې) .

- Splenic Flexure

د طحال سره نېږدې / په تماس کې کولونی قابضه زاوېوی برخه هلته چې (**Transverse Colon**) د (**Descending Colon**) سره یوځای کېږی.

- Splenic Hillus

د طحال د ثروی (هېلېوم) نتوتې برخه .

- Splenic Rupture

د طحال چاودنه یا ځیرېدنه چې د ترضیضاتو پرمهال پېښېږی.

- Splenic Trauma

د طحال (توری) ترضېض ، طحالی ضربې .

Splenii

د (**Splenius**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Splenitis

د طحال التهاب . د طحال التهابی ناروغېو اړوند .

Splenium

يوه پتې ډوله جوړښت ، کامپرس یا پېچی بنداژ .

- Splenium Corporis Calos

د سخت جسم خلفی او ګردئ جوړښت.

Splenius

هرېوه د دوه عضلاتو څخه چې د غاړې په دواړه لورو کې واقع دی او د کوپړۍ د قاعدې څخه تر پورتنی علوی

Splenomegaly
د طحال لوئېدنه ، د توری غټېدنه ، طحالی ضخامه.

- Congestive Splenomegaly
احتقانی طحالی ضخامه ، د باب‌ورید د فشار د لوړوالی څخه په ثانوی توګه د توری ضخامه .

- Hemolytic Splenomegaly
هیمولایټیک طحالی ضخامه، د هغه هرې ناروغی سره په تړاو کې چې د سرو کریواتو د تخریب د زیادښت لامل ګرځی.

Splenomyelogenous
د توری او هډوکو د ماغزو اړوند برخو کې جوړ شوې .

Splenopancreatic
د توری او پانکراص پورې اړوند .

Splenopathy
د توری اړوند هر ډول ناروغی .

Splenopexy
د جراحی عملیات پواسطه د توری تثبیت .

Splenopneumonia
هغه پنومونیا (ذات الریه) چې د سږی د نسج طحالی کېدو سره یو ځای وی .

Splenoptosis
د طحال سقوط ، د توری ښکته لوری ته رالویدنه او ځای په ځای کېدنې غیر نورمال حالت.

Splenorenal
د بډودي (**Kidneys**) او طحال (**Spleen**) دواړو اړوند .

- Splenorenal Anastomosis
د جراحی هغه کړنلاره چې د طحال ورید او کلیوی ورېدونو ترمنځ تفمم ترسره کوی او دا د باب‌ورید فرط فشار لپاره پکار وړله شی.

Splenorrhagia
د توری څخه وینه بهېدنه .

Splenorrhaphy
په جراحی ډول د توری ګنډل او رغونې ترمیمی جراحی عملیات تر سره کول.

Splenorrhexia
د طحال څیرې کېدنه یا چاودنه.

Splenotomy
د توری وازولو او څیرلو جراحی عملیات .

Splenovenography
هغه رادېولوژېکه (**X-ray**) کتنه ده چې پکې توري او د هغه اړوند وریدونه انځوری بڼه د رنګه موادو تېرېدو وروسته منځ ته راځی .

Splice
غړل، تاوول، کښې اېستل ، سره وروستل، سره نښلول (لکه دوه لرګي)، پیوندول. پیوند ،یو له بل سره اوبدنه، یو له بل سره وروستنه.

Splicing
د جینونو د تولید لپاره یو له بل سره د (**Dna**) د توټو او برخو پیوستون عملیه.

- RNA Splicing
له لومړنی نسخې څخه د اینترون حذف او د بالغ (**Rna**) مولیکول د تولید په خاطر د اګزون ورپسې پیوستون .

Splint
سپلنټ ، هغه کلک یا نرم او پوست جسم چې د خوځنده برخو د تثبیت لپاره کارول شی، هغه پتری لکه هغه تختې او اوسپنېز جوړښت چې دمات هډونو هډوکو ثابت ساتنې لپاره استعمالیږي. مزري، لښتې (دتوکری اوبدلو)، سیخ، نچه ، مېله، چچه، دره، تخته.

- Airplane Splint
هغه سپلنټ چې د تر عملیات لاندې غړی په هوا کې خوړند ساتی .

- Anchor Splint
هغه سپلنټ چې د ژامنې د هډوکی په ماتوالی کې پکارېږی.

- Angle's Splint
هغه سپلنټ چې لاندینی ژامنې د ماتوالی تثبیت ساتنې په موخه پکار وړله شی.

- Balkan Splint's
د (**Frame**) په اندول . د بالکان سپلنټ .

- Caoptation Splint
هغه کوچنی سپلنټ چې د مات هډ په ګاونډ کې د توټو د نښلولو لپاره پکارېږی .

- Denis Brown Splint
هغه سپلنټ چې (**Talips Equinovarus**) لپاره پکارېږی او د دوه بنسټیزو پاڼو لرونکی وی چې د یوې متقاطع میلې له لارې سره نښلېدلی دی.

- Dynamic Splint
هغه سپلنټ چې په یوه برخه کې یا د هغې د ګاونډی برخې د خوځښت ساتنې یا پیاوړی کولو په موخه پکارېږی.

- Fractures fixating Splint
د هډوکو تثبیت کوونکې سپلنټ.

- Functional Splint
د (**Dynamic Splint**) په اندول. وظیفوی سپلنټ .

په انډول.

Splitting

سره ېښلول ، چوونکی، درد ناک ، مضاعف کېدونکې ، یو تر بله سره په دوه یا څو شیانو باندې د یوه شی ویشل .

- Splitting of Heart Sounds

د زړه په لومړنی یا دوهم غږ کې د دوه برخو شتون ، په ځانګړې ډول د دوهم غږ د دوه برخو ېښلتون د ابهری یا ریوی دسام د تړل کېدو څرګندونه کوی .

- Muscle Splitting Incision

د عضلاتو جلاوکولو اړوند جراحی شق.

Splotch

داغ، ټپی، ټپی کول، تپې تپې کول، ککړول.

Spodogenous

هغه څه چې د اطراحی موادو په راغونډېدلو سره په یو هډ یا غړی کې منځ ته راځی ، د ملا د فقراتو اړوند جوړشوې.

Spoil

لوټولوتالاکول،خراپول،ابتهکول،ضایعکول،لهکارها ېستل،ورانول، خوساکېدل،ورستېدل.

Spondyl

د (**Vertebra**) په انډول.

Spondyl-

دا یو مختاړې دئ او د [ملا، فقراتو ، (**Spondylo-**)]په انډول معنی بشپړوی .

Spondylalgia

د فقراتو (ملاتیر) اړوند دردونه.

Spondylarthritis

د ملاتیر د فقراتو د بندونو التهاب .

Spondylitic

د سپاندیلیت پورې اړوند صفت دئ.

Spondylitis

د ملاتیر د فقراتو التهاب .

- Spondylitis Ankylopoitica

د فقراتو روماتوئید آرتریت چې په ځوانانو کې لیدل کېږی او د بین الفقری ساکروایلیاک او ضلعی فقری بندونو د التهاب له کبله درد او شخوالې پېښېږی چې پرمختلونکې بڼه لری.

- Spondylitis Ankylosan

د (**Spondylitis Ankylopoitica**) په انډول .

- Spondylitis Ankylosing

د (**Spondylitis Ankylopoitica**) په انډول .

- Penile Splint

د قضیب نېغونې اوتثبیت اړوند طبی سپلېنټ.

- Shin Splint's

د ګوتو د لویې قابضې عضلې کشش چې په ورزشکار انو کې منځ ته راځی او د پنې د پنډی د هډوکی په اوږدو کې له درد سره مل وی.

- Thomas Splint

د پنې د پنډی د هډوکی سپلنټ چې له دوه میلو څخه جوړ شوېدی او له یوې بیضوی کړی سره ننښتې بڼه لری چې د ورانه په چاپیر فیکس کېږی .

Splinting

د سپلنټ په ذریعه تثبیت کول او درملنه کول ، سپلنټ کېښودنه او استعمالولو کړنلاره .

Splinter

هغه نری تختې او یا اوسپنیزه ډول جوړښت چې تر پوستکی لاندې کېښودل شی د تخریش او التهاناتو منځ ته راتلو لامل ګرځی، نری اوږده ډره، تر اډه، تر ازه، تر انګه (دلرګي یا بل شي نری پتره، ټوټه چې په اوږدو پرې شي). ترازه ېښلول، تر اډې تر اډې کول، چول، چاودل.

- Splinter Haemorrhage

د وینې کېدنې نری بڼه منځ ته راتګ چې تر نوک لاندې او سترګو ګاټو کې پېښېږی.

Splints

د (**Splint**) لپاره ګڼه شمېره ده . هغه حالت چې په آس کې د دوهم او څلورم اولیه مېتاکارپ یا مېتاتارس هډوکی په سر د اګزوستوزیس په ودې سره پېژندل کېږی.

- Shin Splints

یو ډول سپلنت دئ چې سوداګرېز نوم یې همدا دئ او د مټ تشېتولو لپاره معمولاًپکار وړله شی.

Split

ېښلول، ویشتل، وېشې کول، چاودل، چاودلی، په دوه برخو وېشل شوی. مضاعف لکه (په هضمی جهاز او نورو جهازونو کې) ، انشعاب، چاود ، ورز ، ویش، وېشه چول (لکه لرګی په اوږدو) ټوټې ټوټې کېدل یا سره لېرې کول ، انشعاب کول، ټوټې ټوټې.

- Split Personality

د مضاعف شخصیت خاوند کس. د (**Schizoid Personality**) په انډول.

- Split-skin Graft

هغه ډول جلدی ګرافت تر سره کول چې پکې ګرافت شوې پوستکې د تېپ لپاسه تر سره شوې وی .د (**Thiersch - Graft**)

د فقراتو برخې شخی (کلکوالې) چې پکې د فقراتو ترمنځ مفصلی (Discs) استحالوی تغیرات مومی او (Osteoarthritis) ورسره مل وي چې دا په سپین ږیرو کسانو کې پیښیږی .

- Rhizomelic Spondylosis

د انکیلوزینګ سپوندیلیت په اندول.

Spondylosyndesis

د (Spinal Fusion) په اندول ، د فقراتو نښتوالی حالت .

Spondylotic

د (Spondylosis) اړوند صفت دئ .

Sponge

سپنج ،اسفنج، په سپنج مینځنه، تیارخوره حیوان (طفیلي، پرازیت). سپنج یوه سپکه جذبوونکې ماده ده چې ښائی طبیعی یا مصنوعی وی ، ځان په بل بارول.

- Sponge Bath

د اسپنج پذریعه ځان مینځل ، اسفنجی حمام کول .

- Glatin Sponge

جلاتینی اسفنج ، په اوبو کې نه جذبیدونکې ماده لکه ګاز او پنبه. تر اوبو لاندې حیواناتو د ځانګړو ډولونو ارتجاعی او رشتوی اسکلیټ.

- Absorbalbe Sponge

د (Glatin Sponge) په اندول. هغه ډول اسفنج چې د جذبولو وړتیا لری او په ځان کې اوبه جذب کړلای شی.

Sponger

پرازیت ژوند کوونکې ژوې ، زیبښونکی، په بل بار.

Spongi-

دا یو مختاړې دئ او (اسفنج ، اسپنج ، جذب کوونکی مادې) معنی بشپړوی.

Spongiform

اسفنج ته ورته جوړښت .

- Spongiform Encephalopathy

د انسانانو او څاروبو هغه ډول ناروغی چې بنه یې پّه ماغزو په کراره سره وده مومی او پکې کوچنی ډول سوری منځ ته راځی او ماغزه د یوه اسفنج په بنه حالت غوره کوی.

Spongio-

دا یو مختاړې دئ او (اسفنج ، اسپنج ، جذب کوونکی مادې) معنی بشپړوی.

Spongioblast

د عصبی تیوب د شاوخوا اپیتلیائی حجرو څخه هر یوه چې ځینې یې په نوروګلیا او ځینې یې په اپاندیمال

- Kummell's Spondylitis

د (Kummell's Disease) په اندول چې پکې د ملاتیر شخی او دردونه رامنځ ته کیږی .

- Marie-Strumpll's Spondylitis

د (Spondylitis Ankylopoitica) په اندول .

- Rheumatoid Spondylitis

د (Spondylitis Ankylopoitica) په اندول . د روماتیزم ناروغی له امله د ملا تیر فقراتو شخوالې او درد.

- Spondylitis Tuberclosa

د فقراتو نری رنځ (توبرکلوزیس ، سل).

- Spondylitis Typhosa

د محرقې (تبګی ، ټایفایډ) له کبله یو ډول د ملاتیر شخوالې.

Spondylizema

د لاندینی فقرې د نرمښت یا دهغې د تخریب له کبله کښته خواته د فقرې ښکایه توب .

Spondylo-

دا یو مختاړې دئ او د [فقراتو ، (Vertebra)]معنی بشپړوی.

Spondylocace

دفقراتو نری رنځ ناروغی .

Spondylodymus

هغه جنینی غبرګونی چې د ملاتیر برخه کې سره نښلیدلی بنې ولری .

Spondylodynia

د ملاتیر د فقراتو برخې دردونه شتون.

Spondylolisthesis

هغه حالت چې پکې قطنی برخې فقرات قدام لورې ته ښوئیدنه مومی .

Spondylolisthetic

د (Spondylolisthesis) لپاره اړوندصفت .

Spondylolysis

د فقراتو تخریب پروسې ته ویل شی.

Spondylopathy

د فقراتو هر ډول ناروغی .

Spondylopyosis

په فقراتو کې د (زوې ، قیح ، چرک ،خیری) راټولیدنه .

Spondyloschiasis

په ملاتیر فقراتو کې د خلفی قوس نشتوالی له امله د ولادی درز (چاکوالی) شتون بلل شی.

Spondylosis

اسفنجي، سپک ، له اسپنج (**Sponge**) څخه جوړ شوې .

- Spongy Bone

اسفنجی هډوکي ، د هډوکو هغه اسفنجی برخه چې دننه د مخ په برخه کې پرته ده او اوږدو هډوکو سره متصل کېږی .

Spontaneous

پخپله، له ځانه، په خپل سر ، بنفسهی ، له خپله انده، بې اختیاره. هغه پېښه چې له بهر څخه لامل پکې رول نلری .

- Spontaneous Abortion

بنفسهی زېان ، په خپل سر سقط ، د (**Miscarriage**) په انډول.

- Spontaneous Bleeding

بنفسهی وینه بهېدنه .

- Spontaneous Delivery

بنفسهی زېږونه . هغه زېږونه چې پرته له طبی مرستې پخپله رامنځ ته شی.

- Spontaneous Pneumothorax

بنفسهی پنوموتوراکس .

- Spontaneous Version

د جنین هغه حرکت چې پکې په رحم کې له یوه لوري بل لوري ته اوړی او د رحمی تقلصونو له کبله پېښېږی . بنفسهی جنېنی اوښتنه.

Spontaneously

پخپله، بې اختیاره ، په بنفسهی ډول سره.

Spoon

کاشوغه، کاچوغه، څمڅکی. په کاشوغ اخیستل لکه د مایع درملو خوراک .

Spoonful

یوه کاشوغه ، ډکه کاچوغه.

Spoor

ژور ډول خوب کړنه ، بېهوښه کېدنه ، منډ، پل، پته، دځنګلي ځناور منډ پسې اخیستل. د (**Unconsciousness**) په انډول.

Sporadic

هغه چې نه انډیمیکه او نه اپیډیمیکه بڼه ولری او په یوازې توګه رامنځ ته شی. تیت او پرک، شیندلې ، ځای ځای لیدل کېدونکې ، خال خال، غوټه غوټه.

Sporadically

کله کله، په پاشلي توګه.

Sporangium

هر ګردی سیستې چې سپور یا د ورته جسمونه ولری او په ځانګړو چنیاسو کې لیدل کېږی.

حجرو اوړی ، اماکرین حجره .

Spongioblastoma

د (**Glioblastoma**) په انډول. هغه ټومور چې له آنجېوبلاستېونو څخه رامنځ ته شوېوی او د یوه نیوروایپتلیائی تومور په توګه په پام کې نیول کېږی .

Spongioblastomas

د (**Spongioblastoma**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Spongioblastomata

د (**Spongioblastoma**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Spongiocyte

نیوروګلیال حجره ، هره هغه حجره چې اسفنجی واکیول لرونکې پروتوپلازم ولری او د فوق الکلیوی غدې په کورټکس کې ومونډل شی.

Spongioid

اسفنجی ، اسفنج ته ورته جوړښت .

Spongioplasm

د اسفنجی جسم پلازمائی برخه ، د فیبریلونو یو جال چې په حجروی زمینه کې خپرې شوېدی او د ځانګړو فیکس کوونکو تر کارونې وروسته په هستولوژیکو نمونو کې لیدل کېږی .

Spongiosa

اسفنجی ، د یوه غړی اسفنجی برخه لکه د (هډوکو ماغزه ، قضیب) کې اسفنجی جوړښتونه .

Spongiosaplasty

د نوی هډوکی د جوړېدنې د پیاوړی کولو یا د هډوکېزې برخې د نیمګړتیاوو د پوښلو لپاره د هډوکی د اسفنجی مادې آوتوپلاستیی جراحی عملیاتی کړنلاره.

Spongiosis

د اپي ډرم دننه بین الحجروی اذیما.

Spongiositis

د نارینه وو د تناسلی آلې (قضیب) د اسفنجی جسم التهاب.

Spongiosum

اسفنجی ، اسفنجې جسم لکه په قضیب کې ، د (**Corpus Spongiosum**) په انډول.

- Corpus Spongiosum

په قضیب کې اسفنجې جسم اناټومېکه برخه بلل شی.

Spongy

پوست او سورې سورې جوړښت ، سپنج وزمه،

Spore

سپور ، په بیالوجي کې هغه تکثیري (تولیدی) واړه اجسام چې دیوه حجروي ژوواو بوټو په ځانګړو (**Bacteria And Fungi**) څخه پیداکیږي اوپه سترګو نه لیدل کیږي (دا سپورونه د باکټری ګانو د ژوندانه د بهیر د استراحت مرحلې شمیرله شی.).

Sporicidal

سپورونو وژونکې مادې اړوند .

Sporicide

د سپورونو وژونکې کېمیاوی ماده چې د باکتریا ګانو سپورونه وژني.

Sporoagglutination

د ی‌پورونو اګلوټینېشن چې د سپوروتریکوزیس اخته کېدنې پرمهال پېژندل کېدای شی.

Sporoblast

د غوماشی کې د ملاریا د پرازیټ په اووسیټ کې جوړېدونکې جسم چې وروسته بیا په سپوروزویټ باندې اوړی .

Sporocyst

هغه سیسټ یا کڅوړه (**Sac**) چې سپورنه یا تکثری حجره ولری .

Sporogenic

د سپورونو تولیدوونکې .

Sporogonic

د (**Sporogony**) اړوند صفت دئ .

Sporogony

په یوه سپورانټ کې ګڼ شمېر درزونه چې د سپور وسیټ او سپوروزویټونو د پیدا ېښت لامل ګرځي .

Sporont

و کوکسیدیائی پروتوزوا هګۍ چې یوه اووسیت کې رانغښتل شوې وی او تر سپوروګونی شرایطو لاندې د پېدا ېښت لامل ګرځي .

Sporoplasm

د سپورونو اړوند پروتوپلازم ، په ځانګړو پروتوزوا ګانو کې د سایتوپلازم مرکزی کتله چې له سپورونو څخه راوځی او کوربه ککړوی .

Sporothrix

د چنیاسو یو جنس چې (**Sporothrix Schenckii**) او (**Sporothrix Carnis**) ورګډ ېږی .

Sporotrichosis

د چنیاسو (**Fungus**) انتاناتو مزمنه ناروغی چې د (**Sporothrix Schenckii**) پذرېعه پېښېږی او د پوستکې نیسی او د دانو (خراجونو) لامل ګرځی.

Sporozoa

سپوروزوا د پرازېتی پروتوزوا ګانو (**Parasitic Protozoa**) یو ډول بڼه ده چې سپورنه یې هم بولی او په ځوان ډول پرازېت باندې اوړی لکه د (**Plasmodium**) چې ملاریا **Malaria**)) پېښوی.

Sporozoan

د (**Ascetopora** ، **Phyla Ampicomplexa Microspora** او **Myxozoa**) اړوند پروتوزواګانو څخه هر یو چې وی .

Sporozoite

د ځانګړی پروتوزوا سره په تړاو کې یا په هغه پورې اړوند .

Sporozoon

د (**Sporozoan**) په انډول.

Sport

سپورټ، بدني روزنه او فزېکی فعالېتونه تر سره کول، ساعت تیرول ، لوبه کول ، دلوبې سینې څېښتن کس ، دسړې سینې خاوند کس، د چرچوخاوند کس ، بدلون موندل ، انحراف ښیل، ساعت تیرول دلوبې (وسایل).

- Sports Injury

د سپورټ له کبله مجروح کېدنه ، سپورتی زخم ، هغه ټپی کېدنه چې د لوبو پر مهال یو چا ته پېښېږی.

- Sports Medicine

هغه علمی څېړنېزه برخه چې د سپورتي لوبو اړوند ټپونو اوترضېضاتو ،درملنې او دارو –درملو سره سروکار لری.

Sporulation

د سپورونو جوړېدنې اړوند .

Sporule

یو کوچنی سپور .

Spot

خاپه، هغه (خاپ ،داغ، خال، ټکی ، رټه) چې ګردی وی د پوستکی لپاسه رامنځ ته شی ، یوه محیط لرونکې سیمه ، یوه ماکولی جلدی اندفاع ، پلموتي، ټپ، ټپی، نوغي، سیمه، ځای. کوچنی داغ ، داغ داغ کول، رټه

- **Mariotte's Spot's**

د (**Optic Disk**) په انډول.

- **Milky Spot's**

د پلورا او پریتوان په تحت المصلی منضمی نسج کې د ماکروفاژونو راغوندېدل.

- **Mongolian Spot's**

یوډول توربخن خال چې پسته (نرمه) بڼه لری او د زیات شمېر میلانوسایټونو د راغوندېدنې څخه رامنځ ته کېږی .

- **Pain Spot's**

دردناکه ټکی، د پوستکی په سر هغه ټکی چې په پارولو سره یې انسانان درد حس کوی .

- **Red Spot**

سره بڼه خاپه چې د پوستکی لپاسه رامنځ ته کېږی .

- **Rose Spot's**

د ګلابی رنګ لرونکی جلدی راوتلتیاوی چې د محرقې په لومړنی اونۍ کې د ګېډې اوورنونو په سر لیدل کېږی .

- **Roth's Spot's**

هغه بیضوی او ګردی سپین ټکی چې ځینې وختونه په شبکیه کې د (**Subacute Bacterial Endocarditis**) له کبله رامنځ ته کېږی .

- **Soemmerings Spot's**

د (**Macula Lutea**) په انډول.

- **Tardieu's Spot's**

تر پلورا لاندې د اکیموز ټاپې چې تر مرګ وروسته د سا بندښت له کبله منځ ته راځی .

- **Temprature Spot's**

د پوستکی پرمخ د هغه ټکو شتون چې په عادی ډول د درد او فشار په وړاندې بې حسه خو د سړوخې او تودوخې په وړاندې حساس وی.

- **To Come out in Spots**

د پوستکی لپاسه سمدلاسه پّه سره بڼه خاپې رامنځ ته کېدنه او سره مخه پېښېدنه .

- **Yellow Spot's**

د شبکیې ماکولی اندفاع .

Spotted

خاپه شوې .

- **Spotted Fever**

خاپې منځ ته راوړونکې جلدی ناروغی ،د (**Meningococcal Meningitis**) په انډول .

Spotty

سوربخن ، خاپې منځ ته راغلی ، په سره رنګ سره د پوستکی لپاسه اندفاعات رامنځ ته کېدنه.

Sprain

کول، ننښه کول ، چې ګڼه شمېره یې (**Spot's**) ده.

- **Bitet's Spot's**

د تقرنی اپیتلیوم مثلثی خګ لرونکې توربخن ټکی چې د ویټامین (**Vitamine A**)دکمښت له کبله د سترګو د ملتحې په مخ رامنځته کېږی.

- **Blind Spot's**

هغه ټکی چې د شبکې په مخ د باصرې عصب داخلېدو ځای نه مشخص کوی او د نور وړانګو په وړاندې حساسیت نلری .

- **Break Out In Spots**

د پوستکی لپاسه سمدلاسه پّه سره بڼه خاپې رامنځ ته کېدنه او سره مخه پېښېدنه .

- **Cafteau Spot's**

آبی او روښانه ماکولونه چې په نیوفیبروماتوز او البرایټ سنډروم کې لیدل کېږی.

- **Cherry Red Spot's**

هغه مشیمیه چې د سوررنګه کړیز سیمې په بڼه چې توربخنې سپینې شبکیې له لارې احاطه شوېدی او د (**Tay-Sach**) په ناروغانو کې په ټوله (**Fovea Contralis**) لیدل کېږی .

- **Cold Spot's**

د (**Temprature**) په انډول.

- **Cotton-Wool Spot's**

په شبکیه کې د نرمو ژویو لرونکی سپین یا توربخن مکدریتونه چې له سایتوئیډی جسمونو جسمونو څخه جوړېږی او پّه (هایپرتنسیف رتینوپتي ، لوپوس ایریتیماتوزیس او ګڼ شمېر نورو حالتونو) کې لیدل کېږی.

- **Forschheimer Spot's**

هغه ژر تېرېدونکی اګزانتیمونه چې څرګندو () څخه جوړ شوېدی او په روښیلا کې د پوستکی اندفاعاتو له پیل دمخه په پاسته تالو (نرم حنک) کې لیدل شی.

- **Germinal Spot's**

د القاح شوی هګۍ (اووم) هسته .

- **Hot Spot's**

د (**Temprature**) په انډول. د یوې نیورما حساسه سیمه ، د رادیولوژیک فلم اخیستنې یا ترموګرافیک فلم په مخ د زیات کثافت لرونکې سیمه.

- **Koplik's Spot's**

د خولې او ژبې په خاطی طبقه کې (نا منظم ،روښانه او سره) ټکی لرونکې سیمې چې په مرکز کې آبی رنګه سپین داغونه لری او د شری ناروغۍ (سرې مخې) په پیل موده کې پیدا ېښت مومی.

- **Liver Spot's**

هغه توربخن ټکو لپاره یوه نوم ایښودنه چې په زاړه (معمرو) کسانو کې په (مخ ، غاړه ، لاسونو څټ برخو) کې لیدل کېږی .

Sprue

د ناوړه جذب سنډروم مزمنه بڼه چې په ټروپیکال او غېر ټروپیکال بڼو سره وی ، په غاښونو طب کې هغه سورې چې له لارې یې د غاښ داخل ته فلز یا نور مواد تویول کېږی ، د (Psilosis) انډول.

- Celiac Sprue

غوړینه نس ناستې ، شحمی اسهالات، د (Celiac Disease) انډول .

- Colagenous Sprue

د (Celiac Sprue) ته ورته وژونکې ناروغی ده خو پدې ناروغی کې دغذائی رژیم د ګلوتن د قطع کولو سره ځواب نه ورکوی او د کولمو په (Lamina Propria) کې د کولاجن د پراخو رسونو له لارې پېژندل کېږی .

- Nontropical Sprue

د (Celiac Disease) انډول .

- Refractory Sprue

د جیجینوم مخاط ښویه کېدل او ناوړه جذب چې د غذائی رژیم د ګلوتن په قطع کولو سره ځاب نه ورکوی

- Tropical Sprue

د ناوړه جذب یو سنډروم چې په تاوده او توده وزمه سیمو کې لیدل کېږی او د خولې التهاب نس ناستې او وینه لږې سره پېژندل کېږی.

- Unclassified Sprue

د (Refractory Sprue) په انډول.

Spry

چټک، ګړندی، وندې.

Spud

هغه ستنه یا نوسې وسیله چې له سترګو څخه اجنبی جسمونه او وړې ټوټې راکاږی .

Spumavirous

ځګ لرونکی (ځګن) ویروسونه چې په انسانانو او حیواناتو کې تلپاتې انتانی ناروغۍ پېښوی .

Spur

نوکه، هغه جسم چې د یوه هډوکی څخه بهر ته راوتلې تېره څو که لری ، خنډ، پیخ لکه د (چرګ دپښې پیخ)، محرک، چوکه کول لکه د (څارویو د چوخوني لپاره) ، خنډ، پاڼ، ګړنګ، پونده کول لکه (آس)، چوکه کول، پارول، لمسول.

- Calcaneal Spur

د پوندې د هډوکو په لاندېنۍ سطحه کې هډوکیزه راوتلتیا چې اغلباً د تګ پر مهال د درد پیدا کېدو لامل ګرځی .

هغه حالت چې د یوه ډول مفصلی صدمې او اړوند وترونو (نېغېدنې ،کشېدنې ، څیرنې او اوښتلو) له کبله لکه (دپښې بندونو کې) د ناڅاپه حرکتونو له کبله رامنځ ته کېږی ، زور موندل، رګیدل لکه (مړوند چې په زور تاوشی)، ټپ خوړل، ټوکل، ټکېدل. زورموندل، تاوخوړنه، لګیدنه، ټکیدنه.

Spray

شیندنه ، شیندل ،سپرې ، پاشېدنه ، هغه وسیله چې د هغه پذرېعه د یو لړ درملو اوطبی ماېعاتو ذرې شیندل کېږی ، شیندونکې ، بارانی څېز ، ریزش ، ترشح ، څاڅکی شېندنه لکه در باران په څېر ، افشان ، ، دواپاشی کول ، ، اوبه پاشونکې .

- Fine Spray

ډېر ظریف او نم په څېر پاشونکې سپرې .

- Mouth Spray

د خولې لپاره پاشونکې سپرې .

- Nasal Spray

د پوزې لپاره پاشونکې سپرې.

- Throat Spray

د ستونی لپاره پاشونکې سپرې.

Spread

په پراخه اندازه خپور ، توپیر، پوښ لکه (دمیز دسر) څادر، روجایي، خپرېدنه لکه د (انتاناتو خپرېدنه په بدن کې) اخیړ لکه د ختې پذرېعه پوښول ، هر هغه نرم مواد لکه (کوچ) چې په بل شي لکه (ډوډۍ) پورې موښل کیږي. غوړول، خپرول، پلنول، اوارول، غزول، ویشل، ونډې کول، خپرول، تیتول، خپرونه، ویش، ونډه، پسور، پلنوالی

Spreading

خپرېدنه ، خپرول ، د خپرېدو حالت .

Sprengel's Deformity

دا د اوږې اړوند له موره پېدا انومالی ناروغی ده چې پکې د کتف هډوکې کوچنې او له بل څخه پورته واقع دئ لومړۍ ځل په کال (1891) کې د جرمنی جراح (Otto Gerhard Karl Sprengel) پذرېعه شرحه شو . د (Sprengel's Shoulder) په انډول.

Sprout

تیغ وهل، نېښ وهل، ټوکېدل. نوده، پونګه، څوکری، بچکی، غونځکه.

Spurt
داره وهل، خوټېدل، ناڅاپي هڅه کول، ناڅاپه جګېدل یا لوړېدنه لکه د (نرخ جګېدنه). داره، ناڅاپه چټکي،.

Sputum
خراشکې ،بلغم ، هغه مخاطی ټوټه مواد چې د تنفسی سیستم التهاباتو پرمهال د سړو د پاکېدو په موخه (پوزې ، خولې یا ستونی) څخه بهرته راغورځوله شی . د (**Phlegm**) په انډول.

- **Bloodstained Sputum**

وینه رنګ لرونکې بلغم یا خراشکې .

- **Cruentum Sputum**

په وینه رنګ لړلې سور رنګه خراشکې .

- **Nummular Sputum**

هغه خراشکې چې د ګردیو پانو په بڼه تقریباً سکې ته ورته وی.

- **Rusty Sputum**

هغه بلغم یا خراشکې چې په وینه رنګ لرونکې بڼه لړلې شکل لری او د ټوخی سره بهر ته راغورځول شی.

Squad
ډله، ډلګی.

Squama
تفلس ، یونازکه پاڼیزه بڼه جوړښت ، د یوه کلک نسج څخه نری پاڼه ټوټه لکه د (پوستکی پطری پطری کېدنې په بڼه) .

Squamae
د (**Squama**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Squamate
تفلس منځ ته راتګ ، د (**Squama**) اړوند صفت دئ.

Squame
فلس ، تفلس ډوله ګردی کتله .

Squamo-
دا یو مختاړې دئ او د صدغی (**Temporal Bone**) هډوکی د سکواموز (**Squamous**) برخې اړوند او تفلس (**Scaly**) معنی بشپړوی.

Squamo-occipital
د صدغی هډوکی په همواره او صافه (ښویه) برخه پورې اړوند ، رنوکې .

Squamoparietal
د جدار ی هډوکی سکواموز برخې اړوند .

Squamous
د صدغی (**Temporal Bone**) هډوکی د سکواموز (**Squamous**) برخې اړوند او د پوستکی د تفلس (**Scaly**) برخه چې کلکه بڼه لری.

- **Squamous Bone**

د صدغی (**Temporal Bone**) هډوکی د سکواموز (**Squamous**) برخې اړوند .

- **Squamous Cell Carcinoma**

د سرطانونو اړوند معمول بڼه ده چې اکثراً (د پوستکی په بهرنی برخې طبقې، شوندو ، خولې دننه او مری) برخو کې منځ ته راځی او د خبیث ډول څرګندوبه وی لنډه ښنبه یې (**SCC**) ده.

- **Squamous Epithelium**

د اپېتلیوم سکواموز همواره برخه چې تفلس ته ورته وی او د (**Pericardium, Peritoneum** او **Pleura**) کې پرته بڼه لری او هغه پوښنوی . د (**Pavement Epithelium**) په انډول.

Squatting
د ا هغه ډول وضعیت چې پکې د هیپ او زنګون بندونه قبض او قات کېږی او کوناټي د پوندې د پاسه ځای نیسی.

- **Squatting Position**

د سکواټینګ وضعیت .

Square
مربع، څلور ګوټی یا څلور ګوټیز ، څلور لاړې، چوک، په خپل ځان کې ضرب شوې، کلک لکه (حساب یا معامله)، خوندور ، په زړه برابر لکه (ډوډی). مربع کول.

Squash
کډو (کدو) ، نري غاړې کډو.

Squat
دپښو په ګوتو کښېناستل ، پنډ لنډ ، لنډی.

Squaw
مېرمن، ښځه (دامیرکایي سور پوستو په ژبه).

Squawk
ټغېدل، کغېدل ، ټغهار، کغهار.

Squeak
چغېدل، ګزیدل، ګزهار کول. چغهار، شغهار، ګړهار.

Squeaky
چغنده، شغنده، ګزنده (غږ).

Squeal
کوړنجهار، کوړنجي، چغهار، کوړنجیدل، چغیدل، نولیدل،چغلي کول، حال ویل.

Squeamish
کارجن (قهرجن) ، نری زړی، نازک مزاجي، ژر خوابدېدونکی.

Squeeze

کښېکښل، کښېکاړل، نښتېځل، زېښل، په زور ځایول ، په زور نتوتل، ور ټپل وهل. کښې منډنه، فشار، زور کول، نینوونکی، نینولې لکه (دلیمبو اوبه چې دنښتیځلو په واسطه لاس ته راغلی وي).

Squil

د سمندری نبات یوډول پیاز لرونکی نبات دئ د دې نبات (**U. Maritima**) له زړې وچ شوی پوډری بنې څخه د (**Cardiac Stimulant, Expectorant, And Diuretic**) په توګه کار اخیستل شی.

Squint

کوږ سترګې ، هغه ډول د سترګو ناروغی چې یوه سترګه یوه او بله سترګه بلې لورې ته د کتلو پرمهال متوجه وی ، ترستر ګو لاندې کتل، کاږه کتل، چپ چپ کتل په نیمکښو سترګو کتل،چپک کېدل، چپول کېدل، کوږې سترګې لرل او چپول کېدل، بصری حول ، د (**Strabismus**) په انډول.

- Squint-Eye

د سترګو حول یا کوږوالي.

Sr

د (**Strontium**) کېمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه ده .

SRH

د (**Somatotropin Releasing Hormon**) لپاره لنډه نښه ده.

SRN

د (**State Registered Nurse**) لپاره لنډه نښه ده .

SRS-A

د سوکه غبرګون لرونکی انافیلاکسی مواد (**Slow Reactive Substance- Anaphylaxis**) لپاره لنډه نښه ده .

Ss.

د یوه نیمائی (**Semis**) لپاره لنډه نښه ده .

SSRI

د (**Selective Serotonin Re-Uptake Inhibitor**) لپاره لنډه نښه ده .

Stab

1- سوري یا زخم کول، چاړه یا چاقو وهنه ، دنته چوخول لکه د مېخ یا توري پواسطه ، **2**- هغه ډول درد چې لکه د یوه سوري کوونکي څیز پواسطه ټپي کېدنه یا زخمي کېدنه .**3**- ناڅاپه او شدید درد منځ ته راتګ لکه د خنجر یا چاقو زخم).

- Stab Cell

سوری حجره یا تشه برخه .

- Stab Drain

هغه ډول ډرین چې د یوه جوف دننه د یوه بذل شوې سوری له لارې کېښودل شی.

- Stab Incision

هغه ټپ چې د سوري یا زخم کولو وسیلې لکه (چاړه یا چاقو وهنه) پذربعه رامنځ ته شی.

- Stab Neutrophil

هر هغه یو حجروی جوړښت چې د وینې د سپینو کرېواتو د هېستولوژیک یا پتالوژیک کتنو کې په آسانی سره د طبیعی رنګ (**Neutral Dyes**) پواسطه د رنګېدلو وړتیا لری .

- Stab Phlebectomy

هغه ډول د وریدونو رګونو وازولو او پرې کولو جراحی مېتود چې د ستنې چوخولو په توګه تر سره کېږی

- Stab Wound

هغه ټپ چې د سوري یا زخم کولو وسیلې لکه (چاړه یا چاقو وهنه) پذربعه رامنځ ته شی.

- Stab Pain

هغه ډول درد چې د سوری کېدنې په څېر احساس شی.

Stabbed

چوخول شوې .

Stabbing

چوخول ، سورې کول ، ټپی کول .

- Stabbing Headache

هغه ډول سردرد چې و چوخېدو په ډول رابرسېره کېږی .

- Stabbing Pain

هغه ډول درد چې د سوری کېدنې په څېر احساس شی لکه د صدری دردونه.

Stabile

تلپاتې ، پایښت لرونکي ، پایداره ، ثابت ،د بدلون په وړاندې مقاوم ، بدلون نه موندونکې .

Stabilise

ثابت کولو حالت ، تثبیت کېدل ، نورمال حالت ته راګرځول ، د (**Stabilize**) په انډول.

Stabilised

نورمال حالت ته راګرځول شوې ، ثابت شوی .

Stability

ټینګتیا ، ثبات.

پرمختګ پړاو / مرحله .

- Stadium Invasioni

د (**Incubation Period**) په انډول.

Staff

ددفتر غړی ټول هغه کسان چې په یوه سازمان لکه روغتون کې کار کوی. د لرګیو لکړه، د امسا (اعصا) ډانګ،کوتک ، میله ډوله جوړښت ، یودرز لرونکې لارښود جوړښت چې د لیتوټومی د چاړې لپاره د لارښونې (هدایت) په توګه کارړی، فیتوی حجره اسره، هیله، زړمه، تونښه، فیتوی حجره .

- Administrative Staff

په یوه روغتون کې اداری کارکوونکی.

- Staff of Ascculapius

هغه لکړه چې یو مار ورځخه راتاو شوې وی او د روغتیا او سلامتیا نښه ګڼله کیږی چې لدې کبله د امریکا طبی ټولنې لپاره رسمی نښه منل شوېده.

- Attending Staff

د یوه روغتون د ډاکټرانو او جراحانو ډله .

- Clinical Staff

د کلینیک اړوند کارکوونکی .

- Consulting Staff

په یوه روغتون کې مشوره او سلا ورکوونکی کس.

- Hospital Staff

د روغتون اړوند کارکوونکی .

- House Staff

د یوه روغتون د ریزیډنټ (زده کوونکو) ډاکټرانو او جراحانو ډله .

- Medical Staff

د ټول د طبی برخې پرمخ بېوونکی اړوند کارکوونکی .

- Staff Midwife

د په زېږنتون کې قابله (د لنګون ، زېږون) برخې اړوند کارکوونکی.

- Nursing Staff

د کلینیک یا روغتون اړوند درنسنګ کارکوونکی .

Stage

پړاو ، مرحله .د یوې ناروغۍ د ودې په لړ کې یوه ځانګړې ټکې یا مودې ته ویل شی چې د تصمیم نېولو لپاره اهمیت لری . صحنه، ستیج، ډېبنې ځای،دریځ.

- Algid Stage

هغه پړاو چې د بدلېدونکی ضربان له نورمال حالت ځخه د تیټې تودوخې او مختلفو مغزی کلېنیکی نښونښانو له لارې پېژندل شی.

Stabilization

توازن، برابري، په خپل ځای وروستنه: استحکام.

Stabilize

انډول، سمول، مستقر کول، تثبیت کول، ټینګول.

Stabilizer

دموازنې برابروونکی آله.

Stabilizing

نورمال حالت ته راګرځولو عمل تر سره کول لکه د یوه ناروغه شدت لرونکی ناروغی. نورمال ته را ګرځول.

Stable

هغه حالت د بدلون وړ نه وی ، ثابت حالت ، تثبیت شوې . ټینګ، پرځای ولاړ ، پایېدونکی، مضبوط. د (**Stabile**) په انډول.

- Stable Angina

هغه صدری درد (**Angina**) چې د اوږدې مودی لپاره د درملنی سره هم د بدلون وړ نه وی.

- Stable Condition

ثابت حالت ، پرته له بدلون ځخه حالت .

Staccato

هغه (کلام ، خبرې ُموسیقي)چې لنډې او ښکاره وقفې ولري.

- Staccato Speech

هغه غږ معمول ډول غږېدنه چې د هر لغت ترمنځ یوه لنډه دمه (وقفه) شتون لری .

Stacke's Operation

هغه جراحی عملیات چې پکې د (**Auditory Meatus**) خلفی او علوی جدار بیل او راویستل شی. د لومړی ځل لپاره د جرمنی (**Otologist**) جراح (**Ludwig Stacke**) پذرېعه چې په (**1859–1918**)کالونو کې اوسېده تر سره او شرحه شو.

Stadia

د (**Stadium**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Stadium

پړاو ، مرحله ، د ناروغېو لپاره ځانګړې مرحله ده . لوبغالی، ستېډیوم، دلوبو میدان، لوبځای.

- Stadium Descrimenti

هغه مهال چې د ناروغیو شدت کمښت مومی لکه د تبې کمښت .

- Stadium Incrimenti

هغه مهال چې د ناروغیو شدت زیادښت مومی لکه د تبې د

کې ماشوم (جنسی لېوالتیا ، زرنګی ، خوند اولذت بخښونکې تجربی) په هلکانوکې د قضیب و نجونو کې په بذر (**Clitoris**) پورې متمرکز وی او د مقعدی مرحلې څخه وروسته او (**Latency Stage**) څخه دمخه وی .

- Second Stage

ډوهم پړاو ، دوهمه مرحله .د زېږون دوهمه مرحله .

- Third Stage

رېیم پړاو ، درېیمه مرحله .د زېږون درېیمه مرحله چې پکې ماشوم زېږون مومی او زېږونه سرته رسېږی .

Stagger

ګنکس کېدل ، کاړی واړی تلل، رنګ بنګ کېدل لکه (دنبنې له لاسه)، ټکنی کېدل، شکمن کېدل، دوه زړی کېدل. هغه ډول ناروغه په لاره تګ دئ چې د سرڅرخی (**Hypotention , Vertigo**) له کبله پېښېږی او ناروغ پکې د قدم اخیستلو پر مهال بې ثباته په څنګ تر څنګ (**Side To Side**) ډول تلنه کوی.

Staging

هغه پروسه چې پکې د پړاوونو پر بنسټ تصنیف کولو کېږی ، تصنیف بندی د تومورونو د پړاوونو ویشنه ، پړاویز کول ، مرحله بندی . تمثیل،کویزه، خوازه لکه (دمعماری)، د کور اسکلیټ، اډاونه.

- TNM Staging

دا د (**Tumors Lymphnods Metastasis Staging**) لپاره لنډه ننبه ده او د تومورونو د اخته کېدنې او اندازې ټاکنې اودرجې لپاره پکار وړله شی.

Stagnant

درېدلی، ولاړ لکه (اوبه)، راکد ، لټ، غړند ، سست.

- Stagnant Loop Syndrome

هغه سندرومی حالت چې پکې [**Diverticulosis** اویا **Crohn's Disease** ناروغی د **Steatorrhoea** ، **Pain Abdominal** او **Megaloblastic Anaemia**] حالتونه په ګډ ډول شتون لری .

Stagnate

ځای په ځای درېدل، تربوخته کېدل لکه (هوا)، خوسا کېدل لکه (اوبه)، سستیدل، لټ کېدل.

Stagnation

رکود ، لټیې، ځای په ځای دریدنه.

Stain

هغه ډوا ماده چې د مایکروسکوپیکو کتنو پرمهال د حجروی پېژندنې په موخه کارولې شی، رنګ کول ، تلوین ، انساجو ته یو لړ موادو پذرېعه رنګ ورکول لکه

- Amphibolic Stage

د یوې انتانی ناروغی د اوج تر ټولو ټیټ شدت ترمنځ مرحله چې تشخیص یې هم نامعلوم وی .

- Anal Stage

په روانی تحلیل کې د جنسی – روحی تکامل دوهمه مرحله چې د (**1-3 Years**) کلنی په منځ کې پېښېږی پدې دوره کې د شیدې خوړونکی ماشوم فعالیتونه په مقعدی سیمه کې باندې متمرکز کېږی چې دا حالت د فمی مرحلې وروسته منځ ته راځی او د تناسلی آلې د مرحلې په مټه تعقیبېږی .

- Critical Stage

شدیده مرحله ، جدی مرحله ، بحرانی پړاو ، ناتاریز پړاو.

- Cold Stage

- د ملاریا په حمله کې د سړوخې او رېږدېدو د احساس مرحله.

- Early Stages

لومړنی مرحله ، د پیلامې پړاو .

- First Stage

اوله دوره ، لومړی پړاو . د زېږون لومړنی پړاو ، لومړنی مرحله.

- Fourth Stage

هغه نوم اینبودنه ده چې ځینې وختونه د زېږون وروسته دورې لپاره پکار وړی .

- Genital Stage

د جنسی –روحی تکامل وروستی مرحله چې د بلوغ په بهیر کې منځ ته راځی او د شخص پدې دوره کې د جنسی تماس څخه خوند اخلی دا مرحله د (**Latency Stage**) څخه وروسته منځ ته راځی .

- Hot Stage

د ملاریا ناوړغی په برید کې د تبې دوره .

- Late Stage

د پاېلې مرحله ، وروستنی پړاو .

- Latency Stage

د هری ناروغی د پټې [تکون ، تفریخ (**Incubation**)] دوره . د یوې ځانګړې انتانی ناروغی مخفی او پټه مرحله چې پکې د ناروغی له پیل څخه تر کلینیکی نښو نښانو رابر سېره کېدنې پورې دوام لری ، په سایکو لوژی کې هغه دوره چې د ماشوم د (**5-6 Years**) څخه تر ځوانې یعنې څلمیتوب (**16-18 Years**) پورې دوام ولری اوپکې جنسی غړی بشپړه وده مومی.

- Oral Stage

په سایکو لوژی کې د جنسی –روحی تکامل لومړنی مرحله چې د ماشوم له زېږون د (**18**) میاشتو پورې وخت نیسی او مقعدی مرحلې څخه دمخه وی .

- Phalic Stage

په سایکو لوژی تحلیل کې د جنسی –روحی تکامل درېیمه او له (**2-3 Years**) څخه تر (**5-6 Years**) پورې وخت پدې پړاو

هغه لابراتواری تخنیک چې د (Cryptococcus Neoformans) کپسول او باکتریاوو ډولونو د ښکاره کېدنې اوتثبیت لپاره کارول شی.

- Macchiavello Stain

هغه قلوی فوشین محلول (Basic Fuscin Solution) چې د لابراتواری تخنیک چې د کلامیډیا عنصری جسمونو (Chlamydial Elementary Bodies) د ښکاره کېدنې اوتثبیت لپاره کارول شی.

- Metachromatic Stain

هغه تولید چې د پخپله عناصرو څخه په بل رنګ سره منځ ته راځی.

- Methanamine Silver Stain

هغه ډول چنیاسې تلوینی عناصر چې نسج تیاره –نصورای کوی.

- New Methylene Blue Stain

هغه ډول (Metachromatic Dye) رنګ چې د l وینې (Blood)، مهبلی نمونې (Vaginal Smears) او نسجی نمونې (Tissue Samples)] رنګولو لپاره په ځانګړی ډول د (Reticulocytes) پېژندنې په موخه کارول شی.

- Newman's Stain

دا ډول تلوین مور د تی شیدو نمونې دننه د مېکروبونو تثبیت په موخه په تیبونو التهاب(Mastitis) کې کارول شی.

- Nigrosin Stain

هغه انیلین رنګ (Aniline Dye) چې د کپسولونو تثبیت لپاره د ځانګړی توګه د (Cryptococcus Neoformans) کارول شی.

- Nuclear Stain

هغه ډول تلوین چې په انتخابی توګه د حجروی هستې (Cell Nuclei) ټاکلو لپاره چې عموماً قلوی رنګ(Basic Stain) اخلی کارول شی.

- Ophthalmic Stain

دا ډول تلوینی مېتود چې د (Fluorescein And Rose Bengal Dyes) په څېرموادو څخه د سترګو د ناروغیو د پېژندنې لپاره کارول شی.

- Port-Wine Stain

دا تلوین د (Nevous Flammus) پېژندنې په موخه تر سره کېږی.

- Supravital Stain

دا ډول تلوین د هغه نسجی حجرو رنګولو لپاره چې د بدن څخه د راخیستل شویو نسج د تلوین لپاره کارول شی.

- Tumor Stain

هغه سیمه چې په راډیوګرافی کې یې کثافت زیاتوالې ولری او د ښکاره کېدونکی مادې د تراکم او راټولېدنې له کبله د رګونو د (Arteriography) د شعریوی رګونو د ښکاره کېدنې چې په لابراتوارونو کې د سلاېدونو او نورو موخو لپاره تر سره کېږی او مایکروسکوپ د پېژندنې وړ ګرځی. داغ کول، پلموتی کول، رتې کول، زنګ کول، بې لارې کول، شرمول. داغ، رتې، لکه، پلموتی، شرم، بې پتې، رنګ.

- Acid Stain

تېزابی (اسیډی) رنګ ، هغه رنګ چې د تېزاب لېواله (Acid Radical) ارګانیزمو نه او اجنټونو رنګول تر سره کوی .

- Acid-Fast Stain

اسیډ مقاوم تلوین ، پدې ډول تلوین کې هغه ارګانیزمونه چې د اسیدو په وړاندې مقاوم دی لکه (کوخ باسیل) پېژندل شی.

- Basic Stain

اساسی تلوین چې پکې د قلوی رنګ لېواله ارګانیزمونه (Basic Radical) پېژندل شی.

- Carbol Fuschin Stain

دا تلوین د ګرام منفی (Gram-Negative) باکتریا لپاره کارولے شی لکه (Campylobacter Fetus) په څېر .

- Castaneda's Stain

هغه لابراتواری تخنیک چې د کلامیډیا عنصری جسمونو (Chlamydial Elementary Bodies) د ښکاره کېدنې اوتثبیت لپاره د (Blue او Safranine) فورمول کارول شی.

- Diene's Stain

هغه ډول تلوین چې (Methylene Blue, Maltose And Azure-II) په ګډه توګه د (Mycoplasmal Microcolonies) تثبیت لپاره کارول شی.

- Differential Stain

توپیروونکي رنګه ماده . هغه ډول رنګ چې په مرسته یې په یوه نمونه کې د بېلابېلو برخو پېژندل آسانه کېږی .

- Giemza's Stain

ګېمزا تلوینی رنګ چې د لابراتواری کتنو یو ډول رنګول و لپاره پکارېږی چې پکې مایکروارګانیزمونه د وایولیټ په په کریستالونو سره رنګېدنه مومی لکه د (ویروسی انکلوژنی جسمونه).

- Gram Stain

ګرام تلوین د لابراتوار یو ډول رنګولو لپاره اړینه ترکیبی ماده ده چې پکې مایکروارګانیزمونه د وایولیټ په په کریستالونو سره رنګېدنه مومی لکه د (ګرام منفی او ګرام مثبت ډولونه پېژندل شی).

- Hematoxylin And Eosin Stain

دا هغه ډول تلوین مېتود دئ چې په روټین ډول د انساجو د هیستولوژیک آزمویښو لپاره کارول شی.

- India Ink Stain

Stake
موږی، ستنه چې خلک به پرې ټرل کېدل اووروسته به سوځول کېدل، داو، شرط ،ریسک. بریدټاکل لکه د (موږو په واسطه) ،تاووهل، شرط ټرل، پیسې پرې ایښودل.

Stalagmometer
د یوې مایع په ټاکل شوی مقدار کې د موجودو څاڅکو د شمېرنې په وسیله د سطحی کشش د اندازې کولو لپاره وسیله ده.

Stale
دشپې له خوا پاتې شوې (باسي کېدل) ، بې خونده. باسي کول، بې خونده کول .

Stalk
پایه ،ساقه ، هغه ټوټه د انساجو چې د اصلی نسجی کتلی سره نښتې او ټرلې وی ، نار، ډنډر لکه د (یوه بوټي د تنې په څېر یو اوږد اناټومیک جوړښت) په څېر. پټ پټ تلل، غلی غلی تلل، غلچکی تګ کول، په نخرو تلل، په غوره تلل.

- Allantoic Stalk
د یوه نری ټیوب چې په ډېرو تی لرونکو کې د بولی تناسلی سینوس او الانتوئیک کڅوړې تر منځ ځای لری او د سروی حبل (نامه رسی) پریکارسور (پیلامه) بلل شی.

- Peneal Stalk
د (**Hebenula**) په اندول.

- Yolk Stalk
یو نری (نازکه) ټیوب چې په اولیه رشیمی وده کې زیږه کڅوړه د کولمو منځنی برخی (**Midgut**) سره نښلوی.

Stall
په وترینری علم کې غوجل یا ځانګړي اخور (د حیواناتو / څارویو د ټرلو محل دئ)، دکانګې ، کړکی، غرفه، دریځ، دتیاتر ستیج ته نژدې چوکۍ چې له نورو ببله وي. ودرول لکه (د ماشین مړ کول).

Stallion
مینده آس، نرآس چې خصي شوی نه وي.

Stamen
دګل مینځ چې تخم پکښې وي ، دګل غوزه، دګل بور.

Stamey Procedure
دا یو جراحی کړنلاره ده چې په ښځو کې د (**Stress Incontinence**) درملنې لپاره ورځخه کار اخېستل شی پدې کې د مثانې عنق د ګېډې جدار سره ګنډل کېږی.

او جوت کېدنې لپاره کارول شی او پکې د توموروونو اندازه ا پراخوالې تثبیت کېږی.

- Vital Stain
هغه ډول تلوین چې د ژوندی ارګانیزم دننه تېرول شی او معمولاً د بدن دننه د ببلابېلو مړه او ژوندیو حجرو نسج پېژندنې لپاره کارول شی.

- Wright's Stain
دا تلوین د (**Eosin**) او (**Methylene Blue**) څخه جوړ مخلوط محلول دئ او د وینې دا تخریبی کړېواتو (**Demonstrating Blood Cells**) ، ملاریا او پرازیتونو] پېژندنې لپاره کارول شی.

- Ziehl-Neelsen Stain
دا یوډول تلوین دئ چې د (**Carbol Fuchsin**) او (**Methylene Blue**) څخه جوړېږی او او (**Acid-Fast Organisms**) ارګانیزمو نو لکه د (**Nocardia Asteroides** ، **Brucella** ، **Mycobacterium**) پېژندنې لپاره کارول شی.

Staining
تلوین کول ، د رنګ ورکولو حالت پروسه .

- Chromosomal Staining
هغه وینه چې په لوړ غیر انتانی ډول راواخیستله شی او نسجی کلچر محیط کې چې د (**Stimulant To Cell Division**) لرونکې وی لوکوسایتونه یې د (**Cytotoxic Agent**) پواسطه وژل شی او د هایپوټونیک مایع کې د اوزموزیس له کبله عټوالې او ضخامه کوی او سلایډ پرمخ کېښودل تثبیت او رنګول شی.

- Staining Of Microorganisms
د مایکروارګانیزمونو رنګ ورکولو مېتود بلل کېږی .

- Negative Staining
منفی تلوین ، هغه پروسیجر چې پکې نمونې د روښنائی یا الکترون مایکروسکوپی پذرېعه روښانه کېږی دا میتود د باکتری ګانو کپسولونو د پېژندنې لپاره تر سره کېږی ، په الکترون مایکروسکوپی کې د (**Electron-Dense Salts**) څخه لکه (**Sodium Phosphotungstate**) په څېر موادو څخه کاراخیستل شی او د ځانګړو ویروسونو ډولونه پېژندل کېږی.

- Staining Power
د رنګولو وړتیا لرونکی قدرت.

- Radiograph Staining
ښائی دا یو ډول ژیړ یا نصواری رنګ تلوین اخیستنه وی چې د ناکافی خړوب کېدنې یا مضاعف انکسار چې د ببلابېلو رنګونو منځ ته راتګ (**Angle Of Viewing**) له کبله وی .

Stainless
بې زنګه، زنګ نه کوونکی، بې داغه، پاک لمنی، سوچه.

Stamina
ټینګتیا ، زور، زغم، ګالنه، پایښت.

Staminate
غوزه لرونکی ، غوزه ئی .

Stammer
دژبې بندېدنه، تړ تړی توب، تړتړی، چارا.

Stammerer
هغه څوک چې (**Stammer**) بڼه لری.

Stammering
تړ تړی کېدل، تړی کېدل، ژبه بندیدل ، په خبرو کې بند بند کېدنه و تړتړې کول. د (**Dysphemia**) په انډول.

Stamp
اوړه کول، میدول، ترپښولاندې کولی، ختنه (سنتول) ، اره کول، چیتول، په یو څه باندې ورختل ، ټاپه کول، مهرول، نښه کول، ټاپه لګول، چاپ لګول، ټکس سرښول. ټاپه، مهر، دپستې ټکټ.

- **Stamp Out**
په کامل ډول د یو څه راویستل، کاملاً تشول.

Stampede
تښتته، تر بدنه، ترپ، تر هېدنه. تښتېدل، ترهېدل.

Stance
درېږ ، دریځ، وضعه، ولاړه ،د ودرېدو وضعیت.

Stanch
درول، وروکول، بندول لکه. د وینې ، درېدل، بندېدل. بې درزه لکه د زړه ضربان ، بې سورې (چې اوبه ورڅخه نه تېریږي)، کلک، ټینګ، مضبوط، رښتونی.

Stanchion
میله، ستن، سیخ.

Stand
د ولاړې حالت ، ولاړ، دریدنه، دریږ،دریځ (په محکمه کې دشاهد)، دونو غړوسکه، بوټوکرونده، نیلګره (هغه ځای چې یو لړ بوټی یا نیالګی پکښې شنه شوي وي). دریدل، ولاړیدل، دریځ لرل، غبده لرل، کاندیدېدل،ټولېدل، ډنډ کېدل لکه (د اوښکې په سترګو کې)، وړاندې کېدل: (لکه محاکمې ته). غرفه، دکانچه، دکان،تخت مېزګی، قفسچه.

- **Stand Up**
له ناستې حالت څخه ولاړېدل ، ودرېدنه.

Standard
معیاری ، د قبول وړ ، د کېفیت له پلوه په ښه طبیعی او سمون سمبال حالت ولاړ چې کچه توب ونلری.

- **Standards Of Care**
د درملنې او مراقبت لپاره معیار.

- **Standards Of Hygiene**
د پاکوالی او نظافت ساتنې لپاره معیار.

- **Standard Practice**
په معیار برابر تمرین او پرکتیس .

- **Standard Precautions**
معیاری احتیاط ، ډېر د پاملرنې او احتیاط سره .

Standardise
معیاری کول ، په ټاکلو معیارونو برابرول . د (**Standardize**) په انډول.

Standardised
معیاری شوې .

- **Standardised Approach**
معیاری کړنلاره .

- **Standardised Hospital Admissions**
په معیاری توګه په روغتون کې بستر کول.

- **Standardised Meal**
معیاری خوراک کول .

- **Standardised Mortality Ratio**
معیاری ډول د مړینې کچې ټاکنې تناسب .

- **Standardised Test**
معیاری آزمایښت ، معیاری ډول آزموینه تر سره کول.

Standardization
په معیارونو برابرول .

- **Standardization Of A Test**
هغه آزمایښت چې په معیار برابر کړل شی،

Stand Still
د فعالیتونو ودرېدل لکه د زړه او سږو په څېر .

- **Cardiac Stand Still**
د زړه د فعالیتونو ودرېدل .

- **Respiratory Stand Still**
سږو د تنفسی د فعالیتونو ودرېدل .

Stannous
د یوه دوه ولانسی عنصر پتوګه د قلعی لرونکی .
د (**Stannum**) اړوند صفت دئ .

Stannum
قلعی چې دوه ظرفیته لرونکې عنصر دئ چې کېمیاوی نښه یې (**Sn**) ده . قلعی درلودونکی ، په قلعي

د (Stapedius Muscle) عضلې برخې د تېنډون (Tendon) غوڅولو جراحی عملیاتی کړنلاره .

Stapediovestibular

د (Stapedius Muscle) عضلې او ویستیبول دواړو اړوند .

Stapedius

دا د غږېزو هډوکو (Musculus Stapedius) اړوند عضلاتو څخه یوه عضله ده چې د (Tympanic Cavity) د (Pyramidal Eminence) دننه جدار (Internal Walls) څخه منشه اخلی او د (Neck of the Stapes) لپاسه ارتکاز مومی او غږونو په منځ ته راتلوکې دنده لری .

- **Stapedius Muscle**

دا د غږېزو هډوکو (Musculus Stapedius) اړوند عضلاتو څخه یوه عضله د غوږ دننه هغه عضله ده چې د (Stapedius) برخې کنترول کې رول لری.

- **Stapedius Nerve**

د (Stapedius) اړوند تعصیب کوونکې رشته ده.

- **Stapedius Reflex**

د (Stapedial Reflex, Acoustic Reflex) په انډول.

Stapedotomy

هغه جراحی عملیاتی تخنیک چې د اورېدنې اصلاح د (Otosclerosis) حالاتو کې پرې تر سره کېږی . پدې کې یو سوري د (Stapes) هډوکی په (Footplate) کې تر سره کېږی او ببا وروسته تر هغه (Piston-Shaped) پروتېز (Prosthesis) هلته کېښودل شی بل نهایت یې د (Incus Bone) برخه کې تثبیت کېږی .

Stapes

د غوږ دننه د اورېدنی حس اړوند یو له دري هډوکو (**Ossicles**) څخه دئ چې (Fenestra Ovalis) برخه ډکوی او د (Malleus او Incus) سره مفصل جوړوی .

Staph

د (Staphylococcus) باکتریا لپاره لنډ نوم دئ .

- **Staph. Aureus**

طلائی ستافیلوکوک باکتریا .

- **Staph Infection**

د ستافیلوکوک باکتریا انتان / مېکروب .

- **Staph Marginal Disease**

د (Eczematous Conjunctivitis) په انډول .

Staphage Lysate

دا یو ډول د معافیت لپاره پاروونکې ماده ده چې د پورې تړلې او وابسته .

Stanozolol

دا یو انډروجنیک انابولیک ستېرویئید دئ چې د هیموګلوبین د سطحې د لوړولو لپاره په اپلاستیک وینه لږی ناروغی کې کارول شی.

Stape

د غوږ دننه د اورېدنی حس اړوند رکابی هډوکې چې یو له دري هډوکو څخه دئ.

Stapedectomies

د (Stapedectomy) لپاره ګڼه شمېره ده.

Stapedectomy

دا د کوینوالی د درملنې په موخه هغه جراحی کړنلاره ده چې د غوږ دننه (Stapes) Of The Three Bones (The Stapes, (The Incus, And The Malleus] د رکابی هډوکی راویستل شی او د هغه پرځای د متوسط اذن (غوږ) دننه د پلاستیکی یا فلزی نری تېوب [Small Plastic Tube Of Stainless-Steel Wire د پروتېز (Prosthesis)] پواسطه معاوضوی توګه ځای پر ځای کېږی .

Stapedial

د (Stape) رکابی هډوکی اړوند صفت.

- **Stapedial Ankylosis**

د (Stape) هډوکی اړوند بندونو نه خوځښت او بې حرکته کېدنې حالت چې د کوینوالی لامل کېږی .

- **Stapedial Artery**

د (Stape) هډوکی اړوند شریان رګ .

- **Stapedial Mobilisation**

د درملنې په موخه هغه جراحی کړنلاره ده چې د (Stape) هډوکی اړوند نښتنو او بې حرکته بڼې آزادېدنه پرې کېږی او د کوینوالی درملنه پرې کېږی . د (Stapediolysis) په انډول.

- **Stapedial Fold**

د (Stape) هډوکی اړوند فولډ یا قات او کوت شوې بڼه.

- **Stapedial Membrane**

د (Stape) هډوکی اړوند غشأ .

- **Stapedial Reflex**

دا هغه ډول عکسه ده چې په غېر عادی/ارادی ډول سره د اورېدنې عصب (Acoustic Nerve) د تنبه یا پارېدنې (ناڅاپه غږ) پر مهال دواړه سترګې سمدلاسه تړل شی .د (Stape) هډوکی اړوند عکسه / غبرګېدنه.

Stapediolyses

د (Stapediolysis) لپاره ګڼه شمېره ده.

Stapediotenotomy

- Staphylococcal Blepharitis
د ستافېلوکوک باکټریاوو له کبله د سترګو د سترغلی (جفنونو) التهاب.

- Staphylococcal Enteritis
د ستافېلوکوک باکټریاوو له کبله د کولمو التهاب.

- Staphylococcal Enterotoxin
د ستافېلوکوک باکټریاوو اړوند انټېروتوکسینونه.

- Staphylococcal Infection
د ستافېلوکوک باکټریاوو انتان.

- Staphylococcal Pneumonia
د ستافېلوکوک باکټریاوو له کبله پنومونیا.

- Staphylococcal Poisoning
د ستافېلوکوک باکټریاوو مسمومیت او زهري کېدنې حالت چې غذائی ککړتیا سره مل وی.

Staphylococcemia
په وینه کې د ستافېلوکوک باکټریاوو د توکسینونو او مسمومیت شواهدو شتون بلل شی.

Staphylococci
د (Staphylococcus) ګڼه شمېره ده.

Staphylococcic
د (Staphylococcus) اړوند صفت دئ.

Staphylococcin
د (Bacteriocin) په اندول.

Staphylococcolysis
د ستافېلوکوک باکټریاوود تخریب او له منځه تللو پروسه بلل شی.

Staphylococcus
د باکټریاوو یوه ډله چې د انګورو خوشې په څېر وده مومی ګرام مثبت باکتریا ده او د پوستکی دانې او غذائی مسمومیت او سیستمیک ناروغی منځ ته راوړی.

- Staphylococcus Antitoxin
د ستافېلوکوک باکټریاوو انتی توکسین سېروم چې د (Antitoxic Globulins) یا په وصفی ډول د (Neutralize The Lethal, Skin-Necrosing او Hemolytic Properties Of The A-Toxin Of Staphylococcus Aureus) درلودونکي دئ

- Staphylococcus Aureus
سره زر (طلائی) ډول ستافېلوکوک باکټریاوو ته ویل شی.

- Staphylococcus Aureus Food Poisoning
هغه ډول طلائي ستافېلوکوک باکټریاوو څخه چې غذائی مسمومیت پېښوی.

(Staphylococcus Aureus) څخه منځ ته راوړله شی او دا ماده د ماکروفاژونو فعالیت رامنځ ته کوی او د تنفسی انتاناتو او سرطانونو درملنه تري کار اخیستله شی په تجربوی توګه پکار وړله شی.

Staphcillin
یو ډول انتی بیوتېک دئ او پنسلین کورنۍ (Semisynthetic Penicillin) اړوند دئ د ستافېلوکوک باکټریا پر ضد پکار وړله شی. د (Methicillin په اندول او د هغه سوداګریز نوم دئ.

Staphyl-
دا یو مختاړي دئ او د (ستافېلوکوک باکټریا او حنک Uvula) معنی بشپړوی.

Staphylectomies
د (Staphylectomy) لپاره ګڼه شمېره ده.

Staphylectomy
د ستونی حنک (Uvula) برخې د غوڅولو او قطع کولو جراحی عملیات کړنلاره ده.

Staphyledema
د ستونی حنک برخې (Uvula) اذیما او پرسوب بلل شی.

Staphylex
د (Flucloxacillin) لپاره سوداګریز نوم دئ.

Staphyline
د (Uvula) حنک او تالو د (Palate) اړوند صفت دئ.

Staphylinidae
د ارتروپودا (Arthropods) کورنۍ څخه هر یو چې وی.

Staphylitis
د ستونی د حنک برخې التهاب، د (Uvulitis) په اندول.

Staphylo-
دا یو مختاړي دئ او د (ستافېلوکوک باکټریا او حنک Uvula) معنی بشپړوی.

Staphyloangina
هغه د ستونی درد چې د (ستافېلوکوک Staphylococcus باکټریا او حنک Uvula التهاب) له کبله رامنځ ته شوېوی.

Staphylococcal
د ستافېلوکوک باکټریاوو (Staphylococci) اړوند صفت دئ.

- Staphylococcal Abscess
د ستافېلوکوک باکټریاوو اړوند د خراج (دانې) منځ ته راتګ بلل شی

منفی (**Coagulase-Negative**) ډلې څخه دئ او نوی زېرېدلو پرېماچور ماشومانو کې د زړه د اندوکارډ التهاب (**Endocarditis**) رامنځ ته کوی.

- Staphylococcus Vaccine

د ستافېلوکوک باکټریاوو په وړاندې واکسین.

Staphylodemodicosis

په بې موډ (**Demodectic**) ډول سره د اختلاطی (**Staphylococcus**) انتان د درملنی تدابیر نېولو کړنه.

Staphyloderma

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ له کبله د پوستکی (**Pyogenic**) ناولې تقیحی انتانی دانې ناروغی ته ویل شی.

Staphylodermatitis

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ له کبله د پوستکی (**Pyogenic**) التهابی انتانی ناروغی ته ویل شی.

Staphylodialysis

د ژبکی (**Uvula**) د آزادولو او تسلیخ جراحی کړنلاره.

Staphylolysin

یو ډول هیمولایزین چې د ستافیلوکوکونو په ذریعه منځ ته راځی او ویجاړونکې اغېزی لری.

Staphyloma

د سترګو د قرنیې پرسوب یا سترګو د سپینوالی منځ ته راتګ. بهر ته د قرنیې یا صلبیې راوتلتیا چې د حدبی (**Cilliary**) جسم نسج پواسطه پوښل شوېوی او التهابی سرچینه لری.

- Staphyloma Anterior

هغه ډول (**Staphyloma**) چې د سترګو په قدام برخه کې پرته وی.

- Anular Staphyloma

هغه ډول (**Staphyloma**) چې د ستر ګو د قرنیې په چارپېر (محیط) کې رامنځته او وسعت موندلې وی.

- Staphyloma Corneae

د سترګو دعنبیې (**Iris**) راوتلې او جوته بڼه چې د قرنیې د ټپونو (جروحاتو) له لارې تفتق وکړی او د (**Uveal Tissue**) نسج سره نښتې بڼه لری. یا داچې د سترګو دعنبیې (**Iris**) راوتلې او جوته بڼه چې د قرنیې د ټپونو (جروحاتو) له لارې تفتق وکړی.

- Neal Staphyloma

د سترګو د قرنیې راوتلتیا او له هغې سره نښلېدلی د حدبی جسم نسج ملتیا بلل شی.

- Staphylococcus Capitis

هغه ډول طلائي ستافېلوکوک باکټریاوو څخه چې سر برخې ناولې دانې پېښوی د کواګولېز منفی (**Coagulase-Negative**) ډلې څخه دئ او نوی زېرېدلو پرېماچور ماشومانو کې د زړه د اندوکارډ التهاب (**Endocarditis**) رامنځ ته کوی.

- Staphylococcus Caprae

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه هره هغه ببضوی ډوله ګردی بڼه لرونکې (**Gram-Positive Parasitic Bacteri**) چې د پوستکی انتانی پېښې (**Cellulitis and Impetigo**) ناروغیو لامل ګرځي.

- Staphylococcus Epidermidis

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه هر هغه چې د پوستکی اپېدرم برخی ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Epidermis

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه هر هغه چې د پوستکی اپېدرم برخی پورې اړوند ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Food Poisoning

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه هر هغه چې د غذائی مسمومیت ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Haemolyticus

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه هر هغه چې د وینې هیمولایزېز منځ ته راوړی او د (زړه ، پوستکی اندفاعات او پښتورګو ګلومیرولونفریت) ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Hominis

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه یوه ډله چې د پوستکی او نورې سیستمیک ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Lugdunensis

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه یوه ډله چې د پوستکی او نورې ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Pyogenes Albus

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه هر هغه چې د سپین رنګ لری او تقیحی دانه ئي د پوستکی اپېدرم برخی ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Saprophyticus

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه هر هغه چې د پرازیتی او تیار خوره بڼه لری او د بدن ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Simulans

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه یوه ډله چې د پوستکی او نورې ناروغی پېښوی.

- Staphylococcus Species, Coagulase-Negative

د ستافېلوکوک باکټریاوو له کورنۍ څخه یوه ډله چې د پوستکی او نورې ناروغی، ناولې دانې پېښوی د کواګولېز

منځ ته راتګ بلل شی.

Staphylorrhaphies

د (Staphylorrhaphy) لپاره ګڼه شمېره ده .

Staphylorrhaphy

د ستونی د حنک(Uvula) ترمیم او ګنډلو جراحی عملیات کړنلاره ده ، د (Palatorrhaphy) په انډول .

Staphyloschisis

د ستونی د ژبکی او نرم تالو درز حالت پېښېدنه .

Staphylotome

هغه جراحی چاړه چې د هغې په مرسته د ستونی عملیات تر سره کېږی .

Staphylotomy

د نرم تالو او ژبکی د جراحی وازولو اوترمیم کړنلاره .

Staphylotoxin

هغه ډول زهر (توکسین) چې د ستافیلوکوک پواسطه رامنځ ته کېږی او د مېکروبی مقاومت پېښوی.

Staple

د ستېپلر اړوند فلزی یا اوسپنیزه کوچنی ټوټه چې د هغه پذرېعه د بدن نسجونه سره رانېږدې کېږی .

Stapler

هغه جراحی وسیله چې د انساجو د نېږدی کولو لپاره د ګنډلو (Suturing) په ځای پکارېږی.

Stapling

د ستېپلر د وسیلې څخه د د انساجو د یوځای کولو ترمیم په موخه کار اخیستنه ده لکه د کولموترمیم د ستېپلر پذرېعه.

- Gastric Stapling

د معدی ترمیم جراحی کړنلاره چې د معدې پریکون او دهغی بیا ګنډل د کارډیا برخې سره د ستېپلر پذرېعه ترسره کېږی .

Star

هر ډول ستوری ته ورته یا سپوږمکی ته ورته جوړښت .

- STAR Complex

هغه ډول مغلق مجموعة الاعراض چې پکې استونی درد Sore Throat، لوړه تبه Elevated Temperature ، د بندونو التهاب په مهاجر ډول Migratory Arthritis ، اورټیکاریا Pruritic Urticarial Rash چې په (Still's Disease) ناروغی] کې لیدل شی.

- Star Excursion Balance Test

دا یو ډول ډاینامیک ثباتی آزمایښت دئ چې معمولاً د نهایتونو (لاس او پښو) دندې تر سره کولو بڼه آزمایي .

.

- Posterior Staphyloma

هغه ډول (Staphyloma) چې د سترګو په خلفی قطب برخه کې پرته وی او (Staphyloma Posticum) پنامه هم یادېږی .

- Scleral Staphyloma

د سترګو د صلبیې (Sclera) نری ېنې له کبله د سترګو د ګاټو تفتق منځ ته راتګ بلل شی.

Staphylomata

د (Staphyloma) ګڼه شمېره بڼه ده .

Staphylomas

د (Staphyloma) ګڼه شمېره بڼه ده .

Staphylomatous

د (Staphyloma) اړوند یا په (Staphyloma) اخته شوې حالت.

Staphylomycin

هغه ډول انتی بیوټیک چې د درې فعالو ټوټو څخه چې د (Actinomyces) څخه جوړېږی او د ګرام مثبت مایکرو ارګانیزمونو او داسید مقاومو باسیلونو (Acid-Fast Bacilli) وده ځنډوی او هغه نهی کوی .

Staphyloncus

د ستونی د حنک(Uvula) پرسېدلې یا ټوموری حالت ته ویل شی.د ژبکی پرسوب یا ټومور.

Staphylo-Opsonic Index

د ستونی د ستافیلواوپسونیک انډکس .

Staphylopharyngeus

د ستونی د ژبکی او بلعوم اړوند . حنکی –بلعومی.

Staphylopharyngorrhaphy

د ستونی د کوچنی ژبکی او بلعوم برخې د ترمېم جراحی عملیاتی کړنلاره .

Staphyloplastic

د نرم تالو او ژبکی پلاستیکی ترمیماتی کړنلارې اړوند .

Staphyloplasty

د ستونی د حنک (Uvula) د ترمیم اوپلاستی جراحی عملیات ته ویل شی .

Staphyloptosia

د ستونی د ژبکی اوږدېدل او سقوط حالت.

Staphyloptosis

د ستونی د ژبکی اوږدېدل او سقوط حالت د ناروغی

Starch

نشایسته ، د کاربوهایدریټونو معمول ډول چې په خوراکی توکو اوریجې ، ډوډۍ ، الوګانو (پټاټو) کې شتون لری چې د هضم پروسې پذرېعه په شکرو (Sugar) بدلېږی.

- Starch Bath

نشایستوی حمام .هغه ډول حمام چې پکې [1 Lb (454 G)] په اندازې سره نشایسته /قندونه په سړو اوبو کې ورګډ ېږی او په ترمو اوبو کې (Gluelike Consistency) قوام لرونکی محلول ورګډ ېږی اوبیا ورسره [30 Gal (114 L) Of Water] اوبه ورزیاتېږی.

- Starch Blocker

دا هغه ډول مواد دی چې انګېرل شی په بدن د نشایستوی موادو میتابولیزم نهی کوی او د وزن بایلنې پروسه ودروی .

- Starch Cellulose

نشایستوی سلولوز ، دا هغه بڼه اساسی توکی دی چې کله چې د د حل وړ نشایستوی حبیبات (Granulose) د لاړو (Saliva) یا پیپسین (Pepsin) پذرېعه ورځخه راوکښل شی.

- Starch Digestion Test

هغه ډول آزمایښت چې د نشایسته موادو هضم ټاکی .

- Starch Endophthalmitis

د سترګو د جوف او ورته نېږدی او نښتې نسجونو التهاب .

- Starch Equivalent

دا یو ډول طبیعی تغذیوی کاربوهایډرېټ ماده ده چې د [$(C_6H_{10}O_5)_N$] لری او په ازړیو ، دانو ،تخمونو ، مېوه جاتو ، ډنډرونو او جړو د (جوارو ، کچالاتو ، غنمو ، وریجو) کې په پراخه اندازه موندل شی.

- Starch Glycerite

هغه ډول مرکب جوړښت چې د [100 G Of Starch, 2 G Of Benzoic Acid, 200 Ml Of Purified Water, And 700 G Of Glycerin In Each 1000 G; A Topical Emollient] څخه را منځ ته کېږی .

- Starch Granuloma

نشایستوی ګرانولوما ،د تالک درلودونکی موادو له کبله د ګرانولیشن ترمیماتی نسج رامنځ ته جوړښت بلل شی. د (Talc Granuloma) په اندول.

- Starch Granulomatous Peritonitis

هغه ډول پریتونیت چې (Talc Granuloma) له کبله رامنځ ته کېږی .

- Starch Gum

هر هغه ډول حلېدونکې پولیسکرایډ چې د تودوخی یا اسیدو (تېزابو) ورزیاتولو پذرېعه جوړېږی او د سریښکېدنې یا پېروالی لامل کېږی ، د (Dextrin) په څېر.

- Starch Hyacinth

د (Grape Hyacinth) په اندول څکه چې خوټېدلی نشایستې ګلانو په څېر بوی او وړم لری.

- Starch Inhalation

د نشایستې انشاق چې د دا د یو ډول طبیعی تغذیوی کاربوهایډرېټ ماده ده چې د [$(C_6H_{10}O_5)_N$] لری او په ازړیو ، دانو ،تخمونو ، مېوه جاتو ، ډنډرونو او جړو د (جوارو ، کچالاتو ، غنمو ، وریجو) کې په پراخه اندازه موندل شی او پوډرو ته ورته جوړښت لری .

- Starch-Iodine Complex

د نشایستې او آیوډین ګډ جوړښت.

- Starch-Iodine Test

د نشایستې او آیوډین ګډ جوړښت د پېژندنې لپاره آزمایښت.

- Starch-Reduced

د نشایستې جوړښت د کچې راټیټولو حالت .

- Starch Sheath

د نباتی نسج د د حجرې اندوډرم برخه چې د نباتی (جړو او ډنډر) پوښ جوړوی .

- Starch Solution

نشایستوی محلول.

- Starch Sugar

ګڼ شمېر نشایستوی شکر او خواړه چې ورته اړول شوی شکر (Potato Sugar, Corn Sugar, And, Inaccurately, Invert Sugar) هم ویل شی.

- Starch Syrup

نشایستوی شربتونه .

- Starch Tolerance Test

د (Starch Digestion Test) په اندول .

Starchedness

د نشایستې د کېفیت درلودنې حالت.

Starchy

د نشایستې اړوند خوراکونه چې ډېرې پیمانې نشایسته لری.

- Starchy Food

د نشایستې اړوند خوراکونه او غذاګانې .

Starling's Law

هغه قانون یا قاعده چې د بطینونو تقلص د بطینی عضلاتو رشتو (Ventricular Muscle Fibres) واټن د ډیاستول په پایله کې څېړی .

Startle Reflex

د یوه ډېر کوچنی او ځوان ماشوم غېر معمول غبرګون د یوه ناڅاپی چیغی یا غږ یا په هوا کې د ناڅاپه

Stat.

دا یو قید (**Adverb**) دئ او لغت ته د قید بڼه ورکوی او بشپړه بڼه یې (**Statim**) ده لکه (**Themostat, Somatostat**). یوه شیبه ، یوه لحظه ، یو ګړی.

State

حالت ، شرایط ، وضعیت ، د یو شی یا یوه کس حالت څرګندوی.

- **Advanced State**

پرمخ تللې حالت لکه د ناروغی په بیان کې پکار ږی .

- **Alpha State**

له آرامښت سره سم د استراحت او ویښتوب پرمهال یو حالت چې د مغزی الفا څپو په شدید فعالیت سره پېژندل شي.

- **State Enrolled Nurse**

د نرسانو (روغتیاپالاتو) رول لوبولو حالت . د (**Second Level Nurse**) په انډول.

- **State Of Health**

د روغتیا حالت .

- **State Of Mind**

په عمومی احساس کې د ماغزو او فکری حالت .

- **Persistent Vegtative State**

د ځواب نه ترلاسه کولو یو حالت چې په ویښتوب کې منځ ته راځي او د هري سطحې د مغزی صدمې څخه سرچینه اخلی .

- **Refractory State**

د عضلې او عصب تحت النورمال تحریک او پارېدنې چې له پارېدنې وروسته منځ ته راځی .

- **Resting State**

هغه فزیولوژیک شرایط چې لږ تر لږه د یوه ساعت بشپړ استراحت له کبله منځ ته راځی .

- **State Registered Nurse (SRN)**

د (**First-Level Nurse**) په انډول.

- **Steady State**

فعال تعادل ، فعاله انډولتیا .

Static

د (**State**) اړوند صفت دئ .

-static

دا یو روستاړي دئ او د (ودرېدنې ، ډنډ کېدنې ، ثابتې کچې ، پېزوانی کولو) حالت معنی بشپړوی .

Statim

یوه شېبه ، یوه لحظه ، یوه ګړی .

Statin

د شحمیاتو تېټ کوونکی درمل چې هغه انزایم نهی کوی چې کولیسټرول جوړېدنه (**Cholesterol Synthesis**) نهی رالوېدنې له کبله د لاسونو او غاړې عضلاتو د تقلصونو پذرېعه رامنځ ته کېږی .

Starvation

لوږه ، قحطی.

- **Starvation Diet**

د هغه خوراکی موادو رژیم چې پکې لږ تغذیوی مواد او ناکافی خوراکی قوت بخښونکی مواد ولری.

Starve

په لوږه یا قحطی اخته کېدنه .

Stasis

احتباس ، ډنډ کېدنه .د مایعاتو کراره توب یا ودرېدنه لکه په (رګونو کې وینه ، غذائی مواد په کولمه کې ، متیازې په مثانه کې) و رکودت .

- **Stasis Cirrhosis**

د کبد هغه پرمختلونکې لېفی او فیبروزېس سیروزس منځ ته راتګ حالت چې د اوږدې مودې لپاره د وینې د احتباس چې په زړه شدید عدم کفایې کې منځ ته راځی پېښېږی .

- **Stasis Dermatitis**

هغه د پوستکی التهاب چې د ډنډېدنې او احتباسی رکودت له کبله پېښېږی .

- **Stasis Eczema**

هغه اکزیمائی تناکیز جلدی ناروغی چې په لینګیو کې د وریدی رکودت له کبله رامنځ ته کېږی .

- **Intestinal Stasis**

د مېخانیکی بندښت یا د معائی بندښت له کبله د کولمو اذیما منځ ته راتګ .

- **Stasis Syndrome**

هغه ګڼ شمېر کلنیکی نښې نښانې (اعراض–علایم) چې د روانی تشوشاتو (**Psychological Disorder**) یا نور غېر نورمال حالاتو له امله پېښېږی

- **Stasis Ulcer**

هغه موضعی ډول نقیصه یا ژور بڼه تپ د غړو نسج پر سطحه باندې چې د نکروټیک التهابی نسج له کبله پېښېږی او د (**Sloughing**) لرونکې وی .

- **Urinary Stasis**

بولی احتباس ، دبولی سیستم په هره برخه کې د متیازو د بهیر یا افرازاتو ودرېدل او ډنډېدل بلل شی.

- **Venous Stasis**

وریدی رکودت ، چې د وریدی بهیر نیمګړتیا او تپه ودرېدنې له امله پېښېږی.

-stasis

دا یو روستاړي دئ او د (مایعاتو کراره توب یا ودرېدنې) معنی بشپړوی .

غوږونو ډبرې ، د (**Otolith**) په انډول.

Statoconial

د (**Statoconia**) اړوند صفت دئ.

- Statoconial Membrane

هغه جلاټینی غشأ چې د ویښته ته ورته د سامعوی ماکول (**Maculae**) د احاطوی جلاټینی غشأ دننه برخو (**Stereocilia**) پذ ربعه حمایه کېږی او د ګڼ شمېر (**Crystalline Particles**) سطحو سره نښتنه لری او ورته [**Otoliths (Statoconia)**] هم ویل شی.

Statoconium

د (**Calcium Carbonate Crystals**) څخه جوړ شوی د غوږونو دننه ډبرې ، د (**Otolith**) په انډول.

Statocyst

په غېر فقاریه حیواناتو کې هغه کوچنی غږې چې د بدن دننه بیلانس (انډول) سمبالوی چې له اوبو مایع ډکه کڅوړه لری.

Statocyte

په نباتاتو علم (**Botany**) کې د (**Statocyst**) په معنی دئ.

Statolith

یو ګرانیول (حبیب)، یو سخت یا نیمه سخت جسم چې د حیواناتو د غوږ په لابیرنت کې منځ ته راځی.

Statometer

د سترګو راوتنې (اګزوافتالمیا) د درجې ټاکنې د اندازه کولو لپاره وسیله / ماشین.

Statoreceptor

په فزیولوژی کې هغه حسی غږی چې په لومړی توګه د تعادل مسئول بلل شی.

Statoscope

ستاتسکوپ . هغه وسیله چې ډاکټران د زړه ، تنفس او نور غږونه پرې اوری.

Statural

د (**Stature**) اړوند صفت دئ.

Stature

په ولاړې حالت کې د شخص لوړوالې.

Status

حالت ، بڼه ، هغه مهال چې د یوې ناروغۍ د اصلی بڼې له مخې د پرمختګ د ښودنې لپاره پکار وړله شی.

- Status Asthmaticus

د سالنډی یا استما د شدت هغه حالت چې د اوږدې مودې لپاره د ناروغی بڼه څرګندوی چې په روغتون کې د بستری کېدو ته اړتیا لری ځکه د دودیزو درملیزو ګامونو ته په کافی اندازه ځواب نه ورکوی.

کوی چې د (**Coronary Heart Disease**) خطر کمولو په موخه کارول شی .

-Statin

دا یو روستاړې دئ او شحمیاتو ټیټوونکی د جنبریک نوم په

پایله کې راځی لکه (**Pravastatin**) او نور .

Station

یو وضعیت ، یوځای (محل) ، د زېږون په کانال کې د جنین د ظاهرې شوې برخې ځای .

Statistics

احصایه ، د سر شمېرنې هغه رسمی بڼه چې د نفوس (**Population**) ښودنه د زېږون او مړینې له مخې څرګندوی. د عددی ملوماتو راټولونه ،د وګړو د ځېرنیزو موخو اړوند سر شمېرنه تر سره کول.

- Medical Statistics

طبی احصایه نیول د طبی څېړنو په لړ کې.

- Population Statistics

د شمېرنې هغه رسمی بڼه چې د نفوس (**Population**) ښودنه د زېږون او مړینې له مخې څرګندوی.

- Veterinary Statistics

د وترینری (ځاروی پېژندنې) علم اړوند ځانګو معلوماتی احصایه نیول.

- Vital Statistics

حیاتی شمېرنې ، د ژوندانه اړوند سرشمېرنې .

Statoacoustic

په تعادل او اورېدنې پورې (**Balance And Hearing**) اړوند .

- Statoacoustic Nerve

د تعادل او اورېدنې اړوند عصب.

Statoblast

هغه غېر زوجی د کپسول دننه تولید چې په ځانګړو (**Freshwater Bryozoans**) کې منځ ته راځی او یونوې ارګانیزم وروسته له یوې پتې مودې څخه رامنځ ته کوی چې پلرنی ټولګې ته ورته وی .

Statoconia

هغه سخت شوی کوچنی کلسیومی یا آهکی تکلسی (**Calcareous Concretion**) ګرانولونه چې د حسی ویښته انیزه حجرو عصبی ریښو (سامعوی ماکول د احاطوی جلاټینی غشأ دننه برخو) په پایله کې د فقاریه او غېرفقاریه حیواناتو په غوږ کې رامنځ ته کېږی ، د

کېږی بیرته راتګ یې ځنډول شی .

- Sublavian Steal

د تحت الترقوی شریان په انسدادی ناروغی کې د هماغه لورې په فقری شریان کې د وینې د بهیر سرچپه کېدنه یعنی د قاعدوی شریان ځخه انسداد د مقابل لورې تحت الترقوی شریان ته .

Steam

بړاس، بخار، د جوش اوبو بخار، د بخاری بړاس کول، بخارکېدل ، تبخیرول ، بړاس ایستل .

- Steam Inhalation

د بخار اوبړاس تنفسی سیستم ته تېرېدل او انشاق کېدنې حالت بلل شی چې پکې یو لړ درمل تېرېږی.

Steamer

دبخارماشین، دبخاردیګ لکه د(سامانونو تعقیم کولولپاره وسیله) ، د بخار بیږی.

Steamy

بخارډوله، بړاسي، بړاس لرونکی.

Steapsin

هغه ډول انزایم چې د پانکریاص پواسطه افرازېږی او د شحم یا غوړو باندې په کولمو کې ماتوونکي اغېزه لری.

Stearate

د ستیاریک اسید آیونی بڼه ، د ستیاریک اسیډ هر ډول مرکب جوړښت.

Stearic Acid

ستیاریک اسیډ، د (**Fatty Acids**) له جملې ځخه یو ډول (**18**) کاربونی شحمی اسید (تېزاب) بلل شی چې د ډېرو وازدو او غوړو منځ کې موندل کېږی .

Stearo-

دا یو مختاړې دئ او د غوړو یا شحمیاتو معنی بشپړوی

Steat-

دا یو مختاړې دئ او د (غوړو ،شحم ، **Fat**) معنی بشپړوی ، د (**-Steato**) په انډول .

Steatitis

د غوړو یا شحمیاتو (وازدې) برخو نسج التهاب .

Steato-

دا یو مختاړې دئ او د (غوړو ،شحم ، **Fat**) معنی بشپړوی ، د (**-Steat**) په انډول .

Steatocytoma

یو اپتلیال اړوند نسج سیستې .

- Complex Parital Status

یو ډول صرعوی حالت دئ چې د بریدونو په منځ کې د بشپړ هوش راستنېدنې پرته د پېچلو جزئی صرعې دورو پذرېعه پېژندل کېږی .

- Status Epilepticus

د صرعې یا اختلاج هغه اوږد مهالې او تکراری کلونیک – ټونیک بڼه صرعوی بریدونه چې د دوه روغو حالتونو تر منځ پېښېږی چې پکې هوښ شتون نلری.

- Haemodynamic Status

هیموډینامیک حالت.

- Status Lymphaticus

د لمفاوی نسج او ټایموس هایپرپلازیا هغه حالت چې د لمفاوی اړوند بهیر په لمفاوی سیستم کې څرګندوی.

- Statutory Bodies

د ملی شورا هغه غړی چې د قابلګی او نرسنګ اړوند چارې سمبالوی

Staxis

انزفه ، وینه بهېدنه

- Epi-Staxis

انفی –انزفه ، له پوزې ځخه وینه ځځېدنه یا بهېدنه.

Stay

تم کېدنه ، ودرېدنه، توقف کول، مېشت کېدنه.

- Bed Stay

په بستر کې پاتېکېدنه .

- Stayed In Hospital

په روغتون کې تم کېدنه.

- Short Stay

لنډ مهاله ودرېدنه ، لنډه پاتې کېدنه .

STD

د (**Sexually Transmitted Disease**) لپاره لنډه ننبنه ده.

Steady

ټینګ، ثابت، بې تذبذبه، دعزم خاوند، منظم، باقاعده، یو کمان، یو حال، یوه ترا لکه (چټکتیا ، سرعت).

Steal

د عادی او نورماله تګلوري ځخه انحراف کول لکه د (د وینې بهیر) ، غلاګول، پټول، شوکه کول، غل کېدل ، غلا، شوکه.

- Cerebral Steal Syndrome

په قحفی ترضیضاتو کې د وینې بهیر د انحراف کولو حالت منځ ته راتګ دئ او هغه وینه چې دماغی نسج ته ورځی هلته پاتې

- Steatocytoma Multiplex
دا یو اټوزومال اختلال دئ چې د بنځو په پرتله نارینه وګړی زیات اخته کوی او ګڼ شمېر اپیډرمال سیستونه چې غوړینه مایع لری د(توپو شویو وینښانو د فولیکولونو ، لاټوګو وینښانو او سیباسی اکرین او اپوکرین غدو) له مخې پیژندل شی.

Steatogenous
د وازدې تولیدوونکې .

Steatolysis
شحمی تجزیه ، جذبولو ته چمتو او ایمولشن (ملین) حالت باندې د وازدې اوښتل.

Steatolytic
د (**Steatolysis**) اړوندصفت دئ .

Steatoma
هغه ډول سیستې چې د یوه بند شوی / بلاک شوی سیباسی غدې (**Sebaceous Gland**) له کبله رامنځ ته شی. لاپیوما ، هغه ډول وازګینه کټله چې د سیباسی غدې دننه رابنده شوې وی ، د (**Sebaceous Cyst**) په انډول.

Steatomata
د (**Steatoma**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Steatomatosis
په (**Steatoma**) باندې د اخته کېدنې یا ګڼ شمېر (**Steatoma**) منځ ته راتګ ناروغه حالت . د (**Lipomatosis**) په انډول. د (**Steatocystoma Muliplex**) په انډول.

Steatopygia
د کوناټیو (**Buttocks**) برخه کې ډېره زیاته پیمانه غوړ (شحم) راټولېدنه.

Steatonecrosis
دوازدې نسج نکروزیس یا مړینې حالت بلل شی .

Steatopygous
د (**Steatopygia**) اړوند صفت دئ.

Steatorrhoea
هغه ډول د نس ناستی ناروغی چې پکې په له حده ډېره کچه غوړ د غایطې موادو له لارې تېرېږی او اطراح کېږی.

Steatosis
وازګینه استحاله ، د وازدې نسج استحاله .

Steatotic
د (**Steatosis**) اړوند صفت دئ .

Steel
پولاد ، اوسپنېز ، پولادي کول، په پولاد پوښل، پولادي څوکه ورکول، ټینګلو ، کلکول.

Steepness
ستوغوالی.

Stegnosis
تضیق ، تنګول، کښېکلتیا .

Stegnotic
د (**Stegnosis**) اړوند صفت.

Stein-Leventhal Syndrome
د (**Polycystic Ovary Syndrome**) په انډول چې لومړې ځل د امریکائی نسائی جراح (**Irving F.Stein**) پذرېعه په کال (**1935**) کې اوبیا وروسته د امریکائی نسائی– ولادی جراح (**Michael Leo Leventhal**) پذرېعه په کال (**1887**) شرحه شو.

Steinmann's Pin
هغه ډول مېخ یا سیخ چې پکې د (**Traction Wires**) د ماتو هډوکو سمون په موخه کلکېدنه مومی . دا لومړې ځل د (**Swiss Surgeon**) جراح ښاغلی (**Fritz Steinmann**) پواسطه په کال (**1907**) کې معرفی او شرحه شو.

Stelazine
د ټرای فلوپیرازین هایدروکلورایډ د محصول سوداګریز نوم دئ.

Stellar
ستوری ییز ، دستوری ،ستوری ډوله .

Stellate
ستوری ییز ، دستوری په بڼه جوړښت ،ستوری ډوله .

- Stellate Fracture
د ستوری په څېر مات شوې هډوکې چې دا معمولاً د زنګانه سترګې (رتفې) هډوکی کې منځ ته راځي .

- Stellate Ganglion
د اعصابو هغه ډله /ګروپ حجرې چې په غاړه کې واقع دی او د ستوری په څېر ورته بڼه لری .

Stellectomy
د ستوری ډوله او ورته ګانګلیون د یوې برخې جراحی پذرېعه لېرې او راویستلو کړنلاره.

Stellwag's Sign
دا د جدري (غور ، جاغور) اړوند کلېنیکی علامه ده چې (**Exophthalmic Goitre**) بڼې ته وی او حتی ناروغ کله

- Stenosed Valve

د دسامونو تنګوالي ، د والفونو تضیق .

- Stenosed Lumen

د یوه تش منځی غړی د لومن برخې د تنګوالی حالت .

Stenosing

تنګیدنه ، د یوې مجرا د تضیق او تنګیدنې حالت او پروسه بلل شی.

- Stenosing Condition

هغه حالت چې پکې د یوې مجرا تنګوالي منځ ته راځي .

Stenosis

د تنګیدنه منځ ته راتګ ، د یوې بهیر لرونکی مجرا د (تضیق ، تنګیدنې یا نرېوالی) حالت.

- Aortic Stenosis

په زړه کې د ابهری دسام د سوری تنګوالي . د ابهر والف تضیق.

- Hypertrophic Pyloric Stenosis

د معدې د پایلوریک کانال د مخاطی غشأ او عضلاتی جدار د عضلاتو د ضخامې (پرسوب) له کبله د تنګوالی یا تضیق منځ ته راتګ چې ددې برخې التهاباتو او قرحاتو څخه وروسته منځ ته راځی لنډه نښه یې (**HPS**) ده.

- Idiopathic Hypertrophic Subaortic Stenosis

د ضخاموی کارډیومایوپتي یو ښه چې کینې بطین پکې ضخامه کوی او جوف یې کوچنیوالي مومی او د کینې بطین د خروجی ځای د بندښت په مټه پېژندل کېږی .

- Infantile Hypertrophic Pyloric (Gastric) Stenosis

د معدې د پایلوریک کانال معصري د مخاطی غشأ او عضلاتی جدار د عضلاتو د ضخامې (پرسوب) له کبله د تنګوالی یا تضیق منځ ته راتګ چې زېږون څخه وروسته ډېر ژر منځ ته راځی او هضمی کانال د بندښت په مټه پېژندل شی لنډه نښه یې (**IHPS**) ده.

- Mitral Stenosis

د مایټرال دسام تضیق ، د زړه د کینې دهلیزی-بطینی دسام (سوری) تنګوالي.

- Pulmonary Stenosis

د د زړه د ښی بطین او ریوی شریان تر منځ دسام (والف) چې معمولاً د والفی پرو پر سطحه کې لیدل کېږی .

- Pyloric Stenosis

د معدې د پایلوریک کانال معصري د مخاطی غشأ او عضلاتی جدار د عضلاتو د ضخامې (پرسوب) له کبله د تنګوالی یا تضیق منځ ته راتګ چې په ولادی یا کسبی ډول پېښېږی.

ناکله نشی کولای چې سترګې وتړی ځکه چې پکې د سترګو ګاټې بهرته ډېره اندازه راوتې او جوته ښه لری دا نښه لومړي ځل د (**Ophthalmologist In Vienna, Austria**) سترګو متخصص جراح ښاغلی (**Carl Stellwag Von Carion**) پذرېعه چې په (**1823–1904**) کالونو کې اوسېده شرحه شو .

Stem

ډډ، تنه، ډنډر، ساقه ، د انساجو څخه جوړه هغه ټوټه چې د یوه غړی سره د یوې ودې موندلې برخې اړیکه تامینوی او ورسره نښتنه مومی ، منډه،پښه، ریښه، (اساس) ، سرچینه ښول ، راولاړېدل ، راپیداکېدل.

- Brain Stem

دماغی ساقه ، د ماغزو د استنادی ډنډر ته ورته جوړښت برخه

Stench

ډډوزه ، خوړوسکه، بدبویی .

Sten-

دا یو مختاړي دئ او د (تضیق ، تنګوالی ، وړوکوالی ، کوچنیوالی) معنی بشپړوی.

Steno-

دا یو مختاړي دئ او د (تضیق ، تنګوالی ، وړوکوالی ، کوچنیوالی) معنی بشپړوی.

Stenochoria

تضیق ، تنګوالی .

Stenochoriasis

د سترګو د کسی (تور) برخې تضیق ، تنګوالی .

Stenography

چټک چټک ښه لیکنه ، د چټک لیکنی فن .

Stenopeic

د یوه نری سوری یا درز لرل .

Stentorian

جګ ږغی کس لکه (سړی).

Stenose

تضیق ، تنګوالی ، وړوکوالی ، نرۍ کېدنه ، کوچنیوالی. هغه لاړه ا مجرا قطر له اصله څخه تنګوالی وموومی لکه د (احلیل تضیق له ترضیضاتو وروسته).

Stenosed

تنګ شوې ، متضیق ، نرۍ شوې حالت .

- Tricuspid Stenosis
د زړه د دري پړه ائیزه والف تنګوالی ، د زړه د ټرای کسپیډ دسام تضیق.

Stenothermal
یوه کوچنۍ محدوده کې د تودوخی د درجې بدلون ټیټوالی.

Stenothermic
د (**Stenothermal**) په اندول.

Stenothorax
د ټټر یا د سینې پنجرې (تنفسی قفس) غېر نورماله بڼه تنګوالې او تضیق.

Stenotic
د تنګوالی او تضیق (**Stenosis**) اړوند صفت دئ.

Stenostomia
د یوې فوحې یا خولې (**Opening**) تنګوالې ، د (**Stenostomy**) په اندول.

Stenostomy
د یوې فوحې یا خولې (**Opening**) تنګوالې ، د (**Stenostomia**) په اندول.

Stensen's Duct
هغه قنات (**Duct**) چې د لاړو (لعاب) راتګ د (**Parotid Glands**) څخه تر سره کوی او لومړې ځل د (**Danish Physiologist Physician And Priest, Anatomist,**) اناټومی فیزیولوژی عالم (**Niels Stensen**) پواسطه په کال (**1661**) کې شرحه شو .

Stent
ستینټ ، هغه تثبیتیه وسیله چې په مصنوعی (**Artificial Material**) ډول جوړه ده او معمولاً د پوستکی د پیوند او د تش منځی ټیوبونو (نلکو) چې د ترمیم لپاره ورته خیاطه (**Sutured**) ترسره شوی وی د تثبیت په موخه کېښودل شی.

Step
قدم، پل، ګام ، پوړۍ ، درجه، مرحله، تګ . قدم اینبودل ، ګام اخستل،په پله اندازه .

- First Steps
لومړې ګام.

- Stepchild
پرکتنې ، هغه ماشوم چې د مور یا پلار څخه ناسکه وی .

- Stepdaughter
پر کتنې ، هغه لور چې له پلار یا مور څخه نا سکه وی .

- Stepladder
زینه ،سپکه زینه.

- Steps Forward
د پرمختګ لورې ته ګام اینبودل .

- Second Step
دوهم ګام ، دوهمه مرحله .

- Stepson
پرکتنې ، هغه زوی چې له پلار یا مور څخه نا سکه وی .

Stephanion
د پورتنی صدغی خط او کورونیال سوچورا د تقاطع ټکی .

Stephanional
د (**Stephanion**) اړوند صفت دئ.

Step Up
د یو څه زیاتېدنه ، ورزیاتول ، لکه ډاکټر چې د درملو ډوز زیاتوی.

- Stepped Up The Dosage
د درملو ډوز زیاتولو کړنه تر سره کول .

Sterco-
دا یو مختاړې دئ او د (غولو ، غایطی موادو ، **Faeces**) معنی بشپړوی .

Stercobilin
ستېرکو بلین ، هغه نصواری رنګه صباغ (**Brown Pigment**) چې د صفرا څخه زېرنده ده او د (**Stercobilinogen**) د هوازی اکسیډیشن څخه لاسته راځی غایطی موادو ته تور بخن –نارنجی رنګ وربخښي .

Stercobilinogen
ستېر کو بلینوجن ، هغه د بلیروبین مېټابولایټ ماده چې له بلیروبین ماتېدنې څخه د ستېرکوبلین (**Stercobilin**) پریکارسور ده په توګه رابېلېږی او دهغه د ارجاع پذېرېعه جوړېږی .

Stercolith
غایطی ډبره ، هغه غټه بڼه د پنډوس په څېر جوړه شوې کتله چې د غایطی موادو له وچېدنې او کلکېدنې څخه د پنډوس په بڼه رامنځ ته کېږی.

Stercoraceous
1 . هغه چې د غایطی موادو څخه جوړه یا پکې غایطه مواد شتون لری . **2**. د غولو (غایطی موادو **Faeces**) په اندول . غایطی قوام

Stercora

د (**Stercus**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Stercoral

د (**Stercoroma**) لپاره اړوند صفت دئ.

Stercoroma

په ریکټیوم کې هغه کلکه غاښطی کتله چې د غاښطی موادو راټولېدنې څخه رامنځ کېږی.

Stercorous

د (**Stercoroma**) لپاره اړوند صفت دئ.

Stercus

غاښطی مواد.

Stereo-

دا یو مختاړي دئ او د (جامد ،درې بعدی او کاملاً کلک شوې) معنی شپږوی.

Stereoarthrolysis

د هډوکیز انکیلوزینګ په حالاتوکې په جراحی سره د نویو خوځنده بندونو جوړول.

Stereoauscultation

د سینې د پنجرې (صدری قفس) په ښلاښلو برخو کې په دوه ستاټیسکوپونو سره اوریدنه.

Stereocampimeter

د سترګو د شبکیې د مرکزی نیمګړتیاوو او یو اړخیزه مرکزی سکوټومونو د څېړنې لپاره اړوند جوړه شوې وسیله ده.

Stereochemical

د (**Stereochemistry**) اړوند صفت دئ.

Stereochemistry

د کېمیاپوهنې هغه څانګه چې د اټومونو او مالیکولونو له فضائی تړاو سره سر او کار لری.

Stereocineflurography

دستیریوسکوپی –فلورسکوپی څخه فلم اخیستنه.

Stereoencephalotome

هغه وسیله چې د لاښود په توګه په ستیریوانسفالوټومی کې تر کار اخیستل شی.

Stereoencephalotomy

هغه جراحی کړنلاره چې د ستیریوانسفالوټوم پذرېعه تر سره کېږی.

Stereognosis

هغه ډول وړتیا لرل چې د تماس یا لمس له مخې د درې مخی (**Three Dimensions**) شی ورته بڼې معنی څرګنده او په ګوته یې کړی . هغه درک او احساس چې د شیانو د جامدوالی د حس له مخې منځ ته راځی .

Stereognostic

د (**Stereognosis**) اړوند صفت دئ.

Stereoisomer

د ستیریو ایزومیریکی اړیکو لرونکی مرکبونو یوه ډله ده.

Stereoisomeric

د (**Stereoisomerism** ، **Stereoisomer**) لپاره اړوند صفت دئ.

Stereoisomerism

د ستیریو ایزومیریزم چې ایزمېرونه پکې ورته جوړښتونه لری او (د اټومونو ترمنځ رابطې ورته دی) خو د اټومونو فضائی انډول یې توپیر لری.

Stereo-orthopter

د هغه هیندارېزو غبرګونیز (انعکاسی) وسیلو لپاره د سوداګرېز نښه کوم چې د ستیریزموس د سمون لپاره پکار وړله شی.

Stereoscope

ستیر یو سکوپ ، هغه درې بعدي شکل د تولید لپاره وسیله چې دهغې په واسطه دیوي منظرې دوه هغې (ورته انځورونو ترکیبولو) په واسطه دیوی منظري دوه عکسونه چه څنګ په څنګ اینبودل شوی په مجسم ډول ښکاره کیږی.

Stereoscopic

دستیریوسکوپ اړوند صفت دئ ، ستیریوسکوپیز خاصیت څښتن اړوند.

- Stereoscopic Vision

ستیریوسکوپیز بصر ، ستیریوسکوپیز لیدنه ، هغه ډول وړتیا لرل چې د (**Binocular Vision**) پذرېعه د یو ه شی او څیز (**Object**) ژورتیا (عمق) اړوند قضاوت وکړلای شی.

Stereotactic

په فضا کې څانګړو وضعیتونو ته ویل کېږی چې د ماغزو د څانګړې سیمې دي چې څانګړو چارو سمبالولو او کنټرول سره پېژندل کېږی دا یو ډول

Strilant
مایکروارګانیزم وژونکې ماده ده .تعقیم کوونکې ماده یا شرایط.

Sterile
بې مکروبه، معقم، پاکه ، مطهره ، له مېکروبونو څخه بې ضرره او پاکه ، عقیم ، شنډ (هغه چې د تکثر او بلاربولو وړتیا نلری) ، بې ثمره، بې حاصله، شاړه.

- Sterile Environment
د (بې مکروبه، معقم، پاکه ، مطهره) چاپېریال خاوند.

- Sterile Dressing
معقم پانسمان لګول ، پاک پانسمان.

- Sterile Instrument
معقم سامانونه.

Sterilisation
تعقیم ،تعقیم کولو پروسه له مېکروبونو څخه (بې ضرره ، پاک او بشپړه له منځه وړنه) بلل شی، د عقامت منځ ته راوړل .د (**Sterilization**) په انډول.

- Sterilisation of Man
د یوه سړی عقیم کولو کړنه تر سره کول چې پکې د هغه لېږدوونکې منوی قنات (**Vas Deferens**) قطع کېږی او ورته (**Vasectomy**) تر سره کېږی.

- Sterilisation of Woman
د یوې ښځې عقیم کولو کړنه تر سره کول چې پکې د هغې نفیرونه (**Fallopian Tubes**) او یا هګۍ خالي (**Ovaries**) قطع کولو عملیه تر سره کېږی.

Sterilise
تعقیم کول، له مکروبو پاکول.د یوچا عقیم کول ، د (**Sterilize**) په انډول.

Steriliser
تعقیم کوونکی وسیله ، مکروب وژونکی آله چې د بخاراتو او جوشولو پذرېعه سامانونه پاکوی . د (**Sterilizer**) په انډول.

Sterilising
تعقیم کول، د جراحی له مکروبو پاکولو پروسه چې د بخاراتو او جوشولو پذرېعه سامانونه پاکوی .

- Sterilising Fluid
د تعقیم مایع .

- Sterilising Liquids
د تعقیم مایع لکه (الکهول ، تینچر او نور) .

- Sterilising Surgical Instruments
جراحی تعقیم کولو وسایل ، د جراحی وسایلو او ټوکرانو له مکروبو پاکول د جراحی په میتود سره.

کړنلاره ده چې د سکنر (**Scanner**) څخه د تصویر اچولو لپاره د کمپیوټر (**Computer**) پرمخ همغږی کولو تر کار اخیستل شی لکه د (**Tumours Biopsies, Surgery Or Radiation Therapy**) پرمهال تر کار اخیستل شی.
په [**Thigmotaxia (Thigmatolic)**] پورې اړوند صفت.

Stereotaxic
د (**Stereotaxy**) اړوند صفت دئ . د (**Thigmotaxis**) په ښکارندوی پورې اړوند.

- Stereotaxic Surgery
د (**Stereotaxy**) اړوند جراحی کړنلاری تر سره کول.

Stereotaxis
ستیریوټاکټیک جراحی ، د (**Thigmotaxis**) په انډول.

Stereotaxy
دا یوه جراحی عملیه ده چې پکې د ماغزو دننه برخې ټکی اړوند معلومات تر لاسه کېږی او دمخه تر دې چې عملیات تر سره شی د عملیات سیمه پرې ټاکله شی.

Stereotropic
په (**Stereotropism**) پورې اړوند صفت دئ.

Stereotropism
له سختې (کلکې) سطحې یا جسم سره د تماس د پایلې په ځواب کې یو باور .

Stereotype
د چارو یا لغوتونو غېر ارادی او پرلپسې تکراری یادونه چې یوه رانی ستونزه بلل شی، دچاپ تخته، کلیشه، نمونه ، یوه فلزی تخته،چه دهغې له مخې یوه صفحه چاپېږي.

Stereotyped
متحد المال، یکنواخته مبتذل اوتکراری یادونه ، بې خونده.

Stereotypy
دا یو ډول ناروغه بڼه ده چې پکې ناروغ په تکراری بڼه د هماغه یوه لغت پرلپسې تکرار یادوونه تر سره کوی .

Sterets
له زرقیاتو او ستنې وهلو څخه دمخه د پوستکی پاکېدنې لپاره د یوه ټوټې شی (**Swab**) کارولو لپاره سوداګرېز نوم دئ.

Steric
په فضأ کې د اټومونو په نظم پورې اړوند په درې بُعدی کېمیا پورې اړوند.

Sterility
شنډتوب ، عقیم والی، بې مکروبي کول او له مکروبونو څخه پاکول.

Sterilizer
د مېکروبونو د وژلو وسیله ، د (Steriliser) په انډول.

Steri-Strips
د نرۍ تسمه ئی پاڼې لپاره سوداګریز نوم دئ چې د پوستکی د یوې جرحې لپاسه کېښودله شی او. تر څو د هغې څنډې ترمیم شی او تندب (Scar) رامنځ ته شی .

Stern
سخت، ټینګ، کلک، ثابت، کراړ.

Sternal
د (Sternum) اړوند صفت دئ. د ټټر (سینې ، قص ، Breastbone) د کلک پلن هډوکی اړوند.

- Sternal Angle
د قص هډوکی زاویوی څنډه چې د (Manubrium) برخه یې د (Sternum) هډوکی جسم سره بند / مفصل جوړوی .

- Sternal Bone
د قص هډوکی چې د ټټر برخې پنجرې یو ټینګوونکې هډوکې دی او د صدر قدام کې واقع دئ.

- Sternal Puncture
د قص هډوکی جراحی د بذل کولو عملیه ده چې ورڅخه نمونه (Bone Marrow) د آزمایښت تر سره کولو لپاره اخیستل شی.

Sternalgia
دقص (ستېرنوم) هډوکی درد او خوږېدنه.

Sternebra
د ژوندون په پیل کې د ستېرنوم هره ټوټه چې وروسته ټولې سره نښلی او د ستېرنوم هډوکی جسم جوړوی .

Sterno-
دا یو محتاړې دئ د [قص هډوکی (Sternum)] اړوند معنی بشپړوی .

Sternoclavicular
د قص هډوکی (Sternum) او ترقوی هډوکی (Clavicle) اړوند ، قصی –ترقوی .

- Sternoclavicular Angle
هغه زاویه چې د (Clavicle) برخه یې د قص هډوکی (Sternum) هډوکی جسم سره بند جوړوی د هغې اړوند.

Sternocleidomastoid
دغاړې هغه برخه چې د (Sternum) ، ترقوی(Clavicle) او (Mastoid Process) ترمنځ پرته ده .

- Sternocleidomastoid Muscle
دغاړې برخې هغه عضله چې د (Sternum) ،ترقوی(Clavicle) او (Mastoid Process) ترمنځ ځغلی .

Sternocostal
دصدر برخې د قص (Sternum) او پښتیو (Ribs) ترمنځ پورې اړوند.

- Sternocostal Joint
د قص (Sternum) او (Ribs) ترمنځ مفصل .

- Sternocostal Muscle
دصدر برخې هغه عضله چې د قص (Sternum) او پښتیو (Ribs) ترمنځ ځغلی .

Sternodymus
هغه ډول زیږېدلی غبرګونی ماشومان چې د سینې په قدام کې سره نښتې ښکه لري.

Sternohyoid
د قص هډوکی (Sternum) او هایوئید هډوکی (Hyoid Bone) اړوند ، قصی –هایوئیدی .

- Sternohyoid Muscle
د ورمېږ برخې د قص هډوکی (Sternum) او هایوئید هډوکی (Hyoid Bone) اړوند عضله ، قصی – هایوئیدی عضله .

Sternomastoid
د قص هډوکی (Sternum) او مستوئید هډوکی (Mastoid Bone) اړوند ، قصی –مستوئیدی .

- Sternomastoid Tumour
په نوې زوکړو ماشومانوکښې سلیمه ښکه د قص هډوکی (Sternum) او مستوئید هډوکی (Mastoid Bone) اړوند عضلې ټوموری کتله ، قصی –مستوئیدی ټومور.

Sternopagus
هغه ډول زیږېدلی غبرګونی ماشومان چې د سینې په قدام کې سره نښتې ښکه لري.

Sternopericardial
په قص (ستېرنوم) او پریکارډیوم پورې اړوند.

Sternoschisis
د صدر په قص هډوکی کې په ولادی توګه د درز شته والې .

Sternothroid
په قص (ستېرنوم) او ټایرایډ په غضروف یا غدې پورې اړوند.

.

غیر ستیرویئیدی مستحضرات .

Steroidogenesis

د ستیرویئیډونو تولید لکه د فوق الکلیوی غدو پذیرعه .

Steroidogenic

د (**Steroidogenesis**) اړوند صفت دئ.

Steroidogenous

د (**Steroidogenesis**) اړوند صفت دئ.

Sterol

ستیرول ، یو ستیرویئیډ چې (**18**) کاربونی ستیرویئید هسته (**8-10**) کاربنی اړخیز ځنځیرونه او لږ ترلږه یو الکهولی ګروپ لری غیر منحل ماده ده چې د ستیرویئیدی الکهولی مرکبونه اړوند کورنی. پورې تړاو لری لکه کولیسترول (**Cholesterol**) .

- Sterol Lipid

شحمی ستیرول لدې ډلې څخه د کولیسټرول او ارګوسټیرول نومونه د نمونې پتوګه اخیستلای شو.

Stertor

خړبدل ، له خړبدو(خرهار) سره یوځای ساه اخیستل ، په هغه ناروغانو کې چې شعور یې ښه دار نه وی د یو ډول شور ماشور (غالمغالی) تنفسی آوازونو شته والې .

Stertorous

هغه ډول وصف چې د شدید خړبدنې (درانده خرهار) له کبله پیښ شی.

Steth-

دا یو مختاړې دئ او د (صدر ، ټټر ، سینې ، **Stetho-**) معنی بشپړوی.

Stethalgia

دسینې (ټټر) د پنجرې برخه کې د درد شتون .

Stetho-

دا یو مختاړې دئ او د (صدر ، ټټر ، سینې ، **Steth-**) معنی بشپړوی.

Stethogonometer

د سینې د پنجرې د انحنا د شمېرنې لپاره ماشین دئ .

Stethograph

هغه طبی وسیله چې ورباندې د صدری تنفسی حرکاتو ثبت تر سره کوی .

Stethography

هغه پروسه چې د چې طبی وسیلې پذیرعه د صدری تنفسی حرکاتو ثبت تر سره کوی .

Sternotomy

هغه جراحی عملیات چې پکې د قص (**Sternum**) هډوکی وازېړی او د هغه لاړې څخه د زړه غوښې (قلب) ته لاسرسئ رامنځ ته کېږی .

Sternum

ستېرنوم هډوکی ، د سینې د پنجرې یو هډوکی چې د صدر په قدام برخه کې واقع او د دواړه لورو څخه د پښتېو پواسطه ورسره مفصل منځ ته راځی او [(**Manubrium**) ، جسم برخه (**Body Of The Sternum**) او (**Xiphoid Process**)] برخو لرونکې دئ . د (**Breast Bone**) په انډول.

Sternutatory

هغه مواد چې د یوچا د پرنجېدنې (عطسې ،**Sneeze**) لامل وګرځی

Steroid

ستیروئیدونه ، دا کېمیاوی مرکبونه دی چې د جنسی هورمونونو په شمول چې د بدن پر دندو تر سره کولو باندې اغېزې کوی دا لغت تل د (**Corticosteroids**) ته مرتبط ګڼل شی چې په ترکیبی اومصنوعی ډول هم جوړېږی .

- Anabolic Steroids

د تستوستېرون صنعتی مشتقاتو څخه هریو چې پیاوړې انابولیک خواص او نسبتاً خفیف اندروجنی خواص ولری او د ودې پاروونې او د بدن د نسجونو د بیا رغوونې د چټکېدنې لپاره په (عمر خوړلو کسانو، ناتوانوونکو ناروغیواو د ناروغیود نقاهت په دوره کې) پکاروړل کېږی .

- Corticosteroids

کورټیکو ستیرویئیدونه ، د فوق الکلیوی غدې له قشر څخه افرازېدونکی ستېرویئیدونه.

- Steroid Alcohols

ستېرویئیدی الکهولی مرکبونه لکه کولیسترول (**Cholesterol**) او نور .

- Synthetic Steroids

مصنوعی جوړ شوی ستېرویئیدونه .

- Steroid Therapy

د ستېرویئیدونو پذیرعه درملنه کول .

Steroidal

د (**Steroids**) اړوند صفت دئ .

- Steroidal Drugs

ستېرویئیدی درمل .

- Non-Steroidal

Stethometer
هغه طبی وسیله چې ورباندې د صدری تنفسی حرکاتو د اندازې (څومره د تنفس پرمهال صدر توسع کوی) ثبت تر سره کوی . د سینې د پنچرې د آزادوالی د مېچولو لپاره ماشین.

Stethoscope
ستاتسکوپ ، ستټسکوپ، دډاکټرانو دمعاینې آله . هغه طبی وسیله چې ورباندې د صدری تنفسی حرکاتو د زړه غږونه ، کولمو غږونو پرمهال د غږونو (آوازونو) اورېدنه او ثبت تر سره کوی .

Stethoscopic
د (**Stethoscope**) اړوند صفت .

Stethospasm
د سینې د پنجرې د عضلاتو سپزم .

Stenia
د (قدرت ،توان او فعالیت) شرایط او حالت.

Stenic
د (**Stenia**) اړوند صفت دئ .

Stevens-Johnson Syndrome
د ایریتېما مولتیی فورم (**Erythema Multiforme**) شدید ډول دئ چې مخ او تناسلی غړی اخته کوی او د درملو په وړاندې د غبرګون په نتیجه کې منځ ته راځی او په کال (**1922**) کې د امریکائي عالم (**Albert Mason Stevens**) پذرېعه او بیا وروسته (**Frank Chambliss Johnson**) پذرېعه چې په (**1894–1934**) اوسېده شرحه شو.

Stew
ورو ورو ایشول، ورو ورو پخول، قورمه کول، دم کول، په بړاس (بخار) پخول، اندېښنه کول.

Sthenia
هغه حالت چې ډېر زیات حیاتیت او قوت خاوند وبلل شی. شدید ، وخیم ، له (شور ، هیجاناو ځوګ) څخه ډک حالت . د (قدرت ،توان او فعالیت) شرایط او حالت.

Sthenic
د (**Sthenia**) اړوند صفت ، قوی، پیاوړې ، فعال .

- Sthenic Apoplexy
د وینې (دموی) سکته ، خوني سکته منځ ته راتګ .

STI
د (**Sexually Transmitted Infection**) لپاره لنډه نښه ده.

Stibialism
په انتیې مونی سره مسمومیت .

Stibine
استیبن بې رنګه زهرجن ګاز دئ چې (**SbH_3**) قورمول لری .

Stibnite
استیب نېټ ، دا ترای سولفایډ آنتیمون دئ چې د (**Sb_2S_3**) فورمول لری ، د رانجو اړوند ډېره هم بلله شی.

Stibium
انتیې مونی ، چې کېمیاوی نښه یې (**Sb**) ده .

Stibocaptate
د درې ولانسی انتیې مونی مرکب چې د شیستوزومیازیس ضد مادې پتګه کارولە شی.

Stick
د یوه شی یو له بل سره نښتل، سرېښ کېدل لکه د کانجکتیویټ له کبله د سترغلو نښتنه ، ټومبل، چوخول، تنه ایستل ،ودریدل (لکه دملګرې سره). لښته، لکړه، لرګی.

- Stick Together
د یوه شی یو له بل سره نښتل، سرېښ کېدل لکه د کانجکتیویټ (**Conjunctivitis**) له کبله د سترغلو نښتنه.

Sticking
د یوه شی یو له بل سره نښتلو او سرېښ کېدلو حالت .

- Sticking Plaster
هغه نښتونکې پلاستر چې چې د یوه کوچنی جرحې لپاسته د وروستلو او نښلولو لپاره تر ې کار اخیستل شی.

Sticky
سرېښناک او نښتونکې .

- Sticky Eye
نښتې سترګې چې د کانجکتیویټ (**Conjunctivitis**) له کبله د سترغلو نښتنه رامنځ ته کېږی د نوی زوکړو ماشومانو کې معمولاً لیدل شی.

Stiff
① شخ، ییخ نېغ لکه د زنګون بند چې د فټېال لوبې وروسته شخ پاتې کېږی ، رابنکلی، نیولی، کش شوې ، ټینګ سره ورغلې حالت چې د وازېدنې او حرکت وړتیا ونلری . ② رسمي، تصنعي، سخت زورور (لکه باد)، سخت، شدید ، ګران، مشکل.

پکې د هغې لوبو وریدونو ته ننوځی.

Stigmata

د (**Stigma**)ګڼه شمېره ده.

Stigmatic

د (**Stigma**)اړوند صفت دئ.

Stigmatize

تورول، شرم اړول، تورااړول، تورن کول، داغ ایښودل، ننبه کول.

Stigmas

د (**Stigma**)ګڼه شمېره ده.

Stilet

1 .هغه نرۍ ښنه وایر (**Wire**) یا سیم (سیخ) چې په جراحی کې د پروب (**Probe**) په توګه استعمالېږی . هغه نرۍ ښنه وایر (**Wire**) یا سیم چې د فولې کتېتر او نوکتېترونو د شخی (**Rigidity**) لپاره کارول شی. **2** .کوچنۍ او سیخ ته ورته بارزه.

Stiletto

ساتووه، پیش قبضه، تېره څوکې چاړه.

Still

ولاړ، بې حرکته، آرام، غلی، چوپ. چوپتیا، چوپ، چوپایی، بې ډغه عکس، مصور کلام. غلی کول کول، چوپول، غلی کېدل، چوپ کېدل. لا، لاهم، لاتراوسه، بیا هم سره له دې. خو، خوبیا هم.

Stillbirth

مړپیدا، هغه جنین چې مړزېږېدلی وی او د القاح څخه وروسته یې (**28**) اونۍ بشپړې کړېوی .مړپیدا جنین، مړزېږېدلی جنین ، د مړه ماشوم زېږونه.

Stillborn

مړپیدا جنین اړوند ، مړزېږېدلی جنین اړوند ، د مړه ماشوم زېږونې اړوند.

Stillness

غلی توب، چوپتیا.

Still's Disease

هغه ارتریټ یا د بندونو التهاب چې ماشومان اخته کوی ، په لویانو کې د روماتوئید آرتریټ (**Rheumatoid Arthritis**) ته ورته حالت دا لومړۍ ځل د (**British Paediatrician And Physician**) برطانوی طبیب ښاغلی (**Sir George Frederic Still**) پذرېعه په کال (**1896**) کې شرحه شو.

- Stiffed Knee

د زنګون پیخ نېغ کېدنه، لکه (د زنګون بند چې د فټبال لوبې وروسته شخ پاتې کېږی).

- Stiff Neck

دغاړې (ورمېږ) شخ پاتې کېدنه لکه په مننجیټ او سړې هوا او باد سره مخامخ کېدنې وروسته ورمېږ شخ پاتې کېږی .

Stiffen

شخول، کلکول، ټینګول، کلکلېدل، ټینګېدل.

Stiffening

ټینګوونکی، شخوونکی.

Stiffly

په کلکه، په سختی.

- Stiffly Walking

په سختی او شخې بڼې په لاره تګ بلل شی .

Stiffness

کلکوالی، ټینګوالی ، شخوالې ، پیخ نېغ والې .

- Joints Stiffness

د بندونو شخی ، د مفصلونو د حرکتونو محدودېدنه او دردناکه ښه منځ ته راتګ.

- Neck Stiffness

د ورمېږ (غاړې) د بندونو شخی ، د ورمېږ (غاړې) د مفصلونو د حرکتونو محدودېدنه او دردناکه ښه منځ ته راتګ.

Stifle

خپه کول، تربتول، زندۍ کول کښېکاږل، کښېمنډل، بندول، نیول، ایساروول لکه (د سا او اړېمی کولو ایساروول).

- Stifle Necked

سرتنبه توب ، سرزوری.

Stigma

داغ ، هغه (فزیکی ، ذهنی د لیدنې) وړ ننبه چې د یوې ناروغۍ لپاره ښکارندویه وی ، لکه د لاسونو او پښو وینه ورکوونکې یا پورپوریک ضایعات (اندفاعات) ، تور، پیغور، بدنامي، بور، دبوټو هغه برخه چې تخم لري.

- Follicular Stigma

د هګۍ ځالې (تخمدان) پر سطحه باندې یو داغ چېرته چې تخاکیز فولیکول چوی او د هګۍ اچونې په بهیر کې د هګۍ تېرېدنې ته اجازه ورکوی.

- Malpighian Stigma

هغه ټکی (نقطوی) ته ورته سیمې چې د توری کوچنی وریدونه

Stilt
لکړه (هغه دوې لکړې چې دپښو دپاره ځای لري اوسړی دهغې په واسطه ګرځي، پښتانه داکار په دوو یو مانو کوي).

Stimulant
پاروونکی، لمسوونکی محرک پاروونکی (مواد ،درمل ،څښاک) له کبله بهیر چې د بدن یوې برخې فعالیت ته چټکتیا وربخښی .

- Biostimulants
هغه پاروونکی او لمسوونکی محرک پاروونکی مصنوعی او طبیعی مواد لکه هورمونونه اودرمل چې حیاتی پروسه تنبه کوی .

- Central Stimulants
هغه مرکزی پاروونکې محرک چې د مرکزی عصبی سیستم تر اغیزې لاندې راولی.

- Diffusible Stimulants
هغه مرکزی پاروونکې محرک چې چټک خو ژر تبرېدونکې اغیزې کوی.

- General Stimulants
هغه مرکزی پاروونکې محرک چې د بدن ټولې برخې تر اغیزې لاندې راولی .

- Local Stimulants
هغه مرکزی پاروونکې محرک چې یوازې هغه سیمې چې موخه ده ورسېږی تر اغیزې لاندې راولی .

- Natural Stimulants
طبیعی پاروونکی او لمسوونکی محرک پاروونکی مواد لکه هورمونونه اودرمل .

- Nerve Stimulants
طبیعی پاروونکی او لمسوونکی محرک پاروونکی مواد لکه هورمونونه اودرمل چې عصب یا عصبی ریښه پاروی .

Stimulate
پارول، لمسول، تحریکول، د یوه غړی او نسج غبرګون رامنځ ته کول.

Stimulation
لمسون، پارونه، تحریک. د تحریک بهیر ، پاروونکې حالت یا شرایط.

- Functional Electrical Stimulation
د هغه عضلې د کاری بیا رغاونې او پاروونې لپاره په مصنوعی ډول د برېښنائی بهیر کارول چې دا دماغزو نسجی ضایعاتو له امله ناتوانی پښنه شوې وی لنډه ننبه یې (**FES**) ده.

- Transcutanoeous Electrical Nerve Stimulation
د دردونو د تحریک بهیر کمولو لپاره د اعصابو برېښنائی پاروونه چې له پوستکی څخه د بهیر په تېرولو سره تر سره کېږی لنډه ننبه یې (**TENS**) ده.

Stimulator
تحریک کوونکې وسیله ، هره هغه ماده چې وظیفوی فعالیتونه تحریک کوی . په برېښنائی تشخیص کې هغه آله چې د (عضلی او د مرکزی عصبی سیستم د یوې برخې) د پارونې لپاره بهیر لرونکی سیالې (ایمپالسونه) هغه غړو ته استوی .

- Long –Acting Thyroid Stimulator
د اوږده مهال اغیزی د تایروئید غدې تحریک کوونکی لنډه ننبه یې (**LATS**) ده.

Stimuli
د (**Stimulus**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Stimulus
پاروونکی، لمسوونکی، محرک، باعث، سایق ، هره هغه ماده چې په یوه تحریک مننونکی نسج یا آخذه کې ټروفیک یا وظیفوی غبرګون رامنځ ته کوی.

- Adequate Stimulus
کافی محرک ، د هغه رسېټورونو له لارې د انرژی د یوه ځانګړی شکل تحریک چې له هغې سره حساس وی .

- Aversive Stimulus
هغه ډول محرک چې کله د یوه ځواب تر پېدایښت وروسته وکارول شی په ورپسې پېښه کې د ځواب توان کمښت مومی .

- Coditioned Stimulus
شرطی محرک .

- Discriminative Stimulus
هغه ډول محرک چې د چلند یا ځانګړو ډولونو باندې له پیاوړتیا سره یو ځای چارې کنترولوی او د تحریک کېدونکی شخص کولای شی د ورته پاروونکو په منځ کې د هغه په ځانګړی پاروونکی په شتون کې مثبت ځواب څرګند کړی .

- Eliciting Stimulus
هر مشروط یا غېر مشروط محرک چې ځواب منځ ته راوړلای شی . تشدید کوونکی محرک .

- Hetrologous Stimulus
هغه ډول محرک چې که د یوه عصب په هره برخه کې وکارول شی یو اغیز یا حس تولید کړی .

- Homologous Stimulus
کافی اندازه محرک.

- Trishold Stimulus
هغه ډول تحریک چې تر داسې کچې پورې پیاوړې وی چې ځواب را پیدا کړی او د پاربدنې لامل شی .

- Stirrup Bone

د غوږ دننه برخه کې (**Stapes**) په انډول.

Stitch

یو ناڅاپه او تېرېدونکې څیرېدونکې درد لکه (څړیکه، برېښ). ، یو [ټک، بخۍ (کوک) وهنه ،بخۍ وهل، ټک وهل، ګنډل] . د (**Suture**) په انډول.

- Stitch Abscess

د (ټک ، بخۍ ، ګنډلې) برخو پورې اړوند منځ ته راغلې دانه یا خراج .

Stitchiologic

د (**Stitchiology**) اړوند صفت دئ .

Stitchiology

عنصر یا توک پېژندنه ، د عنصرونو په ځانګړی توګه د نسجونو د حجروی عنصرونو د فزیولوژی په اړه ځانګړی معلومات .

Stitchiometric

د (**Stitchiometry**) اړوند صفت دئ .

Stitchiometry

د کېمیاوی عنصرونو او محرکبونو تر منځ د عددی اړیکه او د کېمیاوی بدلونونو د ریاضیکی قانونی اړخونو اړوند څېړنه .

Stock

1- د وچې ونې تنه (ډډ) ، **2**- د یوه لرګی کنده ، د لرګیو غټه ټوټه ، **3**- هر هغه څیز چې پرته له ځان (ژوند ، حیات ، احساس یا تحرک) څخه وی ، مړ شوې ، بدن یا جسم. ذخیره ، زېرمه تون.

- Stock Culture

بنسټېز د باکتریاګانو کلچر چې ورڅخه نور کلچرونه هم تر سره کېږی.

- Drug Stock

د درملو لړوند زیرمه تون .

- Mdical Stock

د طبی (تجهیزاتو ، درملو ، وسایلو) اړوند زېرمه تون .

Stocke

د غورځنګیز پیوستون واحد دئ ، په هغه مایع پورې اړوند چې د پیوستون او سلیښتیائی یو پوئید او کثافت یې په یو سانتی متر مکعب کې یو ګرام وی.

Stocking

جرابه (جورابه) ، اوږده د ټوکرانو څخه جوړه جرابه چې پښه ورباندې پوښله شی.

- Uncoditioned Stimulus

هغه ډول محرک چې د نامشروط ځواب پېښېدنې توان ولری.

Sting

چیچل ، نېښ وهل، چیچنه، څړیکې (دچیچنې)، سوی، نېښ، لېښه، لشکه. هغه ډول رنځ یا ځورېدنه چې د یوه حشرې پواسطه چیچنه چې یو چا وینې بهیر ته بیوټوکسین (انتان ، پرازېت ، زهری مواد) تېروی لکه د میاشی یا موچۍ پذرېعه چیچل. کترې ویل، غولول، پارول، لمسول،

- Insect Stings

د حشرې پذرېعه چیچل ، لشکه وهل .

Stinging

یو ناوړه ډول د چوخېدنې/ سوځېدنې احساس .

- Stinging Sensation

د چوخېدنې/ سوځېدنې احساس

Stingy

کنجوس، سخت ، بخیل، ممسک، شوم، کنستل.

Stink

وږم کول، بوی کول، خوسا بوی کول. وږم، بدبوی، خوسا بوی، ډډوزې.

Stipple

په ټکو بڼه کښل، په ټکو څېره اېستل. بڼه کښنه، څېره اېستنه (دټکو په واسطه).

Stippling

یوه ټکی ټکی منظره چې د سترګوشبکیې ته ورته وی خو شرط یې دادئ چې ټکي به سپین ا تور بڼه ولری ،همدا راز په بازوفیلیا کې د سرو کریواتو ټکی ټکی منظره.

Stipulation

تړون، شرط قید.

Stir

لړل، خوځول، ښورول، په احساساتو راوستل، تحریکول، پارول، سره وهل لکه (دهګۍ ژیړ اوسپین)، اخښل. ښورونه، لړنه، پارونه. جېل، بند، زندان (اصطلاحاً).

Stirring

پاروونکی، ژوندی، لړزوونکی، مهیج، الهام بخښونکی.

Stirrup

کریب، رکاب. د (**Stapes**) په انډول.

Stocky
منډلی، لنډ چاغ، پنډ.

Stodgy
دروند (خواراکي ښیا)، سترې کوونکی، بې خونده.

Stoic
صبر ناک، صابر، زغمونکی، دزغم څښتن.

Stoically
په زغم، په صبر، په حوصله، په سړه سینه.

Stoichiologic
د (**Stoichiology**) اړوند صفت دئ.

Stoichiology
یو له بله سره دکېمیاوی عناصرو اټومی وزنونو پرتله (قیاس)کولو د مهارت او فن علمي څانګه ده.

Stoichiometric
د (**Stoichiometry**) اړوند صفت دئ.

Stoichiometry
یو له بله سره دکېمیاوی عناصرو اټومی وزنونو پرتله (قیاس) مهارت او فن.

Stoicism
1- دصبر فلسفه، رواقي فلسفه. د رواق ګرایئ اړوند فلسفه او له هغه څخه پالنه او خپل سرمشق ګرځول. **2**- د ژوند(لذتونو ،خوندونو ، مال او منال) ته بې توجهي کول.

Stoke
سوځېدنه ، اور لګونه ،پریوتنه / لوېدنه لکه د (لمر وړانګو).

- Stokes–Adams Syndrome
هغه سنډروم چې پکې شعوری ورکېدنه ، د زړه د (**Asystole Or Fibrillation**) له کبله رامنځ ته کېږی چې لومړې ځل د ائیرلنډ ی جراح (**Robert Adams**) چې په (**1804–1878**) کلونو کې اوسېده او (**William Stokes**) داخلې متخصص چې په (**1791–1875**) کالونو کې اوسېده پذرېعه شرحه شو.

Stolidity
بې حسی، پڅوالی، په بې حسی.

Stoma
خوله ، د یوه جوف وازه خوله لکه (خوله ، کولوستومی ، ایلیوستومی) چې ورڅخه د درېناڅ او نورو اهدافو لپاره ګټه اخیستله شی، دباڼووارې وارې سوری (چې اوبه یا غاز جذبوي) ،دبوټونو مسامات.

- Intestinal Stoma
د کولمو بهرته راوتلې مصنوعی خوله .

Stomach
نس، معده، خېټه، د هضمی کانال یوه پرده لرونکې عضلاتی اتساع چې د مری څخه په څارویو کې (هزار خانه ، غوښنه ژرنده) چې غذائی هضمول تر سره کوی ، اشتها ، خوا ، زغمل.

- Stomach Ache
نس خوږی ، د معدې برخې درد . هغه دردونه چې د غذائی موادو خوراک سره زیاتوالې مومی .

- Cascade Stomach
جام ته ورته د معدې غېږوصفی بڼه چې په راډیوګرافی کې د خلفی دېوال د پورته غځېدلو له لارې پېژندله شی. کثیفه ماده لومړنی پورتنی کیسه (کځوړه) ډکوی او بیا لاندینی کځوړې ته ورننوزی .

- Stomach Cramp
د معدې سپزم ، د معدې شخی چې د عضلی برخې شخوالی څخه پېښېږی.

- Stomach Disease
د معدې ناروغی .

- Stomach Hernia
د معدې فتق یا چُره . د (**Gastrocele**) په انډول.

- Hourglass Stomach
په دوه برخو د معدې لړ یا بشپړ وېش چې د شکل پلوه ګټوری ته ورته والی مومی او د معدې د مزمن ټپ د ندبی (سکار) له کبله منځ ته راځی .

- Leather Bottel Stomach
ځرمی کځوړه ، د ځرم څخه جوړه شوې بوتل ته ورته کځوړه.

- Stomach Pains
د معدې دردونه .

- Stomach Pump
د معدې پمپ ، هغه وسیله چې ورباندې د معدې څخه عصاره او مواد راویستل کېږی .

- Stomach Secrations
د معدې افرازات .

- Stomach Trouble
د معدې ستونزې .

- Stomach Tube
هغه ټیوب چې معدې ته تېرېږی او معدې جوف دننه پرې مېنځل او تشېږی .

- Stomach Upset
د معدې ضعیف انتانات ، بد هضمی ، د معدی اختلالی

ناروغی. د (**Upset Stomach**) په انډول.

- Stomach Ulcer

د معدې قرحې ، د معدې اړوند قرحوی ناروغی.د (**Gastric Ulcer**) په انډول.

- Stomach Washout

د معدې مینځل ، د معدې پرېول ، د (**Gastric Lavage**) په انډول.

Stomacher

ټټر، ګنډ ، د کمېس پر ټټر برخه باندې د لاس ګنډلو اړوند ګنډ برخه.

Stomachalgia

د معدې درد .

Stomal

د (**Stoma**) اړوند صفت دئ.

- Stomal Ulcer

د(خولې ، فوحې ، سوری)اړوند قرحه یا زخم.

Stomat-

دا یو مختاړې دئ او (**Stomato-**) ته ورته معنی لری .

Stomata

د خولې او سوریو (**Stoma**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Stomatalgia

د خولې د مخاطی غشأ درد چې د خولې په التهاباتو کې منځ ته راځی.

Stomatitis

د خولې (**Mouth**) دننه برخې التهاب .

- Angular Stomatitis

د خولې د وخکی (کنج) برخې التهاب ، د (**Perliche**) په انډول.

- Aphthous Stomatitis

د خولې د چنیاسو(کانډیډا) له کبله التهاب ، پرلپسې آفتوزیس (**Oral Thrush**) .

- Gangrenous Stomatitis

ګانګرینی اړوند د خولې التهاب .

- Herpitic Stomatitis

د تناکو له رامنځ ته کېدو سره یوځای د خولې د مخاط حاد انتان چې د هرپیس سمپلیکس له کبله منځ ته راځی .

- Mycotic Stomatitis

د خولې د فنګسونو (چنیاسی) اړوند التهاب ، د (**Oral Thrush**) په انډول.

- Recurrent Aphthous Stomatitis

د ناپېژندل شوی لامل له کبله د خولې پرلپسې التهاب چې د مخاطی غشا برخه کې ډېر کوچنی ټپونه لیدل شی چې د توربخن اګزودات پذربعه پوښل شوې وی .

- Ulcerative Stomatitis

د ژبې برخې تقرحی التهاب چې د (زنې، شونډو) سره په مل ډول ټپونه شتون لری .

- Vincent's Stomatitis

ټپی کېدونکې نکروزی حاد جنجېویټ .

Stomato-

دا یو مختاړې دئ او (خولې ، **Mouth** او **-Stomat**-) اړوند معنی بشپړوی .

Stomatodynia

د خولې درد .

Stomatognathic

د خولې او ژامنې اړوند ، فمی –فکی .

Stomatologic

د (**Stomatology**) اړوند صفت دئ.

Stomatology

د طب هغه طبی علمی څانګه چې د خولې سره په تړاو کې د ناروغیو څېړنه تر سره کوی .

Stomatomalacia

د خولې د جوړښتونو نرموالې / پوستوالی حالت .

Stomatomenia

د حېض په بهیر کې د خولې څخه وینه بهېدل .

Stomatomycosis

د خولې هر راز چنیاسی (فنګسی) ناروغی .

Stomatopathy

د خولې هر ډول ناروغی او اختلال . فمی اختلال.

Stomatoplasty

د پلاستیک جراحی په مرسته د خولې د ترمیم جراحی عملیات تر سره کول.

Stomatorrhagia

دخولې څخه وینه بهېدل .

Stomocephalus

د نیمګړو ژامنو او خولې خاوند جنین .

Stomodeal

د (**Stomodeum**) اړوند صفت دئ .

Stomodeum

د رشیم د سر اکتیودرمی ننوتلتیا چې د خولې منځنی برخه جوړوی .

-Stomy

دا یو روستاړې دئ او د هغه جراحې کړنلارې چې پکې د

خولې او سوری منځ ته راوړلو کړنه ترسره شوېوی معنی بشپړوی.

Stone

1 .کانی لکه د دپښتور ګي ګانی ، تیږه، ډبره، قیمتي ډبره، مندکه، زړی. د (Calculus) په انډول . او د هغه مختاړو معنی ورکوی چې د (Lith-, Litho-) په ذرېعه پیل شوې وی . 2 .په تیږ وویشتل، په کانو وژل سنګسارول، مندکی اېستل، زړی اېستل، ډبرین.

- **Cholecystic Stone**

د تریخی اړوند ډبرې ، صفراوی تیږې.

- **Stone-Deaf**

بشپړ کوږ . د (Totally Deaf) په انډول.

- **Kidney Stone**

د بڅودی ډبرې ، د پښتوګی تیږې .

- **Urethral Stone**

د احلیل تیږه ، احلیلي دبره .

- **Urinary Stone**

بولی اړوند ډبرې.

Stony

ډبرین، کانیز.

Stool

1 .غول کول ، تغوط ، غایطی مواد ، 2.کټکی، جګه چوکۍ (بې بازو)، بولې.

- **Abnormal Stool**

غېر نورماله تغوط .

- **Stool Analysis**

د غایطی مواد تجزیه او تحلیل یا لابراتواری کتنه تر سره کول.

- **Stool Culture & Antibiogram**

د غایطی موادو کلچر او انتی بیوګرام تر سره کول .

- **Current Jelly Stool**

هغه ډول غایطی مواد چې د بلغم (مخاط) او وینې سره مل وی.

- **Irce-Water Stool's**

په وبا (کولرا) ناروغی کې اوبلن غابطی موادو نس ناستې .

- **Loose Stools**

نری (اوبلنه) بڼه غول لرل لکه په نس ناستی (اسهالاتو) کې .

- **Stool Examination**

د غایطی مواد تجزیه او تحلیل یا لابراتواری کتنه تر سره کول.

- **Silver Stool's**

سپینو زرو ته ورته رنګ لرونکې نس ناستې چې د میلانا سره و ګډ بدو له کبله سپین غوړین غایطی مواد رامنځ ته کېږی .

- **Tarry Stool**

توربخن ډول غایطی مواد چې د وینې د هضم له امله رنګ اخلی .

- **Stool Test**

د غایطی موادو لابراتواری کتنه تر سره کول.

Stoop

کړوېدل، ټیټیدل، ټوغېدل، ځان ټیټول،کړو پوالی: ځان ټیټونه، ښکته. برنډه کړو پوالی، ځان ټیټونه، ښکته کېدنه، کږېدنه. سپکېدل، ځان سپکول.

Stop

ټالول، بندول، درول، بس کول. بندېدل، درېدل، بس کېدل. بندېدنه، درونه، دریدنه، بس کونه.

- **Stop Needle**

هغه ډول ستنه چې د هغې په چاپېریال کې کړی (حلقه) وی او د خوښې سره سم تر نظر لاندې سیمې ته ورننویستل شی.

- **Stop Watch**

ساعت (چې دهغه ستنې دخپلې خوښې سره سم چالاتیږي اویا درول کیږي)، نخشه کوونکی ګړی.

Stoppage

ودرونه، د یوه غړی د دندې (وظیفې) مخ نیوی او درولو عمل ، بندیز، تم ځای.

Storage

ګودام، ساتن ځای،ذخېره ، ساتنه، پاسره، تاجایی.

- **Storage Disease**

هغه ډول ناروغی چې پکې له معمول څخه پرته د بدن په غړو کې ډېره پیمانه مواد ذخیره شی.

- **Glucogen Storage Disease**

په بدن کې د ګلایکوجنی موادو ذخیره کوونکی ناروغی .

Store

انبارول، ذخیره کول، بوګول، خوندي کول، کوټ کول، ګودام، انبار، ذخیره، (تحویلخانه)، ډیپو ، زېرمه تون.

- **Drug Store**

د درملو زېرمه تون ، د درملو ګودام .

- **Storehouse**

یوګنځی (ګدام، مخزن)، تحویلخانه، کوټ، مغازه.

- **Storekeeper**

تحویلدار ، د ګدام ساتونکي، یو ګنوال، دکاندار .

- **Storeroom**

د انبارکوټه، تحویلخانه.

Storiform

د یوې نامنظمې مارپېچی طرحې رامنځ کېدل چې ویل کېږی د درماتوفیبروما مایکروسکوپیکه منظره ده .

Storm

بحران ، ناتار ، ټوپان ، طوفان، اړدوړ، سخته سیلی، چپاو، یرغل، برید سخت اوربدل (باران)، سخت لګېدل

یو ډول (**Strabismus**) چې په هغه کې د سترګو د انحراف کچه د هغه د ځیر کېدو لوري سره توپیر لري .

- Vertical Strabismus

یو ډول (**Strabismus**) چې په هغه کې د رنځوری سترګې د باصری محور په عمودی پاڼه کې انحراف کوی (**Hyperotropi ،Hypotropia**)

Strabotomy

هغه ډول جراحی عملیات چې د (**Strabismus**) د سمون او اصلاح لپاره د سترګو عضلاتو د ټینډون (وتر) لپاسه ځیرېدنه تر سره کېږی .

Straight

سم ، نېغ ، هغه چې کوږوالي نلری.

Straighten

سم شوې ، سمون موندلې ، نېغ شوې ، مستقیم شوې .

Strain

1 . په زیات او مضر اندازې سره ډېره پیمانه فعالیت لکه هغه ډول حالت چې پکې د عضلی نېغېدنې یا شلېدنې له امله د قوی حرکت په مهال درد منځ ته راځی. **2** . د مایکروارګانیزمونو یوه ډله چې له نورو ډلو څخه توپیر ولری . **3** .عصبی فشار او زور ، صافول ، په زور اوقوت سره .

- Nervous Strain

عصبی فشار او درد .

Strait

یو نرې کانال .

- Strait-Jacket

د (**Conmisole**) لپاره یو غېر رسمی نوم دئ .

- Strait 'S Of Pelvis

نری او تنګه حوصله چې د زېږون پرمهال د حوصلې ورودی مدخل او د هغې بهرنی هغه جوړوی .

Strand

یوه رشته ، یوه ریښّه ، د (**Thread**) په انډول.

Strangle

د ستونی نیولو او مرورلو فشار له کبله د یو چا وژل، دزندی کول پذربعه وژنه،اختناق . د آسانو منځ کې یوه انتانی ناروغی ده چې د سترپتوکوک (**Streptococcus Equi**) څخه را منځ ته کېږی او د تنفسی مخاطی پردو او تقیحی مخاطی التهاب له مخې پېژندله شی.

Strangulated

مختنق شوې ، زندی شوې ، د وینې بهیر د ودورلو له (سیلی)، له غضبه ایشېدل، له قاره سور کېدل، چپاو ورورپل.

- Thyroid Storm

د تایرایډ غدې هورمونی بحران ، د تایروتوکسیکوز د ننبو ننبانو یو ناڅاپی او خطر ناکه زیادښت چې په ځانګړی ډول د ټایروئیډیکټومی وروسته را منځ ته کېږی .

- Thyrotoxic Storm

د (**Thyroid Storm**) په انډول.

Storminess

طوفاني توب، هیجان ، بحران .

Stormy

طوفاني ، بحرانی .

Story

کیسه، نکل، راپوټ.

- Patient Story

د ناروغ کیسه او تاریخچه.

Stove-In Chest

هغه ډول صدری ترضیض چې د تصادم (پېښې) له کبله څو اضلاع ماتې او دننه ټوټې ټوټه ولری .

Strabismal

د (**Strabismus**) اړوند صفت دئ .

Strabismic

د (**Strabismus**) اړوند صفت دئ .

Strabismometer

د سترګو د کوږوالی (**Strabismus**) اندازې ټاکنې لپاره یوه وسیله ده .

Strabismus

کوږ سترګي ، پّه کږ ه بڼه لیدنه ، هغه غېر طبېعی حالت چې پکې سترګې د ببلابېلو لورو خواته ځیر کوی . د (**Squint, Heterotropia**) په انډول.

- Concomitant Strabismus

دا حالت د د سترګو د عضلاتو د پیوستون په ځای کې له نیمګړتیاوو څخه سرچینه اخلی او د سترګو د ځیرکېدلو د لوري د پام کې نیولو پرته په سترګو کې یوه مقدار ورته انحراف رامنځ ته کوی.

- Convergent Strabismus

د (**Esotropia**) په انډول.

- Divergent Strabismus

د (**Esotropia**) په انډول.

- Nonconcomitant Strabismus

ستراتیژی ، هغه ډول لارښودونکی هدایات او کړن دود چې یو څوک یا یوه اداره موخې ته د رسېدنې کړنلارې پکې نغښتې وی.

Stratification

طبقه بندی کول ، پوړېز کول ، طبقاتی .

Stratified

هغه چې د څو طبقو څخه جوړ وی ، طبقوی ، طبقاتی .

- Stratified Clot

طبقه طبقه ډوله پرڼ (علقه) .

- Stratified Epithelium

هغه اپیتلیوم چې د څو طبقو څخه جوړ وی.

- Stratified Random Sample

د ناڅاپه غوره کولو لپاره طبقه ئی نمونه اخېستل چې په څېړنو کې پکار ږېږی .

Stratigraphic

د (**Stratigraphy**) اړوند صفت .

Stratigraphy

د (**Tomography**) په انډول.

Stratum

دیوه نسج څو طبقې څخه یوه طبقه لکه چې د (**Epidermis**) طبقه جوړه کړی ده . د (**Stratum Germinativum Or Stratum Basale**) چې د نورو طبقو د منځ ته راتګ پېښوی لکه هغه حبیبی حجرې چې د (**Stratum Lucidum**) لاندې پرتې دی دا نری او روښانه مړې ښه لری حجروته ته رنګ وربخښی او سطحی طبقه ده .

- Angioid Stratum

د بصری فونډوس کې له سر څخه تر تور پورې نامنظم باندونه چې د آپتیک ډیسک څخه بهر ته تګ لورې لری .

- Stratum Basale

قاعدوی طبقه(**Stratum Basale**) یا جرمینال طبقه د چې د نورو طبقو د منځ ته راتګ پېښوی او نورې طبقی جوړوی . د (**Stratum Germinativum**) په انډول.

- Stratum Corneum

د قرنی طبقه .هغه مړه تقرنی حجروی (**Keratinized Cells**) طبقه چې راتوئېدونکې ده .

- Fatty Stratum

یو تور بخنه ژیړه پلنه او کوچنی سیمه چې په شریان کې لیدله کېږی له کولیستېرول څخه جوړېږی او احتمالاً د اتیرسکلېروز (تصلب) لومړنی مرحله ده.

کبله د یوې برخې یا غړی مړینه .

- Strangulated Hernia

مختنق (زندی شوې) ډول فتق . د وینې بهیر د ودورلو له کبله د یوې برخې یا غړی مړینه چې په فتق کې بنده پاتې شوېوی.

- Strangulated Intestine

مختنقه کولمې لکه په فتقونو کې د کولمو د بند بدنې له کبله.

Strangulation

اختناق ، زندی کېدنه ، خفګان . د هوائی لارې د بندښت له کبله تنفسی تم کېدنه او دمه چې چې پکې زندی (خفګان) پېښېږی .

Strangury

هغه ډول حالت چې پکې لږه اندازه متیازې اطراح کېږی چې د مثانې او احلیل تشوشاتو له کبله پېښېږی. د متیازو درد ناکه او سوکه سوکه تشبدنه .

Strap

د یوه غړی یا اندام لپاسه په ټینګ ډول د بندډاژ تړل . هغه ډول پټی چې یو دبل سره د څو برخو د پیوستون لپاره پکارږی ، مظبوط ډول ساتندویه تړل .

- Mantgomery Strap

هغه سرېښناکه پټی چې د ساتندویه پانسمان پتوګه باید په پرلپسې توګه بدلې کړلای شی.

- Strap Muscles

تسمه لرونکی ډوله د عضلاتو جوړښت .

Strapped

تسمه ډول مظبوط تړل شوی .

- Strapped Elbow

د څنګل بند کلک تسمه او مظبوط تړل شوې لکه د نلولو تر منځ کوږ شوې نل .

Strapping

د یوه قوی بندډاژ یا نښتونکی پلاستېر پذرېعه د یوه غړی یا اندام لپاسه په ټینګ ډول سره د تړلو او استعمال کړنه .

Strategic

ستراتیژیک ،د ستراتیژی خاوند ، د (**Strategy**) اړوند صفت .

- Strategic Health Authority (Stha)

د ستراتیژی خاوند روغتیائی صلاحیت لرونکې پلاوی .

Strata

د (**Stratum**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Strategy

- Stratum Germinativum
د (**Stratum Basale**) په انډول.

- Stratum Granulosum
حبیبوی طبقه .هغه حبیبی حجرې د (**Stratum Lucidum**) لاندې واقع دی .

- Stratum Lucidum
هغه رنړه (روښانه) مړې حجرې چې سطحی طبقه جوړوی .

- Meningitic Stratum
د (**Tache Cerebrate**) په انډول .

- Morre's Stratum
د رنا هغه عمودی څړیکه (جرقه) چې هغه مهال چې سترګه حرکت کوی ځینې وختونه د باصری ډګر په شاو خواکې لیدله کېږی او یو سلیم حالت دئ .

- Primitive Stratum
د رشیمی ډیسک په ذنبی (لکی) کې کمرنګه سپینه پتی چې د مېزوډرم د جوړېدنې په پیل کې د حجرو د حرکت له امله منځ ته راځي او د رشیمی محور لومړنی ننښه رامنځ ته کوی.

Strawberry
ځمکنی توت .

- Strawberry Mark
په ماشومان کې سره خاپه چې له موره وسره (ولادی ډول) راپیدا وی معمولاً د عمر په اوږدو کې له منځه ځی.

Streak
هغه اوږده نری کرښه چې څو رنګه بڼه ولری .

Strength
قوت ، زور ، وړتیا ، د قوت ښودونکې حالت .

Strengthen
د یو شی قوی کول .

Strenuous
د قوت اړوند صفت ، قوی شوې ، مقوی ، زورور .

Strep
د (**Streptococcus**) لپاره لنډه ننښه ده ،او همدارنګه (سر غوځ ، پوټی ، بهرنی طبقې) معنی هم لری.

- Strep Throat
د ستونی اړوند انتانی ناروغی چې د سترپتوکوک له کبله وی.

Strephosymbolia
دا د درک کولو یو ډول ناروغی ده چې په هغه کې شیان لکه چې د هیندارې په وړاندې ځای ولری سرچینه معلومېږی ، دا هغه ډول د خبرواترو ناجوړتیا ده چې پکې د ورته او متقابلو تورو (**B,D -Pq**) ترمنځ خطا / اشتباه پیښېږی او ناروغ سوکه سوکه پخې خبرې کولو سره لېوالتیا څرګندوی .

Strept-
دا یو مختاړې دئ چې د سترپتوکوک انتان اړوند معنی لری

Strepto-
دا یو مختاړې دئ چې د سترپتوکوک انتان اړوند معنی لری

Streptobacillus
د باکتری هغه ډول چې ځنځیر (سترپتوکوک) رامنځ ته کوی . د ناڅرګندو ،شدیداً پولی مورف ګرام منفی باکتری ګانو یو جنس چې (**Streptobacillus Monilifor**) یو ډول دئ .

- Streptobacillus Monilifor
ګرام منفی باکتری ګانو یو جنس چې (**Streptobacillus**) یو ډول دئ چې دهوسی تیې لامل ګرځی.

Streptococcal
د (**Streptococcus**) اړوند صفت دئ .

- Streptococcal Bacterium
د سترپتوکوک اړوند باکتریا .

- Streptococcal Infection
د سترپتوکوک انتان / مېکروب .

- Streptococcal Meningitis
هغه مننجیټ چې د سترپتوکوک له امله منځ ته راځی.

- Streptococcal Myocarditis
هغه مایوکاردیت چې د سترپتوکوک له امله منځ ته راځی.

- Streptococcal Pneumonia
هغه پنومونیا چې د سترپتوکوک له امله منځ ته راځی.

- Streptococcal Pyodermia
هغه پایودرمیا چې د سترپتوکوک له امله منځ ته راځی.

Streptocerciasis
په (**Mansonella Streptocerca**) سره منتن کېدنه چې مایکروفلورا ګڼل یې (**Onchocercus Streptocerciasis**) ته ورته بخار- خارښت لرونکې دانېرامنځ ته کوی او د کولېکوئیدونو د جنس له لارې لېږدېږی او د مرکزی آفرېقا په ځینو برخو کې شتون لری.

Streptococcaceae
د (ګرام مثبتو ، اختیاری غېرهوازی) میکروبونو یوه کورنی ډله ده چې معمولاً بې حرکته وی او ځنځیر یې غبرګ یا څلور غبرګه بڼه لری.

Streptococcemia
په وینه کې د (**Streptococcus**) میکروبونو منځ ته راتګ

- **Streptomyces Achromogenes**

د (**Streptomyces**) یو ډول دئ چې د یو ډول د سرطان ضد انتبی بیوټیک درمل جوړولو لپاره تري کار اخیستل شی.

Streptomycin

دا د باکټریاوو ضد درمل دی چې په ګڼ شمېر ګرام منفی باکتریاوو او باسیلونو (نری رنځ **Tuberculosis**) او لږشمېر ګرام مثبتو باکتری باندې وژونکي اغېزه لری.

Streptosepticemia

هغه ډول (**Septicemia**) چې د ستریپټوکوکونو پذرېعه رامنځ ته کېږی.

Streptozocin

دا یو ډول د سرطان ضد انتبی بیوټیک درمل دی چې له (**Streptomyces Achromogenes**) څخه په لاس راځی او د پانکریاص او او نورو انډوکرینی تومورونو ضد درملو پتوګه پکارېږی .

Stress

1 .فشار ، سټرس ، **2 .**زور ، زیاتې ، دباوو راوړل ، فزیکی فشار . **3 .**هغه حالت چې پکې د بهر څخه پر بدن باندې اغېزې لکه (د کار زیاتوالي ، روانی زور زیاتې ، هیجانی زور زیاتې ، اظطراب) د هورمونونو انډول – بیلانس اغېزمن کوی .

- **Stress Disorder**

فشاری اختلال / تشوش .

- **Stress Fracture**

دفشار یا ډېرې قوې واردېدنې له کبله رامنځ ته شوې د هډوکی ماتېدنه (کسر) . د (**Fatigue Fracture**) په انډول.

- **Stress Incontinence**

هغه ډول بولی / غاښطی تسلسل چې د فشار سره تړاو لری او پکې د (بطنی فشار زیاتوالی ، ټوخی ، په کړس خندېدلو) سره د حوصلې فرش ظرفېت او وړتیا کمښت مومی او ناروغ نشی کولای متیازې یا خپل غول وساتی او هغه ټینګ کړی.

- **Stress Reaction**

د فشارونو له کبله غبرګون . دا فشاری عکس العمل چې د بهنی تنبه له کبله پېښېږی او د بدن فزیولوژیک انډول اغېزمن کوی .

- **Stress-Related Illness**

د فشارون سره تړاو درلودونکو ناروغی .

- **Stress Ulcer's**

فشاری قرحې (زخم) ، هغه ډول قرحې چې د روانی فشار له کبله پېښېږی لکه د (معدې یا اثناعشر قرحې) .

Stretch

اوږدول ، اوږدېدنه ، د یو شی د کشوولو په پایله کې او پیدا ایښت.

Streptococci

د (**Streptococcus**) ګڼه شمېره ده .

Streptococcic

د ستریپټوکوک (**Streptococcus**) اړوند صفت دئ .

Streptococcus

د (ګرام مثبتو ، اختیاری غېرهوازی) میکروبونو یا باکټریا هغه ډول کورنۍ چې اوږد ځنځیرلری دا باکټری په (پیوجنیک ، ویریدس ، انټیروکوک او لاکټیک) ډولونو باندې ویشل شویدی ، او تبه ، د لوزې او ستونی التهاب ، روماتیزم تبه منځ ته راوړی.

- **Hemolytic Streptococcus**

هغه ډول (**Streptococcus**) چې د وینې د سرو کریواتو د تخریب او لایز توان لری چې پدې لړ کې د الفا او بېتا ډولونه یې د یادولو وړ دی.

- **Nonhemolytic Streptococcus**

هغه ډول (**Streptococcus**) چې د وینې ډګر او محیط باندې تر کرنې وروسته په هغه کې د سرو کریواتو اړوند د تخریب او بدلون توان نلری.

Streptodornase

هغه ډول انزایم چې د (**Streptococci**) پذرېعه رامنځ ته کېږی او د (**DNA**) د (**Depolymerization**) کتلایز کوی.

Streptokinase

هغه ډول انزایم چې د (**Streptococci**) پذرېعه رامنځ ته کېږی اود وینې حجرې تجزیه کوی او د زړه احتشأ (**Myocardial Infarction**) ناروغۍ په درملنه کې پکارېږی .

- **Streptokinase Streptodornase**

دهغه انزایمونو ګډ ډول شتون چې د هیمولایټیک ستریپټوکوکونو په واسطه آزادېږی او د پروټیین او فیبرین د حلوونکی مادې پتوګه پکارېږی .

Streptolysin

هغه ډول ټوکسین چې د (**Streptococci**) پذرېعه د رامنځ ته کېږی او د وینې حجرې تجزیه او تخریب کوی. یا د هیمولایټیک ستریپټوکوکونو هیمولایزین.

Streptomyces

هغه ډول باکتریا چې په خاورو کې ژوند کوی خو ځینې وختونه د بوټو او ژوو لپاره د پرازیت بڼه خپلوی معمولاً د انتی بیوټیکونو (تیتراسیکلین) تولید لپاره کارول شی.

Striate

د (**Striated**) په اندول.

Striated

کرښیز ، لیکښ ، د (کرښو او لیکو) اړوند ننبنه . لیکي لیکي، پټي پټي، ردي ردي.

- Striated Muscle

دا د اسکلیټي سیستم اړوند عضلاتو یو ډول عضلات دی چې د هغوی حرکتونه د مرکزی عصبی سیستم پذربعه کنټرولېږی. د (**Striped Muscle**) په اندول.

Striation

هغه صفت چې د ستړیاګانو په متبه پیژندل شی ، یو رګ یا د رګونو یوه لړی.

Striatum

کرښیز جسم ، مخطط جسم ، کرښې کرښې .

Stricken

زخمي، ټپي، پرهاری، له پښو لوېدلی ، ژوبل.

Strict

ټینګ (جدي، سختګیر) ، پرهېز ، قید ، درست چې د بدلون وړ نه وی ، سم، پرځای، دقیق. پرهېز ورکول ، دیوې خوراکی / څښاک موادو بندول لکه د (الکهولو څښلو) .

-Strict Diet

د پرهېز ورکولو رژیم ، دیوې خوراکی / څښاک موادو بندول لکه د (الکهولو څښلو او غوړو یا شکر خوراک) .

Strictly

په اصلي بڼه یا توګه، په ټینګه، په سخت ګیری.

Strictness

ټینګتیا ، سخت ګیري کول .

Stricture

① تضیق ، تنګوالي ، د یوې مجرا د بهیر د کانال تنګېدنه او نریوالي، ټینګېدنه یا غونجېدنه (دبدن دسامونو ، فوحو ، خولو ،سوریو تنګېدل چې یوه ناروغي منځ ته راولي) .② غندنه، اعتراض، انتقاد ، ایراد .

-Anal Stricture

د مقعد (کونې) تنګوالي /تضیق .

-Esophageal Stricture

د مری تضیق / تنګوالي .

-Urethral Stricture

د احلیل تنګېدنه / تضیق.

Stricturization

د یوه کانال د قطر کمېدنې یا تنګېدنې بهیر .

اوږدول.

- Stretch Mark

هغه سمې او نېغی ننبنې او کرښې چې په بڼځو په ګېده کې د زېږون وروسته رامنځ ته کېږی، د (**Striae Gravidarum**) په اندول .

- Stretch Reflex

کشول کېدنې غبرګون ،د عضلاتو هغه ډول غبرګون چې د کشولو او نېغولو وروسته تقلص کوی .

Stretcher

دا هغه ډول بستر دئ چې قات کېږی او نیونکی توله (**Handles**) لری چې د یوه ټپی لېږد د دوه کسانو پواسطه په ښه توګه تر سره کوی .

- Stretcher Bearer

هغه کسان چې د (**Stretcher**) په لېږدولو کې مرسته کوی .

- Stretcher Case

هغه ډول د ناروغی پېښه چې ډېره زیاته وی او ناروغ باید د (**Stretcher**) پذربعه ولېږدول شی.

- Stretcher Party

هغه ډله کسان (**Stretcher**) لېږدوی او د هغه اړوند ناروغانو پالنه کوی.

Strew

شیندل، تیتول، دوړول، پاشل.

Stria

د پوستکی لیکه ، هغه بې رنګه کرښه چې دپوستکی لپاسه رامنځ ته کېږی لکه په (پنډو او چاغو کسانو) کې ، ردي، پټي. (په تېره چې موازي وي).

- Stria Atrophicae

ضموری کرښې ، دا ندبې (سکار) ته ورته ارغوانی رنګه اټروفیک ضایعې چې وروسته سپین رنګ خپلوی چې د (بلاربښت، د وزن زیادښت،د بلوغ پرمهال د چټکې ودې،کوشنګ سنډروم او په کورټیکوستیروئیدونو سره د اوږدمهالې درملنې سره یو خای د الاستیکیت نسج د کمزورتیا) له امله په (تیښونو ، ورنونو ، ګېدې او کوناټیو) کې منځ ته راځی.

Striae

لیکي، بې رنګه کرښې (**Stria**) لپاره ګڼه شمېره ده.

- Striae Gravidarum

د بلاربښت دوړې اړوند د ګېدې کرښې او لیکې چې ژر د زېږون څخه وروسته رانبکاره کېږی ، د (**Stria Atrophicae**) په اندول .

Striatal

د (**Striate**) په اړوند صفت .

Stricturoplasty
د تضیق د له منځه وړلو لپاره جراحی عملیه چې پکې د یوې تنګې برخې واز ېدنه او پراخېدنه رامنځ ته کېږی.

Stride
د لاړې تګ غېر نومالـه بڼه چې پکې یو ناروغ اوږده اوږده ګامونه اچولو په توګه په لاره تګ کوی ، اوږد ګام.

Strident
چغنده، تېره غږ لرونکې.

Strider
لوی لوی ګامونه اچوونکی کس یا ناروغ.

Stridor
ستېرایډور ، فریکانسی زیږ او جګ تنفسی غږ، هغه ډول غږ چې د حنجرې د صوتی حبلونو پرسوب (اذیما) او تنفسی مجرا تنګوالی او انسداد له امله رامنځ ته کېږی . د (**Laryngismus** او **Stridulus**) په انډول.

- Laryngeal Stridor
هغه غږ چې د حنجرې له قسمی بندښت او لاړې تنګېدنې څخه سرچینه اخلی.

Stridulus
د (**Laryngismus**) په انډول.

Strike
وهل، ټکر کول، لګیدل، اچول، پیدا کول لکه (ډار ، وېره او ترهه)، ښکار کېدل، پېښېدل، برابرېدل، خوښ راتلل، خوښېدل، نتیجې ته رسېدل ، بڼه غوره کول ، رنګول، قلم راښکل، تلل، مخ کول، اعتصاب کول. اعتصاب، ګوزار، وار، پراوښتل لکه پر (خزانه)، خطا کېدنه.

- Strike-Through
د وینې جذب د ګاز پواسطه چې د ټپ د پانسمان پذ ربعه چې بهر ته د لیدنې وړتیا ولری .

Striking
دپام وړ، تماشه، عجب، زړه راښکونکی.

Strikingly
په عجیب ډول ، په زړه راښکونکې توګه.

String
تار، مزی، ژی، لړی، د تر په څېر د بدن نسجی جوړښت ، لړ تار اچول لکه (رباب ته)، کش کول، ټینګول لکه (دلیندی ژی)، پیښل، تارول، سپینول لکه د (پلی)، ترل، ځړول لکه په (تار)، غزول.

- String Bean
پّلې، پلي ، شنه لوبیا.

- String Sign
نرې تار غوندې ننبه ، تاریزه علامه ، دا هغه علامه ده چې لکه په یوه تنګه برخه لومن کې یوه کوچنۍ اوږده نرۍ مجرا شتون ولری لکه په [پیلور تضیق ، اکلازیا ، او (**Regional Ileitis Or Crohn's Disease**) کې چې باریوم تیرولو رادیوګرافی] پواسطه تثبیت کېږی.

Stringency
ټینګوالی (سختګیری، شدت)، سختوالی، لړوالی، نشتوالی، کموالی.

Stringent
ټینګ، سخت (لکه قوانین).

Stringy
ریښتکی، ریښتکی، تار لرونکی، تاریز.

Striocerebellar
په مخطط جسم او دماغی مخیخ برخو پورې اړوند.

Strip
د نسجونو اوږده نرۍ ټوټه ،له یوه کانال لکه (د احلیل یا وینې رګ) څخه د محتویاتو ټېلـه کول چې د ګوتو پوسیله تر سره کېږی، لوخ ، بربنډول، لغړول، پوستول، سپینول، کالي ایستل (خپل)، کالي څیرل، صافول، تشول، لوټول، چورول، ریتاړه، ترانګه، ریښتکی، تراډه، ټوټه، څیره، اوږده ټوټه.

- Strips Of Gauze
د ګازونو یوه ټوټه چې د جرح پانسمان پرې کېږی .

- Strip For The Medical Examination
د کتنو یا معایناتو تر سره کولو لپاره یوه ټوټه نسج (بیوپسی) یا موادو اخیستل.

- Strip Of Skin
د پوستکی یوه ټوټه چې د ګرافت لپاره تري کار اخیستل شی.

- Strip To The Waist
د بدن د یوې برخې څخه د کالیو ایستل او هغه لوڅول.

Striped
لیکې لیکې، پټه لرونکی بڼه کرښه .

- Striped Muscle
د (**Striated Muscle**) په انډول.

Stripling
ژڼی، زنکی، هلک، ابلوخ.

Stripper
هغه طبی وسیله چې تاوېدونکې سیم (**Flexible Wire**)

شی چاړه د غاښ د (**Periodontal Curet**) انسی بعید (**Mesiodistally**) ډول تاویږی او حال داچې د جذر یا دننه برخې سره تماس کې وی.

- Completed Stroke

د رګیزې (وعائی) سیمې د انفارکشن د غبرګون (منعکس) کوونکی حملې سنډروم چې تر خطر لاندې اروا کوونکی رګ د بندښت له کبله وی.

- Embolic Stroke

د مغزی آمبولې له کبله حملوی سنډروم.

- Exploratory Stroke

استکشافی او څېړونکې ستړوک، د اوریو د تحتانی جذر د مقباس او اندازې کولو مرحله چې پکې کورټ د بڼکې په څېر نیول شی او دهغه پواسطه دهمدې برخې سطحې څخه راټول شوی مواد رالېږې کول شی.

- Horizontal Stroke

افقی ډوله ستړوک ، هغه لنډمهاله حرکت چې د غاښونو د ترونکی سطحې په وړاندې په موازی توګه رامنځ ته کېږی.

- Stroke Involution

په حملوی سنډروم کې لومړنی او ثابته مرحله چې پکې بندښت دومره پرمختګ نه کوی چې د ستړوک تر بشپړې مرحلې ورسېږی.

- Heat Stroke

جل وهنه ، هغه حالت چې پکې د تودوخی په وړاندې د ډېرې زیاتې مودې لپاره د بدن مخامخ کېدنې له کبله منځ ته راځی چې پکې (پوستکې وچ ، سرځرخی ، سر درد ، تنده ، کانګې ، او عضلاتی کرمپونه) منځ ته راځی او بنائی چې د بدن تودوخه لوړه وی . د (**Sun Stroke**) په اندول.

- Lightning Stroke

لنډ مهالې د برېښنا پرک په څېر ستړوک ، د (**Lightning Injury**) په اندول.

- Oblique Stroke

مایله ستړوک ، د یوې وسیلې یوازې متداوم مخروطی حرکت چې دبل یو د بهرنی سطحې پرمخ و ځرخول شی .

- Stroke Patient

د ستړوک درلو دونکې ناروغ. هغه ناروغه کس چې (**Stroke**) یې تېر وی.

- Probe Walking Stroke

د یوه (**Periodontal Probe**) ننویستلو پذربعه د خولې د ناروغیو د وسعت ټاکنې تخنیک دئ چې د غاښونو د درملنې په لړ کې د تشخیص په موخه تر سره کېږی.

- Pull Stroke

د کشولو ستړوک ، د یوې وسیلې یوازې متداوم م حرکت چې دبل یو د بهرنی سطحې پرمخ و ځرخول شی او د غاښونو د ډبرو (**Calculus**) راکښلو (راویستلو) لپاره کارول شی.

او د نهایت برخه یې زیتون ورته (**Olive-Shaped**) بڼه لری او د وریدی وریکوز جراحی درملنې کې پکار وړی .

Stripping

د جراحی عملیات پواسطه د وریدی وریکوز (**Varicose Veins**) راکښلو درملنې کړنلاره بلل شی.

- Stripping Varicose Veins

د وریدی وریکوز (**Varicose Veins**) رایستلو درملنې جراحی عملیات کړنلاره بلل شی.

Strive

هڅه او هاندکول، زیار اېستل، ځان سترې کول، لاس او پښې وهل، ډغرې وهل، هلې ځلې (مبارزه) کول.

Strobila

د کدوداني چینجی د بدن جوړوونکی کتلې د بندونو ځنځیر.

Stroke

ضربه ، ټکان ، ضربت ، ټکوونه ، ضپل ، ، برخورد ، حمله لکه د ماغزو رګونو ټکر (چاودنه ، وینه بهېدنه او ترومبو آمبولې) د (**Accident Cerebrovascular**) په اندول ، تېرې ، ګوزار لکه د (زړه د ناروغیو او کانسرونو) په څېر ، وار ، هغه، غوټه، حمله لکه د (میرګې / صرعې)، ټک ټک کول لکه د (ساعت ږغ، ضربان، لاس ښورونه، رپونه (هروار چې لامبوزن لاس اچوي یا مرغه وزرونه رپوي)، کش لکه د (قلم). لاس تېرول، ورومښل. ، لاس رابښکل، چپې وهل.

- Apoplectic Stroke

د (**Apolexia**) په اندول.

- Canine Idiopathic Vestibular Syndrome

د غوږ د کانین د دهلېز برخې آیډیوپټیک سنډروم چې پکې ګڼ شمېر د غوږ دننه غږونه اورېدل شی او برنګس او نور اړوند ګاونډی اعراض هم شتون لری .

- Canine Stroke

د (**Canine Idiopathic Vestibular Syndrome**) په اندول.

- Circular Stroke

حلقوی ډوله ستړوک چې پکې پرته له ماتېدنې دایروی حرکتونه په (**1 To 2 Mm**) قطر سره شتون لری او د فشار سره مل وی .

- Circumferential Stroke

دا هغه ډول خوځښت او حرکت دئ چې د غاښونو طبی درملنه کې د اوریو او جذر پرېکولو تراشلو (**Curettage**) کې کارول

- Push And Pull Stroke

د یوه (**Periodontal Probe**) ننویستلو پذرېعه د خولې د ناروغیو د وسعت ټاکنې کشوونکې او ټیله کوونکې تخنیک دئ چې د غاښونو د درملنې په لړ کې د تشخیص په موخه تر سره کېږی او په (**Vertically Or Diagonally**) توګه د خولې استکشافی ارزوونه او غاښونو نقبصه ټاکله شی.

- Shaving Stroke

د غاښونو پاکوولو هغه مرحله چې پکې د (**Periodontal Curet**) پذرېعه د رخونه نسج یا ساده برخې د جذر څخه کورټ کېږی او له هغه د سطحې څخه ډېریز رسوبات تراشل کېږی.

- Placement Stroke

مایله ستروک ، د یوې وسیلې یوازې متداوم حرکت دئ چې دبل یو د بهرنی سطحې پرمخ و څرخول شی او وسیله د پام وړ ځای ته رسول شی.

- Power Stroke

د غاښونو پاکولو هغه مرحله چې پکې د (**Periodontal Curet**) پذرېعه د رخونه نسج یا ساده برخې د جذر څخه کورټ کېږی او له هغه د سطحې څخه ډېریز رسوبات تراشل کېږی او ورپسې وروسته د (**Shaving Stroke**) مرحله تر سره کېږی .

- Probe Walking Stroke

د یوه (**Periodontal Probe**) ننویستلو پذرېعه د خولې د ناروغیو د وسعت ټاکنې کشوونکې او ټیله کوونکې تخنیک دئ چې د غاښونو د درملنې په لړ کې د تشخیص په موخه تر سره کېږی او په (**Vertically Or Diagonally**) توګه د خولې استکشافی ارزوونه او غاښونو نقبصه ټاکله شی.

- Pull Stroke

د غاښونو پاکوولو هغه مرحله چې پکې د (**Periodontal Curet**) پذرېعه د رخونه نسج یا ساده برخې د جذر څخه کورټ کېږی او له هغه د سطحې څخه ډېریز رسوبات تراشل کېږی او ورپسې وروسته د (**Shaving Stroke**) مرحله تر سره کېږی .

- Stroke Push And Pull

د یوه (**Periodontal Probe**) ننویستلو پذرېعه د خولې د ناروغیو د وسعت ټاکنې کشوونکې او ټیله کوونکې تخنیک دئ چې د غاښونو د (**Subgingival Explorer**) او درملنې په لړ کې د تشخیص په موخه تر سره کېږی او په (**Vertically Diagonally**) توګه د خولې استکشافی ارزوونه کېږی.

- Vertical Stroke

سهمی ستروک ، د یوې وسیلې یوازې متداوم حرکت دئ چې دبل یو د بهرنی سطحې پرمخ و څرخول شی او وسیله د پام وړ ځای ته رسول شی دا حرکت د غاښونو د طول سره په موازی بڼه (له جذر څخه د تړونکې سطحې په لور) تر سره کېږی .

- Stroke Volume

د وینې هغه حجم چې د کین بطین څخه په یوه خراج کې بهر ته اچوله شی. د زړه د تقلص پرمهال هغه اندازه وینه چې په هر نبضان کې بهر ته اچوله شی دا دهغه مقدار سره مساوی ده چې د ډیاستول پرمهال د زړه اذینی او بطینی جوف ډکوی.

- Sun Stroke

د (**Heat Stroke**) په انډول.

- Stroke Syndrome

د اعراضو هغه مجموعه چې د دماغی رګونو د اختلال (ایسکیمیا ، وعائی تخریب) له کبله منځ ته راځی او د **Cerebrovascular Accident Stroke (CVA)** او نومونو **Transient Ischemic Attack (TIA), Reversible Ischemic Neurologic Deficit (RIND), Stroke In Evolution (SIE), And Completed Stroke (CS)** پنامه هم یادېږی .

- Working Stroke

کاری ستروک ، د یوې وسیلې یوازې متداوم حرکت دئ چې پکې وسیله یوه دنده یا درملنه تر سره کوی .

- Thrombotic Stroke

هغه حملوی سندروم چې د اتېروسکلېروزیس پلاک په سر د یوې آمبولې د سپرېدو له امله رامنځ ته کېږی .

Strokeable

د ضربې وړتیا لرونکی.

Stroker

ضربه پېښووونکې ، ترضیض منځ ته راوړونکې .

Strokes

ضربې ، ټکانونه ، ترضیضونه .

Stroking

ضربه منځ ته راوړل ، ټکان پېښونه.

Stroll

قدم وهل، دسیل دپاره چکروهل ، چتې ګرځېدل. ګډکی (د ماشومانو کرکړې (پای روک) چې ماشو پرې ګرځېدنه زده کوی .

Stroma

ستروما ، هغه نسج چې یو غړې ټینګوی یا د هغه دندې تأمینوی . د یوه غړی ساتندویه نسج یا متریکس.

Stromuhr

د وینې د بهیر چټکتیا د اندازې کولو وسیله .

Strong

غښتلی، پیاوړی، قوي، ټینګ، کلک ، زورور .

Strongly

په کلک ډول ، په ټینګه بڼه سره .

Strongyloides

د نیماتوداګانو کورنۍ د یوه جنس د (**Strongyloides**) هغه پرازیټ چینجې چې کولمې اخته کوی په حاره او تحت الحاره سیمو کې موندل شی.

- Strongyloides Sterconalis

د نیماتوداګانو کورنۍ د یوه جنس د (**Strongyloides**) یو ډول دئ چې د کولمو پرازیتی ناروغی پیښوی.

Strongyloidiasis

د نیماتوداګانو کورنۍ د یوه جنس د (**Strongyloides**) په پرازیتی چینجی په (**Strongyloides Sterconalis**) باندې اخته توب او منتن کېدنه چې د پوستکی له لارې بدن ته نتوزی او سږی اوکولمې اخته کوی.

Strongyloidosis

د (**Strongyloidiasis**) په انډول.

Strongylus

په (**Strongyloides**) ککړتوب او منتن کېدنه.

Strontium

استرونسیم، دا یو ژیړ رنګه کېمیاوی فلزی عنصر دې چې د اټومی وزن یې (**62.87**) او اټومی شمېره یې (**38**) ده (**Sr**) سمبول او نښه لری د ذوب ټکې یې (**769 °c**) او جوشېدنې ټکې یې (**1384°c**) دئ.

Strontium-^{90}

د (**Strontium**) ایزوتوپ (**Isotope**) دئ چې په هستوی غبرګونونو لړ کې رامنځ ته کېږی او په حیواناتو او انسانانو کې ناروغی پیښوی.

Strophulus

د (**Papular Urticaria**) په انډول.

Structural

د [(**Structure**) ، اډونې ، ودانېدو ، درغښت ، رغېدنې]اړوند صفت دئ.

- Structural Anomalies

د جوړښت اړوند انومالی ګانې.

Structure

اډونه، جوړښت، ودانې، رغښت ، ساختمان ، رغاونه. هغه لاره چې یو غړې یا عضله پکې جوړېږی.

- Anatomic Structure

اناټومیک جوړښت.

- Body Structure

بدنی نسجی جوړښت.

- Cellular Structure

حجروی جوړښت.

- Organ Structure

د یوه غړی جوړښت.

Struma

جدره ، غور ، جاغور ، د (**Goitre**) په انډول.

- Hashimoto's Struma

د تایروئید غدې د هاشیموتو ناروغی له کبله نسجی جوړښت.

- Lymphomatosa Struma

د (**Hashimoto's Struma**) په انډول.

- Struma Malina

د تایروئید غدې اړوند خبیث او سرطانی نسج رامنځ ته کېدل.

- Struma Ovarii

د هګۍ ځالې (تخمدان) تېراتوئید ټومور چې له تایروئید غدې نسج څخه جوړ شوېوی.

- Riedl's Struma

د تایروئید غدې (فیبروزی ،تکثر کوونکې ،مزمن او التهابی) بهیرونه چې یو لوب او کله ناکله دواړه لوبونه نیسی ، همدا راز تراخیا او نور ګاونډیو جوړښتونو ته هم سرایت کوی.

Strumectomy

د ګواتر (جدرې) د راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

Strumitis

د تایروئید د نسج التهاب.

Strychnine

ستریکنین ، هغه الکلوئیدی (**Alkaloid Drug**) مسمومیت راوړونکی درمل چې (**Tropical Tree**) ونو د مېوې زړی څخه جوړېږی او لږه اندازه ډوز ئې ټونیک (**Tonic**) اغېزې لپاره کارول شی. کوچله، کچوله، ستر کنین.

Stryker Frame

د جراحی هغه مخصوص ډول وسایل چې یو نرس په ساده توګه یو ناروغ پرې اړولې راړولې شی او د نخاعی ترضیضاتو پرمهال پکار ېږی.

ST Segment

د زړه ګراف (**Electrocardiogram**) بشپړ (**PQRST Complex**) یوه برخه ده چې بدلون ئې د یولړ ناروغیو لپاره ځانګړنې لری. د (**S-T Segment**) په انډول.

Stub

ستپه: کونده لکه د (مقبوض یا چک)، بیخ، ریښه، پڅ سر لکه د (شمعې یا پنسل). یودرې ، له بیخه اېستل، ولې یا جړې اېستل.

Stubborn
خری، اړم، سر ټمبه، لجوج، ځیلی لکه د (ځیلناکه ماشوم) .

Stubbornly
په سرټمبه ګی سره ، په ځبل سره .

Stubbornness
سرتمبه ګی، ځبل توب ، لج توب.

Stubby
خنډین، له ستو ډک، لنډ پنډ ، سخوټ، منډلی (سړی).

Stucco
ګچ، پلاستر. پلاستر ورکول، اخیړول، سپینول.

Stud
دنسل ګیری آسونه سپرغه، ګل میخی، غوټه، کولپي ټنی، چجه،

Student
زده کوونکي ، محصل ،شاګرد ،هغه څوک چې په لېسو او پوهنتونونو کې زده کړې کوی .

- Medical Students
د طبی زده کړو څانګې اړوند زده کوونکي .

- Student Nurse
د نرسنګ (روغتیا پالنې) څانګې اړوند زده کوونکي .

Studied
ارادی، قصدي، سنجش شوی، دنقشې له مخې.

Studious
زیارکښ، دلوستلو ته لېوال کس .

Studiously
په لېوالتیا ، په زیار سره ، زحمت او هڅې له مخې .

Study
زده کړه، مطالعه ، دزده کړې څانګه، څېړنه یا تحقیق تر سره کول ، اراده، مقصد ،دلیک اولوست خونه، ژوره مطالعه. لوستل، کتل، مطالعه کول، سوچ کول.

- Study Of Diseases
د ناروغیو اړوند څېړنه .

- Study Of Medicine
د طب علم زده کړه ،طبی څېړنه او تحقیق تر سره کول.

- Study Of Pharmacy
د درملو / فارمسی علم اړوند زده کړه .

- Study Of Veterinary
د څارویو او حیوناتو اړوند علم اړوند زده کړه .

Stuff
اومه مواد ، مواد ، مهمه برخه، جوهر ، اصل، څانګړې .

شتمنی، ټوکر، کچه، شلخی، زیاتی مواد. ډکول، بندول، درول ، تخته کول ، ډپر خوړل.

Stuffing
ډکولو مواد.

Stuffy
د هغهپوزې اړوند چې د یوې التهابی مخاطی غشأ د مخاط پذرېعه بنده شوې وی ، ټرېوخته، ټرېوخته، بنده هوا.

Stultify
بې عقل ښودل، مسخره کول، احمق معرفي کول، بې اثره کول.

Stumble
ښوئیدل، کوږوږ تلل، زنګیدل، اشتباه کول، ګډوډ غږ بدل په تصادفي ډول پیدا کول یا پیښیدل. ټکر، لویدنه، پېښېدنه،ټېروتنه، خطا.

Stump
ستمپ ، د یوه هډ د هډوکی کوچنی. او ډیستیال نهایت ټوټه پاتې کېدل لکه د غوڅولو (قطع کولو **Amputation**) څخه وروسته . درونده ، درونده تلل، په انډې تلل، کاډې واړې تلل، شاړې واړې تلل. ستې، بیخ د جړې سره لکه د (ونې ستې او جړې)، کنده، سونټې، ریښه، کونستې، دریځ (دوینا)، مځکه پاکول (دستوڅخه).

Stumpy
دستې په شان، منډلی.

Stun
بې هوښه کول، بې سده کول، په باندې د ضربې بهیر وروسته ګنګس کول، ګیچول.

Stunning[1]
د دندې له لاسه ورکول ، لکه د هوښ د سطحې کمښت، بې سده کوونکی.

- Myocardial Stunning
د مایوکارډ عضلې د کار د لنډ مهالی نیمګړتیا چې د ایسکېمیا د لنډې حملې څخه سرچینه اخلی او تر برېد وروسته تر یوه وخته پورې دوام مومی .

Stunning[2]
زړه رابښکونکی (ښکلی)، حیرانوونکی ،په زړه پورې او دپام وړ.

Stunt
دودې (نشونما) مخه نیول لکه چې د ماشومانو وده کول

Stuttering

د (**Stammering**) په اندول ، تړ تړی توب.

Sty

غولنه، غولنکی. دخوګانو شپول، چټل ځای.

- **Sty Suture**

هغه ډول خیاطه چې د یوه غړی په جدار د هغه د (تثبیت ،کشش او راوچتولو) لپاره د جراحی عملیات پرمهال تر سره کېږی .

Stye

د (**Hordeolum**) په اندول.

Style

ډول، سبک، طرز. نومل، بلل، لقب ورکول.

Stylish

په موډ برابر ، فیشني، سینګاری شوې ، ډولي.

Stylist

دسبک خاوند ، د خاص طرز څښتن.

Stylet

د یوه کتېتر دننه د یوه نری وایر کېښودنه چې د استعمال پرمهال بند نشی او ته شخوالې وربخشی. یو نری او نازک پروب .

Stylo-

دا یو مختاړې دئ او د (د غشی لاستې ، د صدغی هډوکی **Styloid Process**) معنی بشپړوی .

Styloglossus

هغه عضله چې د ژبې (**Tongue**) او (**Styloid Process**) پورې ننښتې او هغوی سره تړاو ولری .

Stylohyoid

د صدغی هډوکی په نیزه ائیزې بارزې او هایوئید هډوکو داوارو پورې اړوند.

Styloid

د (**Styloid Process**) اړوند صفت دئ.د (**Pointed**) په اندول. یوې تېرې او اوږدې ستنې ته ورته .

- **Styloid Process**

ستایلوئید استطاله ، د هډوکی هغه توټه چې د صدغی هډوکي (**Temporal Bone**) څخه د استطالې پتوګه راوتلې ده .

Styloiditis

د ستایلوئید بارزې د شاوخوا نسجونو التهاب .

Stylomastoid

د صدغی هډوکی په ستایلوئید بارزې او ماستوئید

د ناروغیو له کبله مخه ډب کېږی ، دپرمخ تګ نه پاتې کول، شاهکار، غیر معمولي کار،اریانوونکی (شی یا کار)، دنندارې وړ، لنډول.

Stupe

یو (نمم جن ، مرطوب او لوند ډول) اسفنج یا ټوکر چې د بهرنی استفادې لپاره په درملو لړل شی او د ټپ لپاسه د طبی پانسمان په موخه چې په فشار سره وتړل شی.

Stupefaction

بې هوښې، بې سدی ، د ستوپور القأ ، هغه ماده چې د ستوپور حالت د تولید لامل شی ، د اریانتیاوړ ، ببړاتوب.

Stupefy

بې سده کول ، بیړاکول، احمق کول، اریانول.

Stupid

بیړا ، پڅ ذهنه، احمق، ساده، بې خونده، زړه وهونکی.

Stupidity

حماقت، بیړاتوب.

Stupidly

په احمقی بنې سره ، په بیړاتوب سره .

Stupor

د هوښ ټیټه کچه یا سطحه ،په روانی طب کې هغه ناروغی چې د کم شوی حساستوب له مخې پېژندله شی، بې سدی ، ګنګسی، بې حسي ، هغه ناروغ چې بشپړ بڼه هوښیار نه وی ، د (**Semiconscious**) په اندول.

Sturdily

په کلکوالی په مزبوتیا.

Sturdiness

کلکوالی، ټینګتیا.

Sturdy

مزی، کلک، مزبوت، ټینګ.

Sturge-Weber Syndrome

هغه سنډروم چې د سترګو څخه پورته د پوستکی برخې د یوه سور رنګ لرونکی خاپه (ننبه) چې د اعصابو دننه پورې تړاو لری او د صرعوې اختلاج (**Epileptic Fits**) لامل ګرځی .

Stutter

د ژبې بندبدنه د خبرو پر مهال ، توړی کېدل، تړ تړی کېدل، ژب تړی کېدل.

بارزې دواړو پورې اړوند.

Stylomaxillary

د صدغی هډوکی په ستایلوئید بارزې او پورتنۍ ژامنې ماګزیلار هډوکی بارزې دواړو پورې اړوند.

Stylus

هغه اوږده ډنډه چې معمولاً د پوستکی لپاسه د انتې سپتیکونو او مرحمونو خپرولو او اوارولو لپاره کارول شی. د (**Stylet**) په اندول.

Stypsis

د وینې بندېدل ، د وینې د بندولو چار، د (**Styptic**) په اندول.

Styptic

هغه وسیله چې ورباندې وینه بهېدنه توقف کوی. وینه ودروونکې لامل لکه (مقبضة الوعائی ماده).

- **Styptic Pencil**

هغه ډول پنسل ته ورته وسیله چې ورباندې کوچنۍ وینه بهېدونکی ټکې د پوستکی برخه کې ودورول شی.

Suave

پوست، خوږ، په زړه پورې. مهذب.

Sub-

دا یو مختاړی دئ او د (تحتانی ، لاندینی **Below** ، ښکته **Underneath**) معنی لری.

- **Sub Maxillary**

د لاندې زامې (مرغړې، هډوکې، او نور).

- **Sub Treasury**

خزانه، ځانګه (دخزانې).

Subabdominal

تر بطن لاندې برخه .

Subacute

تحت الحاد . هغسې یو حالت چې حاد (**Acute**) وی خو په مزمنه (**Chronic**) بڼه اوږی .

- **Subacute Appendisitis**

تحت الحاد اپنډیسیټ.

- **Subacute Bacterial Endocarditis**

هغه باکتریائی اندوکاردیت چې په تحت الحاد بڼه التهاب منځ ته راوړی. د (**Subacute Infective Endocarditis**) په اندول.

- **Subacute Infective Endocarditis**

د زړه د دننه برخې پوښوونکی غشأ باکتریائی اندوکاردیت چې د تحت الحاد التهاب بڼه منځ ته راوړی. د (**Subacute Bacterial Endocarditis**) په اندول.

- **Subacute Combined Degeneration of the Spinal Cord**

د نخاع ګډ ډول تحت الحاد استحالوی ناروغی چې د (**Vitamin B12**) د فقدان له کبله پېښېږی او پکې حسی او حرکی الیاف تخریب کېږی.

- **Subacute Sclerosing Panencephalitis**

د دماغ کامل بڼه التهابی ناروغی چې ماشومان اخته کوی چې په ډېر ماشومتوب دوره کې پېښېږی.

- **Subacute Subdural Hematoma**

تحت الحاد تحت الډورائي هېماټوما.

Subarachnoid

تحت العنکبوتیه ، هغه طبقه چې د عنکبوتیه طبقې تر څنګ پرته ده.

- **Subarachnoid Haemorrhage**

تحت العنکبوتیه تشې مسافې (**Subarachnoid Space**) کې وینه بهېدنه.

- **Subarachnoid Space**

تحت العنکبوتیه تشې مسافې برخه بلل شی،اغی چې د عنکبوتیه غشأ او دماغ (**Pia Mater**) ترمنځ پرته ده او پکې دماغی-نخاعی مایع شتون لری.

Subaxillary

تر تخرګ لاندې برخه ، تحت الابط ، تحت ابطی برخه.

Subcartilaginous

تحت الغضروفی نسج برخه ، هغه چې نیمائی غضروفی بڼه لری .

Subclavian

تحت الترقوی ، د اوږې د تر تقوی (**Clavicle**) هډوکی لاندې اړوند برخه.

- **Subclavian Artery**

تحت الترقوی شریان چې د ابهر یوه څانګه ده .

- **Subclavian Vein**

تحت الترقوی ورید چې د (**Axillary Veins**) د تخرګ وریدی درېناژ (**Brachiocephalic Vein**) ته تر سره کوی .

Subclinical

تحت الکلینیکی، هغه کلینیکی حالت چې د کلینیکی نښو څرګندونه وکړی د هغه څخه دمخه راڅرګندېږی.

Subcommittee

جرګه ګی، وړوکې کمېټه .

Subconscious

تحت الشعوری حالت، هغه حالت چې ناروغ پکې د خپل حاله خبر نه وی ولې ببخی ببهوښه ندئ ، د (**Semiconscious**) په اندول. نیم سدي، نیم حاله. دلاندینې شعور، دپټ شعور ،

د تحت الشعور.

Subcortex
تحت القشر ،د دماغ هغه برخه چې تر دماغی قشر (Cerebral Cortex) لاندې واقع وی.

Subcortical
تحت القشری . د تحت القشر (Subcortex) اړوند صفت دئ.

Subcostal
تر ضلعي (پښتیو Ribs) لاندې ، تحت الضلعی .

- **Subcostal Plane**
هغه تخیلی افقی پلان چې د توپوګرافی تصنیف له مخې د ګېډې په برخه کې تر پښتیو (Ribs) لاندې تېرېږی.

Subcranial
تحت القحفی ، تر قحفی (کوپړی Skull) هډوکو لاندې اړوند صفت دئ.

Subculture
تحت الکلچر ، هغه ډول باکتریا چې د (Stock Culture) څخه راخیستل شی او کلچر تر سره کېږی.

Subculturing
تحت الکلچر کېدنه ، هغه ډول باکتریا چې د (Stock Culture) څخه راخیستل شی او کلچر تر سره کېدنې پروسه بلل شی.

Subcutaneous
تر پوستکی لاندې ، تحت الجلد ، لنډه نښه یې (S.C.) ده.

- **Subcutaneous Injection**
تحت الجلدی زرق . د (Hypodermic Injection) په انډول.

- **Subcutaneous Oedema**
تحت الجلدی اذیما .

- **Subcutaneous Tissue**
تحت الجلدی نسج ، د (Fatty Tissue) په انډول.

Subdivide
لاویشل ، بیا بیا ویشل. پر اجزاو بهلول.

Subdivision
په ویش کې د ویشنې کړنه ، د فرعي ویشنې تر سره کول.

Subdue
بري موندل، فتح کول، نرمول، کمزوري کول، کمول.

Subdural
تحت الډورا ، هغه مسافه چې د (Dura Mater) او (Arachnoid) ترمنځ پرته ده.

- **Subdural Effusion**
تحت الډورائی انصباب.

- **Subdural Haematoma**
تحت الدورائی هیماټوما ، تر ډیورا لاندې وینه راټولېدنه.

Subglottis
د حنجرې جوف لاندې د صوتی حبلونو فولد څخه ښکته سیمه بلل شی.

Subinvolution
تحت البرګشت ، په څټ اوښتنه او بېرته خپل حالت ته نه ګرځېدنه ، هغه یو حالت چې پکې د بدن یوه برخه بېرته شاته نشی ورګرځېدلای او د پرسوب یا اذیما او نېغېدنې له کبله داحالت پېښېږی لکه هغه رحم چې د زېږون وروسته پرولاپس وکړی او بیا دننه نه ورننوزی .

Subject
1 .هغه کس یا ناروغ چې په ځانګړې ناروغۍ اخته وی یا د څېړنې وړ ناروغیو اخته کس . موضوع ، سرلیک یا عنوان ، فاعل (هغه څوک یاشی دئ چې یو کار کار کوي یعني فعل یا کار دده له خوا اجرا کیږي) لکه احمد ښوونځي ته ولاړ. 2 .رعیت، اهل، په معرضه کې مربوط، مشروط. ترلاس لاندې، رعیت.

- **Arthritic Subjects**
مفصلی ناروغی. لکه چې تازه تر درملنې لاندې وی.

- **Subject Matter**
د څېړنې موضوع، اصلي موضوع.

Subjection
ایلول ، لاندې کول،اخته کول، مخامخ کول لکه (د خطر سره) وړاندې کول، موضوع ګرځول.

Subjective
عرضی ، په ځانګړې توګه دهغه احساس کول چې یو ناروغ یې پخپله احساسوی او هغه بهر ته د لیدنې وړ ندې لکه زړه بدوالې . ځاني،عندي، ذهنی، شخصی ،موضوعي.

- **Subjective Examination**
عرضی کتنه ، په ناروغانو کې د هغه اعراضو تثبیت لپاره چې کتنه چې د ناروغ پواسطه یې حکایه کېږی.

- **Subjective Opinion**
د اعراضو اړوند نظریه ، د موضوع اړوند نظریه.

Subject To
د تجربې ورته ، عرضی .

- **Subject To Attacks**
د حملې اړوند عرض.

Subjoin
ډبرول، زیاتول، ضمیمه کول

Sublimate
اړول، تصعید کول ،تصفیه کول په (کیمیا کې) د منجمد حالت څخه د غازو حالت ته اوښتل او همدا رنګه د غاز د حالت څخه بیرته جامد کیدل.

Sublimation
د روانی اوړوند پروسه ده چې د غبر ټولنیز رفتار له کبله داسې عملونه تر سره کوی چې ټولنې لخوا د منلو وړ وګرځی ، تصعید ،لوړتیا ، تصفیه.

Subliminal
دومره سپک چې د احساس وړ وی.

Sublime
لوړ اوچت، دروند ، شریف، دبرم څښتن.

Sublingual
تر ژبې لاندې ، تحت اللسانی .

- Sublingual Gland
تر ژبې لاندې د لاړو افرازوونکې غوټه ، تحت اللسانی غدوات .

- Sublingual Tablets
تر ژبې لاندې اېښودونکی ګولی ، تحت اللسانی ټابلټونه.

Subluxation
هغه بند چې بشپړ نه وی اووښتې ، ناتام خلع .

Submandibular
تر ښکتنی ژامنې لاندې .

- Submandibular Ganglion
تر ښکتنی ژامنې لاندې چې د لاړو افرازوونکې غوټې او تحت الفکی سیالې تنظیم تر سره کوی.

- Submandibular Gland
تر ښکتنی ژامنې لاندې چې د لاړو افرازوونکې غوټې او تحت الفکی سیالې تنظیم تر سره کوی او په دواړه لورې کې واقع دی.

Submaxillary
تر مګزیلار ژامنې لاندې ، تحت الفک علوی.

- Submaxillary Gland
تر مګزیلار ژامنې لاندې غدې.

Submental
تر زنې لاندې اړوند.

Submerge
ډوبول، ډوبیدل.

Submersion
ډوبیدنه، ډوبونه.

Submucosa
تحت المخاط ، ترمخاطی غشأ او طبقې لاندې واقع شوې .

Submucous
تحت المخاطی ، ترمخاطی غشأ لاندې واقع شوې اړوند صفت.

- Submucous Resection (SMR)
تحت المخاط طبقې قطع کول ، ترمخاطی غشأ او طبقې لاندې واقع شوې برخې جراحی غوڅولو کړنلاره ده لکه د(پوزې د مخاط لاندې د غضروفی حجاب برخې غوڅول) .

Subnormal
له عادي ټیټ، تر نورمال ښکته ، تر نورمال کچې لاندې .تحت النورمال ، تحت العادی ، لکه هغه چې پکې دماغ په کامله توګه وده نکوی .

Subnormality
هسې یو حالت چې پکې د یوه چا دماغ او ذکاوت بشپړه وده نه وی کړی .

Suboccipital
تر مغزی برخې (قفوی **Occipital**) برخې لاندې واقع شوې ، تحت القفوی.

Suborbital
تحت الحجاجی ، د سترګو د ګاټې د کاسې څخه ښکته واقع شوې .

Suborder
فرعي، تصنیف، خیل، څانګه

Subordinate
لاس لاندې، (مادون) ټیټ ، ایل، منونکي ، په ګرامر کې تابعی جمله ټیټول،کښته کول، لاس لاندې کول.

Suborn
لمسول، مجبورول،(بد کاراو غیر قانوني کارو ته) رشوت ورکول.

Subperiosteal
د هډوکو تر پرېیوست طبقې لاندې د منضم نسج اړوند .

Subphrenic
تحت الحجاب حاجزی ، تر ډیافراګم (**Diaphragm**) لاندې پروت.

- Subphrenic Abscess
تحت الحجاب حاجزی دانې (خراج ،ابسې).

Subscribe
موافقه کول، منل، اشتراک کول، ګډون کول، برخه اخیستل، بسپنه ورکول، لاس لیک کول.

Subsection
د برخې برخه، فرعي څا نګه.

Subsequently
په راتلونکي ډول، وروسته بیا.

Subside
ښکته کېدنه ، ټیټېدنه ، له ځوګ څخه غورځېدنه ، کمښت موندنه ، د تاوتریخوالي لرېدنه. کښته کیدل، تر سب کول، بیخ ته کښیناستل، لاندې تلل، ډوبیدل غلي کیدل، چو پیدل، ارامیدل.

Subsidence
لرېدنه،ترسب،چوپتیا.

Subsidize
ټیټول ، کمښت راوړل ، مرسته کول،کومک کول، مالي امداد کول.

Subsist
ژوند کول، خوراک او پوښاک برابرول، توښه، برابرول.

Substance
جوهر، تو منه، ذات، جسم، کېمیاوی ماده ، مفهوم ، مضمون، اصل مطلب، شتمني، منابع.

- Substance Abuse
د موادو څخه ناوړه ګټه اخیستنه ، ډېره پېمانه د موادو کارول لکه (درمل ، الکهول ، خوراک ، څښاک) چې روغتیا زیانمنه کوی. د (**Substance Misuse**) په اندول .

- Substance Misuse
د (**Substance Abuse**) په اندول .

- Substance P
هغه ډول (**Neurotransmitter**) چې د درد (**Pain Pathways**) کې دخیل دئ .

Substantially
په اساسي ډول، په بنیادي توګه.

Substitute
تعویضول ، عوض کول ، بدل بدلول، ونجول، عوضول، ځاي نیول، (دبل شی) په ځاي ودرول،(دبل چاه)

Substitution
تعویض ، عوض ، پرځای کارول ، یو د بل پرځای لګول.

- Substitution Therapy
تعویضی درملنه ، د پخوانیو درملو پر عوض د نورو نوې درملو کارول.

Substrate
هغه مواد چې د یوه انزایم په مرسته عمل کوی لکه انسولین پروتینی هورمون دئ او لوی انابولیک اغېزې لری او مېتابولیزم د حجرې د حرارتی موادو (ګلوکوز) تأمین له لارې تنظیموی.

Subsultus
د عضلاتو او ټینډونونو ټکانونه او اختلال چې د تبې پر مهال رامنځ ته کېږی.

Subtertian
د درېیمې څخه لږه موده ، یوه ورځ په منځ کې .

- Subtertian Fever
د ملاریا پرازیت اړوند یو ډول چې پکې تبه اکثراً شتون لری.

Subthreshold
د قدمې (**Threshold**) څخه ښکته ، هغه ښه سیالې (**Impules**) چې ډېرې ځواکمنې ندی تر څو یو غرګون رامنځ ته کړی

Subtitle
عنوان ګي، وړوکي عنوان .

Subtle
نازک،لطیف، ځیرک، ژور فکري، چکوره ، چالاک .

Subtotal
نامکمله ، هغه عملیه چې بشپړه ترسره نشی ، ناتام ډول.

- Subtotal Gastrectomy
هغه جراحی عملیات چې د معدې نامکمله ډول غوڅېدنه پکې تر سره شی .

- Subtotal Hysterectomy
هغه جراحی عملیات چې د رحم (ځلانځې) نامکمله ډول غوڅېدنه پکې تر سره شی .

- Subtotal Mastectomy
هغه جراحی عملیات چې د تییونو نامکمله ډول غوڅېدنه پکې تر سره شی .

- Subtotal Pancreatectomy
هغه جراحی عملیات چې د پانکریاص نامکمله ډول غوڅېدنه پکې تر سره شی .

- Subtotal Thyroidectomy
هغه جراحی عملیات چې د تایراېد غدې نامکمله ډول غوڅېدنه پکې تر سره شی .

Subtract

لړول، کمول (تفریق کول)، کټ کول.

Subtropical

حاري ته نږدې، تاوده اقلیم ته نژدې.

Subungual

تر نوک (Nail) لاندې برخې اړوند .

Subversion

ړنګونه، غورځونه، خرابونه ، په څټ کېدنه.

Subversive

له منځه وړونکی، ړنګوونکی، مخرب.

Subvert

له منځه وړل، ړنګول، بې لارې کول فاسدول.

Succeed

په بریالی توګه تر سره شوې ، یو په بل پسې راتلل، ځای نیول، پر ځای کښېناستل، بریالی کېدل، نتیجې ته رسېدل.

Success

برم ، بری، بریالیتوب، کامیابي، بریالی، کامیاب سړی ، په ښه توګه تر سره کول.

- Complete Success

کامل بریالیتوب.

Successful

له بریالیتوبه ډک ، کاملاً بریالیتوب.

- Successful Operation

بریالي عملیات.

Succession

پرله پسې والی، رون، یو په بل پسې راتګ، د یو چا په ځای کښېناستنه.

- Succession Of Miscarriages

پرلپسې سقط ، یو په بل پسې زیان (نقصان).

Successive

پرله پسې، سرپه سر.

- Successive Pregnancy

پرله پسې امېدواری ، سرپه سر بلاربښت.

Succinct

لنډه څرګنده لکه (نظریه ، خبره).

Succor

مرسته، دمه، سیاله. لاس نیول، مرسته کول، په تنګسه کې لاس ورکول.

Succotash

ګونګړی، کوجه (دامریکایي هندیانو خواړه چې له لوبیا او جورو یې پخوي).

Succulence

ښیراز توب، تنکي والی.

Succulent

شیره وال، اوبلن، ښیراز: غوښتن.

Succus

د یوه غړي پواسطه افراز شوي عصاره (جوس).

- Succus Entericus

د کولم عصاره ، معائی جوس ، هغه انزایمونه چې د کولمو پواسطه تولید پرې او په هضم کې برخه اخلی .

Succussion

هغه د اوبو څپې شړپ غږ (Splashing Sound) چې د بدن په یوه مجوف غړې کې د شتون له کبله منځ ته راځی لکه په معده کې.

Suck

رودل، زبیښل، څکول. رودنه، زبیښنه، څکونه.

Sucker

رودونکی، زبیښونکی، یوډول کب چې خواړه په ساراکاړي ، ډنډر.

Sucking

رودنه ، د زبیښنې پروسه ،د خولې دننه ته د مایع یا هوا کشولو او زبیښلو پروسه.تی رودونکی، تیخور.

- Sucking Reflex

د زبیښنې عکسه ، د رودنې عکسه .

Suckle

رودل ، تی ورکول، په شودو لویول.

Sucrose

شکره (دګنې، یا جغندر). هغه انزایم چې په کولمو کې سکروز په ګلوکوز او فرکتوز تجزیه کوی .

Suction

هغه قوه چې د عمل له مخې رودنه تر سره کېږی ، رودنه، زبیښنه: رابښکنه، کشونه لکه (د مایع ، هوا) ساه کښنه.

- Suction Catheter

د سکشن کتېتر .

- Suction Machine

د سکشن ماشین .

- Suction Tube

د سکشن تیوب .

Sudamen
هغه کوچنی تیاکه ده خولې له امله پېښېږی.

Sudamina
د (Sudamen) ګڼه شمېره ده.

Sudden
ناڅاپي، نابېره، په ېېره منځ ته راتګ ، وار دواره، سمدلاسه پېښېدنه ، بې خبره ، دفعتاً.

- Sudden Death
سمدلاسه مرینه .هغه مرینه چې ورته د پېژندنې وړ لامل ونه موندل شی.

- Sudden Infant Death Syndrome(SIDS)
د هغه ماشومانو سمدلاسه مرینه چې عمر یې تر یوه کال ښکته وی چې ورته د پېژندنې وړ لامل ونه موندل شی. د (Cot Death) په انډول.

Sudeck's Atrophy
په لاس یا پښو کې د هډوکو ورستېدنه (Osteoporosis) ده چې لومړی ځل په (1900) کې د جرمنی جراح (German Surgeon) د (Paul Hermann Martin Sudeck) پذرېعه شرحه شو.

Sudor
خوله ، خوړ، شکرین ، د (Sweat) په انډول.

Sudoriferous
خوله منځ ته راړونکې ، خولېجن کوونکې .

Sudorific
هغه درمل چې یوچا کې خوله رامنځ ته کوی.

Suds
دسابون ځګ، ځګنی اوبه.

Suet
دنس وازده (وازګه).

Suffer
ګالل، زغمل لکه (درد او ناروغی د اوږدې مودې لپاره) ،دردېدنه ، راتلل، پېښېدل لکه (د ربړ)، کړېدل، ځورېدل، پرېښودل، اجازه ورکول.

Sufferance
زغم، تیرونه، صبر، رضا ، خوښه.

Sufferer
کړېدونکی، غم ګالونکی. هغه څوک چې د اوږدې مودې راهیسې ناروغی لری لکه د استما (Asthma) په څېر .

- Asthma Sufferers
له قصبی استما (Asthma) څخه ځورېدنه.

Suffering
د درد او ناروغی څخه د اوږدې مودې لپاره دردېدنه. درد زغمل ، خوږ زغمل ، کړ او تېرول ، ستونزه زغمل ، ربړ ګالنه.

Suffice
بسیا کول، بس کیدل، کافي ګڼل وس لرل. بس کول، کفایت کول.

Sufficiency
کفایت، بسوالی، بسیا توب، په ځان باور، ویسا.

Sufficient
بس، کافي، پریمانه ، وړتیا لرونکي ، باوري.

Sufficiently
په پر یمانی، په کافي اندازه.

Suffix
رو ستاړی، په یځوړ، لاحقه ، د کلمې هغه روستې برخه چې یوه اصطلاح بشپړوی .

Suffocate
خپه کول، له مری نیول، زندی کول، تر غاړې نیول، تر بتول.

Suffocation
خپه کیدنه، زندی، سابندونه، اختناق.

Suffuse
خپرول، غوړول، خپریدل لکه (د ملحم ، مرحم ،رنګ یامایعات) لړل.

Suffusion
خپریدنه، غوړیدنه لکه د بدن د سې مخې لپاسه ، توئېدنه.

Sugar
شکره، بوره، چینه. خوږول،خوږېدل، بوره اچول.هر یو د خوږو کاربهایدرېتونو څخه چې د شکرې جوړښت جوړوی او ټولې هغه اصطلاح ګانې چې د (Glyc-, Glyco-) د مختاړی پذرېعه پیل مومی .

- Sugar Intolerance
د خوږې په وړاندې د زغملو وړتیا نلرل ، د شکرې عدم تحمل او نه جذب کېدنې حالت چې د نس ناستی په څېر رامنځ ته کېږی.

- Sugar Cane
ګنی، شکر ګنی، نیشکر.

- Sugarplum

Central Sulcus) په څېر چې دماغی نیمکړې په لوبونو (فصونو) سره ویشی .

- Central Sulcus

مرکزی مېزابې .

- Lateral Sulcus

جنبی مېزابې .

Sulfa

سلفا، یوډول میکروب وژونکی درمل چې دډېرو دسکرونه لاس ته راځي .

- Sulfadimedine

د سلفامیدونو یو ډول چې د باکتری ضد اغېزې لری .

- Sulfa Drug

د (**Sulfa Compound**) په انډول . د (**Sulfonamide**) په انډول .

- Sulfamethoxazole

د سلفامیدونو یو ډول چې د باکتری ضد اغېزې لری .

- Sulfanilamide

سلفانالمید، یوډول کیمیاوي مرکب چې ددرمل په حیث استعمالېږي.

Sulfasalazine

د سلفامیدونو یو ډول چې د باکتری ضد اغېزې لری او د السراتیف کولایتس (**Ulcerative Colitis** ، **Crohn's Disease**او **Rheumatoid Arthritis**) درملنه کې پکارېږی .

Sulfate

د (**Sulphate**) په انډول.

Sulfonamide

سلفامیدونه یو ډول کېمیاوی درمل دی چې د باکتری وډې ضد او ودروونکی اغېزې لری لکه (**Trimethoprim**) چې د هضمی او بولی انتاناتو درملنه کې پکارېږی

Sulfur

سلفر، ګوګړ، دګوګړ، جوهر. د (**Sulphur**) په انډول.

Sulphate

د (**Sulphuric Acid**) مالګیزه بڼه ده . سلفیټ، دګوګړو د تیزاب مالګه.

Sulphide

دسلفر اوبل عنصر مرکب.

Sulphur

سلفر، ګوګړ، دګوګړو څخه جوړ ، د ګوګړو جوهر چې ژېړ رنګه ډول فلزی کېمیاوی عنصر دئ چې په ځینو اممینواسیدونو کې موندل شی او په جلدی درملنیز پتاسه، خوږه شیرینې.

Sugary

خوږ، شکریز ، شکرین .

Suggest

وړاندیز کول، پیشنهاد کول، تجویز کول او سپارښتنه ، سلاورکول، توصیه کول ،تلقین کول، په زړه کول .

- Suggested Daily Intake

د ورځنی رژیم (خوراک څښاک ، موادو) د اندازې سپارښتنه.

Suggestibility

هغه روانی حالت چې پکې یو څوک یوازې د نورو کسانو (نظرئې ، هدایتونه - لارښوونې او کړندودونه) پرته له کومې پښتنې منی دا معمولاً د (**Hypnosis**) حالت کې زیاتوالې مومی .

Suggestible

په ساده توګه د نورو تر اغېزې لاندې راتګ ، د وړاندیز وړ .

Suggestion

1 .تجویز، پیشنهاد ، نظریه، سلا، مشوره، ننبه، اشاره (دلارښودنې دپاره). **2** • په روانپوهنه کې د یو چا هغه نظریه چې وکړای شی د نورو دننه اغېز پریباسی او هغوی هغه ومنی.

Suggestive

اشاره کوونکی، دفکري فعالیت لمسوونکی ، اندیښنه پیداکوونکی، راپه یادوونکی، شکمن کوونکی.

Suicidal

دځان وژنې اړوند صفت دئ .

- Suicidal Tendencies

د ځان وژنې لورې ته د لېوالتیا لرل.

Suicide

ځان وژنه، انتحار، ځان وژونکی تعهد او ژمنه لرل.

- Suicide Attack

ځان وژونکی حمله ، ځان وژونکی تېرې.

- Commit Suicide

ځان وژونکی تعهد او ژمنه لرل.

Suitable

وړ، مناسب ډول، په ښاییدنکي ډول، په ځان برابر والې.

Sulcus

مېزابه ، تلم ، ناوه ، هغه ډول ژور جوړښت چې ناوې ته ورته وی خصوصاً په دماغ کې کله د (**Lateral Sulcus** او

او ځمکه څرخېږي.

Sunbathing

د لمر په وړاندې هسې پرېوتل چې بدن د لمر وړانګې جذب شي.

Sunbeam

دلمر وړانګه.

Sunblindness

دلمر وړانګو د لیدلو توان نلرل .د (**Photoretinitis**) په انډول.

Sunburn

لمرسوی، لمروهلی، لمروهل، لمر سوزول، د پوستکی سوځېدنه د لمر وړانګو پذرېعه .

Sunburnt

د پوستکی د لمر وړانګو پذرېعه هغه ډول سوځېدنه چې رنګ يې خړ –نصواری یا سور اووښتې وی .

Sunflower

کاپر ګل، لمر ګل (آفتاب پرست).

Sunken

ډوب: لویدلی، ننوتی (لکه سترګې) .

- Sunken Eye

ننوتی سترګې ، دا یوه کلینیکی ننبنه ده چې د دیهایدریشن پرمهال په ناروغانو کې لیدل شی .

- Sunken Fontanella

د فانتانیل ننوتې بنه شته والې.

Sunlight

دلمر وړانګه، دلمرنیا.

- Sunlight Allergy

دلمر وړانګو په وړاندې الرژی او حساسیت .

- Sunlight Expossure

دلمر وړانګو په وړاندې مخامخ کېدنه او مواجه کېدنه .

- Sunlight Protection

دلمر وړانګو په وړاندې الرژی او حساسیت ژغورنې په موخه محافظه او پټولو کړنلاره.

- Sunlight Therapy

دلمر وړانګو په واسطه درملنه / تداوی .

Sunrise

لمرخاته ،طلوع ، لمر راوتنه ، لمر راجګېدنه د رسهار پرمهال

Sunrising

لمرخاته ،طلوع ، لمر راوتنه.

مرحمونو کې تر ې کار اخیستل شی کېمیاوی ننبنه يې (**S**) ده او هغه مختاړی چې په (**Sulph**او **-Sulf**) پیل مومی همدا معنی لری .

Sulphuric

ګوګړي، ګوګړ لرونکی.

- Sulphuric Acid

دګوګړو تیزاب. سلفوریک اسید بې رنګه دئ او اوشدیداً مخرش اسید بلل شی ګڼ شمېر استعمالی موارد لری .

Sulphurous

ګوکړي، سلفري. ګوګړی، ددوزخ دارو، دوزخي، سوراور، داوربڅری (چالاک)، سوزند.

Sulkiness

تریو تندې نیول ، بړوسوالی، مرورتر تیا.

Sullen

بړوس، تغمه ناک، تریو تندی، خواشیني، نیولی، غمجن، خړ، نیولی (لکه ورځ).

Sully

خیرنول، ککړول، خړول، داغ لګول، داغي کول.

Sumac

سماق، یوډول کوچنی میوه لرونکی ونه.

Sumach

سماق، یوډول کوچنی میوه لرونکی ونه.

Summarily

په لنډه، په بیړه.

Summarize

لنډول، خلاصه کول، لنډیز جوړول.

Summary

لنډ ، خلص: بې ځنډه، ژر ترژره. لنډیز، خلاصه

Summation

غونډونه، ټولونه، جوړونه.

Sumatriptan

Sympesiometer

هغه وسیله د اوبو د بهیر د روان چلند فشار ټاکی.

Symphalangia

1 . په ولادی نیمګړتیا بڼه د سره نېږدې دوه ګوتو اوبندونو نښتنه. هغه ارثی منشه لرونکې د ګوتو نیمګړتیا ناروغی چې پکې ګوتې آنکیلوز (**Ankylosis**) منځ ته راځی ،2 .همدارنګه د ګوتو پرده لرونکې بڼه بلل شی چې په لاس او پښو ګوتو کې منځ ته راځی . ورته نوم یې (**Syndactyly** او **Symphalangism**) هم بلل شی.

Symphalangism

د (**Symphalang**) په انډول . په ولادی توګه د ګوتو د قریبه بندونو نښتنه.

Symphalangus

د (**Symphalang**)اړوند صفت دئ. د (**Hylobates Syndactylus**) په انډول . همدا راز معمولاً ځینی تصنیفونه کې یو ډول (**Pongidae**) څخه ټیټه کورنۍ ده .

Sympathize

خواخوږی کول ، همدردی ښودنه ، د خواخوږی احساس ځرګندول ، زړه سواندی کول، پرخوا کیدل، پلوی کیدل.

- **Sympathize With**

د نورو سره د خواخوږی احساس ځرګندول.

Sympathizer

خواخوږی پاروونکي شئ ، د همدردی احساس ښودونکي څیز . خواخوږي، پلوی، هم فکر.

Sympathoadrenal

په سیمپاټیک عصب او اډرینال غدې مرکزی برخې پورې اړوند.

Sympathoblast

په جنین کې هغه لومړنی حجره چې په پای کې په سیمپاټیک عصبی حجرې یا کرومافین حجرې باندې اوړی .

Sympathogonia

د (**Sympathicoblast**) په انډول.

Sympathogonioma

د (**Sympathicoblastoma**) په انډول.

Sympatholytic

①انتي اډرینرجیک عاملو هډونو ته د بعدالعقدوی رشتو څخه د سیالو د تېرېدلو نهی کوونکی ، ② د غدواتو د افراز او عضلاتو د انقباض نهی کوونکې ③ او هغه درمل چې همدا ډول اغیزې لری . د سیمپاتیکو عصبی برخې ویجاړوونکی اړوند.

Sympathomimetic

①اډرینرجیک، ② د سیمپاتیکو عصبی برخې پاروونکی او تنبه کوونکی (**Activity Or Stimulation**) موادو اړوند.

- **Sympathomimetic Amine**

سیمپاتو میمیټیک امین ګروپ اړوند .

- **Sympathomimetic Bronchodilator**

سیمپاتو میمیټیک د قصباتو پراخوونکی مواد .

- **Sympathomimetic Drug**

سیمپاتو میمیټیک درمل .

- **Sympathomimetic Hormone**

سیمپاتو میمیټیک هورمون.

Sympathomimetics

سیمپاتو میمیټیک او پاروونکی چې فشاری غبرګونونه په بدن کې پېښوی او معمولاً د زړه ټکانونه

- Symphyseal Angle
سمفیزی زاویه . هغه زاویه (کنج) چې د دوه عانی اتفاقی هډوکو یو ځای کېدنې له کبله منځ ته راځی .

Symphyseotome
د جراحی پذرېعه د عانی برخې د وازولو جراحی وسیله.

Symphyseotomy
د جراحی وسیلې پذرېعه د عانی برخې د وازولو جراحی تر سره کولو کړنلاره .

Symphysial
د (**Symphysis**) اړوند صفت دئ ، عانی ، سمفیزی .

- Symphysial Surface Of Pubis
د عانی برخې د پوبیس هډوکو سطحه .

- Symphysial Tendon
- د عانې برخې د ټینګښت لپاره اړوند ټینډون.

Symphysic
د (**Symphysis**) اړوند صفت دئ ، عانی ، سمفیزی .

- Symphysic Teratism
د عانی یا د سمفیزیس برخې د بڼۍ ناسموالې/ انومالی.

Symphysiectomy
د عانی یا د سمفیزیس برخې د غوڅولو جراحی عملیه تر سره کول .

Symphysiodesis
هغه جراحی عملیات چې پکې د عانی یا د سمفیزیس برخې د هډوکو ترمنځ مفصلی سطحې غوڅېږی او بند له خوځېدنې غورځوی او هغه بې حرکته کوی .

Symphysion
د ښکته ژامنې (**Mandible**) اړوند مخې ته راوتلې سنخی استطاله (**Alveolar Process**) بلله شی.

Symphysiotomy
د جراحی وسیلې پذرېعه د عانی برخې د وازولو جراحی تر سره کولو کړنلاره .

- Symphysiotomy Chisel
دا یوه لاسی وسیله ده چې ځانګړې چاړه (**Drill**) لری چې د عانی برخې جراحی عملیات پرې تر سره کېږی.

Symphysis
عانی اتفاق ،دعانې هډوکو د دواړو خواو څخه یو د بل سره یو ځای کېدنې بند یا مفصل .

- Symphysis Cartilaginosa
عانی اتفاق غضروفی برخه .

- Symphalangus Syndactylus
په یو ډول غټو تورو بېزوګانو کورنۍ کې د پښو دوهمې او درېیمې ګوتو په ولادی نیمګړتیا بڼه د سره نېږدې او ګاونډیو دوه ګوتو نښتنه او پرده لرونکې بڼه ، د یوې ګوتې د بندونو ولادی ډول پیوستون .

Symphile
هغه ډول حشره یا بل ډول ارګانیزم چې د نورو حشراتو په خونه (ځاله) کې ژوند کوی لکه مېږی او ویانو (**Termites**) سره ګډ ژوندون .

Symphilid
یو ډول کوچنۍ آرتروپودا چې معمولاً په شنه باغونو کې تر ځمکې لاندې ژوند کوی.

Symphilism
د زولوژی (**Zoology**) پلوه یو ډول (**Sociable Symbiosis**) چې پکې حشرات د مېږیو او ویانو د کولون دننه د میلمه په توګه تغذیه او ژوند کوی.

Symphilous
د (**Symphilism**) اړوند صفت دئ.

Symphily
د (**Symphilism**) په انډول.

Symphyseal
د عانې د یوځای کېدنې (**Symphysis**) اړوند .

Symphyseotomy
د زېږون د آسانه کولو لپاره د حوصلې د عانی برخې د جراحی وازولو کړنلاره .

Symphysion
د عانې د یوځای کېدنې (**Symphysis**) اړوند .

Symphysiorrhaphy
د بیلو شوې (جلا شوې) سیمفیز بیا ګنډل او ترمیم جراحی کړنلاره.

Symphysiotomy
د زېږون د آسانه کولو لپاره د حوصلې د عانی برخې د جراحی وازولو کړنلاره .

Symphysis
غضروفی فایبری مفصل ، یو ډول بند چې په هغه کې دوه هډوکیزې سطحې د یوې غضروفی فایبری پاڼې په مټ سره په بشپړ ډول نښلی.

Symphyseal
د (**Symphysis**) اړوند صفت دئ ، عانی ، سمفیزی .

پکارېدونکي لغت دئ چې د دوه عناصرو د یوځای کېدنې لېوالتیا لپاره پکارېږي.

Sympiesometer

1. هغه آله / وسیله چې پرې باندې د اوبو بهیر فشار ټاکل کېږي. **2.** هغه وسیله چې د هوا د اتموسفیر وزن د ګازاتو د تر فشار راولو پذرېعه ټاکل شي.

Sympiezometer

د (**Sympiesometer**) په انډول.

Symplasma

د حیواناتو هغه ډول اسفنجي وصف چې معمولاً د هغې (**Six Siliceous Spicules** یا **Rays**) د ځانګړنو سره وي. د (**Hexactinellid**) او (**Hexact**) په انډول.

Symplasmatic

د (**Symplasma**) اړوند صفت دئ.

Symplast

په بوټانی (نبات پېژندنې) علم کې د پروټوپلاسټونو هغه پرلپسې سیستم چې د (**Plasmodesmata**) او د جداری دېوال (**Cell Wall**) سره اړیکه ولري.

Symplastic

په بیالوژی کې هغه یوه حجره یا سایټوپلازمیک کتله چې ګڼ شمېر هستې ولري. د (**Syncytium**) په انډول.

-Symplastic Leiomyoma

د (**Epithelioid Leiomyoma**، **Bizarre Leiomyoma**) په انډول.

-Symplastic Transport

د (**Symplast**) ټرانسپورټ سیستم بلل شي.

Symplectic

د اناټومی علم له مخې هموارېدل یا د یو بل سره توصل معنی لري لکه یو تر بله نېږی هډوکو سره توصل او یوځای کېدنې حالت.

-Symplectic Transformation

دا یو خطی ډوله بدلوونکي مسافه (**Vector Space**) ده.

Symplesiomorph

د سیمپلیزیو بڼې او شکل غوره کېدل. د سیمپلاسټ سایټوپلازم ته ورته.

Symplesiomorphic

د (**Symplesiomorph**) اړوند صفت دئ.

-Symplesiomorphic Character

د سیمپلاسټ سایټوپلازم ته ورته اوصاف او کرکټر.

- Symphysis Intervertebralis

د فقراتو تر منځ خپل منځی اتفاق برخه.

- Symphysis Ligamentosa

د اوتارو (لېګامنټونو) یوځای کېدنې برخه.

- Symphysis Mandibulae

د ښکتنی ژامنې د منډیبولا هډوکو د یوځای کېدنې برخه د زنې په سیمه کې.

- Symphysis Manubriosternalis

د صدر د قص د مانیوبریوم برخې یو ځای کېدنې برخه.

- Symphysis Mentalis

د زنې په برخه کې د منځنی کرښې لپاسه د منډیبولا هډوکو یوځای کېدنې برخه.

- Symphysis Menti

د زنې د اتفاق برخه.

- Symphysis Of The Jaw

د ژامنو د اتفاق برخه.

- Pubic Symphysis

د پوبیک هډوکو د یوځای کېدنې اتفاق برخه.

- Symphysis Pubica

د پوبیک هډوکو د یوځای کېدنې اتفاق برخه.

- Symphysis Pubis

د (**Pubic Symphysis**) په انډول.

- Symphysis Sacrococcygea

د سکروم (عجز) او عصعص هډوکو ترمنځ د یوځای کېدنې کرښه.

- Symphysis To Fundus

د غور یا فونډوس برخې د اتصال او اتفاق برخه.

- Symphysis Xiphosternalis

د قص هډوکی (**Xiphoid** برخې او د **Sternal** د تنې) د برخو ترمنځ د اتفاق برخه.

Symphysotomy

د (**Symphyseotomy**) په انډول.

Symphystic

د (**Symphyseal, Symphysial ,Symphysis**) اړوند صفت دئ.

Symphyta

د مچانو یو ډول حشره بڼه لرونکي جنس دئ چې د اړې په څېر غابنی لري او د نباتاتو د قطع کولو په موخه تړې کار اخلی.

Symphytic

د (**Symphytism**) اړوند صفت دئ.

Symphytism

سېمفایتیزم، یو ځای کېدنه یا فیوژن، ناردا

Sympleisomorphy
د بېلابېلو ډولونو د ایمبریولوژیک دورې منظرې ته ورته حالت.

Symplesite
د مینرالوژی (Mineralogy) له مخې هغه آبی یا آبی – شین ډوله (Triclinic Mineral) منرال چې د (Hydrous Iron Arsenate) څخه جوړ دئ او د ($Fe_2(Aso_4)_3 \cdot 8h_2o$) فورمول لری.

Symplocaceae
د (Dicotyledonous) کورنۍ د (Ebenales) آرډر څخه دئ.

Symplocarpus
د (Skunk Cabbage) څخه یو (Species) دئ.

-Symplocarpus Foetidus
دا یو ډول نبات دئ چې د (Symplocarpus) پورې تړاو لری.

Sympode
د (Sympodium) په اندول.

Sympodia
کاذب محور ، یو حقیقی ډوله محور دئ چې ددې وده هغه مهال پېښېږی چې جنبی څانګه یې د ساقې او اساسی برخې څخه کمتره وده مومی او د ذروې برخې څخه رامنځ ته کېږی چې زیګزاک یا غېر منظم بڼه لری او ورته (Pseudaxis) هم ویل شی.

Sympodial
د (Sympodia) اړوند صفت دئ.

Sympodially
په کاذب محوره ډول سره.

Sympodium
د (Sympodia) په اندول.

Symptom
نښه، عرض، ښکار ندوی نښه لکه (دمرض اعراض) ، هغه ډول نښې چې د ناروغۍ پېژندنه کې غوره رول لری.

-Symptom Complex
د اعراضو یو مغلق او پېچلې حالت.

-Symptom Control
د نښو نښانو کنټرول او تر قابو لاندې راتګ.

-Symptom Driven Diagnostic System for Primary Care
د اعراضو منځ ته راتګ د لومړنی مراقبت/ څارنې لپاره تشخیصیه سیستم جوړ وی.

-Symptom Fault Fix
د اعراضو غلطی تثبیت.

-Symptom Formation
د اعراضو منځ ته راتګ.

-Symptom Group
د اعراضو (نښو) یوه ډله.

-Symptom Management
د نښو تدابیر نیول او درملنه.

-Symptom Of The Universe
عمومی نښې.

-Objective Symptom
د لیدلو وړ نښې.

-Symptom Picture
د اعراضو یو تصور او خیال.

-Presenting Symptom
داعراضو شتون.

-Symptom Rating Scales
د اعراضو د ثبت او اندازې تاکنې اټکل.

-Symptom Score
د اعراضو لپاره لمبری ورکول.

-Symptom Severity
د اعراضو شدت.

-Symptom Severity -Premenstrual Syndrome
د حیض څخه دمخه د اعراضو شدت حالت.

-Subjective Symptom
نقل کېدونکی اعراض ، هغه نښې چې د ناروغ په خوله بیانېږی.

-Symptom Substitution
د اعراضو اوښتون او بدلون.

-Withdrawal Symptom
د اعراضو له منځه تګ ، د نښو ورکېدنه.

Symptomatic
نښې لرونکې حالت ، عرضی ، د اعراضو درلونه.

-Symptomatic Abacteruria
هغه ډول نښې چې په متیازو کې یې باکتریاګانې شتون نلری.

-Symptomatic Abdominal Distension
هغه ډول بطنی انتفاخ (پرسوب) چې د اعراضو سره مل وی.

-Symptomatic Alopecia
عرضی الوپسیا (د ویښتانو تګ) حالت.

-Symptomatic Anemia
عرضی وینه لړې ، هغه کمخونی چې اعراض ورسره مل وی.

-Symptomatic Anthrax
د اعراضو سره مل خوارۍ (جذام) ناروغی .

-Symptomatic Atrial Fibrillation
د اعراضو سره مل اذینی فیبرپلېشن .

-Symptomatic Deficiency In Lactate Transport
د اعراضو فقدان لرونکې لکتیټ ټرانسپورټ .

-Symptomatic Diffuse Esophageal Spasm
د اعراضو سره مل منتشر ډول د مری سپزم .

-Symptomatic Epilepsy
د اعراضو سره مل مېرګی (صرعه) .

-Symptomatic Erythema
د اعراضو سره مل سره مخه (سوربخن پوستکې) .

-Symptomatic Esophageal Peristalsis
د اعراضو سره مل د مری پریستالزیس .

-Symptomatic Fever
عرض لرونکې تبه .

-Symptomatic Headache
د اعراضو سره مل سردردی .

-Symptomatic Hypothermia
د اعراضو سره مل هایبوترمیا .

-Symptomatic Indication
د اعراضو سره مل استطبابات .

-Symptomatic Infantilism
د اعراضو سره مل وروکتوب ناروغی چې پکې ناروغان د ماشوم توب خواص لری .

-Symptomatic Late-Onset Hypogonadism
اعراض لرونکی مؤخر بڼه هایپوګوناډیزم حمله .

-Symptomatic Localization-Related Epilepsy
عرض لرونکې موضعی اړوند صرعه .

-Symptomatic Medication Overuse
د اعراضو درلودونکی ډېره کچه استعمال کوونکی درمل .

-Symptomatic Myeloid Metaplasia
د اعراضو درلودونکی میالوئید میتاپلازیا سرطانی حالت .

-Symptomatic Nanism
د اعراضو درلودونکی ماشومتوب خواص .

-Symptomatic Neuralgia
د اعراضو درلودونکی عصبی دردونه چې د اعصابو شدید تخریب او بې دندې کېدنې له کبله پېښېږی .

-Symptomatic Orthostatic Tachycardia Syndrome
د اعراضو درلودونکی اورتوستاټیک ټاکی کاردیا سنډروم .

-Symptomatic Paramyotonia
د اعراضو درلودونکی پارامایوټونیا (د عضلاتو شخي) حالت .

-Symptomatic Porphyria
د اعراضو درلودونکی پورفایریا .

-Symptomatic Pruritus
د اعراضو درلودونکی جلدی خارښت .

-Symptomatic Reaction
د اعراضو درلودونکی غبرګون .

-Symptomatic Relief
د اعراضو درلودونکی حالت کمښت .

-Symptomatic Respiratory Infection
د اعراضو درلودونکی تنفسی انتانات .

-Symptomatic Tetany
د اعراضو درلودونکی تېټانی حالت .

-Symptomatic Thrombocytopenic Purpura
د اعراضو درلودونکی ترومبو سایټوپینیا .

-Symptomatic Torticollis
د اعراضو درلودونکی د غاړې د تورتیکولیس ناروغی .

-Symptomatic Treatment
د اعراضو اړوند درملنه .

-Symptomatic Urinary Tract Infection
د اعراضو درلودونکی بولی لارې انتانات .

-Symptomatic Varicocele
د اعراضو درلودونکی واریکوسل ناروغی .

Symptomatically
د اعراضو درلودونکی حالت سره په تړاو کې .

Symptomatise
د اعراضو منځ ته راوستونکی حالت .

Symptomatize
د اعراضو منځ ته راوستونکی حالت .

Symptomatology
هغه طبی علمی څانګه چې د ناروغیو د اعراضو سره سروکار لری . د (**Semeiology**) په انډول .

Symptomatolytic
د ناروغیو د اعراضو له منځه وړونکی .

Symptomize
عرضی کېدنه .

Symptomless
پرته له نښو نښانو او اعراضو حالت څخه .

Symptomological
د (**Symptomatology**) اړوند صفت دئ .

Symptosis
په پټالوژی کې د بدن د کتلې له منځه تګ ته ویل شی.

Symptothermal Method
عرضی – حرارتی مېتوډ ، د ښځو د تحیض د ورځې پېژندنې ته د هګۍ اچولو په موده کې چې د القاح لپاره ډېر چانس لری بلل شی د (**Fertility Awareness**) پنامه هم یادېږی. ورته نوم یې (**Natural Family Planning**) دئ.

Symptotic
د (**Symptosis**) اړوند صفت دئ.

Sympus
د جنینی دوره هغه ډول انومالی ده چې پکې د پښو اړوند یو تر بله نښتنه شتون لری د (**Sirenomelia** و **Symmelia**) په انډول.

- Sympus Apus
هغه ډول غېر نارمل جنینی وده چې پکې جنین هېڅ پښه نلری.

- Sympus Dipus
هغه ډول غېر نارمل جنینی وده چې پکې جنین دواړه پښې تام یا قسمی ډول نښتې بڼه لری.

- Sympus Monopus
هغه ډول غېر نارمل جنینی وده چې پکې جنین دواړه پښې هسې نښتې بڼه لری چې د یوې پښې په بڼه ښکارېږی او د (**Monopodial Symmelia, Uromelus**) پنامه هم نومېږی.

Syms
د (**Syms Parker**) پنامه دا یو امریکائی جراح دئ چې په (**1860-1933**) کالونو کې اوسېده او د (**Syms Tractor**) یې شرحه او جوړ کړېدئ.

- Syms Traction
د (**Syms Parker**) پذرېعه جوړ شوې ترکشن وسیله ده.

- Syms Tractor
هغه ډول کولاپس کوونکې ربړی کڅوړه (خریطه) او ټیوب چې د غټ شوی پروستات راکښنه د جراحی له لارې پرې تر سره کېږی.

Syn-
دا یو مختاړې دئ چې د (پیوستون ، ملګرتیا نښتې **Fused** مفصل **Joint**) معنی لری.

Syn.
د سنډروم (**Synacme**) لپاره لنډه نښه بلل شی.

Synacme
د (**Synanthesis**) په انډول.

Synacthen
د [**Tetracosactrin (Tetracosactide)**] لپاره سوداګریز نوم دئ.

Synadelphite
د مینرالوژی له مخې هغه آرسنېټ (**Arsenate**) چې (**Manganese** او **Aluminium**) درلودونکې وی.

Synadelphus
هغه غېرمګ سره جوړه انومالی لرونکی جنینی وده چې یو سر ، نیمه تنه قسمی بڼې نښتې او څلور پورتنی یا څلور ښکتنی اندامونه لری.د (**Conjoined Twins**) په انډول.

Synaesthesia
هغه فینومینا (**Phenomenon**) چې پکې دوهم احساس چې د اصلی درک سره مل وی.

Synaesthesialgia
د (**Synaesthesia**) سره درد شتون حالت.

Synaesthesialgic
د (**Synaesthesialgia**) اړوند صفت دئ.

Synaesthesis
د (**Synaesthesia**) حالت او پروسې منځ ته راتګ ګڼل شی.

Synaesthete
د (**Synesthesia**) یو حالت دئ.

Synaesthetic
د (**Synaesthete**) اړوند صفت دئ.

Synalgia
هغه درد چې د بدن په یوه برخه کې محسوس کېږی خو دا درد دبلې لورې برخې له کبله منځ ته راځی لکه د سپوغزی برخه کې د پښتورګو ډېرې شتون له کبله د درد احساس . د راجعه درد (**Referred Pain**) پنامه هم یادېږی.

Synalgic
د (**Synalgia**) اړوند صفت دئ.

Synallaxine
د زولوژی علم له مخې د منځنی او بهرنیو ګوتو ترمنځ نښتنه او درپردې شتون حالت بلل شی.

Synap
د (**Synaptic**) لپاره لنډه نښه ده

دا یو ډول کېمیاوی ماده ده چې د سایناپس په لېږد را لېږد کې پکار ېږی .

Synapsis

د حجروی مایوزیس وېشنې د پروفیز مرحله کې د نارینه او ښځینه هومولوګ کروموزومونو د جوړې ټکی په ټکی پیوستون بلل شی. د (Synapses) په انډول.

Synaptic

د (Synapses) اړوند صفت دئ .

- Synaptic Cell Adhesion Moleculeudy
د سایناپټیک اړوند حجرې التصاق په مالیکولی بڼه .

- Synaptic Cleft
د سایناپټیک اړوند برخې وازووالې / چاک کېدنه .

- Synaptic Conduction
د سایناپټیک اړوند برخې اړوند لېږدېدنه.

- Synaptic Gap
د سایناپټیک اړوند برخو تر منځ واټن او تشه برخه .

- Synaptic Junction
د سایناپټیک اتصال برخې اړوند .

- Synaptic Knob
د سایناپټیک برخې اړوند یوه ګردی کتله منځ ته راتګ .

- Synaptic Plasticity
د سایناپټیک اړوند پلاستیکی کېدنه او نرمښت .

- Synaptic Potential
د سایناپټیک پوټانسیال او قوت اړوند.

- Synaptic Resistance
د سایناپټیک برخې مقاومت اړوند.

- Synaptic Transmission
د سایناپټیک لېږد او رالېږد اړوند.

Synaptosome

په غشأ سره پوښل شوې هغه هره کڅوړه چې په یوه قندی محلول کې تر یوه برابر کچې کولو ورسته په مغزی نسج کې د اکسونی نهایت څخه آزاد ېږی.

Synarthrodia

د (Synarthrosis) په انډول.

Synarthrodial

د (Synarthrodial) اړوند صفت دئ .

Synarthrophysis

هر ډول کلک کوونکې او انجماد بخښونکې بهیر .

Synarthrosis

هغه بند یا مفصل لکه د سر کوپړی هډوکو تر منځ چې یو دبل سره ورغلی وی.

Synapis

د (Synapse) په انډول.

Synapomorphies

ساین اپومورفیس، هغه ډول (An Evolved Character Or Trait) چې د دوه یا ډېرو تکسونومیک ګروپ سره شریک بلل شی لکه ویښته (Hair) چې د (Marsupials, Primates, And All Other Taxa) سره په تی لرونکو کې ساینومورفیک بلل کېږی .

Synapse

د عصبی سیستم (Nervous System) هغه ځای او ټکې چې هلته نیورونونه (Neurones) او (Dendrites) سره نېږدې کاری ګاونډیتوب لری او هلته یو سیاله (Impulse) له یوه نیورون څخه بل هغه ته لېږدېږی چې دا کار د یوه کېمیاوی نیوروترانسمیټر له لارې تر سره کېږی چې د تحریک شوی نیورون (قبل العقدوی) د اکسونی پایلې څخه آزادېږی .

- Synapse Elimination
د سایناپس رااوچتول او لېرې کول د جراحی پواسطه .

- Synapse-Associated Protein
د سایناپس سره ګډ پروټین .

- Synapse-Associated Protein ^{102}
د سایناپس سره ګډ **102** پروټین .

- Synapse-Associated Protein ^{90}
د سایناپس سره ګډ **90** پروټین .

- Synapse-Associated Protein ^{90}
د سایناپس سره ګډ **90** پروټین .

- Synapse-Associated Protein ^{97}
د سایناپس سره ګډ **97** پروټین .

Synapsed

منځ ته راغلې سایناپس .جوړ شوې سایناپس .

Synapses

د هومولوګ ډول د کروموزومونو (Homologous Chromosomes) د یوځای کېدنې اړوند چې د نارینه او ښځینه قبل هستو (Pronuclei) کې د مایوزیس (Meiosis) په پیل کې منځ ته راځي . د (Synapsis) په انډول.

- Inhibitory Synapses
نهی کوونکې سایناپس ، پېزوانوونکې سایناپس .

Synapsin -I

Syncanthus
د سترګې د کاسې له محتویاتو سره د سترګې د ګاټې پیوستون

Syncephalus
هغه دوه غبرګونی جنینونه چې سرونه یې سره نښتې بڼه لری او یو مخ او دوه غوږونه لری.

Synchilia
په ولادی توګه د شونډو پیوستون او نښتې بڼه.

Synchiria
د لامسې حس یو ډول ناجوړتیا چې د بدن د یوه لوری د تحریک پر مهال محرک په دواړو لورو کې احساس کېږی.

Synchondroses
د (Synchondrosis) ګڼه شمېره ده.

Synchondrosis
هغه بند چې لکه د ماشومانو د هډوکو اتصال د غضروف سره څرګندوی دمخه تردې چې په هډوکی واوړی معمولاً دا غضروفی برخه د کاهل عمر کې په هډوکی اوړی.

Synchondrotomy
د یوه ساینکاندروزیس بند د پېلولو جراحی عملیات کړنلاره.

Synchronism
په یوه وخت (مهال) کې پېښېدنه.

Synchronous
د (Synchronism) اړوند صفت دئ.

Synchrony
په یوه وخت (مهال) کې د دوه پېښو داسې پېښېدنه چې ترمنځ یې یوه ثابته وقفه شتون ولری.

- Atrioventricular (AV) Synchrony
د زړه د فزیولوژی کې د هغه دهلېزی برېښنائی فعالیت چې ورپسې د بطینونو برېښنائی فعالیت منځ ته راځي.

- Bilateral Synchrony
د مغزو په یوه داسې ټکی کې په یوه وخت کې د ثانوی تحریک رامنځ ته کېدل چې د یوې ضایعې له کبله د تحریک د ټکی سره کاملاً مخالف وی.

Synchysis
دسترګو هغه حالت چې پکې دزجاجیه مایع (Vitreous Humour) برخه نرمښت اختیاروی.

- Synchysis Scintillans
د سترګې په زجاجیه کې د کولیسټرول لامبوزن کریستالونه چې د یوې ثانوی ناروغی په توګه رامنځ ته کېږی.

Syncliticism
د (Synclitism) په اندول.

Synclitic
د (Synclitism) اوند صفت دئ.

Synclitism
هغه مهال چې د مور حوصله او د جنین د سر پاڼه سره موازی پېښ شی،او همدارنګه د وینې د حجرې د هستې او سایتوپلازم هم مهاله اونورماله تکامل بلل شی.
د (Syncliticism) په اندول.

Synclonus
عضلی رېږد، د مختلفو عضلاتو پر لپسې کلونیک انقباضونه یا عضلاتی رېښدنه یا رېږدېدنه ، غوښن رېږد.

Syncopal
د (Syncope) اړوند صفت دئ.

Syncope
سېنکوپ ، ضعف ، د ماغزو منتشر بڼه ایسکېمیا یا وینې بهیر کمښت له کبله د هوښ لنډ مهالې له لاسه ورکولو حالت بلل شی. د (Fainting Fit) په اندول.

- Cardiac Syncope
د زړه د دهانې (Out Put) د کمښت یا اریتېمیا ګانو له کبله د خبرداری،ورکوونکو ننبنو سره یا له هغه پرته د هوښ ناڅاپی له لاسه ورکولو پېښېدنه ده چې زړه ته د وینې بهیر کمښت لامل ګرځی.

- Carotid Sinus Syncope
د ثباتی سینوسی سینکوپ چې د ثباتی سینوسی سنډروم کې منځ ته راځی.

- Convulsive Syncope
له مېرګی (صرعې) په لړه کچه کې له تشنجی حرکتونو سره یو ځای سینکوپ.

- Laryngeal Syncope
د (Tussive Syncope) په اندول.

- Stretching Syncope
هغه ډول سینکوپ چې د لاسونو له پورته کولو او بیا غزولو سره هغه مهال مل وی چې د ملاتیر بشپړ ډول د شا پلوته کوږ شوېوی.

بڼه ښکاری .

Syndectomy

د (**Syndactyly**) ناروغۍ د درملنې لپاره د ګوتو د ټبلولو په موخه جراحی عملیات تر سره کول بلل شی. د (**Peridectomy**) په انډول.

Syndesis

د بندونو و مفصلی سطحې لېری کولو جراحی عملیات چې پکې بندونه محدود کېږی او حرکتونه یې له منځه وړل شی. د (**Arthrodesis**) په انډول .

Syndesm-

دا یو مختاړې دئ او د (اوتارو ، وترونو ،**Ligaments**) یا لېګامنټونو ، (**Syndesmo-**) اړوند معنی بشپړوی.

Syndesmectomy

د یوه لېګامنټ د یوې برخې ویستل او جراحی قطع کولو کړنلاره.

Syndesmectopia

په یو غېر عادی ځای کې د یوه لېګامنټ ځای په ځای کول.

Syndesmitis

د لیګامنټ التهاب ، د وترونو التهاب . د سترګو د ملتحې التهاب .

Syndesmo-

دا یو مختاړې دئ او د (اوتارو ، وترونو ،**Ligaments**) یا لېګامنټونو ، سترګو ملتحې، (**Syndesm-**) اړوند معنی بشپړوی.

Syndesmography

د لېګامنټونو تعریف یا توصیف . د اوتارو انځور / تصویری بڼه ښوول .

Syndesmology

د بندونو یا مفصلونو اړوند علمی څېړنو څانګه ده ، بند پېژندنه . د (**Arthrology**) په انډول.

Syndesmoplasty

د لېګامنټونو ترمیمی جراحی عملیات کړنلاره.

Syndesmosis

هغه ډول بند چې پکې هډوکی د فیبروزی منضمی نسج په مټه چې یوه بین العظمی غشأ یا لېګامنټ جوړوی سره نښلی . د بندونو د هډوکو کلکووونکی او نښلوونکی لېګامنټونو اړوند پروسه .

- Swallow Syncope

هغه ډول سینکوپ چې د یوې مړې (کپ) ټبرولو (بلع) سره یوځای وی چې د ناروغ د دهلېزی بطینی انتقال څخه سرچینه اخلی کوم چې د واګوس عصب پواسطه یې منځګړیتوب کېږی .

- Tussive Syncope

د ټوخی سېنکوپ، حنجروی سېنکوپ ، د هوښ لنډمهالې له لاسه ورکول دی چې د ټوخی د حملو سره مل توګه منځ ته راځي . د (**Laryngeal Syncope**) په انډول.

- Vasovagal Syncope

هغه ډول سینکوپ (ضعف) چې د واګوس عصبی او رګونو تغیر له امله پېښېږی .

Syncopic

د (**Syncope**) اړوند صفت دئ .

Syncytial

د سینسیشیوم (**Syncytium**) پورې اړوند یا هغه سره په تړاو کې.

Syncytioma

د (**Syncytial**) اړوند انډومتریت التهابی ټوموری ناروغی.

- Syncytioma Malignum

خبیث بڼه سینسیشیوما ټوموری کتله ، کوریوکارسینوما .

Syncytiotrophoblast

د ټروفوبلاست بهرنۍ سینسیشیال طبقه .

Syncytium

ګڼ شمېر هستو لرونکو پروتوپلازمی کتلې چې څو حجرو د ګډېدلو له کبله منځ ته راځی. په متداوم ډول د عضلی فایبرونو د نسج اوږده کتله.

Syndactyl

د (**Syndactyly**) په انډول .

Syndactylous

د (**Syndactyly**) اړوند صفت .

Syndactyly

ولادی ډول نیمګړتیا ده چې پکې د لاس یا د پښو د دوه یا ګڼ شمېر ګوتو تر منځ د پردو پاتې کېدل چې سره نښلېدلې بڼه شتون لری . د (**Syndactylism**) په انډول.

Syndactylism

ولادی ډول نیمګړتیا ده چې پکې د لاس یا د پښو د دوه یا ګڼ شمېر ګوتو تر منځ د پردو پاتې کېدل چې سره نښلېدلې بڼه شتون لری او پکې ګوتې په پرده لرونکې

Syndesmotomy

د یوه لېګامنټ د یوې برخې ویستل او جراحی قطع کولو کړنلاره.

Syndrome

سنډروم ، مجموعة الاعراض ، د اعراضو (نښونښانو هغه ډله چې په ګډ ډول رامنځ ته کېږی چې د ببلابېلو سیستمونو سره تړاو لری. د هر ډول رنځور ډوله حالت د نښو نښانو ټولګه چې د ناروغیو څرګندونه کوی ، دناروغیو د نښو نښانو مجموعه.

- Aarskog Syndrome

دا یو ارثی بڼه لېږدېدونکې (**Hereditary X- Linked**) سره اړوند حالت دئ چې د [**Ocular Hypertelorism**, مخ لوری ته د د پوزې سوریو راوتلو (**Anteverted Nostrils**)، پورتنۍ پلنه شونډه (**Broad Upper Lip**) ،د تناسلي آلې په سر د پوستکی غزېدلو (**Peculiar Scrotal "Shawl" Above The Penis**) او کوچنیو لاسونو (**Small Hands**)] نښوشتون په مرسته پېژندل کېږی .د (**Aarskog- Scott Syndrome**) په انډول .

- Aarskog- Scott Syndrome

د (**Aarskog Syndrome**) په انډول .

- Acquired Immmun Deficiency Syndrome

یوه اپیډیمیکه لېږدېدونکې د کسبی ډول معافیت له لاسه تلنې او نشتوالی سنډروم ناروغی ده چې یو ډول د ویروسونو (**Hiv**) له کبله د ناروغیو په وړاندې د توان او قدرت ظرفیت کمښت مومی او ناروغ نشی کولای د ناروغیو په وړاندی مقاومت وکړی او ناروغی شدیده بڼه غوره کوی لنډه نښه یې (**AIDS**) ده.

- Acute Brain Syndrome

د دماغ پورې اړوند ګڼ شمېر اعراض دی چې د (**Delirium**) سره مل وی د (**Delirium**) په برخه کې وګورئ.

- Acute Coronary Syndrome

حاد اکلیلی سنډروم ، هغه ډول تصنیف د ناروغیو چې پکې (**Unstable Angina**) غیر معاوضوی ډول شتون لری او ځینې وختونه د (**Q Wave Infarction**) احتشأ هم ورسره ګډه بڼه شتون لری.

- Acute Radiation Syndrome

حاد تشعشعی سنډروم ، هغه ډول سنډروم چې پکې ټول بدن د (**1 Gray**) اندازې څخه زیاتې پیمانې آیونایز وړانګو (**Ionizing Radiation**) سره مخامخ کېږی اوغوره نښې نښانې یې د وړانګو د ډوز پورې ترلې دئ چې پکې (**Erythema, Nausea And Vomiting , Fatigue , Diarrhea , Petechiae , Bleeding From The Mucous Membranes , Hematologic Changes , Gastrointestinal Hemorrhage , Epilation , Hypotension , Tachycardia And Dehydration**) په نښې نښانې شتون لری مرینه نښائي د څو ساعتونو یا اونیو په لړ کې پېښ شی.

- Acute Respiratory Distress Syndrome(ARDS)

د (**Adult Respiratory Distress Syndrome**) په انډول.

- Acute Retinal Necrosis Syndrome

د سترګو د شبکیې برخې حاد نکروزی بڼه التهاب چې د (مشیمې ، د شبکیې له نور صدمو او د لید د شدیدې بڼې ورکېدنې) سره مل وی لامل ېېوېروسی دئ .

- Adams Stockes Syndrome

هغه ډول سکوپ چې د دوره ئې بڼې زړه ودرېدنې سره وی چې د زړه نورمال ضربان نه رامنځ ته کېږی له کبله ځینې مهالونه د قلبی بطینی فیبریلېشن (**Ventricular Fibrillation**) سره یو ځای او ځینې وخت ګوښې وي پېښېږی.

- Addisonian Syndrome

هغه ډول سندروم یا د اعراضو مغلق شتون چې د فوق الکلیوی قشر د عدم کفائی (**Adrenocortical Insufficiency**) له امله منځ ته راځی .

- Adie's Syndrome

د ټینډونونو رفلکسونو د نشتوالی یا کمزورتیا (**Absence یا Diminution of Certain Tendon Reflexes**) سره یوځای ټونیک کسې (حدقې مقویت **Tonic Pupil**) بلل شی.

- Adrenogenital Syndrome

تناسلی اډرینال سنډروم ، د سنډرومونو هغه ډله چې د ادرینال د وظیفوی ناجوړتیا له کبله پکې نارینه نامناسب وینښتان شنه کېږی یا ښځینه چې نښې رامنځ ته کېږی همدا راز د جنسی غدواتو څخه د جنسی هورمونونو تولید هم تر اغېزې لاندې راځی .

- Adult Respiratory Distress Syndrome

کاهل تنفسی فشاری سنډروم ، دا هغه ډول سنډروم دئ چې پکې د تنفسی سیستم د سږو د بین البینی او اسناخو لازو (**Interstitial** او **Alveolar Edema**) شدیده ناڅاپه اذیما چې معمولاً تر اولیه تروما څو وروسته منځ ته راځی او د د سږو د (هایپوکسیا ، سنخی صدمی **Alveolar Injury**) د کېپیلارونو د نفوذیه قدرت زیاتوالی (**Increased Capillary Permeability**) له کبله منځ ته راځی لنډه نښه یې (**ARDS**) ده.

- Aec Syndrome

د (**Hay- Wells Syndrome**) په انډول .

- Afferent Loop Syndrome

دتر ګاستروجیجینوستومی وروسته د پروګزیمال کړی، وروسته

او سترګو کوږوالې (Nystagmus) او مقدم ډول مرکزی ړوندوالې (Loss Of Central Vision) ، کوڼوالې (Deafness) چاغښت (Obesity) شکرې ناروغۍ (Diabetes Mellitus)] نښې نښانې په ګډ ډول سره لیدل شی.

- Amnestic Syndrome

دا روانی اختلالاتو یو ډول ناروغۍ سنډروم دئ چې پکې د حافظې له منځه تګ په نورمال ډول شعوری حالت کې شتون لری او الکهول څښونکو اعتیاد لرونکو ناروغانو چې ډېره پیمانه الکهول څښی منځ ته راځی .

- Amniotic Band Syndrome

دا یو ډول سنډروم دئ چې پکې یو لړ ولادی سؤتشکلات لکه [په بېلابېلو درجو سره د ګوتو د کړیو محدودیت (Minor Constriction Rings) او د ګوتو تر منځ لمفاوی اذیما (Lymphedema Of The Digits To Complex) ، او (Bizarre Multiple Congenital Anomalies)] چې د جنینی دورې د امنیوټیک اړیکې شلېدنې و پرېکون سره د یوه غړی تړاو له کبله پېښېږی.

- Angelman's Syndrome

د (Happy Puppet Syndrome) په انډول.

- Angular Gyrus Syndrome

- هغه ډول سنډروم چې دغالب لورې له مخې په انګولار تلفیف (Angular Gyrus) کې د احتشأ اونورو ضایعاتو له کبله منځ ته راځی او [د کلیماتو په لوستلو کې د نیمګړتیا (Agraphia) او خپلو فکرونو په انځورونو کې د ستونزې (Alexia)] له لارې پېژندل شی.

- Ankyloblepharon-Ectodermal – Dysplasi –Clefting Syndrome

د (Hay- Wells Syndrome) په انډول.

- Anorexia –Cachexia Syndrome

د سرطانی ناروغیو په وړاندې د بدن سیستمیک غبرګون له امله (بې اشتهائی ، مفرط بڼه ډنګروالې) یوه اړیکې لرونکې حالت چې پکې (خوارځواکی ، وزن بایلنه ، عضلاتی کمزورتیا ، اسیدوزیس او ټوکسیمیا) په مټه پېژندل شی.

- Anterior Cord Syndrome

د (Anterior Spinal Artery Syndrome) په انډول.

- Anterior Interosseous Syndrome

پدې سنډروم کې ګڼ شمېر نښې لکه [په قدامی بین العظمی عصب کې د کسر یا څیرېدنې (Fracture Or Laceration)] له کبله د یوې ضایعې له امله منځ ته راځی .

- Anterior Spinal Artery Syndrome

د نخاع د قدامی برخې ته د موضعی صدمې رسېدنې څخه زېږنده نښې چې د [بشپړ فلج (Complete Paralysis) ، د درد او احساس کمښت (Hypalgesia And Hypesthesia) تر د صدمې کچې پورې د حسیت کمېدنې څخه عبارت دئ خود خلفی ستون حسونه تر یوه حده (Touch, Position, Vibration) سره خوندی پاتې کېږی]

د پروګزیمال کړۍ (اثنی عشر او جیجینوم) مزمن نسبی بندښت چې د اثنی عشر د (آزادېدو ، درد او له خوړلو وروسته د اثناعشر اتساع د زړه بدوالی) لامل ګرځی.

- Ahumada –Del Castillo Syndrome

د ګونادوتروپین (Gonadotropin) د کم افراز له کبله د (Galactorrhea-Amenorrhea Syndrome) شتون بلل شی.

- Akinetic –Rigid Syndrome

هغه ډول عضلی شخی چې د حرکتونو د مختلفو درجو پڅوالی له کبله پېښېږی او د (Parkinsonism And Disorders Of The Basal Ganglia) حالاتو کې لیدل شی.

- Alagille Syndrome

دا یو ډول ارثی / ولادی اړوند لېږدېدونکې د زېړی ناروغی ده چې

د (Neonatal Jaundice, Cholestasis With Peripheral Pulmonic Stenosis, Unusual Facies, And Ocular, Vertebral, And Nervous System Abnormalities)

سره مل وی کوم چې د داخل الکبدی د صفراوی بهېدنې (Paucity Or Absence Of Intrahepatic Bile Ducts) او قناتونو کمښت څخه سرچینه اخلی .

- Albright's Syndrome

دا سنډورم د [ګڼ شمېرهډوکیز فیبروزی ډیسپلازیا (Polyostotic Fibrous Dysplasia) ، دداغونو په څېر جلدی تصبغ (Patchy Dermal Pigmentation) او انډوکرینی وظیفوی اختلالاتو ناجوړتیاوو (Endocrine Dysfunction)] سره مل وی .د (Albright's Mc Cune –Sternberg Syndrome) په انډول .

- Albright's Mc Cune –Sternberg Syndrome

د (Albright's Syndrome) په انډول .

- Aldrich's Syndrome

د (Wisckott –Aldrich's Syndrome) په انډول .

- Allgrove's Syndrome

دا یو ډول ارثی / ولادی اړوند لېږدېدونکې ناروغی ده چې د [اوښکو د نشتون (Alacrimation) ، د اکلازی (Achalasia) او ګلوکو کورټیکوئیدونو کمښت (Glucocorticoid Deficiency)] سره یوځای لیدل کېږی.

- Alport's Syndrome

دا یو ډول ارثی / ولادی اړوند لېږدېدونکې ناروغی ده چې د [پرمختلونکی ډول کوڼوالی (Progressive Nerve Deafness) ، پرمختلونکی پیلونفریټ (Progressive Pyelonephritis) یا ګلومیرولونفریټ (Glomerulonephritis) او ځینې وخت د سترګو نیمګړتیاوو (Ocular Defects)] مل وی.

- Alström Syndrome

دا یو ډول ارثی / ولادی اړوند لېږدېدونکې ناروغی سنډروم دئ چې د [شبکیې صباغی کېدنه (Retinitis Pigmentosa)

- **Battered-Child Syndrome**

په ماشومانو کې د وهلو ټکولو له کبله د ګڼ شمېر تراوماټیک ضایعاتو (د نرمو انساجو ، هډوکو او تحت الډورائی برخو) کې د هیماټوما شتون بلل شی.

- **Beckwith-Wiedemann**

یوه ارثی ناروغی سنډورم دئ چې د[نامه غوتی فتق (**Exomphalos**) د ژبې لویوالی (**Macroglossia**) ، د وني ببحده لوئېدنې (**Gigantism**) چې ځینې وخت د ادرینال غدې قشر ضخامې (**Adrenocortical Cytomegaly**) ، د حشوی ضخامې (**Visceromegaly**) او د کلیوی مُخ برخې ډیسپلازیا (**Dysplasia Of The Renal Medulla**)] سره مل وی.

- **Behçet's Syndrome**

د سترګې د [کورګی یا مشیمې شدید التهاب (**Severe Uveitis**) او د شبکیې رګونو التهاب (**Retinal Vasculitis**) ، بصری عصب ضمور (**Optic Atrophy**) او د خولې او تناسلی برخې د آفتوز بڼې ته ورته التهاب او ځینې وختونه منتشر رګیز التهاب (**Diffuse Vasculitis**)] سره مل وی او معمولاً نارینه جنس اخته کوی.

- **Bernard-Soulier Syndrome**

هغه ارثی بڼه لږډبدونکې دوینې تحثری تشوش او اختلالی ناروغی ده چې پکې د (**Mild Thrombocytopenia, Giant And Morphologically Abnormal Platelets , Hemorrhagic Tendency, Prolonged Bleeding Time, And Purpura**) په څېر ننبې لیدل کېږی.

- **Bing-Neel Syndrome**

پدې سنډروم کې د مرکزی عصبی سیستم د (**Waldenström's Macroglobulinemia**) ننبې ننبانې چې ښائی د [انسفالوپتي (**Encephalopathy**) ، وینې بهېدنې (**Hemorrhage**) مغزی سکتې (**Stroke**) ، اختلاج (**Convulsions**) ، دیلیریوم (**Delirium**) او کوما (**Coma**)] شتون لری.

- **Birt-Hogg-Dubé Syndrome**

د ویښتانو د سیستم د اکتودرمی (**Ectodermal**) او مېزودرمی (**Mesodermal**) برخو ارتشاحی بڼه ډېرښت یوه ارثی ناروغی ده چې د (**Multiple Trichodiscomas, Acrochordons, Fibrofolliculomas** او **Head, Chest, Back, And Upperlimbs**) په بڼه د برخو کې منځ ته راځی.

- **Blackfan-Diamond Syndrome**

ولادی بڼه هایپوپلاستیک کمخونی ، د (**Congenital Hypoplastic Anemia**) په اندول.

- **Blue Toe Syndrome**

ایسکېمیک ګانګرین او جلدی نکروزیس چې د پښو د د ګوتو د شینوالي (آبی رنګ) کېدنې له مخې پېژندل کېږی چې پکې شریانی انسداد (**Emboli, Thrombi, Injury**) له کبله منځ ته راځی.

خو داد سره په تړاو پذربعه پېژندل شی.

- **Apert's Syndrome**

دا یو ډول اوټوزومال غالب بڼه تشوشات دی چې د[(**Acrocephaly**) او (**Syndactyly**)] ننبو پذربعه پېژندل شی او ځینې وختونه د بدن د اسکلېټي -عضلاتی جوړښت د سؤشکل او عقلی زوال سره مل وی . او د (**Acrocephalosyndactyly, Type I**) یو ډول دئ.

- **Asherman's Syndrome**

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې معنده بڼه [امینوریا (**Amenorrhea**) ، ثانوی عقیموالي (**Secondary Sterility**)] د داخل الجنینی دوري التصاقاتو او (**Synechiae**) له امله او معمولاًد رحمی کورټاژ ونو له کبله پېښېږی.

- **Asperger's Syndrome**

دا د روانی ناروغیو وده موندونکې پرمختللي (**Autistic Disorder**) اختلال دئ چې پکې په یوه خیالی کس کې د مهارت یا مسلک له حد څخه وتلې وده او زیادښت.

- **Banti's Syndrome**

احتقانی ډول طحالی ضخامه . احتقانی سپلینومېګالی.

- **Barrett's Syndrome**

دا د مری د ښکتنی برخې قرحوی زخم دئ چې تر ډېره حده د هغې د سپزم او تنګوالی سره مل وی چې د (**Columnar-Linedepithelium**) پکې شتون لری چې ښائی د وظیفوی ډوله مخاطی نسج حجرې ، جداری حجرې (**Parietal Cells**) یا (**Chief Cells**) پکې وی چې دا حجرې د (**Normal Squamous Cell Epithelium**) په عوض منځ ته راځي.

- **Bartter Syndrome**

هغه سنډروم د هایپرټروفی او جوکستاګلومېرولی (**Juxtaglomerular Cells**) حجرو هایپرپلازیا په وراندې د یو ارثی ډول ثانوی هایپرالدوسټیرونیزم ناروغی ده چې د [وینې نورمال فشار د اذیما په نشتوالی کې د هایپوکلیمیک الکلوزیس (**Hypokalemic Alkalosis**) ، د رنین (**Renin**) غلظت لوړ والی او آنجیو ټانسین (**Angiotensin- Ii**) او براډی کاینین (**Bradykinin**) د غلظت د لوړ والی سره مل وی] او دا ډېر مهال په ماشومانو کې لیدل شی.

- **Basal Cell Nevus Syndrome**

دا یو غالب بڼه لرونکې اوټوزومال سنډروم دئ چې د ژوند په لومړیو کالونو کې د ګڼ شمېر بازال کارسینوما ګانو (**Basal Cell Carcinomas**) سره چې د [پوستکی ، هډوکو ، عصبی سیستم ، سترګو او تناسلی سیستم د نیمګړتیاوو] سره په ګډ ډول رامنځ ته کېږی.

- **Bassen-Kornzweig Syndrome**

په وینه کې د ببټالایپوپروټینیمیا نشتوالي ، د (**Abetalipoproteinemia**) په اندول.

ګرځی.

- Caffey's Syndrome

د شیدې خوړونکو ماشومانو اړوند قشری هایپراوستیوزیس ، د (Caffey-Silverman Syndrome او Infantile Cortical Hyperostosis) په انډول .

- Canada-Cronkhite Syndrome

د (Cronkhite-Canada Syndrome) په انډول.

- Capillary Leak Syndrome

د رګونو څخه بهر فضأ ته د رګونو د دننه څخه د پلازمائی مایه او پروټینی موادو راوتل چې ځینې وختونه وژونکی ټیټ د وینې فشار او د غړو کم شوی پرفیوژن لامل ګرځی .

- Carcinoid Syndrome

د کلېنیکی نښو نښانو ګډه مجموعه ده چې د کارسینوئید تومور سره یو ځای وی او ځانګړنې یې پدې ډول وی چې پکې [د پوستکی شدیده وینه ډنډ شوې سیانوټیکه برخه چې د څو دقیقو څخه تر څو ساعته پورې وخت نیسی ، پرلپسې اوبلن غایطی مواد ، دقصباتو تنګېدنی بریدونه ، د وینې فشار ناڅاپی سقوط ، اذیما ، حبن] شتون لری او د ځینې توموری فعاله بیالوژیکه مواد لکه (سیروټونین Serotonin ، پروستاګلانډین Prostaglandins او نور) په څېر افرازېږی.

- Carotid Sinus Syndrome

هغه ډول سینکوپ چې ځینې وختونه د تشنج سره یوځای وی او هغه مهال چې په یوه یا دواړو کاروټید سینوسونو باندې د فشار راتلو له کبله د هغه دریفلکس د بېدریغه زیات فعالیت له امله منځ ته راځي.

- Carpal Tunnel Syndrome

په لاس او د ګوتو برخو کې (درد ، سوځېدنې احساس ، یا د مېږیان کېدنې احساس) منځ ته راتګ چې ځینی وختونه څنګلې برخې ته هم غزېږی او د [مړوند د کانال (Carpal Tunnel) د میډیان عصب (Median Nerve) تر فشار راتلو ، تکراری حرکتونو(Repetitive Motion) ، ساینویټ(Synovitis) ، تومور (Tumor) ، روماتوئیډ آرټریټ (Rheumatoid Arthritis) ، امایلو ائیډوز یس (Amyloidosis) ، د نهایاتو لوئېدنې (Acromegaly) او شکرې ناروغۍ (Diabetes)]له کبله منځ ته راځي .

- Carpenter's Syndrome

یوه ارثی بڼه لېږدېدونکی ناروغی ده چې د مغلوبه اوټوزومال (Autosomal Recessive) اختلال په بڼه منځ ته راځی چې د ګڼ شمېر نښو لکه [اکروسفالی (Acrocephaly) ، پولی ساینډکټیلی (Olysyndactyly) ، براخیډکټیلی (Rachydactyly)، خفیفه چاغېدنې (Mild Obesity) ، عقلی زوال (Mental Retardation) ، د مرغېړیو کوچنیوالې (Hypogonadism)او نورو انومالیو] سره د پېژندنې وړ ګرځی . د (Acrocephalopolysyndactyly, Type Ii) په انډول .

- Central Cord Syndrome

د رقبی (غاړې) نخاع د مرکزی برخې ترضیض چې د په پورتنیو هډونو کې ډېر شدید ضعف یا فلج لامل ګرځی او د (پټالوژیک

- Boerhaave's Syndrome

د مرۍ په خپل سر (بنفسهی) ډول څیرې کېدنه.

- Börjeson's Syndrome

یو ارثی سنډروم دئ په (X-Linked Recessive Trait) پورې تړلې دئ او مغلوب صفت لری چې د [شدید ډول ذهنی پڅوالې (Mental Retardation) ، صرعې (Epilepsy) ، هایپوګوناډیزم (Hypogonadism) ، هایپومیټابولیزم (Hypometabolism) ، وصفی چاغوالې (Obesity) ، تحت الجلدی نسجی پړسوب چې د مخ او غوږونو غټوالې منځ ته راوړی)] نښې نښانو سره مل لیدل شی.

د (Börjeson-Forssman-Lehmann Syndrome) په انډول .

- Börjeson-Forssman-Lehmann Syndrome

د (Börjeson Syndrome) په انډول.

- Bowel Bypass Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې ډرماټوز (Dermatosis) او مفصلی التهاب (Arthritis) چې ځینې وختونه د (Jejunoileal Bypass) عملیات وروسته منځ ته راځی او دا احتمالاً د په بېله او بای پاس شوې کولمه کې د باکتریاګانو د بې دریغه ودې په وړاندې د معافیتی غبرګون (Immune Reponse) له کبله منځ ته راځی.

- Bradbury-Eggleston Syndrome

دا یو ډول پرمختلونکې سنډروم دئ چې پکې پرته لدې چې ټاکی کارډیا منځ ته راشی د دوضعیت بدلون اړوند د وینې فشار کمښت په پرمختلونکی ډول پېښېږی چې د [بصری او لیداختلال (Visual Disturbances) ، عقامت (Impotence) ، د خولو کمښت (Hypohidrosis) ، د مېټابولیزم د کچې کمښت (Lowered Metabolic Rate) ، سرڅرخی (Dizziness) ، سینکوپ (Syncope) ، ټیټ ضربان (Slow Pulse) د محیطی رګونو د تقلص و قوت کمښت] په څېر نښې سره مل لیدل کېږی.

- Bradycardia-Tachycardia Syndrome

دا د نامنظم سینوسی ټاکی کارډیا سنډورم او کلېنیکی څرګندونکې حالت دئ چې پکې متناوب ډول براډي ټاکی کارډیا په ګډ ډول لیدل کېږی . د (Brady-Tachy Syndrome) په انډول.

- Brown-Séquard Syndrome

په یوه لوری کې د توپیر او بندونو د حس بایلنه او فلج او په بل لورې کې د تودوخی او درد حس بایلنه چې نیمائی نخاعی تر ضیض حالت کې منځ ته راځی .

- Brown-Vialetto-Van Laere Syndrome

پر مختلونکې بصلی فلج (Bulbar Palsy) په بڼه یو ارثی سنډروم چې د مغزی اعصابو له هر ډول ترضیض او صدمې سره مل وی.

- Budd-Chiari Syndrome

د کبد وریدونو انسدادی عرضی سنډروم چې د [کبدی ضخامې (Hepatomegaly) ، ګېډې درد او حساسیت ، پرته له درملنې معند ډول حبن (Intractable Ascites) ، لږ او خفیف ژیړې (Mild Jaundice) او باب فرط فشار (Portal Hypertension) او کبدی عدم کفایه (Liver Failure)] لامل

- Charcot-Marie Syndrome

د (Charcot-Marie-Tooth Disease) په انډول .

- CHARGE Syndrome

دا یو ډول سنډروم دئ چې د C(Oloboma), H(Eart Defects), A(Tresia), R(Etardation), G(Enital),E(Ar)] اړوند تورو څخه جوړ او د هغوی لپاره لنډه نښه ده چې ارثی (X-Linked) بڼه لېږدېدونکي ولادی سنډروم دئ چې پکې د [د کلوبوما (Coloboma)، د زړه جوړښتېزه انومالی (Heart Defects) د کوانا اتریزیا (Choanal Atresia) ، د ودې روسته والې (Growth Retardation) ، د تناسلی غړو هایپوپلازیا (Genital Hypoplasia) ، او د غوږ انکشافی نیمګړتیا او د کوږوالی (Ear Abnormal Development With Deafness)] په څېر نښې شتون لری .

- Chédiak-Higashi Syndrome

یوه ارثی بڼه لېږدېدونکی ناروغی ده چې د مغلوبه پټ اوټوزومال (Autosomal Recessive) سیستېمیک اختلال په بڼه منځ ته راځی چې پرمختلونکي او وژونکي کېدلای شی چې د ګڼ شمېر نښو لکه [دسترګو او پوستکی د البینیزم (Oculocutaneous Albinism) ، په لوکوسیټونو کې د لویو انکلوژن Massive Leukocyte Inclusions (لایزوزومونه Giant Lysosomes) ، د بدن په ډېرو هډونو کې د هیستوسایټونو (Histiocytic Infiltration) له ارتشاح ، پان سایټوپینیا (Pancytopenia) ، د کبد او طحال ضخامه (Hepatosplenomegaly) ، مزمن انتاناتو (Recurrent Or Persistent Bacterial Infections) او خبیثو لمفوما (Malignant Lymphoma) باندې اخته کېدنې] د احتمالی چانس سره به مل وی.

- Chinese Restaurant Syndrome.

په چینائی خوراکی توکو کې د ډېر کارېدونکی مونو سوډیم ګلوتامېټ (Monosodium Glutamate) د خوړلو له کبله د [شریانونو لنډمهالی آزادېدنې چې په سرکې د ضربانونو د احساس ، چوخېدوونکې سپکه سردردی (Throbbing Head) ، سردردی (Headache) ، سرسپک والې (Lightheadedness) ، د ژامنې د شخېدو د غاړې او د اوږدو او ملا درد (Backache)] په مټه د پېژندنې وړ ګرځی.

- Chotzen's Syndrome

یوه ارثی بڼه لېږدېدونکی غالبه اوټوزومال ناروغی ده چې د (Acrocephalosyndactyly, Type Iii) اختلال په بڼه منځ ته راځی چې د ګڼ شمېر نښو لکه [اکروسفالی ،Acrocephaly ، او سایندکټیلی (Syndactyly) ډول چې لومړی خفیف وروسته بیا د هایپر تیلوریزم (Hypertelorism) ، جفنی سقوط (Ptosis) او ځینې وخت ذهنی روسته پاتې والې (Mental Retardation)] منځ ته راځی

- Christ-Siemens-Touraine Syndrome

د (Anhidrotic Ectodermal Dysplasia) په انډول .

بدلونونو ، وینې بهېدنې ، اذیما) له کبله پېښېږی .

- Cerebrocostomandibular Syndrome

یوه ارثی بڼه لېږدېدونکی ناروغی ده چې د[شدید ډول لاندینی ژامنې غېر عادی کوچنیوالی ، د پُښتیو او فقراتو د نیمګړتیا ، د تالو نیمګړتیا Palatal Defects ، تر زېږون دمخه او وروسته د ودې نیمګړتیا ، عقلی زوال Mental Retardation] نښو پذېرېعه پېژندل شی.

- Cerebrohepatorenal Syndrome

یوه ارثی بڼه لېږدېدونکی ناروغی ده چې د مغلوبه اوټوزومال (Autosomal Recessive) اختلال په بڼه منځ ته راځی چې د [مخ او سر د کوږې انومالی (Craniofacial Abnormalities) ، هایپوټونیا (Hypotonia) کبدی ضخامه (Hepatomegaly) ، مولتی سیستیک پشتورګی (Polycystic Kidneys) ، ژیړي (Jaundice)] په څېر نښې نښانې او ښائی مړینه د ماشوم توب په لومړی سر کې (Early Infancy) کې منځ ته راشی.

- Cervical Rib Syndrome

د رقبی پښتیو (Cervical Rib) له کبله توراسیک سنډروم ، د (Thoracic Outlet Syndrome) په انډول.

- Cervical Disc Syndrome

دا هغه ډول سنډروم دئ چې د غاړې د نخاعی عصب جذری برخې د غېر نورمال حالت (فشار ، ترضیض) له کبله د [غاړې دردونه ، عضلاتو ضعیفوالې او بې حسی (Paresthesia)] په څېر نښې نښانې پېښېږی. د (Cervical Root Syndrome) په انډول

- Cervical Root Syndrome

د (Cervical Disc Syndrome) په انډول

- Cestan's Syndrome

دا یو ډول سنډروم دئ چې د [یوه اړخیزه مقابل لورې فلج (Contralateral Hemiplegia) ، یوه اړخیزه مقابل لورې بې حسی (Contralateral Hemianesthesia)، یوه اړخیزه جنبی نبضان (Ipsilateral Lateropulsion) ، هیمی اسینرجیا (Hemiasynergia) یا ناهمغږی کېدنې ، هرنر سنډروم (Horner's Syndrome) ، یوه اړخیزه حنجری فلج (Ipsilateral Laryngoplegia) نښې نښانې لیدل شی] چې دا به د [په هرمی تګ لورو (Pyramid) ، حسی لارو (Sensory Tract) ، ښکتنی مخیخی پیډنکل (Inferior Cerebellar Peduncle) ،امبیګوس هستې (Nucleus Ambiguus) او حدقی - عینی مرکز (Oculopupillary Center)] کې د آفتونو او ناروغیو شتون له کبله منځ ته راځی . د (Cestan-Chenais Syndrome) په انډول .

- Cestan-Chenais Syndrome

د (Cestan's Syndrome) په انډول .

- Charcot's Syndrome

د پرلپسې ګوډ ګوډ تګ (نګوښېدنه) چې پکې ناروغ په متناوب ډول د تګ ستوزه لری او پښه په ځان پسې کړه کشوی ، د (Amyotrophic Lateral Sclerosis) او (Intermittent Claudication) په انډول .

قشری برخې سلیم تومورونو Benign Tumor په لږ کې منځ ته راځی.

- Cri Du Chat Syndrome

دا ارثی ډول سنډروم دئ چې پکې [Hypertelorism, Microcephaly, Severe Mental Deficiency] او پیشو ته ورته آواز Plaintive Catlike Cry په څېر] نښې نښانې به د (Short Arm Of Chromosome 5) د ورکېدنې او لېرې کولو له کبله شتون ولری.

- Crigler-Najjar Syndrome

دا ارثی ډول سنډروم دئ چې په اوټوزومال مغلوب ډول لېږدېږی او د غیر هیمولایټیک ژیړی د کبدی انزایمونو ګلوکورونیډ ټرانسفریز (Glucuronide Transferase Enzyme) انزایم نشتوالی له امله منځ ته راځی او په وصفی ډول په وینه کې د غېرمزدوج بلېروبین (Unconjugated Bilirubin) لوړه سطحه په وینه کې شتون لری او (Kernicterus) د مرکزی عصبی سیستم شدیده ناروغی پیښوی.

- Syndrome of Crocodile Tears

بنفسهی ډول اوښکې بهېدنه چې د خوراک پرمهال په نورمال حالت کې د لاړو بهېدنې او د مخ ګوزنې (وجهی فلج Facial Paralysis) سره په ګډ ډول منځ ته راځي چې د اوښکو غدې (Lacrimal Glands) او لاړو غدواتو (Salivary Glands) د عصبی ځانګې او رشتې د ریجنریشن اختلال او تګ لورې ښځایه توب په صورت کې منځ ته راځي.

- Cronkhite-Canada Syndrome

دا یو ډول ارثی کورنیز پولیپوزیس (Familial Polyposis) دئ چې د هضمی کانال کې منځ ته راځی او د اکتوډرم د نیمګړتیاوو لکه (Alopecia And Onychodystrophy) سره مل وی.

- Crow-Fukase Syndrome

د (Poems Syndrome) په انډول.

- Crush Syndrome

دا هغه ډول سنډروم دي چې پکې د بدن د یوې برخې د انساجو ځپل کېدنې (Crushing Of Large Muscle Mass) له کبله چې پکې د پښتورګو نه بریالیتوب (Renal Failure) د عضلاتو ځخه د مایوګلوبین آزادېدنې له امله منځ ته راځی او د [اډیما (Edema) ، د متیازو کمښت (Oliguria) او نورې نښې] په څېر نښې نښانې پکې شتون لری.

- Cruveilhier-Baumgarten Syndrome

پدې سنډروم کې د (Cirrhosis) او (Portal Hypertension) دواړه په ولادی ډول د (Umbilical And Paraumbilical Veins) وریدونو د واز پاتې کېدنې (Congenital Patency) سره مل منځ ته راځي

- Cushing's Syndrome

- Chronic Fatigue Syndrome

دایمی نا توانه کوونکې سټړیا چې د پیل یې دومره ډېر وخت نه وی تېر شوې او د جسمی فعالیت د شدید کمښت سره یو ځای وی او له بل پلوه د[عضلاتی کمزورتیا (Muscle Weakness) ، ستونی درد (Sore Throat) ، تېتې درجې تبې (Mild Fever) حساسو لمفاوی غوټو (Tender Lymph Nodes) اظطرابی سرخوږ اودرد (Headaches) ، خپګان (Depression)] په ګډ ډول نښې نښانې شتون لری.

- Churg-Strauss Syndrome

د (Allergic Granulomatous Angiitis) په انډول ، الرژیک ګلومیرولو نفریټ چې پکې نکروزی واسکولیټ سیستمیک (Systemic Necrotizing Vasculitis) بڼه چې پکې په غالبه بڼه سږو شمولیت (Prominent Lung Involvement) هم لیدل شی.

- Chylomicronemia Syndrome

د (Familial Hyperchylomicronemia) په انډول.

- Coffin-Lowry Syndrome

هغه ډول سنډروم د (X-Linked) ارثی لېږدېدونکی ناروغی ده چې پکې

[Speech, Severe Mental Deficiency, And Muscle,Ligament, And Skelet al Abnormalities] په ګډ ډول لیدل کېږی.

- Coffin-Siris Syndrome

د پښو د ګوتو د نوکانو او پنځمې ګوتې هایپو پلازیا چې د [مغزو او ودې د ناجوړتیا ، ناوړه مخونو (Coarse Facies) ، خفیف مایکرسفالی (Mild Microcephaly)، هایپوټونیا (Hypotonia) ، سست یا شل شویو بندونو (Lax Joints) ، خفیف هیرسوټیزم (Mild Hirsutism)] حالتونه شتون لری.

- Compartmental Syndrome

هغه کلېنیکی حالت چې پکې په یوه محدوده اناټومیکه فضا کې د نسجونو د فشار زیاتوالی د وینې د بهیر د کمښت] لامل ګرځي چې په پایله کې [په ایسکېمیا ، اعصابو او عضلاتو ضعیفی Muscle Weakness په کار خرابی تمامېږی چې په سیمه کې د (درد ، عضلاتی کمزورتیا ، د حس له لاسه ورکول او سختوالي په بڼه رابر سېره کېږی .) ایسکېمیا Ischemia په نکروزیس Necrosis هم اوړی] په څېر نښې منځ ته راځی.

- Congenital Rubella Syndrome

د پلاسنټا له لارې د روبېلا ویروس (Rubella) باندې د جنین منتن کېدنه چې تر ډېره دمور د منتن کېدنې په نتیجه کې د بلاربښت په لومړیودي میاشتو کې منځ ته راځی او د جنینی تکاملی نیمګړتیاوو لامل ګرځی.

- Conn's Syndrome

لومړنی یا اولیه الډوسټرونیزم (Primary Aldosteronism)، چې د[اوبو او مالګو انډول اختلال ، ضعیفی Weakness ، عضلی کرمپونه Muscular Cramps او اختلاجونه Convulsions او ځینې وختونه فلج Paralysis] لامل ګرځی چې معمولاً د ادرینال غدې د

تړاو لری .

- Drash Syndrome

په نارینه وو کې ارثی لېږدېدونکې سنډروم دئ چې پکې (Wilms' Tumor) د (Glomerulopathy) او (Pseudohermaphroditism) په ګډه شتون لری .

- Dubin-Johnson Syndrome

ارثی مزمن (Hereditary Chronic) او غېر هیمولایټیک (Nonhemolytic) بڼه لرونکې ژیړي (Jaundice) دئ چې د مزدوج بیلېروبین (Conjugated Bilirubin) او ځینو نورو ارګانیکو آنیونونو (Organic Anions) د لرې کېدې اطراح اړوند ناروغتیا ده چې دا اطراح چې د (Brown, Coarsely Granular Pigment) په کبدی حجرو (Hepatic Cells) کې د ځیګر (ینې Liver) پواسطه تر سره کېږی او (Pathognomonic) بڼه لری .

- Dumping Syndrome

هغه ډول مجموعة الاعراض یا سنډروم دئ چې پکې [زړه بدوالي (Nausea) ، ضعیفی (Weakness) ، خولېجن حالت (Sweating) ، زړه تکانونه (Palpitation) ، سینکوپ (Syncope) ، تُود والی احساس (Warmth Sensation) ، ځینې وختونه دنس ناستی (Diarrhea) حالت] د خوراک څخه وروسته د (Partial Gastrectomy) تر سره شویو ناروغانو کې موندل شی.

- Dyscontrol Syndrome

د هر ډول تحریک پرته یا دډېرې تېټې کچې پارېدنې سره په غېر عادی ټولنیزو چلندونو کې نه کنټرولېدنکی تاوتریخوالې او تر ډېرې پیاوړې دوره یی حالت منځ ته راتګ چې ښائی اورګانیکه سرچینه ولری یا د روانی پاروونکو (Psychoactive Substance) درملو کارولو او استفادې وروسته رامنځ ته شی.

- Dysmaturity Syndrome

د پلاسنټا د عدم کفائي څخه زېږنده سنډروم چې مزمنه هایپوکسیا او ستړس رامنځ ته کوی ښائی په هغه ماشومانو او جنینونو کې چې د بلاربښت پرمهال دوره یې ځنډېدلې او اوږده شوېوی، د (Postmaturity Syndrome) په انډول .

- Eaton-Lambert Syndrome

د میاستینیا ورته سنډروم (Myasthenia-Like Syndrome) په انډول چې پکې کمزورتیا د هډونو او سترګو په عضلاتو کې رامنځ ته کېږی او بولبار عضلات نه نیسی او دېر مهال د سږی د کوچنی حجرې له کارسینوما

(Oat-Cell Carcinoma Of The Lung) سره یوځای وی .

- EEC Syndrome

یو ولادی بڼه ارثی سرچینه لرونکې سنډروم چې اکتیودرمال (Ectodermal) او مېزودرمال (Mesodermal) نسجونه پرې اخته کېږی او ځانګړنې یې د پوستکی او وېښتانو کمرنګه کېدنه (Hypopigmentation) او د (وېښتانو ، نوکانو ، غاښونو ، تالو او شونډو هغه حالت چې تر ډېره په ښځرنګو کسانو او ښځو کې لیدل کېږی چې د اډرینال غدې د قشری (Adrenal Cortex) برخې یا د هایپوفیزیس (Anterior Lobe Of The Pituitary) قدامی فص د نیوپلازمونو له کبله د کورټیزون د زیات افراز (Hyperadrenocorticism) څخه منشه اخلی ، له بله پلوه هغه ناروغان چې د اوږدې مودې لپاره د ګلوکوکورټیکوئید تر در ملنې لاندې دی دا ناروغی پېښوی (Cushing's S. Medicamentosus یا Iatrogenic Cushing's S.) هم ورته ویل کېږی پکې [ښځینه وو کې د مخ –غاړې او تنې چاغښت (Adiposity) ، کیفوزیس (Kyphosis) د ملاتیر نرمښت ، امینوریا (Amenorrhea) او د وېښتانو ډېرښت (Hypertrichosis) عقامت (Impotence) ، نارینه وو کې جنسی اړیکو خړ پړ تیا (Dusky Complexion) چې د سورګلابی رنګه ښنبو (Purple Markings) ، فرط فشار (Hypertension) ، سروکریواتو زیادښت (Polycythemia) ، بطنی او ملا درد ونه (Abdomen Andback Pain) او عضلی ضعیف والي (Muscular Weakness)] رامنځ ته کېږی .

- Da Costa Syndrome

د (Neurocirculatory Asthenia) په انډول.

- Dandy-Walker Syndrome

د (Magendie) او (Luschka) د سوریو د بندښت له کبله ولادی بڼه هایدروسفالوس ناروغی ده .

- Dejean's Syndrome

د (Orbital Floor Syndrome) په انډول .

- De Lange's Syndrome

هغه ډول ولادی سنډروم چې پکې [لنډه ونه (Short Stature) چې د (Amsterdam Dwarf) پنامه یادېږی ، عقلی روسته پاتې والي (Mental Retardation) ، د لاسونو پلنې او لنډې ګوتې د ببلچې ورته (Flat Spade Like Hands) او نورې انومالی ګانې] لیدل کېږی .

- Dialysis Dysequilibrium Syndrome

دا هغه ډول سنډروم دئ چې پکې [سر خوږ Headache ، زړه بد والي Nausea ، عضلی کرمپونه Muscle Cramps ، عصبی تخریشونه Nervous Irritability ، ګنګسیت / خوبجن Drowsiness حالت ، اختلاج Convulsions] په څېر ښنبې د (Hemodialysis Or Peritoneal Dialysis) څخه ژر وروسته یا د پروسیجر پرمهال پېښېږی چې دماغ ته د مایع او اوبو د (Osmotic Shift) له کبله منځ ته راځي.

- Disconnection Syndrome

هر نیورولویک بڼه اختلال چې د ماغزو دننه په تارونو بهیر (Cerebral Fiber Pathways) کې د سیالي (Impulse) د لېږد او انتقال د پرېکون او قطع کېدو له کبله منځ ته راشی .

- Down Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د[منګولیائي مخ (Mongoloid Features) ، لنډې ګوتې (Short Phalanges) ، د پښو او لاسونو د لومړۍ او دوهمې ګوتو تر منځ د فاصلې دېروالي (Toes And Fingers) ، متوسط یا شدید ډول عقلی روسته والي (Mental Retardation)] شتون لری چې منځ ته راتګ یې معمولاً د (Trisomy Of Chromme21) د غېر نورمالتیا سره

د (Beckwith-Wiedemann Syndrome) په انډول .

- Extrapyramidal Syndrome

خارج الاهرمی سنډروم ، هغه ډله کلېنیکی اختلالونه چې پکې د خارج الاهرمی سیستم غېروظیفوی اوغېر ارادی حرکتونه (Abnormal Involuntary Movements) لکه (Parkinsonism, Athetosis او Chorea) په څېر نښې شتون لری.

- Faber's Syndrome

د (Hypochromic Anemia) په انډول.

- Fanconi Syndrome

هغه ډول التهابی ناروغیو سنډروم دئ علات یې معلوم ندئ او نارینه جنس ډېر نیسی چې پکې غېر سوزاکی یوریتریت درې ګونې (Triad of Nongonococcal Urethritis) ، د یوریتریت (Urethritis) [د سترګو منضمې التهاب (Conjunctivitis) او بندونو التهاب (Arthritis) چې د مخاطی – جلدی (Mucocutaneous Lesions) برخې اخته کوی] شتون لری. د (Reiter's Disease, Reiter's Syndrome) په اندول.

- Respiratory Distress Syndrome of Newborn

د نوې زېږېدلو ماشومانو د تنفسی ډیستریس سنډروم (Infants Born Prematurely) چې د سیزارین (Cesarean Section) پرمهال یا شکری ناروغی لرونکی میندو (Diabetic Mothers) کې ماشوم زېږوی په ماشوم کې منځ ته راځی چې ورسره [(Dyspnea) او (Cyanosis)] شتون لری او معمولاً یو (Fatal Subtype) د (Hyaline Membrane Disease) ناروغی. هم دئ چې دا پېښې رامنځ ته کوی.

- Reye's Syndrome

- د ماشومتوب مهال هغه یوه حاده او وژونکې بڼه ناروغی سنډروم نادر ډول دماغی ناروغی یا انسفالوپتی (Encephalopathy) چې پکې د [حاد ډول د ماغزو التهابی پرسوب (Acute Brain Swelling) چې ورسره د هایپوګلایسیمیا (Hypoglycemia) ، د ینې غوړینه ارتشاح (Fatty Infiltration Of Liver) ، د کبد ضخامه (Hepatomegaly) او شعوری اختلال (Disturbed Consciousness) ، تشنجی حالت (Seizures) د مل په توګه شتون لری] چې تر ډېره بریده د شری او وریسیلا (Varicella) او پورتنی تنفسی ویروسی انتاناتو (Upper Airway Viral Infection) له کبله منځ ته راځی .

- Rh-null Syndrome

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې [هغه مزمنه هیمولایټیکه وینه لرې (Chronic Hemolytic Anemia) چې د ټولو (Rh Factors) فکتورونو نشتوالی (Rh Null) خنثی) بڼه اخته وی لیدله کېږی او د (سفېر سایتوز Spherocytosis ،ستوماتوسایتوزیس (Stomatocytosis) ، او زیاتې اوسموټیک (Osmotic Fragility) سره مل وی] په متې پېژندله شی.

- Riley-Day Syndrome

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې فامیلی ډول (Familial Dysautonomia) شتون لری .

- Rosenberg-Bergstrom Syndrome

هغه ډول ارثی سنډروم دئ چې پکې [د وینې د یوریا زیادښت Hyperuricemia ، کلیوی عدم کفایه Renal Insufficiency ، اټاکسیا Ataxia او ګونګوالې Deafness] حالتونه رابرسېره کېږی او پېژندل شی.

- Thoracic Outlet Syndrome) اعراض چې د رقبی پوښتیو (Cervical Rib) او قدامی سکالینوس عضلې (Scalenus Anticus Muscle) تر منځ د اعصابو او رګونو د تر فشار (Compression) راتلنې له کبله پیښیږی او په اوږه (Shoulder) کې د دردونو چې تر مټ او ورمېږ برخو پورې غزیږی او رسیږی] پذریعه د پېژندلو وړ ګرځی . د (Scalenus Anticus Syndrome) په انډول.

- Scalenus Anticus Syndrome

د (Scalenus Syndrome) په انډول .

- Schaumann's Syndrome

د (Sarcoidosis) په انډول.

- Scheie's Syndrome

دا د (Hurler's Syndrome) یو نسبتاً خفیف البلیک ډول (Mild Allelic Variant) دئ چې د [پنجه ډوله لاسونه Claw Hand ، سترګو د قرنیې کدورت Corneal Clouding ، ابهری وال اختته کېدنه Aortic Valve Involvement ، د سترې خولې درلودونکی مخ Wide-Mouthed Facies ، جینووالګوس Genu Valgus ، ګردی پښې Pes Cavus] په متې د پېژندلو وړ ګرځی پدې سنډروم کې د (بدن ونه Stature او اندازه ،هوښ /ذکاوت Intelligence او عمر) نورمال حالت لری

- Second Impact Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې اپه حاد ډول وژونکی بڼه دماغی پرسوب (Brain Swelling) ، د دماغی فشار زیاتوالې(Increased Cranial Pressure) چې د دماغی ترضیضاتو (Head Trauma) اغېزو له کبله په لنډه موده کې منځ ته راځی او ثانوی کانکشن (Second Concussion) د ریکوری څخه دمخه پیښیږی چې د لومړنی کانکشن(Previous Concussion) اغېزه په ثانوی ډول سره بلله شی] په څېر حالت شتون لری.

- Sertoli-cell–only Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې اپه ولادی توګه د مرغېږیو (Testes) دننه د (Germinal Epithelium) نشتوالې چې پکې (Seminiferous Tubules) یوازې (Sertoli Cells) لری او برسېره پردې مرغېږی (Testes) لږڅه د نورمال څخه کوچنیوالې (Slightly Smaller) لری ، د سپرم کچې کمښت (Azoospermia) ، همدارنګه (Follicle-Stimulating Hormone) هورمون د تیتر (Titers) لوړوالې او ځینې وختونه (Luteinizing Hormone) هم لوړ تثبیت کېږی] په څېر ننبنې ننبنانې منځ ته راځی .

- Severe Acute Respiratory Syndrome (SARS)

هغه ډول تنفسی انتانی ناروغی.

(Infectious Respiratory Illness) سنډروم چې پکې اوچ ټوخې Dry Cough ، تبه Fever ، تنفسی ستونزې Breathing Difficulties چې ومعمولاً د سردرد Headache ، بدن درد Body Aches سره مل وی] شتون لری چې داسې فکر کېږی چې د (Coronavirus) پذریعه منځ ته راځی او له پیشوګانو څخه انسانانو ته لېږدول شی .

- Rukavina's Syndrome

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې یو ډول (Familial Amyloid Polyneuropathy) شته والې لری .

- Rundles-Falls Syndrome

د (Hereditary Sideroblastic Anemia) په انډول.

- Ruvalcaba's Syndrome

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې [د مېتاکارپ (Metacarpal) یا مېتاتارس (Metatarsal Bones) هډوکو غېر نورمال ډول لنډ والې (Abnormal Shortness) ، د تناسلی غړو هایپوپلازیا (Hypoplastic Genitalia) او ذهنی – جسمی روسته پاتې والې (Mental And Physical Retardation) شتون لری] چې سببونه یې نامعلومه دي او د نارینه جنس سره تړلې ولادی انومالی بلله شی.

- Saethre-Chotzen Syndrome

د (Chotzen's Syndrome) په انډول.

- Salt-depletion Syndrome

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې [له بدن څخه د سوډیم زیاتې پیمانې اطراح له کبله منځ ته راځی او د «کانګې (Vomiting) ، ډیهایدریشن (Dehydration) ، د فشار ټیټېدنه (Hypotension) ، ناڅاپه مرینې (Sudden Death) » په متیازو کې د ډېرې اندازې سوډیم بایلنې لک املە پیښیږی لکه چې په (Congenital Adrenal Hyperplasia)او (Adrenocortical Insufficiency) یا د (Salt-Losing Nephritis) یو ډول کې منځ ته راځي او بغیر له پښتوګو د سوډیم یې د هضمی جهاز (Gastrointestinal Tract) له لارې اطراح کېږی] لیدل کېږی. د (Salt-Losing Syndrome) په انډول.

- Salt-losing Syndrome

د (Salt- Depletion Syndrome) په انډول.

- Sanfilippo's Syndrome .

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې [ځلور ډوله موکوپولي سکرایډوز (Mucopolysaccharidosis) چې له بیو کېمیاوی (Biochemically) له پلوه توپیر لری خو د کلینیکی له پلوه یې توپیر ناشوني (Clinically Indistinguishable) دئ او د هیپاران سلفیټ (Heparan Sulfate) د بولی اطراح ، چټک مغزی –عقلی آفت (Rapid Mental Deterioration) ، او (Hurler-Like Symptoms) ته ورته خفیفو علایمو له مخې پېژندل شی] پدې ناروغی کې مرینه معمولاً د (20 Years) څخه دمخه منځ ته راځی .

- Scalded Skin Syndrome

د (Non – Staphylococcal Toxic Epidermal Necrolysis) برخه کې یې وګوری .

- Scalded Skin Syndrome Staphylococcal

یوه انتانی ناروغی ده چې په روږدیز ډول په شیدو خورونکو ماشومانو کې منځ ته راځي چې د (Staphylococcus Aureus) په ځانګړو ډولونو پورې تړلې بلله شی .

- Scalenus Syndrome

هغه ډول سنډروم دئ چې پکې [یو ډول توراسیک سنډرومی

(Malfunction) له کبله منځ ته راځی .

- Silver-Russell Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د نورمال بلاربښتیزې Normal Gestation دورې سره سره د زېږون پرمهال د لږ وزن Low Birth Weight سنډروم چې (ونه پکې لنډه Short Stature ، جانبی تناظر Lateral Asymmetry پکې نشتوالي لرې او ګونادوتروپین افراز Gonadotropin Secretion پکې خورا ډېر وی] منځ ته راځی.

- Sipple's Syndrome

د (Multiple Endocrine Neoplasia, Type- Ii) په انډول .

- Sjögren's Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د [اعرضو یوه ټولګه په زړو یا یا منځنی عمر ښځو کې لیدل کېږی چې ننبې یې (د سترګو د قرنیې او ملتحې التهاب Kerato-Conjunctivitis Sicca ، د خولې وچیدنه Xerostomia ، د پاروټید غدې لوئېدنه Parotid Glands Enlargement)دروماتوئېد آرتریټ Rheumatoid Arthritis، او ځینې وختونه د سیسټمیک لوپوس اریتیماتوزیس Systemic Lupus Erythematosus ، سکلېرودرما Scleroderma او پولی مایوزیت Polymyositis] سره مل لیدل کېږی.

- Sleep Apnea Syndrome

د خوب پرمهال تنفسی حرکتونو ودرېدنه یا اپنې ، د (Sleep Apnea) په انډول .

- Smith-Lemli-Opitz Syndrome

هغه ارثی اوتوزومال مغلوب ډول سنډروم چې پکې د [سرکوپری، کوچنیوالي Microcephaly ، ذهنی روسته پاتې والي Mental Retardation ،د مقویت کمښت Hypotonia ، د نارینه د جنسی سیستم نیمګړې وده Incomplete Development Of Male Genitalia ، لنډ پوزه Short Nose خو د مخ پلو ته لرونکو سوری لرونکې Anteverted Nostrils ، د پښو د دوهمې او درېیمې ګوتو ترمنځ پیوستون Syndactyly] لیدل کېږی.

- Social Breakdown Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د [روانی ناروغیو ننبې ننبانې چې تر ډېره پورې د اوږد مهالې بستر کېدنې څخه سرچینه اخلی او د حد څخه د زیات انفعالی توب ، د ناروغی تصور درلودلو او شغلی او ټولنیز و مهارتونو د بایلنې او له منځه تګ په بڼه وی] ننبې ننبانې شتون لری .

- Stagnant Loop Syndrome

د (Stasis Syndrome) په انډول.

- Staphylococcal Scalded Skin Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د [یوه انتانی ناروغی ده چې په روږدیز ډول په شیدو خورونکو ماشومانو کې منځ ته راځي چې د (Staphylococcus Aureus) په ځانګړو ډولونو پورې تړلې وی او په منتشر ډول سره د تفلس لرونکې سرمخجنې تېاکې (Bullous Eruption And Exfoliation) سره مل وی چې او د پوستکی لپاسه کرښې پرېږدی او جلد متفلس ښکاری] بلله شی.

- Sézary Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د جلدی د (T-Cell Lymphoma) حجرو د لمفوما یو ډول تفلسی (Exfoliative)ایریترودرما Erythroderma ، شدیدخارښت Pruritus ، محیطی لمفاډینوپتی Peripheral Lymphadenopathy ، او په (پوستکی Skin ، لمفاوی غدو Lymph Nodes ، محیطی وینه Peripheral Blood) کې د رنګه مونونوکلیار حجرو (Hyperchromatic Mononuclear Cells) په بڼه منځ ته راځی] دا ناروغی د پېژندنې وړ ګرځی .

- Sheehan's Syndrome

له بلاربښت وروسته د هایپوفیز نکروز اخته کېدنه .د (Postpartum Pituitary Necrosis) په انډول .

- Short-Bowel Syndrome

هغه ډول د غذائی مواد سؤجذب (Malabsorption) حالت سنډروم چې د نرۍ کولمو د ډېرې اندازې (Massive Resection) د قطع کېدو او لنډوالی له کبله منځ ته راځی چې د (نس ناستی Diarrhea ، ستیاتوریا Steatorrhea ، خوار ځواکی / سؤ تغذیه Malnutrition) سبب ګرځی . د (Short-Gut Syndrome) پنامه هم یاد ېږی

- Short-Gut Syndrome

د (Short- Bowel Syndrome) په انډول.

- Shoulder-hand Syndrome

په پورتنی هډ (غږی) پورې اړوند او محدوده ډول رفلکسی سیمپاټیکه ډیستروفی (Reflex Sympathetic Dystrophy) بلله شی .

- Shprintzen's Syndrome

د (Velocardiofacial Syndrome) په انډول.

- Shwachman Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د پانکریاس لومړنی عدم کفایه (Primary Pancreatic Insufficiency) او د هډوکو د ماغزو عدم کفایه (Bone Marrow Failure) په ګډ ډول د یوه سنډروم بڼه منځ ته راځی او پکې " په خولو (Sweat) کې د نورمالي کچې کلورایدی اندازه Chloride Values ، پانکراسی نه بریالیتوب Pancreatic Insufficiency ، نیوتروپینی Neutropenia شته والي لری چې دا حالت کېدای شی د وني لنډوالی Dwarfism او ورانه هډوکی له میتافیز ډیس اوستیوزیس Metaphyseal Dysostosis سره مل وی"] شته والي لری . د (Shwachman-Diamond Syndrome) په انډول .

- Shwachman-Diamond Syndrome

د (Shwachman Syndrome) په انډول .

- Sick Sinus Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې اپرلیسي متناوبه براډی کارډیا (Intermittent Bradycardia) چې ځینې وختونه د اذینی تاکی اریتمیا (Atrial Tachyarrhythmia's) دورو یا سینوسی ودرېدنو (Sinus Arrest) سره مل وی] چې دا حالت د (Supraventricular Portion) برخې د (Cardiac Conducting System) غېر وظیفوی کېدنې

مغزی او وعائی ضایعاتو لکه (وینه بهېدنې **Hemorrhage** ، آمبولې **Embolism** ، ټرومبوز **Thrombosis** ، د انیوریزم ځیرې کېدنی **Rupturing Aneurysm**) له کبله د ناڅاپي پیل لرونکي حملي حالت چې ننبې ننباني یې بشپړ یا نیملوري فلج **Hemiplegia** او نیمائی فلج **Hemiparesis** ، سرځرخی **Vertigo** ، ستړیا /پرکالی **Numbness** ، آفازیا **Aphasia** او ډیسآرټریا **Dysarthria** چې غالباً د تلپاتې او دایمی عصبی آفتونو **Permanent Neurologic Damage** باندې اوړی] شتون لری.

- Sturge's Syndrome

هغه ډول ولادی اړوند سنډروم چې پکې د اد سور رنګه خالونو (**Port-Wine Stain**) په بڼه ننبې چې دا خالونه (**Nevus Flammeus**) د درې غبرګیز عصب (**Trigeminal Nerve**) په تګلوري کې پېښېږی چې د ماغزو په قشر **Cerebral Cortex** او سحایاوو **Meninges** پردو کې د یولړ وعائی ناروغیو (**Vasculardisorder**) سره مل لیدل کېږی] حالت منځ ته راځی . د (**Sturge-Weber Syndrome**) او (**Sturge-Kalischer-Weber**) په انډول .

- Sturge-Kalischer-Weber Syndrome

د (**Sturge Syndrome**) او (**Sturge-Weber Syndrome**) او (**Sturge Syndrome**) په انډول .

- Sturge-Weber Syndrome

د (**Sturge Syndrome**) او (**Sturge-Kalischer-Weber**) په انډول.

- Subclavian Steal Syndrome

هغه ډول ولادی اړوند سنډروم چې پکې د اد ماغزو **Cerebral** یا ماغزوساقې **Brain Stem** اړوند ایسکېمیا **Ischemia** چې تحت الترقوی **Subclavian** شریان ته د فقری- بزیلاری شریان **Vertebrobasilar** څخه د وینې د بهیر کږېدو او عدم کفائې **Insufficiency**]څخه سرچینه اخلی .

- Sudden Infant Death Syndrome

دا یوداسې سنډروم دئ چې پکې د نوې زوکړو ماشومانو د ناڅاپې او غیر منتظره مرګ پېښېږی او له مرګ وروسته یې هم کوم لامل نه پېژندل شی.

- Swyer-James Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې دا په کسبی توګه د یوې لورې (**Hyperlucent Lung**) د شدید ډول تنفسی انسداد د ساراویستلو (**Exhalation**) پرمهال ، اولیګیمیا **Oligemia** او کوچنی هیلیوم **Small Hilum** سره مل وی]شتون لری .

- Tarsal Tunnel Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د اد لښګیو عصب (**Posterior Tibial Nerve**) یا د (**Plantar Nerves**) د (**Tarsal Tunnel**) په برخه کې عصب تر فشار راتلنې له کبله درد **Pain**،کرښتی **Numbness** ، د (**Tingling Paresthesia**) احساس د پښو د تلی (**Sole**) برخه کې منځ ته راځی] شتون لری .

- Taussig- Bing Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د اد زړه د غټو رګونو تارنسپوزیشن (**Transposition Of The Great Vessels**) او بطینی حجابی نقیصه (

- Stasis Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د ا د رکودت (**Stasis**) پېښونې ډول ډول ناجوړتیاو په وړاندې په ثانوی توګه په کوچنیو کولمو کې د باکتری ګانو له حد څخه زیات پیمانه وده (**Overgrowth Of Bacteria**) بلل شی چې ننبې یې (د **Vitamin B12** ویتامین د جذب نیمګړتیا **Malabsorption**، شحمی نس ناستی **Steatorrhea** ، وینه لږی **Anemia**] په څېر څرګندونې لری.

- Steele-Richardson-Olszewski Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د ا[یوه پرمختلونکی عصبی ناروغی د ژوندانه په شپږمه لسیزه کې پیل مومی او ننبې ننباني یې فوق الهستوی د سترګو فلج (**Supranuclear Ophthalmoplegia**) ، د سترګو پورته او ښکته لوری ته کنټلو ناروغی (**Especially Paralysis Of The Downward Gaze**) کاذب ډول بصلی فلج (**Pseudobulbar Palsy**) ، خبرو کولو ستونزې (**Dysarthria**) ، دغاړې اوتنې ډیستونیک شخی (**Dystonic Rigidity Of The Neck And Trunk**) او دیمانس (**Dementia**)] شته والې لری .

- Stein-Leventhal Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د اد دوه اړخیز پولی سیستیک هګی. ځالو او (**Fsh** او **17-Ketosteroid**) کېټوستیروئیډونو د افراز له نارمل والی سره یوځای د حیض کمښت (**Oligomenorrhea**) یا حیض نشتوالی (**Amenorrhea**)، د تبیض نشتوالې (**Absence Ovalation**) او هیرسوټیزم (**Hirsutism**) په ګډ ډول سره] شتون لری ،د (**Polycystic Ovary Syndrome**) په انډول.

- Stevens-Johnson Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې دا[یو ډول ایریتیما مولټیفورم (**Erythema Multiforme**)، چې پکې ځینې وختونه وژونکې بڼه منځ ته راځی او انفلوانزا (والګې **Flulike Prodrome**) ورته پیل مومی او د لومړنیو نښو څخه وروسته مخاطی - جلدی ضایعات (**Mucocutaneous Lesions**) پېښوی او کېدای شی چې (سږی **Pulmonary** ، هضمی جهاز **Gastrointestinal** ، زړه **Cardiac** او پښتورګی **Renal**) هم و نیسی] حالت شتون لری .

- Stewart-Treves Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د[لمفانجیوسارکوما (**Lymphangiosarcoma**) چې د مټ د لمف اذیما (**Lymphedema**) د یوې ځنډنی عارضې په څېر او د لمفاوی غوټو د راویستلو (**Excision Lymph Nodes**)او په راډیکال ډول د تییونو ویستلو (**Radical Mastectomy**) څخه وروسته د اختلاط پتوګه منځ ته راځی] حالت شتون لری.

- Stiff-man Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د اد ماغزو او نخاع ناروغیو د اړونده ننبو په نشتوالی خو د الکترو مایوګرافیک پرلپسی فعالیت (**Electromyographic Activity**) په شته والی کې ډهډونو او محوری عضلاتو نوسانی او پرمختلونکې کلکوالې (**Progressive Fluctuating Rigidity Of Axial And Limb Muscles**)، چې ناڅرګند لامل لری] منځ ته راځی .

- Stroke Syndrome

مغزی سکته (**Stroke**)، هغه ډول سنډروم چې پکې د اد حاد ډول

عصب (**Trigeminal Nerve**) د لومړنۍ ځانګې په واسطه تعصیب کېدونکې سیمې شاوخوا برخو (**Superior Orbital Fissure Or Cavernous Sinus**) کې د غېر وصفی التهاب (**Nonspecific Inflammation**) ګرانولېشن نسج (**Granulation Tissue**) له املې له درد سره مل د یوه اړخیزه سترګې فلج (**Unilateral Ophthalmoplegia**) هم پېښېږی] شتون لری.

- TORCH Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د توکسوپلازموزیس **Toxoplasmosis** ، نورو موادو **Agents** ، روبیلا ویروس **Rubella** ، سایتومیګالو ویروس **Cytomegalovirus** ، هرپس سیمپلکس ویروس **Herpes Simplex** او هر ډله انتانات چې په نوې زوکړو ماشومانو کې د پلاسنتا (**Placental Barrier**) له لارې ماشوم ته لېږدول شوې وی او دغه راز ناروغه حالت پېښ کړی دا سنډروم جوړوی] شتون لری.

- Tourette's Syndrome

د (**Gilles De La Tourette's Syndrome**) په اندول.

- Townes' Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د غوږ د پکې د انومالی ګانو **Auricular Anomalies** ، مقعدی نیمګړتیاوو **Anal Defects** ، د هډونو او ګوتو د انومالیو **Limb And Digit Anomalies** ، کلیوی نشتوالی **Renal Deficiencies** په بڼه یو ارثی اختلال چې ځینې وختونه د زړه ناروغیو **Cardiac Disease** ، کوږوالی **Deafness** ، پولی سیستیک هګی خالو **Cystic Ovary**) انومالی ګانو سره مل وی] شتون لری.

- Toxic Shock Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [شدید ډول ناروغی چې نښې نښانې یې عبارت دي له (ناڅاپه پیل شدیدې تبی **Sudden High Fever** ، کانګې **Vomiting** ، نس ناستې **Diarrhea** ، عضلی دردونه **Myalgia** ، د فشار ټیټېدنه **Hypotension** ، او په شدید حالت کې شاک **Shock** منځ ته راځي چې ځینې وختونه د پوستکی جلاکېدنه (**Skin Peeling**) د ورغوی او تلی برخه کې پېښېږی دا ناروغی تقریباً انحصاری بڼه لری او ښځینه جنس اخته کوی چې د حېض **Menstruating** په دوره کې د تامپون **Tampons** څخه کار اخلی او غوره لامل یې (**Staphylococcus Aureus**) باکتریا بلله شی] شتون لری.

- Treacher Collins Syndrome

دا د (**Mandibulofacial Dysostosis**) یو نا تکمیله (**Incomplete**) بڼه او شکل دئ.

- Trisomy-8 Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [په موزائیک (**Mosaic**) بڼه پکې یو اضافی اته کروموزوم (**Extra Chromosome- 8**) شتون لری نښې ئې د ذهنی روسته پاتې والي **Mental Retardation** ، وتلې تندي **Prominent Forehead** ، ژورو سترګو **Deep-Set Eyes** ، پېړو او پنډو شونډو **Thick Lips** ، جوت غوږونه **Prominent Ears** ، پنجه ئی ګوتو **Camptodactyly** حالتونو منځ ته راتګ] شتون لری.

- Trisomy -11q Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [په یوولسم کروموزوم (**Chromosome- 11**) کې د یوه اضافی اوږده مټ (**Extra Long Arm**) د شته والی په نتیجه کې یو متغیر ډول سنډروم چې نښې یې (دغوږ په مخ کې فیستول **Preauricular Fistulas** ، د تریخې کڅوړې **Gallbladder** د هایپو پلازیا **Hypoplasia** ، کوچنی تناسلی هډ **Micropenis** ، دوه ښاخیز رحم (**Ventricular Septal Defect**) چې د متوسع ریوی شریان (**Large Pulmonary Artery**) سره مل وی] شتون لری.

- Temporomandibular Dysfunction Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د[د نسبی کوږوالی ، په غوږ کې د یو ډول تخته توب احساس ، د غوږ کړنګهار /برنګس ، په صدغی –منډیبولار مفصل کې د ټک ټک غږ ، سرځرخي ، سرخوږی ، او د (غوږ ، ستونی ، ژبې او پوزې سوزش) په بڼه د نښو او نښانو یوه ټولګه چې لاهلونه یې لا هم تر تر کتنې او بحث لاندې دی] شتون لری ، د (**Temporomandibular Joint Syndrome**) په اندول.

- Temporomandibular Joint Syndrome

د (**Temporomandibular Joint Syndrome**) په اندول.

- Testicular Feminization Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د[په کامل ډول سره د اندروجنی مقاومت (**Androgen Resistance**)] منځ ته راځی. د کاذب هرمافروئیډیټ یو شدید ډول چې پکې د [بڼځو په څېر د جنسی ثانوی خانګړنو او بهرنی تناسلی هډونو په بڼه وی خو مرغېږی شتون لری او رحم او رحمی نفیرونه وجود نلری او دا حالت د تېستوسټېرون هورمون په وړاندې د جنسی غږو د مقاومت له مخې] منځ ته راځی.

- Tetany Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [کلینیکی عصبی سنډرومی اعراض د عضلاتو ژوولو (**Muscular Twitching**) او کرمپونه (**Cramps**) او که چېرې شدید وی نو اختلاجونه (**Seizures**) به د کلسیوم د سویې کمښت /فقدان (**Calcium Deficiency**) به د (**Hypoparathyroidism**) یا ویټامین (**Vitamin D**) نشتوالی یا الکلوزیس (**Alkalosis**) له کبله د مل په توګه منځ ته راشی] شتون لری . ورته نومنه یې[(**Tetanus**) ، (**Apyretic Syndrome**) ، (**Intermittent Cramp Syndrome**) ، (**Intermittent Tetanus Syndrome**) او (**Tetanilla**)] بلل شی.

- Thoracic Outlet Syndrome.

هغه ډول سنډروم چې پکې [د متې د عصبی شبکې ظفیرې (**Brachial Plexus Nerve Trunks**) د جسمونو تر فشار لاندې راتللو له کبله هر نیوروواسکولار سنډروم (**Neurovascular Syndromes**) یا د (**Drooping Shoulder Girdle**) یا (**Cervical Rib**) له املې پېښېږی چې نښې نښانې یې په متې کې درد **Pain** ، په ګوتو کې د یوه ډول تخنیدا **Paresthesias** ، وازوموټوری نښو **Vasomotor Symptoms** او د لاس د کوچنیو عضلاتو د کمزورتیا **Weakness** او ویلې کېدنې **Muscle Wasting** څخه عبارت دی.] شتون لری چې دا حالت کېدای شی د ګڼ شمېر لاهلونو لکه د (**Limb Hyperabduction** ، **Abnormal First Rib**،**Fibrous Band**) یا (**Scalenus Anterior Muscle**) تر فشار راتلنې له کبله رامنځ ته شی.

- Tietze's Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د پښتیو د غضروفی برخې پرسوب (**Swelling Of Rib Cartilage**) له کبله صدری دردونه (**Pain**) منځ ته راځی] شتون لری.

- Tolosa-Hunt Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د سترګې د کاسې په څټ او دري غبرګیز

Webbing Of Neck ، له نارمل کچې څخه ښکته اندازه او خلفی پلو ته د ویښتانو راختلو کرښه **Low Posterior Hair Line** . د څنګلې د تحمل زاویې **Angle Of Elbow** زیادښت ، کوبیتوس والګوس **Cubitus Valgus** او زړه نیمګړتیاوو **Cardiac Defects** حالتونه ګډ ډول منځ ته راځي او جینوټایپ **Genotype** له مخې معمولاً د (**45,X**) **Xo** یا (**X/Xx**) یا (**X/Xxx**) وی خو پلان او نقشه یې موزائیکه **Mosaic** بڼه لری او فینوټایپ **Phenotype** یې ښځینه وی] شتون لری.

- Twiddler's Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د ښځایه لاسوهنې **Manipulation** یا د ناروغ د رویدیزو **Habitual** ګوتوهنو په نتیجه کې په بدن کې د ښخو شوو تشخیصی وسایلو **Implanted Diagnostic Device** ښځایه توب **Dislodgement** ، ماتوالی **Breakdown** او نور کاری خرابی **Malfunction**] حالتونه ګډ ډول شتون لری.

- Twin Transfusion Syndrome

هغه ډول سنډروم چې غبرګ ماشوم څخه بل ته د وینې ترانسفیوژن [**Twin-To-Twin Transfusion (Q.V.)**] له کبله منځ ته راځي چې پکې [که چېرې د ورکوونکی (**Donor**) نښتی غبرګونی (**Twin**) (کوچنیوالي **Small** ، خټافت **Pale** ، وینه لږې **Anemic**) لری حال داچې اخیستونکي **Recipient** غبرګوني یې غټ **Large** ، پولی سایتیمیا **Polycythemic** لری ، او د دزړه او رګونو اضافه بار (**Overloaded Cardiovascular System**) سره مل وی نوموړی حالت پېښېږی] شتون لری. د (**Twin–Twin Transfusion Syndrome**) په انډول .

- Twin–Twin Transfusion Syndrome

د (**Twin Transfusion Syndrome**) په انډول.

- Urethral Syndrome

احلیلی سنډروم ، هغه ډول سنډروم چې پکې [د پوبیک په سر درد او کرمپ **Suprapubic Aching And Cramping** ، د متیازو تکرر **Urinary Frequency** ، د مثانې نور شکایتونه ، د متیازو پرمهال درد **Dysuria**، د متیازو د ریښتینې شته والې پرته د متیازو احساسول **Tenesmus** او په بولی انتاناتو باندې اخته کېدنه ، پرته له کومه دلیله د ملا د ښکتنی برخې درد **Low Back Pain** شته والی] حالتونه ګډ ډول شتون لری.

- Usher's Syndrome

ارثی سنډروم ، هغه ډول سنډروم چې پکې اپه ولادی ډول کوڼوالي **Congenital Deafness** ، د **Retinitis Pigmentosa** سره مل وی او تر ډېره بریده د ړوندوالی **Blindness** ، عقلی تأخر **Mental Retardation** ، تګ اختلال او ستونزې **Gait Disturbances** حالتونه ګډ ډول] شتون لری.

- Velocardiofacial Syndrome

، هغه ډول ارثی سنډروم چې پکې [د زړه اړوند نقیصې **Cardiac Defects**، قحفی -مخ انومالی ګاني **Craniofacial Anomalies** ، معمولاً د **Chromosome 22** انومالی ګاني ، د زده کړو ناتوانی **Learning Disabilities** او لږ وختونه نورې انومالی ګاني] شتون لری.

Bicornuate Uterus ، کوچنی سترکې **Microphthalmos**) او (زړه **Heart** ، سږو **Lungs** ، ماغزو **Brain**) انومالیو ، اختلاجونه **Seizures** ، او پرلپسې انتانی **Recurrent Infection** حالتونو منځ ته راتګ] شتون لری.

- Trisomy- 13 Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د یوه اضافی دیارلسم کروموزوم (**Extra Chromosome- 13**) د شتوالی په نتیجه کې یو متغیر ډول سنډروم چې د (**Holoprosencephaly**) عصبی مرکزی سیستم نقایص (**Central Nervous System Defects**) پېښوی چې ښیې یې (ذهنی روسته پاتې والي **Mental Retardation** ، د شونډو درز **Cleft Lip** ، د تالو درز **Cleft Palate** ، پولي ډکټیلی **Polydactyly**) او د (جلدی **Dermal** ، زړه **Heart** ، حشوی **Viscera** ، تناسلی غړو **Genitalia** غېر نورماله وي او عصبی سیستم نیمګړتیاوو حالتونو منځ ته راتګ] شتون لری.

- Trisomy -18 Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د یوه اضافی دیارلسم کروموزوم (**Extra Chromosome- 18**) د شتوالی په نتیجه کې یو ډول سنډروم چې په هغه کې د ماشومتوب انوي زوکړو د مهال کبدی التهاب (**Neonatal Hepatitis**) ، ذهنی روسته پاتې والي **Mental Retardation** ، سکفوسفالی **Scaphocephaly** ، د کوپړۍ قحفی انومالی **Skull Abnormality** ، لاندینی کوچنی ژامنه **Micrognathia** ، د سترګو جفتی سقوط **Blepharoptosis** ، د نورمال کچې څخه ټیټ غوږونه **Low-Set Ears** ، د قرنیې مکدریت **Corneal Opacities** ، کوڼوالي **Deafness** ، پرده لرونکي غاړه **Webbed Neck** ، لنډې ګوتې **Short Digits** ، بطینی حجاب نقیصه **Ventricular Septal Defects** ، میکل ډایورټیکولوم **Meckel's Diverticulum** او نورو نیمګړی حالتونو منځ ته راتګ] شتون لری.

- Trisomy- 21 Syndrome

د (**Down Syndrome**) په انډول .

- Trousseau's Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د پورتنیو او ښکتنیو هډونو (**Upper And Lower Limbs**) بنفسهی وریدی ترومبوز (**Spontaneous Venous Thrombosis**) چې د حشوی کارسینوما (**Visceral Carcinoma**) سره مل وی] حالتونه ګډ ډول شتون لری.

- Tumor Lysis Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [هغه پیاوړی ډول (د وینې د فاسفیټ لوړه کچه **Hyperphosphatemia** ، د وینې د لوړې کچې پوټاسیوم **Hyperkalemia** ، د هایپر یوراسیمیا **Hyperuricemia** ، دوینې د کلسیوم ټیټې کچې **Hypocalcemia**) حالت شتون چې د چټکې ودې لرونکو خبیثو تومورونو **Malignant Neoplasms** د کېمیاوی درملنې **Chemotherapy** څخه وروسته منځ ته راځی] حالتونه ګډ ډول شتون لری.

- Turcot's Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [په عصبی مرکزی سیستم کې له ګلیوما **Gliomas** سره یوځای د کولون فامیلی پولیپوزیس **Familial Polyposis**] حالتونه ګډ ډول شتون لری.

- Turner's Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې [د ګونادونو یو ډول ډیسجنېزیس **Gonadal Dysgenesis** چې د لنډې وني **Short Stature** ، پرته له توپیر کېدو ګونادونو **Undifferentiated (Streak) Gonads** او ګڼ شمېر بېلابېلو انومالی ګانو سره مل د (پرده لرونکی غاړې

غدې وینه بهېدنه **Bilateral Adrenal Hemorrhage**] شتون لری .

- Weber's Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د اډ سترګو د حرکی عصب (**Oculomotor Nerve** یا درېیم زوج) فلج د هماغې لورې آفت له کبله چې جفنی سقوط **Ptosis** ، سترګو کړېدنه **Strabismus** ، د رڼیانئی په وړاندې د غبرګون **Light Reflex** او مطابقت **Accommodation** نشتوالې ، مقابل لور د آفت ته شخی ډوله نیمائی فلج **Hemiplegia** دعکساتو **Increased Reflexes** او د سطحی عکساتو **Superficial Reflexes** کمښت] شتون لری.

- Weil's Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د اله ژیړی (یرقان **Jaundice**) سره یوځای یو ډول شدید لیپټسپایروزیس **Leptospirosis** چې د (ازوتیمیا **Azotemia** ، وینه بهېدنې **Hemorrhage** ، وینه لړې **Anemia** ، د هوښ د ناجوړیو **Disturbances Of Consciousness** او پرلپسې تبې **Fever** له خوا بدرګه کېږی] شتون لری .

- Werner's Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [یوه زاړه سړی د وخت ځخه د مخه زړښت **Premature Aging** چې د ویښتانو د وخت ځخه دمخه خړېدلو او توئېدلو **Hair Loss** ، ساړ (دسترګو ګل **Cataracts**) ، هایپرکراټینایزیشن **Hyperkeratinization** ، عضلاتی ضمور **Muscular Atrophy** ، د هډونو سکلرودرما ته ورته جلدی بدلونونو **Scleroderma-Like Changes** او په لوړه کچه د تومورونو **Neoplasm** پېښې منځ ته راځی] شتون لری .

- Wernicke-Korsakoff Syndrome

هغه عقلی –عصبی اختلالاتو **Neuropsychiatric Disorder** سنډروم دئ چې د تیامین فقدان **Thiamine Deficiency** له کبله منځ ته راځی چې پکې د [دالکهولو ډېری مهال ځښاک **Alcoholabuse** سره مل وی او د ورنیک انسفالوپتی **Wernicke's Encephalopathy** او د کورساکوف سنډروم **Korsakoff's Syndrome** د ځینو اړخونو ګډ ډول جوړوی] شتون لری .

- whiplash shake Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [تحت الډورائی هیماټوما **Subdural Hematomas** ، د شبکیې وینه بهېدنه **Retinal Hemorrhage** ، ځینې وختونه د مغزو کانټوژن **Contusions** چې دماغزو مادي **Brain Substance** یا ماغزو رګونو کشش **Stretching** او شلېدنې **Tearing** ځخه منځ ته راځی چې دا پېښه ښائی په هغه ماشومانو کې د دري کلونو ځخه لږ عمر لری د شدیدو ټکانونو **Vigorously Shaken Child** یا خوخولو له کبله پېښ شی او ښائی د (فلج **Paralysis** ، باصرې اختلالاتو **Visual Disturbances** ، رڼوالی **Blindness** ، اختلاجونو **Convulsions** ، مرګ) په څېر حالتونه هم رامنځ ته کړی] شتون لری .

- Wilson-Mikity Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [د کم وزن لرونکو نوې زوکړو ماشومانو **Low-Birth-Weight Infants** کې یو ډول نادره ریوی عدم کفایه **Pulmonary Insufficiency** چې د ژوند په لومړی میاشتو کې د تدریجی شینوالی **Cyanosis** ، تنفسی چټکتیا **Hyperpnea** ، چې ښائی چې

- Vernet's Syndrome

، هغه ډول سنډروم چې پکې د [ژبې او بلعوم **Glossopharyngeal** فلج ، د واګوس **Vagus** ، نخاغی **Spinal** او **Accessory Nerves** عصب فلج د وداجی فوحي **Jugular Foramen** د آفتونو له کبله منځ ته راځی] شتون لری.

- Vogt-Koyanagi-Harada Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د [دواړه لوروته د زجاجیه التهاب **Bilateral Uveitis**، چې د

(**Iridocyclitis, Exudative Choroiditis, Meningism, And Retinal Detachment**) سره مل او ورسره (**Vitiligo**، **Alopecia**، **Poliosis**، **Deafness**) هم شتون ولری او ښائی غوره لامل یې د (**Inflammatory Autoimmune Disorder**) بلل شی] شتون لری .

- Waardenburg's Syndrome

هغه ډول ارثی اتوزومال غالب اختلالاتو سنډروم دئ چې پکې د [پلنه پوزه **Wide Bridge Of The Nose** د جنبی ښځایه کېدنې **Inner Canthi And Puncta** له کبله ، صباغی اختلالات **Lateral Displacement** چې (**Pigmentary Disturbances White Forelock, Heterochromiairidis, White Eyelashes, Leukoderma**) او ځینې وخت (**Cochlear Hearing Loss**) هم پکې ګډون لری منځ ته راځی] شتون لری .

- WAGR Syndrome

هغه ډول سنډروم چې پکې د [پښتورګو **Wilms' Tumor** تومور ، د سترګو د آیریس نشتوالې **Aniridia** ، بولی تناسلی انومالی **Genitourinary Abnormalitie**یا ګوناډوبلاستوما **Gonadoblastoma** او عقلی تأخر **Mental Retardation** د کروموزوم **Chromosome -11** نشتوالی له کبله منځ ته راځی] شتون لری .

- Walker-Warburg Syndrome

هغه وژونکې ولادی سنډروم چې پکې د [هایدروسفالوس **Hydrocephalus** اومغزی تلفیفونو نشتوالې **Agyria**، بیلابیل عینی انومالی **Various Ocular Anomalies** ، ځینی وخت انسفالوسل **Encephalocele**] شتون لری . د (**Warburg's Syndrome**) په اندول.

- Warburg's Syndrome

د (**Walker-Warburg's Syndrome**) په اندول.

- Waterhouse-Friderichsen Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [خبیث ډول (**Malignant Or Fulminating**) د دماغی – نخاعی سحایاوو التهاب **Epidemic Cerebrospinal Meningitis** د ناڅایه حملې او لنډې مودې دوام سره ، تبه **Fever** ، کولاپس **Collapse** ، کوما **Coma** سیانوزیس **Cyanosis** ،د پوستکی **Skin** او مخاطی غشأ **Mucous Membranes** پتیشیا **Petechiae** او دوه اړخیز ادرینال

Syndromic

سنډرومی ، د سنډروم سره په تړاو کې ، د (Syndrome) اړوند صفت دئ.

- Syndromic Hereditary Hearing Impairment

ارثی ډول د اورېدنې د تخریب سنډرومی بڼه .

- Syndromic Surveillance

د سنډرومونو د تثبیت اړوند سرویلانس .

Syndromology

هغه علمی طبی څانګه چې پکې د سنډرومونو اړوند ولادی غېرنارملتیاوو د [پېژندنې ،لاملونو ، درملنې] کړنلارې او لارې څېړلې شی.

Synechia

نښتنه ، پیوستون ،هغه حالت چې پکې دوه برخې سره یو تر بله نښتنه کوی لکه له قرنیې سره د عنبیې (Iris) پیوستون .

- Synechia Vulvae

د فرج یو تر بله سره نښتې بڼه .

Synechiotomy

د یوې نښتې (پیوستون) برخې سره جلاکولو جراحی کړنلاره.

Synechotome

هغه جراحی وسیله / چاړه چې د یوې نښتې (پیوستون) برخې سره جلاکولو جراحی کړنلاره لپاره تړې کار اخیستل شی.

Synechotomy

د (Synechiotomy) په اندول.

Synechtenterotomy

د نښتلو کولمو د برخو سره جلاکولو جراحی کړنلاره .

Synecologic

د (Synecology) اړوند صفت .

Synecology

ساینکولوژی، هغه علمی طبی څانګه چې پکې د ایکولوژیکی اړیکې (Ecological Interrelationships) په ټولنه کې د ارګانیزم (Organisms) سره څېړلې شی.

Synemin

هغه د (230-Kd Intermediate) سره مترافق پروټینی اړیکه (Filament-Associated Protein) چې په (Three-Dimensional Intracellular Lattice) کې د راډیولوژیک غېرنورمال Radiologic Abnormalities ننبې هم ولیدل شی] شتون لری .

- Wiskott-Aldrich Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [د مزمن اکزیما Chronic Eczema ، تقیحی مزمن منځنی غوږ التهاب Chronic Suppurative Otitis Media ، وینه لړی Anemia ، ترومبوسایتو پینیک پورپورا Hrombocytopenicpurpura خانګړنو په څېر پېښېږی چې دا حالت به د معافیت کمښت Immunodeficiency Syndrome یو ډول سنډروم دئ چې په (X-Linked) کروموزوم پورې اړوند دئ او په مغلوب Recessive Trait ډول لېږدول شی او د (Cell-Mediated Immunity) غېر وظیفوی بڼه ده] شتون لری .

- Withdrawal Syndrome

هغه سنډروم چې د [Substance Withdrawal] په اندول دی .

- Wolf-Hirschhorn Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [د څلورم کروموزوم د لنډې مټې Short Arm Of Chromosome- 4 د نسبی حذف کېدنې Partial Deletion سره مل وی او کلینیکی نښې یې د (د کوپړی کوچنیوالې Microcephaly ، د دواړو ترمنځ د زیاتې فاصلې /واټن شتون Hypertelorism ، د سترګې د پردې شتون Epicanthus ، د تالو درز Cleft Palate ، د لاندینۍ ژامنې کوچنیوالې Micrognathia ، له عادی کچې څخه د ښکته راځوړندو غوږونو Low-Set Ears ، د مرغېږیو اختفأ Cryptorchidism ، هایپوسپډیاز Hypospadias) په څېر راخرګندېږی] شتون لری.

- Wolff-Parkinson-White (WPW) Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [د حملوی تاکی کارډیا Paroxysmal Tachycardia یا اذینی فیبریلیشن Atrial Fibrillation ، او له وخت څخه دمخه تحریک ملګرتیا چې په زړه برېښنائی ګراف کې د (Short P–R Interval) فاصله لنډېږی او (Wide Qrs Complex) پلنېږی چې په وصفی ډول د Early Qrs Vector (Delta Wave) حالت څرګندویه وی] شتون لری .

- Wyburn-Mason's Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [ماغزو یوه یا دواړه اړخونو کې شریانی وریدی انیوریزمونه Arteriovenous Aneurysms چې د سترګو د نیمګړتیاوو Ocular Anomalies ، د مخ د خالونو Facialnevi او څینې وختونه د ذهنی روسته پاتې والی Mental Retardation سره مل وی] شتون لری .

- Syndrome- X

هغه سنډروم چې پکې د [صدری خناق Angina Pectoris یا انجینا ته ورته صدری دردونه Angina-Like Chest Pain چې د اکلیلی شریان Coronary Arteries نورمال بڼې شریانی انځور ګرافیکي Normal Arteriographic Appearance منظرې سره مل وی] شتون لری .

- Zollinger-Ellison Syndrome

هغه سنډروم چې پکې د [غېر وصفی Atypical ، عکس العملی Intractable ، څینې وختونه پرکېدنکی Fulminating ، پېپټیک قرحې Peptic Ulcers او بېدریغه مفرط ډول د معدې اسیدی افراز Extremegastric Hyperacidity او سلیم Benign یا خبیث Malignant ګاسټرینوما Gastrinomas په پانکریاس کې لیدل شی] شتون لری .

(Cytoskeletal Elements) اړیکې جوړوی.

Synencephalocele

هغه ډول انسفالوسل چې د نورو مجاور او ګاونډ برخو سره ننښلېدلې وی.

Synentognathi

هغه ډول کب (ماهی) د ملاټیر نلری ، الوتونکې کب.

Syneresis [5]

د مایع (Fluid) برخې آزادېدنه لکه وینه (Blood Clot) چې کلکېدنه مومی له هغه څخه مایع برخه آزادېږی. یو بل ته د جیل د خپرېدنې فاز د ذرو ورتلل چې د منتشرې واسطې د مقداری بېلوونې او د جیل د کوچنی کېدنې څخه سرچینه اخلی.

Synergia

د دوه اړیکې لرونکو عملونو یا ډېرو موادو Agents او ګډو جوړښتونو More Structures یا فزیولوژیکو پروسو Physiologic Processes چې د یو بل سره د ګډ عمل (Combined Action) او همغږی Coordinated Action په نتیجه کې د توان زیاتوالی منځ ته راوړی. د (Synergism) او (Synergy) په اندول.

Synergic

د (Synergy ، Synergism) اړوند صفت.

- Synergic Control

د ګډ عمل (Synergism ، Synergy) کنټرول.

- Synergic Curve

د ګډ عمل (Synergism ، Synergy) اړوند منحنی انځور.

- Synergic Muscles

د ګډ عمل (Synergism ، Synergy) لرونکی عضلاتو اړوند.

Synergism

د دوه اړیکې لرونکو عملونو یا ډېرو موادو Agents او ګډو جوړښتونو More Structures یا فزیولوژیکو پروسو Physiologic Processes چې د یو بل سره د ګډ عمل (Combined Action) او همغږی Coordinated Action په نتیجه کې د توان زیاتوالی منځ ته راوړی او اغېزمنتیا زیاتوالې مومی ،د (Synergy) په اندول.

Synergist

هغه ماده یا عضله چې یو د بل شه ګډ کارکوی او یو د بل قوت او اغېزمنتیا زیاتوی.

Synergistic

د (Synergy) او (Synergist) اړوند صفت.

- Synergistic Action

د ساینر جیزم پېښونې اړوند عمل.

- Synergistic Agent

د ساینر جیزم پېښونې اړوند ماده/عامل.

- Synergistic Copathogens

د ساینر جیزم پېښونې اړوند اشتراکی پتوجنونه.

- Synergistic Muscles

د ساینر جیزم پېښونې اړوند عضله.

Synergy

د دوه اړیکې لرونکو عملونو یا ډېرو موادو Agents لکه درملو او ګډو جوړښتونو More Structures یا فزیولوژیکو پروسو Physiologic Processes چې د یو بل سره د ګډ عمل (Combined Action) او همغږی Coordinated Action په نتیجه کې د توان زیاتوالی منځ ته راوړی او اغېزمنتیا زیاتوالې مومی ،د (Synergism) او (Synergy) په اندول.

- Synergy between PCI with Taxus and Cardiac Surgery

د (PCI With Taxus) او (Cardiac Surgery) ترمنځ ساینرجی منځ ته راتګ

- Synergy Patterns

د ساینرجی اړوند نمونه.

Synersism

د (Synesthesia) په اندول.

Synesthesia

په رونېوهنې علم (Psychology) کې هغه حالت چې یو ثانوی حس چې اصلی حس بدرګه کوی. د حس یو ډول ناروغی چې پکې یو حس د بل حس په بڼه درک کېږی لکه هغه مهال چې یو غږ د یوه رنګ د احساس لامل وګرځی. د حس یو ډول ناروغی چې پکې د بدن دیوه ټکی تحریک په بل ټکی کې د محرک د احساسېدو لامل وګرځی.

Synesthesialgia

یوه دردناکه هم حسی حالت.

Syngamous

د (Syngamy) اړوند صفت دئ.

Syngamy

جنسی تکثر ، د القاح پرمهال د زړی (تُخم) لپاره د دوه ګامېټونو پیوستون.

.

Syngeneic
دهغه کسانو یا انساجو پېژندنه چې یو ډول جینوټایپ لري او لدې امله د نسجی پیوند (**Transplanting Of Tissue**) لپاره پرته لدې چې معافیتی غبرګون راوښیی کړی کارېدلای شی.

Syngenesis
د یوه داسې ژوندی موجود څخه د یوه کس سرچینه چې له دواړو والدینو څخه منشأ اخلی نه دا چې له یوه څخه ، د یوه ګډ نیکه څخه منځ ته راغلی نسل.

Syngraft
ساین ګرافټ ، د داسې کسانو تر منځ پیوند چې له جنیټیکی پلوه سره ورته والې لری لکه یو رنګه غبرګونی زېرېدلی ماشومان . د (**Isograft**) په انډول.

Synizesis
بندښت ، انسداد ، ترړ کېدنه ، د مایتوزیس وېشنه کې یوه مرحله ده چې د هستې کروماتین پکې د یوې کټلې بڼه غوره کوی.

Synkiesis
د ارادی حرکتونو سره یوځای دیوه غېر ارادی حرکت شته والې .

Synkietic
د (**Synkiesis**) اړوند صفت .

Synnecrosis
یو ډول ګډ ژوند چې په هغه کې د ټولنو یا وګړو ترمنځ اړیکې د دواړو پّه زیان وی .

Synophthalmia
هغه حالت چې پکې (څاروی ، حیوان یا انسان) یوازې یوه سترګه ولری.

Synophthalmus
د (**Synophthalmia** ، **Cyclops**) په انډول . د یوې سترګې خاوند انومالی کس .

Synopsis
لنډیز، اجمال.

Synoptophore
هغه طبی وسیله چې د سترګو د کوږوالی (حول **Squint**) د اصلاح لپاره پکار وړله شی.

Synorchism
د مرغېړو (خصیېو) په ولادی توګه پیوستون او ورځخه د یوې کتلې رغېدل .

Synoscheos
د تناسلی آلې او سفن (**Scrotum**) ترمنځ پیوستون او نښتنه .

Synosteotomy
د بندونو وازول / تسلیخ ، د مفاصلو څیرلو او وازولو جراحی عملیات کړنلاره.

Synostosed
د یوه هډوکو یو تربله د نوی هډوکی نسج سره پیوستون.

Synostosis
د ګاونډیو دوه هډوکو یا د یوه هډوکی د بیلابېلو برخو ترمنځ پیوستون اود نوی هډوکی نسجی (**New Bone Tissue**) یو کېدنه ، د دوه داسې هډوکو یو تر بله سره یو کېدنه چې په طبیعی ډول یو له بل څخه جلا وی .

Synostotic
د (**Synostosis**) اړوند صفت .

Synotia
د لاتدینی ژامنې لاتدې په خپل افقی ځای کې د غوږونو پاتې کېدل .

Synovectomy
هغه جراحی کړنلاره چې پکې دبندونو (**Synovial Membrane**) راویستله شی.

Synovia
د ساینویال مایع .یوه شفافه او رڼه مایع ده چې دساینویال غشأ پواسطه افرازېږی او په (مفصلی جوف ، بورساګانو او ټینډونی پوښونو) کې موندل کېږی . د (**Synovial Fluid**) په انډول .

Synovial
د (**Synovial Cavity**) اړوند صفت .

- **Synovial Cavity**

د بندونو اړوند ساینویال دننه جوف برخې مسافه یا تشه فضأ.

- **Synovial Fluid**

د ساینویال مایع .یوه شفافه او رڼه مایع ده چې دساینویال غشأ پواسطه افرازېږی او په (مفصلی جوف ، بورساګانو او ټینډونی پوښونو) کې موندل کېږی.

- **Synovial Joint**

د ساینویال مایع لرونکی بند چې پداسې غشأوو سره دوه هډوکی جلا وی چې پکې د هغو تر منځ یوه شفافه او رڼه مایع ده چې دساینویال غشأ پواسطه افرازېږی

Synteny
په یوه کروموزوم باندې د جین (Gene)دوه یا زیاتو لوکسونو (Locus) شتون پرته لدې چې د دوی نېږدېوالې د هغوی د پیوستون له لامل وګرځی یا ونه ګرځی .

Synthase
هغه چې په ځینو انزایمونو په نومونو کې کارېږی په ځانګړې توګه (لیاز) هغه مهال چې د یوه تعامل یا غبرګون د سنتېز اړخ د نورو هغهو په پرتله پیاوړې او جوت وی .

Syntheses
د (Synthesis) لپاره ګڼه شمېره ده .

Synthesis
1. د رغوونکو /جوړوونکو عنصرونو او توکو د ګډېدلو له لارې د یوه مرکب رامنځ ته کول چې کېدای شی په مصنوعی توګه یا نورماله توګه صورت ونیسی ،ترکیب، دبرخو یو ځای کونه، دبرخو ګډون. **2.** په روانپوهنې (Psychiatry) طب کې د شخصیت (Personality) د مختلفو عنصرونو بشپړتیا.

Synthesise
هغه عملیه / پروسه چې پکې د ببلابېلو کېمیاوی عنصرونو د ګډېدلو له لارې د یوه کېمیاوی مرکب (Chemical Compound) رامنځ ته کول چې کېدای شی بدن دهغې د جوړولو قادر نه وی لکه د[اساسی امینو اسیدونه (Essential Amino Acids) یا شحمی اسیدونه (Essential Fatty Acids)]چې له بهر څخه تر لاسه کوی او هغه په بدن ترکیب کېږی او اړین مواد /مرکبونه (Compound) جوړوی . د (Synthesize) په انډول.

Synthesize
دبرخو ګډول، دبرخو یو ځای کول، ترکیبول.

Synthetase
هغه اصطلاح چې د ځینو (لیګیز ، لیګاز) ونو په نومونو کې پکارېږی خو اوس ورځخه کار نه اخیستل کېږی ځکه چې د سنتیز سره ډېر ورته والې لری.

Synthetic
جوړشوی، ډیسي، شلخی، مصنوعی ، هغه چې په طبیعی ډول شتون نلری او دانسان پواسطه جوړ شوې وی . د (Artificially) په انډول.

شتون لری چې د دې بندونو تغذیه اود سطحو تر منځ د ښوئېدنې اړوند دنده تر سره کوی . ورته نوم ئې (Diarthrosis) دئ .

- **Synovial Membrane**

هغه نری ښویه غشأ چې د مفصلی کپسول دننه برخه پوښی او د ساینویال مایع چې د مفصلی سطحه ښویه کوی افرازوی، د (Synovium) په انډول.

Synovialis
ساینویال ، د (Synovium) اړوند صفت.

Synovioma
د ساینویال غشأ (Synovial Membrane) اړوند تومورونه.

Synoviorthesis
د مفصل دننه ته د راډیواکتیف کلورایدی موادو تر زرق کولو وروسته د ساینویال التهابی نسج د تخریب په موخه په ساینویوم باندې د وړانګو اچول.

Synovitis
د ساینویال غشأ (Synovial Membrane) التهاب .

- **Dry Synovitis**

هغه ډول د مفصل التهابی انصباب چې لږه پیمانه وی او وچه بڼه لری ، د (Synovitis Cicca) په انډول.

- **Synovitis Cicca**

هغه ډول د مفصل التهابی انصباب چې لږه پیمانه وی او وچه بڼه لری ، د (Dry Synovitis) په انډول.

- **Simple Synovitis**

هغه ډول د مفصل التهابی انصباب چې رڼه یا لږه پیمانه وی .

- **Tendinous Synovitis**

له هډوکی سره د ټینډون د پیوستون پرځای کې التهاب .

- **Villonodular Synovitis**

د زنګون (ګونډې بند) کې د ساینویال نسج ډېرېدل چې د ساینویال چینونو او فیبروزی نوډولونو څخه چې د جیانټ حجرو او ماکروفاژونو ارتشاح ولری جوړېږی .

Synovium
ساینویوم ، د بندونو کپسول / پوښ هغه برخه ده چې بندونه پوښوی او د (Synovial Fluid) افرازوی چې د بندونو حرکتونه او خوځښتونه آسانه کوی په یو لړ ناروغیو لکه (70% Of Rheumatoid Arthritis) کې افراز زیاتوالی مومي او بندونه پېړوالی او پرسوب کوی .د (Synovial Membrane) په انډول.

Syntenic
د (Synteny) اړوند صفت .

Synthetic Compounds

مصنوعی مرکبونه .

Synthetic Drugs

مصنوعی درمل .

Synthetic Materials

مصنوعی مواد .

Synthetic Medicne

مصنوعی درمل یا دواګانې

Semisynthetic Pecilline

نیمه ترکیبی پنسیلین مرکبونه .

Synthroid

د (**Levothyroxine –Na$^+$**) لپاره سوداګریز نوم دئ.

Syntrophoblast

د (**Syncytiotrophoblast**) په انډول.

Syntropic

یوې لوړې ته تاوول، د ځوفکتیورنو د همغږۍ ځرګندول او بیان لکه د له نورو ناروغیو سره د یوې ناروغۍ اړیکه یا پیوستون .

Syntropy

د (**Syntropic**) سنتروپیک والی حالت شتون .

Syphilide

د سیفلیس دوهمې مرحلې (**Second Stage Of Syphilis**) هر ډول جلدی ضایعه.

Syphilis

سیفلیس ، دا یوه مقاربتی ناروغی ده چې د (**Treponema Pallidum**) پنامه د (**Spirochaete**) پذرېعه منځ ته راځی او د هډونو او پوستکی پراخه اندازه ټپونه او تخریب رامنځ ته کوی او د جنسی نېغ په نېغه اړیکو (**Sexually Transmitted Disease**) له لارې لېږدول کېږی . دري مرحلې لری : ۱- لومړۍ مرحله چې کلک ښه قرحه [**Hard Sore (Chancre)**] د تناسلی غړو او ځینې وختونه خوله کې منځ ته راځی . ۲- دوهمه مرحله دا دوه یا دري میاشتې وروسته قرحه (**Sores**) او جلدی اندفاعات په د تناسلی غړو او ځینې وختونه خوله کې منځ ته راوړی چې وروسته لدې ټپونه د اوږدې مودې لپاره له منځه ځی . ۳- درېیمه مرحله (**Third, Or Tertiary, Stage**) چې پکې لړوندوالې **Blindness** ، عصبی اختلالات **Brain Disorders** ، د ابهر شلېدنه **Ruptured Aorta** ، عمومی فلج **General Paralysis**] چې د عقلی اختلالونو او مړینې لامل ګرځېدلای شی . د پېژندنې لپاره یې د (**Wassermann Test** او لړ مهال **Kahn Test**) تر سره کېږی .

- Congenital Syphilis

ولادی ډول لېږدول شوې سیفلیس ناروغی . د رحمی ژوندون په لړ کې اکتسابی سیفلیس چې د زیږون په مهال یا له هغه لړ وروسته د څو غاښیزو یا هډوکیزو ، جلدی او مخاطی ضایعاتو په ښه رابرسېره کېږی عینی او نیورولوژیک بدلونونه رامنځ ته کوی.

- Endemic Syphilis

یو مزمن التهابی انتانی ناروغه حالت چې د داسې یوه ترېپونیما پوسیله رامنځ ته کېږی چې چې له ښې پلوه یې د (**Treponema Pallidum**) سره توپیر ناشونې ښکاری خو د غېر جنسی لارو څخه لېږد ېږی . د (**Endemic Syphilis**) په انډول.

- Non-venereal Syphilis

د (**Non-Venereal Syphilis**) په انډول.

- Primary Syphilis

لومړنی مرحله د سیفلیس چې پکې کلک ښه قرحه [**Hard Sore (Chancre)**] د تناسلی غړو او ځینې وختونه خوله کې منځ ته راځی چې شدیده انتانی او د درد ښه نلری او ګاونډی لمفاوی عقدات ورسره سخت او پرسېدلې وی.

- Secondary Syphilis

دوهمه مرحله دا دوه یا دري میاشتې وروسته قرحه (**Sores**) او جلدی اندفاعات په د تناسلی غړو او ځینې وختونه خوله کې منځ ته راوړی چې دا د [تبې ، مولټیفورم جلدی اندفاعاتو ، د عنبیې التهاب ، الوپسیا ، مخاطی ټپونو ، شدید سرخوږی او بندونو او پریوسټ برخو کې د شدید درد په څېر ننبې لری] چې وروسته لدې ټپونه د اوږدې مودې لپاره له منځه ځی.

- Tertiary Syphilis

درېیمه مرحله (**Third, Or Tertiary, Stage**) چې پکې پراخ ډول سیفلیسی ټپونه د[پوستکی ، هډوکو ، بندونو زړه او رګونو ، مرکزی عصبی سیستم (رڼوندوالې **Blindness** ، عصبی اختلالات **Brain Disorders** ، د ابهر شلېدنه **Ruptured Aorta** ، عمومی فلج **General Paralysis**)] چې د پرمختګ په صورت کې د عقلی اختلالونو او مړینې لامل ګرځېدلای شی .

Syphilitic

سفلیسي،د سیفلیس(**Syphilis**) اړوند صفت .

Syphiloma

د سیفلیسی سرچینی لرونکی تومور .

Syring -

دا یو مختاړې دئ د (**Syringo-**) معنی لری .

Syringe

سورینج ، د پیچکاری بمبه ، د مایعاتو د ترزیق یا له رګونو او جوفونو څخه د هغوی د اخیستلو لپاره وسیله. یو ډول دپیچکاری، اوزخم مینځلو آله، عطر پاشونی. ستن وهل، پیچکاري کول، پاشلو پریولل، مینځل.

- Air Syringe
د کوچنی سوری لرونکی کوچنی سورنج چې د تشبدونکی غاښ جوف ته د هوا د بهیر د سمولو لپاره کارېږی تر څو کوچنی ذرات راپاک کړی یا د هغه جوف وچ کړی.

- Chip Syringe
د (**Air Syringe**) په انډول.

- Dental Syringe
هغه کوچنیں سورنج چې د غاښونو اړوند طبی جراحی په لړ کې پکارېږی او یو بې حسه کوونکې محلول لری.

- Hypodermic Syringe
تحت الجلدی سورنج. هغه سورنج چې د تحت الجلدی زرقیاتو لپاره تری کار اخیستل کېږی.

- Luer's Syringe
د داخل الوریدی یا تحت الجلدی کارونې لپاره ښیښه ئی سورنج دئ

- Luer-Lok Syringe
د (**Luer's Syringe**) په انډول.

Syringe -
دا یو مختاړې دئ او د تیوبونو (**Tubes**) په ځانګړی توګه د (د نخاع مرکزی کانال **Central Canal Of The Spinal Cord**) معنی بشپړوی.

Syringectomy
د (**Fistulectomy**) په انډول.

Syringitis
د اورېدنې (سامعوی **Austachian Tube**) تیوب التهاب.

Syringo-
دا یو مختاړې دئ د فیستول او د تیوبونو (**Tubes**) په ځانګړی توګه د (د نخاع مرکزی کانال **Central Canal of the Spinal Cord**) معنی بشپړوی.

Syringoadenoma
د سایرینګو سیستې اډینوما (**Syringocystadenoma**) په انډول.

Syringobulbia
په بصل النخاع کې د جوفونو شتون، د په بصل النخاع (**Brain Stem**) کې د (**Syringomyelia**) شتون.

Syringocarcinoma
د خولو د غدواتو اړوند سرطان.

Syringocele
د میالو سل (**Myelocele**) په انډول.

Syringocoele
د نخاع مرکزی کانال.

Syringocystadenoma
د خولو د غدواتو (**Sweat Glands And Ducts**) اړوند سلیم سیستیک تومور (**Benign Tumour**)، د (**Syringoma**) په انډول.

Syringocystoma
د سایرینګو سیستې اډینوما (**Syringocystadenoma**) په انډول.

Syringoma
د سایرینګو سیستې اډینوما (**Syringocystadenoma**) چې د قناتی برخو څخه سرچینه اخلی او په یوه فیبروزی استروما کې د خولو په په سیستیک ازادو بهېدنو سره د پېژندنې وړ ګرځی.

Syringomyelia
د نخاع اړوند نیمګړې ودې ناروغی ده چې پکې د نخاع (**Spinal Cord**) یوه برخه وازه پاتې کېږی او یوه جوفی کڅوړه (**Cavities**) لری چې د نری غشأ پذرېعه پوښلې وی چې پکې دنخاع اعصاب (**Nerves**) اغېزمن کېږی او د تماس حسیت (**Touch Sense**) او درد درک (**Pain Sense**) له منځه تګ پېښېږی.

Syringomyelitis
د نخاع رسی (**Spinal Cord**) هغه رازېرسوب لرونکی (**Swelling**) ناروغی چې پکې دغه جوف التهاب موندلې وی.

Syringomyelocele
د نخاع اړوند نیمګړې ودې (**Spina Bifida**) شدیده بڼه ناروغی ده چې پکې د نخاع (**Spinal Cord**) یوه برخه وازه پاتې کېږی او یوه جوفی کڅوړه (**Cavities**) لری چې د نری غشأ پذرېعه پوښلې وی چې پکې دنخاع اعصاب (**Nerves**) له کاناله بهرته راوځی اغېزمن کېږی او د تماس حسیت (**Touch Sense**) او درد درک (**Pain Sense**) له منځه تګ پېښېږی.

Syringomyelus
په (**Syringomyelia**) باندې اخته والې.

Syringopagus
هغه انومالی یا نیمګړې وده چې پکې غبرګونی ماشومان د ملاتیر (نخاع رسی) برخې څخه یو تر بله نښتې بڼه لری.

Syringotomy
د فیستول وازولو (**Fistulotomy**) جراحی عملیات ګرنلاړه تر

- Classification System
د تصنیف کولو (ډلبندی ، ویشني) سیستم .

- Claster Designation System (CD System)
د هغه حجروی سطحي مارکرونو د ډلبندی لپاره یو سیستم چې د لمفوسایتونو په واسطه تولید ېږی .

- Centimeter -gram –second System
د (سانتی متر ، ګرام ، ثانیې) سیستم.

- Central Nerve System (CNS)
مرکزی عصبی سیستم چې د (دماغ–نخاع) ګډ چوړښت دئ .

- Centerencephalic System
د مغزی ساقې په مرکز کې موجود نیورونونه چې په سرکې یې تر تلاموس او په ببخ کې یې تر بصل النخاع پورې چې چې دوه مغزی نیم کرې سره نښلوی .

- Chromaffine System
که دبدن کرومافینی حجرې (چې په څرګند او پیاوړی ډول په کروم رنګونو سره رنګېدلای شی) په بشپړ ډول په پام کې ونیول شی دا سیستم ورځخه پېښېږی . دا حجرې په (سیمپاتیک اعصابو ، ادرینال ، کاروټیډ او عصعصی غدواتو او نورو هډونو) کې لیدلې کېږی.

- Circulatory System
دورانی سیستم ، هغه کانالی سیستم چې له منځ څخه یې د بدن تغذیه کوونکی مایعات تېرېږی تر ډېره بریده د وینې رګونه چې وینه لېږدوی .

- Communication System
اړیکیز (**Communicating**) سیستم .

- Conduction System of Heart
د زړه د ځانګړو عضلی تارونو څخه جوړ سیستم چې قلبی سیالې پېښوی لېږدوی او تقلصونه همغږی کوی .دا سیستم له (سینوسی اذینی او اذینی–بطینی غوټو ، د هیس ګډیې ، او د هغو له ځانګو څخه د پُرکینج د سب اندوکارډیال مزو) څخه جوړشوې دئ.

- Control System
هغه کنټرولی سیستم چې د نورو عملیو او سیستمونو قابو کولو لپاره کارول شی.

- Data System
معلوماتی سیستم . د (**Information System**) په انډول.

- Digestive System
هضمی جهاز او سیستم .

- Drainage System
د بدن څخه د جوفونو څخه د مایعاتو د راویستلو او درېناژ (**Drain**) سیستم .

- Endocrine System
اندوکرینی سیستم .د اندوکرین غدواتو او چینلو نو څخه جوړ جهاز چې د بدن دننه افرازات (هورمونونه) جوړوی او افرازوی سره کول.

Syrinx
یو ټیوب ، فیستول ، په الوتونکو کې د مرۍ لاندینۍ برخه چې غږونه پکې تولید ېږی .

Syrup
شربت ، خوږووبی. یوغلیظ قندی محلول چې په (اوبو کې د سکروز یا نورو اوبلنو مایعاتو) څخه جوړ وی لکه د درملو ماده چې د شربت په بڼه جوړېږی .

Syrupy
شربتي، دخوږووبي.

Systaltic
پّه پرلپسې ډول منقبض او منبسط کېدنه لکه د زړه تقلصونه (**Heart Contracts And Relaxes**) په متناوبه بڼه ، نبضان لرونکې ، د سیستالټ (**Systalt**) اړوند صفت .

System
سیستم ، لړ، لړۍ، جهاز ، دستګاه، لار، ترتیب، نظم، نظام. د یو بل په پورې اړوندو برخو (شیان ، هډونه ، موجودات) یوه ټولګه یا لړۍ چې ګډې موخې لپاره کار کوی یا ګډې پایلې رامنځ ته کوی په داسې حال کې چې دا یو یې هم په یوازې ډول نشی تر سره کولای.

- Alimentary System
د هضمی جهاز او سیستم چې له خولې څخه تر مقعد پوری چې په هضم پروسه کې رول لری .

- Articulatory System
د بدن د بندونو (**Joints**) اړوند سیستم .

- Audio System
د اورېدنی بریښنائی وسیله چې د غږونو د ثبت او تولید لپاره کارولې شی. د (**Sound System**) په انډول.

- Auditory System
دبدن د نسجی جوړښتونو یوه لړۍ چې له محیط څخه غږونه تر لاسه کوی او د سیګنالونو په بڼه یې عصبی مر کزی سیستم ته یې استوی.

- Autonomic Nervous System
د عصبی سیستم یوه برخه چې د زړه د (عضلی ، صافي عضلي او غدواتو) فعالیت له تنظیم سره سروکار لری چې معمولاً سیمپاټیک او پاراسیمپاټیک عصبی سیستم پکې شاملېږی ، خود کار عصبی سیستم.

- Cardiovascular System
د زړه او وینې رګونو سیستم ،قلبی – وعائی سیستم چې پکې د بدن انساجو ته وینه رسېږی.

- Immune System

معافیتی (**Immune**) سیستم .د حجروی او مالیکولی اجزاوو څخه جوړ یو پیچلي سیستم چې مهمه دنده یې د خپل او پردی نسجونو د حجرو تر منځ توپیر او تفریق او د بهرنیو پتوجنیک ارګانیزمونو او موادو پر ضد مقابله شمېرله شی او (تایموس **Thymus** ، مخ عظم **Bone Marrow** ، لمفوئید نسج **Lymphoid Tissues**) پکې ورګډ دی .

- Integumentary System

د پوستکی (**Skin**) او د هغه ملحقات (**Appendages**) .

- International System of Units

د (**Is Units**) په اندول .

- Keratinizing System

هغه حجري چې په اپي ډرم کې د اپیتلیوم اصلی کتله جوړوی او له اکتودرم څخه سرچینه اخلی او د تقرن بهیر پکې پېښېږی او تفصلی مړۍ سطحي طبقې رامنځ ته کوی.

- Lockage System

بند سیستم چې د یوه کانال یا اوبلن بهیر لاره بندوی .

- Labyrinth System

هغه مغلق تګ لاره لرونکی سیستم یا تونل (**Tunnels**) چې پکې ورکېدنه ساده وی.

- Limbic System

د مغزی جوړښتونو یوه ډله (هایپوکمپ ، فورنیکاتوس او مېګدال) چې د ټولو تی لرونکو ترمنځ شریکه بڼه لری داسیستم د (شامي ، اوټونومیکو چارو ، چلندونو او احساساتی ځانګړنو او اړخونو) مسئولیت پر غاړه لری.

- Locomotor System

دا سیستم د ژوندیو موجوداتو هغه جوړښتونه چې د حرکت مسؤولیت په غاړه لری او په انسان کې د لاندینیو هډونو له لېګامنټونو ، عضلاتی او مفصلونو څخه عبارت دی.

- Lymphatic System

په ګډه د لمفاټیک (**Lymphatic**) رګونو او چینلونو او لمفاوی نسجونو ته ویل شی.

- Lymphoid System

دلمفاوی نسجونو اړوند سیستم.

- Lymphoreticular System

دلمفاوی نسجونو او رټیکولو اندوتیلیال اړوند سیستم.

- System of Macrophages

د ماکروفاژ سره تړلې پروسې اړوند شبکه او سیستم.

- Masticatory System

د مخ او خولې ټول هډوکیز او نرم اجزاوی چې د ژوولو په چاره کې ونډه اخلی (عضلات ، رګونه ، د اعصابو ریښې) په ګډه مسئولیت لری .

- Mechanical System

مېخانیکی سیستم چې د عناصرو او جوړښتونو دننه اصولو د ویني دوران ته یې آزادوی –میتابولیزم او د بدن نور بهیرونه تر اغېز لاندې راولی او له هغه وروسته اطراح کېږی پدې سیستم کې (هایپوفیز غده ، تایروئید غده ، پاراتایروئید غده ، ادرینال غده ، پینایل جسم ، ګونادونه او پاراګوناډونه ، پانکریاس ، تایموس ، پاراګانګلیونونه) برخه اخلی .

- Enteric Nervous System

د کولمو اړوند عصبی سیستم ، هغه معائي شبکه چې ځینې وختونه د اوتونومیک سیستم څخه په ګوښی ډول په پام کې نیول شی کېږی .چې دا د خپلواک او موضعی رفلکسی فعالیت لرلو له کبله وی.

- Extrapyramidal System

خارج الاهرمی سیستم .هغه اناټومیک واحد چې تر ډېره په اناټومی پکار ېږی او هغه رشتې او هستې پکې شاملېږی چې حرکتی چارو کې ونډه اخلی دا برخه د بدن په موقعیت پورې د اړونده مېکانیزمونو د همغږۍ او کنټرول د دندې تر څنګ د حرکتی او استنادی مېکانیزمونو کنټرول او تنظیم په غاړه لری.

- Gastrointestinal System

هضمی جهاز ، د (**Systema Digestorium**) او (**Systema Alimentarium**) په اندول .

- Genitourinary System

بولی تناسلی سیستم .

- Guidance System

لارښود (رهنمودی لرونکې) سیستم. هغه سیستم چې وسیله پکې لارښوده وسیله لری .

- Haversian System

یو هاورسی بهېدنه او د هغې شاوخوا متحدالمرکزه تېغې چې د متراکم هډوکی په جوړښت کې یو بنسټیز واحد جوړوی .

- Hematopoitic System

ټول هغه نسجونه چې د وینې جوړېدنې (هډوکوماغزه ، تایموس غده ....او نور) سره تړاو لری .

- Hetrogeneous System

غېر متجانس جوړښت لرونکې سیستم .

- His-Purkinje System

د زړه د هدایتی سیستم یوه برخه چې په ځانګړی ډول هغه چې د هیس ګېډۍ پیل او د پُرکېنج د شبکیې په وروستی برخه کې پای ته رسېږی.

- Homogeneous System

متجانس جوړښت لرونکې سیستم هغه چې جوړوونکې برخې یې سره د بیلولو وړ تیا نلری.

- Hypophyseoportal System

هغه ډول وینولونه چې د هایپوتلاموس په منځنی راوتلتیا کې پراته شعریه رګونه د قدامی هایپوفیز له سینوزوئیدی شعریه رګونه سره نښلوی .

- Reproductive System
تناسلی سیستم ، د هغه سیستم غړی **Organs** چې پکې د [هګۍ یا سپرم (تخمې **Gametes**) تولید **Production** او پخېدنه **Maturation** یا انکشاف] تر سره کېږی او د مثل د تولید وړتیا ترلاسه کوی . د (**Genital System**) په اندول.

- Resonator System
هر هغه سیستم چې وضاحت (**Resonates**) رامنځ ته کړی .

- Respiratory System
تنفسی سیستم ، ساکشوونکې سیستم ، هغه سیستم چې پکې د (**Oxygen**) او (**Carbon Dioxide**) تبادله د تنفس (**Breathing**) په لړ کې منځ ته راځي .

- Reticuloendothelial System (RES)
رټیکولو اندوتیلیال سیستم چې د معافیت تولید کې غوره رول لری او پکې (ټایموس **Thymus** ، مخ عظم **Bone Marrow** ، کبد **Liver**، توري **Spleen**، سینوزوئیدونه **Sinosoids** ، لمفوئید نسج **Lymphoid Tissues**) ورګډ ېږی .

- Sensory System
حسی سیستم ، ټول هغه حسی غړی (**Sense Organs**) چې په حسیت کې رول لوبوی.

- Solar Thermal System
د وړانګو اړوند د تودوخې سیستم لکه د لمر وړانګو په څېر.

- Stomatognathic System
د خولې او ژامنې په څېر توکی چې په ګډه سره د (ژوولو ، تیروولو ، تنفس کولو او خبرو کولو) مسئولیت پرغاړه لری.

- Sympathetic Nervous System
سیمپاټیک عصبی سیستم ، د اوټونوم سیستم صدری قطنی برخه چې [قبل العقدوی رشتې یې د توراسیک سګمنټونو او درېیو لومړنیو قطنی سګمنټونو له حجروی جسمونو څخه سرچینه اخلی ، بعدالعقدوی رشتې یې د (زړه ، ښویه عضلاتو ، او بدن ټولو غدواتو) ته وردرومی] بلل کېږی .

- Urogenital System
بولی –تناسلی سیستم ، د میتیازو او تناسل غړو اړوند سیستم.

- Vascular System
د بدن د رګونو (وینې رګونو لکه ورید او شریانونو) ځانګړې سیستم چې پکې مایع بهیر لکه (وینه **Blood** او لمف **Lymph**) چلند **Circulate** مومی

- Venous Blood System
د وریدی وینې چلند سیستم.

- Visual System
د غړو هغه ټولګه چې باصری احساسونه له چاپېریال څخه اخلی او سیګنال په بڼه یې مرکزی عصبی سیستم ته استوی .

Systema
سیستم ، جهاز . د (**System**) په اندول .

پر بنسټ ولاړ وی .

- Metric System
متریک سیستم چې د واټن او طول (وزنونو او مقیاسونو) ټاکنې لپاره پکار وړل شی.

- Mononuclear Phagocyte System (MPS)
له ماکروفاژونو او د هغو د له پریکارسورونو څخه د حجراتو جوړه ټولګه . دا کلمه د رټیکولو اندوتلیال سیستم چې پکې ګڼ شمېر ماکروفاژونه رانغاړل شی لپاره پکار وړله شی.

- Muscular System
عضلی سیستم .عضلی هغه برخه چې د رادی اسکلېټی غوښې (عضلاتو) اړوند بلل شی.

- Musculoskeleton System
عضلی اسکلېټی سیستم .د بدن عضلی هغه برخه چې د رادی اسکلېټی غوښې (عضلاتو، تینډون ، لېګامنټونو ، بندونو او مترافقیه نسجونو) اړوند بلل شی چې د بدنی استناد پری تر سره کېږی.

- Nervous System
عصبی سیستم . هغه شبکه چې پکې (حسی ، حرکی) کنټرولونکی برخه ورګډه ېږی . د (**Systema Nervosum**) په اندول.

- Osseous System
عظمی سیستم ، هډوکیز سیستم .

- Parasympathetic Nervous System
د خود کاره (اوټونومیک عصبی سیستم) پاراسیمپاټیک سیستم اړوند .چې ددې پواسطه (زړه ، صاف عضلات، د سر اوغاړې غدوات ،د ګېدې ، سینې او حوصلې احشاوی) برخې تعصیبوی .

- Peripheral Nervous System
محیطی عصبی سیستم ټولې هغه برخې چې له ماغزو او نخاع څخه بهر ته وتلې پرتې دی .

- Portal System
د باب سیستم ، هغه د وینې دورانی سیستم یو ځانګړې ترتیب چې په هغه کې و ینه د شعریه رګونو د یوه ډلې څخه راغونډېږی او سیستمیک دوران ته تر ستنېدو وروسته دمخه یوه لوی رګ یا نورو شعریه رګونو له یوې ټولګې څخه تېرېږی چې نمونه یې په هایپوفیزی غده او ځیګر (ینه) کې لیدله کېږی .

- Promotion System
هغه سیستم چې پکې د پرمختګ حالتونه او منځ ته راځي

- Purkinje System
پرکینج سیستم ،د زړه د هدایتی سیستم یوه برخه چې تر ډېره د پرکینج جال یا شبکې په نوم یادېږی.

- **Systema Alimentarium**

د (**Systema Digestorium -Gastrointestinal System**) په انډول.

- **Systema Digestorium**

د (**Systema Alimentarium** او **Gastrointestinal System**) په انډول .

- **Systema Lymphaticum**

لمفاوی سیستم . د (**Lymph System**) په انډول .

- **Systema Nervosum**

عصبی سیستم . د (**Nerve System**) په انډول .

- **Systema Nervosum Centrale**

مرکزی عصبی سیستم . د (**Central Nerve System**) په انډول .

- **Systema Respiratorium**

تنفسی سیستم . د (**Respiratory System**) په انډول .

- **Systema Skeletale**

اسکلیټی **Skeleton** کلک او غضروفی سیستم چې د بدن لپاره کلکوالې او استناد منځ ته راوړی ، د (**Skeletal System**) په انډول .

- **Systema Urogenitale**

بولی تناسلی جهاز ، د (**Apparatus Urogenitalis**) په انډول .

Systematic

په ترتیب برابر ، منظم. سیستمی ، د سیستم سره تړلې .

- **Systematic Desensitisation**

د سیستماټیک بڼه د هغه ډول چې پکې د د درملنې په اثر (وېره **Phobias** ، اظطراب **Anxiety**) په څېر د اختلالاتو حساسیت په تدریجی ډول راټیټول کېږی .

Systematical

موزون، په ترتیب برابر. په سیستم برابرول، په قاعده برابرول، په لارسمول.

Systematically

په سیستم پورې تړلې . د (**Sistemáticamente**) په انډول.

Système International d'Unités

د (**International System Of Units** او **SI**) په انډول.

Systemic

جسمي، دبدن دسیستم اړوند ، بدني.

- **Systemic Infection**

سیستمیک انتان /مېکروبونه .

- **Systemic Circulation**

د بدن د وینې بهیر په ټول دورانی سیستم کې چلېږی چې پکې پرته له سږو څخه (له ابهر(**Aorta**) څخه پیل مومی او د وداجی ورید **Venae Cavae** پذربعه بېرته راستنېدنه مومی) ورګډ ېږی .

- **Systemic Lupus Erythematosus**

سیستمیک لوپوس اریتیماتوزیس چې پکې ګڼ شمېر کولاجنی ناروغی **Collagen Diseases** ، د لوپوس شکل چې پکې سوررنګه اندفاعات **Red Patches** په پوستکی کې په منتشر ډول منځ ته راځی چې لنډه نښه یې (**SLE**) ده .

Systemize

په سیستم برابرول، په قاعده برابرول، سمول .

Systole

د زړه د تقلص او ضربان اړوند چې پکې د زړه له بطینونو څخه وینه ابهر او ریوی شریان ته پمپ کوی.

- **Aborted Systole**

هغه کمزوری او معمولاًله وخت څخه دمخه سیستول چې د یوه محیطی شریان له نبض سره یوشان نه وی .

- **Atrial Systole**

هغه اذینی انقباض چې په متې یې وینه له اذینونو څخه د بطینونو دننه لېږله شی .

- **Extra Systole**

اضافه سیستول . د زړه بې نظمه تقلص دئ .

- **Ventricular Systole**

د زړه د بطینونو تقلص / انقباض چې په متې یې وینه د ابهر او ریوی شریان ته لېږدوله کېږی.

Systolic

د سیستول (**Systole**) اړوند صفت .

- **Systolic Murmur**

د سیستول سره تړلې د زړه غېر نومال مر مر غږ چې یو غېر معمول د زړه دسامی (**Heart Valve**) آواز بلل شی.

- **Systolic Pressure**

سیستولیک فشار ، هغه د وینې لوړ ټکی ته رسېدلې فشار چې د سیستول پرمهال منځ ته راځی او د ډیاستول څخه لوړه کچه لری .

Systremma

د پښې د پُنډې په عضلاتو کې د یو ناڅاپه انقباض منځ ته راتګ .

Syzygy

د هډونو یو ځای کېدل او یو تر بله سره ننښتنه او یو کېدل چې پکې د هغوی خپلې څرګندې ځانګړنې په ځای پاتې شی.

T t

دا د انګریزی ژبې اړوند شلم توري دئ او د طب څانګې اړوند د ګڼ شمېر طبی اصطلاحاتو لپاره لنډه نښه جوړوی او پکار وړله شی

T

د (Tetracycline) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Theophylline) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Thymidine) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Tidal-Lung Physiology) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Time) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Tocopherol) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Toxicity) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Transferrin) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Transfusion) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Treatment) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Treponema) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Trimethoprim) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Troponin) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Tumor-Tnm Classification) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Typhoid) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Ribothymidine) لپاره لنډه نښه ده

T

د (-tera) مختاړی لپاره لنډه نښه ده .

T

(Tesla) لپاره لنډه نښه ده .

T_1-T_{12}

د (دوولسمي او لومړی صدری فقراتو) لپاره لنډه نښه ده . د سترګې ګاټی فشار .

T,

د (Thymine) لپاره لنډه نښه ده .

T

د (Thymidine) لپاره لنډه نښه ده .

T

د (Tetanus Toxoid) لپاره لنډه نښه ده.

T

د (Thoracic Vertebrae) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Threonine) لپاره لنډه نښه ده .

T

د (Intraocular Tension) لپاره لنډه نښه ده

T

د (T1-T12) لپاره لنډه نښه ده.

T

د (Absolute Temperature) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Translocation) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Tritium) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Tablespoonful) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Taenia) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Thoracic) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Tamoxifen) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Temperature) لپاره لنډه نښه ده

T

د (Term-Obstetrics) لپاره لنډه نښه ده.

.

Tabanid

د (Tabanidae) د کورنۍ اړوند هر خرمچ چې (Horse flies) او (Deer flies) پکې ونډه لري .

Tabanus

ددد وینه زپښونکی حشرو یوه ډلګۍ (خرمچ یا آس مچ) چې تریپانوزومونه او ټاکو ببلابیلو حیواناتو ته لېږدوی

Tabes

د بدن پرمختلونکی ضمور (اټروفی)

Tabes Dorsalis

دا یو ډول پارانشیمی نیوروسیفلیس (Syphilis) چې د نخاع د خلفی ستونونو ، خلفی عصبی رینبو او ګانګلیونونو په استحالې سره چې اد عضلاتو د ناهمغږۍ ، شدید حملوی درد ، احشائی دردونو ، حسی ناروغیو ، د تشومتیازو د کنترول له لاسه ورکول او بندونو او هډوکو کې د ودې په ببلابیلو ناجوړیو سره یو ځای وی] پېژندل شی. د (Locomotor Ataxia) پنامه هم یاد ېږی.

- Tabes Mesenterica

په ماشومانو کې د مېزانتریک غدواتو نری رنځ .

Tabescent

په استحاله اخته شوې ، ډنګرکېدونکې .

Tabetic

د (Tabes) اړوند صفت .

Tabetiform

د (Tabes Dorsalis) ته ورته او مشابه . تابس ډوله حالت.

Tablature

په کور دننه او بهر پانیو باندې د کوپړۍ د اصلی هډوکو ببلبدل چې (Dipole) په متې ببلېږی . د [(Dipole) د سر د کوپړۍ د هدوکی د داخلی او بهرنی پانې ترمنځ موجود هډوکیز نسج] بلل شی.

Table

یوه پلنه او همواره نسجی طبقه. مېز، دمېز دشاوخواخلک، ډوډۍ ، خواړه،جدول.

- Inner Table

د ماغزو پوښوونکو هډوکو دننه (داخلی) پېړه او پنډه طبقه .

- Outer Table

د ماغزو پوښوونکو هډوکو بهرنی (خارجی) پېړه او پنډه طبقه.

- Table Spoon

دښوروا خوړلوکا چوغه، هغه څمڅی چې د درملو شربتی جوړښت پرې خوړل شی.

- Table Spoonful

دیوې ښوروا / درملو شربت خوړلودکاچوغی مقدار.

T 2,4,5

د (2,4,5- Trichlorophenoxy Acetic Acid) مشتق لپاره لنډه نښه ده.

T

د (مطلقه تودوخی درجې) لپاره لنډه نښه ده .

T $^{1}/_{2}$

د (نیمائی عمر) لپاره لنډه نښه ده .

t $^{1}/_{2}$

د (نیمائی عمر) لپاره لنډه نښه ده .

T_3

د (Tri-Iodothyronine) لپاره لنډه نښه ده .

T_4

د (Thyroxine) لپاره لنډه نښه ده .

Tm

تیوبولی /کلیوی تیوبولونو (Tubules of kidneys) لپاره لنډه نښه ده . د پښتورګو د دندې (وظیفوی) څېړنې په راپورونو کې پکارېږی چې تر (T) لاندې کوچنۍ نښه پکې د هغه مادې ښکارندوی ده چې پدې آزموینه کې پکارېږی لکه د (T_{PAH}) د (P-aminohippuric Acid) تیوبولی اعظمی کچه .

t

د (Translucation) لپاره لنډه نښه ده .

t

د (د وخت Time او تودوخې درجې Temprature) لپاره لنډه نښه ده .

TA

د (د زهر Toxide او زهرو ضد Antitoxide) لپاره لنډه نښه ده .

Ta

د (Tantalum) د کېمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه ده .

TAB

د محرقې (Typhoid-paratyphoid A and B) لپاره لنډه نښه ده.

- TAB injection

هغه ډول زرق / پېچکاری چې یوازی په لنډمهالی (موقت) ډول سره د محرقې او شبې محرقې په وړاندې معافیت پېښوی.

- TAB Vaccine

د محرقې او شبې محرقې په وړاندې معافیت پېښوونکې واکسین.

حرکتی انتهائی پاڼه .

- Tache Noire

په توربخن خیږ پوښلې ټپ چې د ځینو کونیو (کنه) یا ورږو په ذریعه په ریکتزیائی ککړو چیچل شوو ځایونو کې یو څرګند موضعی غبرګون دئ.

Tachetic

د (**Tache**) اړوند صفت .

Tachography

د وینې د بهیر د حرکت او چټکتیا (سرعت) ثبتول .

Tachy-

دا یو مختاړي دئ چې د چټک (تېز **Fast**) او سرعت لرونکی معنی بشپړوی .

Tachyarrhythmia

د زړه په ریتم کې هر ډول غیر منظم چټک (**Fast Irregular**) ناجوړتیا چې په هغه کې دزړه ضربان (**Heart Beat**) شمېر په غیر نورمال ډول پورته ځي.

Tachycardia

په غیر نورمال ډول د زړه د درزا (ټکانونو) زیادښت .

- Antidromic Circus Movement Tachycardia

هغه فوق البطینی ټاکی کارډیا (**Supraventricular Tachycardia**) ده چې د (**Reentry Circuit**) پذرېعه قوت اخلی چې په (**Atrioventricular Node**) کې په رتروګراډ **Retrograde Direction** جهت او اضافی تګ لورې (**Accessory Pathway**) په یوه (**Anterograde Direction**) جهت درومی چې دا یو پراخ ډول (**QRS Rhythm**) ریتم منځ ته راوړی چې له (**Ventricular Tachycardia**) څخه نه توپیر کېږی.

- Atrial Tachycardia

دزړه چټک ضربانونه (ټکانونه) چې په یوه دقیقه کې معمولاً (**160–190**) شمېرل شی چې له اذینی محراق (**Atrial Locus**) څخه سرچینه اخلی .

- Atrioventricular (AV) Junctional Tachycardia

د اذینی (دهلیزی) بطینی غوټی شاوخوا دنهه د سیالو د ببرته راستنېدو څخه زېږنده ټاکی کارډیا چې کېدای شی (**Antidromic**) بڼه ولری دا پدې معنی چې سیالې (**Impuls**) له فرعی لارې راغلې دی خو اصلی لاره یې ستنېږی یا (**Orthodromic**) بڼه ولری یعنې چې سیالې له اصلی لارې راغلې وی او له فرعی لارې ستنې شوېوی.

د (**Atrioventricular (AV) Nodal Junctional Tachycardia**) په انډول.

- Vitreous Table

د ماغزو پوښوونکو هډوکو دننه (داخلی) پېړه او پنډه طبقه .د (**Inner Table**) په انډول .

Tablet

ټابلېټ ، ګولی ، د طبی درملو هغه کوچنی هواره ګردی جوړه شوې کتله چې خوړل کېږی ، دړه،تخته، لوحه .

- Buccal Tablet

هغه ګولی چې د اوری او غومبوری په منځ کې اینبودله شی ویلې کېږی او د خولې مخاط له لارې جذب صورت نیسي .

- Chewable Tablet

هغه ګولی چې د ژوولو پذرېعه میده کېږی او خوړل کېږی

- Enteric Coated Tablet

هغه ګولی چې د داسې وسیلې په متهه پوښلې وی چې د درملیزې مادې خوشې کول یېې له معدې څخه د ګولی تر وتلو پورې ځنډوی.

- Sublingual Tablet

هغه ګولی چې تر ژبې لاندې کېښودله شی ویلې کېږی اړ او اغېزمنه ماده یې د خولې مخاط پذرېعه جذبېږی او اغېزه څرګندوی.

Taboparesis

هغه عمومی فلج چې د (**Syphilis**) او (**Tabes Dorsalis**) ناروغی ورسته د ملاتیر د نخاعی رسی د تخریب له کبله منځ ته راځی او پکې [عمومی فلج **General Paralysis** ، (**Locomotor Ataxia**) او عقلی اختلال **Mental Deterioration**] پېښېږی .

TAB Vaccine

د محرقې (**Typhoid Fever**) او شبې محرقې (**Paratyphoid A and B**) په وړاندې د معافیت منځ ته راوړونکې واکسین .

Tache

ټکې ، ټاپې ، خاپې ، داغ.

- Tache Blanche

په ځینو انتانی ناروغیو کې د ینې په سر سپین داغونه .

- Tache Bleuatres

آبی رنګه داغ .

- Tache Cerebralis

هغه احتقانی کرښه چې د پوستکی په مخ د شوکارو له کبله منځ ته راځي او په ځینې عصبی یا مغزی ناروغیو کې لیدل کېږی .

- Tache Mortice

دا هغه ډو ل ټاکی کارډیا ده چې پکې سینوسی –اذینی غوټې (Sinoatrial Node) کې د بطین سره اذین د پیوستون (Atrioventricular Junction) له ځایه ځخه د سرچینه اخیستونکو سیالو ځخه زېږنده ټاکی کارډیاده چې په یوه دقیقه کې (75 Beats per minute) ضر بانونو ځخه زیات وی.

- **Monomorphic Ventricular Tachycardia**

دا هغه ډو ل ټاکی کارډیا ده چې پکې د (QRS Morphology) دیوې نبضان ځخه بل نبضان ته (Uniform Beat-to-beat) یوه بڼه لرونکی وی.

- **Multifocal Atrial Tachycardia (MAT)**

ځومحراقی ټاکی کارډیا . د (Chaotic Atrial Tachycardia) په اډول.

- **Nonsustained Ventricular Tachycardia**

دا هغه ډو ل ټاکی کارډیا ده چې پکې په بنفسهی ډول سره د (30 Seconds) ثانیو په لړ کې ورکېږی او د هیموډینامیک له پلوه کولاپس (Hemodynamic Collapse) نه کوی.

- **Nonparoxysmal Junctional Tachycardia**

دا هغه ډو ل غېر اشتدادی اتصالی ټاکی کارډیا ده چې پکې په کراره حمله ، د زړه ضربان (70 to 130 Beats perminute) شمېرل کېږی چې د اذینی– بطینی د یوځای کېدنې برخې غوټې (Atrioventricular Junctional Tissue) ځخه په اتوماتیکه (Automaticity) بڼه سرچینه اخلی او معمولاً په ثانوی ډول د زړه ناروغیو یا ترضیضاتو پورې تړاو لری.

- **Orthodromic Circus Movement Tachycardia**

دا یو ډول فوق البطینی ټاکی کارډیا (Supraventricular Tachycardi) ده چې پکې د (Reentry Circuit) پذریعه حمایت کېږی چې د اذینی عقدې (Atrioventricular Node) پکې (Anterograde Direction) پکار وړله شی او همدا ډول اضافی تګلارې (Accessory Pathway) په (Retrograde Direction) چې تنګ (Anarrow QRS Complex) منځ ته راوړی پکار ېږی.

- **Orthostatic Tachycardia**

اورتوستاټیک ټاکی کارډیا، د زړه هغه ډول چټک (Disproportionate Rapidity) ضربانونه چې پکې (Reclining to A Standing Position) له کښلې منځ ته رابلو سره تړاو لری.

- **Paroxysmal Tachycardia**

د زړه هغه ډول عمل چې پیل مومی او سمدلاسه ودرېږی.

- **Paroxysmal Atrial Tachycardia**

اذینی –بطینی غوټې ته د بیا راستنېدونکی ټاکی کارډیا . د (Atrioventricular (AV) Junctional Tachycardia) په اډول.

- **Atrioventricular Reciprocating Tachycardia (AVRT)**

د سیالو (Impuls) د بیاراستنېدنې ځخه زېږنده ټاکی کارډیا چې په داسې بڼه چې هدایت د دواړو د غبرګ راستنېدنې په بڼه یعنی هم د اصلی او هم د اضافی فرعی لارو صورت نیسی.

- **Benign Ventricular Tachycardia**

سلیم ټاکی کارډیا چې د بطینی سرچینه لری چې دزړه د جوړښتیزو ناروغیو سره یا د هیموډینامیک اعراضو سره مل نه وی.

- **Bidirectional Ventricular Tachycardia**

دوه لوزې بطینی ټاکی کارډیا ، دا یو ډول بطینی اریتمیا ده چې د زړه ضربانونه به په یوه دقیقه (90 To 160 Beats) کې وشمېرل شی د بنی یا کین محور انحراف لرونکې به وی اکتوپیک محراق (Ectopic Focus) به ولری چې تناوب به یې د قدامی –علوی او خلفی –سفلی فاسیکولونو(Fascicles) ځخه وی او د (Right Bundle Branch Block) نمونه به په (Digital Toxicity) کې شتون ولری او معمولاً په دیجوکسین په مسمومیت او نورو حالتونو کې لیدل شی. د (Bifascicular Ventricular Tachycardia) په اډول.

- **Bifascicular Ventricular Tachycardia**

د (Bidirectional Ventricular Tachycardia) په اډول.

- **Chaotic Atrial Tachycardi**

دا هغه ډول ټاکی کاردیا ده چې په یوه دقیقه کې د زړه اذینی ضربانونه (100 To 130 Beats per minute) شمېرل شی. چې د [(P -Wave , And P–P Intervals) څېې غېرمنظم Irregular او د موفولوژی Morphology] له مخې سره توپیر لری چې معمولاً د اذینی فیبریلېشن (Atrial Fibrillation) لوړې ته اوړی.

- **Circus Movement Tachycardia**

د (Reentrant Tachycardia) په اډول.

- **Ectopic Tachycardia**

دا هغه ډو ل ټاکی کارډیا ده چې پکې سینوسی –اذینی غوټې (Sinoatrial Node) ځخه بهرته د سرچینو اخیستونکو سیالو (Impulses) ځخه زېږنده د زړه چټک فعالیت دئ.

- **Tachycardia Exophthalmica**

دا هغه ډو ل ټاکی کارډیا ده چې پکې د ټاکی کارډیا برسېره د سترګو (Exophthalmia) هم منځ ته راځی او معمولاً په توکسیک ډول غور کې لیدل شی.

- **Junctional Tachycardia**

کولای شی دورانی بیا راستنبدونکې جریانونه چې کړی یې له دواړو اذینی او بطینی برخو څخه تېرېږی په بر کې ونیسی .

- Sustained Ventricular Tachycardia

هغه ډول ټاکی کارډیا ده چې په (30 Seconds) موده کې له منځـــــه ځـــــي او دهیموډینامیـــــک کولاپس (Hemodynamic Collapse) لامل ګرځی .

- Tachycardia-bradycardia Syndrome

د ټاکی کارډیا او براډی کارډیا ګډ ډول اعراضو لرونکې سنډروم .

- Ventricular Tachycardia

بطینی ټاکی کارډیا ، دا د زړه یو غېرمنظم چټک ریتم دی چې په بطین کې د یوه بېځایه محراق په وسیله منځ ته راځی معمولاً (150 Beats per minute) څخه زیات وی او د اذینی – بطینی بېلتون سره مترافق او مل وی .

- Tachycardia Window

په اشـتدادی ټاکی کارډیا کې چې د (Reentry Type) ډول دی چـې پـکـې یـوه وقـفـه (Interval) د مـقـدم او مـؤخـر (Earliest And Latest) پـریـمـاچـور فـعـالـیـت (Premature Activation) چې د پروکسـیزم تنبه لامل ګرځی شتون لری .

- Tachycardia-Induced Cardiomyopathy

هغه ډول د زړه عضلې اړوند ناروغی چې د ټاکی کارډیا لامل ګرځی .

Tachycardiac

د (Tachycardia) اړوند صفت .

Tachycardic

د (Tachycardia) اړوند صفت .

Tachycrotic

هر هغه لامل چې د زړه د چټک ضربان (Rapid Pulse) لامل شی.

Tachydysrhythmia

د زړه غېر نورمال ریتم چې چې یوه دقیقه کې (100 Beats per minute) څخه زیاتې اندازې ضربانونه /ټکانونو سره مل وی تر ډېره حده پرځای یې (Tachyarrhythmia) پکارېږی .

Tachygastria

د مـعـدې پـه انـتـروم کـې زیـات غـېـر نـورمـال (4 Cycles/Minute) فـریـکـانـس لـرونـکې بـرېښـنـائـی پـوټـانـسـیـالـونـه سـیـګـنـالـونـسـونـه (Electrical Pacemaker Activity I) چې لږ تر لږه په یوه دقیقه د (Paroxysmal Supraventricular Tachycardia) په انډول.

- Paroxysmal Tachycardia

دا یو ډول اشتدادی ټاکی کارډیا ده چې پکې د (Reentry Circuit) پذریعه حمایت کېږی چې ناڅاپه پیل حمله او پای لری .

- Paroxysmal Supraventricular Tachycardia (PSVT)

دا یو ډول اشتدادی فوق البطینی ټاکی کارډیا (Supraventricular Tachycardi) ده چې پکې د (Reentry Circuit) پذریعه حمایت کېږی چې ناڅاپه پیل حمله او پای لری او معمولاً سیالې تازه راستنبدونکې سیکل له کبله وی .

- Polymorphic Ventricular Tachycardia

دا ثابته څوښېزه بطینی ټاکی کارډیا ده چې ځینې وختونه دهغې بیان اوشرحه ګرانه وی او پکې د (Beat-to-beat QRS Configuration) له یو ضربان څخه بل ضربان ته متغیر حالت لری .

- Potentially Malignant Ventricular Tachycardia

دا یو ډول د خباثت پوتانسیال (وړتیا) لرونکې بطینی ټاکی کارډیا (ventricular Tachycardi) ده چې د زړه د ساختمان اړوند ناروغیو یا هیموډینامیک اعراضو سره مل نده خو ځینې وختونه د بطینی غېروضیفوی کېدنې حالت سره یو ځای وی .

- Reciprocating Tachycardia

د سیالې د بیا راستنبدنې د میکانیزم (Reentrant Mechanism) لرونکې ټاکی کارډیا ده چې ریتم د بدلون له لارې د پېژندنې وړ ګرځی.

- Reentrant Tachycardia

هره هغه ډول ټاکی کارډیا چې په یوه دورانی سیستم تګاړې (مسیر) کې د سیالې د بیا راستنبدنې د سرکټ (Reentrant Circuit) لرونکې وی .

- Sinus Tachycardia (ST)

سینوزال ټاکی کارډیا ، هغه ډول ټاکی کارډیا چې د سینوزال غوټې (Sinus Node) څخه سرچینه اخلی د تمریناتو او اظطراب پرمهال نورماله وی خو د شاک Shock ، تفریط فشار Hypotension ، هایپوکسیا Hypoxia ، د زړه احتقانی نه بریالیتوب Congestive Heart Failure ، تبې Fever) په څېر حالتونو کې منځ ته راځي.

- Supraventricular Tachycardia (SVT)

هره منظمه ټاکی کارډیا چې تنبهی سیالې د بنډلونو (Bundle Branches) له پورته سر څخه سرچینه اخلی او او

پذرېعه نه بلل کېږی .

Tachypacing

یو ډول چټک بڼه د زړه (Pacing of Heart) چې په مصنوعی بریښنائی ډول منځ ته راځی چې د زړه د اساسی اندازې څخه ډېر او سریع وی.

Tachyphagia

چټکه بڼه خوراک ، په بېړه سره خوړل .

Tachyphrasia

په بېړه سره غږېدنه ، چټکه بڼه وینا کول و ترټرې ، چټک ډول خبرې کول ، دا حالت د روانی ناروغانو کې لیدل شی .د (Tachyphasia) په انډول.

Tachyphasia

په بېړه سره غږېدنه ، چټکه بڼه وینا کول و ترټرې ، چټک ډول خبرې کول ، دا حالت د روانی ناروغانو کې لیدل شی .د (Tachyphrasia) په انډول.

Tachyphrenia

غېر نورمال او چټکه بڼه د دماغی اړوند حرکتونو (Rapid Mental Activity) او اشارو تر سره کول دي چې دا حالت د (Mania and Psychotic Illnesses) روانی ناروغانو کې لیدل شی..

Tachyphyllactic

د (Tachyphyllaxis) اړوند صفت .

Tachyphylaxis

د یوه سېروم یا عصارې د زهری مقدارونو پر ضد چټک معافیت د هغه مادې د کمو مقدارونو د تزریق له لارې رامنځ ته کول تر څو غبرګون کمښت وموميی . دیوه درمل (Pharmacologically) یا فزیولوژیک (Physiologically) فعالې مادې په وړاندې د هغو کمو مقدارونو تجویز کولو له لارې د غبرګون چټک ډول راکمول.

Tachyphyllaxis

دیوه درمل (Pharmacologically) یا نیوروترانسمېټر (Neurotransmitter) اغېزې چې فعالې مادې په وړاندې د هغود تکراری کمو مقدارونو تجویز کولو له لارې د غبرګون چټک ډول راکمول منځ ته راوستل شی.

Tachypleus

کې ورکېږی په نورمال حالت کې فریکونسی یې (2-4 Cycles per minute) کې وی چې د (Cutaneous Electrogastrography) کارووړلو پذرېعه تثبیت کېږی او ښائی د (زړه بدوالی Nausea ، د معدې فلج Gastroparesis ، د کولمو تخریشی سنډروم Irritable Bowel Syndrome او وظیفوی ناهضمی Functional Dyspepsia) سره مل وی.

Tachygonetria

ددا دکخې د چینجیو (Oxyurid Worms) او (Superfamily Oxyuroidea) پورې تړلې دئ چې په غټیو کولمو کې د پرازیت په توګه ژوند کوی او د مقعدی برخې خارښت او سوې او نارامی پېښوی .

Tachykinin

دا د پولی پېپټایډ ډلې اړوند دئ او په پراخه پیمانه په فقاریه او غیر فقاریه انساجو کې موندل شی دا ټول د پېپټایډونه

(Five Terminal Amino Acids: Phe-Xaa-Gly-Leu-Met-NH_2)

چې د ورسوتیو امینو اسیدونو جوړوونکی دي د فامکولوژی له پلوه اد وینې فشار ټیټوی Hypotension او د صافو عضلاتو د انقباض Contraction of Gut and Bladder Smooth Muscle او رګونو د توسع لامل ګرځی چې د مثانې او کولمو صافو عضلاتو تقلص او د لاړو د افرازاتو د زیاتوالی Secretion of Saliva] سبب ګرځي .

Tachylalia

هغه څوک چې ډېرې خبرې کوی ، ترټرې ، بېحده ډېره ګړېدنه .دا د مانیا (Manic Episodes of Bipolar Disorder) او شیزوفرینیا (Schizophrenia) اړوند یو کلینکي عرض بلل شی. ورته نومونه یې[(Lalorrhea) ، (Logorrhea) ، (Pressured Speech) ، (Tachyphasia)]دی .

Tachymetabolism

د فزیو لوژی له مخې د میتابولېزم چټکه بڼه چې په تی لرونکو او الوتونکو کې د انرژی او تودوخې تولید په موخه د قاعدوی مېټابولېزم چټکه بڼه پېښېږی .

Tachymeter

هغه ډول وسیله چې د چټکو حرکتونو تثبیت لپاره تړې کار اخیستل کېږی.

Tachyorthosis

د چټک بېځې نعوذ (Erection) تر لاسه کېدنې حالت چې د لنډې مودې لپاره وی خو د د درملو د غلطې استعمال

کار پوه، ټاکټشن.

Tactics
کرنپوهنه ، تاکتیک، تدبیر، مانوره. جګړه پوهنه.

Tactile
د تماس له مخې د حسیت وړتیا لرونکې . لمس کیدونکی، محسوس.

- Tactile Anaesthesia
د تماس د حسیت له منځه تګ ، هغه ډول بې‌حسی چې پکې د تماس /لمس حس ورکېږی.

Tactometer
د لمسی حسیت ټاکنې او اندازې سنجولو لپاره وسیله.

Taenia
د پلنو چینجیانو یو ډول چې انسانان او څاروی اخته کوی. د بدن د فیتې (**Ribbon-like**) یا تسمې په څیر برخه. لکه (**Tapeworm**) چې د (**Taenia**) یو ډول دئ.

- Taenia Saginata
د پلنو (فیتوی) چینجیانو یو ډول چې انسانان او څاروی اخته کوی چې کاهل ډول یې (**4-8 metres**) مترونو پورې اوږدبدنه مومی او په کولمو کې ژوند کوی .

- Taenia Solium
د پلنو(فیتوی) چینجیانو یو ډول چې انسانان او څاروی اخته کوی دا خوګان (سرکوزی **Pork**) اخته کوی او لاروا (**Larvae**) ئې په بدن کې وده کوی او کېدای شی چې (**Hydatid Cysts**) منځ ته راوړی .

- Taenia Coli
د غټو کولمو هغه عضلی بهرنی فیتوی برخه چې د کولون پر مخ غځېدلې ده.

Taeniacide
هغه درمل یا مواد چې فیتوی چینجیان وژنی .

Taeniafuge
دا هغه دې چې د فیتوی چینجیانو (**Tapeworms**) بهرته لېږد بدنه پېښوی .

Taeniasis
په فیتوی چینجیانو (**Tapeworms**) باندې د کولمو اخته کېدنې او ککړکېدنې ناروغی .

Tagamet
د (**Cimetidine**) لپاره سوداګریز نوم دئ.

Tai Chi
دا یوه د چینائی سیستم ډېرې لرغونې او پخوانی (روغتیا سلتنې ، خپلځان ساتنې ،مذهبی قوت او ټینګښت)

د (**Limulidae**) یو ډول جینوس (**Genus**) د آرتروپودا کورنۍ (**Arthropods**) سره تړاو لری . د (**Asian Horseshoe Crab**) په ختېځ آسیائی آسونو نوکانو کې شتون لری.

Tachypnea
ډېر چټک تنفس کول .

Tachypnoea
ډېر چټک تنفس کول .

Tachyrhythmia
چټک ډول نظم . د (**Tachycardia**) په انډول.

Tachyscope
د (**Kinescope**) یو ډول دئ چې پکې د محرکو تصویرونو (**Moving Pictures**) اغېزې چې ورسره ننښتې وی د (**Rotating Glass Plate**) په مرسته شته والې لری .

Tachysterol
د ارګوسټیرول (**Ergosterol**) ایزومېر چې ویټامین ډي (**Vitamin D_2**) جوړوی دالتر ویولټ وړانګو(**Ultraviolet Light**) د پرېوتنې (**Irradiated**) په مټه منځ ته راځي .

Tachysystole
چټک ډول سیسټول .

Tacrine
د کولین ایستراز یو نهی کوونکي درمل چې د الزایمر ناروغۍ د ادراکی بهیرونوښه کولو لپاره پکار وړله شی.

Tacrolimus
دا یوډول قوی د معافیت انحطاط ورکوونکې (**Immunosuppressant**) درمل دی چې د غړو د ټرانسپلانټ شوې (**Organ Transplant**) برخې د نه منلو(**Rejection**) خطر کموی او مخنیوی کوی .

Tact
وخت پېژندنه، ځای پېژندنه مهارت سلیقه، شعور، ادراک ، هوښیاری

Tactful
مهارت، سلیقې څښتن هوښیاری،له تخنیکه ډک .

Tactical
چالباز ،تخنیکی ماهر، ماهرانه ، دجنګی تدابیرو مربوط.

Tactician

تمرینی کړنې دی چې پخوا ډېرې معمول وې .

Tail

لکی ، پای، آخر، ذنب ، په بدنی جوړښتونو کې هره نری زایده یا رزه برخه ، هغه نری زایده یا رزه برخه چې د حیولناتو او څارویو په شاتنی برخه پورې اوږده ځړېدلې بڼه لری. وروستاړی ،څټ لکه (دسکې دوهم مخ) پوری نښتل ، په پسې کېدل، کمېدل، غلې کېدل ورو ورو درېدل.

- Tail of Spermatozoon

سپرماتوزوائی فلاجیل (متروکه) چې څو نازک مزی او څلوربرخې لری لکه د (غاړه، منځنی برخه ، تنه یا اصلی برخه او وروستنی برخه) په څېر.

- Rat Tail Sign

د موږک د لکی په څېر ننبه چې دحاجب راډیوګرافی یو خیال دی .

Tailless

بې لکی، پرته له لکی څخه .

Taint

په زهرو لړل، ناولی کول،ککړول، داغ کول، تر یوکېدل ، خرابېدل، داغ، ټکی،خاپ، وروست، خوسا، ناوړه اغیزه

Take

1. نیول لکه د پوستکی ګرافت نیول او یا در پښتورګی د ټرانسپلانټ په بریالیتوب نښتنه، **2** . خوړل لکه د درملو خوراک ، خوښول،را ایستل،اخیستل، **3** .کښل لکه د غاښونو د (**X-ray**) اخیستل ، لیکل ، یوهېدل، بیول، وړل ،رسول، په کار لړل، اړه ورته لرل، ګڼل، انګیزل ، چنبل، په کرایه اخیستل،نیونه ، اخیستنه

- Take Advantage of

ناوړه استفاده کول، غنیمت ګڼل.

- Take After

ساتنه او مراقبت کول لکه یو څوک د چا پلار په بڼه څارنه کول.

- Take at Advantage

له موقع استفاده کول (دچا ، څه شی، په ضد) نابېره نا څاپې، بې واره (نیول).

- Take Care of

د یو چاساتنه او څارنه لکه نرسان چې د ناروغ او ټپی ساتنه کوی.

- Take Into Account

په نظر کښې نیول، پام ساتل.

- Take Off

د یو شی ویستل لکه چې ناروغ څخه غواړی چې خپلې جامې وباسی . په هوا کېدنه لکه د اوتکې الوتل ، پورته کیدنه،جګیدنه،پیښې،کاریکاتور

Talbutal

د منځنی اغېزلرونکی باربیتورات درمل چې د خوب راوستونکی او آرامتیا بخښونکی په توګه پکار ږی .

Tal-

دا یو مختاړې دئ او د پښو خنګری یا قدم (**Ankle Bone**) معنی بشپړوی.

Talc

ټالک، یو ډول پسته ډېره ، اوبه لرونکی مګنیزیوم سلیکېټ چې ځینې وختونه د المونیوم سلیکېټ له کم مقدارونو سره ګډ ږی چې سپین رنګه منرال پوډر چې دمخ پوډر یاد کوچنیانو پودر ترینه جوړږی چې د پوستکی په مخرشه برخه باندې اچول شی تر څو هلته لمده بله ورکه کړی.

Talcosis

هغه ناروغه حالت چې د تالک پوډرو د استنشاق څخه په سږو کې منځ ته راځی.

Talcum

د تالک منرالونو څخه جوړ شوې ، د (**Talc**) په اندول.

- Talcum Powder

د تالک پوډری جوړښت . د ماشومانو پوډر.

Talent

استعداد، وړوالی ، ذکاوت، په لرغوني زمانه کې دپیسو اوتول (وزن) واحد ، وړتیا توان ، وسمن، ماهر.

Tali

د (**Talus**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Talipes

د پښې د پله هغه بڼه چې په ولادی ډول کړه وی چې پښو په تګ کې ستونزه پېښوی .ورته نومونه یې (**Cleft Foot, Club Foot**) هم بلل شی.

- Talipes Equinovarus

دا یوه ولادی انومالی ده او هغه حالت دئ چې پکې کله چې یو څوک وګرځی د پښو په څوکه باندې تګ کوی څکه چې د پښو پل په تلپاتې ډول سره پلانټار فلکشن (مخې ته ټرلې) بڼه شتون لری.

- Talipes Valgus

Tambour
هغه ډول وسیله ده چې په یوه ثبت کوونکې ماشین کې د حرکت د لېږد او رالېږد لپاره کاروله شی.

Tame
روږدی، کورنی (اهلی)، ایل، بې خونده، پیکه، مړ ژوندئ.

Tamoxifen
دا هغه ډول غېر ستېیروئیدی درمل دی چې د ایستروجن (Oestrogen) د عمل په مخنیوی کې مرسته کوی او د سیټرېټ مالګې بڼه یې د تییونو سرطانونو(Breast Cancer) او د عقامت (Infertility) ځینو ډولونو په درملنه کې پکار وړله شی.

Tampon
ټامپون ، کښېکاږونکې ، د (پنبې ، اسفنج ، ګاز یا بلې مادې څخه) جوړ شوې غونډوسکې یا طبقه چې په جراحی پېښو کې د وینې بهېدنې د کنترول یا د نورو افرازاتو د زېښښنې او وچولو لپاره په (پوزه ، خوله ، مهبل ، جرحوی جوف) اېښودله شی.

Tamponade
ټیمپوناډ . له یوه ټامپون څخه په جراحی کې کار اخیستنه ،د یوه غېر نورمال او پتولوژیک بهیر په پایله کې د پر یوه برخه باندې فشار اچول .

- Balloon Tamponade
د یوې داسې وسیلې په مټه د مرۍ –معدې ټامپوناډ چې دوه بالونه (پوڼاکې) او درې ټیوبونه (نلکې) لری چې درېیم ټیوب د وینې د پرڼ شوو ټوټو د اسپایرېشن او راکښلو لپاره پکارېږی.

- Cardiac Tamponade
د زړه ټیمپوناډ ، د زړه د پریکارډ په پردو کې د وینې د راغونډېدلو له کبله د پرېکارډ جوف د فشار زیاتوالې په نتیجه کې د زړه تر فشار لاندې راتګ چې پکې د زړه دندې اغېزمنې کېږی .

- Esphagogastric Tamponade
د مرۍ او معدې ټیمپوناډ ،د یوې داسې وسیلې په مټه د مرۍ –معدې ټامپوناډ چې دوه بالونه (پوڼاکې) پړسولې شی او په نتیجه کې د مرۍ او معدې برخې د وینې بهېدنې حالت رګونه تر فشار لاندی راځي او خونرېزی ودرېږی .

Tan
خور (رنګ) ورکول، د پوستکی لمر ورکول چې د لمر وړانګو په نسواري بڼه اوړی (دبدن رنګ کول)، په لمر نسواري کېدل، خور ، لمر وهلی نسواري رنګ . آش دا یوه ولادی انومالی ده او هغه حالت دئ چې پکې د پښو ګوتې د منځنۍ کرښې څخه بهر (Outside) لورې راتاوه بڼه لری.

- Talipes Varus
دا یوه ولادی انومالی ده او هغه حالت دئ چې پکې د پښو ګوتې د منځنۍ کرښې څخه دننه (Inside) لورې راتاوه بڼه لری.

- Talipes Calcaneus
دا د پښو تلی یوه ولادی انومالی ده چې د ډورسی فلکشن له کبله په پونده (Sole) باندې تګ نشی کولای .

Taliopmanus
په ولادی انومالی توګه د لاس د کږې بڼې حالت ،د (Club Hand) په انډول.

Tall
جګ، لوړ،دنګ، د د ونې اوږد والی زیاته اندازه ، نامنلی (لکه کیسه یا خبرې).

Tallow
مو (موم)، واز ګه، ډل.

Talo-
دا یو مختاړې دئ او د پښو خنګری یا قدم (Ankle Bone) معنی بشپړوی.

Talocalcaneal
د پښو د تالوس (Talus) او کلکانوس (Calcanus) هډوکو اړوند صفت.

Talocrural
د پښو د تالوس (Talus) او کرورال (Crural) هډوکو اړوندصفت

Talofibular
د پښو د تالوس (Talus) او فیبولا (Fibula) هډوکو اړوند صفت .

Talon
منګولې لکه (دباښې).

Talonavicular
د پښو د تالوس (Talus) او نویکولار (Navicular) هډوکو اړوند صفت.

Talus
تالوس هډوکې ، د پښو د قدم برخې د تارس (Tarsus) هډوکو تر ټولو پورتنۍ هډوکې چې د (د لېنګی د Tibia او Fibula او دتلی Calcaneus) هډوکو سره بند جوړوی او ورته د (Anklebone) نوم هم ورکول شوې . ګڼه شمېره یې (Tali) ده.

ونډه واخلی .

Tap

بذل ،د جراحی کړنلاره ده چې معمولاً د یوه جوف څخه د مایع یا هوا درینارځ او راویستل د ستنې چوخولو په مرسته ترسره کېږی

- Abdominal Tap

د بطنی بذل ، د ګېډې د پریتوانی جوف څخه د مایع یا هوا تشول او تخلیې کړنلاره . د (**Abdominocentesis**) په انډول .

- Cranial Tap

د دماغی یا کوپړی څخه د بذل کړنلاره .

- Pericardial Tap

د پریکارډ بذل ، د پریکارډ اړوند جوف څخه د مایع یا هوا تشول او تخلیې کړنلاره . د (**Pericardiocentesis**) په انډول .

- Plural Tap

د پلورا بذل ، د صدر پلورائی جوف څخه د مایع یا هوا تشول او تخلیې کړنلاره . د (**Thoracocentesis**) په انډول .

- Spinal Tap

د نخاع بذل ، د تشخیص او درملنې په موخه د ګېډې د پریتوانی جوف څخه د مایع یا هوا تشول او تخلیې کړنلاره . د (**Spinal Puncture Lumbar Puncture,**) په انډول .

Tape

فیته ، یوه اوږده او نری پلنه تسمه چې د اندازه کولو لپاره پکار وړله شی.

- Adhesive Tape

نښتونکې او چسپ لرونکې فیته چې د چسپناکه مادې لرولو له کبله د بدن پر سطحه نښلی او په پانسمانونو نښلولو کې تړې کار اخیستل شی.

Tapeincephalic

د (**Tapeincephaly**) اړوند صفت دئ .

Tapeincephaly

پلن سرې کس ،هغه ډول د کوپړی نیمګړې ولادی وده چې پکې د سر بڼه پلنه بڼه غوره کوی او د عمودی ضریب یې (**75**) څخه لږ ټاکل شی.

Tapetum

1- د یوې حجرې پوښتونکې طبقه / سطحه ، **2**- د دماغ د جنبی بطین د قفوی (اوکسیپیتال) ښکر (ښاخ) په پورتنی – څنګزنې برخه باندې د کارپوس کلوزوم د فایبرونو یوه طبقه.

- Tapetum Lucidum

د حیواناتو د سترګو د کروئیډ برخې څلنده اپیتلیوم چې په تیاره کې د دوی د سترګو د برېښنده کېدو لامل ګرځی .

ورکول.

Tandearil

د اوکسی فن بوتازون د مستحضراتو سوداګریز نوم دئ.

Tannate

د تانیک اسید مالګې چې قبضیت پېښوی .

Tannic Acid

هغه ماده چې د ډېرو بوټو له پوستکی او مېوی څخه پلاس راځی چې تر ډېره د (**Nutgalls**) څخه اخیستله شی چې قبضیت پېښوونکی ماده ده ، د (**Tannin**) په انډول.

Tanning

د (**Tan**) د کړنلاړې کارولو حالت .

- Tanning Lotion

هغه ډول محلول چې د پوستکی رنګ نصواری واړوی .

Tannin

هغه ډول د (**Tannic Acid**) ماده چې په ونو (**Bark of Trees**) او چای (**Tea**) او یولړ نورو مایعاتو کې موندل شی او نسواری رنګ منځ ته راوړی .

Tantalum

دا هغه ډول کېمیاوی فلزی عنصر دئ چې د ماتو هډوکو د ترمیم لپاره پکار وړل شی کېمیاوی لنډه ننبه یې (**Ta**) ده. زنګ نه منونکې فلز دئ چې د سر د کوپړی د هډوکو پر ځای د یوې پانې په څېر کارولە شی او په مصنوعی پروتېزونو کې هم د نری سیمونو په ډول پکار وړی .

- Tantalum Mesh

هغه ډول جال چې د تنتالوم فلزی سیم (وایرونو **Tantalum Wire**) څخه جوړ وی او معمولاً د دماغی حالاتو ترمیم کې پکار وړل کېږی.

- Tantalum Wire

د (**Tantalum Mesh**) په انډول.

Tantrum

هغه ډول ناڅاپی بد سلوکه دوره / حمله چې معمولاً ماشوم کله چې [د یوشي اچولو (وارولو) یا پر فرش باندې ملاستلو یا د په زوه سره ژړا **Crying** او چیغې وهلو **Screaming** قهر اوغضب **Angry Ranting**، روښانه او څرګند مقاومت **Defiance** ضدیت ښودل او خبره نه منل **Stubbornness**] پرمهال منځ ته راځی.

Tanycyte

د هایپوتلاموس د انفاندیبولوم د سیمې د اپاندیمی حجرو بڼه اوښتونکی حجره چې کار یې لاندې پېژندل شوې خو کېدای شی د هایپوفېزس وینې بهیر ته د نخاعی – مغزی مایع څخه د هورمونونو په لېږد کې

Tapeworm

فیتوی چینجې ، هغه پرازیتی چینجې چې کوچنې سر او اوږده بڼه تنه لري او په کولمو کې اوسېږي هګۍ یې د خوراکی موادو (اُومې غوښو ، کبانو او نورو نباتاتو) خوراک له لارې بدن ته لاره مومی .

- **Armed Tapeworm**

د (**Tenia Solium**) په انډول .

- **Beef Tapeworm**

د (**Tenia Saginata**) په انډول.

- **Broad Tapeworm**

د (**Diphyllobothrium Latum**) په انډول .

- **Dog Tapeworm**

د (**Diphyllobothrium Canaum**) په انډول .

- **Fish Tapeworm**

د (**Diphyllobothrium Latum**) په انډول .

- **Hydatid Tapeworm**

د (**Ecchinococcus Granulosus**) په انډول.

- **Pork Tapeworm**

د (**Tenia Solium**) په انډول .

- **Unarmed Tapeworm**

د (**Tenia Saginata**) په انډول .

Tapotement

دلاسونو د ګوتو پذربعه ګوزارونو ورکولو د مساژ او درملنې تر سره کولو کړندود .

Tapping

د بذل کولو تر سره کولو کړنلاره . د (**Paracentesis**) په انډول.

Tar

قیر ، توربخنه سریخناکه مایع چې د مختلفو ونو او لرګیو یا ډبرو سکرو څخه ترلاسه کېږی .ډامبر ، ډامبرکول، قیرول، سخت وهل،په نورو شیانو (لکه قیر) لړل.

- **Coal Tar**

یو فرعی محصول دئ چې د قیر لرونکی ډبرو سکارو د تخریبی تقطیر څخه په لاس راځی او په موضعی ډول سره د اګزیما ضد او پسوریازیس ضد درملو پتوګه کارول شی.

- **Juniper Tar**

یو ډول تېښتېدونکی (مفر) غوړی دی چې پلاس راځی او په درملو جوړونې صنعت کې پکارېږی.

- **Pine Tar**

د غرنیو ناجوګانو ونو له لرګیو څخه د تخریبی تقطیر په واسطه په لاس راځی دا یو فرعی محصول دئ او په موضعی ډول سره د اګزیما ضد او پوستکی رنګ سور کولو موخه د درملو پتوګه کارول شی.

Tarantula

هغه زهر جنی غنې چې نښش (لشکه) یې د موضعی درد او التهاب لامل ګرځی چې هومره ډېر نه وی .

Tardive

پخ ، ناوخته .

Tare

د هغه لوخی وزن چې جسم پکې تلل کېږی ، د ټولئیز وزن څخه د کمولو په موخه د لوښی تلل.

Target

موخه ، هدف ، نښان، څلی، نخښه، نښه ، برخه چې تر نظر لاندې وی او ورته رسېدل پکار دی.

- **Target-Action**

موخیز عمل ، هغه کړنه او عمل چې د یوې موخې د ترلاسه کولو لپاره تر سره کېږی .

- **Target Behavior**

موخیز سلوک . هغه ډول سلوک یا درملنیز متغیر سلوک چې پکې سلوک له مخکې ټاکل شوې وی . ورته نوم یې (**Operant**) دئ .

- **Target Calcification**

موخیز تکلس ، هغه ډول موضعی تکلس چې د ریوی هیستوپلازموما (**Pulmonary Histoplasmoma**) تومور په مرکزی برخه کې لیدل کېږی .

- **Target Cell**

موخیزه حجره ، هغه حجره چې لکه د(درملو، هورمونونو ، ناروغیو) پواسطه تر اغېزې لاندې راځی.

- **Target Cell Anemia**

هره هغه وینه لرې ناروغی چې په محیطی وینې نومنه کې ګڼ شمېر (**Target Cell**) حجرې شتون لری چې د (**Thalassemias**او ګڼ شمېر **Hemoglobinopathies**) په ناروغیو کې لیدل شی.

- **Target Disorder**

موخیز بڼې لرونکی ناروغی او اختلالونه .

- **Target Enrollment**

دا یو کلېنیکی درې ګونې حالت دئ چې پکې د یوه ټولګې اړوند (**Trial's Statistical and Scientific Objectives**) موضوعات په ګډه سره راځی او هریو یې د یوه مټ په توګه دیوې ناروغې اړوند څرګندونې کوی .

- **Target Fixation**

دا هغه حالت دئ چې پکې ماغزه په یو ځانګړې موضوع باندې ځیر کوی او خبرتیاوو له مخې کېدای شی د خطرو کمښت او مخنیوې وکړل شی.

(Macules, Papules, Vesicles, Bullae) لری چې د (Annular or Arciform Areas of Erythema چې د مرکزی برخو کې صباغونه Central Pigmentation په څیر آفتونه منځ ته راځی) او (Idiopathic) بڼه لامل لری او د[انتاناتو Infections لکه (Bacterial Hypersensitivity او Seborrheic Dermatitis) ، درملو درملنې (Drug Therapy) په معافیت انحطاط لرونکو ناروغانو (Immunocompromised Hosts) کې منځ ته راځی . د (Erythema Multiforme, Lyme Disease, Erythema Multiforme Major) په اندول .

- Target Muscle

موخیزې عضلې . هغه یوه یا یوه ډله عضلات چې د فزیوتراپست کس پذربعه دځانګړې مساژ لپاره د ځانګړې موخې او خواب اخیستنې لپاره په پام کې نیولې کېږی .

- Target Nucleus

موخیزه هسته ، دا د هغه اکسون چې په مرکزی اعصابو سیستم کې واقع دئ او عصبی حجرو جسم Neuronal Cell Body یا د هغه د (Dendrites) چې د اکسون سره ساینپس جوړوی دا برخه منځ ته راوړی.

- Target Organ

موخیزه غړې ، هغه غړی چې (درملو، هورمونونو ، ناروغیو) پواسطه تر اغیزې لاندې راځی لکه د(کبد ، پانکریاس ، زړه. ماغزه..... اونور).

- Target Patient

موخیز ناروغ ، د موخې وړ ناروغ ، په یو لړ درملنو کې د هغه ناروغ اړوند چې د نورو غړو په پرتله د ځانګړې درملنې لاندې وی لکه د انکولوژی اړوند ناروغ .

- Performance Target

په روغتیائی یو لړ پروګرامونو چې هغه کړنې تر سره کول چې موخیزه بڼه ولری لکه د ځانګوې درملنې په لړ کې د یو لړ کونو تر سره کول او دهغې ارزول.

- Target Population

په طبی څېړنو لړ کې د ټاکلی نفوس (یوې ډلې وګړو) سره په تړاو کې چې پکې څېړنه او تحقیق تر سره کېږی .

- Target Sign

دا د هضمی جهاز رادیولوژی کې د (Smoothly-contoured Radiopacity) چې دواړو مرکزی او محیطی برخو کې رادیولوسنسی (Radiolucency) شتون چې په ثویق لرونکو کولونی پولیپونو (Pedunculated Colonic Polyps) کې لیدل شی چې دا په (Double Contrast–Air-Contrast Barium Studies) د تثبیت وړ دی . همدا رنګه د (Eccentric' Target Sign) ډول نښه په (Diverticuli) لیدل کېږی چې پکې یوه لږه اندازه راډیواوپک ماده د دایورتیکولوم د پوچ (Pouch) د تحت المخاط او او مصلی طبقې دننه ورننوزی دا د مخاطی غشأ(اذیما Oedema یا التهاب

- Target Follicle

د موخیز فولیکول چې په یوه رسېدلی لمفوسایت (Layering of Mature Lymphocytes) کې د (Mantle Zone) دننه په چارپېر کې جرمینال مرکزونه (Around Germinal Centres) منځ ته راځی چې د (Low-Power Light Microscopy) پذربعه په (Hyaline-Vascular) بڼه د (Castleman's Disease—Aka Angiofollicular Lymphoid Hyperplasia) کې لیدل کېږی .

- Target Gland

موخیزه غده ، موخیزه غوټه ، د حجراتو اګریکېشن (Aggregation) په ځانګړې توګه هسې مواد تولېد ،ترشح او اطراح کوی لکه (هومونونه ، انزایمونه ....او نور) چې د هغې په منظم او عادي میتابولیک اړتیاوو پورې اړوند ندی دا مواد پر نور بخو تنبه کونکې ښندی او دا غدې په په دوه ډلو وېشل شوی دی چې (Endocrine او Exocrine) غدوات یې بولی .

- Target Heart Beat (HR)

د زړه هغه اندازه ټکانونه (نبضانونه) چې په یوه واحد د وخت کې منځ ته راځی چې معمولاً یې په یوه دقیقه کې شمېری .

- Target Heart Rate

په کارډیولوژی (Cardiology) کې د تمریناتو پرمهال هغه اندازه د زړه مناسب تقلصونه (Pulse Rate) چې د نبضان ټاکنې له مخې د (Cardiovascular Function) دندو اټکل پرې کېږی چې دا اندازه (60% to 85%) پاتې کېږی .

- Target Heart Zone

هغه ډول شدید تمرین چې د زړه ټکانونو اندازه د (65% To 85%) پورې ورسوی چې دا ترټولو مشهور زون دئ چې د (Lack Of Lactate Buildup) ورکولو له مخې بدنی اصلاح او عمومی سمون (General Fitness) لپاره پکاریږی .

- Target Hemolysis

موخیز ډول هیمولایزیس چې پکې په موخیز او یا هم قصدی ډول د وینې د سروکریواتو ویجاړتیا رامنځ ته کېږی .

- Target Identification

دا هغه اصیله اصطلاح ده چې پکې د نظر وړ مولیکولی ډولونو څرګندول رامنځ ته کېږی لکه (Hybridisation) یا د (siRNA) لږه اندازې مداخلې له امله د نظر وړ (RNA) او مخیز جن (Target Genes) چوپتیا او پټېدنه (Silence) منځ ته راوستل کېږی.

- Target Lesion

موخیز آفتونه ، د نظر وړ ضایعات ، د پوستکی علم (Dermatology) له مخې په وصفی توګه (Erythema Multiforme–EM) چې پکې تېاکه (Vesicle) د یو لړ (Hemorrhagic Maculopapule) په ذربعه احاطه شوېدی ، دا یوه پخپله بنه کېدونکې ناروغی ده ،ناڅاپه حمله لری او په (3-6 wks) اونیو کې له منځه ځی بیا رامنځ ته کېږی ببلابېلې بڼې

مل وی.

- Target-film Distance (TFD)

- هغه اندازه واټن (مسافه) چې د رایوګرافی تیوب د موضعی ټکی (**Focal Point of an X-ray Tube**) څخه تر فیلم (**Film**) پورې ټاکله شی. د (**Source-Film Distance**) او (**Penumbra**) په اندول.

Targeting

تر هدف لاندې راتلل .ترموخې لاندې راوستل ، موخې کېدنه .

Targetitis

د ګنې شمېر موخو تر څنګ راوستل تر څو د یوه غړی یا اداري اړوند دندې په ښه توګه تر سره شی .

Targis

د یورولوژی اړوند سیستم چې د (**Microwave**) په بڼه کارکوی چې پکې د (**Catheter-Based System**) پروت دئ او په پرته له جراحی درملنه د [**Benign Prostatic Hypertrophy** (**BPH**)] کې تري کار اخیستل شی.

Targretin

د (**Bexarotene**) لپاره سوداګریز نوم دئ دا یوه د تومور ضد (**Antineoplastics**) درملنیز درمل دی چې د فامکولوژیک عمل له مخې یو رټینوئید (**Retinoids**) دئ او د (**Retinoid X Receptors**) سره ښښلی او اړیکه جوړوی او د (جلدی لمفوما **Cutaneous T Cell Lymphoma**) او همدارنګه د سږو (**Lung**) او دتییونو سرطان (**Breast Cancer**) او په **Kaposi Sarcoma**) په درملنه کې منل شوس درمل دی چې ناوړه اغېزې یې لکه (**Hypervitaminosis A**— په څېرد **Headache**، **Lip Inflammation**، **Nausea**، **Vomiting**، **Mucous-Membrane Dryness**، **Joint Pain**، **Scaly Skin** او **Hyperlipidaemia**) په څېر حالتونه تثبیت کېږی.

Tarichatoxin

د اوبیز سوسمار (سمسري) د (**Taricha**) د ډول نیوروتوکسین چې هماغه (**Tetraditoxin**) دئ .

Tarin

د فرانسوی اناټومیست (**Pierre, French anatomist**) نوم اړوند دئ چې په (**1725-1761**) کالونو کې اوسېده او د ګنې شمېر (**Tarin space, Tarin tenia, Tarin valve, valvula semilunaris tarini, velum tarini**) اړوند یې څرګندونې کړېدی .

(**Inflammation**) له کبله منځ ته راځی .د ریوی راډیوګرافی عکس کې یو ډول ریوی اسپرجیلوما (**Pulmonary Aspergilloma**) کې مرکزی برخه کې نکروز یا په (**Bronchopneumonia**) کې یو ډول محراقی نکروزیس شته والی چې د ساده صدری رادیوګرافی (**Plain Chest X-rays**) د (**Central Focus Coin Lesion**) پنامه هم یاد ېږی .

- Target-skin Distance (TSD)

د اردیوګرافی له مخې هغه واټن (مسافه) چې له وړانګو له ټګی څخه تر هغه ټکی پورې چې ورڅخه وړانګې (**Beam**) د ناروغ بدن ته ورننوزی. په راډیوتراپی ګې هغه معمول اندازه چې د ژورتیا له مخې د درملنې پر مهال د نظر وړ درملنیزه موده او مسافه راپه ګوته کوی .

- Target Study Population

هغه ډله کسان چې د (**Clinical Trial**) په موخه په مداخله ورګډ وی او څېړنه پرې تر سره کېږی.

- Target Symptoms

هغه ډله موخیز د ناروغی. ننبې ښبانې (**Symptoms**) چې د ځانګړې درملنې یولړ ټاکلو (**Psychopharmacological Drug**) درملو په وړاندې څواب ورکوی .

- Target Theory

په راډیوبیولوژی کې دا هغه ډول (حجروی **Cellular** او کروموزومی **Chromosomal**) جروحاتو موډل (**Model**) دئ لکه د داخل الحجروی میوټېشن (**Mutations**) شرحه ده چې د وړانګو تطبیق (**Radiation**) له کبله منځ ته راځي چې ښائی تخریبات د حجراتو مړینې لامل وګرځی .

- Target Validation

موخیز دا د درملنیزو درملو د پوتانسیال اړوند اصطلاح ده چې (**Potential Molecular Targets**) چې در درملو د اعتبار ورکولو (قانونی کولو ، تصدیقولو) کې پکار وړله شی.

- Target Wait System

د روغتیائی خدمتونو د ترلاسه کولو موخیز انتظار ویستلو سیستم لکه دیوه ناروغ چې د زنګون د مفصل بدلولو (**Knee Replacements**) لپاره انتظار پاتې کېږی .

- Targeted Surveillance

موخیز سرویلانس ، د نظارت کولو ځانګړې وړاندوینې پېښه چې ډېره مهمه بلله شی.

- Targeted Therapy

دا هغه جنیریک اصطلاح د درملنې اړوند ده چې د ځانګړې مالیکولی لارې (**Specific Molecular Pathway**) اغېزه څرګندوی .د ببلګې پتوګه (**Gefitimib**) چې د سږو د (**Non-Small Cell Carcinoma**) چې په (**Epidermal Growth Factor Receptor**) کې د میوټېشن سره وی ، او (**imatinib**) د (**GIST tumours**) چې د (**Activating Mutations in c-Kit**) سره

Tariric Acid
دا یو (18-Carbon Acid) کاربونی اسید چې درې ګونی اړیکی جوړوی.

Tarlov cyst
دا یو (Perineural Cyst) عصبی سیسټ دئ چې د نخاعی رسی په ښکتنی جذر کې منځ ته راځي او کلښیکی نښې منځ ته راوړی. دا ناروغی د (Isadore Max) پنامه امریکائی جراح (U.S. surgeon) پذریعه چې په (1905-1977) کالونو کې اوسېده لومړی ځل شرحه شو.

Tarnier Forceps
دا یو ډول فورسپس دئ چې د (Axis-Traction Forceps) ځانګړنې لری. دا لومړی ځل د فرانسوی ولادی-نسائی ځانګې عالم (Tarnier,Étienne Stephane) پذریعه شرحه چې (1828-1897) کالونو کې اوسېده.

Tarnier Sign
دا هغه (Impending Miscarriage) لپاره نښه ده چې پکې په بلاربښت کې د رحم د ښکته او پورته سګمنټ زاویه له منځه ځی چې لومړی ځل د (Tarnier) ذریعه شرحه شو.

Tarnish
دا د سطحی رنګ له منځه تګ دئ چې پکې فلزی (Luster Of Metals Owing) کمښت مومی او پر (Corrosive Substances) باندې اغېز اچوی یا (Galvanic Action) عمل کوی چې په (Dental Restorations) دا عمل ښائی د (Bacterial Plaque) راټولېدنې لامل وګرځی.

Tarnishable
د (Tarnish) وړتیا لرونکې.

Tarnishing
(Tarnish) کېدنه ، تارنیش والې منځ ته راوړل.

Taro
یوډول خوړل کېدونکی بوټی[(Xanthosoma) او (Colocasia Esculenta)] چې نشایسته لرونکی ریښې لري اوپه تودو سیمو کې شین کیږي.

Tarragon
دا یو ډول یونانی نباتی درمل (Herbal Medicine) ده چې اساسی ماده یې غوړ (Essential Oils) او (Seasoning) دی چې پخوا د (مدرر Diuretic ، مشتهی Appetite Stimulant او Emmenagogue) درملو پټوګه کارېدل.

Tarry
1 .تیاره (Dark) ، پېړ (Thick) ، قیر، قیر غوندې یا هغه سیمه په قې لړلی شوېوی. **2** .تالېدل، ځنډېدل، پاته کېدل.

- Tarry Cyst
1 .په کارپوس لوتیم (ژیړ جسم Corpus Luteum) کې د وینې راټولېدنې له کبله د تور بخن سیسټ منځ ته راتګ. **2** .هغه وینه لرونکې سیسټ چې د اندومتریوزیس(Endometriosis) له کبله منځ راغلې وی.

- Tarry Stool
توربخن تیاره رنګ لرونکی غول (غایطی مواد) چې د کولمو څخه بهر ته غورځول شی.

Tars –
دا یو مختاړې دئ او د پښو د پله د تارس (Tarsal) هډوکو او (Tarso-) معنی بشپړوی.

Tarsadenitis
د تارسوس او میبومیوس غدواتو التهاب.

Tarsal
د (Tarsal Bone) هډوکو (Tarsus) لپاره اړوند صفت دئ.

- Tarsal Arches
د سترګو جفن د تارس اړوند شریانی علوی او سفلی لیندی (قوسونه) چې جفنونه اروأ کوی.

- Tarsal Artery
1 .د پښو هغه شریانونه چې د قدم برخې د تارس هډوکی ، بندونه او عضلات اروأ کوی. **2** .د پښو د قدم اړوند دوه کوچنی چې په ظهری برخه کې چې انسی ته ویشل شوېدی او انسی (Malleolar Network) جوړوی د (Medial Tarsal Artery) هم بلل شی.

- Tarsal Arthritis
دپښو د قدم برخې د تارس هډوکو ترمنځ د مفصلی سطحو التهاب.

- Tarsal Articulations
د د هډوکو تر منځ بندونه.

- Tarsal Bar
د (Tarsal Coalition) په انډول.

- Tarsal Bone
د پښو د پلې د تارس (Tarsus) هډوکو اړوند چې د (Talus and Calcaneus) په شمول ټول ټال اوه (7) کوچنی هډوکی دی.

- Tarsal Cartilage
دپښو د قدم برخې د تارس هډوکو ترمنځ د مفصلی سطحو اړوند غضروف .

- Tarsal Coalition
هغه ډول فیبروټیک ، غضروفی یا هډوکیز یوځای کېدنه چې د تارس هډوکو د دوه یا ګڼ شمېر هډوکو ترمنځ پېښېږی دا معمولاً د (Talipes Planovalgus) او نورو نیمګړتیاوو کې منځ ته راځي ځینې یې پرته له اعراضو وی چې ښائی په ولادی یا کسبی ډول د (Trauma, Infection, or Joint Disease) په وراندې د غبرګون له امله منځ ته راشی . د (Tarsal Bar) په انډول.

- Tarsal Cradle
کلښنیکی یا اورتوټیک مصنوعی ډول یوه پاڼه ائیزه (Orthotic Padding) بڼه تختې ته ورته جوړښت چې په بوټانو پښو تله کې کېښودله شی چې د پښو د تارس بندونو دردناکه حرکتونو لپاره د حرکت پرمهال ملاتړ او حمایت / محدودیت منځ ته راوړی معمولاً د (Tarsal Platform + Valgus Pad) ګډه او یوځای جوړوله شی.

- Tarsal Cyst
هغه مزمنه التهابی ګرانولوما چې په (Meibomian Gland) کې منځ ته راځي ورته نومونه یې (Chalaza, Chalazion , Meibomian Cyst, Tarsal Cyst) دی .

- Tarsal Disintegration
د تارس رشف کېدنې (Resorption) یا کولاپس (Collapse) چې د (Midfoot Charcot Neuroarthropathy) له کبله چې د (Hansen's Disease) یا (Diabetes Mellitus) کې منځ ته راځي.

- Tarsal Fold
هغه فولډ یا لفافه ئي نښه (Fold Marking) چې د (Levator Palpebrae Superioris Muscle) د پورتنی جفن (Upper Eyeli) پوستکی سره په تماس وی.

- Tarsal Fusion
د تارس د دوه یا ګڼ شمېر هډوکو د مفصلونو فیوز کېدنه (Fusion) چې پکې خوځښت محدودیت (Synchondrosis) مومی چې (Talocalcaneal, Calcaneocuboid and Calcaneonavicular Coalitions) یې معمول حالتونه دی چې (4%) خلک ښائی اخته کاندې . د[(Tarsal Coalitions) او (Peroneal Spastic Flat Foot)]په انډول .

- Tarsal Gland
د (Meibomian Gland) په انډول ، د تارسال غده (غوټی) .

- Tarsal Injury
د پښو د قدم او بندونو تارس برخو اړوند جروحات .

- Tarsal Ligaments
د پښو د قدم او بندونو تارس برخو اړوند وترونه (لېګامنټونه).

- Tarsal Pain
د پښو د قدم او بندونو تارس برخو اړوند دردونه .

- Tarsal Plat
یو د منضم نسج پلاټ (Plates of Connective Tissue) چې د پورتنی یا ښکتنی جفن لپاره (Framework) جوړوی .

- Tarsal Platform
د (Tarsal Cradle) په انډول .

- Tarsal Projections
د تارس استطالې ، هغه راډیوګرافیک منظره چې ځرګندوی لکه د (Rearfoot Joints) (Axial Calcaneal Projection) او (Harris-Beath Projection) په ځېر .

- Tarsal Sinus
د پښو د قدم برخې د (Calcaneus) او (Talus) هډوکو ترمنځ هغه پرته واټن یا مسافه چې د (Talocalcaneal Interosseous Ligament) پذرېعه ډکه ده او د (Sinus Tarsi) پنامه هم یادېږی .د (Tarsal Canal) په انډول.

- Tarsal Trauma
د پښو د قدم او بندونو تارس برخو اړوند ترضیضات .

- Tarsal Tunnel
د تارس ټونل ،د پښو د قدم برخې د (Osseofibrous Passage) تشه کانالی برخه چې د (Posterior Tibial Vessels, Tibial Nerve, and Flexor Tendons) تېرېدنې لپاره جوړه ده او د (Flexor Retinaculum) او (Tarsal Bones) ځخه په ګډ ډول سره رامنځ ته کېږی .

- Tarsal Tunnel Syndrome
د تارس ټونل سنډروم ، د پښو د قدم برخې د د مجموعة الاعراضو (Complex of Symptoms) ګډ ډول شتون چې د پښو د (Posterior Tibial Nerve) یا (Plantarnerves) دتر فشار له کبله د (Tarsal Tunnel) په برخه کې د ګڼ شمېر ننبو (Pain, Numbness, او د پښو د پوندې او تلی (Sole of the Foot) برخې د حسیت (Tingling Paresthesia)) سره منځ ته راځی .

Tarsalgia
د پښو د قدم او بندونو تارس برخو اړوند درد چې د ترضیضاتو او التهاباتو او ناروغیو په لړ کې منځ ته راځی.

Tarsalia
دپښو د تارس د (خنګری -بجلک) برخې هډوکی .

Tarsalis
دپښو د تارس برخې پورې اړوند. د (Tarsal) په انډول.

Tarsectomy
1. د تارس د هډوکو (Tarsal Bones) ځخه د (یوه یا ګڼ شمېر) هډوکو راویستلو جراحی عملیاتی کړنلاره. **2**. د

دا د جراحی عملیات طریقه ده د سترګې د لېمو د پورتنۍ او ښکتنۍ څنډو ګنډل او یو تربله سره وروستل کړنه چې د سترګو د عملیات څخه وروسته د سترګې د ساتنې په موخه تر سره کېږی.

Tarsotomy

د سترګو د لېمو (Eyelid) د څنډو (Tarsus) برخه باندې د څیرنې تر سره کولو جراحی کړنلاره . د سترګو د لېمو (Eyelid) باندې جراحی سکښت تر سره کول.

Tarsus

1 .د پښو د پل برخې اوه کوچنی هډوکی چې نومونه یې (Calcaneus, Cuboid, the three Cuneiforms, Navicular and Talus) دی ، 2 .د سترګو د لېمو (Eyelid) د څنډو منضم نسج چې د لېمو برخه تقویه کوی او دهغه اساسی اسکلېټ جوړوی.ګڼه شمېره یې (Tarsi) ده.

Tartar

دغاښو منګ چې د کلسیومی کلکو توټو څخه د غاښونو لپاسه رسوب کوی او د (Scaling) پذرېعه رالېږی کول شی،دانګورو دشیرې منګ، دشرابو کنوبې. ورته نوم یې (Scale) دئ .

Tartarate

دتارتاریک اسید (Tartaric Acid) مالګه .

Tartaric

منګین،منګ نیولې ، رسوبی شوې ، زنګ وهلی.

- Tartaric Acid

دا یو ډول اسیدی دی چې د مالګېزې (Tartarate) بڼې څخه یې کار اخیستل شی.

Tartly

په تریو والی، په ستوغ توب.

Tartrazine

دیو ډول ژیړه ماده (E_{102}) ده چې په غذائی توکو کې اچول شی تر څو بڼه او په زړه پورې رنګ واخلی . دا ښائی ډېر زیاته پیمانه خلکو کې حساسیت (Reactions in Hypersensitive) څرګند کړی .

Task

کار، وظیفه، د کار یوه کوچنۍ دنده او برخه ، په کار ستړی کول، ډکول، بخښل، پلمه کول.

-Task Allocation

دا هغه ډول سیستم دئ چې پکې د ناروغانو د روغیائی مراقبت اړوند روغتیائی کار په ګڼ شمېر دندو (Tasks) وېشل جراحی په مرسته د سترګو د لېمو (Eyelid) د تارسوس (Tarsus) راویستلو او لرې کولو جراحی کړنلاره.

Tarsectopia

دپښو د تارس (Tarsal Bones) د یو ه یا څو هډوکو اوښتنه (Subluxation) حالت بلل شی.

Tarsectopy

د (Tarsectopia) په انډول.

Tarsen

تارسی ، دپښو د تارس (Tarsus) دننه برخې اړوند چې له نورو جوړښتونو سره تړاو ونلری .

Tarsi -

دا یو مختاړې دئ او د پښو د تلی د تارس (خنګری Sole ،بجلک ،د سترګو د جفن Tarsus اړوند) معنی بشپړوی.

Tarsier

د (Arboreal, Lemur-Like Primate) اړوند د (Tarsius) پورې تړلې جینوس (Genus) دې چې آسیائی ډول یې غټې سترګې او لوی غوږونه لری.

Tarsiidae

دا د (Nonhuman Primates) کورنۍ څخه یو ډول دئ چې (Tarsier) پکې ورګډ ېږی .

Tarsitis

د سترګو د لېمو یا جفن (Eyelid) د څنډو برخو التهاب. د (Blipharitis) په انډول.

Tarso -

دا یو مختاړې دئ او د پښو د (بند او یا هم د د سترګو د لېمو د څنډو) معنی بشپړوی .

Tarsoclasis

د پښې د خنګری د هډوکو جراحی بڼه ماتوالې .

Tarsomalacia

د سترګو د جفن / لېمو د تارسونو برخې ویلې کېدل او له منځه تګ حالت .

Tarsometatarsal

د تارس او مېتاتارس دواړو اړوند صفت دئ.

Tarsoplasty

د سترګو د جفن / لېمو د تارسونو برخې پلاستیک جراحی عملیات . د (Blipharoplasty) په انډول.

Tarsoptosis

پلنه پښه لرل ، د هموارې تلې څښتنه پښه .

Tarsorrhaphy

خوندور توب.

Tasteless

بې خونده ، هغه چې هیڅ راز خوند ونلری .

Taster

څکوونکي ، ذایقه کتونکي ، هغه کس چې د یوې ځانګړې مادې (دبیلګې پتوګه فینایل تایوریا چې په جنیټیکو څېړنو کې پکارېږی) د خوند کتلو توان لری.

Tastiness

خوند ، ذایقه ،مزه ، ذوق.

Tasty

خوندور ، خوږ، پر ذوق برابر.

Tat

ول ول اودل لکه (دکمیس ګریوان) کړنلاره.

Tatlockia Micdadi

د (**Pittsburgh Pneumonia**) پنومونیا لامل ، لجیونېلا (**Liginella**) ته ورته ارګانیزم چې د اوبو له لارې لېږدېږی او د پنومونیا د یوه لامل پتوګه پېژندل شوېدئ.

Tattooing

خال وهنه ، د ستنې په مرسته په پوستکی باندې د تلپاتې رنګونو او داغونو اینبودل .

- Tattooing Cornea

د سترګو د قرنیې برخې رنګوونه چې تر ډېره بریده د قرنیې پرمخ د سپینو داغونو د له منځه وړلو لپاره تر سره کېږی .

Taurine

تاورین ، یو اوکسیدایز شوې سلفر (ګوګړ **Sulphur**) لرونکې هغه امینواسید (**Amino Acid**) چې په صفرا کې مزدوج کېږی او معمولاً د (**Cholyltaurine**) یا د (**Chenodoxy Cholyltaurine**) بڼه خپلوی چې د تریخې مالګې (صفراوی مالګې **Bile Salts**) جوړوی او همدارنګه کېدای شی چې د مرکزی عصبی سیستم د نیورو ترانسمېټر (**Neurotransmeter**) په توګه وکارول شی.

- Cholyltaurine

دا تاورین اړونده یوه بڼه ده چې په (**Taurine**) کې یې وګورئ.

- Chenodoxy Cholyltaurine

دا تاورین اړونده یوه بڼه ده چې په (**Taurine**) کې یې وګورئ.

Taurocholate

د تاوروکولیک اسید (**Taurocholic Acid**) مالګه .

Taurocholic Acid

د تاوروکولیک اسید چې مالګېزه بڼه یې (**Taurocholate**) نومېږی .

شی چې هره برخه یې خپله ځانګړې مهارتونو(**Specific Skills**) ځانږنې او دنده تر سره کوی.

Taskmaster

ګومارونکی، کارسپارونکی، کارټاکونکی، کار ښوونکی.

Tastant

هره هغه ماده چې د مالګې په څېر ذایقه تحریک کولای شی ، د ذایقوی حس پاروونکې .

Taste

څکل، خوند کتل چې د یو د پنځه حسونو څخه بلل شی چې په خوله کې ژبې (**Tongue**) پواسطه تر سره کېږی ، آزمایل، تجربه کول، خوندلرل، خوند ورکول، څکه، خوند ، مزه، سلیقه، ذوق، خوښه، نمونه، لکه د تریخ او تریو خوند په څېر.

- Taste Bud

د څکلو اړوند غوټې چې د ژبې په برخه کې واقع دی او حسی رسپتورونه (**Sensory Receptor**) د خولې په خلفی بلعومی برخې په (**Vallate and Fungiform Papillae**) کې لری چې د (**Salt, Sour, Bitter and Sweet Tastes**) ترمنځ فرقونه توپېر او پېژندنه کوی او ټولې سیالې (**Impulses**) له ذایقی غوټو څخه د ذایقې اړوند عصبی برخې قشری سیمه په صدغی فص (**Temporal Lobe**) کې چې په دماغی نیمکرې (**Cerebral Hemisphere**) کې پرته ده لېږدولې شی .

- Bitter Taste

ترخه ذایقه چې د خولې د ژبې د خلفی غوټو پذریعه تثبیت کېږی.

- Taste Cortex

د ذایقې اړوند عصبی برخې قشری سیمه په صدغی فص (**Temporal Lobe**) کې چې په دماغی نیمکرې (**Cerebral Hemisphere**) کې پرته ده او ټولې سیالې له ذایقی غوټو څخه هماغلته لېږدولې شی.

- Taste Gland

د (**Taste Bud**) په اندول .

- Salt Taste

تریوه (مالګینه ، تروشه) ذایقه .

- Sour Taste

تریوه اسیدی (نارنج او لیمو په څېر) ذایقه .

- Sweet Taste

خوږه ذایقه ، د شکرو او خوږه څیزونو څکه .

Tastefully

په مزه، په خوند ، له مزې او خونده ډک.

Tastefulness

(پیژندنې دندو ، اعراضو ، لاملو) اړوند پکار وړله شي.

- Taxonomy of Causes

د لاملو نو اړوند ټکسونومی .

- Numerical Taxonomy

شمېریزه تکسونومی . د ګډو فینوټایپونو ځانګړنو له مخې د انحصاری ډلبندی یوه طریقه ده چې معمولاً هرې ځانګړنې ته یو شان ارزښت ورکول کېږی چې د لومړی ځل لپاره په باکټریو لوژی کې ورځنه ګټه اخیستل شوې ده .

- Taxonomy of Symptoms

د کلینیکی نښو نښانو اړوند ټکسونومی .

Taxoplasma

ټکسوپلازما ، دا یو ډول سپور لرونکې د (Family Toxoplasmatidae) کورنۍ پورې اړوند داخل الحجروی (Intracellular) غېرمېزبانه (پرته له کوربه Non-Host) ځانګړنو سره دګډ شمېر ډولونو فقاریه لرونکو پرازیټ دئ جنسی سیکلیک (Sexual Cycle) وده لری اووسیټ (Oocyst) تولیدوی .د ارتشاحی (Proliferative Stages) مرحله یې (Tachyzoites) او نسجی سیستونه چې (Bradyzoites) لری چې کولای شی په دواړو بنو د منتن غوښې خوراک له لارې لېږدېدنه او سرایت وکړی .

- Toxoplasma Gondii

ټکسوپلازما ګاندی ، دا هم یو ډول سپور لرونکې د (Family Toxoplasmatidae) کورنۍ پورې اړوند داخل الحجروی (Intracellular) غېرمېزبانه (پرته له کوربه Non-Host) ځانګړنو سره دګډ شمېر ډولونو فقاریه لرونکو پرازیټ دئ جنسی سیکلیک (Sexual Cycle) وده لری اووسیټ (Oocyst) تولیدوی.

Taxoplasmosis

د (Toxoplasma) په پرازیتونو باندې د ککړتیا له کبله د ناروغۍ منځ ته راتګ.

Tay-Sachs Disease

دا هغه ارثی ډول لېږدېدونکې ناروغه حالت دئ چې پرمېتابولیزم (Metabolism) باندې اغېز کوی او [دپښو اندامونو پرمختلونکی فلج (Legs Progressive Paralysis) ، ړوندوالی (Blindness) او زده کړو ناتوانیو (Learning Disabilities)] په څېر نښې لری او لومړی ځل د (Warren Tay) په کال (1881) کې برطانوی سترګو متخصص (Bernard Sachs) پذرېعه چې په (1843– 1927) کالونو کې اوسېده شرحه شوېدئ .

Tautomer

تاوتومېر ، هغه ډول کېمیاوی مرکب چې د تاتومېریزم په څرګندولو توانېږی.

Tautomeric

د (Tautomerism) اړوند صفت.

Tautomeral

په هماغه برخې پورې اړوند چې په ځانګړی ډول د دماغ په سپینه ماده کې هغه نیورونونه یا نیوروبلاستیونه چې له معلوماتو سره د مرستې لپاره د نخاع هماغه لورې ته بهیر (جریان) استوی . د (Tautomer) اړوند صفت.

Tautomerase

تاوتومرېز . هر هغه انزایم چې یو پر بل باندې د تاوتومېرونو اوښتون کتلایز کوی.

Tautomerism

تاوتومریزم ، د دوه داسې جوړښتونو ایزومیرونو تر منځ اړیکه چې له کېمیاوی پلوه په تعادل کې دی او په آسانه او ساده توګه یو پربل باندې اوړي.

Taxis[1]

هغه د مساژ یا ټیله کولو طریقه او کړنلاره چې پکې ښځایه هډوکی یا فتقونه ېبرته خپل اصلی موقعیت ته ورګرځول شی.

Taxis[2]

د یوه محرک په ځواب کې د یوه ژوندی موجود جهت لرونکې حرکت کېدای شی د محرک له جهت سره سم (مثبت) یا د هغه پر خلاف منفی وی .

-taxis

دا یو روستاړې دئ او د اکړنلارې ، طرېقې ، مانوپولېشن (Manipulation)] معنی بشپړوی .

Taxol

د (Puclitaxel) محصولاتو لپاره سوداګریز نوم دئ .

Taxon

1- اختصاصی ډلبندی لکه د (Class, Order , Family, Phylum , Species, Genus , Kingdom) په څېر ، **2**- هغه نوم چې په ډلبندی کې د یوه ګروپ لپاره پکارېږی.

Taxonomic

د (Taxonomy) اړوند صفت دئ .

Taxonomy

د تصنیف کولو لپاره عمومی اساسات دی چې د

TB
د توبرکلوزیس (Tuberculosis) لپاره لنډه نښه ده .د نری رنځ ناروغی ، سل.

Tb
د (Terbium) کېمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه ده .

T -bandage
د انګرېزی توری (T) بڼې لرونکې بنداژ ترلو بڼه ده چې د پښو د اندامونو د لښګیو اړوند سیمو تثبیت لپاره تړې کار اخیستل شی.

TBI
د ټول بدن تشعشع (Total Body Irradiation) لپاره لنډه نښه ده.

Tc
د (Technetium) لپاره لنډه نښه ده.

T-cell
د (T-lymphocyte) په اندول لنډه نښه ده .

TCP
د ببلابېلو خفیف انتی سیپتیک مایعاتو (Antiseptic Liquids) لپاره لنډ سوداګریز نوم دئ.

TD_{50}
د منځنی زهری کچه . د مادې هغه کچه چې د ټولنې په (50) سلنه برخه کې د زهرجنو اغبزو د رابرسېره کېدو لامل ګرځی لپاره لنډه نښه ده.

t.d.s.
دا په نسخه (Prescriptions) لیکنه کې د (ter in diem sumendus) لپاره په لنډه توګه لیکله او د ډاکټرانو له خوا د درملو د ورځې درې ځله تطبیق بڼې هدایت او لارښودنې لپاره پکار وړله شی. او د (TDS) په بڼه هم لیکله شی.

Te
د (Tellurium) کېمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه ده .

Tea
چای ، د چای د بوټې وچې پاڼې او ډکی چې د تودې ځښنې جوړولو لپاره تړې کار اخیستل شی چې د (مایعاتو اعادې ، ستړیا رفع کولو او سرخوړ ښه کېدو) په موخه کارول شی .

- Black Tea
توره چای .

- Green Tea
شنه چای ، شنه قهوه یا شنه کاوه .

Teach
درس ورکول، تدریس ، معلمی (ښوونه) کول ، نورو ته زده کړه ورکول .

Teaching
تدریسی ، هلته چې درس او تعلیم ورکول شی ، د زده کړو چارې تر سره کول.

- Teaching Hospital
درسی روغتون ، هغه روغتونونه یا د طبی تعلیماتو او روزنې لپاره پوهنځي چې پکې ډاکټران روزل کېږی.

Team
ډله ، د خلکو یوه ډله /د خلکو او وګړو د ډله ائیزو کارکولو ګروپ لکه د (ډاکټرانو .... او نورو)ډله . دا کلمه د (Together Everyone Achieves More) د مشرح بڼې لپاره په لنډه توګه پکار وړله شی چې په ګډه سره د هرچا پو ذرېعه د ډېرو لاسته راوړنو معنی ورکوی.

- Team Aproach
دله ائیز (ټیمي) کړنلاره /طرېقه .

- Medical Team
طبی ټیم ، طبی ډله چې د په ډله ائیزه توګه د ببلابېلو دندو تر سره کولو لپاره په ګډه هڅه او هاند کوی.

- Nurses Team
د نرسانو ټیم .

- Team Nursing
هغه ډول سیستم چې پکې یوه ډله نرسان (روغتیا پالان) په ډله ائیزه توګه د ببلابېلو دندو تر سره کولو لپاره په ګډه هڅه او هاند کوی.

- Operation Team
د عملیات تر سره کوونکې ډله او ټیم .

- Team of Surgeons
د جراحی عملیاتونو تر سره کوونکې ټیم .

- Team System
ټیمی سیستم .

Tear
① اوښکه ، هغه اوبلنه ځاځکې بڼې لرونکې مایع چې له سترګو څڅېږی او د اوښکې غدې (اشکیه غدې Lacrimal Gland) افراز او اطراح بلل شی او مالګین او لږ څه قلوی افراز ډئ چې سترګو ملتحې لمدې او پاکې ساتی د ژړا پرمهال ډېرې بهېږی. ② څیرل ، شلول ، شکېدل ، څیرېدل .

- Tear Duct
د اوښکو نلکه ، د اوښکو قنات ، د (**Lacrimal Duct**) په انډول.

- Tear Gland
د اوښکو افرازوونکې غده ، د (**Lacrimal Gland**) په انډول.

Tears
دا هغه اصطلاح ده چې د اوښکو او هغه مختاړې چې (**Dacryo-**) پیل مومی او د (**Tears or Lacrimal**) اړوند ومعنی لری.

Tease
د مایکروسکوپی څېړنو په موخه د نازکو ستنو سره د نرمو او پستو نسجونو سره بېلول او پرانیستلو کړنلاره.

Teat
دتي سر، دغولانځي (**Nipple**) څوکه، د تیبونو څوکه ، څوکه

Tebutate
هغه ویی چې د (**Tertiary Butylacetate**) لپاره د (**USAN**) له لورې غوره او منل شوېدی.

Technetium
یو کېمیاوی عنصر چې اټومی شمېره یې (**43**) او کېمیاوی نښه یې (**Tc**) ده چې په راډیولوژیک څېړنو کې تري ډېر کار اخیستل شی.

- Technetium ^{99m}
په هستوی طب کې تر ټولو زیات کارېدونکې راډیو ایزوتوپی عنصر ، د ګاما وړانګه خپروی نیمائي عمر یې (^{h} **6.03**) ساعته او د فوټون لومړنې انرژی یې (**140 kev**) ده.

Technic
د (**Technique**) په انډول.

Technician
فنی /تخنیکی کارپوه ، هغه کس چې د ځانګړې کارونو اړوند پوهه لری او په روغتون کې ځانګړې تخنیکی دندې لکه د (لابراتوار ، راډیوګرافی) تر سره کوی.

- Anasthesia Technician
د بېهوښۍ اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Dental Technician
د غاښو اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Electrocardiographic Technician
د زړه ګراف اخیستونکې اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Emergency Medical Technician
د بېړنیو طبی چارو اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Laboratory Technician
د لابراتوار اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Medical Laboratory Technician
د طبی لابراتور اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Physiotherapy Technician
د فیزیو تراپی اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Radiologic Technician
د راډیوګرافی اخیستلو اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه ماشین چلوونکې کس.

- Radiotherapy Technician
د وړانګو پذرېعه درملنې اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Respiratory Therapy Technician
د سږو ناروغیو د تنفسی تمرینونو تر سره کوونکې اړوند له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

- Ultrasonographic Technician
د التراساوند د ماشین کاروونکې له ډاکټر سویې څخه ټیټ کچه کارپوه کس.

Technicological
د ټکنیکولوژی (**Technicology**) اړوند

Technicology
د تخنیکی طریقوتر سره کولو او اړوند چارو څېړنو علمی څانګه.

Technique
تخنیک ،فن ، طریقه ، روش ، دود ،د یوې مېخانیکی پېښې یا جراحی عملیات او د علمی او طبی کارونو د سرته رسولو اجرائی جزئیات یا اړوند لارو چارو کړندود دئ.

- Dot Blot Technique
د (**Western Blot**) طریقې ته ورته د پروټینونو د معلوموني ، پېژندنې او ماهیت ټاکنې لپاره لازه چې یوازې دومره توپیر له یادې شوې لارې سره لری نمونې د ګردیو قالبونو په سر تر سره غشأ ګانو باندې مستقیم ډول اینبودلې کېږی.

- Fluorescent Antibody Technique
یوه ایمیونو فلوریسنسی طریقه چې پکې د نسجونو په مقطعو کې د موجود انټي جن ځای فلور وکروم سره نښه شوې هومولوګ انټی باډی پوسیله پېژندل شی.

- Isolation –perfusion Technique

Technography

په (Anthropology & Ethnology) کې تاریخی - لرغونیزی ودې او انکشاف (Historical Development) علمی – هنری مهارتونو څېړنه او مطالعه ده چې محتوی یې د (Geographical Background) خاونده وی .

Technomania

ټکنومنیا ، د روانپوهنې له مخې هغه ډول ناروغه بڼه چې پکې ناروغ د تکنالوژیک وسایلو سره ډېره مینه د لېونتوب تر کچې څرګنده کړی .

Technomaniac

د (Technomania) اړوند صفت .په (Technomania) باندې اخته ناروغه کس .

Technophile

ټکنوفیل ، د تکنالوژیک وسایلو سره ډېره لېوالتیا او مینه لرونکې حالت .

Technophilia

ټکنومنیا ، د روانپوهنې له مخې هغه ډول ناروغه بڼه چې پکې ناروغ د تکنالوژیک وسایلو سره د لېونتوب تر کچې ډېره لېوالتیا او مینه څرګندونکې حالت .

Technophobia

په روانپوهنه کې دا هغه ډول وېره بلل شی چې پکې ناروغان د ټکنالوژی وسایلو څخه ډېره وېره لری ، د (Technofear) په انډول.

Technophobic

د (Technophobia) اړوند صفت .

Technostress

ټکنالوژیک فشار ، هر هغه دماغی او روانی فشار (Mental Stress) چې د ټکنالوژی (Technology) وسایلو ډېر استعمال له کبله د غبرګون په بڼه رامنځ ته کېږی .

Technostructure

په ټولنیزو چارو پوهنه (Sociology) کې هغه خلک /وګړی چې د ټولنې ټکنالوژیک (Technology) څیزونه کنټرول کوی لکه (ماهر مدیران ،د کارو بار اړوند چلوونکی مدیران) او نور. د ټکنالوژی جوړښت اړوند.

Technology

ټکنالوژی ، ټکنالوژیک وسایلو / څیزونو او چارو اړوند څېړنیزه او علمی څانګه ده . او همدا رنګه د (Pedology یا Children) په انډول .

یوې سیمې ته پداسې حالت کې د زیاتو شیموټراپیکو موادو د تجویزولو طریقه چې ناروغ په هغه مادې سره تر مسمومیت څخه خوندی ساتل کېږی سیمه د نورو هڅو څخه بېلېږی او د یوه اکسجناټور پمپ پوسیله ورته درمل زرق کېږی .

- Jerne Plaque Technique

د انټی بادې تولیدوونکی حجرو د موندلو لپاره د هیمولایز طریقه.

- Moh's Technique

تر مایکروسکوپ لاندې د پوستکی د سرطان غوڅول چې لومړی په خپل ځای کې نسج د یو ډول مادې په مرسته تثبیت کېږی (Moh's Chemosurgery) یا د میکروسکوپی تحلیل–انالایز لپاره د تازه نسج څخه یوازې سریال شقونه (څیرني) کارېږی لکه د (Moh's Surgery) په څېر .

- Northern Blot Technique

د (Southern Blot) تخنیک په څېرتخنیک دئ چې پکې توپیر دادئ چې د (RNA) په سر ترسره کېږی.

- Operative Technique

عملیاتی تخنیک ، د جراحی عملیاتونو د ترسره کولو طریقه .

- Southern Blot Technique

د الکټروفورېز په وسیله یوه فلز د (DNA) د ببلوشویو ټوټو لېږد لپاره یوه طریقه .

- Technique Vétérinaire

د ویټرنری طبی طریقه لکه د څارویو اړوند طبی جراحی تخنیک تر سره کولو.

Techniques

تخنیکونه، دا اغېز توصیوی (نه سپارښتنه کېدونکی)کړنه ، لاري یا مېتود ادئ چې معمولاً هغه طریقې دي چې پکې د تر سره کولو لپاره د (Missions, Functions, Tasks) په پام کې کېږی، د (Technique) لپاره ګڼه شمېره ده .

Technicism

1. تخنیکی اصطلاح یا فقره .**2**. د فلسفی له مخې د هغه عقیدې پلوی چې پکې ګڼل شی چې یوازې ټکنالوژی (Technology) د انسانانو د ټولنې اصلاح کوونکې ده.

Techno-

دا یو مختاړې دئ او (Technology، Technophobia، Technique او یا Technocracy) اړوند معنی بشپړوی .

Technofear

په روانپوهنه کې دا هغه ډول وېره بلل شی چې پکې ناروغان د ټکنالوژی وسایلو څخه ډېره وېره لری ، د (Technophobia) په انډول.

Tecophilaeacea

د (Liliaceae) د تصنیف یوه ډله او (Subfamilies) بلله شی.

Tect-

دا هغه مختاړي دئ چې د [چت ، پوښ (Roof)]معنی بشپړوی

Tecta

د (Tectum) لپاره ګټه شمېره ده .

Tectal

د (Tectum)اړوند صفت .

Tecti-

دا هغه مختاړي دئ چې د [چت ، پوښ (Roof)]معنی بشپړوی

Tecto -

دا هغه مختاړي دئ چې د [چت، پوښ ، او ("Rooflike" ، Tectocephalic ، Tectorial ، Tectum)] معنی بشپړوی.

Tecto-

دا هغه مختاړي دئ چې د [د (RNA Tectonics) لابراتواری له مخې د (RNA) جوړښت (Nanoscopic Supramolecules) بڼې وړاندوینې وړ دی او بنسټ لرونکی دی چې د (Hairpinloops) او (Reactive Molecular Terminals) غبرګونیز مالیوکولي پایلو تنظیم باندې ولاړې دی انفرادی بڼې (RNA Molecules) مالیکول یې (Tectornas) بلل شی چې (Noncovalent Loop-Loop Intermediaries) دئ چې د (Kissing-Loop Complexes) پنامه بلل شی] معنی بشپړوی .

Tectorial

چتیز ، پوښیز ، د یوه پوښ یا چت د ماهیت (Rooflike) خاوند اناټومیک جوړښت .

- Tectorial Membrane

هغه ډول غشأ چې د دننه غوږ برخه کې د [وینښتانو حجرو لرونکی دی او سیالي (Impulses) اړوند سمعی عصب (Auditory Nerve)] ته لېږدوی.

Tectorium

د کورتی غشأ (ofCorti Membrane) په انډول .

Tectum

په بدن کې د یوه پوښ یا چت لرونکی (Rooflike Structure)د ماهیت خاوند اناټومیک جوړښت په ځانګړې توګه د (Midbrain) د ظهری برخې (Dorsal Part) اړوند سیمه .

Tectobulbar Tract

هغه الیاف او جوړښتونه چې د (Superior Colliculus) ژورو طبقاتو څخه سرچینه اخلی او د (Tectospinal Tract) سره ملتیا کوی خو بیا ورسته پرته له توقع په منځنۍ سیمه کې په (Pontine and Medullary Tegmentum) برخو کې پایله مومی ورته نوم یې (Tractus Tectobulbaris) دئ.

Tectology

د جوړښتیزې مورفولوژي (Structural Morphology) په انډول.

Tectonic

د سترګو د ببلاببلو جوړښتونو اړوند په ځانګړې توګه د قرنیې (Cornea) پورې . د (Tektonikos) په انډول.

Tectonic Keratoplasty

د سترګو د قرنیې هغه ډول ترانسپلانټ پلاستیک جراحی کړنلاره چې پکې د سترګو د تخریب شوی نسج تعویض ترسره کېږی .

- Tectonic Movement

په جیولوژی پورې اړوند ټکټونیک خوځښتونه چې دځمکې کُرې دسطحې د (Tectonic Plates) سره په تړاو کې وی.

Tecto-olivary Fibers

هغه الیاف او جوړښتونه چې د (Superior Colliculus) ژورو طبقاتو او په مقدم ډول مقابل لورې (Contralateral Medialaccessory Olivary Nucleus) څخه رابرسېره کېږی او سرچینه اخلی چې ورته نوم یې (Fibrae Tectoolivares) دئ.

Tectopontine Fibers

هغه الیاف او جوړښتونه چې د (Tectum of the Mesencephalon) څخه سرچینه اخلی او په هماغه لورې (Ipsilateral Nuclei of the Basilar Pons) او په (Reticulotegmental Nucleus) برخو کې پایله مومی ورته نوم یې (Fibrae Tectopontinae) دئ.

Tectopontine Tract

هغه الیاف او جوړښتونه بنډل / ګډې چې د (Superior Colliculus) څخه سرچینه اخلی او په هماغه لورې ته د ذنبی –افقی بڼه (Caudoventrally) د انسی ته د [(Thelateral Lemniscus) برخه جوړ شوی الیاف یې جنبی زون (Lateral Zone) لورې ته د (Mesencephalic Tegmentum) او په

(**Tectum**) څخه تر نخاعی طناب (**Spinal Cord**) پورې تداوم لری .

- Tectospinal Tract

هغه ډول میالینی رشتې (**Myelinated Fibers**) څخه جوړه لاره (**Tract**) ده چې نخاعی طناب ته د منځنې ماغزو د تکتیوم (**Tectum**) سیمې څخه امتداد مومی چې دغه لاره عصبی سیالې (**Nerve Impulses**) له (**Mesencephalon**) څخه نخاعی طناب ته استوی او ورته نومونه یې (**Tractus Tectospinalis , Held Bundle, Loewenthal Bundle, Loewenthal Tract, Marchi Tract,Predorsal Bundle**) دی .

Tectrices

وزر بڼکې چې مرغی پوښوی ، د مرغان وزر او لکی بڼکې چې بدن یې پوښوی.

Tectrix

د(**Tectrices**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Tectum

د (چت ، بام ، پوښوونکی) ته ورته جوړښت ، هغه جوړښت چې د دماغ په خلف (**Tegmentum Mesencephali**) برخه کې شتون لری او ورته (**Tectum of Mesencephalon**) او (**Tectum of Midbrain**) ویل کېږی .

- Tectum of Mesencephali

د مېزنسفالون خلفی برخې (**Midbrain**) اړوند چت .

- Tectum of Mesencephalon

د (**Tectum of Midbrain**) په انډول .

- Tectum of Midbrain

د (**Tectum of Mesencephali**) په انډول .

TED

د (**Thrombo-embolic Deterrent Stocking**) لپاره لنډه ننبه ده .

Teenager

د (ځوانی **Juvenile**، پېغلتوب ، کهولت **Adolescent** ، کوچنیوالې**Minor**) عمر لرونکی انسانان .

Teeth

غاښونه ، د غاښ (**Tooth**) ګڼه شمېره ده .

- Teeth Abscess

دغاښونو دانې (خراجونه) ، د (**Alveolar Abscess, Malar Abscess**) په انډول.

- Accessional Teeth

دایمی مولار (تلپاتې ژرندې **Permanent Molars**) غاښونه چې له همدې امله د (**Deciduous Predecessors**) په جنبی برخه د (**Lateral Part**) د حدبی بطین (**Ventral Part Of The Pons**)] برخو کې پایله مومی ورته نوم یې (**Tractus Tectopontinus** او یا هم د **Tract Of Münzer And Wiener**) دئ.

Tectoreticular Fibers

هغه الیاف او جوړښتونه چې د (**Superior Colliculus**) څخه سرچینه اخلی او په دواړه لوړې ته د شبکی جوړښت (**Reticular Formation**) جوړوی او په مقدم ډول (**Themidbrain**) ته جوتېږی او ورښتوزی ورته نوم یې (**Fibrae Tectoreticulares**) دئ.

Tectorial

چتیز ، پوښیز ، د (**Roof or Covering**) ماهیت درلودونکی اناټومیک جوړښت اړوند صفت .

- Tectorial Membrane

چتیزه غشأ / پرده ، هغه نری او جیلی (**Thin, Jelly-like**) ده ورته استطالی غشأ چې د دهلیزی څنډې (**Vestibular Lip**) چې د (**Spiral Lamina**) هډوکی پورې اړوند ده او د دننه غوږ د حلزونی جوړښت (**Spiral Organ**) لپاسه وراووښتې ده د کورتی (**Corti**) جسم اړوند ده .

- Tectorial Membrane of (Median Atlantoaxial Joint)

د (**Median Atlantoaxial Joint**) اړوند چتیزه غشأ / پرده ، دا هغه برخه ده چې پورته قدام لوړې له خلفی طولانی لېګامنټ (**Posterior Longitudinal Ligament**) څخه تداوم لری چې د (**Upper Surface Of The Basilar Portion Of The Occipital Bone**) او درېیمې رقبی فقرې (**Third Cervical Vertebrae**) سره ښتې بڼه لری او د (**Median Atlantoaxial Joint**) چت (**Roof**) برخه جوړوی ورته نومونه یې [**Membrana Tectoria (Articulationis Atlantoaxialis Medianae) , Apparatus Ligamentosus Weitbrechti, Posterior Occipitoaxial Ligament**] دی .

- Tectorial Membrane of Cochlear Duct

دا جلاتیینی غشأ ده چې د دننه غوږ حلزونی غړی [**Spiral Organ (Corti)**] لپاسه پرته ده ورته نومونه یې [**Membrana Tectoria Ductus Cochlearis , Corti Membrane, Tectorium**] دی .

Tectorium

د (**Corti's Membrane**) په انډول.

Tectospinal

دا هغه برخه ده چې د منځنی دماغ (**Midbrain**) د

-Congenital Teeth Enamel Deficiency

غاښونو د عاج نقیصه (**Inherited Enamel Defect**) ، د غاښونود اینامیل برخې په مورزادی یا ارثی ډول نشتوالي چې د غاښونو راوتولو (شنه کېدو **Teeth Eruption Time**) پرمهال منځ ته راځی.

-Teeth Excessive Wear

د غاښونو ډېر پوښښ ، دا حالت په هغه کسانو / حیواناتو کې چې په لوړه کچه فلورین (**High Fluorine**) اخلی او یا هم په کمه کچه کلسیوم عنصر (**Calcium**) ترلاسه کوی منځ ته راځی.

-Geminous Teeth

هغه ډول غاښونه چې په غبرګ یا مضاعف ډول (**Gemination**) راشنه کېږی.

-Teeth Grinding

د غاښونو سولول / له غاښونو څخه د اضافی برخو (**Grinding**) ترڅو اصلاح او د (**Aging Ability**) ورتیا پیدا کړی په (**Bruxism**) کې یې وګوری.

-Heterodont Teeth

د مختلفو ډولو غاښونو (**Heterodont**) بنې شتون.

-Homodont Teeth

د یو ډول او ورته غاښونو (**Homodont**) بنې شتون.

-Hypermobile Teeth

د ډېر خوځېدونکی بنې غاښونو منځ ته راتګ چې په غېر نورماله بڼه له خپل ځایه د هډوکو په اسناخو (**Alveolar Bone**) کې ببځایه کېږی دا حالت په (**Inflammation, Metabolic Abnormalities, or Traumatic Injury**) کې منځ ته راځي.

-Hypsodont Teeth

دا په [آسونو (**Horses**) او ګڼ شمېر څاروبو (**Ruminants**)] کې یو ډول غاښونو راشنه کېدل دی چې د تاج (**Crown**) برخه یې جګه ژوره [**High (Deep)**] او د جذر (**Root**) برخه یې لنډه ده.

-Impacted Teeth

په ژامنه کې هغه ډول ننښتی اوتثبیت شوی (**Impacted**) غاښونه چې نشی کولای بڼه راوخېژی او په ترلو (**Occlusion**) وخت کې خپل نورمال موقعیت ونیسی.

-Incisor Teeth

د خولې ژامنو د ثنایا (**Incisor**) مخامخ او قدامی غاښونه چې ځلور دانې تېره بڼه لرونکی غاښونه دی او پرې کولو (قطع کولو) دنده پرغاړه لری.

-Inherited Molar Teeth Displacement

په مورزادی او ارثی ډول سره د غاښونو د مولار (**Molar**) ژرندې برخه کې ببځایه توب.

-Lophodont Teeth

غاښونو لیندیو (**Dental Arch**) کې نلری.

-Anelodont Teeth

هغه غاښونه چې لنډ مهالي د ودې دوران لری.

-Anterior Teeth

قدامی غاښونه چې معمولاً د (**Incisors and Canines**) غاښونه پکې ورګډ ېږی.

-Teeth Attrition

د (**Dental Attrition**) په انډول.

-Baby Teeth

د ماشومتوب غاښونه. د (**Deciduous Teeth**) په انډول.

-Brachyodont Teeth

یو ډول د غاښونو راوتلو بڼه چې په انسانانو او سرکوزی کې لیدل شی چې پکې غاښ ونه [لنډ تاج (**Short Crowns**)، ښه وده مونډلې جړې (**Well Developed Roots**) او نری کانال (**Narrowroot Canal**)] لری، د (**Hypsodont, Bunodont**) په انډول.

-Teeth Brushing

د غاښونو برش / برس یا مسواک.

-Bunodont Teeth

د (**Bunodon**) په انډول.

-Canine Teeth

کانین غاښونه ، دا اوږده راوتلی جوت غاښونه دی او په دواړو ژامنو (پورته اوښکته) کې د غومبری لوري ته مخامخ پراته دی.

-Carnassial Teeth

د (**Carnassial Tooth**) په انډول.

-Teeth Cavity

د غاښونو جوف ، د (**Dental Cavity, Pulp Cavity**) په انډول.

-Teeth Cleaning

د غاښونو پاکول او سپینول.

-Deciduous Teeth

دا لومړنی لنډ مهالی (موقت غاښونه چې په ماشومانو کې منځ ته راځی او له ځوانۍ دمخه لویږی او پرځای یې نوی تلپاتې (دایمی) غاښونه وده مومی. ورته نومونه یې (**Milk Teeth,Temporary Teeth, Baby Teeth** او **Primery Teeth**) دي.

-Diphyodont Teeth

د (**Diphyodont**) په انډول.

-Displaced Molar Teeth

د د ژامنې د ژرندې (مولار) برخې غاښونو ببځایه راشنه کېدنه چې په ارثی او موزادی ډول منځ ته راځی.

-Ectopic Teeth

د غاښون ببځایه توب چې د (**Dental Cyst**) په برخه کې شرحه راغلې ده.

(Acute then Chronic Gingivitis) منځ ته راځی او بیا وروسته تر هغه (Periodontitis) او په په پایله کې غاښونه غورځېږی او توئېږی چې لامل یې معلوم ندئ.

- Premolar Teeth

پریمولار غاښونه ،دا غاښونه د مولار (Molars) او داړونکو (Canines) غاښونو ترمنځ پراته دی او د غذائی موادو د اوړه او ټوټه کولو لپاره تري کار اخیستل شی په دواړو ښکته او پورته ژامنو دواړه خواوو کې شتون لری .

- Teeth Rasp

د (Tooth Rasp) په انډول.

- Retained Teeth

د ماشومتوب مؤقت او شیدو اړوند د (Deciduous Premolars or Incisors) غاښونه چې ښائی ترهغه پورې چې دایمی غاښونه راشنه شی پاتې شی او ښائی د دیسیدووأیی د تاج برخه یې وتلې او زاویه لرونکې توګه پاتې شی چې د ژوولو لپاره به ستونزه رامنځ ته کړی.

- Rudimentary Teeth

ګردی غاښونه لکه د لېوه په ژامنه کې .

- Secodont Teeth

دایمی (ثانوی) غاښونه ، تلپاتې غاښونه .

- Sectorial Teeth

سکتیوری غاښونه، د غوڅوونکی یا قطع کولو لپاره غاښونه. د (Cutting Tooth یا Carnassial Tooth) په انډول .

- Selenodont Teeth

هغه ډول غاښونه چې د مېده کولو سطحه یې هلالی (Crescents) بڼه ولری لکه دشخوند وهونکو حیواناتو (مېږو ، پسونو ، وزو ، اوښانو ،غوایانو ..... او نورو) غومبری برخې اړوند غاښونه .

- Short Teeth

لنډوغاښونه ، د ژامنې برخې غاښونونه چې لنډه بڼه لری شدیداً پوښلی دی او له (تخریب Abrasion ګربدنې Erosion او ماتېدنې) څخه په امن دی او د ژوولو / شوخوند وهلو لپاره کارول شی.

- Splayed Anterior Teeth

قدامی د ثنایا برخې غاښونه چې بهر لورې ته میلان (slope outward) لری او د ژبې د فشار له کبله داسې بڼه لری.

- Stained Teeth

رنګ شوی غاښونه ، دا د سور –نصواری (Red-brown) رنګ لرونکی غاښونه دی چې په حیواناتو کې د ارثی (Inherited Porphyrinuria) سره مل وی چې د تیتراسکلینونو د استعمال په نتیجه کې منځ ته راځی .

- Supernumerary Teeth

هغه ډول غاښونو چې د نورمال ګڼې او اصلی شمېر په پرتله د ژامنو د غومبری برخې اړوند چې د ترونکې سطحې ځنډې (Ridged Occlusal Surfaces) لرونکی غاښونه دی چې د ژرندې او میده کولو لپاره پکار وړل کېږی .

- Teeth Maleruption

په مورزادي / ارثی ډول سره د غاښونو نقیصه (Defective Eruption) بڼه لرونکې دی چې پکې مؤخر (Delayed Eruption) راوتنه هم ورګډېږی چې معمولاً ببځایه رابښتنه کوی.

- Milk Teeth

د شیدو غاښونه ، د (Deciduous Teeth) په انډول.

- Molar Teeth

د ژامنې د ژرندې برخې (Molar) غاښونوه چې تلپاتې او دایمی بڼه لری او د (Premolars) پسې دننه خلف ته موقعیت لری دا په وصفی توګه غټه بڼه لری او د میده کولو (ژرندې / اوړه کولو) لپاره کارول شی او ځنډې سطحې یې سره وروستلې کېږی .

- Monophyodont Teeth

په (Monophyodont) برخه کې یې وګوری .

- Milk Teeth

دا هغه غاښونه دی چې لومړې ځل راخېږ ی او د شیدو او ماشومتوب غاښونو پنامه هم یادېږی ،د (Primary Teeth) په انډول .

- Needle Teeth

ستنیز غاښونه چې ډېر تېره او کوچنی او څوکه لرونکی دی چې د ځیرلو لپاره ورڅخه کار اخیستل شی او معمولاً د داړونکو غاښونو (Canine Teeth) پنامه هم بلل شی.

- Opposing Teeth

په ژامنو کې سره یو تر بله مخامخ دی او یو تره بله سره تړل کېږی هم .

- Permanent Teeth

دا یمی غاښونه ، تلپاتې کېدونکی غاښونه ، ثانوی غاښونه . د (Permanent Dentition) په انډول .

- Teeth Pigmentation

صباغی غاښونه ، رنګ شوی غاښونه چې د (Tetracycline Stain) خوراک له کبله رنګ اخلی .

- Pink Teeth

ګلابی غاښونه چې دا ډول غاښونه د پورفایرین (Porphyrin) له کبله رنګ اخلی او د (Dentine and Enamel) نشتوالی له کبله چې ولادی نقیصه ده منځ ته راځی

- Premature Teeth Loss

له وخت څخه دمخه د غاښونو غورځېدل، دا په نیوزیلند هېواد کې د پسونو او مېږو اړوند دناروغی ستونزه ده چې پکې په حاد او بیا مزمن ډول سره د اوریو التهاب (

مطلق توب ثابت کړلای شی لکه د الکهولو شته والی څخه په مطلق ډول معدومیت اطمینان .

Teflon

دا د [یوه ترکیبی پولیمېر (Synthetic Polymer) او موم شوی (Waxy) راډیواوپک مواد (Opaque Material) او (Polytetrafluoroethylene) پنامه مرکب] لپاره سوداګریز نوم دئ چې د حنجرې بندونو برخې ته زرق کېږی تر څو خوښښت زیات او آواز خپ والې روغ کړی

Teg

هغه ډول پسه ، ګډ یا مېږه چې دویم کال یې وی . د (Tegg) په انډول.

Tegg

د (Tegg) په انډول.

Tegmen

چتیز ، چت جوړوونکي ، د یوه غړی پوښووونکي لکه د [دننه غوږ د هډوکي (Thin Plate) نري پلېټ یا د حشراتو پوستکي یا د تخم د دانو اړوند پوښ].

- Tegmen Cruris

د یوه کروریس (Cruris) پوښوونکي برخه .

- Tegmen Mastoideum

د یوه ماستوئید (Mastoideum) پوښووونکي برخه .

- Tegmen Tympani

د نازکه هډوکیزه طبقه چې پوښوونکي برخه سیمه ده چې طبل غشأ (Tympani) د قحفی جوف څخه بېلوی .

Tegmina

د (Tegmen) لپاره ګڼه شمېره ده .

Tegment

د یوه جوړښت / غړی پوښلې برخه. د (Tegument) په انډول.

Tegmental

د (Tegment) اړوند صفت .

Tegretol

د (Carbamazipin) لپاره سوداګرېز نوم دئ چې ترانکولایزر درمل دی.

Tegumental

د (Tegument) اړوند صفت دئ.

Tegumentary

پوښیز ، چتیز ، طبیعی بهرنې پوښ .

- Tegumentary Leishmaniasis

ډېر راوتلې وی او دوه ګونې ثنایایی قطار جوړوی او د (Polyodontia, Heterotopicpolydontia) نومونه هم لری .

- Temporary Teeth

مؤقت غاښونه ، د ماشمتوب دورې غاښونه ، د (Deciduous Teeth) په انډول.

- Tilted Teeth

هغه ډول غاښونه چې د داسې زاویې لرونکی وی چې د مرکزی تماس څخه لرې وی او د خولې ترلو پرمهال یو د بل مقابل سره مرکزی تماس نلری. د غاښونو کېږدل یا کېږول او کوږ والې د غاښونو د قوس د ترلو پرمهال .

- Wisdom Teeth Cordales

عقلی غاښونه ، دا هغه ډول غاښونه دی چې د عمر په وروستی یا درېیمه لسیزه کې وروستنی غاښونه دی چې د ژرندې برخې په پایله کې راوزی که چېرې د قوسونو څخه په بهر لیکه کې منځ ته راشی د خوراک پرمهال ستونزې منځ ته راوړی او د ببرته راکښلو ته اړتیا لری .

- Wolf Teeth

د لېوه غاښونه ، دا [کوچنی (Small) ګردی (Rudimentary)] غاښونه دی او د ژامنې د غومبری برخې سره تصادف کوی چې د (First Premolar) غاښونو هم بلل شی معمولاً په پورتنۍ ژامنه کې پراته دی او معمولاً د مقدم ځوانښت په مرحله ببرته لوېږی . د (Wolf Tooth) په انډول.

- Teeth Whitening

د غاښونو سپینولو کړنلاره تر سره کول .

Teether

غاښونه راشنه کوونکي ، ببره کش ، هغه وسیله چې د غاښونو راتلو اړوند په ماشومانو کې ترې کار اخیستل شی او ماشومان پرې خوله لګوی .

Teething

د غاښونو راوتل ، غاښونه راشنه کېدل ، هغه مرحله چې پکې ماشومان غاښونه راشنه کوی.

- Teething Ring

غاښونه راشنه کوونکي ، ببره کش ، هغه کړیزه وسیله چې د غاښونو راتلو اړوند په ماشومانو کې ترې کار اخیستل شی او ماشومان پرې خوله لګوی .

- Teething Troubles

د غاښونو راشنه کېدو اړوند ستونزې .

Teethridge

د اوریو هغه څنډه چې د پورتنیو قدامی غاښونو قدام ته پرته ده.

Teetotal

مطلق (Absolute، Total) ، د هغه تمرین اړوند چې کاملاً

پړسوب .

- Telangiectasia and Depigmentation

د رګونو پړسوب او هماغه برخې پوستګی غیر صباغی کېدنه.

- Telangiectasia-Associated Hepatic Fibrosis

هغه ډول ټلانجیاکټازی چې د کبدی فیبروزیس سره مل وی.

- Hereditary Hemorrhagic Telangiectasia

ارثی بڼه د وینه کېدونکی تلانجیاکټازی سره مل حالت چې پکې یو لړ کېپلری ګانې توسع کوی او وینه بهېدنې سره لېواله وی د (**Osler-Rendu-Weber disease**) پنامه هم ګڼل شی.

- Lymphathic Telangiectasia

د لمفاوی رګونو توسع د (**Lymphangiectasis**) په اندول.

- Telangiectasia Macularis Eruptiva Perstans

هغه ډول تلانجیاکټازی چې پکې ماکولار اندفاعات شتون لری.

- Telangiectasia Verrucosa

هغه ډول د پوستکی ناروغی چې پکې تلانجیاکټازی یا زخو ته ورته اندفاعات د پوستکی اپیدرمال پېړوالی سره مل وی.د (**Angiokeratoma**) په اندول.

Telangiectasis

د تلانجیاکټازی (**Telangiectasia**) په اندول ،هغه حالت چې پکې نری رګونه یا لمفاوی قناتونه توسع او پړسوب کوی په ځانګړې توګه د مخ او ورنونو برخو کې دایمی او تلپاتې بڼه سرې رتې او خاپې چې د کېپلری -رګیز پړسوب له کبله وی منځ ته راځي .

- Spider Telangiectasis

غنې بڼه لرونکی تلانجیاکټازیس .

Telangiectasy

د تلانجیاکټازی (**Telangiectasia**) په اندول.

telangiectatic

د تلانجیاکټازی (**Telangiectasia**) اړوند صفت دئ .

- Telangiectatic Angioma

د تلانجیاکټازی (**Telangiectasia**) اړوند انجیوما ټومور .

- Telangiectatic Angiomatosis

هغه حالت چې پکې ګڼ شمېر د تلانجیاکټازی (**Telangiectasia**) اړوند تومورونه منځ ته راځی .

- Telangiectatic Cancer

د تلانجیاکټازی (**Telangiectasia**) اړوند خبیثو سرطانی کانسرونو حالت .

- Telangiectatic Epulis

د تلانجیاکټازی (**Telangiectasia**) اړوند ایپولیس (**Epulis**) پوښیز لشمانیا .د مخاطی غشأ او جلدی دواړو اړوند لشمانیا. د (**American Leishmaniasis** ، **Mucocutaneous Leishmaniasis**، **New World leishmaniasis**،**Nasopharyngeal Leishmaniasis**) په اندول.

Tegmentum

پوښښ ، د هر مغزی ثویق (پېډنکل) خلفی برخه .

- Tegumentum of Mesencephalon

د مېزانسفالی پوښښ ،د مېزانسفالی خلفی برخه چې د مغزی پېډنکلونو د خلفی برخو له امتداد څخه منځ ته راځي .

Teicopsia

د سترګو په مخ کې د یوې رڼې داسې منظرې احساس چې د یوه زیګزاک ډوله دېوالی زېرمه ولری چې نیم سرخوړی (نیم سری) قدمه ګڼله شی.

Teicoplanin

یو ګلایکو پروټینی انتبی بیوټیک چې د (**Actinoplanes Teichamyceticus**) باکټری پوسیله تولیدېږی چې د پنسلین په وړاندې د مقاومو ګرام مثبتو باکټریائی انتاناتو په درملنه کې پکار ېږی.

Tel -

دا یو مختاړې دئ او د (توسع او **Tele-**) ته ورته معنی بشپړوی.

Tela

پرده ائیز جوړښتونه ، بدن ته د هغه برخه تطبیق شوې نسج چې په یوه نری لکه د (پردې ،پانې، تنکی، لطیف) په څېر ورکړل شوې وی .

- Tela Conjectiva

د سترګو د ملتحې نسجی پرده .

- Tela Elastica

د الاستیکی نسج پرده .

- Tela Subcutanea

د تحت الجلدی نسج طبقه .

Telae

د (**Tela**) لپاره ګڼه شمېره ده .

Telalgia

ارجاعی درد ، رجعت کېدونکې درد .

Telangiectasia

تلانجیاکټازی،هغه حالت چې پکې نری رګونه یا لمفاوی قناتونه توسع او پړسوب کوی په ځانګړې توګه د مخ او ورنونو برخو کې دایمی او تلپاتې بڼه رګیز

چې وی.

Teldrin

د (**Chlorpheneramine Malate**) لپاره سوداګریز نوم دئ چې د حساسیت ضد درمل دی.

Tele-

دا هغه مختاړې دئ چې د (پای او له لېرې واټن څخه ترسره کولو، تاپی ،مخابراتی وسایلو، مخابرې) معنی بشپړوی.

Telecanthus

د سترګو د لېمو د منځنیو کانتوسونو ترمنځ په غبر نورمال ډول د فاصلې زیادښت.

Telecardiography

هغه ماشین چې د زړه د ضربانونو غږ له ناروغ څخه په لېرې واټن کې د اورېدو وړګرځوی.

Telecardiophone

له ناروغ څخه په لېرې واټن کې د سیالو (ایمپالسونو) د لېږد له لارې د الکتروګرام ثبت.

Teleceptor

د (سترګو ، غوږونو او پوزې) په څېر دیوه حسی عصب نهایت چې د لېرې محرکونو په وړاندې حساس وی.

Telediagnosis

له ناروغ څخه په لېرې واټن کې د یوې ناروغۍ د ماهیت ټاکل او پېژندل چې دا چاره د یوې لېرې واټن څخه د څارونکی ماشین (**Telemonitoring**) یا دټرلی سرکیټ د معلوماتو له مخې تر سره کېږی.

Teleфluroscopy

د څېړنې لپاره یوه لېرې ځای ته دفلوروسکوپیکو انځورونو تلویزیونی –ویدیوئی استونه چې د سکرین پرمخ دا انځورونه کنټل شی.

Telekinesis

د یوه شی د خوځولو پرته لدې چې له هغه سره تماس ټینګ شی د دا ډول کار

Telekinetic

د (**Telekinesis**) اړوند صفت.

Telemedicine

د لېرې څخه د ټکنالوژی وسایلو (له مرکز سره د ټرلی سیستم سرکېټ د تلویزیون له لارې) په مرسته د طبی سلاګانو (مشورو) او درملنې طبابت تر سره کول.

Telemetry

حالت.

- Telangiectatic Fibroma

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند فیبروما ټومور.

- Telangiectatic Focal Nodular Hyperplasia

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند محراقی نوډولی هایپرپلازیا حالت.

- Telangiectatic Glioma

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند ګلیوما ټومور.

- Telangiectatic Granuloma

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند ګرانولوما ټومور.

- Telangiectatic Lipoma

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند شحمی ټومور (لایپوما) شتون.

- Telangiectatic Myxoma

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند میګزوما ټومور شتون

- Telangiectatic Nevus

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند د خدائی خال (نیووس) شتون.

- Telangiectatic Osteogenic Sarcoma

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوندهډوکیز سارکوما ټومور.

- Telangiectatic Sarcoma

د تلانجیاکتازی (**Telangiectasia**) اړوند سارکوما ټومور.

Telangiectodes

د تلانجیاکتازی ته ورته حالت هغه ټومور چې له رګونو څخه ډک (**Highly Vascular Tumors**) وی.

Telangiitis

دا هغه طبی اصطلاح ده چې پخوا د کپیلر رګونو د التهاب (**Capillaritis**) لپاره پکار وړله کېدله.

Telangioma

هغه رګیز ټومور (**Angioma**) چې د کپیلر رګونو (**Capillaries**) یا دارټریولونو پایلې (**Terminal Arterioles**) برخې د اتساع له کبله منځ ته راځی.

Telangion

د کپیلر رګونو (**Capillary Vessel**) څخه یو رګ ، یو د ترمینال رګونو (**Terminal Arterioles**) څخه یو تار رګ . د (**Trichangion**) په انډول.

Telangiosis

د کپیلر رګونو (**Capillary Vessel**) هر راز ناروغی

پواسطه د بل چا سره پرته له (خبرو اترو ، لیکنې او نورونښو / اشارو) پذرېعه ترسره شی.

Teleradiography

هغه ډول رادیوګرافی اخیستل چې له ناروغ څخه په لېرې مسافه د (**X-rays source**) منبع واقع شی.

Teleradiology

هغه علمی طبی څانګه چې د لېری مسافې څخه د [تصویرونو او سکنونو (**Transmitting Scans**)] لېږد ترسره کېږی چې د جراح پذرېعه یا نورو طبی ډاکټرانو پواسطه په یو وخت کې څېړل شی او تر کتنې لاندې راځی.

Teleradiotherapy

دا د رادیوتراپی (**Radiotherapy**) یو ډول دئ چې ناروغ پکې د اصلی منبع له لېری فاصلې څخه تر وړانګو درملنې لاندې نیول شی.

Telereceptor

د (**Teleceptor**) په انډول.

Teletherapy

د (**Teleradiotherapy**) په انډول.

Telluric

د (**Tellurium**) عنصر په انډول. له ځمکې څخه سرچینه اخیستونکی یا په هغې پورې اړوند صفت.

Tellurium

دا یو کېمیاوی عنصر دئ چې اټومې شمېره یې (**52**) او کېمیاوی نښه یې (**Te**) ده.

Telo -

دا یو مختاړې دئ او د (لېری شی او پایلې) معنی په جمله کې بشپړوی.

Telodendrone

د عصبی حجرې د یوه اکسون د پایلې د نازکو څانګو څخه هره یوه.

Telogen

د ویښتانو د ودې د سیکل ساکنه یا خاموشه مرحله.

Telognosis

دهغه رادیوګرافیکو تصویرونو د سپړنې او شننې له لارې پېژندنه چې د ټېلفون یا رادیوئی اړیکې له لارې استول کېږی

Telolecithal

د داسې ژیړو چې د یوه قطب ته راټول او هلته تخته شوې له لېرې څخه د یوه شی اندازه کول چې د رادیوئی سیګنالونو یا نورو لېږدېدونکو وسایلو او اطلاعاتو له مخې ترسره کېږی.

Telencephalic

د (**Telencephalontele**) اړوند صفت دئ.

Telencephalon

د دوه هغه ویزیکولونو قدامی برخه چې د جنینی بهیر د جنین د (**Forebrain**) د ودې او تکامل څخه منځ ته راځي. د (**Cerebrum**) په انډول.

Teleneurite

د یوه عصبی حجرې د اکسون وروستي پراخوالی برخه یا د هغه وروستی استطاله.

Teleneuron

د عصبی حجرې پایله ، عصبی پایله ، د عصبی حجرې لېرې پرته برخه.

Telenzepin

هغه موسکارینی ضد درمل چې د معدې په هایپر اسیډیتی او پیپټیک قرحاتو کې د افرازاتو نهی او ځنډولو په موخه پکار وړل شی.

Telelogy

د څرګندې موخې لرونکې بشپړتیا یا وروستی لامل فلسفه.

Teleomitosis

بشپړ شوې مایټوزیس ، کامل حجروی ویش.

Teleopsia

دا یو بصری اختلال دئ چې په هغه کې شیان د حقیقت پرخلاف لېرې تر سترګو کېږی.

Teleorganic

د ژوندانه لپاره اړین.

Telepaque

د (**Isopanic Acid**) د جوړ شوې مستحضراتو سوداګریز نوم دئ.

Telepathology

د یو لړ وسائلو لکه (ویدیوئی لروینونو ، مونیټورونو او لېرې څخه د کنټرولېدونکو مایکروسکوپونو) پوسیله د پتولوژیکو څېړنو تر سره کول.

Telepathy

هغه ډوله اړیکه منځ ته راتګ چې نېغ په نېغه د یو چا

بڼه ولري.

Telomere

د کروموزوم یوه انتهائی برخه چې ځانګړې خواص لري چې یو له هغه څخه یئ قطبی ځانګړنه ده چې د کروموزوم تر ماتېدنې وروسته وروسته ورسره د نورو ټوټو د بیا پیوستون مخه ډب کوی.

Telophase

د مایتوز (**Mitosis**) او مایوز (**Meiosis**) د دوه ګونې وېش وروستی مرحله / فاز له انافېز (**Anaphase**) څخه وروسته وی او کروموزومونه پکې حجروی قطب ته ځی اود سایتوپلازم وېشل کېږی، په نباتی حجروکې دامرحله د حجروی دېوال د جوړېدو سره مل وی.

Temazepam

ټیمازیپم ، دا یو ترانکولایزر چې خوب راوړونکی درمل (**Hypnotic Drug**) دی او د (**Insomnia**) لنډ مهالې درملنه کې پکار ږی.

Temperature

تودوخه ، د تودوخې درجه ، په ځانګړې معیارونو سره لکه د [فارنهایټ **Fahrenheit** نښه یې (**°F**) او سانتی ګریډ **Celsius** نښه یې (**°C**)] پذرېعه د بدن تودوخې درجه ټاکله شی چې منځنی نورماله درجه ئې [(**98° Fahrenheit**) او د (**37° Celsius**)] تثبیت کېږی چې ببلابېلو شرایطو کې لږ څه توپیر کوی.

- Absolute Temperature

مطلق درجه د تودوخې ، هغه ډول د تودوخې درجه چې د مطلق صفر (**-459.67 °F, -273.15 °C**) پیل او مطلق مقیاس /اندازې په بنسټ شمېرله کېږی نښه یې (**T**) ده.

- Temperature Chart

هغه ډول چارټ یا جدول چې پکې د یو کس یا ناروغ د تودوخې درجې توپېر په یوه وخت کې ثبتېږی.

- Critical Temperature

د ناتار / بحرانی مرحلې تودوخه ، پداسې کچه ټیټه تودوخه چې هلته ګاز په فشار سره په مایع اړولای شو .

- Environmental Temperature

د چاپېریال اړوند تودوخې درجه .

- Temperature Graph

هغهډول ګراف انځور چې د یوه کس یا ناروغ د تودوخې درجې توپېر په یوه وخت کې د تودوخې د لوړېدو او ټیټېدو د ثبتېدلو په اثر منځ ته راځی.

- High Grade Temperature

د بدن لوړه دجه تودوخه .

- Low Grade Temperature

د بدن ټیټه دجه تودوخه .

- Normal Temperature

د بدن نورماله کچه تودوخه چې (**37 °C** یا **98.6 °F**) د خولې یا تخرګ برخه کې تثبیت شی.

- Patient's Temperature

د ناروغ د تودوخې درجه .

Temper Tantrum

د (**Tantrum Template**) په اندول

Template

①چینیاسه ، ②په جنیټیک کې د [(**DNA**) ، **RNA** (**m RNA**)] هغه ډول رشته چې د نوی (**DNA**) یا (**RNA**) د رشتې بنسټیزه لړی، ټاکی ،③ د غاښونو په طب کې هغه ښویه یا منځنی پانه چې په مصنوعی غاښونو کې د یوه غاښ د اینبودلو سره مرستندویه په توګه کارېږی .

Temple

رنځی ، د زیګوماټیک لیندی (قوس) لپاسه د سر د کوپړی په هر لوري کې جانبی / اړخیز سیمه چې د غوږ او سترګې ترمنځ په پورتنی برخه کې پرته ده ، صدغی سیمه.

Tempora

ټپک ، رنځی ، صدغی .

Temporal

د (**Tempora** یا **Temple**) اړوند صفت دئ . مهالیز ، د وخت ټاکونکې ، لنډ مهاله ، مؤقتی . دټپک، دشقیقې اړوند ، دزمانې مؤقتي.

- Temporal Arteritis

دا هغه ډول سرخوړې دئ چې د هغه سیمې اړوند التهاب دئ چې د صدغی شریان (**Temporal Artery**) لپاسه پرته ده او په زړو خلکو کې منځ ته راځي.

- Temporal Bone

د (ټپک ، رنځی ، صدغی) هډوکې چې د قحفی هډوکو څخه یو دئ په دواړو اړخونو د کوپړی کې واقع دئ او د برخوخاوند دئ د یو یې د پتروزا برخه (**Petrous Part**) چې د کوپړی قاعده جوړوی او د دننه او منځنی غوږ برخې کې ونډه اخلی او بله برخه یې ښکته شاتنی برخه (**Lower Back Part**) چې د مستوئید استطاله چې د غوږ او د زنې د زیګوماټیک لیندی (**Zygomatic Arch**) په منځ کې واقع ده .

- Temporal Fossa

صدغی حفره ، دا ژوره اوننوتې د صدغی هډوکی اړوند ده

چې د (Zygomatic Arch) لپاسه پرته ده .

- Temporal Lobe

صدغی فص ، د ماغزو د نیمکړی اړوند صدغی برخې لوب چې د غوږونو پورتنی سیمه کې پروت دئ .

- Temporal Lobe Epilepsy

هغه ډول صرعوی (مېرګی) اختلاجی ناروغی چې د صدغی لوب سره تړاو لری او پکې (د حافظې له منځه تګ **Impaired Memory**، برسام **Hallucinations** او خودکار حالت **Automatism**) منځ ته راځی .

Temporalis

د صدغی (**Tempora** او **Temporal**) اناټومیک جوړښتونو اړوند صفت .

- Temporalis Muscle

د کوپړی د صدغی برخې اواره عضلات چې د صدغی هډوکی (**Temporal Bone**) څخه ښکته لورې د برخی (**Coronoid Process**) ته وردرومی چې د ژامنې پورته لورې ته د حرکت حالت تأمینوی .

Temporary

مؤقت ، لنډمهالې ، هغه چې تلپاتې نه وی ، لنډمودیز ، مؤقتی، تېرېدونکی .

- Temporary Bandage

په ترضیضونو او جروحاتو کې مؤقت ډول بنداژ تړل .

- Temporary Colostomy

مؤقت ډول د کولونونو د راویستلو / کولوستومی جراحی کړنلاره تر سره کول.

- Temporary Filling

مؤقت ډول ډکون ، د غاښونو په طب کې د غاښونو لنډمهالې ډکول چې بیا وروسته دایمی ډکون تر سره کېږی.

- Temporary iliostomy

مؤقت ډول د ایلیو م کولمې د راویستلو / ایلیوستومی جراحی کړنلاره تر سره کول.

- Temporary Stomy

مؤقت ډول د ستومی (کولوستومی یا د ایلیوستومی) جراحی کړنلاره تر سره کول.

Temporize

جوښت کول لکه (د انساجو سره ، دمحیط سره)، توافق کول،

چلاو کول، ګوزاره کول.

Temporo-

دا یو مختاړې دئ او د (صدغی ، **Temporal** ، **Temple**) اړوند معنی بشپړوی.

Temporomandibular

د صدغی (**Temporal Bone**) او منډیبولا (**Mandible**) دواړو هډوکو اړوند .

- Temporomandibular Joint

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او ښکتنی ژامنې منډیبولا (**Mandible**) دواړو هډوکو اړوند بند یا مفصل بلل شی .

- Temporomandibular Syndrome

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او ښکتنی ژامنې منډیبولا (**Mandible**) دواړو هډوکو اړوند سنډروم بلل شی چې پکې اړوند دردناکه بند منځ ته راځی او د ژوولو پر مهال عضلات د غاښونو د غلط ډول مخامخ کېدنې له کبله ژوولو ستونزه او د کړس کړس په څېر غږ منځ ته راوړی .

Temporomaxillar

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او پورتنی ژامنې مګزیلار (**Maxillar**) دواړو هډوکو دواړو اړوند.

Temporomaxillary

د صدغی (**Temporal Bone**) او پورتنی ژامنې مګزیلار (**Maxillar**) دواړو هډوکو دواړو اړوند صفت.

Temporo-occipital

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او تاړاک یا اوکسیپیت (**Occipital**) دواړو هډوکو دواړو اړوند.

Temporo-parital

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او جداری (**Parital**) دواړو هډوکو دواړو اړوند.

Temporosphenoid

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او شوپرکی یا وتدی (**Sphenoid**) دواړو هډوکو دواړو اړوند.

Temporosphenoidal

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او شوپرکی یا وتدی (**Sphenoid**) دواړو هډوکو دواړو اړوند صفت .

- Temporosphenoidal Bones

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او شوپرکی یا وتدی (**Sphenoid**) دواړو هډوکو دواړو اړوند.

- Temporosphenoidal Joint

په کوپړی برخه کې د صدغی (**Temporal Bone**) او

شوپرکی یا وتدی (**Sphenoid**) دواړو هډوکو دواړو اړوند بند یا مفصل.

Tenable

ټینګ،کلک، نه ماتېدونکی لکه (کلک نسج ، مورچل).

Tenacious

سرټمبه، ټینګ نښتی په ځانګړې توګه لکه (سطحه)، بهلبدونکی، نه هېروونکی لکه (حافظه).

Tenaciously

ټینګار ، سرټمبه توب.

Tenaculum

د یوې برخې د نیولو او ساتلو لپاره چنګک ډوله جراحی وسیله ده چې د عملیات پرمهال ورځخه کار اخیستل شی.

Tenalgia

د ټینډونونو درد .

Tenascin

د جنینی اوبالغو ببلابېلو نسجونو د خارج الحجروی ماټریکس یو ګلایکو پروټین دئ.

.

Tend

پالنه کول، ځارنه کول، پاملرنه کول، لېوالتیا ښودل ، هڅه کول، میلان لرل، کړېدل

Tendence

پاملرنه، پالنه.

Tendency

هڅه، میلان، طبیعي میلان او لېوالتیا لرل لکه د ویټامینونو د فقدان ناروغیو منځ ته راوړلو سره لېوالتیا لرل.

Tender

حساس او نازک لکه (د بدن هغه پوستکې چې د تماس په اثر ډېر دردناکه وی) ، تنکي، تاند ، پوست، اخته لکه (د غوښې اخته کول)، نرم زړی لکه (زړه سواندی کس)، حساس پالونکی، پالندوی، ساتونکی.

- Tender Loin

دملاپسته غوښه ،د شمزی غوښه.

- Tender Organ

حساس بڼه لرونکې غړی.

- Tender Spot

حساس بڼه لرونکې نښې او خاپې لکه چې د (التهابی غړو نبودونکې په ګډه) کې .

Tenderly

په حساسه بڼه سره .

Tenderness

د تماس او فشار په وړاندې غېر نورمال ډول حساس او نازک لکه (د بدن هغه پوستکې چې د تماس په اثر ډېر دردناکه وی) چې د التهابونو لپاره یوه نښه ده .

- Rebound Tenderness

هغه ډول حساسیت شتون چې د جس پرمهال منځ ته راځی دا هغه ډول وی کله چې د ګېډې لپاسه په یوه سیمه باندې د لاسونو پواسطه فشار وارد شی او لاس له فشار څخه لېرې کړی په ګېډه کې درد زیاتوالي مومی چې د پریتونیت (**Peritonitis**) په ناروغۍ کې دا حالت کلېنیکی ننبه د تثبیت وړ ده .

- Tenderness to Palpation

هغه ډول درد او حساسیت شتون چې د جس پرمهال منځ ته راځی چې د پریتونیت (**Peritonitis**) په ناروغۍ کې دا حالت کلېنیکی ننبه د تثبیت وړ ده .

Tenderometer

په کرهنیز (زراعت علم) کې هغه وسیله چې وربانديې د چنو (**Peas**) اړوند دحساسیت اندازه ټاکل کېږی .

Tendinitis

د یوه ټینډون / وتر التهاب چې معمولاً په (**Tenosynovitis**) حالتونو کې د سپورت کولو پرمهال منځ ته راځي.

- Calcific Tendinitis

تکلسی ډول د ټینډون اړوند برخې التهاب.

Tendinomuscular

ټینډونی –عضلی ، د عضلې او ټینډون اړوند .

- Tendinomuscular Meridians

په اکوپنکچر (**Acupuncture**) طبی څانګه کې د انرژی هغه چینل چې دبدن سطحې ته ډېر نېږدی او تر څنګ واقع شی او دبدن او چاپېریال ترمنځ د یوه سرحد برخه کې انرژی پتوګه یووړله شی.

Tendinotrochanteric

د فخذی د تروکانتیر او ټینډون اړوند .

- Tendinotrochanteric Ligament

د فخذی د تروکانتیر او ټینډون اړوند لېګامنټ.

Tendinopathy

د ټینډونونو د هر راز ناروغی اړوند.

Tendinoplasty

د یوه ټینډون / وتر د ترمیم جراحی عملیات کړنلاره ده .

Tendinosuture

د ترمیم په موخه جراحی عملیات کړنلارې پرمهال د یوه ټینډون / وتر دګنډلو او غوټه کولو بڼه .

Tendinous

ټینډونی ، وتری ، د (**Tendon**) لپاره اړوند صفت دئ .

Tendo

تینډون ، وتر ، د عضلې سره نښتې د منضم نسج څخه جوړه تسمه ئی برخه چې د هډوکو سره اړیکه ټینګوی . د (**Tendon**) په انډول .

- Tendo Achilles

د اشیل تینډون چې د قدم په خلف کې واقع دئ او د قدم حرکت کې رول لری او د پښې پوندې سره د لینګی عضلات ټینګوی . د (**Tendo Calcaneus**) په انډول.

Tendo Calcaneus

دشا په تخته پرتې او په ارخ پرتې یوې بلاربې مېرمنې د وینې فشار پرتله کول . په ستونی ستاغ پراته مهال کې د فشار زیاتوالې په پریایکلامپسیا باندې د اخته کېدو خطر بیانوی.

- RoschachTest

دا یو روانی ناروغی تشبیت لپاره آزمایښت دئ چې پکې هغه چې د شخصیت درې ګونی حالت (**Emotions**، **Attitudes** او **Personality**) چې د (**10 cards**) څخه کوم ډول (**Symmetrical Inkblots**) په متناظره توګه لیدل شی، د (**Inkblot Test**) په اندول .

- Rubin's Test

د رحم د نفیرۍ تیوبونو د پرانیستلو اړوند آزموینې یوه لاره چې د رحم منځ ته د کاربن ډای اکساید ګاز پمپ کېږي.

- Schick Test

راوستل بلل شی.

- Osmotic Fragility Test

هیپاریني شوې وینه یا هغه وینه چې فیبرین یې لېرې شوېوی په سوډیم کلورایډی محلولونو کې چې غلظتونه یې سره توپیر ولري اینبودل کېږي د سرو کریواتو څیرې والی او ماتوالی زیادښت چې د هغو د هیمولایزیس له مخې سنجول شی د وینې د سفېروسایتوزیس استازیتوب او څرګندونه وکړي.

- Oxytocine Challenge Test (OCT)

دا یو انقباضی ستړسی آزمایښت دئ چې په هغه کې رحمی تقلصونه د اوکسی ټوسین په وریدی تزریق کې پارېدنه او تحریک موندنه مومی .

- Pap Test

د ښځینه تناسلی سیستم د ببلابېلو حالتونو په ځانګړی ډول د خبیثو او د خباثت څخه دمخه (**Pre-malignat**) ضایعاتو د ټاکلو او پېژندلو لپاره توږل (**Curret**) شوو حجرو د رنګولو بهیر ، دا کړندود (مېتود) د اندوکرین د دندو ارزوونې او نورو خباثتونو د پېژندنې لپاره هم پکار وړي.

- Papanicolaou Test

د (**Pap Test**) په اندول.

- Patch Test

د حساسیت د زیاتوالی د معلومونې لپاره آزمایښتونه چې په هغه کې په تر آزموینې لاندې مادې په معیاری ډول ککړشوی ګازونه یا کاغذونه د پوستکی لپاسه اینبودل شی او بیا غبرګون څېړل کېږي.

- Paul-Bunnell Test

په انتانی مونونوکلیوز یس ناروغی کې د سېروم د هیتروفیلی انتی باډی ګانو د شتون د پېژندلو لپاره دا معلومول دی چې د ناروغ خورا نرۍ شوې سېروم د پسه د سرو کریواتو د اګلوټینېشن لامل ګرځېدلای شی.

- Paul-Bunnell Davidsonn Test

د پسه د هیټروفیلی سرو کریواتو د اګلوټینېشنونو درې ډولونو د توپیر لپاره د (**Paul-Bunnell Test**) د آزمایښت تعدیل شوې بڼه چې دا درې واړه په (انتانی مونونوکلیوز یس ناروغی ، سېروم ناروغی **Serum Sickness** ، فورسمن **Forssman** انتیې جن ضد انتی باډی ګانو) کې موندلای شی.

- Precipitin Test

هر یو سېرولوژیک آزمایښت چې بنسټ یې د پرسیپټین (**Precipitin**) په غبرګون ولاړ وی .

- Prothrombine Consumption Test

د وینې د بشپړې پرېکېدنې وروسته لاس ته راغلې سېروم کې د پاتې پروترومبین په ټاکنې سره د داخلی تروموپلاستین د جوړېدنې د اندازه کولو لپاره آزمایښت .

- Psychological Test

- Stress Test

فشاری آزمایښت ، هر هغه آزمایښت چې پکې په ناروغ کې د فشار او تمرینونو تر رامنځ ته کېدو وروسته د زړه او رګونو سیستم د روغتیا او کاری دندې د ټاکنې لپاره تر سره کېږی.

- Swinging Flashlight Test

په روغه سترګه کې د نور د رڼا اچول په داسې حال کې چې ناروغ لېرې واټن ته ځیر وی د ناروغ د دواړو سترګو کسی منقبض کېږی ، په اخته سترګه د رڼا اچولو سره د لند وخت لپاره دواړه پرانیستل کېږی او بیرته په روغه سترګه د رڼا اچول د دواړو کسیو (حدقو) د منقبض کېدو لامل ګرځی .چې دا مسئله د بصری عصب د برخیزو صدمو څرګندونه کوی.

- Test Tube

د آزموینې ټیوب، ټسټ ټیوب (یونېیښنه یې نل چې په لابرتوارونو کې په کیمیاوي تجربو کې ورځخه کار اخلي).

- Thyroid Supression Test

د څو ورځو لپاره د د لیووتایروکسین تر جذببدو وروسته په روغ رمټو کسانو کې د رادیو اکتیف آیوډین جذب کمښت مومی خو په هایپرتایروائیډیزم کې په خپل حال پاتې کېږی .

- Tuberculin Test

دا ډول داخل الجلدی آزمایښت دئ چې د نری رنځ (سل) ناروغی پېژندنه کې رول لری.

- Unheated Serum Reagin Test (USRT)

د (VDRL) تعدیل شوی آزمایښت چې پرته له ګرم شوی سېروم څخه پکې ګټه اخیستل شی چې پخوا چاپولو / ارزوونې (Screening) کې پکارېده .

- Urine Test

د متیازو د تحلیل اړوند آزمایښت.

- Test Validation

د یو آزمایښت د اعتبار او باوری کېدنه چې پکې تولې هغه متداومې پروسې چې د آزمایښت د معلوماتو د کره او سم والی لپاره تري کار اخیستل شی لکه [(Qualitycontrol, Proficiency Testing, Verification of Emplo yee Competency, او Instrument Calibration)] په ځېر ځیزونه په پام کې نیول شی .

- (VDRL) Test

د (Venereal Disease Research Laboratory Test) لپاره لنډه نښه ده .

- Venereal Disease Research Laboratory Test

د زهروی ناروغیو د څېړنې لابراتواری آزمایښت. د سیفلیس ناروغی لپاره یو فلوکولېشنی آزمایښت دئ چې د داسې (VDRL) جن څخه پکې کار اخیستل شی چې د (کارډیولیپین ، کولیسټرول او لیسیتین) ولری او په تودوخی سره غیرفعاله شوې د ډیفتری په وړاندې د حساسیت د ټاکنې اړوند یو ډول داخل الجلدی آزمایښت.

- Schiller's Test

د رحم د د سکواموس حجرو د وخت څخه دمخه کارسینوما د پېژندنې یوه آزمایښت دئ چې د پوټاسیوم آیوډاید یا آیوډینی محلول په مټه د سیمې د رنګولو په مرسته ترسره کېږی چې پکې اخته سیمی رنګ نه اخلی .

- Schilling Test

په رادیو اکتیف کوبالټ (^{57}Co)باندې په نښه شوی سیانو کوبالامین سره د (Vitamin B_{12}) د جذب آزمایل چې په خبیثو وینه لرې او (Vitamin B_{12}) د مېټابولیزم په نورو ناجوړتیاوو کې تري کار اخیستل شی.

- Schimer's Test

د کراتوکانجکټیویټ سیکا کې د اوښکو د تولید د کچې ټاکنې لپاره آزمایښت ، چې پکې دلاتدینی لېمه د ملتحي کڅوړې (ساک) کې د کاغذی فلټر د یوې توټې د کېښودلو څخه عبارت ده د دې توټې یوه څوکه بهر ته راځوړند ېږی او بیا یې د لمدېدلو کچه ټاکله شی.

- Schwabach's Test

د شواباخ د اورېدلو آزمایښت چې په هغه کې د ډیاپازونونو [چې (256, 512, 1024) او (2048) هرتز فریکانس ولری] بېخ د ناروغ او کتونکی ډاکټر په مستوئید بارزو باندې اینودل کېږی او بیا د دواړو ترمنځ د اورېدو وخت پرتله کېږی . په ناروغ کې د اورېدو وخت زیاتوالې (Schwabach's Prolonged) په سامعوی هدایت کې ناورغتیا څرګندوی دئ او په کتونکی ډاکټر کې د اورېدو د وخت زیاتوالې د (Schwabach's Shortened or Diminished) په سامعوی عصبی حسی ناجوړتیا دلالت کوی .

- Scratch Test

د شوکارو آزمایښت ،یو جلدی آزمایښت دئ چې پکې په یوه سطحی ګرېدلی ځای کې انتیې جن اچول کېږی .

- Sheep Cell Agglutination Test (SCAT)

هر ډول اګلوټینېشنی آزمایښت چې په هغه کې د پسه د کریواتو څخه کار اخیستل شی.

- Sickling Test

د غېرنورمال هیموګلوبینونو او د سرو کریواتو د لور ته ورته کېدو د پېښې د ښودلو لپاره آزمایښت.

- Skin Test

هر هغه آزمایښت چې پکې د ناروغ د غېرګون د لیدو لپاره د هغه پوستکې دننه انتیې جن ځای په ځای کېږی.

- Stool Test

دغایطی موادو آزمایښت.

له مړینې څخه دمخه قانونی وصیت لیک /پاڼه.

Testator

وصیت کوونکی.

Tester

چتر، چترۍ لکه (اکټ او دریځ پرسر)، منډو آزمویونکی، ممتحن.

Testcard

یوه پاڼه چې ډول ډول نښې او توری ورباندې لیکل شوې وی او د لیدپه آزمایښت کې پکارېږی.

Testectomy

د مرغېړی (خوټې ، خصیې) د رایستلو او لېری کولو جراحی کړنلاره، د (Orchiectomy) په انډول.

Testes

د (Testis) ګڼه شمېره ده.

Tesicle

خوټه (خصیه Testis).

Testicular

د مرغېړی یا خوټې اړوند ، خصیوی .

- Testicular Artery

د مرغېړیو اړوند شریان (سورګی) .د (Spermatic Artery) په انډول.

- Testicular Cancer

د مرغېړی یا خوټې اړوند سرطان یا خبیث ټومور .

- Testicular Cell

د مرغېړیو اړوند حجره .

- Testicular Hormone

د مرغېړی یا خوټې اړوند هورمون ، د (Testosterone) په انډول .

- Testicular Tissue

د مرغېړیړ اړوند نسج.

- Testicular Tumor

د مرغېړی یا خوټې اړوند سلیم یا خبیث پړسوب یا ټومور .

- Testicular Vein

د مرغېړی یا خوټې اړوند ورید .

Testiculate

هغه جوړښت چې یوه مرغېړی ته ورته بڼه ولری ، د مرغېړی په څېر ، خصیوی .

Testiculoma

هغه ټول اړوند پړسوبونه او تومورې کتلې (غیر التهاب کتلې Mass ، التهابی Inflammatory ناروغۍ سېروم هم پکې ونډه لری ،د (VDRL Test) په انډول.

- Weber's Test

اهتزاز لرونکی ډیاپازون په ورټکس یا د ټنډی (جبهی) په منځنی کرښې باندې ایښودل شی که په رنځور غوږ کې غږ ښه واورېدل شی د اورېدو ناجوړتیا هدایتی بڼه لری ، که غږ په روغ رمټ غوږ کې سم واورېدل شی سامعوی ستونزه په حسی عصبی ناجوړتیا پورې تړلې ده.

- Widal's Test

په سلمونیلا ټایفی او پاراټایفی باکتری اخته ناروغانو کې دا آزمایښت تر سره کېږی چې پکې د سلمونیلا د[(O-antigen) او (H-antigen)]د انټي جنونو د اګلوټینونو د شتون معلومولو لپاره پکارېږی او د ناروغۍ د تشخېص کې مرسته کولای شی.

Testa

1. په پروتوزولوژی (Protozoology) علم کې معمولاً د (Ameboid Protozoa یا د Subclass Testacealobosia) د پوښ چې د بېلابلو موادو(Calcareous, Siliceous, Organic یا د Strontium Sulfate Skeletons) اړوند معلوماتی څېړنې سره په تړاو کې د آزمایښتونوتر سره کولو څانګه بلله شی.2 . د په بوټانی علم کې کلک پوښ لکه (د مېوی او نباتاتو زنې پوښ).

Testacealobosia

دا د سارکوډینا (Sarcodina) او آمیب د پروټوزوا اړوند ټولګی په ټیټه کچه تصنیف کې ورګډ (Subphylum) دئ چې د پوښ په برخه کې د (Pseudopodia) لرونکې کاذبې راوتنې لری

Testaceous

په بیولوژی کې د کلک پوښ لرونکی جوړښت .

- Testaceous Operculum

دکلک پوښ لرونکی جوړښت اړوند چې ښائی (Reddish-Brown یا د Brownish-Yellow Hue Of Bricks) بڼې ولری .

Testalgia

د مرغېړی درد و خوټې درد ، د خصیې درد. د (Orchialgia, Orchiodynia, Orchioneuralgia) په انډول.

Tes-Tape

په (اورتوتولیډین ، پراکسیدېز او ګلوکوز اکسیدیز) ککړې پټۍ لپاره سوداګریزنوم دئ چې د متیازو په آزمایښت تر سره کولو کې د ګلوکوز د اټکلی غلظت ټاکنې لپاره استعمالېږی .

Testate

په بل ځای کی وی .

- Testis Mucin (MUC4)

د مرغېړیو مخاط د کرموزوم لپاسه هغه جن
(**Chromosome 3q29**) چې د
(**Encodes an Integral Membrane Glycoprotein**) د حجروی سطحې
برخه کې موندل شی چې ښائی د تومور په وده موندنه کې رول
ولری او ښائی حجروی چلند کې هم بدلون راولی .

- Testis Receptor

د مرغېړیو رسپټور برخه .

- Testis Removal

دمرغېړیو غوڅولو او راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

- Retained Testis

پاتې شوې مرغېړی ، هغه مرغېړې چې خپل ځای (سفن) ته
نه وی راغلې او پورته پاتې شوې وی .

- Retractile Testis

کش کېدونکې متحرک مرغېړی .

- Testis-determining Factor

د مرغېړیو پیژندونکې فکټور .

- Testis-Specific Alpha-Tubulin

د مرغېړیو ځانګړی الفا ټوبولین .

- Testis-Specific Inhibitor of Apoptosis

هغه ډول د مرغېړیو ځانګړې نهی کوونکې چې هغه جن چې د
(**Chromosome 5q22.2**) لپاسه پروت دئ د (**Spermatid**) د
وې پرمهال چې د (**Encodes a Testis-**
Specific Serine/Threonine-Protein Kinase) منځ ته راوړي او
سپرماتوجنېزیس په مراحلو کې ورته اړتیا ده.

- Torsion Testis

د مرغېړیو تاوېدنه ، خصیوی تدور .

- Undescended Testis

هغه ډول مرغېړې چې خوټلنګ /سفن ته نه وی رانبکته شوې .

Testitis

دمرغېړیو التهاب چې معمولاً په اډی (**Mumps**) او یا
نورو (**Infection, Trauma** یا **Metastasis**) حالتونو کې منځ
ته راځی .د (**Orchitis**) په انډول.

Test Meal

هغه ډول آزمایښت دئ چې پکې د معدې عصاروی
افرازات اندازه کېږی چې اوس دومره معمول ندئ.

Testoid

1. یوه مرغېړی ته ورته ، **2**. هغه اصطلاح ده چې
خصیوی هورمونونو (**Testicular Hormones**) او نورو
ترکیبی ورته اغیز لرونکو مرکباتو لپاره کارولې شی.

Testolactone

یا **Neoplastic, Benign** یا **Malignant**) چې د مرغېړیو اړوند
وی.

Testiculus

د مرغېړیو اړوند ، خصیوی .

Testify

تصدیق کول، شاهدي ورکول،دلالت کول.

Testimonial

تصدیق، تصدیق نامه، ستاینلیک ،تقدیر نامه ،سپارښتنه ،
تضمین

Testis

مرغېړې ، د نارینه جنسی غده (**Male Sex Gland**) ، د
نارینه ګوناد ، هغه غده چې په نورمال ډول په نارینه وو
کې په خوټلنګ (**Scrotum**) برخه کې واقع وی او د (سپرم
Spermatozoa، جنسی هورمونونو لکه تستوسټېرون
Testosterone) تولیدوی .

- Testis Cancer Centrosome-related Protein

د مرغېړیو کانسری سنتروزومی اړوندپروټین .

- Testis Compression Reflex

پرمرغېړیو باندې د فشار منځ ته راوړلو عکسه (ریفلکس) .

- Cooper's Irritable Testis

هغه مرغېړې چې په تخریشی ډول نیورالجی باندې اخته وی .

- Testis Cords

په اناټومی کې هغه سپرماټیک رسی چې د مغبنی کانال څخه
تېرې او د (**Ductus Deferens, Epididymal**
او **Testicular Nerves** او **Blood Vessels** او منضم نسج
Connective Tissue چې د مرغېړیو څخه تر مغبنی کانال د
Deep Inguinal Ring پورې توسعه لری) څخه منځ ته راغلې ده ،د (
Spermatic Cord) په انډول

- Testis Ectopia /Ectopic Testis

د مرغېړیو بېځایه والې ، هغه مرغېړې چې خپل ځای (سفن)
ته نه وی راغلې .

- Inverted Testis

هغه مرغېړې چې داسې ډول په سفن کې ځای په ځای وی چې
په بریخ چې په نورمال ډول د مرغېړی خلف پورې ښښتې وی د
هغې په قدام برخه پورې سرښې وی .

- Testis Lipid Binding Protein

د مرغېړیو شحم پورې ښښتې او ترلې پروټین .

- Testis Lobule

د مرغېړیو اړوند لوبولونه ، د خصیوی فصیص.

- Maldescended Testis

هغه مرغېړې چې خپل ځای (سفن) ته نه وی رانبکته شوې او

د ټستوسټېرون یو ډول مشتق هورمون دئ چې انابولیک سټېروئید (**Anabolic Steroid**) ، اندروجنی هورمون او د نیوپلازم ضد اغېزې لری دئ او د (**Tetracycline**) له فارمکولوژیک ټولګی څخه بلل شی چې انتانی ضد او تیبونو سرطان ضد اغېزی لری چې د بدن د نارینه غړو د نورمالې ودې او ثانوی تغیراتو د منځ ته راتګ اوصافو لپاره ضروری دئ چې د

(**Prostate, Seminal Vesicles, Penis, Scrotum** او **Vocal Cord Thickening**) غړو د نورمالې ودی لامل ګرځی.ورته نومونه یې (**Delatestryl, PMS-Testosterone EnthanateApo-Tetra, Novotetra, Nu-Tetra, Topicycline**) دی.

- Testosterone Gel

د (**Testosterone Cypionate**) په انډول ورته ځانګړنې لری.

- Testosterone Pellets

د (**Testosterone Cypionate**) په انډول.

- Testosterone Propionate

د (**Testosterone Cypionate**) په انډول درمل دی چې د عضلی زرق له لارې تطبیق کېږی.

- Testosterone Replacement Therapy

د ټستوسټېرون د تعویض کولو درملنه چې پکې د ټستوسټېرون اوښتې بڼه یا ورته بل مستحضر (**hypogonadal androgen-deficiency**) نارینه ووکې ورکول شی چې ښائی په (ابتدائی **Primary** ، ثانوی **Secondary** یا کسبی **Oracquired** یا ولادی **Congenital**) ډول منځ ته راغلی حالت کې ورکول شی چې د ټستوسټېرون د نورمال فزیولوژیک اغېزو بیا رامنځ ته کولو په موخه تطبیق کېږی. د (**Testosterone Supplementation**) په انډول.

- Testosterone Supplementation

د (**Testosterone Replacement Therapy**) په انډول.

- Testosterone Test

د وینې هغه ډول کتنه چې د دورانی ټستوسټېرون شتون د کچې معلومولو لپاره لکه د (**Ambiguous Sex Characteristics**) د ارزونې په موخه تر سره کېږی.

- Testosterone Transdermal System

د ټستوسټېرون د جلدی تطبیق له لارې سیستم اړوند.

- Testosterone-Responsive Dermatosis

د ټستوسټېرون سره په تړاو کې منځ راغلې درماتوز جلدی ناروغی.

Testitoxicosis

(1).هغه ډول مسمومیت (**Intoxication**) حالت چې د منوی قنات مضاعف لېګاتور [**Double Ligature of the Ductus (Vas) Deferens**] له کبله هغه د نیوپلازم ضد (**Antineoplastic Androgen Analog**) درمل دی چې معمولاً د تیبونو د کارسیونوما په درملنه کې زړو ښځو کې پکار وړله شی داد درمل د (**Hypercalcemia** او **Peripheral Neuropathies**) لامل ګرځی او مضاد استطباب یې (**Pregnancy, Lactation** او پتیل شوې فرط حساسیت **Hypersensitivity**) حالتونه دی.

Testopathy

دا یو ډول مطلقه اصطلاح د مرغېړیو ناروغی. (**Testicular Disease**) لپاره بلله شی چې دا پخو په طبی بحثونو کې کارېدله.

Testosterone

ټستوسټېرون ، هغه د نارینه وو اړوند اندروجنی جنسی هورمون دئ چې د مرغېړیو د (**Leydig Cells**) حجرو پواسطه تولید او افرازېږی او دبدن د فزیکی تغیراتو لکه (غږ بدلون **Deep Voice** ، ویښانو زیاتېدو او جنسی بخبدنې **Sexual Maturity**) لامل ګرځی.

- Testosterone 17

دا یو ډول اندروجن هورمون دئ چې د (**17-Ketosteroid**) پنامه یادېږی چې د (**17-Ketosteroid Reductase Deficiency-B-Dehydrogenase–NADP+ Deficiency**) په کمښت کې ورکول شی او نادراً د نارینه (**Pseudohermaphroditism**) کې چې د (**Micropenis**) لامل وی او په ښځو کې د (**Polycystic Ovary Disease**) ناروغیو کې ورکول شی او د **Partial 17-TDD** ډېر مصرف او خوراک له کبله به (**Gynecomastia, Hydrocele, Hypogonadotropic Hypogonadism**) حالتونه پېښ شی.

- Testosterone Buccal System, Mucoadhesive

دا یو درملنیز فارمکولوژیک اندروجنی هورمون دئ چې په (**Hypogonadism**) نارینه وو کې د انروجن کمښت حالت کې ورکول شی چې د بدن د نارینه غړو د نورمالې ودې او ثانوی تغیراتو د منځ ته راتګ اوصافو لپاره ضروری دئ چې د

(**Prostate, Seminal Vesicles, Penis, Scrotum** او **Vocal Cord Thickening**) غړو د نورمالې ودی لامل ګرځی

- Testosterone Cypionate

د (**Testosterone Buccal System, Mucoadhesive**) په انډول ورته ځانګړنې لری.

- Testosterone Derivative

د ټستوسټېرون مشتق ، دا یو ډول انابولیک ستېروئید (**Anabolic Steroid**) هورمون دئ.

- Testosterone Enanthate

تبتاني شخوالي ، تبتاني تشنج.

Tetanical

د تبتاني حالت اړوند صفت.

Tetanically

تبتاني شخوالي له مخې ،د تبتانی اړوند.

Tetanies

د تبتانیک شخوالي او تشنجونو پېښوونکي.

Tetaniform

د طب او فزیولوژی له مخې د تبتانوس (Tetanus) تشنجی ته ورته حالت ، د (Tetanoid) په انډول.

Tetanigenous

تبتانی شخوالی او سپزم منځ ته راوړونکی لامل.

Tetanilla

د سلیم ډول مایوکلونوس (Myoclonus) عضلی تشنج لپاره مطلق اصطلاح ده.

Tetanisation

تبتانی کول ، د تبتانیک اختلاج اغېزې چې په تبتانوس (Tetanus) کې منځ ته راځی.

Tetanism

د تبتانی یا شخوالی او اختلاج منځ ته راغلې حالت چې په ګډری ډول په (Functional Hypoparathyroidism) له کبله په نوې زوکړو ماشومانو کې د غوا شیدو د (High Phosphorus Content) له امله منځ ته راځی . د (Myotonia Neonatorum) په انډول.

Tetanize

د تبتانیکو تشنجونو / اختلاجونو القأ کوونکی.

Tetano -

دا یو مختاړې دئ او د (د تبتانیکو تشنجونو / اختلاجونو ، Tetanus، Tetany) اړوند معنی بشپړوی.

Tetanode

په تبتانوس کې د تبتانیک انقباضونو تر منځ د تحریک نه منلو مرحله.

Tetanoid

تبتانوس ته ورته / شبه حالت.

Tetanolysin

د انډوتوکسین هیمولیز کوونکې مواد چې د تبتانوس د باسیل پواسطه جوړېږی.

منځ ته راځی، (2) .د (Post-vasectomy "Syndrome") په انډول.

Test Tube

هغه ډول ښیښه ئی ټیوب چې په لابراتوارونو کې د آزمایښتونو د ترسره کولو نمونې اخیستنې چارو کې پکارېږی.

- Test -tube Baby

هغه ډول ماشوم د ودې لپاره ټیوب چې پکې د ښځینه هګۍ (Ova) او نارینه سپرم (Spermatozoa) د القاح (Fertilisation) په منظور له رحم څخه بهرته محبط کې په ټیوب اچول شی چې بیا وروسته بېرته د مور رحم ته وردننه کول شی تر څو هلته جنین انکشاف وکاندې .

- Test-tube Conception

په یوه ټیوب کې دننه له رحم څخه بهرته محبط کې د ښځینه هګۍ (Ova) او نارینه سپرم (Spermatozoa) د القاح (Fertilisation) ته ویل شی.

Test Type

په ګڼ شمېر اندازو کې چاپی توری چې د تېز لیدنې (Visual Acuity) په آزموینه کې پکارېږی.

Testudinal

په زولوژی علم (Zoology) کې د شمشتۍ د شابرخې په څېر ورته پوښ منځ ته راتګ.

Testudinary

د (Testudinal) په انډول.

Testy

غصه ناک ، قهرجن، بدغونی.

Tetanic

د تبتانوس (Tetanus) لامل اړوند صفت، د تبتاني (Tetany) حالت د منځ ته راتګ عامل سره په تړاو کې.

- Tetanic Agent

تبتاني منځ ته راوړونکی مواد.

- Tetanic Contraction

تبتاني منځ ته راوړونکی تقلصونه.

- Tetanic Convulsion

تبتاني شخوالي ، تبتاني تشنج ، تبتاني اختلاج.

- Tetanic Drug

تبتاني منځ ته راوړونکی درمل مواد.

- Tetanic Seizure

تبتاني تشنج ، تبتاني اختلاج.

- Tetanic Spasm

Tetanospasmine

د انډوتوکسین نیوروتوکسیکه برخه چې د کلوسترېدیوم تېتانی پواسطه جوړېږی او د تېتانوس وصفی شخوالی (سپزمونو) د منځ ته راتلو لامل ګرځی .

Tetanus

①یوه حاده او اغلباً وژونکې انتانی ناروغی چې د کلوسترېدیوم تېتانی د باکتریا پواسطه تولید شوی نیوروتوکسین (**Tetanospasmine**) په مټه پېښېږی ددې مېکروب سپورونه د ټپونو له لارې بدن ته ننوزی په دوه ډوله عمومی (**Genralize**) او بل هم موضعی (**Localize**) وی . ②د انبساطی واتنونو څخه پرته د عضلاتو تقلصی او انقباضی حالت .

Tetany

د تېتانوس (**Tetanus**) اړوند صفت ، تېتانی ، د تېتانی (شخی ، اختلاج) سره په تړاو کې . هغه سنډروم چې د [لاسونو اوپښو د شدیدو کړېدو (**Carpopedal Spasm**) ، عضلاتی نیول کېدو ، کرامپونو **Cramps** او تشنجونو **Spasms** او همدارنګه کله ناکله د ستېرایدوری **Steridors** بریدونو] په مټه پېژندل شی چې معمولاً د اعصابو او عضلاتو د زیاتې پارېدنې څخه پېښېږی .

- Duration Tetany

د پیاوړی تلپاتې بهیر په غبرګون کې یو پرلپسې انقباض چې په ځانګړی توګه په اسحالوی عضلاتو کې لیدل شی.

- Gastric Tetany

د معدې د ناروغی په اسطه د تېتانی شدید ډول چې پکې تنفسی شخوالې او د هډونو دردناکه او ټونیک بڼه سپزمونه په ګډ ډول منځ ته راځی .

- HyperventilationTetany

هغه ډول تېتانی چې د پام وړ مودې د شدید او پرلپسې زفیرونو او شهیقونو له کبله منځ ته راځی .

- Hypocalcemic Tetany

په نوې زوکړو ماشومانو کې د وینې د کلسیوم سویې د کمښت له کبله تېتانی حالت .

- Latent Tetany

د بربښنائی یا کېمیاوی پارېدنو څخه زېرنده تېتانی .

- Neonatal Tetany

په نوې زوکړو ماشومانو کې د تېتانی حالت چې د کلسیوم د کمښت څخه زېرنده ده چې د ژوندانه د لومړنیو ورځو کې پېښېږی او تر ډېره په [نارامی ، عضلاتی سپزمونو ، لړزی /جټکې وهنه ، تشنج ، په لږه کچه لرینګو سپزم او (**Carpopedal Spasm**)] سره پېژندل شی. .

- Tetany of Newborn

د (**Neonatal Tetany**) په انډول.

- Parathyroid Tetany

د پاراتایروئید غدواتو د جراحی راکښلو یا د هغې د کارکړنې کمښت څخه زېرنده تېتانی.

- Parathyroprival Tetany

د (**Parathyroid Tetany**) په انډول.

Tetartanopia

د لیدنې په (1/4) برخه کې د لید کمښت ، یوه نادره دوه رنګ لیدنه چې په هغه کې ناروغ کولای شی یوازې سور اوشین رنګ درک کړی او ژیړ او آبی (اوبلن) رنګ د یوه بې رنګه باندې په توګه درک کېږی، د (**Quadrantanopia**) په انډول

Tetartanopsia

د (**Tetartanopia**) په انډول .

Tetra-

دا د یو مختاړې دئ او د (څلورو ، څلورګونی) معنی بشپړوی

Tetra-amelia

د څلور واړو اندامونو (لاسونو او پښو) نشتون حالت.

- Tetra-Amelia, Autosomal Recessive

په اوتوزومال مغلوب بڼه د څلور واړه اندامونو د انومالی لېږد.

Tetrabasic

څلورظرفیته ، هغه اسیدونه چې پکې په هر مالیکول کې د څلورو اسیدی ګروپونو اتمونو ځائېدو خاوند وی او لدې کبله د (**4 Eq of Base**) خنثی کولو وړتیا لری .

- Tetrabasic Acid

هغه اسید چې د څلورو هاید روجنی اټومونو (**Replaceable Hydrogen**) د تعویض / بدلېدنې وړتیا په هر مالیکول کې لری. هر هغه په اوبو کې منحل مرکب مواد چې تریو بڼه خوند لری او د لیتمس (**Litmus**) سره رنګ او هرې غبرګون د په وړاندې مالګې جوړولو وړتیا ولری

Tetrabasicity

څلور ظرفیته حالت ، څلور ظرفیتی.

Tetrabenazine

دا د کوریه ضد (**Antichoreas**) اغېزې لرونکی درمل دی چې د (**Huntington's Disease.**) په ناروغی کې د کوریا حالت ته کمښت ورکوی او د [**Vesicle Monoamine Transporter Type 2 (VMAT-2)**] په شاتنبولواو نهی کوونکې (**Reversible Inhibitor**) اغېزی لری او د (**Serotonin, Norepinephrine and Dopamine**)

پکارړی.

Tetrachloride

هرهغه کېمیاوی جوړښت چې څلور کلورین عنصر په ځان کې ولری .

Tetrachord

د درې ډوله مقویت لرونکو لړی شتون حالت.

Tetrachotomous

په څلورو اندامونو (برخو) ویشل شوی.

Tetrachotomy

په څلورو سګمنټونو (Segmentation) ویشل کېدو کړنلاره .

Tetracid

د ټټراسید کېمیاوی جوړښت .

Tetracoccous

په بوټانی علم کې د یوشی د څلورو (Cocci, or Carpels) لرل .

Tetracrotic

هغه چې د یوه نبض لپاره د نبض ثبتوونکې په پاڼه کې څلور وتلتیا ولری .

Tetracuspid

د څلور کسپو نو (Four Cusps) لرل ، د (Quadricuspid) په اندول.

Tetracyclic

د څلورو کړیو (حلقو) لرونکو اړوند صفت لکه ټټراسیکلیک درمل.

- Tetracyclic Antidepressant

د خپګان ضد څلور کړیز درمل .

- Tetracyclic Drugs

د څلور کړیز (څلور حلقه ئی) درمل .

- Tetracyclic Steroid Nucleus

هغه هستې چې څلور کړیز ستېروئید دی .

Tetracycline

تتراسایکلین ، په فامکولوژی علم کې هغه پوډر چې بې بویه د ژیر رنګ خاوند کریټال چې د ($C_{22}H_{24}N_2O_8$) فورمول لری او مېکروب ضد اغېزې لری د ستېرپتومایسیسونو څخه یې ببلابېلې ډلې منځ ته راځی او د باکتریاوو ، آمېب ضد درملو پتوګه کارول شی.

Tetrad

څلور ظرفیته ، په یو بل باندې د اړوند یا ورته څلورو ببرته ګرځول کځوړې ته په (Presynaptic Neurons) کې پېښوی .

Tetrablastic

هغه چې څلور جرمینال طبقې لری لکه د (Ectoderm, Endoderm, and Two Mesodermic Layers) په څېر په جنین کې

Tetraboric Acid

د (Perboric یا Pyroboric Acid) په اندول.

Tetrabrachia

هغه غېرګ جنینونه چې نښتی دی او څلور پورتنی اطراف (لاسونه Upper Limbs) لری .

Tetrabrachius

څلور متې جوړښت ، د څلورومتو خاوند غېرګ جنین .

Tetrabromo-phenolsulfonephthalein

هغه رنګ چې د قلوی –اسید (Acid-Base) ښودنه کوی یا هغه ډول ښودونکې چې په اسیدی یا قلوی محلول کې بدلون کوی

Tetracaine

یوموضعی او نخاغی بېحسه کوونکې (Crystalline Compound) ماده چې د ($C_{15}H_{24}N_2O_2$) کېمیاوی فورمول لری او د پروکائین (Procaine) اړوند دی کلورایدی بنې یې پکارړی .

- Tetracaine Amethocaine

هغه ډول جېلی (4% Gel) یا (2% Cream) مرهم چې د موضعی بېحسه کوونکی پتوګه کارول شی .

- Tetracaine Hydrochloride

د تېتراکائین مادی هایدروکلورایډی بنې مالګه.

Tetracel Vaccine

د وایرولوژی له مخې د واکسینونو ګډ جوړښت دئ چې د څلور ډوله انتانی ناروغیو لکه د Diphtheria, Pertussis, Tetanus– DPT او د [H Influenzae Type B] معافیتی او ضد اغېزی لری .

Tetrachirus

هغه کس چې څلور لاسونه لری.

Tetrachlorethylene

یو نسبتاً زهرجن کلورین لرونکې هایدورکاربن چې کالی مینځلو (دوبی توب کارونو) کې دمحلل په توګه پکارړی او همدارنګه د چینجیو ضددرملو پتوګه

Tetrameric
څلور برخیز ،به څلورو وېشلې .

Tetranopsia
د (**Quadrantanopia**) په انډول.

Tetraparesis
په څلور واړه اندامونو کې د عضلاتی کمزورتیا شتون .

Tetrapeptide
هغه ډول پیپټاید چې هایدرولیز له امله یې څلور امینو اسیدونه تر لاسه کېږی.

Tetraplegia
په څلورو اندامونو فلج، د (**Quadriplegia**) په انډول.

Tetraploid
د ټېټراپلوئید ځانګړنو خاوند .هغه موجود یا حجره چې د کروموزوم څلور ځپړی ولری .

Tetrapus
د څلورو پښو لرونکې جنین.

Tetrapyrrole
هغه مرکب چې د پایرول (**Pyrrole** د C_4H_5N په فورمول) څلور کړی ولری لکه د هیم (**Heme**) یا کلوروفیل (**Chlorophil**) په څېر.

Tetracelus
د پښې د څلورو پُنډیو لرونکې جنین.

Tetrasomic
د (**Tetrasomy**) اړوند صفت.

Tetrasomy
په یوه ډیپلوئید حجره کې د یو ډول اضافی دوه کروموزومونو شتون والې .

Tetravalent
څلور ولانسه جوړښت ، څلور ظرفیته.

Tetrodotoxin
دا یو پیاوړې وژونکې نیورتوکسین چې یو شمېر (**Puffer Fish**) او آبی سوسمارونو (سمساری **Lizard**، **Crocodile**) کې موندل شی چې تر خوراک څو دقیقې وروسته یې (د زړه بدوالې ، سرڅرخی ، د خولې په شاوخوا کې سوځېدنه او بخار احساس) او په پای کې یې (اټاکسی **Ataxia** ، اختلاج**Convulsion** ، تنفسی فلج**Respiratory Paralysis** او مرګ) منځ ته راځی.

Text
موجودیتونو څخه جوړه ډلګی ، هر هغه عنصر یا راډیکال چې څلور ولانسه لری یا د څلور ترکیبونو د جوړولو توان / وړتیا ولری.

- Fallot's Tetrad
د فالوټ ټېټرالوژی ، د زړه اړوند د څلورګونو انومالیګانو په ګډ ډول شتون دئ .

Tetradactyly
څلور ګوتې ، هغه کس چې لاسونه یا پښې یې د څلورو ګوتو انومالی خاوند وی .

Tetragonum
څلورمخیز ، د څلورو ژیو لرونکې شکل ، څلور زاویه وی شکل ، څلور کنجې (پېښکې) جوړښت ، څلور ګوټه (ګونبه).

- Tetragonum Lumbale
هغه څلور ګوټیز (ګونبه ئی) چې د لومبار (قطنی) څلورو عضلو په وسیله منځ ته راغلې وی .

Tetrahydrocannabinol
د چرسو اغېزمنه ماده چې د دوه ایزومیری بڼې لری او دواړه یې د سایکوممیټیک (**Psychomemetic**) پلوه فعاله دی لنډه نښه یې (**THC**) ده .

Tetrahydrofolic Acid
ټېټراهایدروفولیک اسید ، د فولیک اسید یو شکل چې (**Pteridin**) کړی یې په بشپړ ډول حذف شوېدی دامادە ببلابیل انزایمونه اولیه ترکیبی بڼه ده چې په کېمیاوی تعاملاتو کې د یو کاربنی ګروپونو د لېږدېدونکې پتوګه پکاریږی .

Tetrahydrozoline
یوه ادرینرجیکه ماده چې د هایدروکلورایدی مالګې په بڼه په موضعی شکل د پوزې په مخاط او ملتحې کې پکاریږی ترڅو د رګونو د تقلص /انقباض لامل وګرځی .

Tetralogy
یوه څلورګونې لړی یا څلورګونې کېدی.

- Tetralogy of Fallot's
د زړه د ولادی نیمګړتیاوو یوه ټولګه ده چې پکې {د ریوی دسام تنګوالې **Pulmonary Stenosis** ، بین البطینی جدار نیمګړتیا**VSD**، د ښی بطین ضخامه **Right Ventricle Hypotrophy** او ښی لوری ته د د ابهر د خای بدلون**Quarctation of Aorta** } ونډه لری ، د (**Fallot's Tetralogy**، **Blalock's Operation** او **Waterston's Operation**) پنومونو هم یاد ږی.

Thalamocortical

د تلاموس او دماغی قشر اړوند.

- Thalamocortical Tract

هغه لاره یا قنات چې د تلاموس او حسی قشر عصبی الیاف پکې درومی.

Thalamolenticular

د تلاموس او عدسیوی هستې پورې اړوند.

Thalamotomy

د تلاموس وازول ، هغه جراحی عملیات د تلاموس د حجرو د ځانګړو ډلو د ښلولو یا له منځه وړلو لپاره د یوه نښتونکی (**Stereotaxic** جامد پال) جراحی تخنیک له مخې په تلاموس باندې ځېرېدنه (**Incision**) تر سره کېږی او (**Intractable Pain**) درملنه پرې کېږی.

Thalamus

تلاموس، د هغه لویې بیضوی ډوله کتلو ځخه هر یو چې د توربخنې مادې لویه(**Grey Matter**) برخه یې د (**Cerebrum**) ته ځېرمه نیولې او د درېیم بطین په دواړو خواوو کې ځای لری او د درېیم بطین د جنبی جدارونو یوه برخه جوړوی هره یوه یې په دوه خلفی او بطینی برخو وېشله شی دا د سریبلوم ځخه د حسی نیورونونو سیالې تر دماغی قشر (**Cerebral Cortex**) پورې لېږدوی ګڼه شمېره یې (**Thalami**) ده .

Thalassaemia

تلاسیمیا ، په ارثی ډول لېږدېدونکې د وینې هیمولایټیکه شدیده ښه وینه لرې (**Severe Anaemia**) ناروغی ده چې د یوه هټروجنی ډله چې د هیموګلوبین (**Haemoglobin**) د پولی پیپټاید د یوه یا څو ځنځیرونو د جوړښت د دکچې په کمښت سره پېژندله شی او په (الفا ،بېتا ، ګاما) دولونو باندې ویشله شی. د (**Cooley's Anaemia**) په انډول.

- α-thalassaemia

الفا تلاسیمیا ، د هیموګلوبین (**Haemoglobin**) د ګاما ځنځیر د جوړېدنې د کمښت له امله منځ ته راځی هیموزایګوټی ډول وژونکې ښه لری او شدید ډول هایدروپس فېټالېس پېښوی.

- β-thalassaemia

بېتا تلاسیمیا ، د هیموګلوبین (**Haemoglobin**) د بېتا ځنځیر د جوړېدنې د کمښت له امله منځ ته راځی.

- Thalassaemia Major

د (**β-thalassaemia**) په انډول ، د هیموګلوبین د بېتا ځنځیر د متن، سوره لکه (د آسمانی کتابونو ، انجیل)، موضوع، مضمون.

- Textbook

درسي کتاب لکه چې زده کوونکي یې لولی (د هیماتولوژی کتاب **Haematology Textbook**) .

- Textbook Case

هغه پېښه چې په کت مټ ډول په کتاب کې یې ننښې ننښانې لیکلې شوې وی.

- Text box

د کمپیوټري پروګرام په مخ لیکل بکس چې په هغه کښې توري لیکل کیدای شي.

Textiform

د شبکې او جال ته ورته ښه نیول ، شبکه ئی ، جال ته ورته .

TGF

د (**Transforming Growth Factor**) لپاره لنډه ننښه ده.

T- Group

کارښودې ګروپ / کاری ډله ، (**Sensitivity Group**) برخه ورته وګوری.

Th

د توریم (**Thorium**) کېمیاوی عنصر لپاره لنډه ننښه یې (**Th**) ده چې رون–ایره ډوله نادر عنصر بلل شی اتومي وزن یې (**083.232**) ، اتومي شمېره یې (**90**) ده، دجوش ټکي(**4800 °C**) ویلېکېدنې (**1750 °C**)دي.

Thalam-

دا یو مختاړې دئ اوپه جمله کې د (تلاموس **-Thalamo**) معنی بشپړوی.

Thalamencephalon

د تلاموانسفالون ، د (تلاموس **Thalamus** ، هایپوتلاموس **Hypothalamus**او اپی تلاموس **Epithalamus** په ګډون د ډیانسفالون یوه برخه) بلل شی.

Thalamic

د تلاموس اړوند صفت.

- Thalamic Syndrome

تلامیک سنډروم ، هغه ډول سنډروم چې پکې ببدربغه حساسیت او درد چې د تلاموس غدې د اختلالاتو له کبله منځ ته راځي.

Thalamo -

دا یو مختاړې دئ اوپه جمله کې د (تلاموس **-Thalamo**) معنی بشپړوی.

د زهرجنو مارانو ټولګه .

Thanatophoric

و ژونکې .

Thaw

د یوه شی چې کنګل شوېوی بېرته خپل معمول تودوخې درجې ته اړولو پروسه .

THC

د (Tetrahydrocababinol) لپاره لنډه ننښه ده.

Theatre

عملیاتخانه ، په یوه روغتون کې د عملیات ځای خونه ،نندارځی ، نندارتون ، تیاتر، دتمثیل او ښوونې صحنه، صحنه، ډرامه، لوبه، صحنه جوړونه.

- Theatre Gown

د عملیاتخانې اړوند چپنه یا اغوستونکې اوږده کالی .

- Theatre Nurse

د عملیاتخانې نرس یا روغتیائي کارکوونکې چې د جراح سره په عملیاتونو کې مرسته کوی او روزل شوېوی .

- Operating Theatre

د عملیات خونه ، په روغتون کې هغه خونه چې پکې عملیاتونه تر سره کېږی.

Theatric

نندارېز، دصحنې. د (Theatre) اړوند صفت .

Theatrical

په نندار ځې پورې اړوند، نندارېز، تصنعي، د (Theatre) اړوند صفت .

Thebaine

د اپینو (تریاکو) یو الکالوئید چې زهرجن ، بلوری او مسکن دی او ستریکنین ته ورته ځانګړنې لری

Theca

نسجی پوښ یا پوړنې (پرونې) ته ورته.

- Theca Folliculi

د هګۍ ځالې (Overium) کځوړې د فولیکولونو په شاوخوا کې د متراکم منضم نسج څخه جوړ یو پوښ چې (Tunica Interna) او (Tunica Externa) لری .

Thecae

د (Theca) ګڼه شمېره ده.

Thecal

د (Theca) اړوند صفت .

Thecitis

د (Tenosynovitis) په انډول.

جوړېدنې د کمښت له امله منځ ته راځی.

- Thalassaemia Minor

د (β-thalassaemia) هیټروزایګوټي ډول دئ چې د هیموګلوبین د ښېتا ځنځیر د جوړېدنې د کمښت له امله منځ ته راځی.

- Sickle cell -Thalassaemia

یوه ارثی ډول وینه لرې چې په هغه کې په یوه وخت کې د لورته ورته ډول حجرو (S) هیموګلوبین او تلاسیمیا حالت شتون لری.

Thalassemia

د (Thalassaemia) په انډول.

Thalidomide

یو مسکن او آرمتیا بخښونکې درمل دئ چې په (1960s) لسیزه کې د بلاربښت د سهارنې زېږه بدوالی په درملنه کې تر اخیسته شو خو د نیمګړتیاوو لامل ګرځېده اوس مهال یوازې د خوراړې (جذام Leprosy) په درملنه کې کارولے شی .

Thallium

یو کېمیاوی عنصر دئ چې اټومې شمېره یې (81) او کېمیاوی ننبه یې (TL) ده دا عنصر د کولمو اوروغ پوستکی څخه د جذببدو وړتیا لری او راز راز روانی ننبې نښانې منځ ته راوړی او کبدی – کلیوی ناروغی هم پېښوی .

- Thallium Scan

دا هغه ډول مېتود دئ چې پکې د زړه عضلاتو ته د اروا (Blood Supply) تر کتنې او څارنې لاندې نیول شی پدې کې د رادیواکتیف عناصرو تالیوم (Thallium) حرکت د زرق څخه وروسته د وینې بهیر له لارې د زړه جدارونو لورې ته څېړل شی.

- Thallium 201

د تالیوم رادیواکتیف ایزوتوپ چې نیمائی عمر یې (73.5) ساعته دی او د تالیوم کلوراید په بڼه د زړه انځور اخیستنه کې کارول شی.

Thanato-

دا یو مختاړې دئ او د مرګ / مړینې معنی بشپړوی.

Thanatognomonic

مرګ ته د نېږدې کېدو ننبه .

Thanatology

هغه طبی (Medical, Psychological and Sociological) اړخونو څېړنیزه څانګه چې پکې د مړینې د ببلابیلو اړخونو یا د خلکو د مړینې د لارو پېژندلو سره تړاو لری.

Thanatophidia

Thecoma

د تېکا حجرو څخه رامنځ ته شوې تومورى کتله .

Thecostegnosis

د تېنډونى پوښ انقباض .

Thelalgia

د تييونو د څوکو درد.

Thelarche

د بلوغ (پېغلتوب ، خلميتوب) پرمهال د تييونو د بشپړېدو او تکامل پيل .

Thelazia

د نيماتودا پرازيتونو اړوند چينجيانو يو ډول دئ چې د تى لرونکو د سترګو په (نادراً په انسانانو کې) پرازيتى ناروغي پېښوى

Thelaziasis

په (**Thelazia**) باندې د سترګو ککړتيا او اخته توب د ناروغى حالت .

Theleplasty

د تييونو د څوکو پلاستيکى جراحى عمل تر سره کول.

Thelerethism

د تييونو د څوکو د شخېدنې او انتعاذ حالت.

Thelitis

د تييونو د څوکو التهابى ناروغى .

Thelium

پاپيلا ، پاپيلونه ، د تى د څوکه چې ګڼه شمېره بڼه يې (**Thelia**) بلله شى.

Thelorrhagia

د تييونو د څوکو څخه وينه رژېدنه / بهېدنه .

Thenar

د لاسونو د غټې (بټې) ګوتې په ښېخ کې د لاس د ورغوى (**Palm**) غوښنه برخه ، د لاس د ورغوى اړوند.

- Thenar Eminence

د لاس د تېنار برخې جوته (بارزه) او پنډوس ته ورته برخه .

- Hypo-thenar

د لاس د ورغوى د تېنار لاندينې (سفلى) برخې پورې تړلې .

Theobromine

تيوبرومين ، د (**Theobroma Careo**) د بوټى د وچو شويو او پخو دانوڅخه تراسه شوې الکلوئيد ماده چې په مصنوعى ډول د ګزانتين څخه جوړېږى او کافين ته ورته خواص لرى چې د[ملسا عضلاتو د شل کوونکو (فالج) ، متيازو پېښوونکو (مدرر) ، د مرکزى عصبى سيستم او د مايوکارډ پاروونکو (**Stimulant**) اود سږو قصباتو د آزادېدونکې او رګونو توسع ورکونکو] په توګه کارپرى.

- Theophylline Cholinate

د (**Oxtriphylline**) په انډول .

Theoretic

نظري، غير عملي.

Theoretical

نظرى، غير عملي، خيالي ، په فرضيو ولاړ.

Theoretically

په نظري ډول، دتيوري دمخه.

Theorist

تيوريسن، دنظر ياتو پوهاند.

Theorize

دنظريې جوړول، نظري کول، تصور کول.

Theory

تيوري، نظريه، عمومي اصول ، مفکوره، د يوه فن يا دندې فلسفه اوارونه چې هغه فن ته د پاملرنې څخه تر لاسه کېږى ،هغه ډول قياس او فرضيه چې په ريښتينې پوهنې ولاړ نه وى او علمى حقيقت بڼه (**Scientific Fact**) تشريح کوى.

- Cell Theory

حجروى نظريه ،هغه نظريه چې له مخې يې ټول ژوى له حجرې څخه جوړ شوى دى د ژوندون لپاره د حجرو فعاليت ورته اړين دئ ، حجروى فرضيه.

- Clonal Deletion Theory

د (**Self-tolerance**) په اړه يوه ايميونولوژيکه نظريه چې له مخې يې د بدن حجرو سره په ټکر کې معافيتى حجروى کلونونه چې له خپلو انتى جنونو سره غبرګون ښکاره کوى په جنينى دوره کې د انتى جن سره د تماس له کبله له منځه ځي .

پېښوونکو (مدرر) ، د مايوکارډ پاروونکو او رګونو د آزادېدونکې (توسع ورکونکو)] په توګه کارپرى.

Theological

ددينې پوهنې اړوند صفت.

Theology

دينيات، الهيات، دکلام علم، ديني پوهنه.

Theophylline

تيوفيلين ، دا د ګزانتيين يو مشتق چې د د چايو د پانې څخه مصنوعى ډول په لاس راځى او مالګېزې بڼې يې د [ملسا عضلاتو د شل کوونکو (فالج) ، متيازو پېښوونکو (مدرر) ، د مرکزى عصبى سيستم او د مايوکارډ پاروونکو (**Stimulant**) اود سږو قصباتو د آزادېدونکې او رګونو توسع ورکونکو] په توګه کارپرى.

- Theophylline Cholinate

د (**Oxtriphylline**) په انډول .

Theoretic

نظري، غير عملي.

Theoretical

نظرى، غير عملي، خيالي ، په فرضيو ولاړ.

Theoretically

په نظري ډول، دتيوري دمخه.

Theorist

تيوريسن، دنظر ياتو پوهاند.

Theorize

دنظريې جوړول، نظري کول، تصور کول.

Theory

تيوري، نظريه، عمومي اصول ، مفکوره، د يوه فن يا دندې فلسفه اوارونه چې هغه فن ته د پاملرنې څخه تر لاسه کېږى ،هغه ډول قياس او فرضيه چې په ريښتينې پوهنې ولاړ نه وى او علمى حقيقت بڼه (**Scientific Fact**) تشريح کوى.

- Cell Theory

حجروى نظريه ،هغه نظريه چې له مخې يې ټول ژوى له حجرې څخه جوړ شوى دى د ژوندون لپاره د حجرو فعاليت ورته اړين دئ ، حجروى فرضيه.

- Clonal Deletion Theory

د (**Self-tolerance**) په اړه يوه ايميونولوژيکه نظريه چې له مخې يې د بدن حجرو سره په ټکر کې معافيتى حجروى کلونونه چې له خپلو انتى جنونو سره غبرګون ښکاره کوى په جنينى دوره کې د انتى جن سره د تماس له کبله له منځه ځي .

- Clonal Selection Theory
هغه تیوری چې له مخې یې په هر بالغ انسان کې څو میلیونه انتي باډی پیښوونکې حجرې شتون لری چې په خپله سطح باندې ځانګړی انتي جنی رسپتورونه لېږدوی .دا حجرې د د یوې خاصې انتي باډی د تولید لپاره پلان شوې او د خپل ځانګړی انتي جن سره تر تماس وروسته د هغوی د تکثیر او ډېرښت د القأ او د ځانګړو انتي باډی ګانو د زیاتې پیمانې تولید لامل ګرځی .

- Information Theory
معلوماتی تیوری ، د مخابره شویو پیغامونو د څېړنو او سپړنو لپاره یو سیستم چې د هغو شمېرو ا سیستمونو له مخې کارکوی چې پیغامونه (ترلاسه کوی ، هغه ژباړې او تعبیروی ، استوی او په رمز یې اړوی).

- Overflow Theory
د (**Underfilling**) فرضیې ته ورته فرضیه پدې توپیر چې داسایټس په جوړښت کې لومړنی پیښه د سوډیم د اوبو احتباس چې رپورټ له هایپرټنشن سره مل وی بلل شی چې د پلازما د حجم داسې زیادښت لامل ګرځی چې د کبدی سینوزوئیدونو څخه یې د راتوئېدو لامل ګرځی او حبن رامنځ ته کوی.

- Quantum Theory
هغه نظریه چې له مخې یې د انرژۍ جذب او خل د داسې کمیتونو په بڼه وی چې د خل د فریکانس له مخې یې اندازې سره توپیر لری.

- Recapitulation Theory
هغه نظریه چې له مخې یې د یوه ژوندی موجود تکاملی سیر د هغه په توکم (نژاد) د ارثی ځانګړنو د تکرار منځ ته راتګ لامل ګرځی .

- Underfilling Theory
هغه نظریه چې له مخې یې د باب وریدفرط فشار سره یوځای حبن (اسایټس) د هایپوالیمیا او ورپسې د باب د فشار کمښت او د اوبو د سوډیم د احتباس لامل ګرځی په پایله کې سوډیم د غلظت زیادښت د پلازما حجم د زیاتوالی او باب فشار د لوړېدنې لامل ګرځی او بیا حبن رامنځ ته کوی.

- Young-Helmholtz Theory
هغه نظریه چې له مخې یې د رنګونولیدشبکیې په درې ډلو رسپتورونو پورې تړاو لری چې په (شنو ، سرو او بنفش) رنګونو پورې اړوند بلل کېږی.

Theque
د ګردی یا بېضوی ډوله ټولګه چې د مېلانین (**Melanin**)چې د (**Nevus Cells**) څخه رامنځ ته کېږی او د پوستکی د اپیدرم او درم د اتصال سیمه کې پیښېږی.

Theragnostics
دا هغه اصطلاح ده چې د دوه لغتونو د (درملنې **Therapy** + پېژندنې **Diagnostics**) څخه رامنځ ته شوېده چې پکې د مالیکولی پېژندنې تخنیکونو څخه لکه د (انزایم پېژندل چې یو څوک یې جوړوی اوبل یې نه جوړوی او په درملنیز تصمیم نېولو کې رول لری) کار اخیستل شی .

Therapeutic
د درملنې (**Therapy**) اړوند صفت دئ . د ناروغیو د (معالجوی **Curative** ، درملنې اغېزمنتیا **Effective**) حالت سره په تړاو کې .

- Therapeutic Abortion
درملنیز سقط ، درملنیز زیان ، د درملنې په موخه د جنین غورځول / سقط ورکولو کړنه تر سره کول او بلاربښت ختمول بلل شی.

- Therapeutic Agent
①هغه مواد چې په درملنه کې کارول شی او کېمیاوی غبرګون څرګند کړلای شی . ②هغه درمل چې د بیولوژیک غبرګون تولید توان ولری . ③ هغه ارګانیزم چې د ناروغیو د لېږد یا لامل اړوندوړتیا ولری .

- Therapeutic Aggravation
هغه ډول تېرېدونکی (ګذری) بڼه تشدید کوونکی ننبنې ننبناني چې د هومیوپتیک مستحضراتو له املې پېښېږی دا ډول تشدید کېدنه (**Aggravation**) معمولاً جوړښتیز وی ځکه چې د دې په وړاندې د مثبت غبرګون ښودونکی دی. د (**Healing Crisis, Initial Reaction**) او (**Initial Aggravation**) په اندول.

- Therapeutic Alliance
دا یو ډول همکاری لرونکی اړیکه د شخص خان وژونکی نظریې او درملنه کوونکی ترمنځ بلله شی.

- Therapeutic Alternative
د درملو روغتیائی بیمه چې د ببلابیلو کېمیاوی بڼې لری او په نسخه کې سپارنه کېږی خو په ناروغ باندې ورته اغېزی لری.

- Therapeutic Amniocentesis
درملنیز امنیوسنتېزیس ، هغه ډول پروسیجر چې پکې کوچنی نمونه د امنیوټیک مایع د رحم څخه د ستنې پذرېعه راویستله شی او بیا د جنیټیک ابنارملیتی ګانو د آزموینې لپاره لابراتوار ته استوله شی.

- Therapeutic Anesthesia
درملنیز بېهوښه کول ، د درملنې موخو لپاره بدن ته د انستیټیک موادو تطبیق بلل شی.

- Therapeutic Angiography

درملنې په وړاندې د مثبت یا منفی ناڅاپه بدلونونو او غبرګونونو منځ ته راتګ بلل شی.

- Therapeutic Decision Making

د درملنې په موخه تصمیم نیول .

- Therapeutic Dose

درملنیز ډوز / د درملو درملنیز او اغیزناکه اندازه .

- Therapeutic Drug

درملنیز درمل ، هغه طبی کیمیاوی ماده چې په طب کې د ناروغیو درملنې په موخه پکار وړله شی.

- Therapeutic Exercise

درملنیز تمرین ، د هغه فزیکی تمرینونه تر سره کول چې طبی درملنیز اهمیت لری او د ناروغیو درملنې لپاره ناروغانو ته سپارښتنه کېږی .

- Therapeutic Fever

درملنیزه تودوخه ،د بدن د تودوخې د لوړې درجې (تبې) منځ ته راوړل چې د طبی درملنې په موخه تر سره کېږی لکه ناروغ ته د ترمو اوبو (ګرم حمام) ورکول چې د ناروغیو درملنه پرې کېږی.

- Therapeutic Gain

د درملنې د بیالوژیکه اغیزو تناسب (**Ratio**) دئ چې د یوه تومور او اړوند نېږدې نورمال انساجو کې ښودله شی لوړه اندازه لاسته راوړنه به د درملنې د لږ اختلاط خرګندویه وی لکه د په تر شک لاندې ناروغانو (**Placebo-subtracted**) او ناروغی اړوند غبرګون ځېړنه.

- Therapeutic Hyperventilation

درملنیز فرط تهویه ، په احتیاط او پام سره چې تر کنترول لاندې وی او تنفس چټک کړل شی تر څو د [**Carbon Dioxide (CO_2)** سویه په وینه کې راټیټه کړله شی او د دماغی وینې بهیر (**Cerebral Blood Flow**) راټیټ او کمښت ورکړل شی او دا مېتود د دماغی ترضیضونو له امله د منځ ته راغلې دماغی اذیما په درملنه کې پکار وړی په وصفی توګه د کاربن ډای اکساید قسمی فشار (CO_2) اندازه د (**28 to 32 mm Hg**) پورې راټیټ کول شی .

- Therapeutic Hypothermia

درملنیزه هایپوترمیا ، په غېر نورماله توګه د بدن د تودوخې کمښت منځ ته راوړل .

- Therapeutic Immune Paralysis

د کېمیاوی ډوله ځوال غوځول (**Chemical 'Splenectomy'**) یو مېتود دئ چې د (**Splenic Endocytosis**) نهی کول دی چې د (**Opsonized–Ie, Ig-**) یا د (**Complement-coated Cells**) یا (**Microorganisms**) بلاک کول د (**Fc Receptors**) برخه کې منځ ته راوړل شی، موخې یې اړیکه جوړول خو (**Endocytosed**) نده د درملنیز انجیوګرافی ، د هغه ډول (**Angiographic Catheters**) پکارول چې وکړای شی د وینې بهیر په تر پاملرنی لاندې موضعی سیمه کې لږ یا ډېر کاندې یا د طبی موادو تزریق کړل شی.

- Interventional Therapeutic Angiography

مداخلوی درملنیزه آنجیوګرافی.

- Therapeutic Apheresis

دا هغه ډول درملنیزه جلاکول دی چې پکې د توليې وینې غېر نورمال عناصر (**Pathogenic Component**) سره جلاکول شی لکه د پلازما بدلول (**Plasma Exchange**) چې ورته (**Plasmapheresis**) هم وائی یا د لوکوسیټونو بدلول چې د (**Leukapheresis**) یا د پلاټلېټونو جلاکول چې د (**Thrombocytapheresis**) پنامه یاد ېږی.

- Therapeutic Appliance

هغه ډول وسیله چې په درملنه کې د ځانګړی ډول دندې تر سره کولو لپاره جوړه شوېوی لکه د غاښونو جوړولو او جراحی اړوند ځانګړې وسیلې .

- Therapeutic Area

د در ملنې لپاره ځانګړې شوې او ټاکل شوې سیمه لکه د رادیوتراپی پرمهال د موخې لاندې سیمه چې وړانګې ورته تطبیق کېږی.

- Therapeutic Baths

یو ډول ځانګړې ګرمابه (حمام / وینځل) چې پکې د پوستکی ځانګړې برخې مینځل شی او اړوند (**Crusts, Scales** او زاړه درمل **Old Medications** لېرې کول یا **Inflammation** او **Itching** له منځه وړل) کېږی .

- Therapeutic Burn

درملنیزه سوځونه . دا هغه ډول سوځول دی چې پکې د درملو / تودوخې / برېښنائیز بهیر پذرېعه د یوې برخې نسج سېځل شی او هلته منځ ته راغلې وینه بهېدنه ودرولە شی یا تومورونه راکښله شی . د (**Maqua**) په اندول.

- Therapeutic Cloning

د جنینی ستم حجرو (**Embryonic Stem Cells**) منځ ته راتګ چې د تخریبی حجرو یا غړو د بیا رغونې یا بدلېدنې په موخه چې دا کار د (**Diploid Nucleus**) لېږد پذرېعه له بدنی حجرو څخه د هګۍ (**Egg**) دننه ته چې ورڅخه د هغې هسته (**Nucleus**) راکښلې شوېوی او د (**Harvesting Cells**) پذرېعه (**Blastocyst**) رامنځ ته شوې وی .

- Therapeutic Community

د درملنې سره په تړاو کې ټولنه .

- Therapeutic Crisis

درملنیز ناتار / بحران ، په روان درملنه (**Psychiatry**) کې د

په نری رنځ (Tuberculosis) کې تر سره کېږی . ورته نوم یې مصنوعی پنوموتوراکس (Artificial Pneumothorax) دئ.

- Therapeutic Radiographer

هغه روزل شوې تخنیکی کس چې د راډیولوژی د وړانګو پذرېعه درملنې (X-rays یا Radioactive Isotopes) په څانګه کې کارکوی .

- Therapeutic Radiology

هغه طبی علمی څانګه چې راډیولوژیک د وړانګو پذرېعه درملنې (X-rays یا Radioactive Isotopes) اړوند څېړنېزې چارې سمبالوی .

- Therapeutic Radiopharmaceutical

راډیواکتیف درمل چې چې ناروغانو ته ورکول شی ترڅو د بدن انساجو ته وړانګې رامنځ ته کړی لکه د ($Iodine^{131}$) په څېر چې د تایروئید (Hyperthyroid) غدوی نسج ته د هایپرتایروئیدیزم ښودنې وړتیا ور بخښی ، یا ($Cesium^{137}$; Iridium-^{192}; Radium-^{226}; And Strontium-^{90}) چې د رغېدلی منبع کې کرل شی او د خباثت درملنه پرې تر سره کېږی.

- Therapeutic Temperature

دتودوخی درملنه ، د تودوخی او د حرارت درجی لوړېدنې پذرېعه درملنه .

- Therapeutic Threshold

د داخلې طب له مخې هغه سویه د ناروغانو چې قسماً د درملنې وړ دی برخلاف د هغه چې نورحالتونه لری دا موضوع په (Risk Ratio, Threshold Value، Benefit) کې وګوری.

- Therapeutic Ultrasound

د التراساوند هغه څانګه چې چې پکې درملنه هم تر سره کېږی لکه د (High Intensity Ultrasound) چې (Coagulation Necrosis of Tissue) لامل ګرځی او د سلیم ډول تومورونو(Asuterine Leiomyomata) درملنه پرې کېږی.

- Therapeutic Vaccine

هغه ډول واکسینونه چې د درملنې لپاره تر کار اخیستل شی.

- Therapeutic Vehicle

هغه ډول وسیله چې د درملنیزو مقصدونو د لېږد وسائلو او یا د هغه د موادو ساتلو لپاره تر کار اخیستل شی لکه د (Radium Carrier) په څېر.

- Therapeutic Virus

درملنیز ویروس ، هغه ډول ویروس چې د دردرملنې لپاره تر کار اخیستل شی.

- Therapeutic Vomiting

درملنیزې کانګې ، هغه ډول کانګې پېښول چې د یوه توکسین یا زهری موادو راکښلو لپاره تر سره کېږی.

- Therapeutic Window

درملنیزه کړکۍ ، د درملو د هغه اندازې کچې تراکم او غلظت (TIP) حالت د لوړ ډوز ستېروئید (High-Dose–Corticosteroids Or IVIG) پذرېعه پېښېږی اغېزې یې اوږده موده نیسی او د جراحی یو بدیل د (Immune-Related Hypersplenism) پېښو کې بلل شی تر څو چې طحال قطع کولو جراحی عملیات د اړوند(Autoimmune Hemolytic Anemia, Autoimmune Neutropenia Feltysyndrome) ناروغیو لپاره ترسره شی .

- Therapeutic Indext

د درملنیز درملو هغه اندازه ډوز چې د حجروی مرګ او تخریب لامل ګرځی او د درملنې لپاره اړین ډوز دئ او پرهغه باندې تصمیم نیول کېږی.

- Therapeutic Iridectomy

هغه ډول د سترګو اړوند د (Iridectomy) جراحی پروسیجر تر سره کول دی چې د (Angle-closure Glaucoma) په ناروغی کې تر سره کېږی .

- Therapeutic Lavage

درملنیز لواژ ، لکه د معدی پرېمینځل چې د سمی موادو او اجنبی اجسامو را ویستلو په موخه تر سره کېږی.

- Therapeutic Malaria

درملنیزه ملاریا ناروغی ، هغه ډول تر کنټرول لاندې د ملاریا ناروغی منځ ته راوړل چې د (Neurosyphilis) او نورو فلجی ناروغیو (Paralytic Diseases) په وړاندې پېښول شی. ورته نوم یې ملاریا درملنه (Malariotherapy) دئ .

- Therapeutic Misconception

د تر اشتباه /خطا له مخې په هغه درملنیزه طبی څېړنه کې ګډون چې ناروغ هسې ګڼې او هغه ته دا ډاد ورکول شی ګوندی ناروغی یې ښه والې مومی.

- Therapeutic Modality

هغه مداخلوی موډل چې د یو چا د رغېدنې او ښه والی لپاره تر سره کېږی.

- Therapeutic Nihilism

د درملنې او د درملو او روان درملنې په ارزښت او اغېزو باندې باور نه لرل .

- Therapeutic Penetrating Keratoplasty

درملنیز سورې کوونکې ډول جراحی د سترګو د قرنیې پلاستیک جراحی تر سره کول .

- Therapeutic Phelobotomy

د جراحی عملیات پذرېعه د د وریدونو د وازولو کړنلاره .

- Therapeutic Plasmapheresis

د (Plasma Exchange) په انډول.

- Therapeutic Pneumothorax

درملنیز ښپه پنوموتوراکس ،د درملنې په موخه د صدر جوف (Pleuralspace) ته د کراره جذببدو هوا (Pleuralspace) زرق او وردننه کولو طریقه ده چې تر څو سړی کولاپس درملنې په موخه

- Aerosol Therapy
قطره ئی یا د څاڅکو په څېر د درملو موادو انشاق یا تېرولو له مخې درملنه .

- Animal-assisted Therapy
د روغتیاپالنې (نرسنګ) یوه تصنېفی مداخلوی څانګه ده چې د حېواناتو /څارویو څخه په مرسته سره د (مهربانۍ ، توجه او پاملرنې ، تغیر د مسیر ، هوساینې /رخاوت) لپاره کار اخیستل شی.

- Antibodies Administration of Systemic Therapy
د سیستمیک له لارې د انټي باډی ګانود تطبیق په مرسته درملنه.

- Anticoagulant Therapy
د پرڼ کېدنې (علقې) ضد درملو په کارولو سره د ناروغیو درملنه.

- Antibiotic Therapy
د انټي بیوټیکونو کاروولو پذرېعه درملنه چې په موضعی یا سیتمیکه بڼه کېدای شی .

- Antimicrobial Therapy
په ضد میکروبی ډول سره د انټي په موضعی یا سیتمیکه بڼه دبیوټیکونو کاروولو پذرېعه درملنه چې پکې یو ډول ځانګړې انټی بیوټیک د ځانګړی مېکروب یا ناروغۍ لپاره کارول شی.

- Antineoplastic Therapy
د سرطانونو د ناروغیو ضد درملنه .

- Antiplatelet Therapy
① د وینې پلاټلېټونو (Platelet) ضد درملو (Dipyridamol, Sulfinpyrazone , Aspirin) د ورکړې پذرېعه درملنه .② د دمویه صفیحاتو د راغونډېدو او پیوستون (Adhesion Or Aggregation) د کمښت لپاره د هغو د تعدیل کوونکو درملو څخه کار اخیستل چې د ترومبوز(Thrombosis) د مخنیوی او شریانونو د تصلب () Atherosclerosis د پرمختګ د ډب کولو او ګرافټ تداوم او پاتې کېدنی (Graft Patency) لپاره وی .

- Art Therapy
د درملنې د تر سره کولو هنر چې په روغتیا پالنه کې پکارېږی.

- Aversion Therapy (Aversive Therapy)
دا یو ډول سلوکی درملنه ده چې پکې د بېلابېلو نا غوښتی سلوکونو-روشونو او ځوروونکو تنبهاتو (Unpleasant Stimulation) څخه کار اخیستل شی تر کلېنیکی نښې نښانې کمښت ومومی.د (Aversive Conditioning) په انډول.

- Behavior Therapy
پېښول چې ورڅخه د اغېزو توقع کېږی او له څخه پورته اندازه سمیت پېښېږی .

Therapeutical
د درملنې (Therapeutic) اړوند صفت .

Therapeutics
د درملنو د بېلابېلو ډولونو او د هغه د اغېزو څرګندېدلو څېړنه او تحقیق کولو اړوند علمی طبی څانګه .

Therapest
مهارت لرونکې او روزل شوې د ناروغیو او اختلالاتو درملنه کوونکې کس .

- Psychotherapist
د روانی ناروغیو درملنه کوونکې .

- Physical Therapest
د فزیکی تمرینونو او درملیزو تخنیکو کې ماهر کس پذرېعه درملنه کوول چې د متخصص له خوا ورته د وړاندیز شویو درملو د تجویز ولو وړتیا هم لری.

- Speech Therapest
د خبرو اترو له مخې د ناروغیو درملنه کوونکې ماهر کس چې په همدې ناروغیو درملنې مېتود کې یې ځانګړې روزنه لیدلې وی او دتکلم او ژبې اړوند ستونزو درملنه کوی.

-therapia
دا یو روستاړې دئ او د درملنی معنی په جمله کې بشپړوی.

Therapist
مهارت لرونکې او روزل شوې د ناروغیو او اختلالاتو درملنه کوونکې کس.

Therapy
درملنه ، درمان ، معالجه ، مداوا. د ناروغیو او اختلالاتو (تشوشاتو) درملنه کول.

- Ablation Therapy
① د مایوکارډي نسج د کوچنیو سیمو تخریبونه چې معمولاً د ځینو ټاکی آریتمیا ګانو په درملنه کې میخانیکی یا کېمیاوی انرژی په مټه صورت نیسی، ② د یوه غړی یا یوې برخې د پرې کولو او جذری قطع کولو له مخې د ناروغیو درملنه .

- Activity Therapy
د نرسنګ مداخلوی تصنیفونو کې د روغتیاپال پذرېعه[د ناروغانو ارزوول، هغوی ته سپارښتنه چې ځانګړې شکل لری لکه (روانی-روحی ، فزیکی ،ټولنیز) فعالیتونه پکې (زیاتوالې ،ډېروالی ، چټکوالې ، تداوم)]ومومی ډا کېدای شی چې انفرادی یا ډله ائېز بڼه ولری .

ګډ ډول موډلیزه درملنه ، دا ډول درملنه معمولاً د سرطانونو (ناسورونو) په درملنه کې پکارېږی چې لکه (**Chemoradiotherapy**) کې چې د راډیوتراپی او کیموتراپی ګډ ډول پکارېږی] څخه په ګډ دول کار اخیستل شی. دې ډول ته د (**Multimodality Therapy**) نوم هم ورکول شوېدئ

- Compression Therapy

فشاری درملنه ، هغه ډول درملنه چې د فشار په مرسته تر سره کېږی لکه د اوریدی عدم کفایې (**Venous Insufficiency**) او وربدی وریکوز (**Veins Varicose**) یا د وریدی تقرحاتو (**Venous Ulceration**)] په حالتونو کې د فشاری جورابو یا اغوستونکو پوښاکو(**Support Hose**) پذرېعه د دغه ناروغیو د رپرمختګ څخه مخنیوی او درملنه کېږی.

- Compromise Periodontal Maintenance Therapy

هغه ډول پروګرام چې د (**Periodontal Treatment**) په لړ کې په هغه کسانو کې چې د ببلابېلو ستونزو (اقتصادی محدودیت ، د ناروغ وخامت) له کبله د جراحی عملیات ورته نشی ترسره کېدای د ناروغی د پرمختګ مخنیوی کوی.

- Condom Therapy

د کانډوم د استعمال پذرېعه د ځینې لېږدېدونکو ناروغیو درملنه.

- Conservative Therapy

محافظه کاره درملنه ، هغه ډول درملنه ده چې د مغلق ډول مداخلوی پرسیجر پکې نه تر سره کېږی .

- Continuous Renal Replacement Therapy

متداومه کلیوی معاوضوی درملنه ، معمولاً په بحرانی ناروغانو کې د هیموډیالیز یا هیموفیلټریشن د (**24 Hours**) متداومې درملنې په مرسته تر سره کېږی.

- Convulsive Therapy

د روانی ناروغانو اړوند د روحی اختلالونو ، لومړنی انحطاط لپاره د اختلاجونو او ټکانونو پېښولو (**Electroconvulsive Therapy**) د برېښنائیز لړی بهیر تېرولو په مرسته درملنه کېږی.

- Couples Therapy

د (**Marital Therapy**) په انډول . د واده (ازدواج) په ذرېعه درملنه .

- Cryotherapy

په طبابت کې د سړوخې (سړې هوا او کنګل) په مرسته د تبې او تودوخې د راټیټولو لپاره درملنه ده .

- Diet Therapy

د غذائی رژیم د تنظیمولو په مرسته د ناروغیو درملنه .

- Doxycycline Polymer Therapy

سلوکی درملنه چې په روانی ستونزو درملنه کې کارول شی.

- Biological Therapy

بیولوژیکه درملنه. د داسې موادو په تزریقولو سره د یوې ناروغی درملنه چې د ژوندی موجود کې د بیولوژیک غبرګون لامل ګرځی.

- Carbon Dioxide–Oxygen Therapy

د کاربن ډای اکسایډ –اوکسیجن پذرېعه درملنه .

- Chemotherapy

کېمیاوی موادو / درملو پذرېعه درملنه چې دا ډول درملنه معمولاً په سرطانی ناروغیو درملنه کې کارولې شی.

- Chest Physical Therapy

صدری فزیکی درملنه ، د یو فزیکی تمریناتو پواسطه د صدری /سږو ناروغیو درملنه .

- Chlorhexidine Chip Therapy

د (**Endotoxin**) په انډول.

- Tetanus Toxin

یو پیاوړې اګزوټوکسین چې د (**Clostridium Tetani**) ټېتانی پواسطه تولیدېږی په وسیله تولیدېږی او دوه برخې لری یوه یې نیوروټوکسینی برخه (**Tetanospasmin**) او بله برخه یې هیمولایزینی برخه د (**Tetanolysin**) پنامه ده .

- Toxin-antitoxin (TA)

د ډیفټریا اړوند زهرو او زهرو ضد موادو تقریباً خنثی مخلوط چې د ډیفټریا په ضد معافیت پېښولو کې تر ټ کاراخیستل کېږی.

Toxinology

زهر پېژندنه ، د (ځینو بوټو ، ځناورو او پتوجن باکټری ګانو) پوسیله تولیدېدونکو زهرو څېړنې علم.

Toxipathy

د (**Toxicosis**) په انډول.

Toxo-

دا یو مختاړې دئ او د (سم **Poison** ، زهر ، وښ ، ټوکسین) معنی بشپړوی.

Toxocara

د نیماټودا کورنۍ اړوند پرازیتی چینجیانو یو ډول دئ چې په (سپیانو ، لېوانو ، پېشوګانو ، ځینی وخت انسانان هم اخته کوی) کې لیدل کېږی.

Toxocariasis

د (**Toxocara**) نوعیت چینجی باندې اخته کېدنه . د (**Visceral Larva Migrans**) په انډول.

Toxoid

یو تعدیل شوې یا غېر فعال شوې انډوتوکسین چې تر ټولو لږ یا کم زهرجن توب لری خو له زهر ضد (**Antitoxin**) سره د یوځای کېدنې یا د زهرو ضد (**Antibodies**) تولید یا پاروونی توان لری او د واکسین پتوګه کارول شی ، زهر ته ورته ، د زهرو مشابه ، زهر ډوله جوړښت .

- **Trabecular Fracture**

ترابیکولائی ماتېدنه ، ترابیکولائی کسر.

- **Trabecular Meshwork**

هغه شبکه د الیافو د (**Pectinate Ligaments**) د (**Iridocorneal Angle**) کې د (**Anterior Chamber of the Eye**) او (**Venous Sinus of the Sclera**) ترمنځ پرته ده او هغه واټن یکې پروت دئ چې یکې (**Aqueous Humor**) چې له دوه برخو (**Two Portions**) جوړ دئ ځای لری . د (**Trabecular Tissue of Sclera**) په انډول.

- **Trabecular Pattern**

ترابیکولائی نمونه .

- **Trabecular Reticulum**

ترابیکولائی شبکه .

- **Trabecular Tissue of Sclera**

د سترګو د صلبی ترابیکولائی نسجی رشتې [**Network of Fibers (Pectinate Ligaments)**]چې د سترګو د (**Iridocorneal Angle**) زاویې د (**Anterior Chamber**) او د صلبی (**Venous Sinus**) ترمنځ واقع ده . د (**Reticulum Trabeculare Sclerae**) په انډول.

- **Trabecular Zone**

ترابیکولائی سیمه ، د (**Trabecular Tissue of Sclera**) په انډول.

- **Trabecular Veins**

د ترابیکولا اړوند وریدﻫ

Trabeculation

دپه یوه برخه کې ترابیکولاګانو منځ ته راتګ .

Trabeculate

د شعائی یا متقاطعو ترابیکولاګانو یا میلو په متې پېژندل شی.

- **Trabeculated Bladder**

هغه ډول مثانه چې یکې شکایت شتونو نلری خو مثانه هایپوټونیکه ده چې د عضلی طبقې د ضخامې له امله په (بولی انتانی ناروغی ، متیازو ډنډ کېدنې) کې پېښېږی چې دا حالت معمولاً د احلیل بندښت له کبله منځ ته راځی .

Trabeculectomy

هغه جراحی عملیات چې یکې د سترګو ګلوکوما (**Glaucoma**) درملنه چې د درملو په وړاندې ځواب نه ترلاسه کېږی چې د (**Trabeculae**) دچېنل غوڅولو (**Cutting a Channel**) د (**Schlemm's Canal**) کانال له لارې ترسره کېږی.

Trabeculoplasty

هغه جراحی عملیات چې د یکې د سترګو د عمومی دئ لکه هغه رشتې چې د یوه کپسول ځخه د کپسول دننه جسم داخل ته غځېږی او یو غړې (**Organ**) یا هډوکې نسج (**Bone Tissue**) په برخو باندې ویشی .

- **Trabecula of Bone**

د هډوکو اړوند ترابیکولاګانې . په یوه اسفنجی هډوکی کې هډوکیز پیوستونکی اغزی چې اړونده چاپیریال کې یو جال رامنځ ته کوی چې بیا یې چاپېریال د هډوکو د ماغزو پواسطه ډکېږی.

- **Septomarginal Trabecula**

د جدار-مورګېز ترابیکولاوی، د زړه د ښی بطین په پورتنی نهایت کې عضلاتی ډلګی چې د مخني یا پاپیلاری عضلې ښخ له بین البطینی جدار سره ننبلوی.

Trabeculae

د (**Trabecula**) لپاره ګڼه شمېره ده.

- **Trabeculae Carneae Of (Right And Left) Ventricles**

د زړه د کېنې او ښی بطین ترابیکولونه .

- **Trabeculae Cranii**

د دماغی قحفی ترابیکولاګانې .

- **Trabeculae of Corpora Cavernosa**

د کورنوس جسم ترابیکولاګانې .

- **Trabeculae Of Corpus Spongiosum**

داسفنجی جسم ترابیکولاګانې .

- **Trabeculae Of Lymph Node**

د لمفاوی عقدې (غوټې) ترابیکولاګانې .

- **Fleshy Trabeculae of Heart**

د عضلاتی جنسیت لرونکی نامنظم باندونه / اړیکې چې د زړه د بطینونو د داخلی جدار د لویې برخې ځخه راوتلتیا مومی .

Trabecular

د ترابیکولا اړوندﻫ

- **Trabecular Bone**

ترابیکولائی هډوکې. هغه هډوکی چې ترابیکولاګانې یې د [**Three-Dimensional Latticework (Cancellus)**] د (**Embryonal Connective Tissue**) یا (**Bone Marrow**) ځخه جوړېږی. د (**Substantia Spongiosa**) په انډول.

- **Trabecular Carcinoma**

ترابیکولائی ناسور ، ترابیکولائی اړوند کارسینومائی سرطان .

- **Trabecular Endosteum**

هغه حجروی طبقه چې د هډوکو د مرکزی کانال جوف دننه سطحه یې پوښلې ده. د (**Perimyelis , Medullary Membrane**) په انډول.

کتونکی ټیم پواسطه په جنائی پیښو کې راټولېږی .

- Trace Gas

هر هغه ګاز چې ډېر کمه اندازه وی او د نورو ګازونو سره مل وی. د (**Gas-scavenging System**) په انډول.

- Trace Material

دا یو غېر وصفی اصطلاح ده چې د ډېرې لږې اندازه مواد لپاره پکار وړله شی .

- Trace Mineral

لږه او کمه پیمانه منرال چې په (**Milligram or Microgram**) یې اټکل کېږی لکه د

(**Chromium, Cobalt, Copper, Fluorine, Iodine, Iron, Manganese,Selen ium, Silicon, Vanadium and Zinc**) په څېر مواد .

- Primitive Trace

لومړنې تریس ، د (**Primitive Streak**) په انډول.

Traceable

دسپړلو وړ، دموندلو وړ.

Tracer

هغه مواد معمولاً راډیو اکټیف موادچې بدن ته د زرق وروسته د هغه پواسطه ځانګړی موخې په ننبه کېږی. دنقشې ایستلو سامان لتیوونکی.

- Radioactive Tracer

راډیو اکټیفی تریسر موادچې بدن ته د زرق وروسته د هغه پواسطه ځانګړی موخې په ننبه کېږی.

Trach-

دا یو مختاړې دئ چې د (زیږ ، درشت ، **Rough**) معنی بشپړوی.

Trache-

دا یو مختاړې دئ چې د (هوائی تنفسی نلکې ، شزن ، **Tracheo-**) معنی بشپړوی.

Trachea

وچه غاړه، وچه هوائی مرۍ ، شزن ، توتکی ،هغه هوائی نلکه چې د هغه له لارې هوا حنجرې او سږو ته ورتنوزی په حدو د (**10 cm**) اوږده ده او غضروفی کړۍ لری او د منضم نسج څخه جوړه ده . ورته نوم یې (**Windpipe**) دئ.

Tracheal

دوچې مرۍ اړوند، دوچې غاړې اړوند ، د (**Trachea**) اړوند صفت دئ

- Tracheal Bifurcation

د وچې غاړې تشعب او دوه برخې کېدنې ځای.

ترابیکولونو پلاستیک جراحی کړنه تر سره کېږی.

- Laser Trabeculoplasty

د پرانیستې زاویې په ګلوکوم کې د سترګې د داخلی فشار د کښت لپاره د سترګې په ترابیکولاری جال کې د لایزر پواسطه د سطحی سوځولو پېښول .

Trabeculotomy

د جراحی عملیات پواسطه د (**Sinus Venosus Sclerae**) یا (**Canal of Schlemm**) وازولو جراحی وازېدنه ده چې د (**Glaucoma**) په درملنه کې ترسره کېږی.

Trabeculum

د سترګو د انساجو هغه برخه ټکې چې د (**Aqueous Humor**) درېناړ لپاره دئ .

Trace

دېره لږه اندازه ، ډېره کمه پیمانه ، ننبه کول لکه یو څوک چې د یوه څه په طمع وی او هغه وموسی ، کښل لکه رسم یا نقشه ایستل .

- Trace Amine

هر یو د څو کېمیاوی موادو څخه چې په بدن کې جوړېږی او د (**Biogenic Amines**) په دنده کې پکارېږی لکه په شمول د (**Phenylethylamine and Tryptamine**) ددې مادې کمښت د دماغی حافظې نفوذ او سلوک بدلون سبب ګرځی.

- Trace Conditioned Reflex

هغه رفلکس حالت چې پکې دلنډې مودې د تقویوی او کمکی قوی (**reinforcement**) څخه د مخه او تنبه واردولو سره غبرګون منځ ته راځی چې دا غبرګون د تړننګ پر وخت او وقفې مهال کې سره ورته وی او ډېر لږه اندازه وی.

- Trace DNA

هغه لږه پیمانه (**DNA**) چې د جلدی تماس (**"Mere Touch"**) پواسطه چې د ځانګړی شخص سطحې تائید کېږی ، دا د (**Trace DNA**) حالت بیا د (**Successful DNA Profiles**) په ډول سرچینو

(**Shoe Laces,Chocolate Bars, Door Bells, Urine In Snow, etc**) کې ارزوول شی.

- Trace Element

لږه پیمانه عناصر ، هغه ډول مواد چې د بدن لپاره اساسی دی خو یوازې ډېره لږه اندازه یې لکه (**Cobalt, Chromium, Copper, Magnesium, Manganese, Molybdenum, Selenium and Zinc**) په څېر .

- Trace Evidence

لږی شاهدی اندازه ، هغه شواهد چې د لږې اندازې موادو (**Hair, Fibres,Body Fluids, Textile Samples, Paint Chips, G lass Fragments, Gunshot Residue Particles, Mud, Insects, Etc**) پذریعه انتقال مومی هغه بیا د تحقیقی جنائی ټیم یا طبی

Trachealis

د شزن پورې ترلې او اړوند.

- Trachealis Muscle

شزنی عضلات.

- Vena Trachealis

شزنی ورید ، د (Tracheal Vein) په انډول.

Trachearia

د زولوژی علم له مخې د (Arachnida) یوه ډله چې د هغوی تنفس د شزن پذربعه کېږی په شمول د (Mites, Ticks,False Scorpions, and Harvestmen) په څېر.

Trachearian

د (Trachearia) اړوند ډلې سره په تړاو کې او اړوند صفت.

Tracheid

هر یو د څو جوړښتونو څخه چې په (Xylem) کې موندل شی چې د سلینډر په بڼه دی چې نرې سر لری.

Tracheitis

د شزن جوړښت التهاب.

- Tracheitis Bacterial

باکټریائی د شزن جوړښت التهاب.

- Infective Tracheitis

انتانی د شزن جوړښت التهاب.

Trachel-

دا یو مختاړې دئ او د[غاړې ته ورته جوړښت (Neck; Necklike Structure)، د رحم عنق (Uterine Cervix)] معنی بشپړوی.

Trachelagra

د غاړې (ورمېږ) د عضلاتو کوږوالې /معوجوالې.

Trachelalis

د [Longissimus Capitis (Muscle)] عضلې لپاره زړه اصطلاح ده.

Trachelate

په (Biology) کې د غاړې خاوند څیز ته ویل شی.

Trachelectomy

د رحم عنق (Cervix Uteri) د راکښلو جراحی عملیاتی کړنلاره.

Trachelematoma

هغه ډول هیماټوما (Hematoma) چې په غاړې کې موقعیت ولری.

Trachelism

د غاړې (ورمېږ) برخې د عضلاتو شخی (Spasm) ده چې

- Tracheal Branches

د شزن اړوند شعبې.

- Tracheal Breath Sound

هغه ډول تنفسی غږ چې د ستاتسکوپ پذربعه د شزن لپاسه اوربدل کېږی.

- Tracheal Bronchus

د شزن اړوند شعبې.

- Tracheal Bud

هغه ډول نوې دوه موندنه چې په جنینی دوران کې د (Respiratory Diverticulum) څخه د زنب (Caudal End) په برخه کې منځ ته راځی. د (Lung Bud Primary Lung Bud,) په انډول.

- Tracheal Cartilage

شزنی غضروفی نسج.

- Tracheal Fenestration

هغه جراحی پروسیجر چې د یوه (Epithelialized Mucocutaneous Opening) سوری او وازې برخې جوړېدو په موخه د غاړې څخه تر شزن (Trachea) پورې تر سره کېږی.

- Tracheal Gas Insufflation

د شزن له هوا څخه ډکېدنه او پرسول.

- Tracheal Gill

تنفسی دستګاه د شزن کوچنی مجرا.

- Tracheal Glands

شزنی غدوات ، د شزن اړوند غدې.

- Tracheal Intubation

د شزن دننه د یوې نلکې (ټیوب) ننویستل چې د انستېزی پرمهال تر سره کېږی.

- Tracheal Muscle

شزنی اړوند عضلې.

- Tracheal Sound

شزنی آوازونه. هغه ډول تنفسی غږ چې د ستاتسکوپ پذربعه د شزن لپاسه اوربدل کېږی.

- Tracheal Tickle

د شزن خربدنه ، د شزن پخ پخ کېدنه.

- Tracheal Tugging

هغه یو ډول احساس چې د یوه هوائی پیپ (Windpipe) دننه د کشولو پر ډول احساسېږی دا په (Aneurysm) کې د یوه عرض پتوګه تر سره کېږی.

- Tracheal Vein

د شزن وریدونه چې پکې د اړوند برخو څخه وینه راټولېږی او دزړه لورې ته لېږل شی. د (Vena TrachealiS) په انډول.

Trachealgia

د شزن درد.

اړوند.

Trachelomyitis

د غاړې د عضلاتو التهاب.

Trachelo-occipitalis

د غاړې او قفوی (Occipital) هډوکو اړوند دا یوه ډېره پخوانۍ اصطلاح د [Semispinalis Capitis (Muscle)] لپاره ده.

Trachelopanus

①د غاړې د لمفاوی رګونو پرسوب ،②د رحم د عنق (Cervix Uteri) برخې د لمفاوی چینل پرسوب .

Trachelopexia

د رحم د غاړې (عنق Cervix Uteri) برخې تثبیب جراحی عملیاتی کړنلاره.

Trachelopexy

د رحم د غاړې (عنق Cervix Uteri) برخې تثبیب جراحی عملیاتی کړنلاره.

Trachelоplasty

①د رحم د غاړې (عنق Cervix Uteri) برخې د پلاستیک جراحی عملیاتی کړنلاره.② د غاړې (Neck) پلاستیک جراحی .

Trachelorrhaphy

د رحم د غاړې (عنق Cervix Uteri) برخې د څیرې شویو برخو د ترمیم جراحی عملیاتی کړنلاره.

Trachelotomy

①د رحم د غاړې (عنق Cervix Uteri) برخې لپاسه د جراحی عملیاتی شق ترسره کول .② د غاړې (Neck) شق کولو جراحی .③ د (Cervicotomy) په اندول.

Trachelos

د ستون (Collum) اړوند ډېره پخوانۍ اصطلاح ده .

Tracheloschisis

د غاړې برخې په ولادی ډول سره د فیسور (Congenital Fissure) یا درز شتون .

Trachenchyma

د نباتاتو علم (Botany) کې هغه نباتی نسج چې (Tracheæ) ولری

Trache(o)-

دا یو مختاړې دئ او د (شزن ، توتکی ، Trachea) معنی بشپړوی.

داډول سپزمو ډیک غبرګون د سر په صرعوی ناروغۍ (Epilepsy) کې منځ ته راځی .

Trachelismus

د (Trachelism) په اندول.

Trachelitis

د رحم د عنق (Cervix Uteri) التهاب ، د (Cervicitis) په اندول.

Trachelo-

دا یو مختاړې دئ او دا غاړې ته ورته جوړښت (Neck; Necklike Structure)، د رحم عنق (Uterine Cervix)] معنی بشپړوی .

Trachelobregmatic

د غاړې (Neck) او برګماټیک (Bregma) اړوند.

- Trachelobregmatic Diameter

د غاړې او برګماټیک تر منځ واټن قطر.

Tracheloclavicular

د غاړې (Neck) او ترقوی (Clavicula) اړوند .

- Tracheloclavicular Muscle

د غاړې (Neck) او ترقوی (Clavicula) اړوند غېر نورمال عضلې جوړښت دئ چې ځینې وخت د رقبی فقراتو (Cervical Vertebrae) څخه سرچینه اخلی او د ترقوی هډوکی (Clavicle) په جنبی پایله باندې ارتکاز مومی ، د (Musculus Tracheloclavicularis) نوم هم ورکول شی .

Trachelocyrtosis

د (Trachelokyphosis) په اندول.

Trachelocystitis

د مثانې د عنق التهاب.

Trachelodynia

د غاړې درد ، د عنق درد ، د (Cervicodynia او Neck Pain) په اندول.

Trachelokyphosis

د غاړې د رقبی فقراتو هډوکو بېحده ډېره اندازه قدام ته انحنا موندنه. د (Trachelocyrtosis) په اندول.

Trachelology

هغه طبی علمی (Scientific Study) څانګه چې د غاړې اړوند جوړښتونو د ناروغیو او ترضیضاتو په هکله څېړنې ترسره کوی.

Trachelomastoid

د غاړې او مستوئید هډوکو د [Longissimus Capitis (Muscle)]

د شزن او برانش اړوند وېشنه .

Tracheobronchitis

د شزن او برانش اړوند برخو ګډ ډول التهاب .

Tracheobronchomegaly

د شزن او برانش اړوند برخې په ګډه سره توسع او پرسوب

Tracheobronchopathia Osteochondroplastica

دا یوه نادره ناروغی ده چې پکې (غضروفی او هډوکیز ودې د شزن او قصباتو دننه منځ ته راځی او د (**Sessile Polyps**) او (**Plaques**) تولیدپږی او په قسمس ډول د لومن بندښت پیښوی) شتون لری .

Tracheobronchoscopy

د شزن او قصباتو دننه لومن برخو ویدیو سکوپیکه کتنه

Tracheocele

غور ، جاغور ، جُدره ، د (**Goiter**) په انډول.

Tracheo-esophogeal

د شزن او مری اړوند ،د وچې غاړې او مری اړوند.

Tracheography

د شزن (وچې غاړې) انځور اخیستنه .

Tracheolaryngeal

د شزن او حنجرې اړوند.

Tracheolaryngotomy

د شزن (وچې غاړې) او حنجرې اړوند د ځیرلو یا وازولو جراحی عملیاتی کړنلاره.

Tracheolar

د (**Tracheole**) اړوند صفت .

Tracheole

شزنچه ، د ارتروپوډا (**Arthropod**) کورنۍ کې یو کوچنۍ قصبی ډوله ټیوب جوړښت چې ورځخه د اوکسیجن او کاربن ډای اوکسایډ (O_2 او CO_2) تبادله او نفوذ مومی.

Tracheomalacia

د شزن یا وچې غاړې د غضروفونو نرمښت منځ ته راتګ.

Tracheomegaly

د شزن یا وچې غاړې توسع او لوئېدنې حالت .

Tracheo-oesophogeal

د شزن یا وچې غاړې (**Trachea**) او مری (**Oesophagus**) دواړو پورې اړوند .

Tracheoaerocele

هغه ډول د شزن فتق (**Tracheal Hernia**) چې پکې هوا (**Air**) شتون ولری.

Tracheobiliary

د شزن او تریخی اړوند .

- Tracheobiliary Fistula

د شزن او تریخی اړوند برخو ترمنځ د فیستولی لاړې شتون .

Tracheobionta

د ګڼ شمېر نباتاتو (زړی لرونکو **Seed Plants** ، بندکی **Ferns** ،ګل لرونکو دانو) څخه هر یو چې د بنې ودې موندلی رګیز نسج (**Vascular Tissues**) لرونکې وی او د سکروز (**Sucrose**) او نورو عضوی قوت بخښونکو (تغذیوی **Nutrients**) موادو ترانسپورټ او منرالونو (**Minerals**) او اوبو (**Water**) لېږد لپاره وړتیا ولری ، ورته نومونه یې (**Tracheophyte** یا **Vascular Plant**) دی .

Tracheobranchia

د شزن (**Trachea**) او قصباتو(**Bronchi**) اړوند.

Tracheobronchial

د شزن (**Trachea**) او برانش یا قصباتو(**Bronchi**) اړوند صفت دئ

- Tracheobronchial Aspiration

د شزن او برانش اړوند اسپایرېشن تخلیه .

- Tracheobronchial Diverticulum

د شزن او برانش اړوند ډایورتیکولوم.

- Tracheobronchial Dyskinesia

د شزن او برانش اړوند د حرکتی خوځښت کمښت او له منځه تګ حالت بلل شی.

- Tracheobronchial Groove

د شزن او برانش اړوند ژوره (حفره ئی جوړښت) چې په جنینی دوران کې توپیر کېږی.

- Tracheobronchial Lymph Node

د شزن او برانش اړوند لمفاوی غوټې.

- Tracheobronchial Mucin

د شزن او برانش اړوند مخاط .

- Tracheobronchial Prosthesis

د شزن او برانش اړوند پروتېز (مصنوعی جوړښت) .

- Tracheobronchial Smooth Muscle

د شزن او برانش اړوند ښویه /ملسا عضلات .

- Tracheobronchial Suction

د شزن او برانش اړوند سکشن / پاک کولو کړنه .

- Tracheobronchial Tree

هغه ډول تنفسی آوازونه چې د شزن (وچې غاړې Trachea) لپاسه اورېدل شی.

Tracheophyte

د ګڼ شمېر نباتاتو (زړی لرونکو Seed Plants، بندکی Ferns، ګل لرونکو دانو) څخه هر یو چې د ښې ودې موندلی رګیز نسج (Vascular Tissues) لرونکې وی او د [سکروز (Sucrose) او نورو عضوی قوت بخښونکو (تغذیوی Nutrients) موادو ترانسپورټ، منرالونو (Minerals) او اوبو (Water) لېږد] لپاره ورټیا ولری، ورته نومونه یې (Vascular Plant یا Tracheobionta) دی.

Tracheoplasty

د شزن (وچې غاړې Trachea) پلاستیکه جراحی کړنلاره.

Tracheopyosis

د شزن (وچې غاړې Trachea) التهاب چې زوې او خیری سره مل وی.

Tracheorrhagia

د شزن (وچې غاړې Trachea) څخه د وینې بهېدل. د کرنکې څخه وینه بهېدنه.

Tracheoschisis

په شزن (وچې غاړې یا کرنکې) کې د ولادی بڼې درز (فیسور) شته والې.

Tracheoscopic

د شزن (وچې غاړې، کرنکې) د دننه لومن د کتنې (Tracheoscopy) اړوند صفت.

Tracheoscopy

د شزن (وچې غاړې، کرنکې) د دننه لومن د کتنې اړوند کړنلاره د تراخیوسکوپ پواسطه.

Tracheostenosis

د شزن (وچې غاړې، کرنکې) تنګوالې او تضیق. د شزن (وچې غاړې، کرنکې) د حرکتونو محدویت.

Tracheostomy

د شزن (وچې غاړې، کرنکې) څخه تر ورمېږ یا غاړې پورې یو سوری ایستل پداسې ډول چې د پوستکی او مخاط ترمنځ یو پیوستون رامنځ ته شی. د شزن لومن ته بهر سره د یوه سوری له لارې اړیکه جوړلو جراحی کړنلاره چې پکې یو ټیوب کېښودل شی. دا کړنه تل د شزن او حنجرې د بندښت چې د (Pneumonia, Poliomyelitis یا Diphtheria) له کبله په پېښو کې تر سره کېږی.

- Tracheo-oesophageal Fistula

د شزن یا وچې غاړې او مری د دواړو تر منځ د فیستول شتون.

- Tracheo-oesophageal Folds

د شزن یا وچې غاړې او مری د دواړو فولډونو (قاتونو) برخو اړوند.

- Tracheo-oesophageal Puncture

د شزن یا وچې غاړې او مری د دواړو سوری کېدنې (ېذل) اړوند.

- Tracheo-oesophageal Septum

د شزن یا وچې غاړې او مری د دواړو ترمنځ د حجاب (پردې) شتون اړوند.

- Tracheo-oesophageal Shunt

د شزن یا وچې غاړې او مری د دواړو ترمنځ د ارتباطی لارې (Shunt) شتون اړوند.

Tracheopathia

د شزن یا وچې غاړې هرډول ناروغی ته ویل شی.

- Tracheopathia Chondro-osteoplastica

د شزن یا وچې غاړې کاندرو ډیسپلاستیک ناروغی ته ویل شی.

Tracheopathy

د شزن یا وچې غاړې هرډول ناروغی ته ویل شی. د هوائی کرپندوکی نلکې ناروغی.

Tracheopharyngeal

د شزن یا وچې غاړې او بلعوم دواړو اړوند.

Tracheophilus

دا د تریماتودا (Trematodes) جینوس او د کورنۍ اړوند (Cyclocoelidae) سره په تړاو کې پرازیت دئ چې په اوبو کې الوتونکو مرغانو (Aquatic Birds) کې ناروغی پېښوی.

- Tracheophilus Cucumerinum

داد کورنی مرغاوی ګانو کې په (Trachea, Air Sacs او Esophagus) کې موندل شی د همدې برخو بندښت جوړوی او او د (Dyspnea او Asphyxia) لامل ګرځی.

- Tracheophilus Cymbius

دا د کورنی مرغاوی ګانو کې په (Trachea, Bronchi) کې موندل شی د همدې برخو بندښت جوړوی او او د (Dyspnea او Asphyxia) لامل ګرځی. د (Tracheophilus Sisowi Syndrome) په اندول.

- Tracheophilus Sisowi Syndrome

د (Tracheophilus Cymbius) په اندول.

Tracheophonesis

د زړه د غږونو اورېدنه د قص هډوکی د لیندی (Sternal Notch) لپاسه.

Tracheophony

(Scar Tissue) په رامنځ ته کېږی او عامل یې باکتری ته ورته جوړښت لرونکې ویروس (Chlamydia Trachomatis) دئ د حاره (تودو سیمو) ملکونو کې ډېره منځ ته راځی .

Trachomatous

تراخومی ، د (Trachoma) لپاره اړوند صفت .

- Trachomatous Conjunctivitis

د سترګو تراخومی د ملتحې التهاب ، تراخومی کانجکټیویټ .

- Trachomatous Keratitis

د سترګو تراخومی د قرنیې التهاب ، تراخومی کراټیټ .

- Trachomatous Panniculus

د سترګو د قرنیې د پورتنی برخې (Panniculus) چې د تراخم (Trachoma) ناروغی سره مل وی .

- Trachomatous Pannus

د سترګو د قرنیې د پورتنی برخې (Pannus) چې د تراخم (Trachoma) ناروغی سره مل وی .

Trachonychia

دا یو ډول نادره آیډیوپټک اختلال دئ چې د ګوتو نوکان (Finger او Toenails) اخته کوی او د [اوږدوالی شخی ،ماتېدونکې او شکنند ، مقوس کېدنه، Opalescent Discoloration او نوکان ښائی چې اسفنجی (Spongiotic)او (Hyperkeratotic) بڼه ولری چې د (Lichen Planus, Eczema, Psoriasis) سره مل وی] او د (Alopecia Areata) درملنه د (PUVA, Antifungals او Steroids) پذرېعه ځواب نه ورکوی .

Trachyandra

دا یو ډول نباتی جینوس دئ چې د (Liliaceae) کورنۍ پورې تړلې دئ او یو ډول زهر چې نا پېژندل شوی (Unidentified Toxin) بڼه لری افرازوی د [Acquired Lipofuscinosis Storage Disease] ناروغۍ لامل ګرځی چې پکې(Exercise Intolerance, Incoordination, Recum bency, Tremor, Paralysis) سره مل منځ ته راځي او د [Trachyandra.Divaricata او Trachyandra Laxa] ډولونه لری په سهیلی آفریقا موندل شی.

Trachychromatic

د یوې هسته چې د ژور کروماټینی رنګ یې اخیستې وی لیدل شی.

Trachyonichia

د ویترنری علم کې د نوکانو هغه ناروغی چې پکې د

- Tracheostomy Button

د تراخیوستیومی تنۍ .

- Tracheostomy Care

د تراخیوستیومی ځارنه او مراقبت کول .

- Tracheostomy Hook

د تراخیوستیومی چنګک (خنګری) .

- Tracheostomy Tube

د تراخیوستیومی ټیوب / نلکه .

Tracheotome

هغه وسیله / چاړه چې شزن پرې غوڅ او وازېږی.

Tracheotomy

هغه جراحی عملیاتی کړنلاره چې شزن پرې غوڅ او وازېږی.

- Inferior Tracheotomy

شزن د ښکته برخې چې د ټایروئید غدې تر تنګې (ایستموس) لاندې د وازولو او سوری جوړولو جراحی کړنلاره .

- Superior Tracheotomy

شزن د پورتنۍ برخې چې د ټایروئید غدې تر تنګې (ایستموس) تر سر برخې سره د وازولو او سوری جوړولو جراحی کړنلاره.

- Tracheotomy Tube

د تراخیوتومی اړوند ټیوب یا نلکه .

Trachitis

د شزن (وچې غاړې ، کرنکې) التهاب .

Trachoma

د سترګو د ملتحې او قرنیې التهابی یوه لېږدېدونکې (ساری) ویروسی ناروغی چې پکې (فوټوفوبیا ، درد ، اوښکې بهېدنه ، سترکو سوروالې) رامنځ ته کېږی او عامل یې (Chlamydia Trachomatis) دئ د حاره (تودو سیمو) ملکونو کې ډېره منځ ته راځی .

- Trachoma Body

د حجراتو څخه جوړه هغه ډول کتله ده چې پکې د سترګو د ملتحې اړوند اپیتلیال کې لیدل شی او د تراخوما په ناروغۍ کې منځ ته راځی.

- Trachoma Virus

د (Chlamydia Trachomatis) ویروسی عامل لپاره نوم دئ.

Trachomata

په پټالوژی علمی څېړونکې څانګه کې د سترګو د ملتحې او قرنیې مزمنه بڼه التهابی یوه لېږدېدونکې (ساری) ویروسی ناروغی چې پکې (فوټوفوبیا ، درد ، اوښکې بهېدنه ، سترکو سوروالې) او ځینی وختونه ندبه (

ونډه اخلی

- Digestive Tract

هضمی جهاز چې د خولې څخه تر کونې (مقعد) پورې اوږدوالې لری.

- Dorsolateral Tract

ظهری –جنبی لاره . د عصبی رشتو هغه ډله چې د خلفی ستون په څټ کې د نخاعی طناب په وحشی جدار کې ځای لری.

- Extracorticospinal Tract

د عصبی سیستم قشری نخاعی څخه پرته بله لاره . د (**Extrapyramidal Tract**) په انډول.

- Extrapyramidal Tract

خارج الاهرمی لاره .

- Flechsing's Tract

د (**Spinocerebellar Tract Posterior**) په انډول.

- Gastrointestinal Tract

د معدې او کولمو جهاز ، هضمی جهاز چې د خولې څخه تر کونې (مقعد) پورې اوږدوالې لری.

- Gower's Tract

د (**Spinocerebellar Tract Anterior**) په انډول.

- iliotibial Tract

د فاسیا لاټا (**Facia Lata**) اړوند یو اوږد او پنډ باند چې د ټنسور له عضلې څخه ښکته لورې ته د لښګیو د قصبی (**Tibia**) هډوکی تر اړخیز کونډیل (**Lateral Condyle**) پورې غځېږی.

- Intestinal Tract

غټې او کوچنی کولمې په ګډه سره .

- Nigrostriate Tract

د عصبی رشتو یو بنډل چې تورې مادې څخه په کارپوس ستریاټوم کې تر پوټامن او ګلوبوس پالیدوس پورې غځېږی د دې برخې خرابېدل د پارکینسون لامل ګرځی.

- Optic Tract

د بصری عصب د تېرېدنې لاره.

- Pyramidal Tract

د عصبی رشتو دوه ډلې چې له ماغزو څخه سرچینه اخلی او د نخاعی رسی له لارې قدامی ښاخونو حرکتی حجرو ته ورځی.

- Respiratory Tract

تنفسی جهاز ، هغه غړی چې سږو ته هوا ننوتل او له وینې سره د ګازاتو تبادله تأمینوی چې له پوزې پیل او تر اسناخو رسېږی.

- Tract Sinus

اړیکه د پتالوژیک مسافې او او اناټومیک جوف ترمنځ چې لاره یې د اپیتلیوم پذرېعه پوښلې ده.

- Spinocerebellar Tract Anterior

د نخاعی طناب په جانبی پټی کې د عصبی رشتویوه ډله چې د مقابل لوری د توربخنې مادې څخه سرچینه اخلی او د مخیخ له پورتنی پیډنکل څخه مخیخ ته ورداومی .

(نوکانو التهاب ، ماتېدنه ، زیږوالې او ناهمواری) په ګډه دول سره پېښېږی .

Trachyphonia

د غږ پنډوالې او زیږ والی ، د (**Hoarseness**) په انډول.

Tracing

د رګ ، دټوپ اودزړه ددرزیدو دښودلو آله، دخاپې اینبودنه، کاپي کول، کاپي، کاپي شوی انځور.

- Tracing Cloth

د ټوکرانو لپاسه خاپه اینبودنه .

- Tracing Distortion

د کجکولی بڼې (معوج ډول) خاپې منځ ته راتګ .

- Tracing Paper

ترېسینک کاغذ په لابراتواری آزمایښتونو کې پکار وړی .

- Tracing Routine

روټین /عادی ترېسینګ

Trackless

پرته له منډ، پرته له پل، رو، پرته له لیکه، پرته له نرۍ لار پټه یا پټلی (دلوبو دپیل کیدو کرښه پټلی).

- Trackless Surgery

پرته له نرۍ لار پټه یا پټلی کار پیل / جراحی کول .

Tracker

درک لګوونکی.

Tracoma

د (**Trachoma**) په انډول.

Tract

①لاره چې ورځخه له یوې برخې بلې ته یو څه تېرېږی، مجرا ، د بهېدو ځای او سوړه ، طریقه ، کانال ، ټیوب لکه د هضمی جهاز په څېر . ②د بنډلونو لړۍ لکه د عصبی رشتو بنډلونو ډلګی چې ګډه سرچینه ولری په څېر .

- Alimentary Tract

هضمی جهاز چې د خولې څخه تر کونې (مقعد) پورې اوږدوالې لری.

- Atriohisian Tract

د مایوکارډ رشتې چې یوه فرعی لاره جوړوی او دهلېز (اذین) نبغ په نبغه د هیس بنډل سره نښلوی او د اذینی –بطینی غوټې فزیولوژیک څنډ له منځه ځی او د بطینونو د وخت څخه د مخه د تحریک لامل ګرځی .

- Biliary Tract

د تریخی سیستم . صفراوی لاره . هغه ګاونډی غړی او نور عوامل چې د تریخی په (افراز ، ساتنه او اثنی عشر ته په لېږدېدنه) کې

مرۍ قیفی بڼه جوتېدنه) چې د بهر څخه د التصاق له کبله منځ ته راځی او د کششی قوې له امله یو رتج (Diverticulum) جوړوی د مرۍ په بعیده برخې کې د (Tuberculous Hilar or Mediastinal Lymphadenitis) له کبله پېښېږی.

- Elastic Traction

الاستیکی ترکشن . د یوې ارتجاعی قوې په مټه یا یوې الاستیکی وسیلې له لارې کشش.

- Traction Epiphysis

د هډوکو د اپیفیزیس برخې ترکشن .

- Traction Frame

د ترکشن لپاره اساسی چوکاټ اوفریم .

- Full Traction

کامل او بشپړه بڼه ترکشن .

- Traction Point

د ترکشن لپاره ثابت ټکې .

- Traction Radiography

د ترکشن اړوند راډیوګرافی اخیستل .

- Traction Response

د ترکشن تړلو څخه وروسته په درملنه کې د هغې ځواب او توقعاتو تر سره کېدو کچه.

- Traction Splint

د ترکشن لپاره تثبیت کوونکې اتل / مېزابه .

- Traction Treatment

د ترکشن تړلو څخه وروسته دهغه په مرسته درملنه لکه د ماتو هډوکو .

- Skeletal Traction

اسکلېټی ترکشن . هغه کشش یا فشار چې نېغ په نېغه بڼه د (مېخ ، سیم ، سیخ او نور...) په وسیله په اوږدو هډوکو راوستل کېږی.

- Skin Traction

جلدی ترکشن ، د بدن په یوې برخې باندې کشش یا فشار د داسې وسیلې له لارې چې په یوه باندې / اړیکې سره د بدن سطحې د پوستکی سره نښلوله شی او د کشېدو په مرسته ترکشن تر سره کول.

Tractotomy

دا یوه جراحی درملنه ده چې پکې د عصبی تګلورې (Nerve Pathway) قطع کېږی تر څو د درد احساس دماغ ته (Brain Sensations) کمښت ومومی . د یوه عصبی مسیر غوڅول د جراحی په وسیله.

Tractator

هغه څوک چې ترکټونه لیکی .

- Spinocerebellar Tract Posterior

د نخاعی طناب په جانبی پټۍ کې د عصبی رشتویوه ډله چې تر ډېره د نوکلیوس توراسیکوس څخه سرچینه اخلی او د مخیخ له لاندینی پیډنکل څخه مخیخ ته وردرومی .

- Spinothlamic Tract

د نخاعی طناب په جانبی پټۍ کې د عصبی رشتویوه ډله چې د مقابل لوری د توربخنې مادې څخه سرچینه اخلی او د مخید تلاموس په لورې وردرومی دا ډله د درد او تودوخی احساس سیالې لېږدوی.

- Urinary Tract

بولی لاره ، د متیازو جوړونکی او لېږدوونکې غړو اړوند جهاز چې پکې (بډوډی ، حالبونه، مثانه او احلیل) ونډه لری.

- Uveal Tract

د (کروئیډ ، باڼه اییز جسم او عنبیې په ګډون) د سترګو وعائی چتر.

Tractable

په اسانه ډول سره د (د کنټرول وړ ، د تحمل وړ ، د زغم وړ) حالت.

Tractableness

د (Tractable) په انډول .

Traction

د کشېدنې هغه پروسیجر چې پکې په دوامداره توګه د یوې کششی قوې (Pulling Force) پذرېعه د ماتو هډوکو سمون منځ ته راځی او معمولاً د اندامونو اوږدو هډوکو لپاره پکار وړله شی.

- Axis Traction

محوری ترکشن . په ولادی څانګه کې د حوصلی محورونو په څېر د یوه محور په اوږدو کې کشش او فشار .

- Traction Alopecia

هغه حالت چې پکې په منتشر ډول سره د ویښتانو تګ منځ ته راځی دا د دوامداره کششی قوې اویا هم د تدور سره پېښېږی او معمولاً د (Hair "Softeners") پکارول یا هم دایمی ډول د (Permanent Wave Solutions or Hot Combs) پکار وړلو کې منځ ته راځي چې د (Alopecia Marginalisis) د همدې ډول الوپسیا بلله شی. د (Traumatic Alopecia) په انډول.

- Traction Bronchiectasis

دا هغه ډول پېښه (Phenomenon) چې په قصباتو (Bronchi) او قصیباتو (Bronchioles) کې برخې د (Surrounding Pulmonary Fibrosis) له کبله وازې پاتې کېږی او پکې (Increase Inelastic Recoil) منځ ته راځی دا د (Cicatrization Atelectasis) سره په ګډه منځ ته راتلای شی.

- Traction Diverticulum

دا یو ډول (موضعی تخریب(Distortion) ، زاویه (Angulation) او د

Tractella
د پروتوزواګانو قدامی برخې (Locomotor Flagellum) ته ویل شی.

Tractellum
د (Tractella) ګڼه شمېره ده.

Tractus
د (Tract) اړوند صفت.

Tragal
د (Tragus) اړوند صفت.

Tragus
د غوږ صیوان ، د غوږ پکه ، د غوږ هغه غضروفی برخه چې د (Auditory Canal) بهر کې پرته ده .

Trainable
د روزنې او زده کړو وړ تیا او توان لرل ، د روزنې وړتیا لرونکې .

Training
د ښوونې اوروزنې عملی کوولو پر بنسټ ولاړ ښوونیز– روزنیز سیستم ، د زده کړو هغه پروسه چې یو څوک یې د پرکتېس او عملی کار پرمهال ترلاسه کوی.

- Assertiveness Training
د جسارت لرولو سره روزنه ، جسارتی زده کړه. چلندیز درملنې یو ډول دئ چې پکې شخص ته مناسب بین الفردی چلندیز ځوابونه ښودل کېږی پدې طریقه کې د شخص د منفی او مثبتو احساساتو رابرسېره کول هم شاملېږی.

- Bladder Training
د مثانې روزنه ، د مثانې ظرفیت زیاتولو پروسه چې د شپې له خوا په متیازې کوونکو (بې واکی) ناروغانو کې تر سره کېږی.

- Bowel Training
د کولمو روزنه ، د کولمو د حرکاتو سمون په موخه د کولمو روزنه ده چې دغایطی موادو په بې واکی اخته ماشوم یا بالغ کس ته د غایطی موادو د کنټرولولو د چل او چلند ښودل .

Trait
هره ځانګړې جنیټیکی لوښه . په یوه هی.تروزایګوټ کس کې د یوه مغلوب اختلال د شتون وضعیت ته هم ویل کېږی ځانګړی او خاصه ځنښه یا چلندیزه طرحه ، مشخص صفت ، خاصیت. خصلت ، خصیصه ، خصوصیت .

- Sickle Cell Trait
د سیکل سل حجرو ځانګړې ځنښه .

Trance
هک پکتوب، هېښه، لکه دخوب پریښاني ، خوبولتیا ، بې سدی. خوب ته ورته د هوښ بدلون یو حالت چې د فوکل شعور د زیادښت او د شا وخوا چاپېریال څخه د باخبری د کمښت یوځای وی.

- Hypnotic Trance
هیپنوټیک بې سدی .

Tranexamic Acid
هغه درمل چې شدیده وینه بهېدنه کنټرول کوی.

Tranquil
آرام، سوکه، غلی، ولاړ، کرار.

Tranquility
آرامی ، سوکالی، غلی توب، کراری.

Tranquilliser
آرامتیا بخښونکي او (Antipsychotic, Anxiolytic or Hypnotic) ضد د رمل / دارو.

Tranquillity
آرامی ، سوکالی، غلی توب، کراری.

Tranquilize
آرامول، سوکه کول، غلی کول، کرارول، خوټولی کول.

Tranqulizer
آرامتیا بخښونکي اغېزو لرونکی او (Antipsychotic, Anxiolytic or Hypnotic) ځانګړنو لرونکی د رمل / دارو.

- Major Tranqulizer
د آرامتیا بخښونکو درملو څخه لویه / غټه ډنه لرونکې درمل لکه په روانی ناروغیو کې استعمالېدونکی درمل .

- Minor Tranqulizer
د آرامتیا بخښونکو درملو څخه ټیټه / کوچنی ډنه لرونکې درمل لکه د اظطراب ضد درمل .

Trans
په عضوی کېمیا کې د ناځرګندویه اصلی جوړښت په مقابل لوری کې د ټاکل شویو راډیکالونو یا اټومونو لرل.

Trans-
دا یو مختاړی دئ او د (پورې خوا، هغه خوا ، په بله خوا Across په هغه غاړه تېر ، په اوږدو کې ، پورې غاړه ، له مینځه Through څخه) معنی بشپړوی.

Transabdominal
د ګېډې له لاړې ، د بطن له لورې یا د ګېډې د جوف له

منځ څخه.

Transcend
ترټاکلي اندازې تیری کول، بریالی کول، وړاندې کول: بریالی کیدل، وړکیدل، وړاندې کېدل، مخکښې کېدل.

Transcendent
له معمولي اندازې زیات، فوق العاده، بې کچه، بې ساري.

Transcendental
له معمولي اندازې نه زیات، خارق العاده، بېکچه، بې ساري، بې اندازې، له از مینبته پورته، له تجربې نه جګ.

- Transcendental Meditation
د هغه درملو پذرېعه چې له معمولي اندازې څخه زیات وی.

Transcobalmin
د پلازمائی دري ډوله پروټینونو څخه هر یو چې له کوبالامین سره یو ځای کېږی او هغه لېږدوی لنډه نښه یې (**TC**) ده.

Transcortical
د ماغزو د قشر (کورټکس) د دوه برخو سره نښلول.

Transcortin
یو الفأ –ګلوبولین چې بیولوژیک پلوه د فعال او غیر مزدوج کورتیزول سره نښلی او هغه په پلازما کې لېږدوی.

Transcranial
د کوپړۍ (جمجمې) له منځ څخه تر سره شوې.

Transcript
لیکنه، نقلونه، کاپي، نقل، ډک شوی ریګاټ، ټیکلی.

Transcriptase
د (**DNA**) د هدایت له مخې د (**RNA**) پولیمېرکوونکی انزایم؛ هغه انزایم چې د رایبونوکلیوزید ترای فاسفېټ څخه (**DNA**) د طرحې په بنسټ د (**RNA**) جوړېدنه کتلایز کوی.

- Reverse Transcriptase
بیرته په شا تلونکې ترانسکریپټېز انزایم.

Transcription
پوره لیکنه، نقلونه (دیادداشتونو ،یاددښتونو)، د کاپي کولو عمل تر سره کول، د ویناووبشپړ نقل په لیکلې بڼه منځ څخه.

Transacetylation
د استایلېشن پذرېعه. یو کېمیاوی تعامل چې د استایل رادېکال پکې لېږدول شی.

Transacylase
هغه ډول انزایم چې د ترانسایلېشن د عمل کتلایز په غاړه لری.

Transacylation
هغه کېمیاوی تعامل چې د اسایل (**Acyl**) رادېکال پکې لېږدول شی.

Transaminase
ترانسامینېز ، هغه انزایم چې د امینواسیدونو (**Transamination**) تر سره کوی. د (**Aminotransfrase**) په نامه.

Transamination
هغه پروسه چې پکې امینواسیدونه په کبد (ینه، ځیګر) کې مېتابولایز کېږی. د مختلفو امینواسیدونو تر منځ د امینی ګروپونو راستنېدونکی اوښتنه او بدلون.

Transantral
د یوه جوف یا سینوس په اوږدو کې ترسره شوی یا دهغه د له منځ څخه.

Transaortic
د ابهر له منځ څخه تر سره شوې.

Transaudient
د غږیزو څپو لپاره د جذب وړ.

Transaxial
د بدن د طولانی محور یا د یوې برخې د طولانی محور په وړاندې په قایمه زاویه کې ځای نیول.

Transbasal
د قاعدې له منځ څخه.

Transcalosal
د ماغزو د کارپوس کالوزوم په اوږدو کې تر سره شوې یا دهغه له منځ څخه.

Transcalvarial
د سر د کوپړۍ د پورتنۍ تاړاک (قبه ،ګنبذ) برخې له لارې یا دهغه له منځ څخه.

Transcatheter
د یوه کتېتر دننه بهېدونکی تشې له لارې یا دهغه له

نیورنی اطلاعات په هورمونی اطلاعاتو اړوی.

Transducin

د سترګو د شبکیې د استوانه ئی حجرو ډیسک د غشأ (G) ډوله پروټین چې د فعاله شوی روډوپسین سره تعامل کوی او د باصری عصبی سیالې د پښښدنې په پیل کې ونډه اخلی.

Transduction

په باکتری ګانو کې د جنیټیکی تلقیح (Recombination) یو ډول چې په هغه کې د باکټریوفاژونو له لارې د (DNA) باکتری ګانو ته لېږدول شی . د انرژی د بنې اړول هغسې چې د بدن حسی مېکانیزمونه یې تر سره کوی.

- Sensory Transduction

هغه مرحله چې په لړ کې یې یوه حسی آخذه محیطی تحریکونه په کاری پوټانسیال اړوی تر څو مغزو ته ولېږد ېږی.

Transdural

د عصبی سیستم بهرنی پوښ ډیورا مټیر له منځ څخه یا په اوږدو کې.

Transection

عرضانی پرې کول ،سورور سکښت یا د هغه له لارې وېشل.

Transegmental

د سګمنټونو ترمنځ ، دسګمنټونو له لارې.

Transeptal

د پردې (غشأ) له لارې .

Transexual

د جنسی اړیکو ټینګښت له لارې لکه د زهروی ناروغیو لېږد. هغه حالت چې پکې یو څوک په ځانګړې توګه نارینه د خپل جنسیت اړوند نارامتیا احساسوی .

Transexualism

د جنسی اړیکو ټینګښت پربنسټ ولاړ یا د هغې له لارې لکه د (زهروی ناروغیو لېږد).هغه حالت چې پکې یو څوک په ځانګړې توګه نارینه د خپل جنسیت اړوند نارامتیا احساسوی .

Transethmoidal

د غربالی هډوکی (ایتموئید) له منځ څخه تر سره شوې یا د هغه په اوږدو کې .

Transfer

بدلونه، بدلیده. دیوه ځای نه بل ځای ته نقل کول ،کور ، ډک شوی ریکارډ (ټیکلی). په جنیټیک کوډ کې د (Transferred From DNA) څخه کاپی شوې بنې د (Messenger RNA) مالیکول ته چې دا بیا نېغ په نېغه پروټین تولېدوی.

Transcription

د (DNA) د طرحې له مخې د (RNA) جوړېدنه ؛ هغه انزایم چې د (RNA) پولیمرایز انزایم په وسیله تسهیل کېږی د (RNA) او (DNA)اصلی لړی چې یو د بل بشپړوونکی دی.

Transcutaneous Electrical Nerve Stimulation

د پوستکی له لارې د برېښنائی وسیلې پذرېعه د عصب پاروول چې لنډه نښه یې (TENS) ده .

Transdermal

د پوستکی له لارې ، د د پوستکی دننه طبقاتو له لارې د درملو تېرولو اړوند.

- Transdermal Aplications

د پوستکی له لارې تطبیق کول .

- Transdermal Injection

د پوستکی له لارې دزرقیاتو تطبیق کول .

- Transdermal Medicine

د پوستکی له لارې د طبی درملو تطبیق کول .

- Transdermal Patch

د پوستکی له لارې د درملو موادو څخه ډک (Patch) تطبیق کول چې د وخت په تېرېدو سره په کراره توګه ورځخه بدن ته مواد جذب مومی.

Transdiaphragmatic

د حجاب له لارې ، د ډیافراګم پردې له لارې .

- Transdiaphragmatic Approach

هغه ډول عملیاتی جراحی کړنلاره چې د ډیافراګم له لارې تر سره کېږی.

- Transdiaphragmatic Hernia

د (Diaphragmatic Hernia) په اندول.

- Transdiaphragmatic Intervention

د ډیافراګم پردې له لارې مداخله.

Transducer

هغه وسیله چې یو ډول انرژی په بل دول اړوی لکه (فشار ، تودوخه ، نبض) چې په برېښنائی سیګنالونو اړوی.

- Neuroendocrine Transducer

هغه نیورون چې د هایپوفېز (نخامیه) د نیورونونو په ځېر د تحریک کېدو په صورت کې یو هورمون افرازوی او په دې ډول

اړونه، بدلون.

Transfrontal

د تندي (جبهی) هډوکی له منځ څخه .

Transfuse

تویول، ډکول، اچول لکه (له یوه لوښي بل ته)، تېرول لکه (وینه له یوه سړي څخه بل ته).

Transfusion

دویني تیرونه، وینه ورکونه. د وینې بهیر ته د بشپړې وینې یا د هغې د محصولاتو (Saline Fluids) تېرول.

- Animal-to-human Transfusions

د حیواناتو څخه انسانانو ته وینه تېرول دا پخو وختونه پکار بده.

- Autologous Blood Transfusion

همنوع وینه تېرول دی چې له هماغه ناروغ کس (Patient's Own Blood) څخه پخپله هماغه کس ته وینه تېرېږی چې د عملیاتون په جریان کې په برطانیه کې کار بدله چې یو ښه کار بلل کېده.

- Better Blood Transfusion

د وینې تېرولو آسانه او مصؤون مېتود دئ چې پکې خطري د (Infection) لېږې کېږی او (Pathogen-reduced Plasma) پکار وړله شی.

- Blood Transfusion

د وینې تېرېدنه ، نقل الدم ، د وینې ټرانسفیوژن .

- Transfusion Committee

د وینې ټرانسفیوژن کمېټه .

- Transfusion Compatibility

د وینې ټرانسفیوژن مطابقت او برابری .

- Complications of Blood Transfusion

د وینې ټرانسفیوژن اختلاطونه.

- Transfusion-dependent Patient

هغه ناروغان چې یوازې د وینې تېرولو پورې تړلی وی.

- Direct Transfusion

نېغ په نېغه د وینې ټرانسفیوژن .

- Exchange Transfusion

بدلوونکې بڼه ټرانسفیوژن دا ډول په نوې زېږېدلو ماشومانو کې د ژېړی (Hyperbilirubinemia) چې د اډ هېمولایټیک وینه لړی ، هغه شدیده وینه لړي چې د زړه عدم کفائي سره وی Hemolytic Disease of Newborn ، د (Antibody-Coated Red Cells and Excess Bilirubin) د (Single-volume Exchange کې چې 75%سري حجري او په Double-volume Exchange' (160–200 ml/kg) کې چې 90%سري حجري) کې د لومړنیو سره کرېواتو(Initial Red Cells) لېږې کولو په موخه او پدې کې (50%) د رګونو دننه (bilirubin) هم ایستل کېږی، د وینې ګروپونو او د اختلاف نه تطابق] کې منځ ته راځي تر سره کېږی.

- Fresh Frozen Plasma Transfusion

د وینې د تازه پلازما ترانسفېوژن چې په [Congenital Factor

بدلول، پاتې کېدل لکه (میراث)، ټاپه کول.

- Transfer RNA

هغه (RNA) چې د پروټین څنګېر ونو امینو اسیدونو سره ننښتی وی او په رایبوزوم کې جوړ شوېوی.

Transferable

دوړلو وړ، منقول.

Transferase

ټرانسفرېز. د انزایمونو هغه ډول چې له یوه مرکب څخه بل ته د یوه کېمیاوی ګروپ د لېږدولو لامل ګرځی.

Transferee

د (حق، ملکیت، امتیاز، میراث) اخیستونکی.

Transference

له یوه ځایه بل ځای ته بدلون ، وړنه . په روانپوهنه کې په حال کې یو بل کس ته د شخص د هغه احساساتو او چلند د ارجاع کولو لپاره یو ناخود آګاه لېوالتیا چې هغه ته ژوند په لومړنیو وختونو کې کې مهم وی په ځانګړی ډول روانی ناروغانو په خپلو پلرونو پورې اړوند چلندونه درملګر ته لېږدوی.

Transferor

بدلوونکی، پرېښودونکی.

Transferrin

هغه مواد چې په وینه کې شتون لری او د وینې په بهیر کې د اوسپنې لېږد په غاړه لری او د (Siderophilin) پنامه هم یاد ېږی.

Transfiguration

دبنې بدلون، دڅیرې اوښتنه.

Transfigure

بدلول، دبنې اړول ، لوړول، هسکول لکه (په ستاینه)، سرلوړي کول.

Transfix

د بدن د یوه برخې پرې کول یا قطع کول . سوری کول، پوري ووړې سوری کول، تثبیت کول یا میخول، ځای په ځای درول، ګنډل.

Transfixion

له منځ څخه بهر خواته د یوه هډ غوڅول او سوری کول لکه څه ډول چې د غړو په غو څولو کې تر سره کېږی.

Transform

اړول، ګرځول (بڼه، ډول)، بدلول.

Transformation

مخنیوی کې پکار وړله شی.

- Transfusion Practice Guidelines

د ټرانسفیوژن د تر سره کولو لپاره لارښود کتاب.

- Red Cell Transfusions

د سروکریواتو ټرانسفیوژن.

- Transfusion Reaction

د وینه تېرولو /ټرانسفیوژن غبرګون.

- Transfusion Recipients

د وینه تېرولو /ټرانسفیوژن اخېستونکو اړوند.

- Replacement Transfusion

معاوضوی وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Risks of Transfusion

د وینه تېرولو /ټرانسفیوژن خطرې.

- Transfusion-Related Acute Lung Injury

د وینه تېرولو /ټرانسفیوژن اړوند د سړو حاد ډول صدمې (جروحات).

- Substitution Transfusion

معاوضوی وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Twin –to – twin Transfusion

د دوه ګونې (غبرګونو ماشومانو ترمنځ) وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

Transglutaminase

د پرو ترانسګلوټامینیز انزایم فعاله بڼه.

Transgress

تیری کول، له اندازې وتل، له بریده اوښتل، ګناه کول، قانون ماتول، جرم کول، زیاتی کول.

Transgression

تیری.

Transgressor

تیری کوونکی.

Transient

څوورځنی، بې پایښته، ژرتلونی، کم عمري.

- Transient Ischaemic Attack

هغه ډول د ایسکېمیا حمله چې ژر تېرېدونکی وی او پکې د دماغ اړوند د رګونو بندښت له کبله اروا قطع کېږی لنډه ښېنه یې (**TIA**) ده.

- Transient Ischaemic Heart Attack

د زړه ژر تېرېدونکی هغه ډول د ایسکېمیا حمله چې او پکې د زړه اړوند د رګونو بندښت له کبله اروا قطع کېږی لنډه ښېنه یې (**TIA**) ده.

- Transient Tachycardia of Newborns

په نوې زېږېدلو ماشومانو کې د ټاکې کارډیا تېرېدونکې **Deficiencies**، **Disseminated Intravascular Coagulation (DIC)** او **Vitamin K Deficiency**] حالاتو کې معمولاً اړتیا ورته پېښېږی.

- Granulocytes Transfusion

د حبیبوی حجرو (**Granulocytes**) ټرانسفیوژن چې نیوټروفیلونو (**Neutrophils**) ابنارملیتی ګانو درملنې په موخه تر سره کېږې چې په کې د [**Neutrophils < 3 × 10⁹ / L with Fulminant Sepsis During First Week of Life**، **Neutrophils < 1 × 10⁹ / L with Fulminant Sepsis after first week of Life.**] د تثبیت وړ وی او ډوز یې (**1.0–2.0 × 10⁹/Kg Neutrophils In 10–15 Ml/Kg Volume**) ورکول شی.

- Hazards of Transfusion

د ټرانسفیوژن اختلاطونه ، د (**Complications of Blood Transfusion**) په اندول.

- Haemopoietic Stem Cell Transplantation

دا یوه دوامداره او سنې درملنې رایجه عملیه ده چې د (**Haematological Disorders**) بیلابیلو ډولونو درملنه کې پکاږېږی چې پکې د (**Allogeneic Stem Cell Transplantation**) ټرانسپلانټ تر سره کېږی چې د هغې وروسته د (**Host Myeloid and Lymphoid Cells**) حجرې د [**High Dose Cytotoxic Drugs and/or Radiation ('Conditioning')**] لوړ ډوز په ورکړې سره د انفیوژن څخه دمخه لېږی کول شی.

- Human-to-human Transfusion

له انسان څخه انسان ته وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Immediate Transfusion

سمدلاسه وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Transfusion Immunomodulation

وینه تېرولو / ټرانسفیوژن د ایمیون موډولېشن.

- Indirect Transfusion

غېر مستقیم بڼه وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Massive Transfusion

کتلوی ډول د ډېرې اندازې وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Mediate Transfusion

منځنی اندازه وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Transfusion Medicine

د وینې تېرولو /ټرانسفیوژن طبابت څانګه.

- Non-haemolytic Febrile Transfusion Reactions

د وینې تېرول و/ټرانسفیوژن اړوند غېر –هېمولایټیک تبجن غبرګون منځ ته راتګ حالت.

- Placental Transfusion

د پلاسنټا له لارې وینه تېرول /ټرانسفیوژن.

- Platelets Transfusion

د وینې د صفیحاتو /پلاټلېټونو وینه تېرول /ټرانسفیوژن کړنه تر سره کول چې د پلاټلېټونو کمښت د وینې بهېدنې په

Translation
ژباړه، اړونه، ترجمه ، په جنیټیک کې هغه مرحله ده چې پکې معلومات د مزینجر (Messenger RNA) کنترول پرورسې له لارې د امینواسیدونو د رایبوزوم دننه د پروټین جوړېدو کې پولیپیپټایدی ځنځیرونه جوړېږی .

- Nick Translation
هغه مرحله چې پکې په نښه شوی نوکلیوټایدونه د (DNA) د مزو په غبرګېدو کې مرسته کوی

Translocase
لېږدوونکي .

Translocation
د یوه کروموزوم د یوې برخې حرکت بلې برخې ته په هماغه کروموزوم یا په بل توپیری کروموزومی جوړه کې د جنیټیک اختلالونو ناروغی پېښوی . د نا ورته بنې کروموزوم سره د یوه کروموزوم د یوې برخې پیوستون لنډه نښه یې (t) ده .

- Robertsonian Translocation
د دوه اکزوسنتریکو کروموزومونو ټرانس لوکېشن چې سنترومیری برخه سره نښلوی لو لنډی متوونه له لاسه ورکوی .

Translucency
تنوالي ، نیم رونوالي ، پیکه رنګ رونکي .

- Translucency Test
ترانسلوسنسی آزمایښت چې دا آزمایښت په (هایدروسل ، مینګوسل) ناروغتیا کې مثبت وی .

Translucent
تت، نیم رون، خړ، نیم شفاف لکه (غوړ کاغذ یا پرېږه ښیښه). هغه چې ورځخه نور – رنا نه تېرېږی خو دومره نه وی چې پکې د شی بله خوا ته د لیدنې وړ وی،، نیمه شفاف، د (Transparent) په انډول .

- Translucent Forieghn Body
تت اجنبی جسم ، نیم رون خارجی جسم ، نیم شفاف بهرنی جسم ، نه ځرګند بدونکي اجنبی جسم .

- Translucent Stones
تت اجنبی ډېره ، نیم رون تېږه ، نیم شفاف لکه د بولی لارې ډبرې ، نه ځرګند بدونکي تېږه .

Translucid
هویدا، آشکار، واضح ، روښانه او ځلانده ، رون ، شفاف کوونکي ، روشن کوونکي زجاجی ، شفاف جسم .

حالتت چې لنډه نښه یې (TTNB) ده..

- Transient Tachypnea of Newborns
په نوې زېږېدلو ماشومانو کې د تاکې پنیا تېرېدونکي حالت چې لنډه نښه یې (TTNB) ده..

Transiliac
د حوصلې د ایلیاک (خاصره) د دوه هډوکو ترمنځ .

Transillumination
دبدن د یوه جوړښت یا جوف څخه د پیاوړی او ځواکمن رنا (نور) تېرول ترڅو د مقابل لوری کې د ځای ناستی کتونکی له خوا د لیدلو وړ وی دا ډول کړنه لکه د (هایدروسل او نورو.....) ناروغیو پېژندنه کې پکار وړی.

Transit
ټرانزایت، سفر لکه یوه ځایه بل ته ، ورځه، پورې ایستنه لکه مال له یوه ځایه بل ته ، دتوپو ګرافی دزاویې دمعلومولو آله، کچونی.

Transition
تېرېدنه، بدلونه، اوښتنه، اړونه. په مالیکولی جنېټیک کې د میوټېشن هغه ټکی چې یو پورینې ببز پکې د یوه پریمېډینی ځای نیولې وی یا برعکس .

Transitional
دتیریدو (Transition) اړوند صفت ، د بدلون د پروسې سره په تړاو کې، د تېرېدونکی اړوند ، تلونی.

- Transitional Epithelium
د اپیټلیوم (Epithelium) اړوند یو ډول چې په احلیل (Urethra) کې موندل شی.

- Transitional Zone
داد هرشپرونګ ناروغی. د رېکټوم په کولوګرام راڅیولوژی فلم کې هغه سیمه ده د فعال او غېرفعال (فلج) برخې تر منځ پرته ده چې د قیف په څېر منظره جوړوی .

Transitive
تیریدونکی پورې تړلې ، (د(تېرېدو، بدلون، تلونی Transition) اړوند صفت دئ ، په ژبې ګرامرکې متعدي فعل بلل شی هغه فعل چې صریح مفعول غواړي.

Transitory
تیریدونکی، کم عمري، دلږ وخت لرونکي ، د بې پایښته شی اړوند .

Translate
ژباړل، ترجمه کول، تعبیرول، معنا کول، ځای بدلول، تبدیلول.

- Translucid Vitreous
رڼه او روښانه زجاجیه .

- Translucid Glassy
رڼه او روښانه ښیښه ئی زجاجیه .

Translumbar
د قطنی برخې (Lumbar Region) له لارې .

Transmembrane
د غشأ له لارې ، د یوې غشأ (پردې) په اوږدو کې غځېدلې او پراخ شوې معمولاً هغه پروټینې کوچنیو آیونونو ته د نفوذ اجازه ورکوی چې د حجروی غشأ په دواړو اړخونو کې ځای لری .

- Transmembrane Crossing
د غشا له لارې د موادو تېرېدنه.

- Transmembrane Diffusion
د غشأ له لارې ډیفیوژن عملیه تر سره کېدل.

- Transmembrane Filtration
د غشأ له لارې فیلټر (چاڼ کېدنې) پروسه تر سره کېدل.

Transmethylation
له یوه مرکب څخه بل ته د میتایل ($-CH_3$) د ګروپ لېږد.

Transmigrate
لېږد بدل، کوچېدل، مهاجرت کول ، تناسخ لکه (دیوه اروأ په بل کې ننوتل). د مهاجرت او تېرېدلو له لارې .

Transmigration
د یوې حجرې ننوتلو حرکت د غشأ له لارې ، تناسخ، دیوه کالبوت اروأ په بل کې ننوتنه.

Transmission
لېږد ، سرایت کول . له یوه کس څخه بل کس ته د ناروغی لېږد بدل .

- Transmission of Infection
د انتاناتو لېږد او سرایت کول .

- Transmission Rout
د لېږد او سرایت کولو لاره او طریقه .

Transmit
استول، تېرول (انتقالول)، لېږل، په ارث پرېښودل، خپرول (درادیویی څپو په واسطه).

Transmural
د یوه غړی د دېوال (جدار) له منځ څخه، د یوه غړی یا جوف د جدار له منځ څخه خپرېدل او تېرېدل .

- Transmural Diffusion
د یوه غړی د دېوال له لارې ډیفیوژن عملیه تر سره کېدل.

Transmutable
د بدلېدنې وړتیا لرونکې ، اوښتونکې.

Transmutability
بدلېدنه ، اووښتنه .

Transmutation
د میوټېشن له مخې د بدلېدنې عملیه ، د بدلېدنې حالت.هغه پروسه چې پکې نوکلیوډونه (Nuclides) په څو بڼو د نوکلیوډ باندې اوښتنه کوی.

- Transmutation of Elements
د عناصرو اووښتنه او بدلېدنه .

- Transmutation of Lead Into Gold
د سرپو (Lead) عنصر اووښتنه او بدلېدنه په سره زرو (Gold) باندې.

- Transmutation of Metals
د فلزی عناصرو اووښتنه او بدلېدنه .

- Transmutation of Minerals
د منرالونو اووښتنه او بدلېدنه .

- Transmutation of Radioactive Waste
د راډیواکټیف اضافی موادو اووښتنه او بدلېدنه .

Transmutational
د (Transmutation) اړوند صفت.

Transmutationist
هغه ماهر او متخصص کس چې (Transmutation) ترسره کولای شی.

Transmutative
د (Transmutation) اړوند صفت.

Transmute
د (طبعیت ، موادو) له یوهحالت څخه بل حالت ته اووښتنه او بدلېدنه لکه معمولاً د[د سرپو (Lead) عنصر اووښتنه او بدلېدنه په سره زرو (Gold) باندې] . د (Convert) په اندول.

Transmuter
اووښتونکې ، بدلېدونکې ،هغه څه چې (Transmutation) پرې ترسره کېږی.

Transmyocardial
د زړه د مایوکارډ عضلې اړوند .

- Transmyocardial Laser Revascularization
د زړه د مایوکارډ عضلې د لایزر په مرسته د رګونو بیا رغېدنه او جوړېدنه .

- Transmyocardial Revascularization

Transovarial

د هګۍ ځالي (تخمدان) له لارې .

- Transovarial Passage

د هګۍ ځالي (تخمدان) له لارې تېرېدنه .

- Transovarial Transmission

د هګۍ ځالي (تخمدان) له لارې اوښتنه /تېرېدنه / لېږدېدنه .

Transphosphorylation

د فاسفوریلېشن له لارې .

Transpiration

خولې کېدنه، خوله، تاو.

Transpire

خولې کول، خولې کیدل، وتل، په ډاګه کېدل، څرګندېدل (افشاء کېدل)، پېښېدل، واقع کیدل.

Transplacental

د پلاسنتا (پرېوان) له لارې.

Transplacentally

پلاسنتائی.

Transplant

ټرانسپلانټ ، کرل ، غرس کول ، ټومبل ، ښخول . نیالول، نالول، په جراحي کې پیوندول لکه د یوه ځای څخه لېږدول اوپه بل ځای کې میشتول.

- Transplant of the Bone Marrow

د هډوکو د ماغزو ټرانسپلانټ.

- Eye Transplant

د سترګو ګاټو ټرانسپلانټ.

- Heart Transplant

د زړه اړوند برخو ټرانسپلانټ.

- Liver Transplant

د کبدی نسج ټرانسپلانټ.

- Kidney Transplant

د پښتورګو ټرانسپلانټ.

Transplantation

د (ټرانسپلانټ ، کرلو، غرس کولو ، ټومبلو ، ښخولو) عملیه ترسره کول ، نیالونه، نال.

- Transplantation of the Bone Marrow

د هډوکو د ماغزو ټرانسپلانټېشن کړنلاره.

- Eye Transplantation

د سترګو ګاټو ټرانسپلانټېشن کړنلاره.

- Heart Transplantation

د زړه اړوند برخو ټرانسپلانټېشن کړنلاره.

- Liver Transplantation

د زړه د مایوکارډ عضلې د رګونو بیا رغېدنه او جوړېدنه .

Transnasal

د پوزې (پزې) له لارې ، د ترمیزی له لارې ، انفی .

- Transnasal Fiberoptic Laryngoscopy

د پوزې (پزې) له لارې فیبرواوپټیک لارینګوسکوپي اړوند کتنه تر سره کول .

- Transnasal Tube

د پوزې (پزې) له لارې تطبیق کېدونکې ټیوب یا نلکه.

Transocular

د سترګو له لارې .

Transoesophageal

د مرۍ د نلکې له لارې .

- Transoesophageal Atrial Pacing and Recording

د مرۍ د نلکې له لارې اذینی پیسنګ او ثبت (ریکارډ کول) .

- Transoesophageal Echocardiogram

د مرۍ د نلکې له لارې د ایکوکارډیوګرام تر سره کول .

Transorbital

دسترګو حجاج جوفونو له لارې ، حجاجی .

- Transorbital Lobotomy

هغه جراحی عملیات تر سره کوونکې مېتود چې جراحی چاړه د سترګو د ګاټې له لارې عصبی رشتې قطع کوی ، ورته نومونه یې (Leucotomy، Frontal Lobotomy، Leukotomy، Prefrontal Lobotomy، Prefrontal Leukotomy، Leucotomy، Prefrontal Lobotomy) دی.

Transosseous

د هډوکو له لارې .

- Transosseous Osteosynthesis

د هډوکو له لارې اوستیوسنتېزیس عملیه تر سره کول.

- Transosseous Rehydration Therapy

د هډوکو له لارې د مایعاتو تطبیق (ریهایدریشن) عملیه تر سره کول.

- Transosseous Venography

د هډوکو له لارې د وریدونو رنګه انځوریزه ګرافیکه عملیه تر سره کول.

- Transosseous Wire

د هډوکو له لارې د وایر (سیم) تېرولو عملیه تر سره کول.

Transosteal

د هډوکو له لارې.

- Transosteal Implant

د هډوکو له لارې د اېمپلانټ تطبیق عملیه تر سره کول.

غبر فعاله ترانسپورټ ، په بیوشیمی/فزیولوژی کې هغه پروسه چې پکې په غبر فعاله توګه د (Kinetic Energy) انرژی لګښت پرته مالیکونه د حجروی غشأ له لارې د ډېر غلظت ځخه د لږ غلظت لرونکی محیط لورې ته د ډیفیوژن په مخانېکت سره د تېرېدنې وړتیا مومی.

Transportable

د ترانسپورټ یا لېږد وړتیا لرونکې.

Transportability

لېږدېدونکې وړتیا ، ترانسپورټی وړتیا .

Transportal

د (Transport) اړوند صفت.

Transportation

ترانسپورټیشن، وړنه راوړنه (Transport).

Transporte

هغه څوک یا هغه څه چې وړنه راوړنه تر سره کوی .

Transposability

بدلونېز ، اووښتېدنه ، اووښتنه.

Transposable

بدلون موندونکې ، د اووښتنې او بدلون وړتیا لرونکې.

Transpose

وروسته وړاندې کول، رونې بدلول لکه (د اناټومیک جوړښتونوکې) بدلول.

Transposition

په ولادی توګه هغه حالت چې پکې ابهر او ریوی شریان په مقابل لوری کې ځای پرځای وی اووښتې بڼه لری. وروسته وړاندې کیدنه

- Transposition of Great Vessel's

په مقابل لوری کې ځای پرځای وی د غټو رګونو اووښتې بڼه.

Transpositional

د (Transposition) اړوند صفت .

Transpositive

د (Transposition) اړوند صفت .

Transposon

د (DNA) د جنسیت لرونکی کوچنی او خوځنده عنصر چې د خپل جینوم یا په هماغه حجره کې د نورو جینومونو په چاپېر خپل ځای بدلوی دا کار تر ډېره بل ځای ته د ځان په کاپی کولو سره تر سره کېږی خوکېدای شی له خپل اصلی ځای څخه ځان هم ولېږدوی

د کبدی نسج ټرانسپلانټېشن کړنلاره .

- Kidney Transplantation

د پښتورګو ټرانسپلانټېشن کړنلاره.

Transplantee

هغه چې ورته ترانسپلانټ عملیه تر سره کېږی .

Transplanter

د یوه چا څخه د (نسج ، بدنی غړی ، جوړښت) انتقال بل کس ته .

Transplanting

د (ټرانسپلانټ ، کرلو، غرس کولو ، ټومبلو ، ښخولو) عملیه ترسره کولو حالت .

Transpleural

د پلورا جوف له لارې .

- Transpleural Drainage

د پلورا جوف له لارې درېناژ او تخلیه کول.

- Transpleural Lavage

د پلورا جوف له لارې لواژ او د صدری جوف مېنځلو کړنلاره.

- Transpleural Tub

د پلورا جوف له لارې د بذل او سوری کولو کړنه تر سره کول .

Transpolar

د قطبینو (قطبونو) له لارې .

Transpontine

د پله بل لورې کې واقع شوې ، د ماغزو حدبی (Pons) جوړښت له لارې .

Transport

ټرانسپورټ .وړل، راوړل، بیخوده کول، له خوښې یا غم څخه بیده کول ،شړل، فرارول وړنه راوړنه، ټرانسپورټ، چلونه، بیخودي، بیسدي، د نقلیه په وسیله باندې لېږد ، چلول لکه (بار) .

- Active Transport

فعاله ترانسپورټ ، په بیوشیمی/فزیولوژی کې هغه پروسه چې پکې په فعاله توګه د (Kinetic Energy and Momentum) انرژی لګښت پذربعه مالیکونه د حجروی غشأ له لارې د ډېر غلظت څخه د لږ غلظت لرونکی محیط لورې ته د تېرېدنې وړتیا مومی.

- Bulk Transport

د حجروی ذرو یا مایعاتو یا بهر کول چې په حجروی جدار (دېوال) کې نفوذېه (لېږد رالېږد) رامنځ ته کړی پدې لېږد رالېږد کې (اندوسایتوز ، فاګوسایتوز ، پینوسایتوز او اګزوسایتوز) هم شاملېږی.

- Passive Transport

د جنسی غړو له لارې د جراحی عملیات ترسره کول.

- Transsexual Transmitted Infections

د جنسی غړو له لارې د مقاربتی اړیکو پذربعه د انتاناتو لېږد او سرایت.

Transsexualism

په جنسیت ټاکنه کې ناجوړی په داسې ډول چې ناروغ تل د خپل اناټومیک جنسیت د بدلولو په فکر کې دئ.

Transsexuality

د (Transsexualism) سره په تړاو کې صفت دئ. جنسیتی ، د جنسی اړیکو له لارې.

Transthelamic

د تلاموس غدې له لارې. د تلاموس په اوږدو کې.

Transthoracic

د صدری (ټټر، سینې) جوف یا جدار له لارې.

- Transthoracic Contrast Echocardiography

د صدری (ټټر، سینې) جوف یا جدار له لارې د کانټرست ایکوکارډیوګرافی ترسره کول.

- Transthoracic Contrast Enhanced Echocardiography

د صدری (ټټر، سینې) جوف یا جدار له لارې د کانټرست لوړېدنې ایکوکارډیوګرافی ترسره کول.

- Transthoracic Doppler Echocardiography

د صدری (ټټر، سینې) جوف یا جدار له لارې ډاپلار ایکوکارډیوګرافی ترسره کول.

- Transthoracic Echocardiogram

د صدری (ټټر، سینې) جوف یا جدار له لارې ایکوکارډیوګرام اخیستل.

- Transthoracic Echocardiography

د صدری (ټټر، سینې) جوف یا جدار له لارې ایکوکارډیوګرافی ترسره کول.

- Transthoracic Esophagectomy

د صدری (ټټر، سینې) جوف یا جدار له لارې د ایزوفاګوس یا مری جراحی ایستلو کړنلارې ترسره کول.

- Transthoracic Fine Needle Aspiration

د صدر جوف څخه د کوچنی سټنې پذربعه د مایعاتو بذل / روایستلو کړنلاره.

- Transthoracic Fine Needle Aspiration Cytology

د صدر جوف څخه د کوچنی سټنې پذربعه د مایعاتو بذل / روایستلو کړنلارې پذربعه د حجروی (سایتولوژی) کتنو ترسره

ایوکاریوټیک ترانسپوسونه ځینې وختونه د ترانسپوزېبل (Transposable) عنصرونو په نوم هم یادېږی.

Transpubic

د پوبیک (عانې) برخې هډوکو له لارې. د عانې هډوکو د یوې ټوټې د وېستلو وروسته د پوبیس د هډوکو له منځ څخه تر سره شوی.

Transpyloric

د معدې د بواب (پیلور) کانال برخې له لارې.

- Transpyloric Incision

د معدې د بواب (پیلور) کانال برخې و څیرلو / شق له لارې.

- Transpyloric Plane

د معدې د بواب (پیلور) کانال برخې له لارې د پلان مقطعی پرېکړه منځ ته راتګ چې د اناټومی ټوپوګرافی له پلوه اهمیت لری او د ګېډې د جوف په نهو برخو ویشنې کې رول لری.

Transrectal

د ریکوم کولمې له لارې.

- Transrectal Medicines

د ریکوم کولمې له لارې درمل چې د ردملنې په موخه تطبیقېږی.

- Transrectal Rectosegmoidocolonoscopy

د ریکوم کولمې له لارې د سیګموئیډ او کونونو د کتنې تر سره کولو کړنلاره.

- Transrectal Operational Surgery

د ریکوم کولمې له لارې د جراحی عملیاتونو تر سره کول.

- Transrectal Supisatory Drugs

د ریکوم کولمې له لارې د استعمالېدونکی درمل.

- Transrectal Ultrasound

د ریکوم کولمې له لارې د التراساوند کتنې تر سره کول.

Transsegmental

د سګمنټونو په اوږدو کې. د سګمتونو له لارې.

Transseptal

د یوه سپټوم (حجاب، پردې، جدار) له لارې یا په اوږدو کې تر سره شوې.

Transsexual

د جنسی غړو له لارې.

- Transsexual Communicalble Disease Spreads

د جنسی غړو له لارې د ساری ناروغیو خپرېدنه.

- Transsexual Surgery

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې.

- Transtracheal Aspiration

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې د اسپایریشن تر سره کول.

- Transtracheal Biopsy

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې بیوپسی اخیستل.

- Transtracheal Catheter

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې کتېتر تېرول.

- Transtracheal Catheter Ventilation

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) د کتېتر له له لارې تنفس ورکول.

- Transtracheal Jet Insufflation

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) د جېټ ډکولو له لارې

- Transtracheal Jet Ventilation

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) د جېټ ډکولو له لارې تنفس ورکول.

- Transtracheal Oxygen

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې اوکسیجن ورکول.

- Transtracheal Oxygen Therapy

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې اوکسیجن ورکولو پذرېعه درملنه.

- Transtracheal Oxygenation

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې د اوکسیجن ورکول.

- Transtracheal Wash

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې پاکول او مېنځل.

- Transtracheal Washes or Washing

د شزن (ککرنګی ، غضروفی تنفسی نلکي ، وچي غاړي) له لارې د پاکولو او مېنځلو کړنه تر سره کول.

Transtrochanteric

د فخذی هډوکی د تروخانتېر اړوند برخې له لارې .

- Transtrochanteric Osteotomy

د فخذی هډوکی د تروخانتېر اړوند برخې له لارې اوستیوټومی جراحی عملیات تر سره کول.

Transtubercular

د حوصلې لګن د ورکی (ایلیاک) هډوکو د توبرکولونو ترمنځ برخو له لارې .

- Transtubercular Diameter

کول.

- Transthoracic Fine-Needle Aspiration Biopsies

د صدر جوف څخه د کوچنی سترنې پذرېعه د مایعاتو بذل / روایستلو کړنلارې پذرېعه د پتالوژیک کتنو تر سره کولو لپاره بیوپسی.

- Transthoracic Pacemaker

د صدر له لارې د پسمېکر کېښودلو او ځای پر ځای کولو کړنه.

Transthoracic Pacing

د صدر له لارې د متوسط اندازې (Moderate Rate) بنې پرمختګ په موخه محسوسی (Pacing) بلل شی.

- Transthoracic Plane

د صدر له لارې پلان چې په توپوګرافیک څېړنو کې ارزښت لری.

- Transthoracic Pressure

د صدر له لارې فشار منځ ته راوړل.

- Transthoracic Resistance

د صدر له لارې مقاومت پیښول.

Transthoracically

د صدر له لارې.

Transthoracotomy

د صدری څیرلو/ وازولو جراحی (توراکوټومی) له لارې .

- Transthoracotomy Heart Surgery

د صدری څیرلو/ وازولو جراحی (توراکوټومی) له لارې د زړه اړوند جراحی عملیاتونو تر سره کول.

- Transthoracotomy Thorcoscopy

د صدری څیرلو/ وازولو جراحی (توراکوټومی) له لارې د صدر ی جوف د کتنې تر سره کولو کړنلاره.

- Transthoracotomy Mediastinal Surgery

د صدری څیرلو/ وازولو جراحی (توراکوټومی) له لارې د منصف د جراحی عملیاتونو تر سره کول.

Transtibial

د لېنګیو د قصبی (Tibial) هډوکو له لارې.

- Transtibial Amputation

د قصبی هډوکو د قطع کولو او غوڅولو له لارې.

Transtorine

په بېو شیمی (Biochemistry) کې هغه کېمیاوی مرکب چې د ($C_{10}H_7O_3N$) فورمول لری او د تریپتوفان استقلابی (Tryptophan Metabolism) محصول دئ او په متیازو کې موندل شی ، د (Kynurenic Acid) په انډول.

Transtracheal

املە په نوروعنصرونو باندې اوړی چې (Berkelium،ericium او Californium) ترانسیورانیک عنصرونو (Transuranic Elements) پنامه یادېږی.

Transuretero-ureterostomy

دحالبونو له لارې د حالبونو جراحی نښلولو / تفممی (Anastomosis) ترمیم کړنلاره چې پکې د یوه اړخ حالب په بل اړخ کې ترمیمیږی. د (Ureteroureterostomy) او (Transureterourereteral Anastomosis) په انډول.

Transurethral

د احلیل له لارې .د احلیل له منځ څخه.

- **Transurethral Bladder Resection**

د احلیل له لارې د مثانې غوڅول او راکښلو جراحی عملیات تر سره کول.

- **Transurethral Electrical Bladder Stimulation**

د احلیل له لارې د مثانې برېښنائی تنبه او پارېدنه تر سره کول.

- **Transurethral Electrovaporization of the Prostate**

د احلیل له لارې د پروستاټ غدې د برېښنائی تبخیر غوڅول او راکښلو جراحی عملیات تر سره کول.

- **Transurethral Evaporation of Prostate**

د احلیل له لارې د پروستاټ غدې د برېښنائی تبخیر غوڅول او راکښلو عملیات تر سره کول.

- **Transurethral High-Frequency Hyperthermia**

د احلیل له لارې د لوړ فریکونسی (اهتزاز) په مرسته د هایپرترمیا پېښولو کړنه تر سره کول.

- **Transurethral Incision of the Bladder Neck**

د احلیل له لارې د مثانې د عنق برخې جراحی غوڅولو عملیات تر سره کول.

- **Transurethral Incision Prostate**

د احلیل له لارې د پروستاټ غدې د غوڅول او راکښلو جراحی عملیات تر سره کول.

- **Transurethral Microwave Procedure**

د احلیل له لارې د مایکرو څپو کړنلارې تر سره کول.

- **Transurethral Microwave Therapy**

د احلیل له لارې د مایکرو څپو کړنلارې پذریعه درملنه تر سره کول.

- **Transurethral Microwave Thermotherapy**

د احلیل له لارې د مایکرو څپو کړنلارې پذریعه تودوخی درملنه تر سره کول.

- **Transurethral Needle Ablation**

د حوصلې لګن د ورکی (ایلیاک) هډوکو د توبرکولونو ترمنځ برخو له لارې قطر بلل شی .

- **Transtubercular Plane**

د حوصلې لګن د ورکی (ایلیاک) هډوکو د توبرکولونو څخه د خبالی افقی کرښې پلان تېرول چې د ګېډې په (9) برخو په اناټومیک وېشنې کې اړوند اهمیت لری.

Transtympanic

د صماخی پردې یا جوف په اوږدو کې.

Transudat

هغه ډول مایع چې له یوې غشا یا نسج څخه تېره شوېوی او نری، غېر تقیحی بڼه لری او پروټینی یا حجروی مواد یې د اګزوډات مایع په پرتله ډېر کم وی چې په حبن (Ascites) کې چې د (Cardiac Insufficiency یا Cirrhosis of the Liver) له کبله وی شتون لری.

- **Transudat Fluids**

دبدن د جونو د مایع هغه ډول چې قېحی نه وی او نور التهابی حجری لری لکه په توبرکلوزېک مایع کې.

Transudation

د ترانسوډېټ (Transudat) منځ ته راتګ پروسه بلله شی.

Transudative

د ترانسوډېټ (Transudat) اړوند صفت.

- **Transudative Ascites**

د ترانسوډېټ (Transudat) اړوند حبن.

- **Transudative CSF**

د ترانسوډېټ (Transudat) اړوند د دماغی نخاعی مایع.

- **Transudative Diathesis**

د ترانسوډېټ (Transudat) اړوند په غېر معمول بڼه ناروغی منل یا ورته لېوالتیا څرګندول.

- **Transudative Effusion**

د ترانسوډېټ (Transudat) اړوند د پلورا مایع.

Transudatory

د ترانسوډېټ (Transudat) اړوند صفت او یا د هغه سره په تړاو کې.

Transuranic

هغه ډول کېماوی عنصر اړوند چې د (Transuranium) په نوم یادېږی.

Transuranium

هغه ډول کېماوی عنصر چې اټومی لمبر یې [(the atomic number of Uranium) 92 چې ثابته بڼه لری] څخه لوړ دئ چې دا ډله ټول عنصرونه د رادیواکتیویتی خصلت له

عرضی بنّه .

- Transversalis Colli Artery
د کولونی مستعرضی بنې شریان .

- Fascia Transversalis
د کولونی مستعرضی بنې صفاق / څاړ.

- Muscle Transversalis
د کولونی مستعرضی بنې لرونکې عضله / غوښنه جوړښت .

Transverse
مستعرض ، سورور ، متقاطع، پرېکوونکی.له یوه اړخ څخه بل اړخ لوري ته د طولی محور په وړاندې په قایمې زاویې سره غځېدل ، عرضی .

- Transverse Abdominal Incision
د ګېډې لپاسه په سورورہ (مستعرضہ) بنّه د غوڅولو کړنه تر سره کول.

- Transverse Acetabular Ligament
مستعرض اسیتابولومی لېګامنټ .

- Transverse Amputation
مستعرض بنّه امپوټېشن .

- Transverse Anthelicine Groove
مستعرض انټي لایسین ژوره .

- Transverse Arch
مستعرض لیندی ، مستعرضہ قوس.

- Transverse Arch of Foot
د پښو مستعرض لیندی ، د پښو اړوند مستعرضہ قوس.

- Transverse Archtra
د پښود (**Metatarsal Arch**) په انډول.

- Transverse Arytenoid Muscle
د مستعرض اریتینوئید عضلې اړوند .

- Transverse Branch of Lateral Femoral Circumflex Artery
د فخذی سرکومفلکس شریان مستعرضہ څانګه.

- Transverse Carpal Ligament
مستعرض د کارپ اړوند لېګامنټ.

- Transverse Cerebral Fissure
مستعرض دماغی درز (فیسور) .

- Transverse Cervical Artery
مستعرض د غاړې (عنق) شریان .

- Transverse Cervical Nerve
مستعرض د غاړی عصب .

- Transverse Cervical Veins
مستعرض دغاړې ورید.

- Transverse Colon
مستعرضہ غټه کولمه (کولون) چې د صاعده او نازله کولون د احلیل له لارې د ستنې تېرولو څخه وروسته د پرې کولو کړنه تر سره کول.

- Transurethral Resection
د احلیل له لارې د پرې کولو (قطع کولو) لکه د پروستاټ غدې غوڅولو کړنه تر سره کول.

- Transurethral Resection of Bladder Tumor
د احلیل له لارې د پرې کولو (قطع کولو) لکه د مثانی ټومورونو غوڅولو کړنه تر سره کول.

- Transurethral Resection of Prostate
د احلیل له لارې د پرې کولو (قطع کولو) لکه د پروستاټ غدې غوڅولو کړنه تر سره کول.

- Transurethral Resection Syndrome
د احلیل له لارې د پرې کولو (قطع کولو) غوڅولو کړنه تر سره کولو څخه وروسته سندروم .

Transvaginal
د مهبل له لارې .د مهبل له منځ څخه.

- Transvaginal Contraception
د مهبل له لارې د بلاربښت مخنیوی کولو کړنلاره.

- Transvaginal Scanning
د مهبل له لارې د کتنو او څېړنو تر سره کول .

- Transvaginal Tape Sling
د مهبل له لارې د فیتوی څوړند بدنی کړنه تر سره کول.

- Transvaginal Ultrasonography
د مهبل له لارې د التراساوند کتنه تر سره کول.

- Transvaginal Ultrasound
د مهبل له لارې د التراساوند اړوند .

Transvasin
د (**Tetrahydrofuryl Salicylate**) پنامه مرکب لپاره سوداګریز نوم دئ چې بهرنې استعمال لری چې د پوستکی سوروالې او وینې بهیر زیاتولو اغېز لری او مونبل کېدو وړتیا لری.

Transvector
هغه حشره ها حیوان چې د سمی موادو لېږدولو دنده تر سره کوی چې له منبع څخه یو چا یا بل ځای مواد / مېکروبونه لېږدوی .

Transvenous
د وریدونو له لارې . دوریدونو له منځ څخه .

- Transvenous Pacing
د وریدونو له لارې د (**Pacing**) تر سره کول.

Transversalis
مستعرض ، سورورہ بنّه لرونکی ، مستعرضی ،

- Transverse Humeral Ligament
د متې (عضد) اړوند مستعرض لېګامنټ.

- Transverse Intermesocolic Fossa
د کولونی میزانټیر اړوند مستعرض حفره یا غوچه (فوسا) برخه.

- Transverse Lie
دمور په ګېډه کې د فیټوس (جنین) وضعیت مستعرض بڼه لرل.

- Transverse Ligament of Atlas
د اطلس فقراتو اړوند مستعرض لېګامنټ . د (**Ligamentum Transversum Atlantis** او **Lauth Ligament, Transverse Atlantal Ligament**) په انډول.

- Transverse Ligament of Elbow
د لېچې اړوند مستعرض لېګامنټ .

- Transverse Ligament of Hip Joint
د ورون او حوصلې مفصل اړوند مستعرض لېګامنټ .

- Transverse Ligament of Knee
د زنګون برخې مستعرض لېګامنټ .

- Transverse Ligament of Knee Joint
د زنګون برخې د بند اړوند مستعرض لېګامنټ .

- Transverse Ligament of Perineum
د عجانې (پرینیوم) برخې اړوند مستعرض لېګامنټ.

- Transverse Plan
مستعرض پلان ، دا د اناټومی توپوګرافی سره په تړاو کې هغه خیالی پلان چې په مستعرض بڼه او افقی ډول له اناټومیک جوړښت څخه تېرېږی.

- Transverse Presentation
دمور په ګېډه کې د فیټوس (جنین) وضعیت (**Position**) مستعرض بڼه لرل چې معمولاً د ښېرنی ډول سیزارین (**Caesarean Section**) یا د مونوپولېشن (**Manipulation**) له لارې عملیه تر سره کېږی او زېږون کېږی.

- Transverse Process
د فقراتو اړوند مستعرض راوتلې استطاله .

Transversectomy
د فقراتو اړوند مستعرض راوتلې استطاله د غوڅولو جراحی عملیات .

Transversus
مستعرضی ، عرضانی ، سوروره بڼه .

Transvesical
د مثانې له لارې ، د مثانې جوف دننه .

- Transvesical Prostatectomy
د مثانې دننه له لارې د پروستاټ غدی د غوڅولو جراحی عملیات تر سره کول.

تر منځ برخه ده

- Transverse Colon Volvulus
مستعرضه غټې کولمې (کولون) تاوېدنه (تدور) او بندښت منځ ته راتګ .

- Transverse Costal Facet
مستعرضه صدری پښتویو سره مخامخ کېدنه او یو پر بل واقع کېدنه .

- Transverse Crest of Internal Acoustic Meatus
د داخلی اکوستیک میياتوس مستعرضه قنزعه (کریستا) .

- Transverse Crural Ligament
مستعرض کرورال لېګامنټ .

- Transverse Diameter
مستعرض قطر .

- Transverse Disc
مستعرض ډیسک .

- Transverse Ductules of Epoophoron
د اپووفورون اړوند مستعرض قنیواتو نه (ډکتیولونه).

- Transverse Facial Artery
د مخ اړوند مستعرض شریان .

- Transverse Fracture
د هډوکو مستعرض بڼه ماتېدنه او کسر پېښېدنه .

- Transverse Facial Vein
د مخ اړوند مستعرض ورید .

- Transverse Fissure
مستعرض فیسور په ښېلابېلو غړو کې .

- Transverse Fissure of Cerebellum
د دماغ د سریبیلوم اړوند مستعرض درز / فیسور .

- Transverse Fissure of Cerebrum
د دماغ د سریبروم اړوند مستعرض درز / فیسور .

- Transverse Fissure of the Right Lung
د ښی سږی اړوند مستعرض درز / فیسور .

- Transverse Fold of Rectum
د ریکټیوم اړوند مستعرض قات / فولډ.

- Transverse Foramen
مستعرض سوری ، مستعرضه فوحه .

- Transverse Fracture
مستعرض کسر / ماتېدنه .

- Transverse Head
مستعرض د سر کوپړی جوړښت.

- Transverse Hermaphroditism
مستعرض بڼه مخنث توب .

- Transverse Horizontal Axis
مستعرض افقی محور .

Transvestism
هغه حالت چې پکې د یو چا د جامو اغوستلو اړوند بڼه لیدل شی چې د مقابل لوری جنس جامی اغوندی او د هغه پېښې کوی.

Transvestite
هغه حالت چې پکې یو چا هویت څرګندېږی چې د مقابل لوری جنس جامی اغوندی او د هغه پېښې کوی.

Trapezia
د (Trapezium) ګڼه شمېره ده.

Trapezial
د (Trapezium) اړوند صفت.

Trapezium
د لاس هغه د (Carpal Bones) اته هډوکو څخه یو چې د (Thumb) څخه ښکته واقع دی.

Trapeziums
د (Trapezium) ګڼه شمېره ده.

Trapezius
هغه زاویه ای عضله چې د څټ/ورمېږ پورتنی برخه کې واقع ده او د اوږې خوځښت او سر شاته حرکت کې خپله ونډه ادا کوی.

Trapezoid
د (Trapezoid Bone) په انډول.

- Trapezoid Bone
د مړوند بند او د لاس هغه د (Carpal Bones) اته هډوکو څخه یو چې د (Thumb) څخه ښکته واقع دی.

Trauma
①ضربه ، ټکان ، ترضیض، ټپی کېدنه ،د (Wound یا Injury) په انډول.② هغه ډول ویره او ترهه یا ځورېدنې سره مل حالت تېرولو څخه وروسته په یو چا کې شدید هیجانی شاک منځ ته راوړی . ③هغه محسوس یا غېر محسوس بهرنی فشار یا قوه چې پر بدن انساجو اغېز ښندی او له ځانه پر بدن کې پاتې شونی ضرر پرېږدی ترضیض بلل شی.

- Abdominal Trauma
بطنی یا د ګېډې اړوند ترضیض.

- Birth Trauma
هغه ډول ترضیض چې د زېږون پرمهال د نوی زېږېدلو ماشومانو کې منځ ته راځی.

- Brain Trauma
دماغی یا د ماغزو اړوند ترضیض.

- Trauma Centre
د ترضیض موندلو ناروغانو د درملنې لپاره مرکز یا روغتون چې پکې ګڼ شمېر ناروغی ژوند تهدېد کوونکې (Life-threatening Injuries) درملنه کېږی.

- Chest Trauma
صدری یا د ټټر او سینې اړوند ترضیض.

- Head Trauma
قحفی یا د کوپرې اړوند ترضیض.

- Poly Trauma
متعدد یا د ګڼ شمېر اړوند ترضیض.

- Psychic Trauma
روانی ترضیض ، یو ډول عاطفی شاک چې د روانی / روحی ناروغتیا لامل ګرځی.

- Spinal Trauma
نخاعی یا د ملا تیر اعصابو اړوند ترضیض.

Traumatic
ترضیضی ، ضربه ئی ، د ترضیض اړوند ، د (Trauma) اړوند صفت.

- Traumatic Fever
ترضیضی تبه چې د ټپی کېدو له کبله پېښېږی.

- Traumatic Pneumothorax
ترضیضی پنوموتوراکس چې د سږو د نسج یا صدری جدار تخریب وازېدنې له امله پېښېږی او د پلورا دننه هوا راټولېږی.

- Traumatic Shock
ترضیضی شاک.

Traumatism
هغه فزیکی یا روانی حالت چې د یوه ترضیض یاټپ څخه وروسته رامنځ ته شی، ټپ ، پرهر.

Traumato-
دا یو مختاړې دئ او د (ترضیض ، ټپ ، پرهر ، صدمې) اړوند معنی بشپړوی.

Traumatology
د جراحی طب هغه علمی څانګه چې د ضدمو او ټپونو اړوند ناروغیو درملنو لاروچاړو څېړنه کوی.

Traumatopnea
د سږی د کولاپس سره یوځای نسبی اسفیکسی چې په پلورائی جوف کې د ترضیض سوری رامنځ ته کېدو څخه سرچینه اخلی.

Travel
سفر ، له یوه ځایه څخه بل ځای ته تګ و بېځایه کېدنه.

- Travel Sickness
د سفر اړوند ناروغی ، د (**Motion Sickness**) په انډول.

Traveller's
د سفر سره په تړاو کې ، سفری ، سفر کوونکی.

- Traveller's Diarrhoea
د مسافرو اړوند نس ناستې ناروغی چې معمولاً د (**E. coli**) مېکروب له کبله پېښېږی.

Trazodone
دا د انحطاط او خپګان ضد درمل دی چې آرامه کوونکی اغېزې منځ ته راوړی اومعمولاً د (**Depressive Disorders accompanied by Insomnia**) ناروغیو درملنه کې پکار ږی.

Tray
ظرف ، د ببلابېلو شیانو د لېږد رالېږد لپاره د پلنې سطحې خاوند لوښې.

- Impression Tray
هغه ژی لرونکې لوښې چې د غاښونو او د هغه د ګاونډیو جوړښتونو قالبی مواد پکې ساتل کېږی.

Treacher Collins Syndrome
دا یو ډول ارثی لېږدېدونکی ناروغی سنډروم دی چې پکې (ښکته ژامنه ، د زنې هډوکی او غوږونه کاملاً وده نه وی موندلی

Treat
درملنه ، د درملنې طبی مېتود دئ چې پکې ناروغان ښه والې مومی.

Treatment
درملنه ، علاج ، تداوی ، د درملنې طبی مېتود دئ چې پکې ناروغان پالنه او ځارنه ترسره کېږی او ناروغتیا ښه والې مومی.

- Active Treatment
فعاله درملنه چې په فوری ډول سره دناروغیو سمون لپاره کارولە شی.

- Treatment Arm
درملنیزه مټه ،هغه ډول درملنیزه کړنه چې تر څېړنې او نظر لاندې ناروغان (**Active Arm Clinical Trials**) یوې ډلې ته د (**Placebo- controlled Trial**) ویل کېږی او د درملنیزی مټې ناروغانو ته قسمی درملنه تر سره کېږی.

- Treatment Burden
هغه تخریبی حالت بار (زغم) چې پکې د ناروغانو روغتیائی حالت ضرر مومی چې دا ښائی د (درملو ، وړانګوورکولو، جراحی یا نورو درملنو) پذ ربعه پېښ شی.

- Treatment Cap
اقتصادی محدودیت چې پکې بیمه شوی یا طبی درملنی پلان له مخې یوه اندازه ګټه روغتیا ته رسېږی.

- Treatment Card
د ناروغانو درملنې کارټ چې د یو لړ طبی مرکزونو له خوا ناروغانو ته ورکول شی په ځانګړې توګه د (غاښ درملنې) ځانګه کې.

- Casual Treatment
بېړنی درملنه ، عاجله درملنه.

- Treatment Centre
روغتیائی درملنیز مرکز.

- Treatment Clinic
درملنیزه کلینیکی ځانګه.

- Conservative Treatment
محافظه کارانه درملنه ، هغه ډول درملنه چې د جراحی عملیاتونو د مخنیوی په موخه ناروغانو ته تر سره کېږی.

- Curative Treatment
معالجوی (درملنیزه) روغتیائی ځارنه او پالنه.

- Treatment Denture
د غاښونو اړوند پروتېز (**Dental Prosthesis**) چې د درملنې په موخه مصنوعی ډول ساتنې لپاره پکار ږی.

- Treatment Device
درملنیزه وسیله ، هره هغه وسیله یا مواد (**Material–port Block، Stent، Wedge ، Mold ، Bolus**) چې د هغه پواسطه د (**Radiation Oncology**) په لړ کې د درملنې او ساتنې په موخه پکار وړله شی.

- Treatment Effect
د درملنې اړوند اغېزې.

- Treatment- emergent
د ناروغیو سمدلاسه بېړنی درملنه.

- Treatment-emergent Adverse Event
دبېړنیو پېښو او ناروغیو اړوند درملنه.

- Empiric Treatment
دهغه درملو یا وسائلو په مټه درملنه چې ګټه ورتوب ئې د تجربې له مخې سرته رسېدلې وی.

- Expectant Treatment
هغه درملنه چې د نامطلوبه نښو د لېرې کولو لپاره تر سره کېږی او د ناروغی درملنه طبیعی څواکونو ته پرېږدی.

- Treatment Field
د درملنې لپاره سیمه لکه د تومورونو په وړانګیزه درملنه کې سیمه تاکله شی.

- Treatment Group

درملنیزې سپارښتنې .

- Treatment Room

د درملنې اړوند خونه لکه د (عملیات خونه ، د پروسیجر خونه ، د جدی مراقبت خونه او نور...).

- Treatment Sector

د درملنې اړوند سکټور ، د درملنې برخه .

- Shock Treatment

د شاک درملنه ، د (الکتروکانولسیف شاک درملنې) په انډول .

- Specific Treatment

ځانګړې ډول درملنه چې دیوه ځانګړی ناورغی لپاره ځانګړې پروسیجر تر سره کول پکې کېږی.

- Supporting Treatment

هغه درملنه چې اصلی موخه یې د ناروغ ځواکونو خوندی کېدنه وی.

- Symptomatic Treatment

عرضی درملنه ، د (**Expectant Treatment**) په انډول.

- Surgical Treatment

جراحی درملنه ، د جراحی عملیاتونو تر سره کولو په مرسته درملنه.

- Treatment Window

درملنیزه کړکی ، هغه کړکی چې د هغې له لارې درملنه تر سره کېدلای شی.

Trematode

پلن چینجې ، تریماتوډا چینجې ، د (**Parasitic Flatworm**) په انډول.

Tremble

1- لړزیدل ، رپېدل، ټکان منځ ته راتګ ، لرزش لرل ، رعشه لرل، رېږد ، لړزه، جړک، ټکان (لکه دزلزلې)، **2**- نګرانی ، مظطرب پاتې کېدل ، واهمه او ندښښنه لری ،د اندامونو په لړزه رتلل .

Trembling

د اندامونو عضلاتو اړوند چټک او لنډ حرکتونه لکه پّه (**Parkinson's Disease**) ناروغۍ کې.

Tremens

وېره او ترهه لرونکې ، ډار لرونکې .

- Delirium Tremens

هذیان او اظطراب لرونکې وېره .

Tremor

لړزیدل ، رپېدل، هغه حالت چې د اندامونو د عضلاتو د غېر ارادی حرکاتو له کبله پېښېږی.

- Tremor Action Network

د درملنې لپاره ډله ، د درملنې اړوند ټولګی.

- Treatment Guardian

هغه څوک چې مجرب وی او د محکمې له لورې د ناروغانو د طبی درملنی تر سره کولو تائید یا رد کولو په موخه ټاکل شوېوی.

- Interventional Treatment

مداخلوی درملنه ، هغه ډول درملنه چې پکې هر راز غېر جراحی یا د جراحی اړوند پروسیجرونه تر سره کېدلای شی.

- Medical Treatment

طبی درملنه ، د درملو په مرسته پرته له جراحی عملیات څخه درملنه.

- Treatment Healing System

د درملنې او روغېدنی / ترمیم اړوند سیستم چې د ځانګړی او تخصصی روغتیائی مراقبت پذرېعه ترسره کېږی .

- Treatment Matching

د درملنې پرتله کول ، درملنیزه مقایسه .

- Treatment Modality

د درملنې اړوند موډل .

- Paliative Treatment

تسکېنی / مسکنه درملنه ، هغه ډول درملنه چې پکې بنسټ او موخه یې د ناروغ د (درد او دیسترس) لېرې کولو لپاره په پام کې نیوله شی او د ناروغ د رغېدنې لپاره پکې هیڅ کار نه تر سره کېږی.

- Treatment Pathway

د درملنې لاره ، د درملنې تګلاره.

- Treatment Plan

د درملنې پلان .

- Treatment Plane

د درملنې اړوند (سطح ، مستوی ، صفحه ، پانه).

- Treatment Port

د درملنې اړوند بندرځای .

- Preventive Treatment

وقایوی او مخنیوی کوونکې درملنه چې اصلی موخه یې د ناروغیو پېښېدو مخه ډب کول دی.

- Treatment Procedure

درملنیزې طریقې او پروسیجرونه .

- Prophylactic Treatment

د (**Preventive Treatment**) په انډول.

- Treatment Protocol

د درملنې پروتوکول .

- Rational Treatment

منطقی درملنه، هغه ډول درملنه چې پکې د ناروغۍ او درملنیزو کارونو د پېژندنې له مخې تر سره کېږی.

- Treatment Recommendation

د لړزېدونکی فعالیت شبکه په دماغ کې .

- Tremor Activities of Daily Living Scale

د لړزېدونکی فعالیتونو د ورځنی ژوندون اندازه .

- Tremor Artuum

مهارتی او تخلیقی لړزه .

- Tremor At Rest

د هوسایني او آرامتیا په حالت کې لړزه / رعشه شتون .

- Tremor Control Therapy

د رعشې یا لړزې اړوند د کنټرول یا تر قابو لاندې راوستلو درملنه.

- Tremor Hereditary Essential

د اندامونو ارثی ډوله اساسی رعشه /لړزه .

- Tremor Opiophagorum

د (**Myoclonus-like Tremors**) لپاره یو مطلق غبر وصفی استعمالبدونکې اصطلاح ده .

- Myoclonus-like Tremors

مایوکلونیک ډوله رعشه یا لړزېدونکې حالت.

- Tremor Syndrome

رعشه /لړزه لرونکې سنډروم .

Tremulous

رېږدوونکي، لړ زوونکي، ډاروونکي، ډارن، رڅنده، خوځنده

Tremulously

په رېږدېدا سره ، په لړزېدونکی حالت سره.

Trench

پرې کول ، غوڅول ، قاش قاش کول. کنده کېدل، لښتی اېستل، مورچل جوړول، پت غالي کیندل، تېری کول، لاس اوږدول.

- Trench Coat

پرې پرې شوې طبقه / پوښ .

- Trench Fever

هغه ډول تبه چې د (**Rickettsia Bacteria**) له کبله پېښېږی او دشپې محرقی (**Typhus**) تبې ته ورته والې لری خو په هرو پنځه ورځو کې تکرارېږی.

- Trench Foot

دا هغه حالت دئ چې پکې د سړې هوا او نمجنې یخنی سره د مخامخ کېدو وروسته د بدن پوستکې سوروالې او تیاکې مومی او که شدید ډول وی نو توربخن ګانګرن پېښېږی چې ورته (**Immersion Foot**) هم ویل شی دا ډول حالت د لومړی نړی والې جګړې کې په سرتېرو کې ډېره معمول وه .

- Trench Interment

خاوروته سپارنې مهال غوڅول ، د ښخونې یا دفنی پرې کول ، تدفینی ډول قاش قاش کول.

- Trench Knife

غوڅولو لپاره چاړه ، د پرې کولو چاړه ، قاش قاش کولو اړوند چاړه.

- Trench Mortar

د قاش قاش کولو هاونګ .

- Trench Mouth

قاش قاش /پرې پرې خوله ، د (**Gingivitis**) په اندول.

- Trench Plow

یوې اړوند پرې پرې شوې، یوه ائیز غوڅ غوڅ شوې.

- Trench Warfare

جګړه ائیز پرې پرې حالت ، وسله واله نښتې له امله غوڅ غوڅ او کنده کنده حالت.

Trenchant

تېره، رونې، څرګند ، ځیرک.

Trencher

دغوښو او ډوډۍ د پرېکولو پتنوس وزمه دړه.

Trencherman

خښتو، ګېډو ، نس پرسوونکې .

Trend

تمایل یوې خواته مخ کول، خوا ، مخه، تګ لار ، میلان، تمایل ښوول، پاملرنه کول.

Trendelenburg's

دا یو جرمنی جراحی عالم وؤ چې (**Friedrich Trendelburg**) نومېده او په (**1844–1924**) کې اوسېده.

- Trendelenburg's Operation

د ا د یو جرمنی جراحی عالم وؤ چې (**Friedrich Trendelburg**) پواسطه جراحی عملیات تر سره کېدل دی چې پکې د (**Saphenous Vein**) غوټه کېدل او لېری کول د (**Varicose Veins**) درملنې په موخه تر سره شویدی .

- Trendelenburg's Position

د ناروغ هغه ډول وضعیت چې پکې سر و پښو څخه ښکته وی او پښې پورته موقعیت اخلی چې دا وضعیت د (حوصلې اړوند جراحی عملیاتونو ، ولادی ناروغانو او شاک) په حالت کې ناروغانو ورکول شی .

- Trendelenburg's sign

هغه ډول کلېنیکی نښه چې د (**Congenital Dislocation of the Hip**) ناروغانو کې لیدل شی چې پکې حوصله ښکته پاتې کېږی .

Trephination

هغه جراحی عملیات چې پکې د سر د کوپرۍ دننه

د کتلوی بېړنی ناروغانو تصنیف.

- Triage Methoad

د تصنیف او ډلبندی مېتوډ .

Trial

ترایل ، هغه ډول پروسه چې پکې د یو څه یا درملو د آزمایښت او درملنې په موخه ناروغان او روغ کسان تر څارنې او څېړنې لاندې نېول شی. آزمایښتي، آزمایښت، آزموینه، ځوروونکی شی ، کوښښ ، مقدمه.

- Clinical Trial

کلینیکی ترایل او آزمایښتی تحقیق .

- Randomized Clinical Trial

رنډم ډول کلینیکی ترایل او آزمایښتی تحقیق .

Triamcinolone

دا یو ډول سټېروئید (Synthetic Corticosteroid Drug) درمل دی چې اوږد مهالې اغېزی لری او د (جلدی ، خولې او بندونو التهاب) ناورغیو درملنه کې ډېر مهال پکار وړی.

Triangle

مثلث، درې ګوټه، درې کنجه لرونکې ، درې ګوښه / درې مخه ډوله جوړښت. د بدن هغه اناټومیکه سیمه چې درې اړخونه/ کنجونه ولری .

- CarotedTriangle Inferior

د ثباتی مثلث یوه برخه چې د اومو-هایوائید عضلې په پرتله اړخیزه برخه کې ښکته پرته ده .

- CarotedTriangle Superior

د ثباتی مثلث یوه برخه چې د اومو-هایوائید عضلې په پرتله اړخیزه برخه کې پورته پرته ده .

- Cephalic Triangle

د هغه کرښو ترمنځ مثلثی برخه چې د سر د منځنۍ -شاتنۍ سطحې یو مثلث چې (Forehead) څخه د (Chin) او زنې (Chin) او له زنې څخه د ټنډې په لوری غځېږی .

- Codman's Triangle

یوه مثلثی ډوله چاپېریال چې په راډیوګرافیک فیلم کې په هغه ځای چې د هډوکی پریوسټ د ټومور په وسیله د هډوکی د سطحې څخه لوړ شوېوی او د نارمل هډوکی قشر سره لږ څه په منځنی برخه کې بېرته پیوستون مومی لیدل کېږی.

- Digastric Triangle

د (Submandibular Triangle) په اندول.

- Triangle of Elbow

یو مثلث چې په مخ کې یې (Supinator Langus) عضله په بهر لوری کې یې (Pronator Teres) عضله او په ښې کې یې د عضد هډوکې ځای لری.

ننوتل د هډوکو سوری کولو او اوچتولو له لارې تر سره کېږی او د ماغزو جراحی عملیات تر سره کېږی.

Trephine

دسرد کوپړۍ دسوري کولو اصلاح شوې اره چې وربانديې د سر کوپړۍ جوف وازېږی .

Trepidation

رېږد ، ترهه، تراره، وېره

Treponema

هغه ډول باکتر یائی مېکروب چې د (Syphilis یا Yaws) ناروغیو لامل بلل شی.

- Treponema Pallidam

هغه ډول باکتر یائی مېکروب چې د (Syphilis سیفلیس) ناروغي لامل بلل شی.

- Treponema Pertenue

هغه ډول باکتر یائی مېکروب چې د (یاز Yaws) ناروغي لامل بلل شی.

Treponematosis

د تریپانیما په باکتریائی انتانی ناروغۍ باندې اخته کېدنه

Trespass

تېری کول، لاس اچول، زور زیاتی کول، ګناه کول، بریدماتول، ترپولې ورتېرېدل.

Trespasser

تېری کوونکی.

Trestle

ګړونج، پایه، خرک.

TRH

د (Thyrotrophin-releasing Hormone) اړوند لنډه نښه ده.

Triad

درې ګونې ، درې لړې ، هغه حالت چې پکې درې غړی یا درې ډلې نښې په ګډه منځ ته راغلې وی. ددرې شیانو مجموعه.

Triage

تریاژ، هغه سیستم چې پکې د ډاکټر یا نرس پذرېعه د ارزونې او د لومړیتوب درملنې له مخې ناروغان په څو برخو ویشل کېږی .

- Clinical Triage

کلینیکی تصنیف .

- Mass Casuality Triage

په څټ کې يې تراپيزيوس عضله او په بېخ کې يې اومو هايوئيد عضله) ځای لری.

- Occipital Triangle Inferior

سفلی قفوی مثلث ، هغه مثلث چې د ماستوئيد دوه بارزو تر منځ کرښه يې بېخ او د اوکسی پيټ هډوکی بهرنی راوتلتيا يې راس جوړوی.

- Ommoclavicular Triangle

د (**Subclavian Triangle**) په انډول.

- Pawlike Triangle

هغه مثلث چې د مهبل په قدامی جدار باندې يوه سيمه چې د مثانې له مثلث سره منطبقه ده منځ ته راځي.

- Petit's Triangle

هغه مثلث چې د لاټيسموس ډورسی عضلې لاندينی – ځنګزنی زېرمې او د ګېډې د بهرنی مايلې عضلې تر منځ ځای لری.

- Scarpa Triangle

د (**Femoral Triangle**) په انډول.

- Subclavian Triangle

هغه تحت الترقوی مثلث چې په (غاړه کې ژوره سيمه ، د ترقوې د هډوکی او د ستيرنوکلوئيدو ماستوئيد او اومو هايوئيد عضلاتو) تر منځ مثلثی ډوله چاپيريال په څېر څرګنده پرته ده .

- Submandibular Triangle

هغه مثلث چې د[لاندينی ژامنې د هډوکی ، د ستايلوهايوئيد عضلې او د ايګاستريک عضلې د خلفی بطن او د ډايګاستريک عضلې د قدامی بطن] تر منځ په غاړه کې مثلثی بڼه پرته ده.

- Submaxillary Triangle

د (**Submandibular Triangle**) په انډول.

- Suboccipital Triangle

د ستر (لويې) خلفی رکتوس -کيپيټوس عضلې او د پورتنيو او لاندينيو مايلو عضلاتو تر منځ مثلثی شکله فضا.

- Supraclavicular Triangle

د (**Subclavian Triangle**) په انډول.

- Suprameatal Triangle

د (**Mastoid Fossa**) په انډول.

Triangular

د (درې ګوتيز، مثلثي، د درې ګوښه / درې مخه ډوله) درلودونکې جوړښت.

- Triangular Bandage

د درې ګوښه / درې مخه ډوله بنداژ تړل چې پکې متې ځوړند ېږی.

Triangularis

د (درې ګوتيز ، درې کنجې ، مثلث) بڼې لرونکي جوړښت.

Triangulate

- Facial Triangle

يو مثلث چې څوکې يې د اوکسيپيټ د سوری قدامی ژی منځنی تکی او اويولار او انفی (نازال) تکی جوړوی .

- Farabeuf'sTriangle

د (داخلی جيګولار ورید ، وجهی عصب او تحت اللسانی عصب) تر منځ د غاړې په پورتنی برخه کې مثلث .

- Femoral Triangle

فخذی مثلث .هغه مثلث چې اپورتنی برخه يې د مغبنی لېګامنټ ، اړخيزه برخه يې د سارتريوس عضلې او منځنی برخه يې د تقربی اوږدې عضلې (**Adductor Longus**) ځخه تېرېږی .

- Frontal Triangle

هغه مثلثی شکله فضأ چې د تنډې د تر تړلو لوی قطر او د ګلابېلا سره د هغه د دواړو سرونو سره د پيوستون د کرښو ترمنځ جوړېږی.

- Hesselbach's Triangle

د (**inguinal Triangle**) په انډول.

- iliofemoral Triangle

خاصروی-فخذی مثلث ، هغه مثلثی شکله فضأ چې د نلاټون کرښې د پورتنی خاصروی اغزی څخه د لوی تروکانتر په لوری د غځېدلې کرښې څخه جوړېږی.

- infraclavicular Triangle

تحت الترقوی مثلث ، دا مثلث [په سر کې د ترقوی د هډوکی ، په داخل کې د پکتورالیس مجور عضلې د پورتنی زېرمې او په بهر کې د دلتوئيد عضلې د منځنی زېرمې] ترمنځ جوړ مثلث دئ .

- Inguinal Triangle

مغبنی مثلث ، د ګېډې د قدامی جدار په لاندينی برخه کې [د ګېډې د بڼې عضلې ، مغبنی لېګامنټ ، او لاندينی ګاستريک رګونو] ترمنځ سيمه . د (**Hesselbach's Triangle**) په انډول.

- Triangle of Koch

د بنی اذين په سپټال جدار کې يوه ناهمواره مثلثی ډوله سيمه چې د[ترايکسپيد والف **Tricuspid Valve** ، اکليلی سينوسی **Coronary Sinus** منفذ او د **Todaro Tindon**ټينډون ترمنځ ځای لری او د اذينی –بطينی غوټې] ځای په نښه کوی .

- Langenbeck's Triangle

هغه مثلث چې (رأس يې منځنی پورتنی خاصروی اغزی ، بېخ يې د ورانه د هډوکی اناټوميکی غاړې او بهرنی ضلعه يې د لوی تروخانتېر بهرنی قاعدې)جوړه کړېده .

- Lesser Triangle

هغه مثلث چې په سرکې يې تر ژبې لاندې عصب او په دواړو اړخونو کې يې د دوه بطنی عضلې دواړه بطنونو ځای لری.

- Macewen's Triangle

د (**Mastoid Fossa**) په انډول.

- Occipital Triangle

قفوی مثلث ، هغه مثلث چې په (قدام کې يې سترنوکلوئيد عضله ،

د ویښته د لاندینۍ –بهرنۍ ریښه ئی پوښ سلیم ډول نیوپلازم / تومور.

Trichina

د (Trichinella) د جنس یو ځانګړی ارګانیزم .

Trichinae

د (Trichina) ګڼه شمېره ده .

Trichinella

د (Trichinella Spiralis) په ګډون د نیماتوداپرازیټونو یو جنس دئ چې د (Trichinosis) د ناروغۍ عامل ګڼل کېږی او د (خوګانو، انسانانو او صحرائی موږکانو) په عضلاتو کې موندل شی.

Trichiniasis

د (Trichinosis) په اندول.

Trichinosis

د کولمو هغه ډول ناروغی چې پکې د ګردو چینجیو لاروا ګانې یا نیماتودا (Nematodes) چې د وینې بهیر ته لاره مومی او عضلاتو کې ځای نیسی دا حالت لکه د سرکوزی (Pork) د غوښې خوراک څخه وروسته چې ښه پخه نه وی منځ ته راځی چې د (نس ناستی ، کانګې ، کولمو کولیک دردونه ، تبه او وروسته بیا عضلاتی شخوالي درد ، عضلاتی پړسوب ، تبه او خوله ، ایوزینوفیلیا ، د شترګو شاوخوا اذیما او عنکبوتیه وینه بهیدنه) په څېر نښې ننبانې منځ ته راوړی .

Trichlormethiazide

یو ټیازیدی متیازې راوستونکی درمل دئ چې د وینې د لوړ فشار درملنې کې پکاړېږی.

Trichloro-acetic Acid

دا یو ډېر سوځوونکې اسید چې په طب کې د موضعی ضایعاتو د له منځه وړنې لپاره او په کلینیکی کېمیا کې د پروټینونو د رسوبوونکی عامل په توګه پکاړېږی.

Trichloroethylene

یو خوځنده او رونې سیال چې د صنعتی محلل په توګه پکار وړل شی او پخوا د استنشاقی بې حسه کوونکی په توګه هم پکاړېده .

Tricho-

دا یو مختاړي دئ چې د (ویښته ته ورته ، رشتې ، Trich-)معنی بشپړوی.

Trichoadenoma

یو سلیمه ښه لرونکې فولیکولار تومور چې د مخ او په مثلثو وښلی، ردې ګوټیز کول.

Triatoma

د (Bugs) یو جنس دئ [Hemiptera Order] چې (Cone-nosedbug) یې په طب کې ځانګړې ارزښت لری چې د (Trypanosoma Cruzi) لېږدوونکې دئ.

Triatomic

په کېمیا علم کې د درې اټومونو څښتن .

Tribe

ټېر ، قوم، توکم ، په ډلبندۍ کې یو نوم چې تر کورنۍ لاندې او تر جنس پورته (لپاسه) ځای لری.

Tribrachius

د درېو متونو خاوند جنین چې یوه انومالی بلله شی.

TRIC

د (Trachoma Inclusion Conjectivitis) لپاره لنډه نښه ده.

Trice

شېبه، درنګ ، لحظه ، لمحه .

Tricephalus

د درېو سرونو (کوږپو) څښتن جنین چې غېرنورماله وده بلله شی.

Triceps

دمټ د درې سرې عضلې پله (Tendon) چې درې سری بڼه لری.

- Triceps Brachii

د مټ د هغه درې سرې عضلې پله (Tendon) چې درې سری بڼه لری چې د لېچې د بند څخه ښکته (Forearm) برخه نېغوی او هغه راټولوی

- Triceps Surae

درې سرې شورا چې په لښتلیک کې ورته پاملرنه وکړی.

Trich -

دا یو مختاړي دئ چې د (ویښته ، رشتې ، Tricho-)معنی بشپړوی.

Trichiasis

د یوه منفذ په شاوخوا کې داخل لورې ته د ویښتانو د ودې حالت یه هغه بانه چې د لېمو دننه لورې ته وده کړېوی، د سترګو د سترغلو دردناکه حالت دئ چې پکې د سترګو بانه دننه د سترګو لورې ته وده مومی او سترګه پکې وازه پاتې کېږی او ګاتې نېغوالې مومی.

Trichilemmoma

د (**Trichomonas**) پرازیټ وژونکې ماده.

Trichomonal

د (**Trichomonas**) د جنس د پرازیټ اړوند.

Trichomonas

ترایکوموناس ، د فلاجیل (متروکې) خاوند وحیدالحجروی پرازیټ یو جنس چې د فقاریه حیواناتو هغه پرازیتي انتان چې کولمې او مهبل اخته کوی .

- Trichomonas Hominis

د ترایکوموناس د پرازیتي انتان یو ډول دې چې ناروغی پیښوونکې وی.

- Trichomonas Tenar

د ترایکوموناس د پرازیتي انتان یو ډول دې چې ناروغی پیښوونکې وی.

- Trichomonas Vaginalis

مهبلی ترایکوموناس ، هغه پرازیتي انتانی ناروغی چې د مهبل دننه مخاطی غشأ اخته کوی او خارښت لرونکې دیسچارج (**Irritating Discharge**) منځ ته راوړی.

Trichomoniasis

د (**Trichomonas**) انتان پذرېعه ککړتیا ، هغه پرازیتي انتانی ناروغی چې کولمې او مهبل د (**Trichomonas**) پذرېعه اخته کېږی .

Trichomycosis

هغه فنګسی انتانی ناروغی چې د وېښتانو رشتې د (**Corynebacterium**) پذرېعه اخته کېږی .

- Trichomycosis Axillaris

هغه فنګسی انتانی ناروغی چې د وېښتانو رشتې د (**Corynebacterium Tanus**) پذرېعه د تخرګ (**Axillaris**) برخو کې اخته کوی چې نوکارډیا ته ورته والې لری . د وېښتانو په سر د باکټریائی کتلې وده چې (سره ، ژیړ او تور) نوډولونه رامنځ ته کوی.

Trichonodosis

هغه حالت چې د وېښتانو د ظاهری یا واقعی تاوراتاو والی پذرېعه پېژندل کېږی.

Trichopathy

د وېښتانو هر ډول ناروغی .

Trichophytid

د رتایکوفیتوزیس (**Trichophytosis**) سره یوځای د درموفیت شتون .

Trichophytic

د (**Trichophytosis**) اړوند صفت .

تندی په سر رامنځ ته کېږی.

Trichoanaesthesia

د وېښته د حساسیت کمښت یا نشتوالی حالت .

Trichobezoar

هغه د معدې کتله چې د وېښتانو او وړیو د رېښو د خوراک څخه وروسته د غونډوسکی په څېر په معده کې رامنځ ته کېږی او کلېنیکی نښې پیښوی.

Trichocephalus

د (**Trichuris**) ناروغی په انډول .

Trichodiscoma

د وېښته د صفحې د مېزودرمی برخې یوهمارتوم تومور چې معمولاً د کوچنیو پاپولونو په بڼه لیدل کېږی او د هیستولوژیک پلوه (**Acrochordon**) ته ورته وی .

Trichoepithelioma

د لاتوګو د وېښتانو د فولیکولونو څخه سرچینه اخیستونکې جلدی سلیم تومور چې معمولاً په ارثی ډول (**Multiple Trichoepithelioma**) او غیر ارثی ډول (**Solitary Trichoepithelioma**) سره یوځای لیدل شی.

- Multiple Trichoepithelioma

په ارثی ډول متعدد (**Trichoepithelioma**) تومورونه په ګډ ډول لیدل شی.

- Solitary Trichoepithelioma

په غیر ارثی ډول کلک او سخت (**Trichoepithelioma**) سره یوځای لیدل شی.

Trichoesthesia

داسې حس کول چې د پوستکی یو وېښته لمس کېږی دا کار د وېښته په فولیکول کې د موجود آخذو تحریک په وسیله تر سره کېږی .

Trichology

هغه طبی علمی څانګه چې د وېښته او د وېښتانو اخته کوونکی ناروغیو اړوند څېړنه کوی.

Trichome

وېښته ډوله جوړښت ، د وېښته په څېر ورته بڼه .

Trichomegaly

و دریځو اوښو د وېښتانو د خورا ډېرېدنې سره مل یو ولادی سنډروم چې د (بدن د وني د کوچنی توب ، ذهنی شاته والې ، د سترګو د شبکیې د تصبغی کېدنې) په څېر اړوند کلېنیکی نښې ورسره وی.

Trichomonacide

ویښتان ملوث کړی .

Trichosporosis

د ترایکوسپورون (Trichosporon) په چنیاسو باندې اخته کېدنې او ناروغیو منځ ته راتګ حالت بلل شی.

Trichostasis

هغه حالت چې د ویښتانو فولیکولونه پکې تقرنی او توربخن پلکونه منځ ته راځی دا پلکونه د تاوراتاو ویښتانو غوندوسکه (ټولګه) له ځانه سره لری .

Trichostrongylus

د نیماتودا چینجی یو جنس چې د انسان او حیوان پرازیت شمېرل شی.

Trichotillomania .

هغه روانی د جنون حالت چې پکې ناروغه کس خپل ویښتان کشوی او په اجباری او اظطراری (Compulsively) ډول راوکاږی .

Trichotomous

درې برخیز ، په درې برخو ویشلې جوړښت .

Trichromatism

هغه ډول لیدنه (رویت) چې یوازې درې ډوله رنګونه په ابتدائی بڼه پېژنی او هغه سره توپیر کولای شی.

Trichrome

درې رنګه ، درې رنګیز ، د درې ډوله رنګ لرونکې .

- Trichrome Stain

درې رنګه بڼه تلوین چې په هیستولوژیک کتنو کې پکاږی.

Trichroic

د (Trichroism) اړوند صفت .

Trichroism

هغه ډول ماهیت چې په درې بېلابېلو خواوو کې یوازې درې ډوله رنګونه په ابتدائی بڼه پېژنی او هغه سره توپیر کولای شی.

Trichromasy

د درې اصلی رنګونو او د هغه د مرکبونو د پېژندنې توان ، د طبیعی رنګ لیدل .

- Anomalous Trichromasy

د رنګونو د لیدلو یو ډول نیمګړتیا چې شخص د رنګه لید د مخروطی درې ډوله حجرو د لرلو سره سره بیا هم د هغو د یوې د انومالی یا نیمګړتیا له کبله نورمال رنګه لیدنه لری .

Trichromatic

د درې رنګونو اړوند .

Trichophytin

د ترایکوفیتون د کرهنې چانې شوې بڼه چې د ترایکوفیتونی انتان په آزمایښت کې پکاږی.

Trichophytobezoar

ترایکوفیتو بزور ، په معده کې د [نباتی فیبرونو او حیوانی ویښتانو (وړیو ، تارونو)] متراکمه کتله او غوندوسکې چې د (معدی التهاب او کانګې ، وزن کمښت) لامل کېدای شی دا حالت د روانی ناروغانو په منځ کې لیدل شی.

Trichophyton

ترایکوفیتون ، هغه چنیاسې انتان چې (پوستکې ، ویښتان او نوکان) اخته کوی .

Trichophytosis

هغه فنګسی انتانی ناروغی چې د ویښتانو چې (پوستکې ، ویښتان او نوکان) د (Trichophyton) پذرېعه اخته کېږی .

Trichoptilosis

د ویښتانو درز کېدل یا په منځ چاودل د څوکو برخې څخه .

Trichorrhexia

هغه ډول ناروغه حالت چې ویښتان پکې ماتېږی .

Trichorrhexis

هغه ډول ناروغه حالت چې ویښتان پکې ضعیفه او ماتېږی

- Trichorrhexia Nodosa

دویښتانو هغه ډول ناروغه حالت چې د قشر په درزونو او ماتوالو سره پېژندل شی او پکې ویښتان سپین داغونه او دانه لرونکی بڼه غوره کوی او ویښتان په آسانی سره ماتېږی .

Trichoschisis

د (Trichoptilosis) په اندول .

Trichoscopy

د مسلکی کس یا ډاکټر پواسطه د ویښتانو کلینیکی کتنه (معاینه کول) تر سره کول .

Trichosis

د ویښتانو غیر معمول ناروغه حالت . د ویښتانو هر ډول ناروغي ، د ویښتانو غیر نورماله وده کول .

Trichosporon

د چنیاسو یو ډول چې د تنفسی او هضمی جهاز نورمال فلورا جوړی (په انسانانو او حیواناتو کې) او کېدای شی

دري غوړی.

- Tricuspid Tooth

د دري غوړی یا څوکو لرونکي غاښ .

- Tricuspid Valve

د زړه اړوند د دري څنډو (غوړی ، پرو) لرونکي والف /دسام چې د زړه د ښی اذین او ښی بطین تر منځ پروت دئ .

Tricyclic

په مالیکولی جوړښت کې د (دري کړیزه ، دري سایکل، دري څرخي) سره ترلې / پیوسته ډول کړیو لرل ، دري حلقه ئیز بڼه ، د دري ارابه اییزه اړوند صفت.

- Tricyclic Antidepressant Drug

د دري کړیولرونکي اړوندد (خپګان **Depression** او **Panic Disorder**) ضد درمل لکه (**Amitriptyline** او **Nortriptyline**) په څېر .

Tridactylism

په لاسونو یا په پښو کې یوازې د دري ګوتو شتون حالت.

Tridactyly

دري ګوتې حالت ، دري ګوتې لرونکي پښه یا لاس .

Trident

دري غاښې، دري غاښې نیزه.

Tridentate

د دري غاښونو څښتن .

Tridermic

دري طبقې پوستکی درلودونکي حالت لکه د ایمبریو (اکټودرم، انډودرم او مېزودرم) څخه رامنځ ته شوې .

Tridihexethyl Chloride

د امونیمی څلور برخو لرونکي اتتی کولینرجیک درمل چې د هضمی جهاز سپازمونه او زیات تحریکونه نهی کوی او د معدې افرازات او عصاره کموی.

Tried

آزمویل شوی ، د ډاډ وړ ، ډاډمنتیا ، تجربه شوی، خالص، صاف شوی.

Triene

په کېمیا کې هغه مرکب چې دري مضاعف اړېکې (**Three Double Bonds**) درلودونکي وی .

Triethanolamine

د (**Mono-, di-, Triethanolamine**) ګڼ جوړښت چې یو ډول ملین (غوړینه ماده) دئ او په ګڼ شمېر جلدی طبی (مرحمونو، محلولونو) جوړولو صنعت کې پکار وړی.

- Trichromatic Vision

نورماله بڼه د ابتدائی دري رنګونو(**Red, Green** او **Blue**) لید وړتیا لرل.

Trichromacy

د (**Trichromatic Vision**) په انډول.

Trichromatism

د (**Trichromatic Vision**) په انډول.

Trichromatopsia

د (**Trichromasy**)په انډول.

Trichromic

په دري رنګونو پورې اړوند ، هغه کس چې د رنګی طیف د اوه رنګونو څخه یوازې د دري رنګونو

Trichuriasis

د کولمو هغه پرازیتي انتانی ناروغی چې کولمې د (**Whipworms**) پذرېعه اخته کېږی .

Trichuris

د نیماتودا د کورنۍ هغه پرازیتي انتانی ګردې نرۍ چینجی چې د سیکوم کولمې برخه د (**Whipworm**) پذرېعه اخته کېږی .

- Trichuris Trichiura

د نیماتودا د (**Trichuris**) د ډلې څخه یو پرازیت دئ چې انسانان ککړوی .

Tricipital

دري سرې ،د دري سرونو (څوکو) لرونکي ، په دري سرې عضلې پورې اړوند .

Triclofos

خوب راوستونکی او مسکن درمل دی چې په خپل سوډیمی مالګیز ډول کې د بې خوبۍ په درملنه کې پکار وړی.

Tricornute

دري څانګیز ، دري ښاخیز ، د دري څانګو یا ښاخونو درلودونکي .

Tricrotic

دري څپه ائیز ، د (**Tricrotism**) اړوند صفت.

Tricrotism

دري څپه ائیز حالت ، دري څپې (موجې) لرونکي حالت

Tricuspid

دري څنډو یا دري پرو لرل لکه (د زړه یو والف / دسام) په څېر ،دري څوکی غاښ دري څوکی، دري سری،دري غاښی،

- Triethanolamine Polypeptide Oleate-condensate

دا یو ډول (**Ceruminolytic Agent**) ماده ده چې د غوږونو موم (**Excessive Earwax**) لېرې کولو په موخه د (**Propylene Glycol**) محلول په څېر کارېږي.

Triethylene

ترای ایتایلین ماده .

- Triethylene Glycol

ترای ایتایلین ګلایکول ماده . د بخار د حالت په څېر د هوا د تعقیم کولو په موخه (د باکتري ضد ، فنګس ضد او ویروس ضد اغېزې لري) په لمده بله هوا کې یې اغېزې کمښت مومي.

- Triethylene Melamine

القلی کوونکې ماده ده چې د تومورونو نیوپلازم ضد اغېزې لري او د مرغېږیو د تخریبوونکې په څېر تاثیر لري ورته نوم یې (**Triethylene Melamine**) دئ . د (**Tretamine**) په انډول.

- Triethylene Thiophosphoramide.

القلی کوونکې (**Cytotoxic Alkylating Agent**) ماده ده چې د تومورونو نیوپلازم ضد اغېزې لري او د (د تیبونو سرطان ، مثاني سرطان ، پربکارډ سرطان او هغه پلورائی انصباب چې د سرطان ځخه وروسته پېښ شوېوی لو هوچکن ناروغی. **Hodgkin's Disease**) درملنې کوونکې په څېر تاثیر لری د (**Intravenous** یا وریدی **Intracavitary, Intratumor,Intravesical,** تطبیق لەلارې) تطبیقی بڼه لری .د (**Thiotepa**) په انډول.

Trifacial

دري سري ، د پنځم زوج اړوند صفت دئ ، د (**Trigeminal Nerves**) په انډول.

- Trifacial Nerve

د پنځم زوج اړوندچې د وجهی عصب اساسی حسی او د ژوولو عضلاتو حرکی عصبی څانګې لری چې هسته یې په [**Mesencephalon**]، (**Pons**) او (**Medulla Oblongata**)]کې موقعیت لری چې د ورمېږ (**Cervical Portion of the Spinal Cord**) لورې ته ښکته غځېدلې دی.د [**Nervus Trigeminus , Fifth Cranial Nerve**] په انډول.

- Trifacial Neuralgia

د (**Ramsay Hunt Syndrome** ، **Neuralgia Facialis Vera** ، **Genicul**.**Fothergill's Neuralgia Tic Douloureux (Trigeminal Neuralgia)** (**ate Neuralgia** په انډول

Trifascicular

د دري بنډلونو (**Bundles**) یا دري فسیکولونو (**Fasciculi**) اړوند.

- Trifascicular Block

د دري فسیکولونو اړوند بلاک سره په تړاو کې .

Trifasciated

د دري صفاقونو (**Fasciæ**) یا بانډونو (**Bands**) پذرېعه احاطه شوې .

Trifenmorph

هغه (**Molluscicide**) چې د بلهارزیازیس (**Bilharziasis**) په ناروغۍ کنترول کې تړې کار اخیستل شی. د (**Trifenmorph, Frescon** او **4-tritylmorpholine**) په انډول.

4-tritylmorpholine

د (**Trifenmorph, Frescon** او **Tritylmorph**) په انډول.

Trifid

په دري برخو باندې وېشلې شوې اناټومیک جوړښت.

- Trifid Stomach

هغه حالت چې پکې معده د دوه تضیقونو له مخې په دري برخو وېشلې شوېوی .

- Trifid Tongue

هغه حالت چې پکې ژبه د قدام پلوه په دري ښکاره برخو باندې وېشلې شوېوی.

Trifluctuation

دري څېړه ائیزه ، دري موجه .

Trifluoperazine

هغه روانی ناروغیو ضد درمل (**Antipsychotic Drug**) چې د ($C_{21}H_{24}F_3N_3S$) فورمول لری.

- Trifluoperazine Hydrochloride

هغه روانی ناروغیو ضد درمل (**Phenothiazine Antipsychotic Drug**) چې د ($C_{21}H_{24}F_3N_3S$) هایدروکلورایدی بڼې فورمول لری سوداګریز نوم یې (**Stelazine**) دئ او په (**Dopaminergic Synapses**) د [**Cerebral Cortex** دماغی قشر **Hypothalamus** او **Limbic System**] برخه کې د (**Neurotransmission**) بلاک منځ ته راوړی او د (**Schizophrenia** او **Psychotic Disorders, Nonpsychotic Anxiety**) درملنه کې پکار وړله شی.

Trifluoroacetyl

هغه ډله چې د پیپټاید جوړېدنې (**Peptide Synthesis**) کې د (**Amino moieties of Amino Acid**) او (**Peptides**) محافظت کوی.

Trifluoroborane

دا یو ډول تېز بویه او پرته له رنګ څخه ګاز (Pungent Colorless Gas) فلورایډ دې د (Boron Trifluoride) پنامه یادېږی ، د (Hydrofluoric Acid) په انډول.

Trifluorothymidine

دا یو ویروسی ضد (Antiviral) مرکب دئ چې د (Viral DNA Synthesis) جوړېدنه کې مداخله کوی او هغه ویجاړوی او د [Keratitis او Keratoconjunctivitis] کې چې د (Human Herpesviruses 1 and 2) ویروسی سرچینه ولری موضعی استعمال لری . د (Trifluridine) په انډول.

Triflupromazine

دا د (Phenothiazine) مشتقاتو څخه دئ چې هایدروکلورایدی مالګه یې د روانی ناروغیو (Antipsychotic) او زړه بدوالی(Antiemetic)درملنه کې پکارېږی.

- Trifluomeprazine Maleate

ترای فلو پیرازین مالیټ ، د (Phenothiazine Tranquilizer) آرامتیا بخښوونکی له مشتقاتو څخه یوه ډله درمل دي.

- Triflupromazine Hcl

دا د (Phenothiazine) مشتقاتو هایدروکلورایدی مالګه بڼه ده چې د روانی ناروغیو (Antipsychotic) او زړه بدوالی(Antiemetic)درملنه کې پکارېږی.

Trifluralin

د پرازیتولوژی له مخې دا یو (Dinitroaniline Herbicide) درمل دی چې (Micromolar Concentrations) یې په انتخابی ډول د (Proliferation) نهی او د (Leishmania Mexicana Amazonensis) توپیر په موخه کارول شی او بنه مصؤن د پرازیت ضد درمل دی.

Trifluridine

ترای فلورایډین ، د (Trifluorothymidine) په انډول.

Triflurothymidine

دا هم یو ډول د ویروس ضد درمل دی چې په (Keratoconjunctivitis, Herpetic Keratitis, او نور چې Herpes Simplex Virus) درملنه کې ورکول شی .

Trifocal

دري محراقه ، د دري محراقونو لرونکې وسیله .

- Trifocal Glasses

دري محراقه عینکې ، دري محراقه لینز بنیښه ئی عینکې چې دري ډوله لیدنه کولای شی. د (Trifocal Lenses) په انډول.

- Trifocal Lenses

دري کسی . د (Trifocal Glasses) په انډول.

Trifoliate Orange

دا یو ډول چینائی درمل دی چې دري ډوله [Antidiarrhoeal, Diuretic, Carminative And Expectorant] اغېزې لری او معمولاً د (Abdominal او Chest Pain, Bloating, Cholecystitis همدارنګه د Diarrhoea او Haemorrhoids) درملنی لپاره ورکول شی.

Trifoliol.

د (Phytoestrogens) څخه یو چې بنکلابخښونکې ډلې څخه بلله شی.

Trifoliosis

د لمروړانګو (نور) سره حساسیت له کبله درماتیت (Photosensitive Dermatitis) حالت چې د [Ingestion of Burr Trefoil (Medicago Polymorpha] اغېزو له امله منځ ته راځي.

Trifurcate

هغه جوړښت چې دري څانګیز وی ، دري غاښیز ، د (Trifurcate Antennae) په انډول.

Trifurcated

دري پرکه شوې، دري غاښیز / څانګیز شوې حالت .

- Trifurcated Root

هغه جذر یا بېخ جوړښت چې دري برخیز /څانګېزه ویشلې بڼه لری.

Trifurcation

د بدن هغه اناټومیک جوړښت چې دري برخیز /څانګېزه ویشلې بڼه لری لکه (د ویني رګونه ، غاښونه) چې دري څانګې ولری

Trigastrics

دري معدې (Three Bellies) لرونکې ، دري بطنی لکه د یوې عضلې چې دوه وتری څوکې (Two Tendinous Interruptions) لری.

Trigeminal

دري برخیز ، دري ګونبې جوړښت.

- Trigeminal Ganglion

ترایجمینال حسی غوټه (Sensory Ganglion) چې د پنځم عصبی زوج (Sensory Fibres) څخه منځ ته راغلې دی ، د (Gasserian Ganglion) په انډول.

- Trigeminal Nerve

کڅوړې د مخاطی غشأ جدار اړوند چې د احلیل وازېدونکې خولې او د دوه حالبونو فوحو تر منځ پرته ده او د مثانی (Uvula) سره پای رسېږی.

- Carotid Trigone

د دوه بطنی عضلې د شاتنی منځنی کرښې د مخ ترمنځ دری ګوټیز چاپیریال.

- Olfactory Trigone

د شاموی طناب د ریښو تر منځ د توربخنې مادې مثلثی شکله فضأ.

- Vesical Trigone

د (Trigone of Bladder) په اندول.

Trigonectomy

د مثانې د ترایګون برخې پرې کول یا غوڅولو اوراکښلو جراحی عملیاتی کړنلاره.

Trigonitis

د متیازو کڅوړې (مثانې) د مثلثی (Triangular) برخې جداری التهاب.

Trigonocephalic

د سر کوپړی دری کنجه کېدنې کلښیکی ننښې اړوند. د (Trigonocephaly) اړوند صفت.

Trigonocephalus

په (Trigonocephaly) باندې اخته ناروغه کس.

Trigonocephaly

ترایګونوسفالی، هغه کلښیکی حالت چې پکې د سر کوپړی دری کنجه کېدنې (Triangle) کلښیکی ننښه منځ ته راځی اوپکې په منځنی کرښه د جبهی (تندې) هډوکی د زاویه لرونکی کېدو له کبله دسر دری کنجه (ګوټیز) حالت منځ ته راځی.

Trigonometric

دری ګوښه ائیز ، دمثلثاتو(Trigonometry)علمی څانګې اړوند

Trigonometry

دری ګوښه ائیز شکلونو اړوندعلم ، مثلثات. دمثلثاتو علمی او څېړنیزه څانګه.

Trigonum

د دری څنډو لرونکې چاپیریال جوړښت ، مثلثی ، مثلث ته ورته بڼه.

Trihexyphenidyl

اتروپین ته ورته ځانګړنو لرونکې انټی کولینرجیک چې ترایجیمینا ل عصب چې پنځم عصبی زوج بلل شی او له [(Ophthalmic Nerve) ، (Maxillary Nerve) او (Mandibular Nerve)] څخه منځ ته راځی چې د(تندی Forehead ،مخ Face او زنې Chin ، ژامنو عضلاتو Jaw Muscles) برخو حسی عصبی تعصیب تر سره کوی.

- Trigeminal Neuralgia

پنځم عصبی زوج یا ترایجیمینا ل عصب درد لرلو حالت چې پکې د مخ او ژامنو شدید درد شتون لری چې ورته (Tic Douloureux) هم ویل شی.

Trigeminy

په دری غبرګیز حالت کې پېښېدل ، د یوې چټکې لړی څېښتن دری نبضانی ضربانونو شتون چې د زړه غېر منظم ټکانونه منځ ته راتګ دئ چې پکې یو منظم نبضان (تقلص Heartbeat) څخه وروسته د دوه نورو (Two Ectopic Beats) پذېرېعه تعقیبېږی او منځ ته راځی.

- Ventricular Trigeminy

یوه اریتمیا چې په هغه کې لومړی یو د وخت څخه دمخه بطینی شربان او ورپسې دوه نارمل ضربانونه تکرارېږی.

Trigger

ماشه ، ماشه کشول ، غوټه وازول او هغه ایله کول. هغه فعل دئ چې د یوه څه د واقع کېدنې پیل کوی.

- Trigger Finger

د ماشې چلولو اړوند بڼې ګوته چې په ستونزمن ډول سره سمون (Straighten) مومی او دا حالت ښائی د یوه قابض ټینډون لپاسه د نوډول (Flexor Tendon Nodule) له کبله منځ ته راځی.

Triglyceride

ترایګلایسرید ، د وینې په بهیر کې هغه ډول غوړه شحمی (خنثی وازګینه) ماده چې د دری ډوله شحمی اسیدونو (Three Fatty Acids) څخه منځ ته راځی.

Trigonal

مثلثی ، دری غوګیزې ، دری ګوټیز .

Trigone

ترایګون ،دری غوړې چاپیریال ، د پورته ژامنې په لوی طواحن غاښ کې دری لومړنی تېری ، هغه دری زاویه وی مثلثی (Triangular) برخه د مثانې (متیازو کڅوړې) جدار اړوند چې د احلیل وازېدونکې خولې او د دوه حالبونو فوحو تر منځ پرته ده.

- Trigone of Bladder

هغه دری زاویه وی مثلثی (Triangular) برخه د مثانې (متیازو

دري میاشتنی دوره، د بلاربښت (امیدواری) اړوند هري دري میاشتې مودې (3-Month Periods / Pregnancy) ته ویل شی.

- First Trimester

د بلاربښت (امیدواری) اړوند لومړی دري میاشتنی موده.

- Second Trimester

د بلاربښت (امیدواری) اړوند دوهمه دري میاشتنی موده.

- Third Trimester

د بلاربښت (امیدواری) اړوند درېیمه دري میاشتنی موده.

Trimethoprim

هغه نیمه ترکیبی سلفامید درمل چې د ګرام منفی مېکروبونو درملنه او ملاریا درملنه کې ورکول شی.

Trimethadione

یوه انتانی ناروغی ده چې د کلېنیکی پلوه اپیډیمیکه ټایفوس ته ورته ده خو لږ څه خفیفه بڼه لری عامل یې (**Recketsia**) ټایفی دئ او د موږکانو سپږو له لارې انسانانو ته لېږدوله شی.

- Kenya Tick Typhus
د (**Boutonneuse Fever**) په انډول.

- Recrudescent Typhus
د (**Brill's Disease**) په انډول.

- Scrub Typhus
یوه حاده انتانی ناروغی ده چې د کلېنیکی پلوه ټایفوس ته ورته ده عامل یې (**Recketsia Tsutsugamushi**) دئ او د (**Chigger**) د یوې حشرې له لارې انسانانو ته لېږدوله شی.

- Tropical Typhus
د (**Scrub Typhus**) په انډول.

Typology
د ډلو (تایپونو) څېړنې علمی څانګه ، ډلبندی پوهنه ، د ډلبندی له مخې د باکټری ګانو څېړنه.

Tyromatosis
هه حالت چې په کازیوزی استحالې سره پېژندل کېږی.

Tyropanoate
یوه کثیفه (حاجب) ماده چې سوډیمی مالګه یې په خوراکی کولیسیستوګرافی کې پکار وړی.

Tyrosine
یو ډول طبیعی اساسی امینواسید دي چې په اکثروپروټینونو کې موندل شی او د فینایل الانین له مېتابولیزم څخه پلاس راځی او د ټایرایډ هورمونونو او کتاکولامینونو او میلانین پریکارسور ده.

Tyrosinemia
دا یوه امینواسیدي اختلالی ناجوړی ده چې د تایروزین مېتابولیزم له اختلال څخه سرچینه اخلی او پکې د وینې د تایروزین سویه لوړوالی مومی.

Tyrosinosis
د (**Tyrosinemia**) پخوانی نوم دئ.

Tyrosinuria
په متیازو کې د تایزوزین د سویې او د اطراح زیادښت.

Tyrosyluria
د فینایل د پارا هایدروکسی توکو (چې د تایروزین څخه پېښېږی) د بولی اطراح زیادښت حالت دئ چې په تایروزینیمیا کې لیدل شی.

Tyvelose
یو غېر عادی قند چې د ځینو سلمونیلاګانو پولی سکرایډ سوماټیک انتیې جن دی.

U.u

د انګریزی ژبې دالفبا یوویشتم تورې دئ او په طب ځانګو کې د ځانګړو اصطلاحاتو لپاره د لنډې ننبې پتوګه کارول شی.

U

د یورانیوم (**Uranium**) لپاره لنډه ننبه ده .

U

د یوراسیل (**Uracil**) لپاره لنډه ننبه ده .

U

د یوریډین (**Uridine**) لپاره لنډه ننبه ده .

U

①د انزایمی فعالیت نړیوال یوون. ②یوون یا واحد.

u

اټومی کتلوی واحد .

Ubiquinol

د (**Ubiquinone**) اوښتې او متغیره بڼه.

Ubiquinone

د کېنون یو ډول مشتق چې نا مشبوع هایدروکاربنی اړخیز ځنځیر لری د مایتوکاندری د داخلی غشأ ګانو په وازګین قطب کې ځای لری او د الکترون د لېږد په بهیر کې ونډه اخلی لنډه ننبه یې (**Q**) یا (**Q10**) ده .

Udder

غولاټکه لکه د (غوا ، اوښ ، میږې ...)

UDP

د یوریډین دای فاسفېټ (**Uridine Diphosphate**) لپاره لنډه ننبه ده.

Ugly

بدرنګه، بدبنې، بد رګه، ناوړه ، بد، رټلی، بدرګه، بداخلاق، جنګیره ، جګړاوو، بېخونده ، نامنلی، خطرناک،ویروونکی، ډاروونکی.

UK

د یوروکاینېز (**Urokinase**) انزایم لپاره لنډه ننبه ده .

UKCC

د برطانیه هېواد مرکزی شورا (**United Kingdom Central Council**) لپاره لنډه ننبه ده چې د[نرسنګ **Nursing** ، قابله ګی **Midwifery** او روغتیائی کتونکو **Health Visiting**] اړوند دندې تر سره کوی .

UI-

دا یو مختاړې دئ د (تپ ، ندبې ، اوری) معنی بشپړوی.

Ulcer

تپ،ناسور، په بده اوښتی دانه ، قرحه ، زخم ، په یوه غړی یا نسج په سطحه (مخاطی غشأ **Mucous Membrane** ، پوستکی **Skin**) کې د یوې موضعی ضایعې او نیمګړتیا یا ځیرېدنې منځ ته راتګ چې په ضمنی ډول د نکروټیک التهابی نسج څخه ډکېږی التهابی کېږی او رغېدنه یې ګرانه بلل شی . د (**Open Sore**) په انډول.

-Aphthous Ulcer

د خولې د مخاطی غشأ او نور هضمی جهاز قرحوی تېاکې او تپونه منځ ته راتګ .

-Chancroid Ulcer

د (**Infectious Venereal Ulcer**) په انډول.

-Cancerous Ulcer

سرطانی قرحې او تپونه.

-Corneal Ulcer

د سترګو د قرنیې برخې قرحه .د (**Ulcerative Keratitis**) په انډول.

-Curling Ulcer

د (**Stress Ulcer**) په انډول .

-Decubital Ulcer

د بستر تپ /قرحه ، هغه تپ چې د اوږدې مودی بستری پرېوتو ناروغانو کې د بدن د یوې برخې د اوږدمهالی فشار او اروائی اختلال له امله منځ ته راځي .

-Decubitus Ulcer

د (**Decubital Ulcer**) په انډول .

-Diabetic Ulcer

د شکرې په ناروغانو کې د تقرحی تپ منځ ته راتګ چې د شریانی رګونو اروائی اختلال له امله منځ ته راځي .

-Ulcer Diet

هغه ډول خواړه /غذائی مواد چې تخریشی نه وی.

-Duodenal Ulcer

د اثناعشر کولمې قرحه . د اثناعشر کولمې د لومړی قطعې برخه کې منځ ته راځي دا قرحات د (**Helicobacter Pylori**) باکتریا او د پیپټیک افرازاتو د زیاتوالی پورې تړاو لری.

-Gastric Ulcer

د معدې قرحه ، د معدې مخاطی غشأ په برخه کې منځ ته راځي دا قرحات د (**Helicobacter Pylori**) باکتریا د پیپټیک افرازاتو د زیاتوالی پورې تړاو لری.

-Hunner's Ulcer

هغه ډول تقرحی تپ چې د مثانې د جدار ټولې طبقې ونیسی او په مزمن بین البینی سیستیټ کې لیدل شی.

/پیپټیک موادو ډېر افراز له کبله پېښېږی.

-Stress Ulcer

هغه ډول پیپټیک قرحه چې د روانی فشار او سټرس له کبله په معدوی جدار کې منځ ته راځي چې د اسیدونو / پیپټیک موادو ډېر افراز له کبله پېښېږی.

-Trophic Ulcer

هغه ډول قرحه / ټپ یا زخمونه چې دیوې برخې د اروائی اختلال او ناکافی تغذیې له امله منځ ته راځي.

-Tropical Ulcer

①جلدی لشمانیائی ټپ / قرحه ، ② د (**Tropical Phagedenic Ulcer**) په انډول.

-Tropical Phagedenic Ulcer

د ناڅرګند ډول لامل لرونکی دردناک او مزمنه بڼه فاجنډینیک قرحه چې معمولاً په حاره یا تودو سیمو خوار ځواکی اخته ماشومانو کې په ښکتنی هډونو کې منځ ته راځي.

-Varicose Ulcer

هغه ډول ټپ /قرحه چې دوریدی رګونو د واریکوزی ناروغی (واریس- **Varicose**) له کبله منځ ته راځي.

-Venereal Ulcer

زهروی قرحه / ټپ ، هغه ډول ټپ /قرحه چې یا غېر اختصاصی کلمه چې په بهرنی تناسلی غړو برخو کې شانکر ډوله ټپونو ته اطلاق او نغوته کوی چې د زهروی ناروغیو سره تړاو لری.

Ulcerate

قرحوی ، تقرحی ، ټپی شوې ، زخمی ، په قرحوی بدلونونو اخته شوې . ناسورول، ټپی کول، ناسورېدل ، ټپی کیدل.

Ulcerated

قرحوی شوې ، تقرحی شوې ، ټپی شوې ، زخمی شوې ، په قرحوی بدلونونو اخته شوې.

-Ulcerated Lesions

قرحوی شوې آفتونه ، ټپی شوې ضایعې ، زخمی شوې ضایعات ، په قرحوی بدلونونو اخته شوې آفتونه.

-Ulcerated Skin

قرحوی شوې پوستکې ، تقرحی شوې پوستکې ، ټپی شوې پوستکې ، زخمی شوې پوستکې ، په قرحوی بدلونونو اخته شوې پوستکې.

Ulcerating

هغه ډول ټپ / قرحه چې تر ودې او انکشاف مرحلې لاندې وی.

Ulceration

قرحوی ، ټپ موندونکې ، د قرحې منځ ته راتګ پروسه

-Ulcer Index

د قرحې اړوند څرګندوونکی ټکی یا شهود.

-Jejunal Ulcer

د صائم کولمې ټپ ، د جیجینوم کولمې ټپ چې د التهاباتو ، ترضیضاتو له امله منځ ته راځي او که د جراحی عملیاتونو څخه وروسته د (**Secondary Jejunal Ulcer**) پنامه یادېږی.

-Marginal Ulcer

د جیجینوم کولمې ټپ چې دګاستروجیجینوستومی وروسته چې تفمعی برخې ته نېږدی منځ ته راځي.

-Peptic Ulcer

د معدې د پیپسین انزایم د ډېر مقدار افرازېدلو له امله د معدې او اثناعشر کولمې لومړنی قطعې کې د ټپ رامنځ ته کېدل بلل شی.

-Perforating Ulcer

تثقبی قرحې ، هغه ډول ټپ چې د یوه غړې ټول جدار یې نیولې او هغه یې سورې کړېوی او دواړه لورې ته یې سر موندلې وی لکه د د معدې او اثناعشر کولمې لومړنی قطعې کې د ټپ او تثقب رامنځ ته کېدل بلل شی.

-Phagedenic Ulcer

د نسجی تخریب سره یوځای د نکروټیکه ضایعه چې د پوستکی په یوې پخوانی ضایعې یا روغ پوستکی کې د باکتریاوو د ثانوی برید څخه سرچینه اخلی او د سیستمیکې ناروغی له کبله د مقاومت کمښت اخته ناروغانو کې پېښېږی . د (**Tropical Phagedenic Ulcer**) په انډول.

-Planter Ulcer

د پښې د تلی او پوندې برخې نیوروټروفیکه بڼه ژور ه قرحه چې د دې برخو د کرختوالی له کبله د پرلپسې ترضیضاتو څخه سرچینه اخلی چې د (خوراړې یا جذام او خوړې شکرې) په ناروغانو کې پېښېږی.

-Rodent Ulcer

په پوستکی کې ټپې کېدونکې بازال سل کارسینوما سرطانی ټپ/ قرحه.

-Secondary Jejunal Ulcer

د جراحی عملیاتونو څخه وروسته د جیجینوم کولمې قرحه منځ ته راتګ بلل شی.

-Stercoraceous Ulcer

هغه ډول ټپ /قرحه چې د سره ورغلو او تخته شویو او کلکو غایطی موادو په واسطه په غټو کولمو یا ریکټیوم کولمه کې منځ ته راځي ، همدارازهغه فیستولی ټپ چې ورڅخه غایطی مواد راووځي هم ویل کېږی.

-Stercoral Ulcer

د (**Stercoraceous Ulcer**) په انډول.

-Stomach Ulcer

د معدې التهابونو اړوند جدار قرحوی ټپ چې د اسیدونو

تقرحی انټیریټ ، دا یو ډول حاده ناروغی ده چې په الوتونکو (چرګانو Chickens او مرغانو Poults and Game Birds) کې پېښېږی د (Clostridium Colinum) له کبله منځ ته راځي چې پکې اوبلن مایع غایطی مواد وینه لرونکي بڼه انټیریټ پېښېږی . ورته نوم یې (Quail Disease) هم دئ .

- Ulcerative Enterocolitis

تقرحی انټیروکولیټ .

- Ulcerative Gingivitis

د (Necrotizing Ulcerative Gingivitis) په انډول.

- Ulcerative Glossitis, Stomatitis

د پیشوګانو اړوند ارتشاحی التهابی –تقرحی ناروغی چې په (خولې مخاطی غشأ اوریو څنډو او ژبه) کې درد ناکه قرحې پېښېږی.

- Ulcerative Granuloma of Swine

دا هغه انتانی ناروغی ده چې پکې (لوی Large ،ژور Deep قرحوی آفتونه) په یوه برخه د بدن کې منځ ته راځی که چېرې په مخ کې منځ ته راشی د زنې برخې تخریب سبب ګرځی او لامل یې (Borrelia Suilla) دئ . ورته نوم یې (Necrotic Ulcer) دئ.

- Infectious Bovine Ulcerative Stomatitis

دا په غواګانو (څارویو) کې د (Innocuous Stomatitis) بڼه ده چې د (Bovine Virus) عامل یې په نس ناستی کې د ببلبدو وړ دئ او د نس ناستی مخنیوي یې ګران دئ .

- Ulcerative Inflammation

تقرحی التهابات .

- Ulcerative Keratitis

د (Corneal Ulcer) په انډول.

- Ulcerative Lymphangitis

تقرحی لمفانجیټ .

- Ulcerative Mammilitis

د (Bovine Herpes Mammillitis) په انډول .

- Ulcerative Meatitis

په تقرحی بڼه د میاتوس التهابی ناروغی .

- Ulcerative Mutilating Acropathy

هغه ډول (Osteoarthropathy) چې د سړو یا نورو پرمختلونکی ناروغیو سره مل نه وی چې ښائی یوازې د سره پېښې شی د (Acropathy) (Syndrome Of Pachydermoperiostosis) لامل وګرځی ، د (Idiopathic Hypertrophic Osteoarthropathy) په انډول .

- Ulcerative Pharyngitis

تقرحی ډول فرنجیټ ، د بلعوم قرحوی / تپی التهاب.

- Ulcerative Pododermatitis

دا د (سوی Rabbits ، تجربوی خوګانو Guinea Pigs او کوچنیو تی لرونکو لابراتوری تجربوی حیواناتو)اړوند ناروغی ده چې د ملاتیر او میتاتارس هډوکو د بندونو برخې التهاب او پوستکی قرحوی ، د تپ پېښېدنه .

Ulcerative

د قرحې اړوند چې د یوه تپ ځانګړنې یا اوصافو څښتن وی . د (Ulcer) اړوندصفت.

- Acute Necrotising Ulcerative Gingivitis

هغه ډول حالت نکروزی قرحوی ټپونه چې پکې د خولې جوف دننه نسج د [(مخاطی غشأ Intraoral Tissues او پورتنی تنفسی لارې ابسې ګانې Upper Respiratory Abscesses)] په پرمختلونکې بڼه رامنځ ته کېږی په هغه کسانو کې چې (خولې سوتره والې او پاکی نه ساتی ، خوارخواکی) او په (Herpes Simplex او Anaerobic Flora) باندې لکه د (Fusobacterium spp, Spirochetes) اخته وی منځ ته راځي .

- Ulcerative Balanitis

د قضیب التهاب تقرحی بڼه ، د (Enzootic Balanoposthitis) په انډول.

- Ulcerative Cellulitis

- تقرحی سلولیت ، د (Ulcerative Lymphangitis) په انډول

- Ulcerative Colitis

تقرحی کولیت ناروغی چې د (شدیدکولونی درد Severe Pain لرونکي ، نس ناستې Diarrhoea لرونکي او ریکټیوم او کولون قرحې Colon & Rectum Ulcers پېښېدونکي) ښېې او حالت سره مل وی او ځینې وختونه (Psychosomatic) لاملونه هم لری .

- Ulcerative Dermal Necrosis

د پوستکی نکروزی تقرحې بڼه منځ ته راتګ . معمولاً دا یو ډول د پوستکی ناروغی ده چې په کبانو کې د (Head of Atlantic Salmon and Sea Trout) د کوپرې قرحوی ټپونه کله چې ترمو او تازه اوبو ته ورننوزی منځ ته راځي چې لامل یې لاهم څرګند ندئ.

- Ulcerative Dermatitis

تقرحی درماتیت ، پدې د (Belgian Landrace) ناروغۍ کې چې لامل یې لاهم څرګند ندئ د (غوړونو څنډو ، د اندامونو قدامی برخو او غاښونو اوخواته) تقرحی جلدی ټپونه /قرحې منځ ته راځی.

- Ulcerative Dermatosis

دا یو ډول منتن تقرحی جلدی ناروغی ده چې په (Lips, Feet, Legs او بهرنی تناسلی غړو External Genitalia) کې منځ ته راځي او په پسونو کې معمول ده چې داسې فکر کېږی چې (Paravaccinia Virus) له کبله منځ ته راځي

- Ulcerative Disease

قرحوی ناروغی.

- Ulcerative Endocarditis

د (Acute Bacterial Endocarditis) په انډول.

- Ulcerative Enteritis

هغه ډول انتانی ناروغی چې د (Francisella Tularensis) باکټریا له کبله منځ ته راځی چې تر ډېره سوې اخته کوی خو انسانانو ته هم لېږدول کېدای شی چې پکې (متناوبه تبه Intermittent Fever ، لمفاوی غوټو ضخامه یا Swelling پرسوب) منځ ته راځی. د (Rabbit Fever) پنامه هم یادېږی.

Ulceromembranous

د قرحې اواګزوډاتی غشأ څېښتن ټپ.

-Ulceromembranous Gingivitis

هغه د اوریو التهاب چې خولې مخاطی غشأ پکې ټپې کېږی.

-Ulceromembranous Pharyngitis

د بلعوم د مخاطی غشأ التهاب چې د قرحوی برخې یې د غشأ پذربعه پوښلې وی.

-Ulceromembranous Sore Throat

د (Acute Necrotising Ulcerative Gingivitis) او (Pseudomembranous Pharyngitis) په اندول.

-Ulceromembranous Stomatitis

هغه ډول د خولې مخاطی غشأ التهاب چې په آسانه توګه وینه کوی او نکروټیک برخې لپاسه کاذبه غشأ لری نصواری رنګه بوی لرونکی لاړې یې له خولې بهېږی.

-Ulceromembranous Tonsillitis

تقرحی بڼه د لوزې / ستونې د ټانسیلونو التهاب (Tonsillitis) چې د یوې غشأ لرونکې بڼه لری.

Ulcerous

د یوه ټپ / قرحې د ماهیت څېښتن، ټپی شوې، قرحوی، قرحې ته ورته .د (Ulcer) اړوند صفت.

Ulcol

د (Sulphasalazine) لپاره سوداګریز نوم دئ.

Ulcus

ټپ ، زخم ، قرحه ، ګڼه شمېره یې (Ulcerae) ده .

-Ulcus Cruris

دپښو د اندامونو د قرحاتو لپاره یو غېر وصفی اصطلاح ده .

-Ulcus Hypostaticus

د (Venous Ulcer) او (Decubitus Ulcer) په اندول.

-Ulcus Interdigitale

د منډې وهونکو د پښو (Athlete's Foot) په ګوتو برخه کې د (Tinea Pedis) له امله د قرحاتو منځ ته راتګ.

- Ulcus Pepticum

د پیپټیک اسیدی افرازاتو د زیادښت له امله په هضمی جهاز (معده ، اثنی عشر او ښائي په مړی او جیجینوم) کې د قرحاتو منځ ته راتګ

- Ulcus Terebrans

د هډوکو د (Invasive Basal Cell Carcinoma) لپاره بله مطلق ټپونه منځ ته راځی لامل یې (Staphylococcus Aureus) دئ چې ښه والې مومی.

-Ulcerative Pododermatosis

د پوستکی تقرحی التهابی ناروغی ده ، د(Ulcerative Pododermatitis) په اندول .

-Ulcerative Posthitis

دا یو ډول تقرحی درماتوز (Ulcerative Dermatosis) جلدی ناروغی ده چې په (Rams and Bulls) کې منځ ته راځي.

-Ulcerative Shell Disease

دا د شمشتیو اړوند د پوستکی نرمښت اوتقرحی حالت ناروغی ده چې عامل یې (Bacteria Beneckeachitinovora) بلل شی.د (Rust, Ulcerative Shell Disease) په اندول.

-Ulcerative Skin Lesion

جلدی تقرحی ضایعات .

-Ulcerative Stomatitis

-دا د ګڼ شمېر ویروسونو ګډ ډول تقرحی ناروغی ده چې په د خولې په برخه پرته له نورو نښو نښانو څخه قرحې منځ ته راځی چې معمولاً په غواګانو او آسونو کې په ثانوی توګه د (Secondary Nutritional Deficiency of Vitamin A) تغذیوی کمښت یې غوره لامل بلل شی.

-Ulcerative Typhlocolitis

دا یو ډول مزمن ناپېژنده د نس ناستی (Idiopathic Chronic Diarrhea) ناروغی حالت په آسونو کې دئ چې د (Salmonellosis) او د (Nonsteroidal Anti-Inflammatory Drugs) درملو مسمومیت (Intoxication) یې احتمالی لامل ګڼل شی.

-Ulcerative Vulvitis

د فرج تقرحی التهاب، د (Ulcerative Dermatosis) په اندول.

Ulcerogangrenous

هغه حالت چې پکې قرحه Ulceration او ګانرین Gangrene دواړه شتون ولری.

Ulcerogenic

ټپ پېښوونکې ، هغه عامل لامل چې د قرحې پېښېدو علت وګرځي.

-Ulcerogenic Drug

هغه درمل چې د قرحې پېښېدو لامل وګرځي .

Ulceroglandular

هغه موضعی تقرحی ټپ چې په یوه منتن برخه کې منځ ته راغلې وی او ورسره سیمه ائیز او یا عمومی لمفاوی غوټو التهابی پرسوب (Lymphadenopathy) شته والې ولری.

-Ulceroglandular Tularemia

نوم دئ.

-Ulcus Tropicum

د (Tropical Ulcer) او (Cutaneous Leishmaniasis) لپاره مطلقه اصطلاح ده.

-Ulcus Venereum

د (Chancre) او (Chancroid) لپاره مطلقه اصطلاح ده .

Ulectomy

د تندبی / سکار نسج لرې کول . د (Gingivectomy) په انډول.

Ulerythema

یوه جلدی اریتیماتوزی ناروغی ده چې د سیکاتریکس د جوړېدو او اټروفی سره یوځای لیدل شی.

-Ulerythema Ophryogenes

د دې ناروغۍ ارثی بڼه چې د وریځو د ویښتانو فولیکولونه پکې په کراټوزیس پیلاریس اخته کېږی.

Ulitis

د وریو برخو التهاب ، (Gums Inflammation) په انډول.

Ulna

زند هډوکی ، د لېچې د دننه برخې لوی هډوکې چې د ځنګل بند څخه تر مړوند بند پورې غځېدلې دئ.

Ulnad

د زندی (Ulna) هډوکی لورې ته .

Ulnar

د زند (Ulna) هډوکی اړوند صفت .

-Ulnar Artery

د زندی هډوکی اړوند شریانی رګ چې د متې (Brachial Artery) یوه څانګه ده چې د ځنګل بند څخه تر مړوند بند پورې غځېدلې دئ او ورغوی ته ویشل کېږی.

-Ulnar Canal

د زندی اړوند کانال چې ورځخه د (Transverse Carpal Ligament چې ورځخه بیا زندی عصبی او شریانی څانګه) د ورغوی لورې ته ورتېږی او د (Pisiform او Hamate د چنګک برخې) هډوکو سره نغښتې او نېږدې اړیکه لری. د (Canalis Ulnaris او Canal of Guyon) په انډول.

-Ulnar Club Hand

هغه ډول د لاس (Club Hand) انومالی چې د انحراف (Angular Deviation) پې د زندی هډوکی لورې پورې تړاو ولری چې ښائي د قسمی یا کامل ډول زندی هډوکی نشتوالی سره مل وی .

-Ulnar Collateral Ligament

د زندی هډوکی کولاټرال لېګامنټ چې د ځنګل بند کې وی او د (Articulationis Cubiti) کولاټرال لېګامنټ.

-Ulnar Carpal Collateral Ligament

د زندی هډوکی او د لاس د کارپ هډوکو سره په تړاو کې لېګامنټ

-Ulnar Deviation

د زندی هډوکی د انحراف او ډیفورمیټی حالت چې په (Chronic Rheumatoid Arthritis او Lupus Erythematosus) کې د (Metacarpophalangeal Joints) د پرسوب له امله پېښېږی او دا د ګوتو د زندی لورې ته د کږېدنې سبب ګرځی ، د (Ulnar Drift) په انډول.

-Ulnar Drift

د (Ulnar Deviation) په انډول.

-Ulnar Eminence of Wrist

هغه ډول جوته راوتلې هډوکیزه برخه چې د کعبری (Radial) لورې ته چې د ورغوی برخې پّه (Pisiform Bone) کې رامنځ ته کېږی ، د (Eminentia Carpi Ulnaris) په انډول.

-Ulnar Flexion

د مړوند قبض (Wrist Flexion) حالت چې د زندی انحراف (Ulnar Deviation) سره مل وی .

-Ulnar Head

د لېچې برخې زندی هډوکی سر برخه چې ورځخه لیږې عضلات سرچینه اخلی لکه د

[Musculi Pronatoreres (... ,Musculi Flexoris Carpi Ulnaris (... atoris Flexor Carpi Ulnaris Teritis ;

او Extensor Carpi Ulnaris (... Musculi Extensoris Carpi Ulnaris] په ځېر ، د (Caput Ulnare) په انډول .

-Congenital Lateral Rotation of the Ulnar

د پاپی ګانو (Puppies) د یوې ځخه تر پنځمه میاشتې عمر پورې د لاس د زندی هډوکی ولاډی تدور چې دوی د لېچې په قبض حالت کې ودرېږی .

-Ulnar Nerve

زندی عصب چې د لېچو برخو عضلات او ځینې ګوتو دندې کنټرولوی.

-Ulnar Nerve Block

زندی عصب بلاک او بېحسه کولو کړنلاره ده چې د انستیتیک موادو زرق پذربعه تر سره کېږی او د بنکته برخې د بې حسه کولو په موخه تر سره کېږی.

-Ulnar Nerve Injury

زندی عصب ترضیضونه او جروحات چې د کارپ برخې بسط یا (Dropped' Carpus') لامل ګرځي .

-Ulnar Notch

زندی عصب لیندی (قوس) برخه ، د (Incisura Ulnaris) په انډول.

-Ulnar Recurrent Artery
د زندی رجعی (Recurrent) شریان چې قدامی او خلفی څانګې لری چې اُنسی – قدامی خلفی لورې ته ځغلی ، د (Recurrent Ulnar Artery) په انډول.

-Ulnar Reflex
زندی عکسه ،د لاس د زندی د ستایلوئید استطالې (Styloid Process) د (Tapping) پذربعه د پرونېشن (Pronation) او تقرب (Adduction) لامل ګرځي. د (Pronator Reflex) په انډول.

-Ulnar Tunnel Syndrome
دا ډول سنډروم په اورتوپېډي کې د هرډول فشار له امله چې په زندی عصب باندې تر واردېدو وروسته پېښېږی معمولاً د (Ganglion 'Cyst') له کبله منځ ته راځي خو ښائي د دندې او وظیفوی حالت او (Tolaceration, Arteritis, Fractures ، Inflammation او همدې برخې Nerve Compression) له امله هم منځ ته راشی ، د (Carpal Tunnel Syndrome او Tarsal tunnel) په انډول .

-Ulnar Pulse
زندی نبضان ، دا یو ثانوی ښه نبض دئ چې په مړوند برخې په دننه لېچې کې د جس وړ وی .

Ulnaris
زندی ، د (Ulna) اړوند صفت ، د (Ulnar) په انډول.

Ulnen
د زند (Ulna) او ورسره تړلی نسج اړوند صفت.

Ulnocarpal
د زند (Ulna) او مړوند د کارپ (Carpus) اړوند صفت.

Ulnoradial
د زند (Ulna) او کعبری (Radius) هډوکو دواړو پورې اړوند.

Ulo-
دا یو مختاړې دئ د (ټپ ، ندبې ، اوری) معنی بشپړوی.

Ulocarcenoma
د اوریو د کارسینوما اړوندسرطان.

Ulorrhagia
د اوړیو څخه په پرېمانه او ناڅاپی توګه د وینې بهېدل.

-ulose
دا یو روستاړې دئ او د کېتوز نومېرونکې دئ چې په نوم اینبودنه کې پکار وړی.

Ulotomy
د اوریو یا د تندبی (سکار) نسج غوڅولو جراحی کړنلاره ده

Ultra-
دا یو مختاړې دئ د (ماورأ ، هخوا ، ډېر Extremely) معنی بشپړوی.

Ultracentrifugation
له مرکز څخه د تېښتې د خورا زیاتې قوی وړاندې ځای په ځای کېدو پداسې ډول چې د هغې مادې د مالیکولونو د ېېلېدو او رسوېدو لامل وګرځی.

Ultradian
د (24h) ساعتونو څخه په لږه مودې پورې اړوند په ژوندیو موجوداتو کې د هغه د ټاکل شوې پېښو ریتمیکو تکرارېدو ته وائی چې د یوې ورځې څخه یې دورې لږی وی.

-Ultradian Rhythm
التېرېدیان (ضرب ، ریتم ، نواخت ، روال) ته ویل شی.

Ultra-filtration
د داسې فیلټر (چاڼ) په متې د وادو تصفیه چې د ډېرو کوچنیو ذرو د غوڼډېدو توان ولری.

Ultra-microscope
د تیاره سیمې (Dark Field) لرونکې مایکروسکوپ د کلوئیدی ذرو د څېړنې لپاره ځانګړې دی.

Ultra-microscopic
د (Standard Microscope) څخه د پکار وړلو مېتود په مرسته د چاڼ / تصفیې تر سره کولو اړوند.

Ultrasonic
د التراساوند (Ultrasound) اړوند صفت.

-Ultrasonic Waves
د التراساوند (Ultrasound) اړوند څپې چې د ناروغیو د پېژندنې وړ ګرځی هغه غږ چې د (20000Hz) څخه په لوړو فریکانسونو لرونکو غږیزو څپو پورې اړوند وی .

Ultrasonics
هغه د (Ultrasound) علمی ځانګه چې د غږ هخوا څپو سره سروکار لری او ناروغیو پېژندنه کې تړې کار اخیستل شی.

Ultrasonogram
هغه د (Ultrasound) غږپز تصویر چې د غږ هخوا څپو له مخې د ناروغیو کتنې او پېژندنه کې تړې کار اخیستل شی.

Ultrasonographic
د (Ultrasonography) اړوند صفت.

Ultrasonography

هغه طریقه او پروسیجر چې د بدن دننه د انساجو څخه التراساوند څپو د تېرېدنې وروسته ثبت کېږي او جوفونو او کتلاتو د پېژندنې لامل ګرځي ، د (Echography) په انډول.

- Dopplar Ultrasonography

دا یو ډوپلاتراسونوګرافی مېتود دئ چې په هغه کې د استوونکو او منعکس کوونکو غړیزو فریکانسونو د بدلونونو څخه یو متحرک جسم د حرکتونو د چټکتیا د اندازې نیولو لپاره پکارېږی دا تخنیک تر ډېره د زړه او رګونو سیستم د وینی د بهیر د کتنې لپاره پکارېږی.

- Gray –scale Ultrasonography

د (B- scan) یو تخنیک چې په هغه کې د انعکاس شدت د خرګندو شوو رونبانه ټکولو له تناسب سره ښودل کېږی.

- Invasive Ultrasonography

مداخلوی التراسونوګرافی چې د درملنیزو موخو لپاره پکار وړل شی.

Ultrasonotomography

دا یو ډوپلاتراسونوګرافی مېتود دئ چې په هغه کې تصویرونه دغړو څخه د ببلابېلو ژورتیاوو څخه د څپو تېرولو وروسته اخیستل کېږی.

Ultrasound

هغه د (20000Hz) لوړ فریکانس څپې (High Frequency Sound Waves) چې د بدن دننه غړو څخه وروسته تېرېږی او بیرته د منعکس کېدو له مخې تصویر جوړوی د ناروغیو د پېژندنې وړ ګرځی . د (Ultrasonotomography او Ultrasonography) په انډول.

- Ultrasound Marker

دا یو غې معمول فزیکی وصف دئ چې د جنین (Fetus) په التراساوند کتنه کې لیدل شی چې په جنیټیک یا انکشافی اختلال باندې اخته وی.

- Ultrasound Probe

د التراساوند پروب (Probe) چې په کتنه کې تر ې کار اخیستل شی.

- Ultrasound Scanning

د التراساوند کتنو هغه ډول د معلوماتو را ټولولو مېتود دئ چې پکې د بدنی ارزونې یوه لړۍ پکارېږی. د (Ultrasound Screening) په انډول.

- Ultrasound Screening

د (Ultrasound Scanning) په انډول.

- Ultrasound Treatment

د التراساوند هغه مېتود کارول دی چې پکې د (Ultrasound Waves) څخه دالتهابی ناروغیو درملنېزو کړنلارو کې کار اخیستل شی.

Ultrastructure

هغه جوړښت چې د نوری مایکروسکوپ د تفکیک له توان هخوا وی او یوازې د التراميکروسکوپیک او الکترونی مایکروسکوپ له لارې د لیدنې وړ وی.

Ultraviolet (UV)

په یوه منشور (طیف) کې هغه د لیدنې وړ لنډو وړانګو چې بنفش / شین څخه هخوا رنګ لری چې د لمر وړانګو جوړښت کې سهیم دئ چې پر پوستکی د لوبدنې وروسته د (Vitamin D) د تولید وړ ګرځی او باکټری ګانې (Bacteria) وژنی.

- U A (UVA)

له بنفش څخه هخوا څپې چې اوږدوالې یې (nm 320-400) نانومتره دئ او ماوړأ بنفش وړانګو (90%) جوړوی.

- U B (UVB)

له بنفش څخه هخوا څپې چې اوږدوالې یې (nm 290-320) نانومتره دئ او ماوړأ بنفش وړانګو (1%) جوړوی ، د لمر سوځېدنه او یو شمېر حجروی فوتوکېمیاوی ترضیضونه رامنځ ته کوی.

- U C (UVC)

له بنفش څخه هخوا څپې چې اوږدوالې یې (nm 200-320) نانومتره دئ او ټولې د اوزون په طبقه کې جذبېږی او ځمکې ته نه رارسېږی دا څپې مېکروب وژونې خاصیت لری او د ماوړأ بنفش وړانګو درملنه کې پکارېږی.

- Ultraviolet Lmp

د ماوړأ بنفش وړانګو څراغ چې د ماوړأ بنفش وړانګې تولیدوی.

- Ultraviolet Radiation

د ماوړأ بنفش وړانګې.

- Ultraviolet Rays (UVR)

د ماوړأ بنفش لنډو څپو لرونکی وړانګې.

Umbilical

د نامه غوټی، نوم ، سُره / ټُره ، د (Umbilicus) اړوند صفت. د (Navel) په انډول.

- Umbilical Anomalies

د نامه غوټی انومالی ګانې.

- Umbilical Arteries

د نامه غوټی شریانونه (سور رګې).

- Umbilical Circulation

د نامه غوټی برخې دوران بهیر چې مورځخه وینې بهیر د نامه

Uncal

د (Uncus) لپاره صفت.

- Uncal Herniation

د پارا هایپوکمپ د تلفیف منځنی ورستنی قوس برخې فتق چې په دماغی ترضیضاتو کې د وینې هیماټوما فشار له کبله منځ ته راځی او مرګونی مرحلې ته شی.

- Uncal Hiatus

د پارا هایپوکمپ د تلفیف منځنی ورستنی قوس برخې فوحه یا تشیاله برخه او خالیګاه .

Unciform

چنګک ډوله ، خنګرې لرونکې .

- Unciform Bone

د لاس د مړوند برخې کارپ له اته هډوکو څخه یو هډوکې یې چنګک لرې چې د (Hamate Bone) پنامه هم یاد ېږی.

Uncinate

چنګکی بڼه لرونکې .

- Uncinate Epilepsy

دا د دماغ د صدغی فص (Temporal Lobe Epilepsy) اړوند صرعه ده چې پکې ناروغ د بوی او ذایقې اړوند برسامونه (Hallucinations) وهمی بڼې لری .

Uncipressure

چنګکی فشار،د وینې د بهبدنې د ودرېدنې لپاره د یوه چنګک په وسیله فشار راوستل یا تخته کول.

Unconditioned Response

بې شرطه غبرګون ، د یوې تنبه (Stimulus) په وړاندې غبرګون چې په اوتوماټیک ډول پېښېږی چې دا سرشتی بڼه او د زده کړې له مخې نه وی.

Unconscious

بېهوښی ، بې حسی ، ویده ضمیر ، بې شعوره کېدنه ، هغه حالت چې ناروغان پکې له ځانه غبرګون نشی څرګندولای ، د هوښ (Mind) هغه حالت چې پکې د درملو یا ترضیضاتو له امله یو څوک نشی کولای چې (احساس Feelings ،خاطرې Memories ، او غوښتنې Desires) بیان کړی. د (Subconscious) په اندول.

- Collective Unconscious

د انسانانو تر منځ لاشعوری مشترکې او ګډې برخې .

Unconsciousness

بېهوښه ، د بېحسی او لاشعوری حالت.

Uncontrollable

پرته له کنټرول څخه .

رسی له لارې جنین (Fetus) ته لېږدوی.

- Umbilical Cord

د نامه غوټی رسی ، هغه رسی چې د نامه غوټی برخې له لارې د وینې دوران بهیر د مورڅخه د مورنی رحم پلاسنتا (Placenta) سره د پایلې وروسته جنین (Fetus) ته لېږدوی دا دوه شریانونه او یو وریدلری چې پلاسنتا لورې ته ورځغلی د جنین زېږېدو وروسته قطع او لېګاتور/ غوټه کېږی.

- Umbilical Hernia

دنامه غوټی فتق /چُره، دا هغه ډول د ګېډې د جدار انومالی ګاني او چُرې دی چې د نامه غوټی له لارې بهر ته برجسته او جوتېږی او په کم عمر ماشومانو کې لیدل شی لکه د [(Exomphalos) او (Gastroschisis)] په څېر .

- Umbilical Region

دنامه غوټی سیمه چې د ګېډې په مرکزی برخې کې واقع ده او د شرصوفی (Epigastrium) څخه ښکته موقعیت لری.

- Umbilical Vein

دنامه غوټی ورېد چې د جنین څخه وینه د نامه غوټی رسی له لارې د مور وریدونو ته لېږدوی.

Umbilicated

یوه کوچنی انحطاطی برخه لکه دنامه غوټی (Navel) برخه چې د ګېډې مرکزی برخه کې واقع ده.

Umbilication

دنامه غوټی ته ورته نتوتلتیا منځ ته راتګ .

Umbilicus

د نامه غوټی ، نوم ، سُره / ټُره ، په جنین کې د نامه د بند د پیوستون د ځای ندبه /سکار . د (Navel) ورته نوم دئ.

Umbo

یو ګردې راوتلتیا ، د صماخی پردې (Eardrum) د بهرنی سطحې په منځ کې کوچنی راوتلتیا.

UMP

د (Uvidine Monophosphate) لپاره لنډ نوم دئ.

Un-

دا یو مختاړې دئ او د نورو لغتونو سره د یوځای کېدو وروسته د (نه ، نفی ، Not) معنی بشپړوی.

Unaided

پرته له هر ډول مرستې کولو.

- Unaided Walk

پرته له مرستې ګرځېدل او قدم وهل.

Unblock

پرته له بندښت ، پرته له بلاک څخه ، پرته له ټرلو څخه .

- Uncontrollable Bleeding
پرته له کنټرول څخه وینه بهیدنه .

- Uncontrollable Disease
پرته له کنټرول څخه ناروغی .

- Uncontrollable Population
پرته له کنټرول څخه د نفوس زیاتیدنه.

Uncoordinated .
پرته له همغږۍ څخه ، هر هغه فعالیت چې د نورو اړوند ذیدخله غړو د یوځای موخیز او اغیزمن خوځښت او حرکت څخه پرته تر سره شی.

- Uncoordinated Movements
پرته له همغږۍ څخه حرکتونه لکه د ګوتو نا هماهنګه حرکتونه.

Uncovertebral
د فقراتو په چنګکی بازو / متې پورې اړوند.

Unction
ملهم ، مرحم ، د غوړولو او ملهم کارونه ، غوړونه تر سره کول.

Uncus
د پارا هایپوکمپ د تلفیف منځنۍ وروستنۍ قوس، هغه راوتلې برخه چې (Cerebral Hemisphere) څخه د یوه چنګک ته ورته سیمې په څېر راوتلې ښکاری .

Undecenoic Acid.
دا یود (Castor Bean Oil) څخه جوړ شوې نامشبوع شحمی اسید دئ چې د موضعی چنیاسې ضد پتوګه لکه په خولې (Thrush) کې درملنیز درملو په موخه پکار وړله شی. د (Undecylenic Acid) په انډول.

Undecylenic Acid
د (Undecenoic Acid") په انډول.

Under -
دا یو مختاړې دئ او د (تر لاندې ، ښکته ، ټیټ ، ډېر لږ) معنی بشپړوی .

Undergo
تر یوې طریقې – پروسیجر تر سره کولو لاندې لکه تر اپنډېکټومی (Appendicectomy) عملیات لاندې.

Undergoing
تر پروسې / طریقې لاندې راتګ .

- Undergoing Physiotherapy
تر فزیکی درملنې (فزیوتراپی) کړنو تر سره کولو لاندې د ناروغانو راتګ.

Underhydration
د بدن هغه حالت چې پکې د ډېره لږه اندازه مایع د انساجو دننه پاتې وی لکه جل وهلې حالت.

Undernourished
خوارځواکه ، د تغذیې کمښت ، د ډېر خوراک له کبله کمزوره حالت.

Underproduction
د ډېر لږ تولید لاندې ، تر نورمالې سطحې د ډېر لږ مقدار تولید.

Undersensing
تر احساس لاندې ، ډېره ټیټه کچه حسیت ، د زړه د برېښنائی سیګنالونو په حس کولو کې مصنوعی پیسمېکر ناتوانی چې د زړه د نامنظمو تحریکونو یا د ډېرو چټکو هغو لامل ګرځي.

Undertake
1- به عهده نیول ، په غاړه اخیستل ، منل ، قبول کول ، **2**- تعهد کول ، هوډ نیول ، تضمین کول ، ټرون ټرل ، **3**- درملنه کول ، توجه کول ، روغتیا پالل .په جراحی کې د یوه عملیاتی پروسیجر ترسره کولو لکه (Replacement of the Joint) چې پکې درد به کمښت ولری په غاړه نیول.

Underweight
تر عادی او نورمال اندازې وزن لاندې ، خوارجن ، ډنګر توب او سپکوالې ، کرغېړن خوار ځواکه حالت.

Undescended
هغه چې خپل ځای ته نه وی راښکته شوې ، پورته پاتې شوې ، اختفائی ، ورک شوې .

- Undescended Testis
هغه غېر عادی حالت چې پکې مرغېړې (Testis) خپل ځای یا سفن (Scrotum) ته نه وی راښکته شوې .

Undiagnosed .
پرته له تشخیص څخه ، ناپېژندل شوې ، هغه ډول ناروغی / اختلال چې د ځانګړې ناروغۍ پنامه نه وی معرفی او پېژندلې شوې.

Undifferentiated
پرته له توپیر څخه ، هغه حالت چې ځانګړنې د پېژندلو وړ نه وی لکه د (جنینی مرحلې ، دتومورونو د حجرو) نا پېژندل شوې مرحلې .

Undigested
ناهضمه ، پرته له هاضمې ، هغه خوراکی مواد چې نه

کارولو وروسته د ناروغیو لامل ګرځي .

Uni-

دا یو مختاړي دئ او د (یو ، واحد ، **One**) معنی بشپړوی .

Uniaxial

یو محوری ، د یوه محور څښتن ، یوازې د یوه محور په لوړې .

Unicameral

یو برخیز ، یو جوفی ، یو کوټه ائیز ، یوازې د یوه برخې یا جوف لرل .

Unicellular

وحیدالحجروی ، یو حجروی ، هغه ډول ارګانیزم (**Organism**) چې یوازې یوه حجره ولری لکه باکټریاوی . د (**One Cellular**) په انډول.

Unicornous

یو ښکرې ، د یوه ښکر خاوند ، یوازې د یوه ښکر یا ښاخ لرل

- Unicornous Uterus

یو ښکرې رحم ، یوازې د یوه ښکر یا ښاخ لرونکې رحم چې یوه ولادی انومالی بلله شی .

Uniglandular

یو غدوی، یوازې د یوه غدې یا غوټې لرل .

Uniform

یو شکله ، یوازې د یوې بڼې لرل ، یوه قواره لرل .هغه رسمی بڼې جامې چې په یوه سازمان کې یې یوازې یوه ډله اغوندی لکه د (نرسانو ، ډاکټرانو ، کارګرانو) یونیفورم .

Unigravida

رومبی ځله بلاربه/ حامله ، د لومړی ځل اُمیدواره ښځه ، د (**Primigravida**) په انډول.

Unilateral

یو اړخیزه ، د بدن د یوه اړخ / لورې اړوند .د یوې لورې تر اغښزې لاندې راتلل .

- Unilateral Oophorectomy

د یوې لورې د هګۍ ځالې (تخمدان) د جراحی پذربعه راویستلو جراحی عملیات تر سره کول.

Uniloccular

یو جوفی ، د یوه جوف لرونکې ، د (**Monoloccular**) په انډول.

Uninucleated

یو هسته ائیز، د یوه هستې لرونکې جوړښت ، د (**Mononuclear**) په انډول.

وی هضم شوی نه وی .

Undine.

د سترګو د وینځلو لپاره کوچنی هینداریز / شیښه ئی لوښی ، ارتعاش ، اهتزاز .

Undress

بربنډ کول ، جامې ویستل ، عُریان کول .

Undulant Fever

د (**Brucellosis**) په انډول.

Unfit

ناجوړه ، ناسم ، ناروغه ، هغه چې فزیکی روغتیائی حالت ئې ښه نه وی.

Ung.

د (**Unguentum**) لپاره لنډه نښه ده .

Ungual

په نوک پورې تړلې .

- Ungual Bone

د نوک هډوکې ، نوکیز هډوکې ، نوک لرونکې هډوکې .

Ungula

د لاسونو او پښو د ګوتو (**Fingernails** یا **Toenails**) د نوکانو اړوند.

Unguent

ملهم ، ملحم ، هغه غوړینه طبی ماده (**Medicinal Substance**) چې د پوستکی لپاره اوارولې شی او دوغوړپدو وروسته د پوستکی تخریش او التهابونو نښه والی کې د درملنې په موخه پکاړې.

Unguentum

په فارمسی کې د ملهم (**Ointment**) په انډول.

Unguiculate

د نوکانو او منګولو څښتن . منګوله ډوله .

Unguis

نوک ، د (**Nail**) په انډول .

Unhealthy

ناروغه حالت ، هغه چې فزیکی روغتیائی حالت ئې ښه نه وی.

- Unhealthy Diet

غیر روغتیائی خواړه چې د ناروغیو رامنځ ته کېدو لامل ګرځی.

Unhygienic

ملوث ، ککړ ، غیر روغتیائی ، هغه توکی چې د

هغه برخه چې یوازې ځانګړې یو اړخیزې دندې تر سره کوی.

-Angström Unit

انګستړوم .

-Atomic Unit

اټومی واحد . د اټومی کتلې واحد چې د کاربن (12) د کتلې (1/12) د چنده سره په انډول دی.د ډالټون پنامه هم یادېږی لنډه نښه یې (amu) ده.

-Bodansky Unit

هغه پیمانه الکلین فسفټیز (Alkaline Phosphatase) انزایم چې په معیاری شرایطو کې د ګلایسرول- 2- فاسفېټ (Glycerol-2-Phosphate) څخه یو ملی ګرام فاسفېټیي آیون آزاد کړی .

-British Thermal Unit

د تودوخی واحد چې د تودوخې د هغه مقدار سره په انډول دی چې د یوه پونډ اوبو تودوخه له (39°F) فارنهایټ څخه (40°F) فارنهایټ ته لوړولای شی.لنډه نښه یې (BTU) ده.

-Burns Unit

په یوه روغتون کې هغه برخه یا واحد چې پکې یوازې د سوځېدلو ناروغانو درملنه تر سره کېږی.

-Blood Unit

د وینې یو پاینټ (د وینې واحد).

-CGS Unit

د سانتی متر ګرام او ثانیې (Centigram System) په سیستم پورې اړوند هر واحد .

-Coronary Care Unit (CCU)

په یوه روغتون کې هغه برخه یا واحد چې پکې یوازې د زړه د اکلیلی شرائنو (احتمالی ، ېږنیو او دایمی) د ناروغانو اړوند درملنه تر سره کېږی.

-Disposal Unit

د ډیسپوز شیانو واحد .

-Emergency Care Unit

په یوه روغتون کې هغه برخه او واحد چې پکې یوازې د ېږنیو/ عاجلو ناروغانو درملنه تر سره کېږی.

-Unit of Insulin

د انسولین درملو یو واحد چې د شکرې ناروغی درملنو کې تر کار اخیستل شی.

-Intensive Care Unit

په یوه روغتون کې هغه برخه او واحد چې پکې یوازې د جدی ځارنې او شدیدو ناروغانو درملنه د ځانګړو وسائلو او ماهرو مسلکی کارکوونکو پ مرسته تر سره کېږی لنډه نښه ئې (ICU) ده .

-International Unit

بین المللی واحد ، د بیولوژیکو موادو لکه (انزایمونو ،

Uniocular

د یوې سترګې درلونکې کس یا حیوان ، یو سرګیز ، د (Monocular) په انډول.

Union

یوځای ، ګډ ، ټولېدنه ، یووالې لکه د یوه مات هډوکی د بیا یووالې رامنځ ته کېدنه یا د تپ د ژیو سره یو کېدل

- Mal Union

هغه ډول یو کېدنه چې سمه بڼه نلری او ببڼایه یې یووالې موندلې وی.

- Non Union

یو والې نه موندنه ، نه یو ځای کېدنه لکه د ماتو هډوکو نه رغېدنه.

Uniovular

یوه هګی ،ورځنې جوړېدنه ، نغښته .د (Consisting Of یا Coming From, One Ovum) په انډول.

-Uniovular Twins

هغه غبرګونې چې له یوې هګی رامنځ ته شوې وی . د (Identical Twins) په انډول.

Unipara

د (Primipara) په انډول.

Uniparous

د (Primiparous) په انډول.

Unipolar

یو چنګکی ، یو زائېدې ، یو قطبی ، د یوه قطب څنبتن لکه هغه عصبی رشته چې یوه استطاله لری یا د خوی (Mood) په ناروغیو په هغو کې چې پکې یوازې یو اضطراب اپي زوډ رامنځ ته کېږی .

-Unipolar Lead

یو قطبی لیډ .دا یو برېښنائیز لیډ (Lead) چې یو الکټروډ (Electrode) لری.

-Unipolar Neurone

یو قطبی عصب ، هغه عصبی رشته چې یوه استطاله لری.

Unipotent

یو ظرفیتی ، یو پوټانشیالی ، د (Unipotential) په انډول.

Unipotential

یو ظرفیتی ، یو پوټانشیالی ، قدرت توان لرل لکه یوازې په یو ډول حجرې باندې د اووښتلو توان.

Unit

یوازې یو شئ ، واحد ، یوه برخیز ، په روغتونونو کې

یو ظرفیته ، د (Monovalen) په انډول.

Universal

1- ټولئیز ، عمومي ، جمعي ، **2**- جهاني ، نړۍ وال ، عالمګیر، جهانګیر، د عمومیت لرونکي، **3**- په (مکانیک) کې هر کاره ، د تنظیم وړ ، **4**- مطلق

- Universal Donor

عمومی ورکوونکي ، هغه کس چې ټولو یا هر چا ته خپله وینه ورکولای شی لکه د (Blood Group -O) څښتن.

- Universal Precautions (UP)

عمومی احتیاطي اقدامات ، د (Standard Precautions) په انډول.

- UniversalcRecipient

عمومی اخیستونکي ، هغه کس چې د ټولو یا هر چا څخه وینه ترلاسه کولای شی لکه د (Blood Group -AB) څښتن.

Unmedicated

پرته له درملو ، هغه جوړښتیز څیز چې هیڅ راز درمل ونلري.

- Unmedicated Dressing

پرته له درملو (Antiseptic یا نورو Medication موادو) څخه پانسمان کول.

Unmyelinated

پرته له میالین څخه عصب . هر یوه هغه عصبی رشته چې میالینی پوښ نلری.

Unphysilogic

غیر فزیولوژیک خاصیت لرونکي.

Unprofessional

غیر مسلکی ، غیر ماهر بڼه لرونکي .

- Unprofessional Conduct

غیر مسلکی عمل تر سره کول.

Unqualified .

ناوړه ، پرته له ظرفیته ، لکه هغه کس چې مسلکی وړتیا نلری.

- Unqualified Doctor

پرته له ظرفیته څخه ډاکټر ، د یوې رشتې اړوند د پوهاوی نلرونکي ډاکټر.

- Unqualified Dentists

پرته له ظرفیته څخه د غاښ ډاکټر ، د غاښونو رشتې اړوند د پوهاوی نلرونکي ډاکټر.

- Unqualified Labrant

پرته له ظرفیته څخه لابرانټ ، د لابراټوار رشتې اړوند د پوهاوی نلرونکي لابرانټ.

.

هورمونونو ،ویټامینونو او داسې نورو...) لپاره واحدونه چې د فورمولونو د آیون نړیوال کانفرانس (International Conference for Unification of Formula) له خوا وضع شوېدی.

- Motor Unit

د حرکی فعالیت آیون چې له یوې عصبی حجرې او له هغه څخه د تعصیب شوو ګڼ شمېر رشتو څخه جوړېږی.

- Nursing Unit

په یوه روغتون کې د نرسنګ د چارو سرته رسولو اړوند څانګې واحد.

- SI Unit

د نړۍ والو آیونو په سیستم (International System Unit) پورې اړوند چې هر واحد چې په (1960) زېږدیز کال کې د وزنونو او اندازو پخ یوولسم ټولئیز کانفرانس کې و ټاکا شو.

- Somogyl Unit

د امایلېز (Amylase) انزایم هغه اندازه چې په ټاکل شویو شرایطو کې د (40) دقیقو په اوږدو کې یو ملیګرام ګلوکوز آزادولای شی.

- Svedberg Unit

د (10^{-13}) ثانیې په انډول وخت چې د ماکرمالیکولونو ترسب ضریب د ټنوودلو لپاره پکارېږی.

- Terminal Respiratory Unit

د تنفسی (برانشیولونو، الویلونو بهنخای ، هوائی کڅوړو او الیولونو) په ګډون د سږو اناټومیک او وظیفوی واحد.

- Toxic Unit

سمی واحد ، زهرجن واحد ، د یوه د یوه زهر تر ټولو کم مقدار چې کولاسی شی د (3-4) ورځو په اوږدو کې (250 gr) وزن لرونکې هندی خوګ ووژنی .

- Toxin Unit

د (Toxic Unit) په انډول.

- USP Unit

هغه واحد چې د متحدو ایالاتو په فارمکوپی کې د درملو یا نورو محصولاتو د توان د بیانولو لپاره پکارېږی د (United States Pharmacopeia) لنډه ننبه .

- United States Pharmacopeia Unit

د (USP Unit) په انډول.

- Waste-disposal Unit

د ډیسپوز فاضل شویو موادو د پروسیس کولو واحد.

United Kingdom Central Council

د برطانیې هېواد د (نرسنګ ، قابلګی او روغتیائی ویزیټ کوونکو) لپاره مرکزی شورا لنډه ننبه ئې (UKCC) ده .

Univalent

- Unqualified Midwife
پرته له ظرفیته څخه قابله ، د قابلګی رشتې اړوند د پوهاوی نلرونکې قابله.

- Unqualified Manager
پرته له ظرفیته څخه مدیر ، د مدیریتی رشتې اړوند د پوهاوی نلرونکې مدیر.

- Unqualified Nurse
پرته له ظرفیته څخه نرس ، د نرسنګ رشتې اړوند د پوهاوی نلرونکې نرس.

- Unqualified Technician
پرته له ظرفیته څخه ټکنیشن ، د ټکنیشن رشتې اړوند د پوهاوی نلرونکې کس.

Unsaturated
①غیر مشبوع ، نامشبوع ، د هغه منحله مادې د ټول ظرفیت نه لرل چې د یوه محلل پواسطه زغمل کېدای شی ، ②هغه مرکب چې په هغه کې دوه یا زیات اټومونه د دوه یا درې ګونو اړیکو په وسیله سره نښتې وی .

- Unsaturated Fat
غیر مشبوع شحم . هغه بڼه غوړ یا شحم کوم چې د هایدروجن (**Hydrogen**) ډېره اندازه نلری او په آسانه بڼه ماتېږی.

Unsaturated Hydrocarbon
غیر مشبوع هایدروکاربنی مرکب .

Unstable
غیر ثابت ، هغه مرکب یا ماده چې ثابته پاتې کېږی او بدلون نه مومی.

- Unstable Angina
غیر ثابت صدری خناق ، هغه ډول صدری دردونه چې ثابت نه پاتې کېږی او دم ګړی خرابتیا مومی .

- Unstable Mental Condition
غیر ثابت روانی حالت چې هر لحظه بدلون مومی .

Unsteady
1- لړزان ، متزلزل ، غیر ثابت ، **2**- د (**Unstable**) په اندول. **3**- ناموزونه ، متغیر، ، نا ثابته ، بې ثباته ، **4**- لړزان کول ، لړزول ، متزلزل کول .

- Unsteady Pulse
متغیر نبضان، بې ثباته نبض.

Unstep
پرته له مرحلې یا پړاو څخه .

Unstinting Help
هغه ډول مرسته چې ډېره پرېمانه او ظریفه بڼه لری.

Unstinting Care
هغه ډول مراقبت /ځارنه چې ډېره پرېمانه او ظریفه بڼه لری.

Unstop
غیر متوقف ، پرته له ودرېدنې .

Unstoppable
پرته له ودرېدنې وړتیا .

Unstrap
وازول ، سست کول ، شُل کول.

Unstressed
بی تشویشه ، پرته له اضطراب ، پرته فشار او کشش څخه.

Unstriated
نامخطط ، پرته له کرښو ، صاف ، ښویه ،

- Unstriated Muscle
د (نامخطط ، پرته له کرښو ، صاف ، ښویه) عضلات ، د (**Smooth Muscle**) په اندول.

Unstructured
بې ساختاره، پرته له سازمان ، بې سامانه ، شل و ول ،بې جوړښته .

Unstrung
عصبي ، آشفته ، پرېشانه ، مضطرب.

Unsurpassed
پرته له فشاره ، هغه تخته شوې نه وی ، غیر فشاری.

Unsuspected
1- پرته له سوظن څخه ، نا مشکوک **2**- غیر محتمل ، غیر متصور.

Unsympathetic
غیر سیمپاتیک .

Untangle
پرته له غوټو کول ، د غوټو اوپېچلتیاوورفع کول.

Untested
پرته له آزمایښته .

Untraceable
نه پیداکېدونکې ،مفقودالاثر،بې نښانه.

Untrained
ناروزلې ، هغه چې روزل شوې نه وی.

Untreated
پرته له درملنې ، غیر درملیز .

Untwist
د تاو خوړلی جوړښت ارجاع کول ، پرته له تاوه کول.

Unveil
1- رفع حجاب کول ، بې حجابه کول یا کېدل ، نقاب لېرې کول . **2**- بې پردی کول ، ښکاره کول.

Unviable .
هغه جنین اړوند چې کله متولد شی ژوندې نه وی.

Unvocal
ګُنګ ، ناګویانه، بې غږه ، پرته له موسیقی ، پرته غږېز ټون څخه.

Unvoice
پرته له غږه ، ګُنګې .

Unwanted
ناغوښتې ، پرته له غوښتنې .

- Unwanted Pregnancy
هغه ډول بلاربښت /اُمیدواری چې ناغوښتې ښځه لری

Unwell
نا خوښه ، هغه چې ښه نه وی ، هغه چې روغتیا نلری ، ناروغه.

- Felt Unwell
ناروغه احساس، د ناروغتیا احساس .

u-plasminogen Activator
د یورکاینېز رسمی نوم.

Upper
پورته ،پورتنی ، علوی.

- Upper Arm
پورتنی بازو /مټه له اوږې څخه تر لېچې پورې .

- Upper Limb
پورتنی هډونه . پورته غړی.

- Upper Motor Neuron
پورتنی حرکی عصب چې سیالې (**Impulses**) له عصبی قشر (**Cerebral Cortex**) څخه اخلی.

- Upper Respiratory Infection
د پورتنی تنفسی لارې انتان .

- Upper Respiratory System
د پورتنی تنفسی سیستم.

- Upper Respiratory Tract
د پورتنی تنفسی لاره.

UPPP.
د (**Uvulopalatopharyngoplasty**) لپاره لنډه نښه ده.

Upset
①لږ څه ناروغه ، اختلال ②- یو کول یا کېدل ، په څټ یا چپه کېدل ، په لټ کول یا کېدل یا شدن ، ③- ناراحت کول ، د یو چا د حواسو مختل کول .د (**Slightly ill**) په انډول.

- GI Upset
د هضمی جهاز اختلال ، د (**Gastrointestinal Upset**) لپاره لنډه نښه ده.

Uptake
د ژوندی نسج پوسیله د یوې مادې جذب یا کارېدنه .

Upside
پورته لورې ته .

Upside Down
په څټ کول ، د څوکې ښکته قاعدې لورې ته راګرځول.

- Upside-Down Stomach
د حجاب حاجز فتق . د (**Diaphragmatic Hernia**) په انډول.

Urachal
د (**Urachus**) اړوند صفت.

- Urachal Abscess
د اوراکال قنات اړوند خیرنې دانې (خراجونه) چې معمولاً د یوه فیستول له لارې بهر ته تخلیه مومی.

- Urachal Carcinoma
د اوراکال قنات اړوند سرطانی خبیثې کارسینمائی کتلې چې د مثانې له قبې (**Embryonic Urachus**) برخې څخه سرچینه اخلی ، د (**Bladder Adenocarcinomas**) په انډول.

- Urachal Cyst
هغه اوراکوس بهنځای چې د جنین زېرېدنې وروسته واز پاتې وی او د یوه سیسټ ښه ولری .

- Urachal Diverticulum
هغه اوراکوس بهنځای چې د جنین زېرېدنې وروسته واز پاتې وی چې د دایورټیکولوم په څېر وی.

- Urachal Fistula
د اوراکال قنات اړوند فیستولا چې د مثانې څخه تر سفروی برخې دوام لری او ورڅخه مایع او زوي لرونکې مایع را خارجېږی. د (**Persistent Urachus**) په انډول.

- Urachal Fold
هغه پرېتوانی کُټ (قات) چې د ګېډې قدامی جدار کې چې [(**Urachus**) یا (**Remains of the Allantoic Stalk**)]اپونښوی ، د (**Plica Umbilicalis Mediana** یا **Middle Umbilical Fold** یا **Plica Urachi**) په انډول.

- Urachal Fossa
د اوراکال قنات اړوند حُفره یا ژوره برخه .

- Urachal Inflammation
د اوراکال قنات اړوند التهاب چې سُرې (نامه غوټی) ته د انتانی پروسې د پراخېدنې له امله منځ ته راځی چې ښائی د (**Cystitis** یا **Urachal Abscess**) رامنځ ته کېدو لامل وګرځی.

- Persistent Urachal Ligament
د د اوراکال قنات اړوند پاتې شونی لېګامنټ چې ځینې وختونه په راډیوګرافی کې خیال ورکوی.

- Urachal Sinus
هغه اوراکوس بهنځای چې د جنین زېرېدنې وروسته وازپاتې وی چې د سینوس په بڼه وی .

Urachitis
د اوراکال قنات اړوند برخو التهاب ، د (Urachal Inflammation) په انډول.

Urachus
اصلي ، اصیل ، بدوی ، هغه جنینی بهنځای چې مثانه له الانتوئیس سره نښلوی او تر جنینی ژوندون وروسته ترل کېږی او د یوه پرې په بڼه اوړی .

- Patent Ductus Urachus
هغه اوراکوس بهنځای چې د جنین زېرېدنې وروسته وازپاتې وی.

Uracil
په حیوانی حجرو کې یو پایریمیډینی بېز (Pyrimidine Base) چې یو له ځلورو قند سره یو ځای کېږی تر څو رایبوز نوکلیوزید (RNA) یوریډین جوړ کړی.

- Uracil Dehydrogenase
هغه ډول (Oxidoreductase) انزایم چې یوراسیل (Uracil) د اوکسیډېشن له لارې په (Barbituric Acid) باندې اړوی او کتلایز کوی، د [(Uracil Oxidase) او (Oxidizes Thymine)]په انډول

- Uracil Mustard
موستارډ یوراسیل .

- Uracil Nucleotide/Cysteinyl Leukotriene Receptor
یوراسیل نوکلیوټایډ / سیستینایل لوکوټرین رسپټور.

- Uracil Nucleotides
ګڼ شمېر یوراسیل نوکلیوټایډونه .

Uracrasia
دا یوه بولی ناروغی ده چې پکې د متیازوجوړېدنې اختلال منځ ته راځي، بولی (متیازو سیستم) اختلال.

Uraemia
د مېټابولیزم د ناروغی له کبله د نایټروجن (Nitrogenous Waste Products) بېکاره موادو بېدرېغه راټولېدنه په وینه کې بلله شی چې دا حالت معمولاً په بډوډو عدم کفایه (Kidney Failure) کې لیدله شی د (Oedema، Vomiting،Nausea، Anaemia ، Spontaneous Bleeding، Itching ، Seizures ، Muscle Twitching، Confusion ، Apathy، Drowsiness ، Coma او مرګ Death) رامنځ ته کېدو لامل ګرځی.

Uraemic
هغه حالت چې په کې پّه وینه کې د یوریا / نایټروجنی محصول بېدرېغه اندازه شتون ولری او په متیازو کې هم زیاته پیمانه اطراح کېږی چې دا حالت معمولاً په بډوډو عدم کفایه (Kidney Failure) کې لیدله شی.د (Uremia او Uraemia) اړوند صفت.

- Uraemic Frost
د پښتورګو په مزمنه عدم کفایه کې هغه کلښنیکی حالت چې د خولې (Sweat) کې د یوریا زیاتېدنې له امله تر پوستکی لاندې د دېرې اندازې (Crystallised Urea)راټولېدنه منځ ته راځي چې پوستکې کنګل وهلې ښکاری.

- Uraemic Syndrome
په وینې دوران کې د یوریا د زیادښت له امله منځ ته راغلې سنډرومی مجموعة الاعراض.

Uraeum
په زولوژی کې د حیواناتو د نیمائی شاتنی برخه .

Uraeus
هغه بڼه او شکل چې مار ته ورته وی ، د (Uraeum) اړوند صفت

Uragogue
مدرر ، متیازې (ادرار) راوستونکې لامل .

Uranalysis
د متیازو آزمایښت، د متیازو کېمیاوی تجزیه او لابراتواری تحلیل د طبی تشخیص لپاره.

Uranate
د (Uranic Acid) اړوند مالګیزه بڼه.

Uranicus
تالو ، کام ، د خولې د چت اړوند برخه .

Uraniscorrhaphy
د (Uranorrhaphy) په انډول.

Uranium
یورانیوم، دا یوکېمیاوی (سپین فلزی ، راډیو اکټیف او سمې) عنصر دئ په آسانه توګه تحمض (Oxidized) کېږی او ګڼ شمېر ایزوتوپونه لری چې اتومی شمېره یې (92) ، اتومی وزن یې (238.03) ، ویلې کېدنې ټکې یې (1,135°C) ، و جوش ټکې یې (4,131°C;) ، مخصوصه وزن یې

(Acids) جوړوی.

- **Uranyl Acetate**

یورانیل اسیټیټ مالګه .

- **Uranyl Acetate and Lead Citrate**

یورانیل اسیټیټ مالګه او لیډ سیټریټ مالګه .

- **Uranyl Acetate Stain**

یورانیل اسیټیټ مالګې رنګ.

- **Uranyl Ammonium Phosphate**

یورانیل امونیوم فاسفیټ مالګه .

- **Uranyl Group**

یورانیل ډلګی/ګروپ .

- **Uranyl Nitrate**

یورانیل نایټریټ مالګه .

- **Uranyl Oxalate**

یورانیل اوګزالیټ مالګه .

- **Uranyl Oxide**

یورانیل اوکسایډ .

- **Uranyl Radical**

یورانیل راډیکالونه .

- **Uranyl Salts**

یورانیل مالګه .

- **Uranyl Sulfate**

یورانیل سلفیټ مالګه .

- **Uranyl Sulphate**

یورانیل سلفیټ مالګه .

Uranthera

دا یو ډول امریکائی نباتی کورنۍ ده چې د (Uphorbiaceae) پورې اړوند ده او ببلابېل ډولونه یې د(د کبد او بډوډو تخریب چې د [(Compulsive Walking, Tenesmus, Rectal Prolapse, Petechiat ion او مرګ Death) سره مل وی ، چې د (Phyllanthus Lacunarius) ډول یې د (Gastroenteritis) او (Cyanide Poisoning)] په څېر ناروغیو لامل ګرځی ، د (Phyllanthus) په انډول .

Urarthritis

د (Gouty Arthritis) په انډول.

Uratemia

په وینې دوران کې د (Uric Acid Salts) د سویې او کچې ډېر پرېمانه توګه شتون بلل شی چې د د نقرس / نقرص (Gout) نښې نښانې څرګندوی .

Uratolysis

د یوراټ (Urates) موادو /محلولونو د تحلیل او تجزیې (Specific Gravity 19.1) ، ولانس یې (Valence 2, 3, 4, 5, 6) دئ او کېمیاوی نښه یې (U) ده .

Urano -

دا یو مختاړې دي او د (Uranium ، Uranyl او Uran-) معنی بشپړوی .

Uranophobia

د همجنس بازانو (Homosexuals) کسانو اړوند هغه ډول غېر نورمال حالت چې پکې (Homosexuality) څخه وېره شتون لری.

Uranoplasty

هغه جراحی عملیات چې پکې د خولې د تالو (Defect of the Palate) اړوند نیمګړې برخې چت رغول او ترمیم کېږی.

Uranoplegia

دنرم تالو /کام برخې د عضلاتو فلج بڼه.

Uranorrhaphy

هغه جراحی عملیات چې پکې د خولې د تالو (Cleft Palate) اړوند نیمګړې برخې چت رغول او ترمیم کېږی .د [(Staphylorrhaphy) ، (Uraniscorrhaphy) ، (Velosynthesis)، (Palatorrhaphy) او (Palatoplasty)] په انډول.

Uranoschisis

کام چاک ، د واز (درزی ، درز لرونکی) تالو ولادی نیمګړتیا حالت ، د (Cleft Palate) په انډول.

Uranostaphyloplasty

هغه جراحی عملیات چې پکې د خولې د تالو (Cleft Palate) اړوند نیمګړې برخې چت رغول او ترمیم کېږی .د [(Staphylorrhaphy) ، (Uraniscorrhaphy) ، (Velosynthesis)، (Palatorrhaphy) او (Palatoplasty)] په انډول.

Uranostaphyloschisis

د کلک او نرم کام چاک ، د نرم او کلک تالو واز (درزی ، درز لرونکی) ولادی نیمګړتیا / فیسور حالت ، د (Cleft Palate) په انډول.

Uranous

د یورانیوم (Uranium) اړوند صفت .

Uranyl

هغه دوه ظرفیته مرکب چې د (UO_2^{2+}) فورمول لری او د (UO_2) ډلې اړوند دئ چې مالګې (Salts) او اسیدونه

چې د نایتروجن زېرمو لرونکو څخه دئ چې د نایتروجنی موادو (Protein Metabolism) استقلاب پایله په بلله شی په ینه (ځیګر) کې له (Amino Acids) څخه جوړېږی او د آمونیا مرکب (Ammonia Compounds) رامنځ ته کېږی داد آمونیا مرکب د ورید له لارې د (Osmotic Diuretic) پتوګه د[دماغی فشار یا د سترګو فشار راتیټولو او د جنینی سقط لپاره د ګېډې له لارې رحم ته تېرېږی په دهم ترایمستر کې او هدارنګه د وچو او زېړو جلدی ناروغیو کې د نرمښت او پوستوالی] په موخه تطبیق کېږی.

- Urea Balance Test

د یوریا د بیلانس / اندول آزمایښت چې پکې د وینې د یوریا کچه ټاکله شی.

- Urea Breath Test

د یوریا اړوند تنفس کولو د کچې ټاکنې آزمایښت.

- Urea Clearance

د یوریا اړوند کلېرانس / مجازی خط او کرښې اړوند.

- Urea Clearance Test

د یوریا اړوندد کلیرانس ټاکنې آزمایښت.

- Urea Concentration Test

د یوریا اړوند د تمرکز او تراکم آزمایښت.

- Urea Constant

د یوریا د ثابت اندازې سره په تړاو کې.

- Urea Cycle

یوریا سیکل ، هغه ډول مغلق سیکل چې په متیازو تولیدوونکو حیواناتوپه شمول د انسانانو کې چې د نایتروجن لرونکو غذائی موادو د استقلاب په لړ کې د یو غبرګونیز سیکل پتوګه کار کوی دا سیکل لومړی ځل د (Sir Hans Krebs) پذرېعه شرحه شوېدئ.

- Urea Cycle Disorder

د یوریا دتولید د سیکل د اختلالاتو اړوند.

- Urea Cycle Enzyme Deficiency

د په ځیګر کې د یوریا د سیکل پېښوونکې انزایم کمښت/ نشتوالې چې په وینې بهیر کې د امونیا د سویې د لوړېدنې لامل ګرځی. د (Arginosuccinate Synthetase ، Citrullinemia) کې بې مېکانیزم وګوری.

- Urea Frost

د یوریا پذرېعه د نسجی کنګل وهنې اړوند.

- Urea Hydrogen Peroxide

هغه کارباماید پراوکسایډ (Carbamide Peroxide) چې د یوریا (Urea) او هایدروجن پراوکساید (Hydrogen Peroxide) ګډ مرکب دئ چې د[سیرومن د نرموونکی استازی (Cerumen-Softening Agent) ، د غاښ پاکوونکی (Dental Cleanser) ، ضد التهاب کړنلاره تر سره کول.

Uratolytic

دانساجو یا محلولونو او مرکباتو څخه د (Urates) موادو راکښل ، د (Uratolysis) اړوند صفت.

Uratoma

هغه ډول سختوالې چې د یوراټ (Urates; Tophus) ترسب او راټولېدنې له امله خاص ډول په بندونو کې منځ ته راځی. د (Gouty Tophus او Arthritic Calculus) په اندول.

- Uratoma Mass

د یوراټوما کتله.

- Uratoma Excision

د یوراټوما کتلې جراحی عملیات پواسطه د راکښلو کړنلاره.

Uratosis

د یوراټ (Urates) ترسب او راټولېدنه په انساجو کې.

Uraturia

په غېر نورماله توګه په تشو متیازو کې د ډېر مقدار (Uric Acid) شتون ته ویل شی چې د نقرص (Gout / نقرس) نښو نښانو سره مل وی.

Urban

ښاری ، ښارونو اوسېدونکو اړوند.

- Urban Health

ښاری روغتیا ، د ښارونو روغتیا اړوند.

- Urban Operation

په پراخه پیمانه د تیبونو جذری (Extended Radical Mastectomy) بڼه د راکښلو او قطع کولو جراعملیات چې د(تیبونو داخلی لمفاوی غدواتو/ غوټو Internal Mammary Lymph Nodes ، د قسمی ډول قص Sternum هډوکی او ضلعی غضروفونو Costal Cartilages) د راکښلو سره ګډ ډول ترسره کېږی.

- Urban Typhus

د ټیفوس خفیف (Mild Typhus) بڼه چې په د مدیترانې سیمو په ښارونو کې منځ ته راځی، د (Shop Typhus) په اندول.

Urceiform

کوزه ډوله جوړښت.

Ure-

دا یو مختاړې دئ او د (Urea- , Ureo- Urea; Urine) معنی بشپړوی.

Urea

یوریا ، هغه (Diamide of Carbonic Acid) محصول دئ چې په (وینه Blood ، لمف Lymph او متیازو Urine) کې لیدل شی

Ureametry
د یوریا د کچې ټاکنه د وینې په دوران کې .

Ureaplasma
یوریا پلازمه ، هغه ډول اګرام منفی **Gram-negative** ، غیر خوځنده **Nonmotile** ، څو بڼې لرونکې **Pleomorphic**] باکټریا ده چې حجروی جدار نلری خو کوچنی حبیبی ټولګې (**Granular Colonies**) لری (**Urea. Urealyticum**) ډولیځې د بولی تناسلی سیستم اخته کوی او غیر ګونوریائی (**Sexually Transmitted Nongonococcal**) په څیر احلیلی التهاب (**Urethritis**) جوړوی.

- Ureaplasma Infections
د یوریا پلازما انتانونه .

- Ureaplasma Urealyticum
هغه ډول باکټریائی میکروب چې د جنسی مقاربت له لارې لېږدول شی معمولاً ښځو کې غیر عرضی (**Asymptomatic**) بڼه وی دا میکروب د (**Neonatal Death, Prematurity**) او **Perinatal Morbidity**) لامل ګرځېدلای شی او کوریونی پلاسنتا د سطحې پرمخ د ټولګیو په څیر د (**Ureaplasma Urealyticum**) انتان ډول هلته موقعیت نیسی او د بلاربښت مهال یوه ستونزه جوړوی درملنه یې د (**Oral Tetracyclines**) پذرېعه د (**7 Days**) ورځو پورې تر سره کېږی .

Ureaplasmosis.
د یوریا پلازما (**Ureaplasma**) پذرېعه په ناروغۍ ککړتیا حالت معمولاً د [(**Granular Vaginitis** او د تېرېدونکې بڼې **Transitory Endometritis**) په ښځو او همدارنګه د(**Urethritis**) او (**Seminal Vesiculitis Bulls**) نارینه وؤ کې او پنومونیا (**Pneumonia**) په غوایانو /څارویو]کې منځ ته راوړلای شی .

Ureapoiesis
ویکټورکارډیوګرافی ، د یوه بشپړ سیکل په بهیر کې د زړه د برښنائی ځواکونو شیبه په شیبه جهتی او مقداری ثبت او ریکارډ د اوسیلو سکوپ پر مخ د کړی یو ریکارډ چې معمولاً د تصویر (فوټوګراف) په بڼه وی جوړېږی اوتر سره کېږی.

Vecuronium
یو عصبی – عضلاتی بلاکوونکي عامل چې له پولرایز پرته کار کوی او د عمومی انستیزی د مرستندویه په توګه پکارېږی تر څو اسکلېټي عضلات نرم کړی او تراخیا ته د ټیوب تېرول امبخانیکی تهویه آسانه کړی.

Vegan
هغه وانبه خوړونکی چې له خپل غذائی رژیم څخه یې د حېوانی سرچینې لرونکی ټول خواړه ویستلی وی.

Vegetarian
له غوښې او ورته غوښې لرونکو خوړو څخه پرهېز ګار ، هغه کسان چې یوازې نباتی خواړه خپل غذائي رژیم ګرځوی او غوښه نه خوری.

Vegetation
ویجیټېشن ، نودې لرونکي بڼه ،چنیاسه وانبه ډوله نیوپلازم جوته بڼه وده موندنه ، د یوه پتولوژیک نسج چنیاسه ډوله وده / نمو کول بلل شی.

- Marantic Vegetation
یوه (معقم ، کوچنی ، چنیاسه ډوله فیبرینی زایده) چې غېر باکټریائي ترومبوټیک اندوکاردیت کې دزړه د کیڼ لوړې په والفونو کې منځ ته راځي.

Vegetative
1- په ودې او تغذیې پورې اړوند ،**2**- د بې واکۍ یا بېهوښۍ له کبله کار کړل ، **3**- هوساینه ، آرامتیا ، استراحت ، **4**- د حجروی سیکل هغه مرحله چې په لړ کې یې حجره تکثر نه کوی ،**5**- په نباتاتو پورې اړوند ، د نودې وهلو یا دوه ګونی وېش په څېر په غېر جنسی تکثر پورې اړوند.

Vehicle
نقلیه وسیله ، لېږدوونکي ، ناقل.

Veil
①پوړني، څادر ، پوښ، یو پوښووونکي جوړښت،② د امنیوټیک کڅوړې یوه برخه یا پرده چې ځینې وختونه نړۍ ته د راغلې یوه نوې زېږېدلی ماشوم مخ پوښوی.

Vein
وریدونه ، هغه دمویه تش منځي شبین رنګه بڼه نلکه چې کاربن ډای اکسایډ (Carbon Dioxide) لرونکې وینه دبدن د انساجو له خوا راټولېږی او هغه زړه ته رسوی او هغه ډول مختارې چې د (Phleb-, Phlebo- یا د Vene-, Veno-) تورو-کلمو پېل مومی همدا معنی ورکوی.

- Acompanying Vein
مل شوي وریدونه ، هغه وریدونه چې د خپل همنومه شریان له نېږدې تعقیبوی او ځانګړې اندامونو ته وردرومی او له هغه ځایه څخه د کاربن ډای اکسایډ (Carbon Dioxide) لرونکې وینه دبدن د انساجو له خوا راټولوی.

- Afferent Vein
لېږدوونکي وریدونه، هغه وریدونه چې وینه یوه غړی لورې ته وروړی.

- Alantoic Vein
یوه جوړه رګونه چې الانتوئید بدرګه کوی او د اولیه (Hindgut) څخه وځی او اولیه رشیم تنې ته وردا خلېږی.

- Cardinal Vein
هغه رشیمی رګونه چې[پریکارډینال ، پوسټ کارډینال او (Cuvier) بهنځای (Common Cardinal Vein's)] پکې ورګډ پېږی.

- Common Cardinal Vein
مشترک کارډینال وریدونه.

- Emissary Vein
لېږدولي / ګُمارلی وریدونه ، وریدونه چې د سر په کوپړۍ کې له یوه سوری تېرېږی او د مغزی سینوس وینه د سر بهر وریدونه تشوی.

- Vein's of Orbit
هغه وریدونه د سترګوګاټو او اړوند جوړښتونو د تخلیې دنده پر غاړه لری.

- Postcardinal Vein
د زړه په نسبت په ذنبی برخه کې په اولیه رشیمی دوره کې یوه جوړه رګونه.

- Precardinal Vein
د زړه په پرتله / نسبت په قفوی برخه کې په اولیه رشیمی دوره کې یوه جوړه رګونه.

اړوند.

Velum

یو پوښوونکي یا پردنه ډوله جوړښت چې ګڼه شمېره یې (**Vela**) ده.

- Velum Interpositum Cerebri

د مغزی درېیم بطین غشائی چت.

- Medullary Velum

د سپینې مادی د دوه برخو څخه یوه چې د مغزو د څلورم بطین چت جوړوی.

- Platinum Velum

نرم تالو ، نرم جنک ،پوست تالو .

Vena

ورید ، شین رګ ، هغه ورید چې کاربن ډای اکساید لرونکي وینه زړه ته لېږدوی. د (**Vein**) په انډول.

- Vena Cava

اجوف ورید ، هغه ورید چې کاربن ډای اکساید لرونکي وینه د نورو وریدی رګونو څخه د زړه ښی اذین (**Right Atrium**) ته لېږدوی.

- Vena Cava Inferior

سفلی اجوف ورید ، هغه غټ ورید چې وینه له ګېډې او لاندینی اندامونو څخه راټولوی.

- Vena Cava Superior

علوی اجوف ورید ، هغه غټ ورید چې وینه له سر او پورتنی اندامونو څخه راټولوی.

Venae

د (**Vena**) ګڼه شمېره ده.

Venacavogram

وینوکاووګرام ، هغه فیلم چې د اجف ورید ته د رنګه مادې ررق وروسته تر لاسه کېږی او د اجوف ورید اناټومو پتولوژیکه بڼه څرګندوی .

Venacavography

وینوکاووګرافی ، هغه د فیلم اخیستنې پروسیجر چې د اجف ورید ته د رنګه مادې ررق وروسته تر لاسه کېږی او د اجوف ورید اناټومو پتولوژیکه بڼه څرګندوی .

Vene-

دا یو مختاړې دئ چې د (ورید،شین رګی ، **Veins**) معنی بشپړوی.

Venectasia

وریدی توسع ، د (**Phlebectasia**) په انډول.

Venectomy

- Pulp Vein

پولپ وریدونه ، هغه رګونه چې د طحال د وریدی سینوسونو تخلیه پر غاړه لری.

- Subcardinal Vein

د زړه په اولیه رشیمی دوره کې یوه جوړه رګونه د پوستې کارډینال وریدونو ځای نیسی او په پورې پورې سره د اصلی رګونو په توګه پاتې کېږی.

- Sublobular Vein

د کبدی وریدونو څانګې چې د کبدی لوبونو مرکزی وریدونو ته رسېږی.

- Supracardinal Vein

د زړه په اولیه رشیمی دوره کې یوه جوړه رګونه د سب کارډینال وریدونو وروسته منځ ته راځی او په عمده ډول لاندینی اجوف ورید د لاندینی برخې سګمنټ په توګه پکار ېږی.

- Trabiculary Vein

ترابیکولاټي وریدونه، د طحالی ترابیکولونو په تګ لورې کې د پولپ وریدونو د څانګو څخه جوړېدونکی رګونه.

- Varicose Vein

وریکوزی وریدونه ،هغه تاو راتاو شوی او متوسع او پرسېدلی وریدی رګونه چې معمولاً د لاندینی اندامونو (پښو) تر جلد لاندې د وریدی والفونو د عدم کفائي له کبله منځ ته راځی.

- Vasalian Vein

یو مخرجی ورید چې کورنوس سینوس له پتریګوئیدی وریدی جال سره نښلوی .

- Vitelline's Vein's

وتلیئن وریدونه ، اولیه رشیم کې وریدونه چې وینه له ژیړ کڅوړې څخه لومړنی زړه ته لېږدوی.

Velamen

یوه غشأ ، یوه پرده ، یوه شامه .

Velamena

د (**Velamen**) لپاره ګڼه شمېره ده.

Velamentosa

غشائی ، ځوړند .

Velar

د (**Velum**) اړوند صفت .

Vellus

هغه نرې /نازکه بڼه وېښتان چې د (**Lanugo**) ځای نیسی او د بدن په ډېره سطحه شتون لری ، ډېر نازکه وېښتانو ته ورته اوشبیه .

Velopharyngeal

د په پاسته تالو او بلعوم پورې اړوند ، د نرم تالو او بلعوم

Veno-

دا یو مختاړي دئ او د (ورید ، شین رګ ، **Veins**) معنی بشپړوی.

Venoclysis

هغه ډول پروسیجر چې پکې په کراره توګه مالګین محلول (**Saline**) یا نور محلولونه ورید ته تېرېږی.

Venogram

د وریدونو انځور د راډیوګرافی له مخې ، د (**Phlebogram**) په انډول.

Venography

د وریدونو د راډیوګرافی انځور اخیستنې کړنلاره تر سره کول ، د (**Phlebography**) په انډول.

Venom

زهر ، هغه سمی او زهرجنه ماده چې په طبیعی ډول سره د[یوه مار (**Snake** یا لړم **Scorpion**) یوې حشرې (**insect** خوخندې) یا کوم بل ډول ځناور حیوان] پواسطه جوړېږی او افرازېږی او د چیچلو وروسته انسانان مسموم کوی حتی تر مرګه یې ګوابنی د هغې ضد ماده (**Antivenene**) نومېږی.

Venomotor

د وریدنو د توسع (پرسېدنې) یا تقبض (تنګېدنې) کنټرول.

Venomous

زهرجن ، د زهری حیواناتو اړوند لکه (کوبرا مار **Cobra** او زهری غنې یا غونډل **Venomous Spider**) په څېر .

Veno-occlusive

د وریدی رګونو بندښت اړوند ، د وریدونو انسداد اړوند ، وریدی - انسداد.

Venoperitoneostomy

د بطنی پریتونیوم سره د سفینوس ورید تفمم او ګډل چې د حبن (**Ascits**) درملنې پکار وړل شی.

Venopressor

①د وریدی وینې د فشار پورې اړوند ،② هغه لاملونه او درمل چې د وریدونو تنګېدنې لامل ګرځی.

Venosclerosis

وریدی تصلب ، وریدی کلکېدنه ،د (**Phlebosclerosis**) په انډول.

Venosity

① په یوه برخه کې د وریدی وینې بهیر زیادښت ،② د وریدی وینې یا د وینې د رګونو د پرېمانه زیادښت اړوندصفت.

د وریدنو قطع کولو جراحی عملیاتی کړنلاره ، د (**Phlebectomy**) په انډول.

Venene

د زهری ضد مخلوط معمولاً د زهرو پر ضد پکار وړل شی.

Venereal

زهروی ، هغه ډله نارغیو [**Sexually Transmitted Disease (STD)**]اړوند چې د جنسی مقاربت له لارې لېږدول شی.

-Venereal Disease

هغه ډله نارغیو [**Sexually Transmitted Disease (STD)**]اړوند چې د جنسی مقاربت له لارې لېږدول شی لنډه نښه یې (**VD**) ده.

-Venereal Lesion

زهروی تپونه / آفتونه او ناروغی.

-Venereal Ulceration

زهروی تقرحات ، زهروی تپونه / زخمونه.

-Venereal Wart

زهروی زخې ، هغه ډول زخې چې د تناسلی آلاتو لپاسه د جنسی مقاربت له امله پېښېږی.

Venereologist

زهروی متخصص، هغه ډاکټر یا مسلکی کارپوه کس چې د زهروی ناروغیو درملنې په لاروچاروکې ځانګړې زده کړې کړې وی او مهارت لری.

Venereology

د زهروی ناروغیو (**Venereal Diseases**) اړوند څېړنیزو او درملنیزو چارو علمی ځانګه.

Venereum

د (**Lymphogranuloma Venereum**) په انډول.

Veneris

د (**Mons**) په انډول.

Venesection

هغه عملیاتی کړنلاره چې پکې وریدونه غوڅ او ورڅخه وینه راویستل شی لکه د وینې ډونور څخه وینه راکښل ، د (**Phlebotomy**) په انډول.

Venipuncture

د وینې رګ (ورید) څخه د بذل وروسته د وینې نمونې اخیستلو کړنه یا د درملو زرق په موخه . د (**Venepuncture**) په انډول.

Venisuture

د رګونو ګنډلو جراحی عملیاتی کړنلاره تر سره کول ، د (**Phleborrhaphy**) په انډول.

Venostasis
① په یوه برخه کې د وریدی وینې بهیر زیادښت او ډنډېدنه چې د بهیر پخوالی له امله وی ،② وریدی احتباس.

Venotomy
د ورید د لومن وازولو جراحی عملیات ، د (Phlebotomy) په انډول.

Venosus .
د (Ductus Venosus) په انډول.

Venous
د ورید (Veins) اړوند صفت.

-Venous Bleeding
وریدی وینه بهېدنه ، وریدی خونریزی.

-Venous Blood
وریدی وینه ، د (Deoxygenated Blood) په انډول.

-Percutaneous Venous Catheterization
د تر پوستکی لاندې د وریدی کتېتر تېرولو کړنلاره.وریدی کتېتر تېرول.

-Venous Haemorrhage
وریدی وینه بهېدنه ، د (Venous Hemorrhage) په انډول.

-Venous Return
وریدی عودت ، وریدونو ته د وینې بیا راګرځېدنه.

-Venous System
وریدی سیستم چې له انساجو څخه وینه زړه ته رسوی.

-Venous Thrombosis
وریدی ټرومبوز چې د وینې د علقې (Blood Clot) فکتېورونو د اختلالاتو له امله د یوې علقې پذرېعه بندښت پېښېږی.

-Venous Ulcer
وریدی قرحه ،د پښو اړوند هغه ټپونه یا قرحې چې په اوریدی وریکوز (Varicose Veins) یا وینې علقې (Blood Clot) کې پېښېږی.

Venovenostomy
ورید سره و بل ورید ترمیم او تفمم کړنلاره، د (Phlebophlebostomy) په انډول.

Vent
یو خروجی منفذ یا سوري لکه هغوی چې زوې (خیري ، چرک) ورڅخه راووځی ، د مقعد سوري.

Venter
①هر ګېډه ډوله شی لکه د یوې عضلې انقباضی غوښنه برخه ،② ګېډه ، معده ، لرې ،③ د یوه جوف تش منځې برخه.

Venteres
د (Venter) ګڼه شمېره ده.

Ventilation
1- تهویه ، هوارسول ، یوې خونې یا فضأ ته د تازه هوا کښلو کړنه ، د هوا تازه کول یا اړون بدلون (Exchange for Oxygen) د سږو څخه بهر ته ، د تنفس کولو عمل د سږو څخه بهرته. **2**- د تنفس یا تهویه لپاره دستګاه. **3**- په روانی طب کې د یوه کس د احساساتو شفاهی بیان ، د (Dead Space) په انډول.

-Alveolar Ventilation
سنخی تنفس ، د بهرنیو وسائلو په مټه د سږو الویول ته د تهویې پرمخ بیول او تنفس ورکول.

-Mechanical Ventilation
مېخانیکی تنفس ، د مېخانیکی وسائلو دستګاه په مټه د سږو الویول ته د تهویې پرمخ بیول او تنفس ورکول.

-Minute Ventilation
هغه لږ اندازه (مقدار) هوا چې د یوې لمحې / دقیقې په اوږدو کې د یوه چټک ذفیر په بهیر کې له سږو څخه بهرته ویستل کېږی.

-Positive Pressure Ventilation
مېخانیکی مثبت فشاری تنفس ، د مېخانیکی تهویې یو ډول دئ چې په هغې کې دمېخانیکی وسائلو دستګاه په مټه د مثبت فشار لرونکی هوا د سږو الویولونو بهنځایونو ته استول او پرمخ بیول یا تنفس ورکول شی.

-Pulmonary Ventilation
ریوی تنفس ، د سږو اړوند ساکښل ، د تهویې د کچې یوه ټاکلې اندازه چې د سږو هوا او شهیقی هوا تر منځ د تغیر او تبدل (اړون بدلون) مجمعی بڼې ویل کېږی.

-Total Ventilation
بشپړ تنفس ، کامل ساکښل ، د (Minute Ventilation) په انډول.

Ventilator
هغه ماشین / وسیله چې تنفس تر سره کوی ، د (Respirator) په انډول.

Ventilatory
تنفسی ، مصنوعی - تنفسی . د تنفس (Ventilator) اړوند صفت.

-Ventilatory Failure
تنفسی عدم کفایه ، د سږو د اوکسیجن تبادلې نه بسیا کېدنې اړوند.

Ventimask

د اوکسیجنی ماسک (**Oxygen Mask**) یو ډول سوداګریز نوم دئ.

Ventouse

پیالې ته ورته (**Cup-like Vacuum**) بڼه کشش لرونکې جارو وسیله چې د پیپ په سر کې کښښودله شی او زېږون پرمهال د ستونزمن ماشوم (**Unborn Baby's Head**) زېږونې پروسه کې مرسته کوی تر ماشوم تر فشار لاندې رانشی اوژر تر ژره وزېږول شی.

Ventral

بطنی، هر ګډې ډوله جوړښت ، د ګډې (**Abdomen**) اړوند صفت ،د بدن د قدامی لورې اړوند.

- Ventral Face

بطنی مخ ، هغه مخ چې د ګډې لورې ته وی.

- Ventral Surface

بطنی سطحه ، لاندینی سطحه .

Ventralis

بطنی، د ګډې اړوند صفت ، په یوه بطنی سطحه باندې ځای په ځای شوې ، د (**Ventral**) په اندول.

Ventolin

د قصبی توسع ورکوونکې مادې (**Salbutamol**) لپاره سوداګریز نوم دئ.

Ventri-

دا یو مختاړې دئ او د (خپتې ، ګډې ، بطن ،**Ventro-**) معنی بشپړوی.

Ventricle

بطین ، یوه غږی / ارګان دننه کوچنی جوف لکه د (زړه **Heart**یا ماغزو**Brain**) بطینونه .

- Ventricle of Arantius

د مغزو د بادام ډوله جوف (ځلورم بطین) برخه په ځانګړی ډول لاندینی څوکه (نهایت) یې .

- Double –inlet Ventricle

دا یوه ولادی نیمګړتیا لرونکې حالت دئ چې پکې دواړه اذینی –بطینی دسامونه یا په دهلیزونو او بطینونو کې شته یو دسام (والف) داسې یوه بطین ته چې کښې بطین ته ه مورفولوژیکی ډول ورته وی پرانیستل کېږی . دا واحد بطین کېدای شی دواړو بطینونو اینی بطین (**Double –outlet Right Ventricle**) ته ورته وی یا کښې بطین (**Double –outlet Left Ventricle**)] ته ورته وی یا دواړه هیڅ یوه ته ورته والې ونلری.

- Double –outlet Left Ventricle

دا یوه د زړه ولادی نیمګړتیا لرونکې ببځایه توب حالت دئ چې پکې دواړه شریانونه (ابهر او ریوی) پکې له کښې بطین څخه سرچینه اخلی .

- Double –outlet Right Ventricle

دا یوه د زړه ولادی نیمګړتیا لرونکې ببځایه توب حالت دئ چې پکې دواړه شریانونه (ابهر او ریوی) پکې له ښی بطین څخه سرچینه اخلی چې دا د انومالی حالت د بین البطینی حجاب د نیمګړتیا سره د مل پتوګه وی .

- Fifth Ventricle

د (**Septum Pellucidum**) د دوه لامیناګانو ترمنځ پروت دئ.

- Forth Ventricle of Cerebrum

ځلورم بطین چې د (**Hind Brain**) منځنی کانال جوف یوه برخه چې د مغزی –نخاعی مایع څخه ډک وی .

- Ventricle of Larynx

حنجری بطین ، د حقیقی او کاذبو حبولونو (طنابونو) تر منځ پرته تشه فضا.

- Lateral Ventricles Cerebrum

جنبی بطینونه ، چې دا جووړه دوه دانې دي چې په (**Cerebral Hemispheres**) دماغی نیمکرو کې واقع جوفونه دی او پکې کروئیدی ظفیری پروسه (**Choroid Processes**) پکې دماغی – نخاعی مایع (**Cerebrospinal Fluid**) جوړوی او د مغزی – نخاعی مایع څخه ډک وی .

- Left Ventricle of Heart

د زړه کښې بطین، دا کښې بطین د زړه لاندینی برخه کې واقع جوف دئ چې اوکسیجنی مشبوع د ابهر شریان او نورو شریانونو له لارې د بدن ټولو انساجو ته لېږدوی.

- Morgagnis Ventricle

د (**Ventricle of Larynx**) په اندول.

- Pineal Ventricle

پینایل بطین ، د دماغ اړوند مخروطی(صنوبری) ډوله بطین ، د دماغی دریم بطین یوه زائیده چې د پینایل جسم د ډنډر (ساقې) په لوری غځېږی.

- Right Ventricle of Heart

د زړه ښې بطین، دا ښې بطین د زړه لاندینی برخه کې واقع جوف دئ چې وریدی غبر اوکسیجنی وینه د ریوی شریان (**Pulmonary Artery**) پذربعه د نورو شریانونو له لارې د سږو انساجو ته د اوکسیجنی تبادلې (**Oxygenated**) لپاره پمپ کوی او لېږدوی.

- Third Ventricle of Cerebrum

دریم بطین ، دریم دماغی بطین چې د دواړو تلاموسونو (**Two Thalami**) ترمنځ جوف دئ چې د ډیانسفال دننه (اُنسی ته) تر کارپوس کالوزم لاندې د نري درز په څېر پروت دئ.

-Vergas Ventricle
د کارپوس کالوزم او دماغی فورنیکس تر منځ غیر دائمی فضأ.

Ventriclar
د بطین (Ventricle) اړوند صفت دئ.

Ventriclitis
د (دماغ یا زړه) بطین التهاب.

Ventricul-
دا یو مختاړي دئ او د دماغ یا زړه (بطین، بطن، Ventricle) معنی بشپړوی.

Ventricular
د بطیننونو (Ventricles) اړوند صفت دئ.

-Atrioventricular
د زړه د اذېن بطین اړوند، اذینی بطینی.

-Ventricular Fibrillation
بطینی فیبریلیشن، د زړه هغه شدیده ناروغی چې پکې د زړه عضله نشی کولای تقلص (تقبض) وکړی.

-Ventricular Folds
بطینی قات / فولډ، د (Vocal Cords) په انډول.

-Ventricular Septal Defect
بطینی نقیصه، هغه نیمګړي ولادی د زړه ناروغی چې پکې د زړه د کین او ښی بطینونو ترمنځ نقیصه شتون لری او وینه له یوه بطین څخه بل ته تېرېږی لنډه ننبه یې (VSD) ده.

-Ventricular Septum
د بطینو ترمنځ حجاب یا جدار. بطینی جدار.

Ventriculitis
د دواغی بطینونو التهاب.

Ventriculo-
دا یو مختاړي دئ او (بطین، بطن) معنی بشپړوي.

Ventriculoatrial
د بطین او اذین اړوند صفت.

-Ventriculoatrial Shunt
د د ماغی بطین او د زړه اذین تر منځ شنټ (مصنوعی لاره) جوړولو په موخه مصنوعی وسیله کښنودل.

Ventriculoatriostomy
د بطینونو د وازولو او لاړې کښلو جراحی عملیاتی کړنلاره چې د دماغی (Cerebrospinal Fluid) فشار کمښت لپاره د هایدروسفالوس ناروغۍ کې تر سره کېږی.

Ventriculocisternostomy
د دماغی بطینونو او سیسټرن(Cisterna) تر منځ د کړکۍ یا لاړې جوړولو جراحی کړنلاره.

Ventriculocordectomy
د بطینی کورډ غوڅولو جراحی کړنلاره.

Ventriculoencephalitis
د دماغی بطیناتو او دماغ نسج دواړو التهاب

Ventriculofallopian Tube
د دماغی بطین او نفیر دواړوند اړوند صفت.

-Ventriculofallopian Tube Shunt
د دماغی بطین او رحمی نفیرونو ترمنځ د (مصنوعی لاړې) جوړولو کړنلاره د شنټ کښنودلو پذرېعه.

Ventriculografia
د (Ventriculography) په انډول.

Ventriculogram
د بطینی اړوند انځور(فیلم) اخیستې بڼه چې د راډیوګرافی پذرېعه تر سره کېږی.

Ventriculography
د دماغی بطینونو دننه د رنګه مادې زرق څخه وروسته د راډیوګرافی (X-ray Picture) تر سره کولو له لاړې کړنلاره انځور اخیستل بشپړول دی.

-First Pass Ventriculography
د دماغی بطین دننه د رنګه مادې زرق وروسته لومړنې فلیم اخسیتنه چې په (Angiocardiography) بڼه شرحه راغلې ده.

-Gated Blood Pool Ventriculography
د (Equilibrium Angiocardiography) په انډول.

Ventriculomastoidostomy
هغه جراحی عملیاتی کړنلاره چې پکې د دماغی بطین او مستوئید ترمنځ کړکۍ یا وازه لاره جوړېږی.

Ventriculomegaly
د دماغی بطیناتو لویوالې، بطینی ضخامه.

Ventriculometry
د بطین د کچې د اندازه کولو میتود او کړنلاره.د داخل المغزی فشار اندازې تاکنه.

Ventriculonector
وینټریکولو نکټور.

Ventriculoperitoneal
بطینی-پریتوانی، د بطین او پریتوان دواړو اړوند.

-Ventriculo-peritoneal Shunt
هغه ډول مصنوعی شنټ چې د (Hydrocephalus) په ناروغی کې د دماغی-نخاعی مایع تخلیې په موخه د جنبی بطین دننه او ګېډې کې تثبیت او کښنودل شی.

Ventriculoperitoneostomy
د دماغی بطین او پریتوان جوف ترمنځ د شنټ کښنودلو له لارې اړیکه جوړول.

Ventriculophasic
د بطښنی مرحلې اړوند .

Ventriculoplasty
د بطینونو د بیاجوړولو ترمیم پلاستیک جراحی عملیاتی کړنلاره.

Ventriculopleural
د دماغی بطین او پلورائی جوف اړوند.

- Ventriculopleural Shunt
د دماغی بطینونو او پلورائی جوف ترمنځ د اړیکی ایجاد په موخه د شنټ کښنودلو کړنلاره.

Ventriculopuncture
د بطینونو د بذل کړنلاره ، دبطین سوری کول .

Ventriculoradial
د بطینی – شعاعی اړوند .

- Ventriculoradial Dysplasia
د بطینی – شعاعی بنې ډیسپلازیا اړوند.

Ventriculoscope
هغه (**Endoscope**/دننه کتونکې) وسیله چې ورباندې د بطین دننه حالت کتل شی.

Ventriculoscopy
د (**Endoscope** یا **Ventriculoscope**) پذرېعه د دماغی بطینونو اندوسکوپیک کتنې کړنلاره تر سره کول.

Ventriculostomy
د بطینونو سوری کول د بذل او دماغی فشار کمښت په موخه د هایدروسفالوس په پښنو کې چې پکې د (**Interpedicular Cisterna**) او درېیم بطین ترمنځ آزاد اړیکه رامنځ ته کېږی.

Ventriculosubarachnoid
په دماغی بطین او تحت العنکبوتیه فضأ ګانو پورې اړوند.

Ventriculotomy
د دماغی بطین د وازولو او سوری کولو جراحی کړنلاره.
بطینی سکښل.

Ventriculus
1-حشرو او حیواناتو معده ، د رهضم ځای دستګاه .**2**- الوتونکو یا مرغانو شاتینګې (سنګدان) .

Ventriduct
بطنی قنات ، د معدې /ګېډې خواته د لېږدولویا رسولو قنات

Ventr-
دا هغه مختاړې دئ چې د (ګېډې **Ventral** ، **Abdomen**، معدې ، لرې، هضمی کڅوړه او **-Ventro**) معنی بشپړوی.

Ventro-
دا هغه مختاړې دئ چې د (ګېډې **Ventral** ، **Abdomen**، معدې ، لرې، هضمی کڅوړه) معنی بشپړوی.

Ventrofixation
دا هغه جراحی عملیاتی کړنلاره ده چې پکې پڅټ شوی رحم (**Uterus Retroversion**) جدار د ګېډې جدار سره درملنیز تثبیت کېږی .

Ventrohysteropexy
د (**Ventrofixation**) په اندول.

Ventrolateral
بطنی – جنبی ، بطنی وحشی . د ګېډې او اړخ اړوند.

Ventromedian
بطنی – اُنسی ، بطنی – وسطی . د ګېډې او دننه ته اړوند.

Ventroposterior
بطنی – خلفی ، بطنی – شا لورې ته . د ګېډې او شا تختې اړوند.

Ventroscopy
د ګېډې د (**Peritoneoscopy**) اړوند صفت.

Ventrose
ګېډې ته ورته توسع لرونکې ، ګېډه لرونکې ، معدوی .

Ventrosuspension
د (**Ventrofixation**) په اندول.

Ventrotomy
د (**Celiotomy**) په اندول.

Venturi Mask
هغه ډول ډیسپوز ماسک چې پکې یو څوک اوکسیجن او هوا په ګډ ډول سره کنټرول کولای شی.

Venturi Nebulizer
هغه ډول نیبولایزر وسیله چې څاڅکی بنې درملنې (قطره ئي درملنې **Aerosol Therapy**) په موخه پکار وړی.

Venula
د (Venul) په اندول.

- Postcapilary Venula
وریدی شعریوی رګونه ، خلف کپیلری وریدونه .

- Satellate Venula of Kidney
د پښتورګو اړوند سپوږمکی ته ورته وریدونه.

Venular
د (Venula) اړوند صفت دئ.

Venule
هغه کوچنی وریدی رګونه چې وینه له انساجو څخه غټو وریدی رګونو ته تخلیه کوی.

Venulitis
د کوچنیو وریدونو التهاب .

Verapamil
هغه طبی مصنوعی جوړ شوې مرکب چې د (Calcium Ions) آیون خوځښت د غشأ څخه مخنیوی کوی دا معمولاً په (Angina Pectoris, Hypertension او Irregular Heartbeat) درملنه کې پکارېږی .

Verbigeration
هغه ډول دماغی اختلال چې پکې ناروغ د بې معنی کلمو او جملو غږ ارادی تکرار تر سره کوی.

Verge
ګردی کړی ، دایروی کړی ، ګرد محیط.

- Anal Verge
مقعدی سوري ، د هضمی جهاز او کانال د پایلې سوري.

Vergence
د دواړو سترګو یو ببلوونکې او دوه اړخیزه څرخېدنه چې د سترګو د استقرار محورونه پکې موازی نه وی .

Vermicide
هغه طبی درمل ماده چې د کولمو چینجیانو (Worms) اوپرازیتونو ضد او وژونکې اغېزی څرګندوی.

Vermicular
چینجی ډوله ، د ظاهر له مخې چینجی ته ورته بڼه او شکل لرل.

- Appendisis Vermicular
د چینجی ته ورته اپنډیکس کولمه.

Vermiform
چینجی (Worm) ډوله ، د ظاهر له مخې چینجی ته ورته بڼه او شکل لرل.

- Vermiform Appendix
اپنډیکس ،د چینجی ته ورته اپنډیکس (Appendix) کولمه.

Vermifugal
د (Vermifuge) اړوند صفت .

Vermifuge
هغه طبی درمل ماده یا لامل او فکټورنه چې د کولمو چینجیانو (Worms) اوپرازیتونو ضد او وژونکې اغېزی څرګندوی.

Vermillion Border
د شونډو بهرنی سره برخه .

Vermillionectomy
د شونډو د بهرنی سرې ژی برخې د غوڅولو او لېرې کولو جراحی عملیات تر سره کول .

Vermin
خارجی حیوانی پرازیت ،د دې ډول پرازیتونو راتولېدل او تجمع.

Verminous
د (Vermin) اړوند صفت.

Vermis
چینجې ، چینجی ته ورته او مشابه جوړښت ، چینجی ډوله ، کرمی ، د مُخیخ ورمیس .

- Vermis Cerebelli
د دماغ د سریبیلوم (مخیخ Cerebellum) مرکزی برخه چې د څلورم بطین پورتنی (Top of the Fourth Ventricle) برخه جوړوی .

Vermix
خلا ، رونوالې پېښووونکې ، څلوونکې ماده ، د (Vermiform Appendix) په اندول.

- Vernix Caseosa
هغه غوړه ماده چې د سیبوم او تفلسی اپیتلیال حجرو جوړېږی او د جنین پوستکې پوښوی.

Verruca
د پوستکی زخې یو ډول ، د اپې ډرم کې د د تقرنی سطحې لرونکی لوبولی او هایپرپلاستیکی اندفاع چې د انسانی پاپیلوما ویروس پوسیله پّه (دپښو تلی Foot Sole) کې منځ ته راځي .هر ډول اپی ډرمی ارتشاح (Proliferation) چې د ویروس څخه یې سرچینه نه وی اخیستې

- Verruca Acuminata
کانډیلوما اکومیناتا .

- Verruca Necrogenica
توبرکلوزیک جلدی زخه ، د (**Tuberculosis Verrucosa Cutis**) په اندول.

- Verruca Peruana
د (**Peruviana Wart**) په اندول. په (**Bartonellosis**) کې وګوری.

- Verruca Peruviana
د (**Peruviana Wart**) په اندول.

- Verruca Plantaris
د پښو تلی (**Foot Sole**) کې یوه ویروسی اپیډرمی کټله (زخه) منځ ته راځي.

Verrucae
د (**Verruca**) ګڼه شمېره ده.

Verrucas
د (**Verruca**) ګڼه شمېره ده.

Verruciform
یوې زخنې کټلې ته ورته ، زخې ته ورته.

Verruga
زخه ، د پوستکی زخنه کټله .

- Verruga Peruana
د (**Peruviana Wart**) په اندول.

Version
څرخېدل ، تدور ، تاوېدل ، په رحم (**Uterus**) کې د یوه جنین (**Fetus**) د څرخېدنې یا لوړې بدلون (**Turning**) د پراوونو تر سره کول تر څو په ښه وضعیت کې راشی.

- Bimanual Version
دېهر او دننه خوا څخه د لاسونو ګوتو پواسطه تاوول–او څرخول ترسره کولو کړنه .

- Bipolar Version
دوه قطبی څرخول،هغه ډول څرخول چې د جنین دوارې قطبونوپه بر کې نیسی .

- Cephalic Version
دسر څرخول ، د جنین هغه ډول څرخول چې سر یې رابنکاره شی .

- Comboined Version
د (**Bimanual Version**) په اندول.

- External Version
د بهر (خارج) څخه د لاس وهنې له لارې د جنین څرخول.

- Internal Version
هغه ګوتو یا لاس پواسطه د جنین څرخول چې د رحم د آزادې شوې غاړې څخه ننویستل شوې وی .د دننه (داخل) څخه د لاس وهنې له لارې د جنین څرخول .

- Pelvic Version
د جنین د لاندینی برخې باندې د لاس وهنې له لارې د جنین څرخول، د حوصلې څرخول .

- Podalic Version
په پښوئیز پرزنتېشن د نامطلوبه پرزنتېشنونو اړول.

- Spotanous Version
هغه ډول څرخېدنه د هر د هر ډول بهرنی قوې پرته تر سره شی ، بنفسهی تاویدل ، په خپل سر تاوېدل.

Vertebra
مُهره ، فقره ،د ملاتیر مری ، د ملاتیر د (**33**) مری هډوکو څخه هر یو چې لومړنی یې (**Atlas**) نومېږی اوه (**7**) دانې په غاړې **Cervical Vertebrae** ، دوولس (**12**) دانې په سینې **Thoracic Vertebrae** ظهری فقری ، پنځه (**5**) یې په نری ملا ا قطنی **Lumbar Vertebrae**برخه ، پنځه (**5**)یې عجز/ سکروم **Sacrum** د او څلور (**4**) یې په عصعص **Coccyx** برخها کې واقع دی یو تربله یې په خپل منځ کې غضروفی بندونه (**Cartilaginous Joint**) جوړوی.

- Atlas Vertebra
د اطلس فقره لومړنی فقره ده چې د سرکوپرې هډوکو سره نښلی .

- Basilar Vertebra
قاعدوی فقری ، وروستی قطنی فقره .

- Vertebra Dentata
دوهمه رقبی فقره .

- Odontoid Vertebrae
دوهمه رقبی فقره.

- Vertebra Plana
د فقرې د التهاب یو حالت دئ چې د فقری جسم پکې د یوې تصلبی پانې بڼه خپلوی.

- Sternal Vertebra
د (**Sternebra**) په اندول.

Vertebrae
د (**Vertebra**)ګڼه شمېره ده.

- Cervical Vertebrae
رقبی فقرې ، د غاړې برخې مهرې چې اوه (**7**) دانې دی د (C_1-C_7) پورې دی .

- Coccygeal Vertebrae
عصعصی فقرې ، د ملاتیر د عصعص برخې مهرې چې اوه (**4**) دانې دی فقری ستون (**3-5**) سګمنټونه چې د سر کوپرې څخه تر ټولو زیات واټن لری دا برخې سره نښلی تر څو عصعص جوړ کړی .

- Cranial Vertebrae
د مخ هډوکی او د سر کوپرې سګمنټونه چې ځینې یې شکل

د فقراتو نر منځ سوري ، فقری سوري چې د فقراتو یو ځای کېدو څخه رامنځ ته کېږی.

- Vertebral Fracture

د فقراتو کسر / ماتېدنه.

- Vertebral Ganglion

د فقراتو ګانګلیون (**Ganglion**) چې د اصلی فقری شریانونو قدام ته پراته دی.

- Vertebral Nerve

فقری اعصاب ، فقری عصب.

- Vertebral Trauma

د فقراتو تر ضیض / جروحات.

- Vertebral Vein

د فقراتو اړوند وریدونه.

Vertebrata

د فقاریه حیواناتو څېړنو یوه څانګه چې پکې ټول هغه حېوانات چې ملاتیر لری (تی لرونکی ، الوتونکی ، چنګښې ، کبان) ورګډ ېږی ، شمزی وال ، ملا لرونکی .

Vertebrate

ملاتیر لرل، فقری ، شمزی وال.

Vertebrectomy

د یوې فقرې غوڅول او لرې کولو جراحی عملیات کړنلاره.

Vertebro-

دا یو مختاړې دئ او د (مُهرې ، فقرې) معنی بشپړوی.

Vertebro-basilar

په قاعدوی – فقری شریانونو پورې اړوند یا هغه تر اغېزې لاندې راوستل.

- Vertebro-basilar Insufficiency

قاعدوی-فقری عدم کفایه، د قاعدوی-فقری شریان د بندښت له امله مؤقت ډول د دماغی ساقې ایسکیمیا(**Brainstem Ischaemia**) بلله شی.

Vertebrochondral

فقری – غضروفی ، د فقراتو او غضروف اړوند.

Vertebrocostal

فقری – ضلعی ، د فقراتو او پُښتیو (اضلاعو) اړوند.

Vertebrogenic

فقری ، د فقراتو څخه منځ ته راغلې ، د فقراتو راپېښ شوی اړوند.

Vertebrosternal

فقری – قصی ، د فقراتو او قص (ستېرنوم) اړوند.

اوښتې مهرې دی.

- Dorsal Vertebrae

ظهری فقرې ، صدری فقرې چې ټول ټال (**12**) دانې دی .

- False Vertebrae

کاذبې فقرې ، هغه فقرې چې په نورمال ډول سره د نښتې ټوټو څخه جوړ ېږی ، عجزی او عصعصی فقرې.

- Lumbar Vertebrae

قطنی فقرې ، د نری ملا برخې مهرې چې اوه (**5**) دانې دی چې د صدری څخه تر عجزی فقرو پورې پرتې دی .

- Vertebrae Magna

عجزی فقرې .

- Sacral Vertebrae

عجزی فقرې ، د عجزی برخې مهرې چې اوه (**5**) دانې دی .

- Thoracic Vertebrae

صدری فقرې ، د سینې / ټټر برخې مهرې چې اوه (**12**) دانې دی چې د رقبی فقرو څخه تر عجزی فقرو پورې دوام لری د (T_1- T_2) پورې دی .

- True Vertebrae

د ملاتیر هغه ټوټې چې د ژوندانه په اوږدو کې په نورمال ډول په منفرد بڼې پاتې کېږی (یوه له بلې څخه نښلی) **لکه** (رقبی ، صدری ، قطنی ، حقیقی) فقرې.

Vertebral

د فقراتو (**Vertebra**) اړوند صفت دئ.

- Vertebral Arcus

فقری لیندی، فقری قوس .

- Vertebral Artery

فقری شریان ، هغه یو د دوه شریانونو څخه چې شا/ خلف او غاړې ته درومی او دماغ ته ننوزی.

- Vertebral Body

د فقرې جسم .

- Vertebral Bone

فقره ، د ملا تیر د فقری هډوکې.

- Vertebral Canal

د حرام مغز کانال ، فقری کانال ،نخاعی کانال ، د (**Spinal Canal**) په انډول.

- Vertebral Column

د فقراتو د یوځای څخه رامنځ ته شوې لړی تش منځې کانال.د (**Backbone, Spinal Column**) په انډول.

- Vertebral Disc

د (**Intervertebral Disc**) په انډول.

- Vertebral Dislocation

د فقراتو اړوند خلع ،د فقراتو له بندونو ختل.

- Vertebral Foramen

Vertex
عمودی ، د سر د قُبې اړوند ، د سر د برنی برخې اړوند ، د سر په پورتنی برخې واقع شوې .

- Vertex Delivery
د یوه مساشوم زېږون د سر په پورتنی برخې لومړې ځل ولادی کانال خوله کې واقع شوې زېږون چې نورمال بلل شی.

- Vertex Plan
عمودی پلان . په سطحې اناټومی کې عمودی پلان ته ویل شی.

- Vertex Position
عمودی وضعیت .

Verticalis
عمودی ، د عمود (**Vertex**) اړوند صفت.

Verticallate
مارپېچه ، تاوراتاو شوې بنّه ، پو په بل کې نغښتې بنّه لرونکې.

Vertigo
سرځرخی ، سرګرځېدل ، په هره لوري د یو چا د چورلېدو (ذهنی سرځرخی) احساس یا دشاوخوا چاپېریال د تاوېدو احساس . پرله ګرځېدنه .

- Altimobaric Vertigo
هغه ډول دوورانی او لنډ مهالې سرځرخی چې د اټوموسفیر فشار د چټک زیاتوالی او بدلون له امله پېښېږی .

- Benign Proximal Positional Vertigo
د (**Benign Proximal Postural Positional Vertigo**) په انډول.

- Benign Proximal Postural Vertigo
د (**Benign Proximal Postural Positional Vertigo**) په انډول.

- Benign Positional Vertigo
هغه ډول سرځرخی چې او راستنېدونکې (عودتی) نیستاګموس چې په ځانګړو وضعیتونو کې د سر د ځای نیولو له کبله رامنځ ته کېږی اومعمولاً د مرکزی عصبی سیستم و نارو غیو له کبله نه وی.

- Cervical Vertigo
رقبی سر ځرخی، داد سر ځرخی حالت پر غاړه باندې د ترضیض وروسته منځ ته راځي .

- Disabling Positional Vertigo
دا حالت د سامعوی ناروغیو د شتون پرته یا د دهلېزی (وستیبولار) سیستم د وظیفوی ناجوړتیا پره په قایم وضعیت کې د تعادل نشتوالې او زړه بدوالی یا مداوم وضعیتی سرځرخی له کبله منځ ته راځی .

- Labyrinthine Vertigo
دا یو ډول سرځرخی ده چې د غوږونو د لابرینټ برخې ناروغی شته والی سره مل منځ ته راځي.

- Objective Vertigo
د شاوخوا د چاپېریال د تاویدنې د لیدنې په بڼه منځ ته راځی .

- Ocular Vertigo
دا یو ډول سرځرخی ده چې سترګو د ناروغی شته والی سره د مل پتوګه منځ ته راځي.

- Organic Vertigo
دا حالت د مغزی د دهلېزی (وستیبولار) سیستم ناروغیو یا تابیس ډورسالیس د شتون له امله منځ ته راځی.

- Positional Vertigo
وضعیتی سرځرخی، هغه ډول سرځرخی چې په ځانګړی وضعیت کې د سر نیولو وروسته رامنځ ته کېږی.

- Postural Vertigo
د (**Positional Vertigo**) په انډول .

- Subjective Vertigo
هغه ډول سرځرخی چې عرضی یا په ذهنی بڼه منځ ته راځی.

- Vestibular Vertigo
د مغزی د دهلېزی (وستیبولار) سیستم ناروغیو د شتون له امله منځ ته راځی.

Vertiginous
د (**Vertigo**) اړوند صفت

Verumontanum
د (**Colliculus Seminalis**) په انډول.

Very
زیات ، ډېر ، زښت .

- Very Low Density Lipoprotein
د ډېر لږ کثافت لرونکې غوړ چې لنډه ننبه یې (**VLDL**) ده کله چې غذائی مواد جذب شی لومړی شحم په کبد کې د لایپوپروټین (**Low Density Lipoprotein**) په بڼه جوړېږی او بیا وروسته په شحم (**Fat**) بدلېږی او ذخیره کېږی.

- Very Severe
1- ډېر شدید، سخت ډېر شدید ، ستهم . **2**- ستونزمن ، مشکل ، کړاوجن . **3**- سختګیر، ډېر جدی. **4**- عبوس ، تندخویه. **5**- ساده ، ناموزونه ، بې زیبه .

Vesica
دتشو متیازو کڅوړه ،بولی مثانه ، اوګاه ، کڅوړه ډوله جوړښت . د (**Bladder**) په انډول.

- Vesica Biliaris
صفراوی کڅوړه ، د تریخی کڅوړه .

- Vesica Fellea
صفراوی کڅوړه ، د تریخی کڅوړه .

- Vesica Seminalis
منوی کڅوړه ، د منی مایع د راټولېدنې کڅوړه.

- Urinaria Vesica

د متیازو کڅوړه .

Vesical

د (**Vesica**) اړوند صفت.

- Vesical Anomalies

د مثانې ولادی انومالی او نیمګړتیاوو اړوند.

- Vesical Artery

مثانی اړوند شریان.

- Vesical Atony

د مثانې د مقویت نشتوالی اړوند.

- Vesical Detrussor Muscles

د مثانې دیټروسور عضلات چې د مثانې مقویت او تقلص او ظرفیت جوړېدنه کې رول لري.

- Vesical Disease

د مثانې ناروغی.

- Vesical Extrophy

د مثانې اکستروفی ، هغه حالت چې پکې د مثانې قدامی جدار او د ګېډې جدار دواړه په نیمګړې بڼه په ولادی ناروغی اخته وی او د مثانې مخاطی غشأ بهرته راوتلې بڼه لري.د (**Bladder Extrophy**) په انډول.

- Vesical Injuries

د مثانې ترضیضونه ، د مثانې جروحات.

Vesicant

د تېاکو پېښوونه ، هغه لامل یا مواد چې د پوستکی تېاکې (**Blister**) منځ ته راوړی.د (**Epispastic**) په انډول.

Vesication

د تېاکو منځ ته راوړل ، د تېاکو تولید ، یوه تېاکه لرونکې سطحه ټکې.

Vesicle

1 . مایع لرونکې کوچنۍ کڅوړه یا مثانه، کوچنۍ تېاکه چې د (**Eczema**) له املې وی ، **2** . د پوستکی د اپی ډرم کوچنۍ او بنده راوتلتیا (**Small Blister**) چې سیرومی مایع لري.

- Acrosomal Vesicle

د یوې غشأ پواسطه محدود شوې واکیول ډوله جوړښت چې سپرماتوزوئید د سر په (2/3) پورتنۍ برخه کې موقعیت لری تر څو د هغه د سر خولۍ او کوپړۍ جوړه کړی.

- Alantoic Vesicle

د الانټوئید داخلی او تش منځې برخه . د (**Diverticulum**) په برخه کې ولولی.

- Auditory Vesicle

د (**Otic Vesicle**) په انډول.

- Balstodermic Vesicle

د بلاستوسیسټ (**Blastocyst**) په انډول.

- Brain Vesicle

د ودې په حال رشیم کې د ټرلی عصبی تیوب پنځه ځانګې چې (تلانسفالون ، میتانسفالون اومیلینسفالون) پکې ګډون لری.

- Brain Vesicle Primary

د ودې په حال رشیم کې د ټرلی عصبی تیوب لومړنۍ دری کوچنۍ ځانګې چې د (**Forebrain** ، **Midbrain** ، او**Hindbrain**) څخه عبارت دی.

- Brain Vesicle Secondary

د ودې په حال رشیم کې د ټرلی عصبی تیوب وروستنۍ څلور کوچنۍ مغزی کڅوړې ځانګې چې د (قدامی مغز **Forebrain** اومنځنی مغزو **Midbrain**) له تفریق څخه منځ ته راځی.

- Cephalic Vesicle

د (**Brain Vesicle**) په انډول.

- Cerebral Vesicle

د (**Brain Vesicle**) په انډول.

- Chorionic Vesicle

د تی لرونکو کوریونی کڅوړه.

- Encephalic Vesicle

د (**Brain Vesicle**) په انډول.

- Germinal Vesicle

د میوزیس وېشنې پر مهال د پروفیز مرحلې په پای کې د اووسیټ مایع ډکه هسته .

- Lens Vesicle

عدسیوی کڅوړه ، هغه کڅوړه چې په رشیم کې د عدسیوی نودې (جوانې) څخه سرچینه اخلی او د تکاملی مرحلو په وهلو سره د سترګې په عدسیو اوړی.

- Matrix Vesicle

غضروفی ماټریکس کڅوړه ، په غضروفی ماټریکس په تکلسی برخو کې د غشأ پواسطه محدوده شوې کوچنی جوړښتونه.

- Olphactory Vesicle

شاموی کڅوړه ، پهرشیم کې یوه کڅوړه چې وروسته په شاموی (بویولو) لارو باندې اوړی ، د یوې شاموی حجرې د ډیستال نهایت پیاز ډوله پلنه برخه چې شاموی ویښتان ورڅخه بهر کېږی.

- Ophthalmic Vesicle

په اولیه رشیم کې د قدامی ماغزو په هره لورې کې موجود راوتلتیاوی چې سترګې پورې اړوندې ادراکی برخې ورڅخه منځ ته راځي.

- Optic Vesicle

د (**Olphactory Vesicle**) په انډول.

د مثانې سورې جوړولو جراحی عملیاتی کړنلاره ، د (**Vesicotomy**او**Cystostomy**) په انډول.

- Cutaneous Vesicostomy

د مثانې سورې جوړولو هغه جراحی عملیاتی کړنلاره چې پکې مثانه د پوستکی له لارې بهر ته خوله جوړوله شی چې دا کړنلاره د مثانې تخلیې په موخه ترسره کېږی.

Vesicotomy

دمثانې د کڅوړې د وازولو او ځیرلو جراحی کړنلاره ده،د (**Cystostomy**) په انډول.

Vesicoureteral

د مثانې او حالب دواړو اړوند .

- Vesicoureteral Junction

د مثانې او حالب دواړو ترمنځ د اتصال برخې اړوند.

Vesicoureteric

د مثانې (**Urinary Bladder**) او حالب (**Ureters**) دواړو اړوند .

- Vesicoureteric Junction

د مثانې او حالب دواړو ترمنځ د اتصال برخې اړوند.

- Vesicoureteric Oriface

د مثانې او حالب دواړو ترمنځ د اتصال برخې د معرې خولې اړوند.

- Vesicoureteric Reflux

د مثانې او حالب دواړو ترمنځ د ریفلوکس اړوند هغه حالت دئ چې پکې متیازې له مثانې څخه حالبونو غبرګیز ورتګ او بهیر مومی . د (**Vesicouretic Reflux**) په انډول.

Vesicouretic

د (**Vesicoureteric** او**Vesicoureteral**) په انډول.

- Vesicouretic Junction

د مثانې او حالب دواړو ترمنځ د اتصال برخې اړوند.

- Vesicouretic Reflux

د مثانې او حالب دواړو ترمنځ د ریفلوکس اړوند هغه حالت دئ چې پکې متیازې له مثانې څخه حالبونو غبرګیز ورتګ او بهیر مومی . د (**Vesicoureteric Reflux**) په انډول.

Vesicourethral

د مثانې (**Urinary Bladder**) او احلیل (**Urethra**) اړوند .

- Vesicourethral Sphincter

د مثانې او احلیل دواړو ترمنځ د اتصال معصروی برخې اړوند.

- Vesicourethral Sphincter Spasm

د مثانې او احلیل دواړو ترمنځ د اتصال معصروی برخې د سپزم حالت اړوند.

- Vesicourethral Sphincter Stenosis

د مثانې او احلیل دواړو ترمنځ د اتصال معصروی برخې د

- Otic Vesicle

سمعی کڅوړه ، هغه کڅوړه چې د رشیمی ودې پرمهال منځ ته راځی او ورسته بیا په سمعی سیستم اوړی د (**Auditory Vesicle**) په انډول.

- Seminal Vesicle

منوی کڅوړه ، دا هغه کڅوړه ده چې د مثانې خلف ته پرته ده او منوی مایع پکې راټولېږی او د احتلام پرمهال ورڅخه بهرته خارجېږی.

Vesico-

دا یو مختاړې دئ چې د (کڅوړې ، مثانې **Urinary Bladder** ، تش منځی جوړښت ، تیاکې) معنی بشپړوی.

Vesicocele

د مثانې فتق / چُړه.

Vesicocervical

مثانی – عنقي، د مثانې اورحم د عنق /غاړې اړوندصفت، په متیازو کڅوړې او سرویکس کانال دواړو پورې اړوند .

Vesicoclysis

مثانې دننه جوف ته مایع داخلولو کړنلاره.

Vesicoenteric

د مثانې او کولمو اړوند ، مثانی –معائي ، د (**Vesicointestinal**) په انډول.

Vesicofixation

د مثانې د تثبیت جراحی عملیاتی کړنلاره. د (**Cystopexy**) په انډول.

Vesicointestinal

د مثانې او کولمو اړوند ، مثانی –معائي ، د (**Vesicoenteric**) په انډول.

Vesicoprostatic

د مثانې او پروستاټ غدې اړوند.

Vesicopubic

د مثانې او عانې اتفاق (پوبیس) اړوند.

Vesicosegmoidostomy

هغه جراحی عملیاتی کړنلاره چې پکې مثانه د سګموئیډ کولون سره ترمیم او تفمم ورکول شی او ټیکاو لرونکې تړاو لاره رامنځ ته شی.

Vesicospinal

د مثانې او ملاتیر اړوند.

Vesicostomy

راغلې بڼه.

Vesiculography
د منوی کڅوړې (Seminal Vesicle) راډیوګرافی (X-ray Examination) کړنلاره تر سره کول.

Vesiculopapular
ویزیکولی –پاپولی ، د پوستکی د تبخاکې (Blisters) او پاپول (Papules) دواړو اختلالونو او ناروغیو اړوند.

Vesiculopustular
ویزیکولی –پوستیولی ، د پوستکی د تبخاکې (Blisters) او پوستیول (Pustula) دواړو اختلالونو او ناروغیو اړوند.

Vesiculotomy
د یوه ویزیکول / تبخاکې د څیرلو (سکښت) کړنلاره ،دا هغه جراحی عملیاتی پروسیجر دئ چې پکې یوې تبخاکې منوی کڅوړه (Seminal Vesicle) لپاسه څیرنه تر سره شی او هغه وازه کړله شی.

Vesiculovirous
کیسه ئی ډوله ستوماټیټي ته ورته ویروسونه چې د (Rhabdoviridae) په کونۍ پورې تړاو لری.

Vessel
رګ ، یو تش منځې بهنځای مجرائی لرونکې نلکه (Tube) چې مایعات لکه (وینه او لمف) پکې بهیر مومی.

- Absorbent Vessel
لمفاوی چینلونه، کانالونه / رګونه

- Blood Vessel
هغه رګونه چې پکې وینه بهیر مومی لکه (شریان او وریدونه، شعریه ګانې ، وینولونه).

- Chylfirous Vessel
کایل لرونکې کانالونه ، د (Lacteal Vessel's) په انډول.

- Collateral Vessel
هغه ډول رګونه چې د یوه (رګ ، عصب ، بل جوړښت) په ګاونډیتوب کې په موازی ډول ځای لری. هغه ډول رګونه چې د جانبی (اړخیز) دمویه / وینې بهیر رامنځ ته کوی.

- Great Vessel
لوی او غټ رګونه لکه (ابهر شریان ، ریوی ورید او شریان او اجوف وریدونه) چې د زړه اړوند وینه چلوی.

- Lacteal Vessel
د (Chylfirous Vessel) په انډول.

- Lymphatic Vessel
لمفاوی رګونو اصلی تنې چې پکې لمفاوی مایع بهیر مومی چې له انساجو څخه لمف راټولوی او د وینې بهیر ته یې لېږدوی

تضیق / تنګوالی اړوند.

Vesicouterin
د مثانې او رحم دواړو برخو پورې اړوند.

Vesicovaginal
د مثانې (Urinary Bladder) او مهبل (Vagina) دواړو برخو پورې اړوند.

- Vesicovaginal Fistula
د مثانې (Urinary Bladder) او مهبل (Vagina) دواړو برخو پورې اړوند فیستول یا د یوې وازې لارې شتون.

Vesicula
وزیکول ، تبخاکه ، کڅوړه ډوله جوړښت.

Vesicular
د (Vesicle) پورې اړوند.

- Vesicular Breathing
هغه ډول تنفسی غږ یا آواز چې په نورمال ډول د سږو لپاسه اورېدل شی.

- Vesicular Breath Sound
هغه ډول تنفسی غږ یا آواز چې په نورمال ډول د سږو لپاسه اورېدل شی

- Bronchovesicular Sound
هغه ډول تنفسی غږ یا آواز چې د سږو د قصباتو برخې لپاسه اورېدل شی چې دقصباتو په تنګېدنې دلالت کوی.

Vesiculation
دپوستکی لپاسه د یوې تبخاکې (Blisters) منځ ته راتګ پروسه.

Vesiculectomy
د یوه ویزیکول / تبخاکې غوڅولوکړنلاره ،دا هغه جراحی عملیاتی پروسیجر دئ چې پکې منوی کڅوړه (Seminal Vesicle) راکښله شی.

Vesiculiform
ویزیکولی ، یوې تبخاکې / کڅوړې یا ویزیکول ته ورته جوړښت.

Vesiculitis
د ویزیکول التهاب ، په ځانګړې توګه د منوی کڅوړه (Seminal Vesicle) التهاب.

Vesiculo-
دا یو مختاړې دئ او د(مثانې ، کڅوړې ، تبخاکې) معنی بشپړوی.

Vesiculocavernous
کیسه یې – کهفی . د یوې کڅوړې او کهف منځ ته

Vestibulitis
د مهبلی دهلیز او د هغه د سب اپیتلیائی او شاوخوا غدوی ستروما التهاب چې د سوزش او دردناکه مقاربت لامل ګرځی.

Vestibulocochlear
د سمعی (**Cochlear**) عصب اړوند دهلیز صفت.

- Vestibulocochlear Nerve
د سمعی عصب (**Eighth Cranial Nerve**) اړوند دهلیز چې د اورېدنې او تولې (بېلانس) ساتنې مسئول بلل شی. د (**Acoustic Nerve, Auditory Nerve**) په انډول.

Vestibulogenic
د ویستیبول / دهلیز لکه (د غوږ دهلیز) څخه رامنځ ته شوې، ویستیبولي.

Vestibulo-occular
په سامعی او بصری عصب دواړو پورې اړوند.

Vestibuloplasty
د جراحی عملیات پواسطه د غاښونو د دهلیز سره د مخاط اړیکې برخه کې د اوری د مخاطی غشأ پلاستیک جراحی سمون ترمیم کړنلاره.

Vestibulotomy
د یوه ویستیبول (سامعوی دهلیز) د وازولو (سکښتې، پرانیستلو) جراحی کړنلاره.

Vestibulourethral
په مهبل او احلیل پورې اړوند.

Vestibulum
د (**Vestibule**) په انډول.

Vestige
آثار، بقایاوی، هغه جوړښتیزې پاتې شونې چې د یوه شخص یا د یوه موجود د یوه پخوانیو تکاملی مرحلو کې یې فعالیت درلودلو.

Vestigial
پاتې شونې، د (**Vestige**) په انډول.

- Vestigial Tail
پاتې شونې لکی، په ابتدائی لومړنی پرته له ودې (**Rudimentary**) ډول سره پرته د عصعص (**Coccyx**) هډوکی بڼه.

Vestigium
د پاتې شونو اړوند، د (**Vestige**) اړوند صفت.

Veterinarian
د حیواناتو /څارویو ډاکټر، هغه طبی کارپوه کس چې د

- Nutrient Vessel
تغذیوی رګونه، هغه ډول ځانګړی رګونه چې نسجونو ته تغذیوی مواد لرونکې وینه رسوی لکه هغه شریان چې د هډوکو ماغزو ته ورننوزی.

Vestibular
د (**Vestibule**) اړوند صفت.

- Vestibular Folds
ویستیبولی فولډونه، په حنجره کې د صوتی حبول فولډ څخه پورته فولډونه چې د غږیز پروسې کې نه پکارېږی، د (**False Vocal Cords**) په انډول.

- Vestibular Glands
دهلیزی غدې، دا هغه غوړوونکې موادو افراز لرونکې غدې دی چې د مهبل (**Vagina**) او فرج ترمنځ اتصالی (**Vulva Join**) برخه کې پرتې دی.

- Vestibular Nerve
دهلیزی عصب، دا د اورېدنې عصب (**Auditory Nerve**) یوه برخه ده چې د بیلانس (انډول **Balance**) په اړه مالومات دماغ ته لېږدوی.

Vestibule
و یستیبول، دهلیز، د یوه بهنځای په ورننوتو (مدخل **Entrance**) لومړنی. لکه د [د **Inner Ear** غوږ د ننوتلو خولې فضأ، د حنجرې د صوتی حبلونو **Vocal Cords** پورتنی، پوزې ننوتلو سوریو **Nostril**] برخه کې یو جوف یا فضأ.

- Vestibule of Aorta
د ابهر په جذر کې کوچنی فضأ، ابهری دهلیز.

- Vestibule of Ear
د غوږ دهلیز. د هډوکیز لابرینټ په منځنی برخه کې بیضوی شکله جوف، دغوږ دهلیزی جوف.

- Vestibule of Mouth
د خولې د جوف هغه برخه چې د غاښونو او اوریو ترمنځ پرته ده.

- Nasal Vestibule
انفی – دهلیزی ویستیبول، د پوزې جوف منځنی برخه.

- Vestibule of Nose
انفی – دهلیزی ویستیبول، د پوزې جوف منځنی برخه.

- Vestibule of Pharynx
د بلعوم ویستیبول، د ستونې ویستیبول، فمی – بلعومی دهلیز.

- Vestibule of Vagina
د مهبل دهلیز، د کوچنیو شونډو په منځ کې فضأ چې احلیل او مهبل ورته را پرانیستل کېږی.

- Vestibule of Vulva
د (**Vestibule of Vagina**) په انډول.

ډول د سپرې په بڼه د جراحی ټپونو او نورو سطحې ضایعې په سر د یوه بندوونکې پوښ را پېښوونې لپاره پکارېږی .

Vibex

یوه کرښه ، نرۍ او نازکه اغېزه ، د وینې تر پوستکی لاندې برخې خطی ارتشاح .

Vibramycin

د مېکروب ضد یاڅلور کړیزو انټي بیوټیکونو له ډلې د (Doxycycline) لپاره سوداګریز نوم دئ .

Vibrate

ډېر چټک او پرلپسی خوځښټ .

Vibratile

اهتزازی ، په څټ او په مخ تګ راتګ کول ، د ډېر چټک او پرلپسی خوځښټ لرونکې .

Vibration

اهتزاز ، ارتعاش ، لړزه کول ، چټک او پرلپسی خوځښټ لکه په خبرو کولو کې د صوتی حبولونو (Vocal Cords Vibrations) په څېر حرکت .په الکټروویبریټور سره مساژ ورکول.

-Vocal Cords Vibrations

په خبرو کولو کې د صوتی حبولونو (Vocal Cords Vibrations) په څېر ډېر چټک او پرلپسې خوځښت او حرکت .

-Vibration White Finger

دا یوه د ګوتې دورانی بهیر اغېز لرونکې حالت دئ چې په هغه کسانوکې د اوسپنیزې ارې (Chain Saw) یا هوائی دریل (برمې Pneumatic Drill) څخه اوږدمهالی کارولو پرمهال لیدل شی.

Vibrational

اهتزازی ، ارتعاشی ، لړزه کوونکې ، چټک او پرلپسی خوځښټ لرونکې.

Vibrative

اهتزازی ، ارتعاشی ، لړزه کوونکې ، چټک او پرلپسی خوځښټ لرونکې .

Vibrator

1- لړزانی، ځغلنده خوځښتی ، لړزانه ، ارتعاشی ،2- تپېدونکې ،چټک تلونکې راتلونکې ،تپشی ، هغه ډول وسیله چې اهتزار (Vibrations) رامنځ ته کولای شی.

Vibrio

دا یو ګرام منفی باکټری (Gram-negative Bacteria) اورګانیزم دئ چې د (Spirillaceae) کورنۍ اړوند او حیوانی طبابت جراحی او طبی درملنه کې یې زده کړې تر سره کړېوی او قانونی اجازه لیک ولری.

Veterinary

د حیوانی طبابت څانګه ، په (کورنی ، اهلی او وحشی) څارویو اوحېواناتو د اړوند ناروغیو د پېژندنې ، درملنې څېړنو اړوند طبی څانګه ده .

VF

د (Vocal Frematus) لپاره لنډه نښه ده .

vf

د (Visual Field) لپاره لنډه نښه ده .

VF

بطینی فیبریلېشن هغه ډول لنډه نښه ده چې پکې د یوچا زړه نور تقلص نه شی کولای . د (Ventricular Fibrillation) لپاره لنډه نښه ده .

VFib

د (Ventricular Fibrillation) لپاره لنډه نښه ده .

VFl

د (Ventricular Flutter) لپاره لنډه نښه ده .

VHDL

د (Very High Density Lipoprotien) لپاره لنډه نښه ده .

Viability

د ژوند وړ تیا لرل . د ژوندانه قابلیت ، د ژوندی پاتې کېدنې توان، ژوند منل .

Viable

د ژوند وړ ، دا یوه نااړونده وجود په لرلو سره توانېدل ، تر زېږون وروسته په ژوندی پاتې کېدنې توانېدل لکه د یو حقیقت دې چې له (22nd Week) اونۍ څخه دمخه جنین ژوندۍ نه پاتې کېدنه تر شک لاندې ده.

Viagra

د فشار راټیټولو او نعوذ پېښوونکې ځانګړتیا لرونکې مادې د (Sildenafil Citrate) لپاره سوداګریز نوم دئ .

Vial

ویال ، هغه زرقی ډول جوړه شوې کېمیاوی فارمکولوژیکه مادې ته جوړه شوې کانټېنر لرونکې بڼه ورکوونکې پېچکاری ، د (Phial) په انډول.

Vibesate

یو ډول اووښتې پولیوینایل پلاستیک چې موضعی

اخیستنې لپاره په (هرپس سمپلکس ، کراتیت او انسفالیت) درملنه کې پکارېږی.

Videodensitometry

د تحلیل او انالایز شویو انځورونود ثبت لپاره د ویدیوئی کامرې به مرسته یو جسم د کثافت اندازه او کچې نیولو کړنلاره.

Videofluroscopy

ویډیوفلوروسکوپی ، د یوې ویډیوئی پټی پرمخ د فلورسکوپی په مرسته د پلاس راغلو انځورونو ثبتول.

Videolaseroscopy

ویدیولایزر سکوپی ، هغه کړنلاره چې پکې د لایزر په مرسته د کمری پذربعه لاپراسکوپیکه جراحی عملیاتونه تر سره کېږی او منځ ته راغلی انځورونه په یوه ویډیوئی مونیتور کې لیدل کېږی.

Vigilambulism

دا یو ډول غېر ارادی تګ دئ چې په خوب کې تګ ته ورته دئ فرق یې دادئ چې دا په ویښه کې پېښېږی.

Vigour

قدرت ، نیرومندی ، زور، نیرو، انرژی ، په توان سره ، د یوه غړی (**Organism**) هغه حالت ته ویل شی چې پکې د (چټکې ودې **Rapid Growth** ، پراخې اندازې **Large Size** ، لوړه کچې جنسی قوت **High Fertility** ، اوږد مهالی ژوندانه **Long Life**) سره تړاو ولری ورته ښّه یې (**Vigor**) ده .

Villi

د (**Villous**) ګڼه شمېره ده.

- Arachnoid Villi

اراکنوئید ذغابې ، د عنکبوتیه غشأ مایکروسکوپیکې ذغابې چې د ځینو وریدی سینوسونو داخل /دننه ته ننوتې دی ، ارکنوئید ګرانولېشن.

- Chorionic Villi

کوریونی ذغابې ،هغه تار ډوله راوتلتیاوو څخه هر یو چې د کوریون په بهرنی سطحه باندې راوتلې جوته (پروجکشنی) ښّه وده کوی.

- Intestinal Villi

د کولمو اړوند ذغابې ، هغه د کولمو د مخاطی غشأ پرمخ پرتې ګڼ شمېر تاریزې ښه ذغابې چې د کولمو سطحې پوښوی او د (غذائی موادو ،اوبو ، الکترولایټونو) جذب دنده تر سره کوی.

- Synovial Villi

ساینوویال ذغابې ، د ساینوویال غشأ په داخلی آزاده سطحه باندې نرۍ ذغابې د مفصلی جوف دننه ته راوتلې وی.

متحرکه مارپېچه ښه لری او د (**Cholera**) ناروغی پېښوی .

- Vibrio Cholera

د کولرا (وبا) منځ ته راوړونکې ناروغی .

- El Tor Vibrio

د ویبریو کولرا ناروغی یو ډول دئ.

Vibriocidal

د ویبریو کولرا (وبا ، **Vibrio Cholera**) منځ ته راوړونکې ناروغی د لامل وژونکی ماده ، د کولرا ضد درمل .

Vibriones

د (**Vibrio**) ګڼه شمېره ده .

Vibriose

د (**Vibrio**) ګڼه شمېره ده .

Vibrissa

هغه اوږده ښه لرونکې ویښتان چې د انسانانو او حیواناتو په پوزو کې راشنه کېږی .

Vibrissae

د (**Vibrissa**) ګڼه شمېره ده .

Vicarious

د یوه غړی یا ارګان پواسطه ترسره کول چې استازې / عامل (علت ، **Agent**) په بل کې واقع وی.

- Vicarious Menstruation

د مهبل څخه هغه ډول وینه بهېدنه (**Blood Discharge**) چې حېض پرمهال (**Menstrual Periods**) نه وی.

Vicia

هغه ډول د ونو نباتاتو څخه ترلاسه کېدونکی پوډری مستحضر چې مرکبونه یې د فاویزم حالت پېښوی .

- Vicia Faba

د (**Vicia**) پو ډول دې .

- Vicia Fava

د (**Vicia**) پو ډول دې .

Vicine

یو پریمېډین لرونکې ګلایکوزید ماده چې په (**Vicia**) بوټو کې منځ ته راځی په باقلیو کې دا ماده تجزیه کېږی او د (**Divicne**) پنوم زهرجن مرکب جوړوی.

Victim

زخمی ، ټپی ، قربانی ، تر تېری لاندې راغلې .

Vidarabine

د پیورین انالوګ ماده چې د (**DNA**) جوړېږنې نهی کوونکې اغېزی لری دا ماده د ویروس ضد موخو ګټې

بین البینی فیلامنټونو عادی ډول دئ چې د رشیمی مېزانشیم څخه زېرېنده حجرو د یوه شاخص په توګه په پام کې نیول شی.

Vinblastine

د سرطانونو ضد الکالوئیدی (Alkaloid Drug) مستحضر د ئ چې د (Vinca Roxa) څخه جوړېږی او د سلفېټی مالګو څخه د خبیثو سرطانی ناروغیو درملنه کې پکار وړله شی.

Vincristine

د (Vinblastine) ته ورته اغېزو لرونکی د سرطانونو ضد الکالوئیدی (Alkaloid Drug) مستحضر د ئ چې د (Vinca Roxa) څخه جوړېږی او د سلفېټی مالګو څخه یې د حجروی وېشنې نهی کوونکې پتوګه د خبیثو سرطانی ناروغیو (هوجکن او غېر هوجکن ناروغی ، حاد لمفوسایټیک لوکېمیا) درملنه کې پکار وړله شی دا درمل ډېر سمی بلل شی.

Vincula

د (Vinculum) ګنډه شمېره ده .

Vinculaten Dinum

هغه رشتې چې د ګوتو بندونو او د هغو ترمنځ مفصلی جوړښتونه له فلکسور (قابضه) ټېنډونونو سره نښلوی.

Vinculum

پتی، پتی، ډوله جوړښت ، اړیکه منځ ته راوړونکې او نښلوونکې نسجی جوړښت .

Vinyl

وینیل ، د (-CH2 = H) یو ولاتسی ګروپ مرکب .

- Vinyl Chloride

هغه وینیلی ګروپ چې یو اتوم کلورین ورسره نښتې اړیکېزه بڼه لری.

Vioform

د (Iodochlorohydroxygen) د مستحضر سوداګریز نوم دئ .

Violaceous

د بنفش رنګ لرل ، معمولاً د پوستکی د رنګ د تغیر ښودلو لپاره پکارېږی.

Violent

تاوتریخجن (خشونت) ، د تاوتریخوالی څخه ډک ، ډېرشدید او قوی، شدید ، آشوبی ، سخت.

Villoma

د (Papilloma) په انډول.

Villose

په نرمو وینښتانو یا ذغابو سره پوښل شوی.

Villosectomy

د (Synovectomy) په انډول.

Villositis

دا یو باکټېریائی ناروغی ده چې د پلاسنټا (پرېوان) د ذغابو بدلونونو سره مل وی.

Villosity

ذغابه ئیز ، په ذغابوباندې پوښېدل کېدو حالت.

Villous

ذغابې ته ورته ، ذغابی ، کوچنې وعا د (Villus) په څېر ورته بڼه.

Villus

کوچنی وعائی (رګیز ګوتې ته ورته جوړښت Tiny Projection) راوتلتیاوی چې د یوې غشأ په ځانګړی ډول د مخاطی غشأ (Mucous Membrane) د آزادې سطحې څخه راټوکېږی او هلته واقع دی ، ذغابه . ګڼه شمېره یې (villi) ده .

- Arachnoid Villus

اراکنوئید ذغابه ، د عنکبوتیه غشأ مایکروسکوپیکې ذغابه چې د ځینو وریدی سینوسونو داخل /دننه ته ننوتې دی ، ارکنوئید ګرانولېشن .

- Chorionic Villus

کوریونی ذغابه ،هغه تار ډوله راوتلتیاوو څخه هر یو چې د کوریون په بهرنی سطحه باندې راوتلې جوته (پروجکشنی) بڼه وده کوی.

- Intestinal Villus

د کولمو اړوند ذغابه ، هغه د کولمو د مخاطی غشأ پرمخ پرتې ګڼ شمېر تاریزې بڼه ذغابې څخه یوه چې د کولمو سطحې پوښوی او د (غذائی موادو ،اوبو ، الکترولایټونو) جذب دنده تر سره کوی.

- Synovial Villus

ساینوویال ذغابې ، د ساینوویال غشأ په داخلی آزاده سطحه باندې نرۍ ذغابه د مفصلی جوف دننه ته راوتلې وی.

Villusectomy

د (Synovectomy) په انډول.

Vimentin

د (Vimentin) د رشتو جوړوونکې پروټین ، دا ریښې د

- Violent Headache

شدید سردردی.

Violently

په شدت سره ، په ډېره شدیده بڼه .

- Reacted Violently

په شدیده بڼه غبرګون ښودل .

Violet

بنفش (**Purplish Blue**) ، آبی رنګ ته نږدې سور بخن چې رنګی طیف تر ټولو لنډې څپې (**Visible Spectrum**) لرونکې وی .

- Crystal Violet

د (**Guntian Violet**) په انډول.

- Guntian Violet

بنفش (**Purplish Blue**) رنګه ماده لرونکی مایع چې د فنګسونو (چینیاسو) ضد اغیزې لری.

- Methyl Violet

د (**Guntian Violet**) په انډول.

Viper

یو ډول زهر لرونکې مار دئ چې د (**Viperdae**) په کورنۍ پورې ترلې دئ.

Vipoma

د انډوکرین غدو یو ټومور دئ چې معمولاًله پانکریاص څخه سرچینه اخلی او وازو اکتیف پولیپیپټاید جوړوی.

Viraemia

د وینې په بهیر د ویروسونو (**Virus**) شتون چې په (**Viremia**) بڼه هم لیکل شی .

Viral

ویروسی ، ویروس لرونکې ، د ویروس څخه منځ ته راغلې ، د ویروس (**Virus**) سره په تړاو کې صفت.

- Viral Hepatitis

ویروسی هیپاټیټ ، هغه ډول کبدی التهاب چې د ویروسونو له کبله منځ ته راغلې وی.د (**Serum Hepatitis**) په انډول.

- Viral Infection

ویروسی مېکروب / انتان ، هغه ډول کبدی التهاب چې د ویروسونو له کبله منځ ته راغلې وی.

- Viral Pneumonia

هغه ډول پنومونیا (د سینی د سږونسجی التهاب) چې د ویروسی لامل له کبله پیښ وی. د (**Virus Pneumonia**) په انډول.

Viremia

د وینې په بهیر د ویروسونو (**Virus**) شتون.

Virgin

پېغله نجلی ، باکره نجلی ، هغه ښځه چې جنسی مقاربت (**Sexual Intercourse**) یې نه وی تر سره کړې .

Virginity

باکره توب ، پېغلتوب .

Virile

نارینه جنس ، نارینتوب ، د نارینتوب د قوی اوصافو او اغیزو لرونکې.

Virilecence

په ښځو جنس کې د نارینتوب د قوی اوصافو او ځانګړنو د اغیزو لرونکې منځ ته راتګ.

Virilisation

د نارینه ثانوی جنسی ځانګړنو (القأ کول ، تکامل) د هورمونی نا انډوله کېدو (**Hormone Imbalance**) یا درملنې (**Therapy**) له کبله په ښځو جنس کې د نارینتوب د قوی اوصافو او ځانګړنو د اغیزو لرونکې منځ ته راتګ.

Virilism

ویریلیزم ، هغه غیر نورمال حالت چې د هورمونی نا انډوله کېدو (**Hormone Imbalance**) یا درملنې (**Therapy**) له کبله په ښځو جنس کې د نارینتوب د قوی اوصافو او ځانګړنو منځ ته راتګ پیښېږی لکه (د ویښتانو راشنه کېدل ، د غږ ډډوالې اونورو) په څېر .

Virilization

د (**Virilisation**) په انډول.

Virion

هغه ویروسی بشپړې کټلې ذرې چې له حجرې بهر موندلې کېږی او په کریستالی بڼه د ژوند کولو توان لری او ژوندۍ حجرې ککړوی دا ډول ذرې جنیټیکی ماده او او درملنیز کپسید لری.

Viriolactia

په شیدو کې د ویروسونو شتون او اطراح .

Virology

دطب هغه علمی څانګه چې د ویروسونواړوند ناروغیو پېژندنې او درملنې (**Scientific Study of Viruses**) څېړنو سره تړاو لری.

Virucidal

د ویروس وژنې موادو اړوند.

Virucide
هغه مرکبونه او طبی کېمباوی مواد چې ویروسونه خنثی او یا هم هغه تخریب کړای شی.

Virulence
ویرولانس ، د یوه ویروس یا بل مایکروارګانیزم (Microorganism) پذرېعه د ناروغیو منځ ته راوړلو توان ، د ناروغیو د اغېزو د شدت اندازه .

Virulent
ویرولنټ ، هغه حالت چې پکې د ناروغیو د ودې – انکشاف چټکتیا دقوت او اغېزو د اندازې څرګندېدنه ، په ناروغۍ پېښېدنه کې د زیات توان لرل ، د (Virulence) اړوند صفت.

Viruliferous
په یوه ویروسی رنځوروونکې عواملو اوښتل یا د هغو منځ ته راتګ .

Viruria
په متیازو د ویروسونو شتون حالت.

Virus
ویروس ، هغه الکترون مایکروسکوپیک د نیوکلیک اسیدونو څخه چې د پورټینونو پذرېعه پوښلې ارګانیزم دئ جوړ شوېدی چې پخپله خپلواک مېتابولیزم نلری یوازی هغه مهال چې بل کوربه ته وردننه شی او په حجره کې ځای ونیسی د وېش او ډېرښت توان لری. د (RNA) او (DNA) ببلابېلو ځانګړنو جوړښتیزه بڼې لری.

- Attenuated Virus
ضعیف شوې ویروس ، هغه ویروس چې د پرلپسې پاسیج یا نور طریقو له لارې پتوجن قدرت کمښت موندلې و ضعیف شوېوی .

- BK Virus (BKV)
یو پولیومائی ویروس چې په ماشومانو کې پراخ منتن کېدنه منځ ته راوړی او د هغوی بدن کې پټ پاتې کېږی

- Bunyavirus
د (La Crosse Virus) په انډول.

- Canine Distemper Virus
د (Morbilli Virus) د جنس ویروس چې د (Canine Distemper) دانتانی ناروغۍ لامل ګرځی.

- Central European Encephalitis Virus
د ورېړو پواسطه د لېږدوونکو ویروسونو ټولګه چې (Flavivirus) پورې اړوند دئ او د مرکزی عصبی سیستم / دماغ د اروپائی انسفالیتي ناروغیو او د روسی پسرلنی د وینې انسفالیت لامل دئ.

- Coxsackie Virus
د (Coxsackie Virus) په انډول.

- Crimean-congo Hemorhagic Fever Virus
د (Nairovirus) د جنس ویروس چې د (Crimean-congo) وینې بهېدنې تبې (Hemorhagic Fever) ناروغی رامنځ ته کوی .

- Defective Virus
متناقص ویروس ، هغه ډول ویروس چې په بشپړ ډول ډېرښت نشی موندلای او یا دا چې یو پروټینی پوښ نشی جوړولای .

- Dangue Virus
هغه د (Flavivirus) یو ډول ویروس چې څلور مختلف ډولونه لری او (1,2,3,4) پنومونو سره یادېږی او د (Dangue) ناروغۍ پېښوی.

- DNA Virus
هغه ویروس چې جینوم یې (DNA) لري.

- DNA Virus , Estern Equine Encephalomyelitis Virus
د (DNA Virus) په انډول.

- Ebola Virus
ایبولا ویروس ، یو ډول (RNA) ویروس چې تقریباً (Marburg) ویروس تهع ورته دئ خو سېرولوژیکي له پلوه ورسره توپیر لری دا دواړه ویروسونه ورته ناروغی منځ ته راوړی چې په آفریقا کې معموله ده.

- Encephalomyocarditis Virus
یو ډول انټېروویروس چې د کمزورې اسپټیک مننجیټ او انسفالومایوکارډیټ لامل ګرځی .

- Enteric Virus's
د کولمو ناروغي منځ ته راوړونکی ویروسونه ، د (Enteriovirus's) په انډول .

- Enteric Orphan Virus's
د انسانانو اونورو حیواناتو د معائی جهاز څخه پیل شوی(Orphan Virus's) چې پکې [Ecmovirus ، Ectovirus ، Echovirus ، Ecdoviruses، Ecsoviruses] او ویروسونه ورګډېږی

- Enveloped Virus
هغه ویروس چې یوه دوه طبقه ئی لایپوپروټینی غشأ لری او د کوربه حجروی له څنګه د تبغې (نودې ، جوانه وهلو) څخه سر چینه اخلی.

- Epstein-Barr Virus (EB Virus ,EBV)
هغه ویروس چې هرپس ته ورته ویروس دئ چې د انتانی مونونوکلیوز د ناروغۍ لامل ګرځی چې د(بورکیټ لمفوما او نازوفرینجیال کارسینوما) سره مل لیدل شی.

- Equine Encephalomyelitis Virus
د اربوویروسونو یوه ډله ده چې په (آسونو او انسانانو) کې د انسفالومیالیټ ناروغۍ لامل ګرځی او د یو ډول میاشی

چې د(ککړو سټنو،ککړو چاړو ، ککړو جراحی وسائلو ، دمویه پلازماګانو ، جراحی ټپونو او یا نورو زرقی لارو)لېږدول کېږی.

- Hepatitis –D Virus

د انتانی هیپاټیت عامل ډئ یو نیمګړې (**RNA**) ویروس بلل شی چې یوازې د (**Hepatitis –B**) په شتون کې تکثر کوی چې د(**Hepatitis –D**) سېرومی هیپاټیټ پېښوونکې ډئ چې د(ککړو سټنو،ککړو چاړو ، ککړو جراحی وسائلو ، دمویه پلازماګانو ، جراحی ټپونو او یا نورو زرقی لارو) لېږدول کېږی.

- Hepatitis –E Virus

د انتانی هیپاټیت عامل ډئ یو نیمګړې (**RNA**) ویروس بلل شی چې د(**Hepatitis – E**) سېرومی هیپاټیټ پېښوونکې ډئ د (**Calcivirus**) یې لېږدوونکې ډئ چې د(ککړو سټنو،ککړو چاړو ، ککړو جراحی وسائلو ، دمویه پلازماګانو ، جراحی ټپونو او یا نورو زرقی لارو) لېږدول کېږی.

- Herpes Virus

د هرپس ویروس چې د هرپس ناروغیو لامل ګرځی.

- Herpes Simplex Virus

د سیمپلکس ویروسونو له ډلې څخه چې په انسانانو کې د تبخال (وتلې خولې) حالت منځ ته راوړی لومړې ډول سېروټایپ یې د ککړو لارو له لارې لېږدېږی او په اولیه ډول د تناسلی غړو اندفاعات رامنځ ته کوی او دوهم سېروټایپ ډول یې د جنسی مقاربت له لارې لېږدول شی او لومړنی ډول ټپونه / ضایعات منځ ته راوړی.

- Human Immunodeficy Virus (HIV)

د انسانانو د معافیت ځواک کمښت ویروس ، د انسانانو د (**T-cells**) حجرو لوکیمیا او لمفوما ویروس چې د (**Lentivirus**) ډلې پورې تړاو لری دا ویروس په انتخابی ډول د (**T-cells**) حجرو په لورې هڅه کوی او د اکتسابی خوندیتوب کمښت سنډروم رامنځ ته کوی.

- Human T-cell Leukemia Virus

د (**Human T-cell Lymphtropic Virus**) په انډول.

- Human T-cell Leukemia Lymphoma Virus

د ریترو ویروسونو یوه کورنۍ چې د (**T-helper /Inducer**) لمفوسایټونو په لورې ځانګړې لېوالتیا لری. دا ویروسونه د (**T-cells**) حجرو د اپیډیمیو لوڑی په مرسته پېژندل شی او غېرعادی لمفوماګانو او لوکېمیا ګانو څخه ترلاسه شوی دی. د (**Human T-cell Lymphtropic Virus**) په انډول.

- Human T-cell Leukemia Lymphotrophic Virus

د (**Human T-cell Leukemia Lymphoma Virus**) په انډول.

- Igbo- Ora Virus

د (**Alphvirus**) له جنس څخه اربوویروس چې د ډانګ (**Dangue**) ډول ناروغی سره مل په نایجریا او مرکزی آفریقا هېوادونو کې پواسطه لېږدول شی ددې ویروس (ختیخي ، لویدیزی ، وینزویلائي) ډولو نه پېژندل شوېدی.

- Feline Immunodeficy Virus

د (**Lentivirus**) جنس څخه یو ویروس دئ چې په پیشو ګانو کې د لمفوپینیا او لمفاډینوپتی سره یو ډول ځوروونکې سنډروم منځ ته راوړی.

- Filine Panleukopenia Virus

د (**Parovirus**) جنس څخه یو ویروس دئ چې په پیشو ګانو نورو حیواناتو کې د وینې د سپینوکریواتو د ټولو ډولونو د کمښت لامل ګرځی.

- Filterable Virus

د یو انتانی عامل چې د (**Porcelain**) د جنس ډېرو کوچنیو فیلټرونو څخه د تېرېدو توان لری.

- Filtrable Virus

د(**Filterable Virus**) په انډول.

- Fixe Virus

د(**Fixed Virus**) په انډول.

- Fixed Virus

د(**Rebies**) ویروسونه چې ویرولانس او د انکوبېشن مودې یې د سریال پساجونو پوسیله ټاکل شوی وی او په ورستی لېږدونو کې ثابت پاتې کېږی دا ویروسونه د هغه حیواناتو د تلقیح لپاره کارېږی چې د (**Rebies**) واکسین ورڅخه چمتو کېږی.

- Foamy Virus

د(**Spuma Virus** او **Spumavirinae**) په انډول.

- Hanta Virus

د (**Seoul Virus**) په انډول.

- Helper Virus

مرستندویه ویروس،هغه ویروس چې د نیمګړی ویروسونو له تکامل او ودې سره مرسته کوی.

- Hepatitis Virus

هیپاټیټ پېښوونکې ویروس عامل چې لاتر اوسه یې پنځه ډوله (**A,B, C, D, E**) پېژندل شوی دي چې هر یو یې د خپلو ځانګړتیاوو لرونکی دی.

- Hepatitis –A Virus

د انتانی هیپاټیت عامل ډئ چې د خولې او خوراکی تلقیح له لارې لېږدول شی.

- Hepatitis –B Virus

د انتانی هیپاټیت عامل ډئ چې د سېرومی هیپاټیټ پېښوونکې ډئ چې د(ککړو سټنو،ککړو چاړو ، ککړو جراحی وسائلو ، دمویه پلازماګانو ، جراحی ټپونو او یا نورو زرقی لارو)لېږدول کېږی.

- Hepatitis –C Virus

د انتانی هیپاټیت عامل ډئ چې دا د خبیث ډول سېرومی هیپاټیټ پېښوونکې ډئ یو نیمګړې (**RNA**) ویروس بلل شی

- Morbilli Virus

د (**Canine Distemper Virus**) په انډول.

- Naked Virus

هغه ډول ویروس چې بهرنۍ لایپوپروټینی طبقه ولري . د (**Nonenveloped Virus**) په انډول.

- Nonenveloped Virus

د (**Naked Virus**) په انډول.

- Norwalk Virus

د (**Calci Virus**) له ډلې څخه احتمالی ویروس چې اپیډیمیکه او حاد ګاستروانتیریټ پراخ عامل دئ.

- Orbi Virus

دا د (**Orbi Virus**) پنامه ویروسونو یو جنس دئ چې د میاشی پوسیله لېږدول شی په نایجریا او یوګانډا هېوادونو کې تبه لرونکې ناروغی پېښوی.

- Orphan Virus

هغه ډول ویروسونه چې د نسجونو تلقیح او کرنې ببلېږی خو په اختصاصی ډول د ناروغیو لامل نه ګرځی.

- Orungo Virus

د (**Orbi Virus**) له ډلې یو جنس چې د میاشی پوسیله لېږدول شی په نایجریا او یوګانډا هېوادونو کې تبه لرونکې ناروغی پېښوی.

- Papilloma Virus

د (**Papilloma Virus**) په انډول.

- Parainfluenza Virus

د ویروسونو هغه ځلورو ډلو څخه هریو چې د (**Orf**) ناروغی په څېر ضایعات د شیدې ورکوونکو غواګانو په تیبونو او تیبونو څوکو کې ټپونه پېښوی دا ویروس د ککړو تیبونو د شیدو لوشلو له لارې انسانانو ته هم لېږدونه کوی.

- Paravaccinia Virus

د (**Pox Virus**) په انډول.

- Parovirus

د (**Filine Panleukopenia Virus**) په انډول.

- Phlebo Virus

د (**Sandfly Fever Virus**) په انډول.

- Virus Pneumonia

ویروسی پنومونیا ، د (**Viral Pneumonia**) په انډول.

- Pox Virus

د چېچک ویروس ، د (**Pox Virus**) په انډول.

- Pumala Virus

د (**Hanta Virus**) په انډول.

- Rabies Virus

د لېونی سپیانو ویروس ،د (**Rhabdo Virus**) ویروسونو په ډلې پورې اړوند چې د (**RNA**) جوړښت لرونکی ویروس دی چې د لېونی سپی (**Rabies**) ناروغی رامنځ ته کوی.

یې پېښې لیدل کېږی.

- Influenza Virus

د انفلوانزأ ویروس ، هر یو مېګسو ویروسونه چې د والګې (انفلوانزأ **Influenza**) ناروغۍ رامنځ ته کړی دا ویروسونه لږ تر لږه دري سېرو ټایپونه (**A,B** او **C**) لری.

- Jamestown Canyon Virus

د (**Bunya Virus**) ویروسونو په جنس پورې اړوند ویروس چې د سېرولوژیک پلوه (کالیفورنیائي انسفالیټ) ویروس سره تړاو لری خو ځینې وختونه انسفالیټ ناروغی منځ ته راوړی.

- JC Virus (JCV)

یو (**Polymar Virus**) ویروس چې دماشومتوب پرمهال د کاملاً پراخو انتاناتو د رامنځته کېدولامل ګرځی او په بدن کې پّه مخفی او پټو بڼو پاتې کېږی دا عامل د (پروګراسیف مولټیپل لوکوانسفالوپتي) لامل ګرځی.

- La Crosse Virus

د (**Bunya Virus**) د جنس اړوند چې د (**La Crosse**) انسفالیټ لامل ګرځی

- Lentivirus

د (**Feline Immunodeficy Virus**) په انډول.

- Lymphocyte –associated Virus

د هرپس ویریډا د ګاما فرعی کورنۍ د ویروسون څخه هر یو چې ددې ځانګړې ډلې غړی (**T-Lymphocyte** یا **B-Lymphocyte**) لمفوسایټونو څخه دی ، ککړتوب په لایټیک (**Lytic**) یا پرې لایټیک (**Prelytic**) مرحله کې پرته له دې چې ساری ویروسونه رامنځ ته کړی ودرېږی او مخفی ویروسونه د لمفاوی نسجونو څخه پلاس راځی.

- Lyssa Virus

د (**Rabies Like Virus**) په انډول.

- Lytic Virus

هغه ویروسونه چې د کوربه په حجرو کې ډېرښت مومی او د هغه حجرې د مرګ او تجزیې لامل ګرځی.

- Marburg Virus

یو ډول (**RNA**) ویروس دئ چې په آفریقأ کې موندل کېږی او د حشراتو لشکې چیچلو پذرېعه انسانانو ته لېږدول شی او د (**Marburg**) ناروغۍ لامل ګرځی.

- Measles Virus

د شری ناروغی پېښوونکی لامل پارامېګسو ویروس.

- Measles Like Virus

د (**Marbili Virus**) په انډول.

- Monkeypox Virus

یو ډول (**Orthopox Virus**) چې په بیزوګانو کې کمزورې ګزانتومائی ناروغی او په انسانانو کې چیچک (کځوک، کوځک) ته ورته ناروغی پېښوی.

د (**Lenti Virus**) د جنس څخه یو ویروس چې د انسانی اکتسابی خوندیتوب کمښت له ویروس سره نښړدې تړاو لری او په افریقائی شنو بیزوګانو کې ناڅرګند ډول انتانی ناروغی پیښوی.

- Spuma Virus

د سپوما ویروس.

- Street Virus

د لېونی سپی ویروس چې چې پراخ پیمانه په ګڼ شمېر حیواناتو کې شته دئ. د (**Rabies Virus**) په اندول.

- Swine Influenza Virus

دخوګانو (سرکوزی) حیواناتو د انفلوانزا ویروس چې په نوموړې حیواناتو کې شدیده لېږدېدونکی (ساری) او حاده ناروغی منځ ته راوړی چې انساناتو ته هم لېږدوله شی.

- Tanapox Virus

د (**Yatapox Virus**) جنسونو ویروس اړوند چې د (**Tanapox**) د ناروغی لامل ګرځی.

- Tickborn Virus

هغه ویروس چې د ورږو پوسیله لېږدول شی.

- Toscana Virus

د (**Phlebo Virus**) په جنس پورې اړوند ویروس چې د ناپل له سېرولوژیکی ډلې سره تړاو لری چې (**Phlebotomus Fever**) عامل دی.

- Varicella-Zoster Virus

د (**Varicella Virus**) جنس پورې اړوند چې د انسانی هرپس ویروس په اندول دی.

- Variola Virus

د (**Orthopox Virus**) په اندول.

- Venzuelen Equine Encephalomyelits Virus

د (**Equine Encephalomyelits Virus**) له ډلې څخه وینزویلائی ویروس.

- Western Equine Encephalomyelits Virus

د (**Equine Encephalomyelits Virus**) له ډلې څخه لویدیزی ویروس.

- Yabapox Virus

د (**Yatapox Virus**) په اندول.

- Yatapox Virus

د (**Tanapox Virus**) په اندول.

Viscera

احشأ ، د بدن د دننه جوفونو د غړو لکه (**Heart, Lungs, Stomach** او **Intestines**) لپاره ویل کېږی چې ګډه بڼه ده.

- Abdominal Viscera

- Rabies Like Virus

د (**Lyssa Virus**) په اندول.

- Rhabdo Virus

هغه ډله ویروسونو چې د (**RNA**) جوړښت لرونکی ویروسونه دی چې د لېونی سپی (**Rabies**) ناروغی رامنځ ته کوونکې ویروسونه پکې ورګډ ېږی.

- Respiratory Virus

تنفسی ویروسونه ، هغه پتالوژیک پتوجن عامل ویروسونه چې د ساکنبلو (استنشاق) پرمهال تنفسی سیستم ته ورننوزی او هلته ډېرښت مومی او ډېرې مهال موضعی آفتونه پیښوی او پکې (آډینوویرئیډا ، کوروناویریډا ، آرتومېکسوویریډا ، پارامېکسو ویریډا ، پیکورنا ویریډا) ویروسونه ورشاملېږی.

- Respiratory Cyncytial Virus (RSV)

هغه ډول ویروسونه چې د برانکوپنومونیا او برانشیټ اخته ماشومانو څخه ېبلېږی او په نسجی کلچر کې د سینسیشیومی جوړښتونو دپیښېدو لامل ګرځی.

- RNA Virus

هغه ډله ویروسونه چې هسته یې (**RNA**) جوړښت ولری.

- RNA Tumor Virus

د (**Oncovirinae**) په اندول.

- Rocio Virus

د (**Flavivirus**) دجنس ویروس چې د میاشی پوسیله لېږد ېږی په برازیل کې لیدل شی او ځینې وختونه وژونکې بڼه د ماغزو التهاب (انسفالیټ) منځ ته راوړی.

- Rous-associted Virus(RAV)

دا هغه مرستندویه ویروس دئ چې په شتون کې یې نیمګړی (**Rous Sarcoma**) ویروس د پروټینی پوښ د جوړېدنې توان پېدا کوی.

- Rous Sarcoma Virus(RSV)

رأُوس سارکوما ویروس.

- Rubella Virus

روبېلا ویروس ، هغه ویروس چې عامل یې د (**Rubi Virus**) په جنس پورې اړوند دئ او د روبېلا ویروسی ناروغي پیښوی.

- Rubi Virus

د روبېلا ویروسی ناروغي پیښووونکی ډول ویروس دئ.

- Sandfly Fever Virus

د (**Phlebo Virus**) په اندول.

- Satellite Virus

هغه ډله ویروسونه چې یوازې مرستندویه ویروسونو په شتون کې ډېرښت مومی او فکر کېږی چې دا ډله ویروسونه د کپسیډونو د پیښوونکو کوډونو درلودونکی دی.

- Seoul Virus

د (**Hanta Virus**) په اندول.

- Simian Insuficiency Virus (SIV)

Visceroparital
حشوی – جداری ، د احشاوو او جوفونو د جدارونو اړوند .

Visceroperitonial
حشوی- پریتوانی ، د احشاوو او پریتوان پورې اړوند.

Visceroplural
حشوی - پلورائی ، د احشاوو او صدری پلورا پورې اړوند.

Visceroptosis
حشوی سقوط، د دننه غړو ښکته لورې ته غورځېدنه چې معمولاً د بدن غړی له خپل ځای څخه ښکته راغورځیږی.

Visceroreceptor
حشوی –رسپتور، هغه حجروی رسپتور چې د هغه تنبهاتو (Stimuli) پوړاندې چې له غړو (Stomach, Heart او Lungs) راځی غبرګون څرګندوی .

Visceroskletal
په حشوی اسکلېټ پورې اړوند.

Viscerotropic
①هغه شئ چې په اولیه ډول په احشاوو اغېز ښندی ،② بطنی یا صدری احشاوو ته د لېوالتیا څښتن .

Viscid
سریښناک ، لزوج ، چسپناک .د هغه مایع اړوند چې (ټینګه Sticky ، لزوجه ،نښتونکې او په کراره خوځېدونکی Slow-moving) بڼه ولری.

Viscosity
لزوجوالې ، لزوجیت ، د بهېدو په وړاندې مقاومت ، د یوې مادې د مالیکولونو په اصطکاک پورې اړوند د هغې فزیکی خاصیت چې یو پر بل باندې د مولېکولونو د نښتونکې او په کراره خوځېدونکی حالت بڼه لری .

Viscous
نښتونکې او چسپناک یا صمغ ته ورته . د زښت زیاتې ویزکوزیټی اړوند.

Viscus
احشأ ،د بدن د درې ګونو جوفونو دننه د غړو څخه هر یو چې وی،چې ګڼه شمېره یې (Viscera) ده.

د ګېډې احشأوې ، د بدن د ګېډې دننه جوف د غړو لکه (Stomach او Intestines) لپاره ویل کېږی چې ګڼه بڼه ده.

- Thoracic Viscera
صدری احشأوې ، د بدن د صدر دننه جوف د غړو لکه (Lungs, او Heart) لپاره ویل کېږی چې ګڼه بڼه ده.

Viscerad
د احشاوو په لورې .

Visceral
حشوی ، د بدن د دننه جوفونو د غړو (Internal Organs) پورې تړلې ، د احشاوو (Viscera) اړوند صفت.

- Visceral Larva Migrans
د (Toxocariasis) په انډول.

- Visceral Muscle
حشوی عضلات ، هغه عضلاتو اړوند چې د احشاوو دننه جدار کې واقع وی لکه د کولمو د جدار ښویه عضلاتو (Smooth Muscle) په څېر چې کولمو ته تقلص ورکوی.

- Visceral Nerve
حشوی عصب . هغه عصبی څانګه چې احشاوو –غړو ته ورځغلی .

- Visceral Pericardium
حشوی پریکارډیوم ، د پریکارډیوم هغه طبقه چې د زړه د غړی جدار پوښوی ، د (Serous Pericardium) په انډول.

- Visceral Peritoneum
حشوی پریټونیوم ، د پریټونیوم هغه طبقه چې د ګېډې د دننه غړو جدار پوښوی ، د (Serous Peritoneum) په انډول.

- Visceral Pleura
حشوی پلورا ، د پلورا هغه طبقه چې د صدری دننه غړو جدارونه پوښوی ، د (Serous Pleura) په انډول.

- Visceral Pouch
حشوی پوچ ، هغه پوچ او تشه برخه چې د احشاوو ترمنځ جوړوی. د (Pharyngeal Pouch) په انډول.

Visceralgia
د احشاوو اړوند دردونه .

Viscero-
دا یو مختاړې دئ او د (احشاوو ، Viscera) معنی بشپړوی.

Visceromegaly
د احشاووغېر نورمال ډول غټېدنه ، حشوی ضخامه .

Visceromotor
حشوی موتور ، احشاوو ته د حرکی سیالو (Impules) لېږد یا احشاوو ته په حرکتی سیالو (Movement of Viscera) کنټرول پورې اړوند .

Visible
د لېدلو وړتیا لرونکې ، قابل وریت ، تر سترګوکېدونکې .

- Visible Pristalsis
د لیدلو وړ پریستالتیک حرکتونه .

- Visible Symptoms
د لېدنې وړ کلېنیکی نښې ، د رویت وړ اعراض.

Vision
لید ، د پنځګونو حسونو څخه یو چې د هغه په مټه د بدن څخه بهر ټول شیان د لیدنې وړ ګرځېدلی دی.د لید چاره ، یوه خیالی منظره ،یو ذهنی د لیدلو وړ حس چې د باصرې واقعی محرکونو په وسیله نه وی پارېدلې.

- Achromatic Vision
د (**Monochromatism**) په انډول.

- Binocular Vision
د دوه لیدنې څخه پرته دوه سترګیز لید.

- Central Vision
مرکزی لید ، د مکولا رسپټورونو له تحریک څخه زېږنده لیدنه.

- Vision Centre
د لیدنې مرکز ، د دماغ هغه سیمه چې د هغې عصبی څانګې د لیدنې حس رامنځ ته کوی .

- Chromatic Vision
رنګی لید ، د رنګه لیدنې نور طیف څخه زېږنده د مختلفو رنګونو درک.

- Color Vision
د (**Chromatopsia**) په انډول.

- Day Vision
د ورځې په رڼا کې د لیدنې باصری ادراک .

- Dichromatic Vision
د (**Dichromasy**) په انډول.

- Direct Vision
د (**Central Vision**) په انډول.

- Double Vision
د (**Diplopia**) په انډول.

- Indirect Vision
غېر مستقیم لید ، محیطی لید ، د (**Peripheral Vision**) په انډول.

- Visual Impairment
د لید تخریب او له منځه تګ.

- Low Vision
د لید هسې ناروغتیا چې د پام وړ باصری خنډونه شتون لری خو د پام وړ ګټور لیدهم وجود لری .

- Monocular Vision
یو سترګیز لید ،په یوه سترګه لیدنه .

- Multiple Vision
د (**Polyopia**) په انډول.

- Night Vision
د شپې په تیاره کې لید.

- Oscilating Vision
د (**Oscillopsia**) په انډول.

- Peripheral Vision
هغه بصری تحریکونو څخه زېږنده لید چې د شبکیې په محیط کې له مکولا څخه په لېرې واټن کې منځ ته راځی .

- Solid Vision
د شیانو د ژوروالی یا راوتلتیا درک ، دري بعدی لید.

- Stereoscopic Vision
د (**Solid Vision**) په انډول.

- Tunnel Vision
هغه ډول لید تخریب کېدل چې باصری ډګر محیطی لېد په پیاوړی ډول محدود شوې وی یا له منځه تللې وی.

Visit
1 .لیده کاته ، لیدنه ، ملاقات ،سرښکاره کول ، خبرې اترې کول ، سر وهل .د ناروغ سره د خبر اخېستلو لپاره لیدنه او کتنه تر سره کول ، **2 .**د ماهر او متخصص کس سره لږه اندازه تم کېدنه .

- Patient's Last Visit
د ناروغانو پخوانی کتنه.

- Visit Patients
دناروغانو سره لېدنه کاته ترسره کول.

- Site Visit
د یوې سیمې لیدنه ، د لید د ساحه او ډګر .

Visitable
دلیدنې وړ ، لیدوړتیا لرونکې .

Visitant
په زولوژی (**Zoology**) کې هغه مهاجر الوتونکی چې په یوه مهال ځای او سیمه کې دیوې ټاکلې او لنډې مودې لپاره مېشت کېږی. د (**Visitor**) په انډول.

- Summer Visitant
دوښیز لاروی لیدونکی الوتونکی مرغان .

Visiting
ویزېت کول ، کتنه ، لېدنه تر سره کول ، نظارت کول ، نظر لګول / ښخول ، لید کول.

- Visiting Doctor
لیدونکې ډاکټر .

(**Eye Focuses**) او فویا (**Fovea**) ترمنځ واقع وی.

- Visual Basic

د لیدنې اساسات ، هغه بنسټیز څیزونه چې د لیدنې لپاره اړین بلل شی.

- Visual Binary

دوګونې لیدنه ، غبرګه لیدنه ، جفتي لیدنه ، له دوه شیانو څخه جوړه لیدنه ، مضاعف لیدنه ، مزدوجه لیدنه ، دوه برابره لیدنه .

- Visual Call Sign

د لیدنې د پاملنې نښه / علامه.

- Visual Cell

په سترګو کې د لیدنې اړوند مسئوله حجره .

- Visual Communication

د لیدنې له لارې د اړیکو ټینګولو کړنه تر سره کول.

- Visual-constructional Apraxia

د لیدنې جوړښتیزه آپرکسیا نښه چې د عضلاتو حرکاتی اختلال او په جسمی کارونو تر سره کولو کې د ناتوانې (دمغزی تخریب او صدماتو) له کبله منځ ته راځی .

- Visual Cone

د لیدنې مخروط ، د لید اړوند مخلوط .

- Visual Cortex

د لیدنې قشر ، د دماغ هغه برخه چې په دماغی قشر (**Cerebral Cortex**) کې واقع ده او او لیدنې اړوند معلوماتو لپړد او رالپړد مسئوله ده.

- Visual Defect

د لیدنې نیمګړتیا . د لیدنې هغه ډول ناروغی چې پکې د لید ډګر یوه سیمه نیمګړې پاتې وی.

- Visual Disorder

د لیدنې اړوند اختلالی ناروغی ، د لید تشوشات ، د لیدنې نیمګړې حالتونه.

- Visual Display Unit

د لیدنې د ښکاره کېدو واحد .

- Visual-evoked Potential

د لیدنې ایووک قوت او پوتانسیال.

- Visual Field

بصری ډګر، د لیدنې سیمه ، دا هغه ډګر بلل شی چې پکې پرته د سترګو ښوروونې لیدنه کېدای شی ، د (**Field of Vision**) په انډول.

- Visual Hallucination

بصری هلوسینیشن، هغه ډول روانی ناروغی ستونزې چې پکې ناروغ بصری ډول غیر واقعی پېښې وینې.

- Visual Identification

بصری معرفت ، د لید اړوند پېژندګلوی.

- Visiting Nurse

لیدونکې نرس / روغتیاپال.

- Visiting Professor

لیدونکې متخصص او پروفیسور .

- Visiting Teacher

لیدونکې استاذ او لارښود کس .

- Visiting Times

د لېدنې وخت ،په بوغتونونو کې هغه مهال /وخت چې پکې ناروغانو ته د پایوازانو / خپلوانو لېدنې تاکلې موده بلله شی .

Visitor

هغه کس چې د بل چا سره لیدنه تر سره کوی ،ملاقات کوونکې کس ، کتونکې ، لیدونکې، سیلانې کس . د (**Visitant**) په انډول.

- Visitor Center

د سیلانیانو / کتونکو کسانو د تنظیم مرکز .

- Health Visitor

د روغتیاد تنظیم اړوند کسان.

Vistaril

د (**Hydroxyzine**) مستحضر اتو سوداګریز نوم دئ.

Visual

د (**Sight** یا **Vision**) اړوند صفت دئ.

- Visual Acuity.

هغه توان چې پکې یو شئ د لېدنې وړ ګرځی.

- Visual Agnosia

هغه لیدنه چې د درک وړنه وی، پرته له درک څخه لیدنه .

- Visual Aid

دلید مرسته ، مرستیاله لیدنه . د (**Visual Aids**) په انډول.

- Visual Angle

د لید اړوند زاویه .

- Visual Aphasia

د ماغزو د تخریب له امله د لیدنې هغه بڼه چې پکې پرته له مفهوم اخیستنی لیدنه تر سره شی.

- Visual Area .

د ماغزو هغه برخه چې په دماغی قشر(**Cerebral Cortex**) کې شتون لری او د لیدنې اړوند چارو مشئولیت لری.

- Visual Art

د لیدنې اړوند مهارت او هنر .

- Visual Arts

دلیدنې هنرونه .

- Visual Aspect

د لیدنې اړوند منظره .

- Visual Axis

د لیدنې محور ، هغه کرښه چې د شی او سترګو فوکس

د بصری اړوند وړانګې .

- Visual Sensation

بصری حسیت ، بصری احساس .

- Visual Sense

د لیدنې حس ، بصری حس او درک .

- Visual Signal

بصری ننبې ، د لیدنې ننبې / علامې .

- Visual Space

بصری واټن ، بصری مسافه .

- Visual System

بصری سیستم ، لیدنې د غړو ټول اړوند سیستم.

- Visual Therapy

بصری درملنه ، د بصری ښه والې اړوند درملنیزو چارو تر سره کول.

- Visual Threat

بصری درملنه .

- Visual Threshold

بصری تریشولډ ،هغه سیالوی قدمې چې پکې یو شئ د لیدنې وړتیا درک منځ ته راوړی .

- Visual Training

د لیدنې اړوند روزنه دا کړنه په خطی انکساری ناروغیو کې ډېر په پام کې وی.

- Visual Treatment Objective

د بصری درملنیزو چارو تر سره کولو لوښی او وسایل .

- Visual Violet

بصری بنفش.

- Visual Vertigo

بصری سرځرخی .

- Visual White

بصری سپین رنګه ډګر - محیط .

- Visual Yellow

ژیړ بصری رنګه ډګر – محیط.

Visualisation

د یو شی بشپړ لیدنه . هغه ډول تخنیک (**X-Rays** یا **Magnetic Resonance Imaging**او **Positive Mental Picture**) تر سره کول چې پکې د یو شی بشپړ مثبت عقلی تصور یا راډیوګرافیک انځور جوړ او د لیدلو وړ شی. د (**Visualization**) په اندول.

Visualization

د (**Visualisation**) په اندول.

- Visualisation Therapy Imagery

د لید او بصری اړوند درملنې چې پکې هغه سلوک (**Behavior**) اودرملنې لاړې (**Technique in Therapy**) خپلې چې پکې [په

- Visual Image

بصری انځور ، بصری تصویر .

- Visual Impairment

د لیدنې اړوند تخریب ، بصری زیان / نقصان .

- Visual Information

بصری معلومات .

- Visual Information Documentation

بصری معلوماتی سندونه .

- Visual Interceptor

بصری لازنیونکې .

- Visual Joke

بصری خندا لرونکې ټوکه ، بصری ټوکه.

- Visual / Kinesthetic Dissociation

بصری حرکی (د حرکت پورې تړلې) جدائی / تفکیک

- Visual Magnitude

بصری غټوالې ، د سترګو د لیدنې د ډېرښت د اندازې ټاکنه .

- Visual Meteorological Conditions

بصری میترولوژیک حالت.

- Visual Modality

بصری موډل ، بصری نمونه .

- Visual-motor Control

بصری موتور کنټرول .

- Visual-motor Coordination

بصری موتور همغږې کول .

- Visual-motor Function

بصری موتور دندې / وظیفې .

- Visual-motor Skills

بصری موتور (خوځښتی) مهارتونه

- Visual Percept

بصری درک .

- Visual Perception

بصری ادراک /پوهاوی .

- Visual-perceptual Skills

بصری ادراکی مهارتونه.

- Visual Plane

بصری پلان.

- Visual Point

بصری ټکې ، بصری نقطه.

- Visual Property

بصری ملکیت .

- Visual Purple

بصری ګلابی والې ، د (**Rhodopsin**) په اندول.

- Visual Range

دبصری اندازې ټاکنه .

- Visual Ray

د (Vitalism) په انډول.

-Vital Index
حیاتی شاخص، هغه شاخص چې پکې د زېږون (Births) او مړینې (Deaths) ترمنځ د تناسب کچه په ټاکلې موده کې تر سره او موندل کېږی.

-Vital Nerve Cells
حیاتی عصبی حجرې چې په یوه مرکز کې پرتې دی.

-Vital Organs
حیاتی غړی ، د بدن هغه ضروری غړی چې چې پرته له هغه ژوند ممکن ندې لکه (سږی Lungs ، زړه Heart ، دماغ Brain) په ځېر .

-Vital Red
د یوه رنګ (Dye) زرق دننه د وینې دوران ته چې د وینې حجم د ټاکنې لپاره په پلاسما (Plasma) کې پکار وړل شی.

-Vital Signs
حیاتی نښې ، حیاتی علایم ، لکه (نبض Pulse ، تنفس Breathing، تودوخې درجه Temperature ، د وینې د فشار Blood Pressure) اندازه .

-Vital Statistics
د رسمی احصایې اړوند ثبت تر سره کول چې پکې د نفوس (خای ،د ژوندی زېږون سلنه Natality ، د ناروغیو پېښې او د زېږېدنو ، مصابیتونو Morbidity او مړینې Mortality) کچه څرګنده شوې وی.

-Vital Statistic Rate
دا د نفوس تناسب او وندې (Proportion) ټاکنې په موخه د ټولو پېښو ثبت کچه تر سره کېږی .

-Vital Tooth
هغه غاښ چې د ژوندی پولپ (Living Pulp) سره مل وی.

-Vital Tripod
د ژوندانه دري ګونی غړی چې پکې (زړه Heart ، دماغ Brain او سږی Lungs) شامل دی.

-Vital Tuberculin
هغه ډول توبرکولین ماده چې د ژوندی ډېر ضعیف شوی نری رنځ (Attenuated Mycobacterium Tuberculosis) باکټریا څخه تر لاسه کېږی .

-Vital Ultraviolet (UV)
د التراویولټ د وړانګو څپه چې اوږدوالې یې د (320.0 and 290.0 nm) ترمنځ ده چې د نورمالې ودې اوروغتیا لپاره اړینه ده چې دا (Ultraviolet Radiation) وړانګې (Vitamin D) په خپل لومړنی فعاله بڼه اړوی.

-Vital Vessels
حیاتی رګونه .

Vitalic
د (Vital) اړوند صفت .

زړه پورې Pleasant Fantasies او بېخونده احساسونه Unpleasant Feelings] د اظطراب (Anxiety) سره مل وی.

Visually
نظری ، د لیدنې اړوند ، بصری .

-Visually Impaired
د لید له نظره تخریب شوې، د سترګو هغه حالت چې د بصری سیستم تخریب اړوند د لیدنې ستونزې لری.

-Visually Impaired Person
هغه څوک چې د بصری تخریب په ناروغیا اخته وی .

Visuoauditory
بصری – سمعی ، د اورېدنې او د لیدو د احساسونو جوړه او هم مهالی تحریک یا په دواړو پورې اړوند .

Visuomotor
بصری – حرکی، د بصری او حرکی بهیرونو ترمنځ په تړاو پورې اړوند.

Visuosensory
بصری - حسی ، د هغه تحریکونو په درک پورې اړوند چې بصری سر چینه لری .

Visuospatial
د بصری انځورونو د درک په توان پورې اړوند او د هغوی تر منځ فضائی تړونونه .

VITAE
د (Video Imaging Technique for Assessing Exposure) لپاره لنډه نښه ده ، د (Arbor Vitae) په انډول.

Vital
حیاتی ، د ژوندانه لپاره ډېر مهم او ضروری .

-Vital Actions
حیاتی عملونه تر سره کول .

-Vital Bleaching
حیاتی ډول درنګ له منځه وړل ، د غاښونو د رنګ له منځه وړل (Bleaching) چې پکې د غاښونو رنګ سپینوالې مومی دا معمولاً د (Peroxides) پذربعه تر سره کېږی .

-Vital Capacity
حیاتی ظرفیت ، د هوا ډېره پریمانه پیمانه چې یې یو څوک په یوه وخت د ذفیر کې بهر ته له سږو وکاږی .

-Vital Centre
حیاتی مرکز ، هغه ډله عصبی حجرې چې په دماغ کې پرتې دی او د بدن د یوې برخې دنده تر سره کوی لکه د پنځګونو حواسو څخه یو .

-Vital Force

Vitalisation
د حیات او ژوند لوړې ته د رغولو حالت چې پکې بدن دندې او فعالیتونه تر سره کولای شی.

Vitalism
هغه تیوری چې پکې د حیواناتو دندې د یوې خاصې انرژی قوې سره تړاو ورکول شی چې د (Physical Forces او Vital Force) پنامه هم یادیږی .

Vitality
د فزیکی (Physical)او روانی (Mental) توان او قوت انرژی حالت .

Vitalities
د (Vitality) ګڼه شمیره .

Vitalium
د کوبالټ او کروم د الیاژ سوداګریز نوم چې د غاښ د قالب او جراحی وسیلې لپاره ښه توکی بلل شی.

Vitalization
د (Vitalisation) په انډول.

Vitalize
ژوندې شوې ، ژوندی کېدنه.

Vitalizer
ژوندې کوونکې ، ژوند بخښونکې ، ژوند/حیات منځ ته راوړونکې .

Vitalizing
ژوندی کول ، ژوندی ساتنه ،د ژوند خوندی کول.

Vitamin
ویټامین ، هغه یو د بل سره نا اړوند اساسی غیر عضوی موادو څخه هر یو چې په ډېرو غذائی موادو کې په لږ یا ډېرو پیمانو شتون لری او د بدن د مېتابولیکو اړیکو بهیرونو لپاره اړین دی دا مواد په اوبو یا غوړو کې منحل دی .

-Vitamin A
د (A) ویټامین چې په وازده (غوړو) کې منحل ماده ده د(سترکو شبکیې په دنده ، وده ، نسجی جلدی تفریق ، هډوکو وده ، معافیتی سیستم غبرګون ، تکثر) کې رول لری او په غذائی موادو (ینه ، نباتاتو ، ځیګر غوړو) کې د پریکارسور مادې پتوګه شتون لری نشتوالې یې ګڼ شمیر ناروغي لکه (Night Blindness یا Xerophthalmia او ړوند والی Blindness) منځ ته راوړی ، د (Retinol) په انډول.

-Vitamin A1
د (Retinol) په انډول.

-Vitamin A2
د (Dihydroretinol) په انډول.

-Vitamin B1
د (B1) ویټامین چې په اوبو کې منحل ماده ده په (Yeast, Liver, Cereals او Pork) کې موندل شی. د (Thiamine) په انډول.

-Vitamin B2
د (B2) ویټامین چې په اوبو کې منحل ماده ده په (Eggs, Liver, Green Vegetables, Milk او Yeast) کې موندل شی. د (Riboflavine) په انډول.

-Vitamin B6
د (B6) ویټامین چې په اوبو کې منحل ماده ده په (غوښې Meat ، سبو Vegetables ، غلو دانو Cereals ، هګۍ Eggs او Molasses) کې موندل شی او امینواسیدونو او ګلایکوجن په مېتابولیزم او ټریپټوفان په تجزیه کولو کې ونډه اخلی . د (Pyridoxine, Pyrodoxal, Pyrodoxamine) په انډول.

-Vitamin B12
د (B12) ویټامین چې په اوبو کې منحل ماده ده په (ینه Liver , بډوډو Kidneys ,او غوښه Meat) کې موندل شی او په شنه سابو کې نه لیدل کېږی . د (Cyanocobalamin) په انډول.

-Vitamin B Complex
د (B) د کورنۍ د ویټامینونو ګډ جوړښت لکه د (Folic Acid ، Thiamine، Riboflavine ،Cyanocobalamin ،Pyridoxine ، نیکوټینیک اسید یا نیاسین Niacin، نیاسین امایدNyasin-amide ، بایوټینBiotin ، پارا امینوبنزوئیک اسید ، اینوزایټول ، او احتمالاً کولین Choline)سره په ګډه توګه لیدل کېږی .

-Vitamin C
د (C) ویټامین ، چې په اوبو کې منحل دئ او په (Oranges او Lemons, Raw Vegetables او Liver) کې موندل شی ،د (Ascorbic Acid) په انډول.

-Vitamin D
د (D) ویټامین ، هغه ډول ویټامین دئ چې په غوړو کې منحل او اپنبر (پوخ Butter) ، هګۍ ، کبانو) کې موندل شی همدا رنګه د لمر وړانګو پذرېعه په فعال ډول بدلېږی د هډوکو په جوړښت او ټینګښت کې او د ماشومانو په (Rickets) ناروغۍ درملنه کې پکار ېږی .

-Vitamin D2
د ارګوکلسیفیرول یا (Calciferol) اړوند بل نوم دئ.

-Vitamin D3
د کولی کلسیفیرول (Cholecalciferol) اړوند بل نوم دئ .

-Vitamin Deficiency
د ویټامین نشتوالې /فقدان ، هغه حالت چې پکې ضروری او اساسی ویټامینونه شتون نلری لکه د (Vitamin C) د کمښت له امله د (Scurvy) منځ ته راتګ .

Vitaminize
ویټامینی کول ، په ویټامین اړولو کړنلاره .

Vitellin
هغه پروټین (Protein) چې په هګیو ژیړو (Egg Yolk) کې موندل شی.

Vitelline
1 .ویټیلین ، هغه چې په هګیو ژیړو (Egg Yolk) پورې تړاو لری ،2 . د هګیو ژیړو په څېر د ژیر رنګ لرل ، ژیړغونې .

-Vitelline Artery
د ویټیلین اړوند شریانی رګ .

-Vitelline Blood Vessels
د ویټیلین اړوند د وینې رګونه لکه (شریان ،ورید او لمفاوی) رګونه .

-Vitelline Circulation
د ویټیلین اړوند د وینې دورانی بهیر .

-Vitelline Cord
د ویټیلین رسۍ ، د ویټیلین کورډ.

-Vitelline Cyst
د ویټیلین اړوند سیسټ .

-Vitelline Diverticulum
د ویټیلین ډایورټیکولوم ، د ویټیلین رتج .

-Vitelline Duct
د ویټیلین قنات .

-Vitelline Fistula
د ویټیلین فیستولا.

-Vitelline Layer
د ویټیلین طبقې .

-Vitelline Membrane
د ویټیلین پوښوونکې غشأ .

-Vitelline Sac
د ویټیلین اړوند کیسه ،دا هغه کیسه ډوله جوړښت چې د ایمبریو سره نښتې تماس لری هلته چې لومړی ځلی د وینې حجری (Blood Cells) شکل ورځخه جوړېږی.

-Vitelline Vein
د ویټیلین اړوند وریدونه .

-Vitelline Vessels
د ویټیلین اړوند د وینې رګونه .

Vitellus
د هګۍ د ژیړو [Yolk of Egg (Ovum)] اړوند صفت .

-Vitamin E
د (E) ویټامین ، هغه ویټامین چې چې په غوړو (وازده) کې منحل ماده ده چې په (Vegetables, Vegetable Oils, Eggs او Wholemeal Bread) کې موندل کېږی د بیولوژیکی پلوه انتیی اوکسیډانټ اغېزی لری دا ویټامین د (نورمال تکثر ، عضلاتی تکامل ، سروکریواتو د هیمولیز) په وړاندې مقامت جګوی .

- Vitamin F
د (F) ویټامین ، دا یو د بیوشیمی پلوه د (Essential Fatty Acid) جوړښت لری چې د (Prostaglandins) په جوړېدنه کې رول لری او په (Oily Fish او Nuts) کې موندل کېږی .

-Fat –soleble Vitamine
دا ټول هغه (A,D,E & K) ویټامینونه دی چې په غوړو کې منحل دی او بدن ته د وازګین (شحمی) غذائي موادو سره ګډ ډول ننوزی او په نورمال ډول په متیازو کې نه اطراح کېږی .

-Vitamin K
د (K) ویټامین ، هغه ویټامین چې چې په غوړو (وازده) کې منحل ماده ده چې په [شنه نباتاتو Vegetables لکه(Spinach او Cabbage) کې موندل کېږی] چې په علقې جوړېدنه کې رول لری او پروترمبین په فعلېدنه کې اړتیا وی.

-Vitamin K1
د (Phytonadione) په انډول.

-Vitamin K2
د (Menaquinone) په انډول.

-Vitamin K3
د (Menadione) په انډول.

-Vitamin P
د اوبو منحل هغه ویټامینونه چې د کریستال موادو (Crystalline Substance) په بڼه په ځانګړی ډول په (Citrus Juices) کې موجود دی او د (Capillary) رګونو د خونریزی په وړاندې د مقاومت جګولو په موخه د (Bioflavonoidin Promoting) پتوګه پکار وړی.

-Vitamin Pill
د ویټامینونو ګولی ، د ویټامینونو څخه جوړې بڼه ټابلېټونه .

-Vitamin Tablet
د ویټامینونو څخه جوړې بڼه ټابلېټونه، د ویټامینونو ګولی.

-Water–soleble Vitamine
د (A,D,E & K) څخه پرته نور ټول ویټامینی جوړښتونه په اوبو کې منحل دی.

Vitaminic
دویټامین لرونکی ، د ویټامین (Vitamin) اړوند صفت.

Vitaminise
ویټامینی کول ، په ویټامین اړولو کړنلاره .

Vitiligenous
د رنګه موادو نه لرونکې د سیمې.

Vitiliginous
د (Vitiligo) اړوند صفت دئ.

Vitiligo
وټیلیګو ، پیس ، هغه حالت چې پکې د پوستکی (پرمختلونکې ، مزمنه او رنګی ناروغی) چې د سپینو داسې داغونو یا خاپو (White Patches) په بڼه رابرسېره کېږی چې د هاپیرپګمنټیشن څنډو پواسطه احاطه شوېوی .د (Leucoderma) په اندول.

Vitrectomy
د سترګو د زجاجیه (Vitreous Humour) د محتویاتو د تخلیې او راویستنې جراحی عملیاتی کړنلاره چې پکې د (Pars Plana) څخه تر سره کېږی .

Vitreous
ښیښې ته ورته د رونې اوصاف لرل ، زجاجیه جسم ، د سترګو د زجاجیه (Vitreous Humour) مایع اړوند صفت.

- Vitreous Body
زجاجیه جسم ، د سترګو د زجاجیه جسم (Vitreous Humour) په اندول.

- Vitreous Detachment
زجاجیه جسم جلاتوب ، د سترګو د شبکیې (Retina) څخه د زجاجیه جسم د شوکېدنې او جلاکېدنې حالت معمولاً هغه مهال پېښېږی چې زجاجیه جسم د عمر طبیعی ډېرښت له املې ډېر نری شی او یا هم د شکرې (Diabetes) په ناروغي کې منځ ته راځي .

- Vitreous Humour
زجاجیه جسم، د سترګو اړوند هغه رون او شفاف (Transparent Jelly) بڼه جوړښت چې معمولاًد سترګو د عدسیې (Lens) خلف برخه ډکوی.

Vitritis
د زجاجیه جسم التهاب ، د (Hyalitis) په اندول.

Vitro
بهرته ، مجزا شوی ، په یوه آزمایښتی ټیوب کې ساتلې شوې ، د (In Vitro) په اندول.

Vitronectin
د پلازما ګلایکوپروټین چې التهابی منځګړی دی او د نسجی ترضیض د ځای د غبرګونونو رامنځ ته کېدو لامل ګرځی .

Vitus
د (St Vitus's Dance) په اندول.

Vivi-
دا یو مختاړې دئ او د (ژوندی ، ژوند) معنی بشپړوی .

Vividialysis
د یوې ژوندئ طبقې څخه (پریتوان) له منځ څخه ډیالایزیس.

Vividiffusion
د یوې ترلې داسې ماشین له منځ څخه د وینې تبرېدل چې په هغه کې وینه د یوې غشأ څخه تېرول کېږی تر څو هغه مواد چې په عمده ډول د پښتورګی پواسطه پورته کېږی له وینې څخه بیل شی.

Viviparous
ژوندې زیږونه ، نړۍ ته داسې بچی زیږون چې د تکامل بهیر یې د مور په ګېده کې بشپړ کړېوی .

Vivisection
هغه جراحی عملیاتی تسلبخ چې پکې د یوه ژوندی حیوان په سر د فزیو لوژیکو یا پتالوژیکو څېړنو لپاره تر سره کېږی.

VLDL
د (Very Low Density Lipoprotien) لپاره لنډه نښه ده .

VMA
د (Venilly Imandelic Acid) لپاره لنډه نښه ده .

VMD
د (Doctor of Veternary Medicine) لپاره لنډه نښه ده .

Vocal
د غږ یا صوت (Voice) اړوند صفت .

- Vocal Cords[v]
صوتی حُبولونه ، غږیز تارونه په حنجره کې ، هغه جوړه لیفی پوښ لرونکی رخوه اقسام چې د حنجری (Larynx) یا غږیزې صندوقچې (Voice Box) دننه واقع دی او غږ تولید لپاره د اهتزازونو (Vibration)منځ ته راوړونکی دی ، د(Ventricular Folds) په اندول.

- Vocal Folds
د (Vocal Cords) په اندول.

- Vocal Folds Abducted
د صوتی حُبولونو نېږدېوالی او معمول حالت چې په آرامه او لږ تنفس (Quiet Breathing) کې وی.

- Vocal Folds Adducted
د صوتی حُبولونو لېرېوالی حالت چې معمولاً په غږېز او ډېر

(Gas at Room Temperature) په څېر.

- Volatile Oils

تبخیری غوړی ، هغه ترسبی او متراکم غوړی چې د نباتاتو څخه تر لاسه شوی او د بنکلا (Cosmetics) او انټی سپټیک (Antiseptics) موادو په توګه پکارېږی.

Volatilization

تبخیرېدنه ، د کېمیاوی بدلون څخه پرته په بخارېدو یا ګاز اوښتنه .

Volitantes

د (Muscae Volitantes) په انډول.

Volition

د خواست او ارادې د پکارولو توان ،د (میل او خواهش یا ارزو - نیت ، قصد ، وصیت) د تر سره کولو او تطبیق توان لرل. د ارادې عملی کولو توان .

Volkmann's Canal

هغه کانال چې په افقی ډول د کلکو هډوکو (Compact Bone) له لارې تېرېږی او وینه د هډوکو کانال (Haversian Systems) ته تېروی دا د بناغلی (Richard Von Volkmann) جرمنی جراح پذرېعه په (89 –1830) کالونو کې اوسېده لومړی ځل بیان شوېدی.

Volkmann's Contracture

ولکمن کانترکچر، د لېچو هغه د عضلی فیبروزی بڼه شخی اوسختی چې د رګونو ناروغی له امله د وینې د کمښت له کبله منځ ته راځی او د ګوتو کانترکچر (Fingers Contraction) لامل ګرځی .

Volley

یو شمېر عضلاتی انقباضونه یا هم مهالی عصبی سیالې (ایمپالسونه) چې ټول د یوه ډول محرک پوسیله منځ ته راغلی وی.

Volsella

هغه ډول جراحی فورسپس (Surgical Forceps) چې پنجې ته ورته چنګک (Claw-like Hooks) لرونکې بڼه څوکه په دواړو متو کې لری ورته (Vulsella) هم ویل شی.

Volt

د برېښنائی پوتانسیل (SI) واحد چې په کولومب کې د یوه ژول په انډول دئ ښنه یې (V) ده.

- Electron Volt

الکټرون ولټ، د انرژی هغه واحد چې د ($1.602x\ 10^{-19}$) ژول سره په انډول دئ .

تنفس یا خبرو/ ویناوو (Speaking) کې وی.

- Vocal Fremitus

د صدر هغه اهتزازی حالت چې یو کس یې په خبروکړلو او ټوخي لری دا د صدر قرع پرمهال تثبیت کېږی .

- Vocal Ligament

هغه لېګامنټ چې د صوتی حبلونو په مرکز کې واقع دی.

- Vocal Resonance

د فزیکې کتنې پرمهال هغه بنکالو / غږ چې د ډاکټر د ستاتیسکوپ پذرېعه د یوچا د صدر لپاسه د خبرو پرمهال د تثبیت وړ ګرځی.

Voice

غږ، بنکالو، صوت ، آواز ، هغه غږ چې د خبرو کولو پرمهال د تکلمی غړو په وسیله منځ ته راځی او د خولې په مټه ادا کېږی .

- Broken Voice

د یو چا د غږیز ټون ژورکېدنه اوزیاتېدنه او کاهله بڼه کېدل چې د ځوانی پرمهال منځ ته راځی .

- Lose One's Voice

د یوچا د خبرو کولو توان له منځه تګ .

- Voice Box

حنجری بکسه ،هغه تش منځه غږی لرونکې (صوتی حبلونه Vocal Cords چې د ستونی Throa خلف) برخه چې د خبرو کولو مسئول ګنډل کېږی ، د (Larynx) په انډول.

Void

د اضافی موادو غورځول په ځانګړی ډول متیازې کول.

Vola

مقعره ، منځ تشه سطحه .

- Vola Maus

ورغوی ، د لاسونو (Palm) قدامی سطحه .

- Vola Pedis

تلې ، د پښو د لاندینۍ تلې (Sole) سطحه .

Volae

د (Vola) ګڼه شمېره ده.

Volar

د پښو د تلی یا لاسونو د ورغوی اړوند ، د(لېچو ، مړوندونو ، د لاسونو) فلکسوری سطحه، د (Vola) اړوند صفت .

Volaris

د (Volar) په انډول لکه د ورغوی یا د لاسونو (Palm) قدامی سطحې پورې اړوند.

Volatile

چټک تبخیر / بخارېدو حالت لکه د خونې د تودوخې

Volume
حجم ، ظرفیت ، د یوې مادې د ظرفیت یا کمیت ګنجایش کچه ، نښه یې (V) ده.

- Expiratory Reserve Volume
ذفیری ریزرف حجم، د ګازونو هغه اعظمی کچه چې تر یوې عادی ذفیری مرحلې وروسته یې د یوه پیاوړی او ژور ذفیر په مرسته له سږو څخه راویستلای شو.

- Inspiratory Reserve Volume
شهیقی ریزرف حجم، د ګازونو هغه اعظمی کچه چې تر یوې عادی شهیقی مرحلې وروسته یې د یوه پیاوړی او ژور شهیق په مرسته له سږو ته ورننویستلای شو.

- Mean Corpuscular Volume
منځنی (متوسط) د وینې حجرو حجم ، د (MCV) په برخه کې یې وګوری.

- Minut Volume
د هوا هغه مقدار او اندازه چې په یوه دقیقه کې یې د سږو پواسطه تنفس کولای شو .

- Pocked Cells Volume (PCV)
د میلی متر له مخې په سنټرفیوژ شوې (100 ml) میلي لیټر وینه کې د متراکمو سرو کرېواتو حجم ، وریدی هیماتوکریټ چې د سنټرفیوژ د عملیې په وسیله اندازه کېږی .

- Pocked Red Cells Volume (VPRC)
د [Pocked Cells Volume (PCV)] په انډول.

- Residual Volume
پاتې شوني حجم ،د یوه ژور ذفیر څخه وروسته په سږی کې پاتې کېدونکې هوا.

- Stroke Volume
د وینې هغه اندازه حجم چې د زړه د هر ضربان وروسته له بطین څخه بهر کېږی.

- Tidal Volume
د تنفس جاری (جزر او مدی) حجم ،د هوا هغه مقدار حجم او اندازه چې په یوه تنفسی سیکل بهیر کې د یوه (ذفیر او شهیق) په لړ کې د سږو پواسطه دننه تنفسی سیستم ته تنفس کولای شو یا هغه ننوځی او بهرته راوځی .

Volumetric
حجمی ،د حجمونو د اندازه ګیری، پورې اړوند ، د حجمونو د کچې ټاکنې (اندازه نیونې) سره یوځای.

Voluntary
1- داوطلبانه ،د په زړه غوښتنې او پرته له کوم جبر څخه ، ارادی بنّه کړنه ، اختیاری بنه .2- عمدی ، پخپله غوښتی ډول سره ، 3- په خپله ارادې سره ، 4- خود مختاره ډول، آزاد کامه بنه .

- Voluntary Admission
په خپله ارادی سره په یوه روانی روغتون (Psychiatric Hospital) کې د یوچا بستری کېدنه .

- Voluntary Movement
ارادی حرکتونه ، په خپلې غوښتنې سره د ځوځښتونو – حرکتونه تر سره کول لکه د (خبرو Speaking ، قدم وهلو Walking او نورو...) په څېر .

- Voluntary Muscle
ارادی عضلات ، هغه ډول بدنی عضلی جوړښتونه چې معمولاً د یوچا په خپله ارادی کنټرې وی چې (کشش ، استرخا او تقلصونه) تر سره کوی لکه (Striated Fibres) رشتې څخه جوړ عضلات ، د یو چا په واک کې عضلات.

Volunteer
داوطلب ، په خپل زړه ، په خپله اراده .

- Volunteers Doctors
داوطلب ډاکټر چې د کار په وړاندې کوم پرداخت نه غواړې او داوطلب ډول په روغتون کې دنده تر سره کوی.

- Volunteers to Help
د مرستې لپاره داوطلب .

- Volunteers to Test
د آزمایښت تر سره کولو لپاره داوطلب .

xVolute
پورته تاو شوې .

Volvulosis
د اونکوسرکا د جنس په ګردیو چینجیانو باندې ککړتوب ته ویل شی.

Volvulus
تاوېدنه ، تدور ، د کولمو د یوې کړی تاوېدل چې د کولمو د بندښت لامل ګرځی .

Vomer
وومیر ، د پوزې د سوری نری هموار عمود هډوکی (Thin Flat Vertical Bone) ته په حجاب کې ویل شی.

Vomica
1 •په سږو کې هغه جوف چې پکې قیح (زوې ، Pus) شتون لری، 2 •د (ستوني Throat یا سږو Lungs) څخه د تقیحی کانګو عمل ته ویل کېږی.

Vomit
کانګې ، قې ، اولټې ، استفراغ ،د خولې له لارې د هغه موادو خارجولو عمل چې په معده کې هضم شوېوی . د (Vomitus) په انډول.

- Bilous Vomit
د تریخې (صفراوی) موادو کانګې ، صفراوی کانګې .

- Black Vomit
توربخنې کانګې ، د وینې لرونکې کانګې چې د یوې مودې لپاره د معدې د عصارې سره پتماس کې پاتې شوېوی دا حالت په ژېړه تبه او نورو هغه شرایطو کې لیدل کېږی چې وینه په معده کې راغونډه شی.

- Coffe Graund Vomit
قهوه ئی رنګ لرونکې کانګې ، د معدې د موادو سره ګډ توره وینه لرونکې کانګې .

- Vomit Forth
هغه ډول له خولې څخه د ډیسچارج یا کتنګې کول چې په قوت او فوران (**Forcefully**) سره او ناڅاپه پېښ شی.

- Vomit Out
له معدې څخه د هضم شویو موادو بهرته غورځول .

- Vomit Up
له معدې څخه د هضم شویو موادو بهرته د کانګې په څېر غورځول.

Vomiting
کانګې کول ،د قې کولو حالت ، د خولې له لارې د هغه موادو خارجولو عمل چې په معده کې هضم شوېوی . د (**Emesis**) په انډول.

- Vomiting Agent
د کانګو پېښوونکې لامل ، د کانګو منځ ته راوړونکې مواد.

- Vomiting and Feed Refusal Syndrome
د کانګې او خوراکی موادو رد کولو سنډروم ، دا سنډروم په خوګانو (**Pigs**) کې د (**Mycotoxins**) د (**Fusarium Roseum, Gibberella Zeae**) له ډلې هضم او خوراک له کبله منځ ته راځی لږه پیمانه خوراک یې کانګې او نس ناستې پېښوی او ډېره اندازه خوراک یې د خوراکی موادو رد کولو الت منځ ته راوړی.

- Vomiting and Wasting Disease
کانګې او د ضعیف کېدنې ناروغی .

- Vomiting Blood
د وینې لرونکې کانګې ، دا ډول کانګې د وینې د هضم او وینې د مودې سره په معده کې فرق کوی چې په لومړی سر کې سور ګلابی رنګ لری خو لږ څه وروسته بیا نصواری رنګ جوړوی چې همدا د (**Coffee-ground**) کانګو پنامه معرفی شوېدی معمولی لامل یې د (معدې او اثناعشر قرحې **Peptic Ulcer**، د معدې التهاب **Gastritis** ، او مری واریسونه **sEsophageal Varice** ، د معدې ټپونه **Lesions** ، سرطانونه **Cancer** او ترضیضونه **Traumatic** ، وروسته له عملیات څخه **Postoperative Bleeding** ، یا هغه وینې چې له خولې اوپوزې لارې معدې ته تېرې شوېوی) بللې شی. د (**Hematemesis**) په انډول.

- Vomiting Budgerigar Syndrome
د (**Budgerigar**) د کانګو سنډروم چې یوه ډله طوطیانو کې منځ ته راځی.

- Cyclic Vomiting
د کانګو د راستنېدنې بریدونه ،د کانګو بیا راګرځېدونکی حلقه ئی بڼه .

- Dry Vomiting
وچې کانګې ، هغه ډول د ګانګو حمله چې پکې د معدې مواد نه راځی او یوازې هوا بهر ته راخارجېږی.

- Pernicious Vomiting
خبیثی کانګې ، د بلاربښت پر مهال کانګې چې دومره پیاوړې او زورورې وی چې د ناروغ ژوند تهدید کوی.

- Vomiting of Pregnancy
د بلاربښت دورې اړوند کانګې چې هر سهار مهال رامنځ ته کېږی او د زړه بدوالی سره وی.

- Projectile Vomiting
فورانی کانګې ، هغه ډول کانګې کول چې پکې د معدې مواد له خولې څخه په فشار سره لېرې غورځېدونکې بڼه راخارجېږی

- Stercoraceous Vomiting
هغه ډول کانګې کول چې پکې په ډېر زیاتې پیمانې زور سره بهر ته راویستل کېږی.

Vomitory
کانګې پېښوونکې / قی راوستونکی .

Vomituration
د کانګو کولو لپاره پرلپسې او نا اغېزمنې هڅې .

Vomitus
کانګې ، قې ، اولتې ، استفراغ ،د خولې له لارې د هغه موادو خارجولو عمل چې په معده کې هضم شوېوی . د (**Vomit**) په انډول.

Von Hippel-Lindau Syndrome
هغه ډول سنډروم چې پکې د دماغی انجیوماګانو (**Angiomas**) ټوموررونه د بدن د نورو برخو د انجیوماګانو او سیستونو (**Cysts**) سره تړاو لری.

V-onc
د یوه ویروس د هستوی اسیدونو لړی چې د هغه ویروس د سرطان پېښوونکی ځواک لامل وی ، دا لړی د حجروی پروتوانکوجینونو څخه سرچینه اخلی او د (**Recombination**) له لارې ببرته کوربه ته لېږدېږی (**C.onc**) په انډول.

Von Recklinghausen's Disease
د [(**Neurofibromatosis**) او (**Osteitis Fibrosis Cystica**)] په

Vuerometer
د دوو کسانوترمنځ د د واټن / فاصلې د ټاکنې لپاره وسیله / آله .

Vulgaris
د (Lupus Vulgaris) په انډول.

Vulnerable
د ناروغیو اخیستلو ته لېواله حالت ځکه چې ضعیفی (Weakened) حالت د بې مودې (Premature) ماشومانو د صدمې منلو له امله د فرصت طلبو انتاناتو اخته کېدو پواسطه پېښېږی.

Vulnus
ټپ ، ګڼه یې (Vulnera) ده .

Vulsella
د (Vulsellum) او (Volsella) په انډول.

Vulsellum
د (Vulsella) او (Volsella) په انډول.

Vulv -
دا یو مختاړې دئ او د (فرج ، Vulva) معنی بشپړوی .

Vulva
فرج ، د ښځینه بهرنی جنسی تناسلی غړو د خولې برخه چې د مهبل مدخل بلل شی ، د کوس بهرنې خولې او شونډو برخه .

- Fused Vulva
د فرج او شونډو سره یو تر بله نښتې ښه ، د (Synechia Vulvar) په انډول.

Vulvae
د (Vulva) ګڼه شمېره ده .

- Kraurosis Vulvae
فرجی کراوروزیس ، دا د فرج (Vulva) لپاره بله اصطلاح ده او همدارنګه هغه مختاړی چې په (Episi-) پیل مومی همدا معنی ورکوی ، فرج د تناسلی غړو هغه برخه ده چې د شونډو (Labia) او چارپېره فولډونو او بذر (Clitoris) د مهبل ته ننوتو (Vaginal Entrance) برخه بلله شی.

Vulval
د فرج (Vulva) اړوندصفت .

Vulvar
د فرج (Vulva) اړوندصفت .

- Synechia Vulvar
د فرج او شونډو سره یو تر بله نښتې ښه ، د (Fused Vulva) په انډول.

انډول چې لومړی ځل د (Professor of Pathology at Strasbourg, France) عالم د (Friedrich Daniel von Recklinghausen) په ذریعه چې په (1833–1910) کالونو کې اوسېده په (1882) کې شرحه شو.

Von Willebrand's Disease
دا یو ارثی ډول د وینې ناروغی ده چې پکې پرته له علت څخه د مخاطی غشأ څخه وینې کېدنه منځ ته راځی چې دا حالت دعلقې فکټور کمښت (Clotting Factor) له کبله په وینه کې منځ ته راځی چې دا فکټور د (Von Willebrand's Factor) پنامه یادېږی او لومړی ځل (Finnish Physician) عالم د (E. A. von Willebrand) په ذریعه په (1926) کال کې شرحه شو چې په (1870–1949) کالونو کې اوسېده .

Von Willebrand's Factor
هغه ډول فکټور چې د پلازما پروټینی موادو جوړښت لری او د (Platelet Aggregation) په منځ ته راتګ کې مهم دی.

Vortex
حلقوی یا مارپېچی بڼه لکه (مخطط عضلات یا د پوستکی وېښتان) ګڼه شمېره یې (Vortices) ده.

Vox
غږ ، آواز ، صوت ، ګڼه شمېره یې (Voces) ده.

- Vox Cholerica
هغه خپه شوې غږ چې په وبا اخته ناروغانو کې لیدل کېږی.

Voyeurism
یو ډول ی انحراف چې د (لوڅو کسانو ، یا د لوڅېدو په حال کسانو ، یا په جنسی چارو اخته کسانو ته د کتلو څخه وروسته د جنسی اړیکو څخه پورته کېدونکو خیالونو یا جنسی شدیدو مکررو تمایلاتو) څخه د خوند اخیستلو ورته حالت غوره کوی.

VR
د (Vocal Resonance) لپاره لنډه نښه ده.

VS
د (Volumetric Solution) لپاره لنډه نښه ده.

VSD
د (Ventricular Septal Defect) لپاره لنډه نښه ده.

VT
د (Ventricular Tachycardia) لپاره لنډه نښه ده.

Vu
د (déjà vu) لپاره لنډه نښه ده.

Vulvectomy

د فرج (Vulva) اړوندد جراحی عملیات پواسطه د غوڅولو لپرې کولو کړنلاره ده .

Vulvitis

فرجی التهاب، د فرج (Vulva) اړوندنسج برخې التهاب چې د(تخریش Intense Irritation ، ګرېدنې او سوځېدنې) لامل ګرځی .

-Atrophic Vulvitis

ضموری فرجی التهاب، په مېرمنو کې د (Lichen Sclerosis) ناروغی.

Vulvouterine

په فرج او رحم پورې اړوند.

Vulvovaginal

په فرج او مهبل پورې اړوند.

Vulvovaginitis

د فرج او مهبل داوړو اړوندبرخو ګډ التهاب .

Vv

دوړېدونو (Veins) لپاره لنډه نښه ده.

V/V

دمحلل د حجم (Volume of Solute) په نسبت دمنحله مادې (Pervolume of Solvent) لپاره لنډه نښه ده.

لنډیز نوم دئ چې دا هغه ډول سنډروم دئ چې پکې د [پښتورګو **Wilms'** تومور ، د سترګو د آیریس نشتوالې **Aniridia** ، بولی تناسلی انومالی یا ګوناډوبلاستوما او عقلی تأخر د کروموزوم**Chromosome -11** نشتوالی له کبله منځ ته راځی] شتون لری .

Wagtail

د چینچنیږو د کورنۍ څخه یو ډول وړوکی مارغه چې اوږده لکۍ لری او د اوبو په غاړه ژوند کوی او لکۍ ښکته پورته خوزوی.

Waist

نري ملا، ملا، جاکټ، انرکه (بالاتنه) ، د بدن هغه برخه چې د سینې (ټټر یا صدر **Chest**) ښکته او دحوصلې د تر کونډیو (**Buttocks**) څخه پورته برخو ترمنځ پرته ده.

-Waistband

ملابند ، ملاوستنی، پټاره.

-Waist Belt

ملابند ، ملاوستنی، پټاره.

-Waistline

نرۍ ملاکرښه ، دنرۍ ملا اندازه ، د ملا دور .

Wait

تم کېدل ، انتظار ایستل، صبر کول، ځنډیدل .

Waiting

کتون، انتظار، کتونکی، وارکوونکی، منتظر.

- Waiting List

د انتظار لست ، هغه نوم لړ چې پکې د ناروغانو نومونه په وار سره په روغتون کې د ډاکټرانو یا عملیاتونو تر سره کولو او د بستر کېدو لپاره جوړېږی.

- Waiting Room

د انتظار خونه ، هغه خونه چې پکې ناروغان د ډاکټرانو لیدنې لپاره انتظار وباسی .

- Waiting Time

د انتظار موده / وخت کومه چې پکې د ناروغانو نومونه په انتظار نوم لړ (لیست) کې لیکل کېږی.

Waive

لاس اخیستل، له یوشی څخه تېرېدل ، ډډه کول، غاړه غړول، ځنډول، ټالول وروسته کول.

Waiver

